تُحفَةُ الخُطَبَاء

[دَ تقريرونو مجموعه]



ابو معاويه مولانا مفتی زين الله زين

حفظه الله تعالیٰ و رعاه

ناشر

دارالقرآن والسنة، ساولڈهير، مردان

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

ټول حقوق دَ مؤلف په حق کښی محفوظ دی

دَ کتاب نوم : تحفة الخطباء (دَ تقریرونو مجموعه)

مؤلف : ابو معاویه مولانا مفتی زین الله زین حفظه الله و رعاه

کمپوزنګ : معاویه حسن

ډیزائننګ: محمد قاسم ادینوی بن مولانا محمد امین صالح رحمه الله

طباعت : طبع اول ربیع الاول ۱۴۴۵ هـ = نومبر ۲۰۱۹ء

ضخامت : جلد اول: ۴۰۰ صفحات جلد دوم: ۴۰۰ صفحات

قیمت : ۱۰۰۰ روپے دواړه جلدونه

تعداد : ۱۰۰۰ نُسخے

ناشر : دارالقرآن والسنّة ، ساولډهیر مردان

رابطه نمبر: 0313-9934782

دَ ملاویدو پته

اشاعت اکیډمی محله جنګی قصه خوانی پیښور

انتساب

دَ خپل مور او پلار په نوم !!!

الله تعالیٰ دِ هغوی ته جنت الفردوس ورکړی

او دَ هغوی ټولے خطاګانے دِ معاف کړی.

آمین یا رب العالمین .


دَ مضمونونو فهرس

نمبر	مضمون	صفحه
۱	انتساب	۳
۲	دَ مضمونونو فهرس	۴
۳	۱ : پرومبئ خطبه : حقو ق والدين	۶
۴	۲ : دويمه خطبه : فضائل درود شريف	۳۵
۵	۳: دريمه خطبه : دَقرآن نه اعراض سبب دَ عذاب قبر	۵۹
۶	۴: څلورمه خطبه : دعا [ومبئ حصه]	۸۴
۷	۵: پنځمه خطبه : دعا [دويمه حصه]	۱۱۰
۸	۶: شپږمه خطبه : شپږ نمبرے	۱۱۷
۹	۷: اُومه خطبه : توبه	۱۳۹
۱۰	۸: اَتمه خطبه : ابتدائي آيتونه دَ سورة التَّوبة	۱۵۴
۱۱	۹: نَهمه خطبه : بيان په موقع د ختم القرآن "قرآن و تقویٰ"	۱۶۳
۱۲	۱۰: لَسمه خطبه : وحدت اُمت (دَ اُمّت يو والی)	۱۸۹
۱۳	۱۱: يولَسمه خطبه : دَ مونځ اهميت	۲۱۴
۱۴	۱۲: دولَسمه خطبه : درس تقویٰ	۲۳۰
۱۵	۱۳: ديارلَسمه خطبه : دَ عيد الفطر مسائل	۲۴۳
۱۶	۱۴: څوارلَسمه خطبه : دَ حسن خاتمے اسباب	۲۵۸
۱۷	۱۵: پنځلَسمه خطبه : دَ سُوئے خاتمے اسباب	۲۷۵
۱۸	۱۶: شپاړَسمه خطبه : دَ روژے مسائل	۲۸۹
۱۹	۱۷: اُوولَسمه خطبه : رمضان المبارك	۲۹۵
۲۰	۱۸: اَتلَسمه خطبه : درس قرآن بعنوان مسجد ضرار	۳۰۶
۲۱	۱۹: نولَسمه خطبه : عقيقه	۳۱۴

۲۲	۲۰: شَلمه خطبه : اذان (اوله حصه)	۳۳۴
	۲۱: یویشتمه خطبه : اذان (دویمه حصه)	۳۵۲
	۲۲: دوه ویشتمه خطبه : محرم	۳۶۷
	۲۳:دری ویشتمه خطبه:صدیقه بنت صدیق رضی الله عنهما	۳۸۵
	۲۴: څلورویشتمه خطبه : دَ شرك ردّ	۴۰۱
	۲۵: پنځه ویشتمه خطبه : اصلاحی او تربیتی بیان	۴۲۴
	۲۶: شپږویشتمه خطبه : سیدہ اُم سُلیم رضی الله عنها	۴۳۵
	۲۷: ووه ویشتمه خطبه : اووه خوش نصیبه	۴۵۱
	۲۸: اته ویشتمه خطبه : وفات نامه	۴۷۷
	۲۹: نهه ویشتمه خطبه : تعزیتی بیان	۴۹۵
	۳۰: دیرشمه خطبه : تعزیت	۵۰۴
	۳۱: یو دیرشمه خطبه : اصلاحی بیان	۵۲۱
	۳۲: دوه دیرشمه خطبه : فتح مکه (اوله حصه)	۵۳۵
	۳۳: دری دیرشمه خطبه : فتح مکه (دویمه حصه)	۵۴۸
	۳۴: څلور دیرشمه خطبه : مستوراتو ته بیان دَ ختم القرآن په موقع	۵۶۴

خطبه نمبر : "١"

حقوق الوالدين



ړومبیۍ خطبه: ''**حقوق الوالدین**''

الحمد لله الذی ربُّ تعالیٰ شانه اضحی الضحٰی بر هانه اعلی العُلی سلطانه سبحانه سبحانه، اعلی الا عالی ظاهِرُ مولی الموالی با هر من کُل شِبُه طَاهِرُ سبحانه سبحانه ، سُبحان جَلَّ جلا له لکل عمّ نواله فوق الکروم کماله سبحانه سبحانه . سبحانه من هو وحده اختارًا حمد عبده صدقٌ حقیق و عده سبحانه سبحانه، صَلُّوا علی محبوبه خیرُ الرّسل مطلوبهِ نور الهُدیٰ مقصود ه سبحانه سبحانه اَمَّا بعد !

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

﴿وَ قَضٰی رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِیَّاهُ وَ بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا اِمَّا یَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّ لَا تَنْهَرْهُمَا وَ قُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِیْمًا ، وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَ قُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّیٰنِیْ صَغِیْرًا ﴾

و عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما قال جآء رجل یستاذن النبی ﷺ الجهاد معه فقال النبی ﷺ احیٌّ وَالداك ؟ قال نعم: قال ففیهما فجا هد۔

معزز سامعین او عز تمندو مشرانو الله تبارك و تعالیٰ مونږ او تا سو ته دَ انسانیت د ژوند تیرولو د پاره اصول او ضابطه رالیږلی ده د قرآن کریم په شکل کښی چی څوك هم د الله کتاب مخی ته کیدی او د هغے مطابق ژوند تیر وی نو دوی د انسانیت په لاره روان دی چی کوم خلق د قرآن کریم خلاف ژوند تیروی . اګر که په نظر کښی انسان په نظر راځی. الله تبارك و تعالیٰ هغه ته انسان نه وائی . بلکه الله تبارك و تعالیٰ فرمائی دا څنا ور دی، دا حیوانات دی ﴿اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ﴾ دوی پشان د څناورو دی بلکه د څناورونه هم بدتر دی نو قرآن کریم زمونږ او ستا سو بهترین طریقے سره راهنمائی کوی.

شریعت نوم د حقوق اللہ او دَ حقوق العباد دے حقوق اللہ مقدم دی په حقوق العباد باندے. دَ حقوق اللہ مطلب دے د اللہ تعالیٰ حقونه پیژندل ، چی اللہ تبارك و تعالی په خپلو بند ګانو لازم کړیدی. دویم په شریعت کښی حقوق العباد دی چی په مونږ او تا سو د بند ګانو کوم حقوق دی ، دا هم زمونږ په دین کښی شته، د نبی اکرم ﷺ د ژوند نه ثابت دی په مونږ او تا سو باندی د ګا ونډی حقوق ، د کشرانو حقوق، د مشرا نو حقوق ، د خپلو بچو حقوق ، په بی بی باندی د خاوند حقوق نو په خاوند د بی بی حقوق . دارنګی د ځناورو حقوق دی . د میږی حقوق ، د مریضانو حقوق دی ، د مړ ده ګانو حقوق دی د پیریانو حقوق دی ، د لارے حقوق دی . ټول به پیژندل پکار وی نن مونږ ځان ته مسلمانان وایو د چاد حقونو پته را ته نشته. او هر سړے دا کوشش کوی چه ما ته دی زما حق ملا وشی . چی په ما باندی د بل حق وی د هغی کو شش نه کومه دَ یو حدیث مفهوم دے چی په تاسو کوم حقونه دی د هغی ادائیګی کوے او ستا سو چی کوم حقوق دی د هغی مطالبه مَه کوئی بلکه هغه د اللہ نه غواړئ.

د ے حدیث سره ټولے جهګړے اختلافات، عداوتونه ، دشمنئ او پریشانئی ختمیږی .او دا خبره ذهن نشین کول پکار دی چی حقوق اللہ اول دی . خو که په حقوق اللہ کښی د انسان نه څه کمی کو تا هی شوی وی. حقوق اللہ کښی د انسان نه بعض خبری پاتی شوی وی، مونځ پا تی شوی دی روژه پا تی شوی ده زکوٰۃ پا تی شوی دی او ددی انسان سوچ را غے په دی خپل کار باندی ستومانه شو چی ما خو خپل اللہ خفه کړے دے . ما خپل رب خفه کړے دے . ما خپل خالق

خفه کړے دے . ما خپل مالك خفه کړے دے . ما خپل را زق خفه کړے دے . رو غه ور سره کوم بس دا انسان دے د زړه دَ اِخلا صه ئی تو به ویسته او ملا مته شو. نو دَ دے انسان گنا هونه به معاف شی. او حقوق الله چی ددۂ نه پا تی شوی وو هغه به ورته معاف شی خو په حقوق العباد کښی معامله سنگینه ده حقوق العباد د بند گانو حقوق، د گا وندیا نو حقوق، د مشرا نو حقوق ، د کشرانو حقوق، که په دی کښی کمی کو تا هی شوی وی نو یاد ساتل پکار دی دا په دعا گانو باندی نه معاف کیږی دا په ژړاگانو باندی نه معاف کیږی دا په تهجدو باندی نه معاف کیږی دا په نوافلو باندی نه معاف کیږی. دا په خیراتونو او صدقاتو باندی نه معاف کیږی دا په تبلیغ او په جهاد باندی نه معاف کیږی دا په طوافونو باندی نه معاف کیږی ، نو دا په عُمرو باندی نه معاف کیږی. پر دے حق دی ضائع کړو حتٰی که د بی بی حق دی ضائع کړو حتی که د خپل او لاد حق دی ضائع کړو . په تا باندی ستا د بچو حقونه دی هغه دی ضائع کړل نو یاد سا تل پکار دی دا بیا په عبادا تو باندی نه معاف کیږی د هغی معامله لږه خطرناکه ده یو او ږد حدیث کښی را ځی نبی اکرم ﷺ یو ورځ دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم نه تپوس کولو اے ملگرو تا سو ته پته شته غریب او ناداره فقیر او مفلس کوم انسان دے؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم اوئیل اے د الله رسول ﷺ غریب خو هغه تن وی چی پیسے ور سره نه وی در هم او دینار ور سره نه وی ، نبی ﷺ ورته اوئیل نه دا غریب نه دے ، دا مفلس نه دے، بلکه مُفلس او غریب هغه دے چی په دنیا کښی ئی ډیر نیك اعمال کړے وی . په دنیا کښی ئی ښه ښه کارونه کړی وی ، ډیر نوافل ئی هم کړی دی ، ډیر

خیراتونه ئی هم کړے وی . ډیر صدقات ئی کړے وی ، ډیر زکوٰتونه ئی ورکړے وی ډیر تبلیغ ئی کړی ډیر جهاد ئی کړی وی ، ډیرے عمرے ئی کړی وی نو ډیر ئی طوافونه کړے وی. ډیرے قربانی ئی کړے وی. ډیری نیکے ئی د قیامت په ورځ حا ضرے وی . خو چی کله ددۀ د تلو فیصله او شی چی جنت ته ځه. نو په دی کښی به یو تن را شی چی اے الله دا انسان وو چی دی جنت ته اوس ځی ده خو په دنیا کښی زمونږ پوله وهلی وه دۀ خو په دنیا کښی زمونږ شو تل ریبلے وو. دۀ خو په دنیا کښی زمونږه سبزی را وړے وه . دۀ خو په دنیا کښی زمونږ د بوساړونه بوس راوړے وو. غلائی کړے وه. یو تن به وائی یا الله دنیا کښی ئی زما حق و هلی وو. الله به ورته وائی لاړشئ ددۀ دنیکو نه یو پنډ ځان ته یو سئ. دنیکو یو پنډ به تری لاړ شی . بل تن به راشی یا الله دۀ زما دا حق ضائع کړے وو زه ددۀ ګاونډی وومه. ددۀ د لاسه مونږ خوب نه وو کړے . بس شپه ورځ ئی ډیګونه او وی سی آرونه روان کړی وو. ا لله به وائی ته ترینه هم د نیکو یو پنډ یوسه .هغه به تری هم نیکئ یو سی. دی کښی به ئی بچی را شی چی یا الله دا زمونږه پلار وو نیکے ئی خو ډیرے کړی . خو دۀ زمونږ یو حق نه وو ادا کړے مونږ له ئی دینی تربیت نه وو راکړی مونږ له ئی دین نه وو ښودلی مونږله ئی قرآن او سنت لا س کښی نه وو را کړے هغه او لاد به تری نیکے یو سی نو مور پلار به را شی مور پلار به وائی دا زمونږ بچی وو . ډیری نیکی ئی کړی خو دۀ مونږ ته په صحیح ستر ګه نه وو کتلی هغوی به تری نیکی یو سی، نو بی بی به ئی راشی نو بی بی به ئی وائی یا الله دۀ زما حق نه وو ادا کړے دۀ زما دد یندارے خیال نه وو

ساتلی .او هسی بیسه ئی وهلم او تپکولم بد معاشی ئی راباندی کوله . نوکره ئی رانه جوړه کړے وه. هغه به تری نیکی یو سے نو چی څومره نیکی هغه حاضرے کړے وی هغه تولی نیکے به ختمے شی . نور خلق به ولاړ وی. خلق به راځی وائی به زما دا حق ئی ضائع کړے دی بل به وائی زما دا حق ئی ضائع کړے دی . الله به ورته فرمائی چی دۀ سره کو می نیکی وی هغه خو حتمی شوی. اوس داسی کار اوکړئ چی تا سو کوم ګناهونه کړے وی یو پنډ تری را وړئ دۀ له په عمل نامه کښی اچوئ نو دومره بدے به ئی راجمع شی . چی څومره ئی نیکئ وی. نبی ﷺ وائی دا مفلس دے. دا ولی؟ پر دے حق ئی ضائع کړے . پردے حصه ئی لاندی کړی وه . پر دی جائیداد ئی لاندی کړے وو. پردی حق ئی خوړلی وو په دی وجه د حقوق العباد معامله سنګینه ده. سخته ده. نو الله تبارك و تعالیٰ اول خپل حق ذکر کوی.

ما چی کوم آیت کریمه لو ستے وو . هغی کښی الله خپل حق ذکر کوی. ﴿وَقَضٰی رَبُّكَ﴾ ستا رب فیصله کړے ده. ستا رب حکم کړے دے ستا رب دا اِعلان کړے دے ﴿اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِیَّاہ﴾ چی عبادت کوئ نو صرف یو د الله عبادت به کوئ. د تولو نه ړومبی حق د الله دے. او د الله په حقوقو کښی د الله عبادت دے. ځکه الله تبارك و تعالیٰ انسانان او پیریان د خپل عبادت د پاره پیدا کړی دی .هر پیغمبر هم دا د عوت چلولی وو ﴿یٰقَومِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ﴾ بنده ګی الله ته خاص کړے نذر و نیاز د الله په نوم باندی ورکړئ . سر الله ته خکته کړئ. رکوع الله ته او کړئ ، سجده الله ته او کړئ ، چغی الله ته اووهی، رامدد شه چغے الله ته اووهئ. راورسیږه وائی نو یو الله ته وائی، ځکه

مصیبتونه لری کولو ولا یو الله دے. مشکلات حل کولو والا یو الله دے .پریشانئ ختمولو والا یو الله دے. ځامن او لو نړه ورکولو والا یو الله دے . د شری ذمه دار یو الله دے . د ټوخی ذمه دار یواځے الله دے. دننکو ذمه دار یواځی الله دے. ﴿وَ قَضٰی رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ﴾ اول ئی خپل حق ذکر کړو. نو دویم حق ورپسی ذکر کوی. د بند ګانو، نو بندګانو کښی خو په مونږ او تا سو د خپلو بچو هم حقونه دی . نو د خپلی بی بی هم را باندی حقوق دی . نو د ګاونډیانو هم را باندی حقوق دی نو الله تبارك و تعالی خپل حق پسے دویم حق ذکر کوی. نو الله فرمائی ﴿وَ بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ یا د ساتئ مور پلار سره احسان کوئ د مور پلار خیال ساتئ. د مور پلار سره همدردی کوئ. ﴿ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ﴾ کـه اور سیرۍ یـو تـن ددوی نـه بـو ډا والی ته . مور دی بوډئ شوه یا پلار دی بوډا شو. ﴿فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّ لَا تَنْهَرْهُمَا﴾

﴿فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ﴾ د مـور پـلار مـخـکښـی بـه اُف هم نـه کوی لکـه لا ستـرګی راویستـل ، جـواب کول ، وهل ټکول ، کنځل خو درکنار ﴿فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ﴾ د مـور پلار مخکښی به اف قدر هم نه کوی . کم عقل وی چـی مـور پلار ته جوابونه کوی. الله فرمائی مور پلار ته به اف قدر هم نه کوی ﴿وَّ لَا تَنْهَرْهُمَا﴾ مـو ر پلار به رتی هم نا، مور پلار ته به په نرمئ سره خبره کـوے، مـور جـی، پلار جی، چی څومره درنه کیدی شی په ادب او احترام سره .

لږ زمانه مخکښی "الله اکبر کبیرا" دی مشرانو ته به یادوی ، کشرانو به دَ مـور پلار په مخکښی نسوار نه شو را ویستـے ، سیګریټ خو لا ډیره لـرے خبره وه ، خو نن دا سی پلاران شته بچو ته پیسے ورکړی چی ما

تـه نسـوار راوړه مـا تـه سيـګريټ را وړه نو ما شوم چې په لار را ځې نو هسې ئې چك کوې چې دا څه دې؟ هغه پرې خوند شې ، نو هغه مور پـلار هم دا سې شو. نو بچې هُم بـے خونده او بـے سُره شو. الله فرمائې مـور سره چې خبره کوې ﴿وَ قُلْ لَّهُمَا قَوْلاً كَرِيْمًا﴾ مـور پلار سره په نرمه وينا خبره کوې.

﴿وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ﴾ خـکتـه کړه ددوې دپاره وزرې دَ عـاجـزئ ګوره الله فرمائې وزر خکتـه کړه . کله يو ښکارې ښکارتـه تلې وې. دې يو مر غـئ اوولې. چې هغه څنګه اولګې. نو هغه داسې داوزر را خـکتـه غـونـدې کړې که تا سو ورته خيال کړې وې. علماء ذکر کوې دې وزر را خـتـکـه کيـدو کښې دا په دې خپل زبان حال سره دې ښکارې تـه وائـې چـې نـور زمـا دَ الوتو وس نشـته. تا نه زهٔ نور نشم تختيدے . اوس مـا کښـې ستـا اختيـار دې. نو تـه خپل وزر مور پلار تـه خـتـکـه کړه چې مور پلار! زما ټول اختيارات ستا دې.

زمـا پـه ځـان کښـې وس نشـتـه.زما ځان کښې اختيار نيشـتـه مور پلار! چـې تـا سو څه وائـې هغه به منلې کيږې . ستا سو خبره به منم تاسو به نه خفه کوم . نو الله فرمائې خپلې وزرې خکتـه کړه. دا دا لله حکم دې .

﴿وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَ قُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا﴾ د مور پـلار پـه حـق کښـې دعا ګانـے غـواړه . دمور پلار دپاره د الله نه سوالونه کـوه چـې اے زما ربّه ﴿اِرْحَمْهُمَا﴾ زمـا پـه دې مـور پـلار بـاندې ته رحم اوکړې. کوم اولاد دمور پلار دپاره دعا غـواړې بس دغه دوه ټکې وې . ما اوبـخـې مـور پـلار مـې او بـخـې بـس خبـره خـتـمـه، هغـه هم مونږ دعا غـواړونه دعاکوو. يو دعا غـو خـتـل وې يو دعاکول دې نو مونږ دعا د الله

نه غواړونا. په دعا کښی څه ژړا پکار وی الله ته منت پکار وی . عاجزی پکاروی . د الله صفات وئیل پکار وی. په خپلو ګناهونو ندامت پکار وی. مونږ خو زر زر ګردان اووایو چی. ما اوبخی مور می او بخی پلار می او بخی نیا می او بخی نیکونه ترور تر بوران استاذ او استاذان او بس. ''برحمتك یا ارحم الرحمین''. دا زمونږ دعا وی دا خو مونږ دعا اووی . دعا مو اونه غو ختله . قرآن مونږ ته وائی الله فرمائی ته دا دعا غواړه او قل اووایه ﴿وَ قُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا﴾

اے زما ربه زما دی مور پلار باندی رحم اوکړی .

ځکه چی دوی زما تر بیت کړے وو دورکوتوالی. الله ماته ئی خوراك برابرولو. که واړه بول یا لوئے بول می کول نو دی مور پلار می هغه پاکول. مور می زیات خدمتونه کول. مور را سره زیات کړاؤنه کول. دژمی په یخه شپه کښی که ما به تولائی کښی اودس ماتی اوکړل هر څه به دی او لړل. څوك به را تله ستا مور به را پا سیده د شپے دری بجے. نو ته به ئی پاك کړے او به به ئی درله ګرمی کړی. نو ګر مه تولائی، ګرم کمبل به ئی در نه تاؤ کړؤ. ته به ئی ګرم کړے. او هغه هرڅه به ئی په خپله وینځل.

نن خو تا ته دمورپلار په خدمت شرم درځی. ځان در ته بدے ښکاری. نو الله فرمائی دعا غواړه مور پلار دپاره . قرآن څه خوند ناك کتاب دے. څومره ښکلی دین دے چی ته دین ته خپل اولاد وقف کوی نو دا حقوق به ازده کوی بیا. دا رنګے سورة لقمان کښی هم الله فرمائی ﴿وَ وَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ﴾ الله وائی مونږ حکم کړی دے انسان ته په باره دمور پلار دده کښی. او وَصیت وائی تاکیدی حکم ته ﴿حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا﴾ پور ته کړی دے ده لره مور ددۀ . په کمزورئ دَ پاسه دَ کمزورئ نه. او ګوره د مور څومره کمزوری حالت

وو. او دۀ لـه ئی پـور تـه کړے وو نهه میا شتـے. لږ څه کم یو کال ئی دی په ګیډه ګرځولی وو. دا تکلیف ئی بر داشت کړے وو. بیا اوګوره نو دوه کاله ئی پـه غیـر کښـی ګر ځـولـی وو. دا سختـے تا سره چا تیرے کړے دی. تا نن د مـور پـلار مـقـابـله کښی دخپلی بی بی نه بیت الله جوړ کړو. د هغی نه دی خانه کعبه جوړه کړه. ته او ګوره په غیر کی دوه دوه نیم کاله، دری کاله خپلی مور ګرځولی ئی. ﴿وَفِصَالُهٗ فِیْ عَامَیْنِ﴾ الله وائی ما ورته حکم کړے دی.

﴿اَنِ اشْكُرْ لِیْ﴾ زما شکر ادا کړه الله فرمائی د ټولو نه اول زما شکر ادا کړه. نو ور پسـے وائی ﴿وَلِوَالِدَیْكَ﴾ د مـور پـلار شـکـر دِ اَدا کـړه نو دَ مور پلار شکر ادا کـول څه دی؟ چی ته مور پلار ته برندیګـے. چرته مور پلار ته په عمر کښی لـس شـل روپـے ورکړے یـا پـنـځه سوه. حجره کښی هم لګیائی، جو مات کښـی هم لګیائی، ما مور پلار باندی دا خرچه اوکړه، دا خر چه می ور باندی او کـړه. ما وربـاندی دا خر چه اوکړه. دا تا چی ایك دو کول او ټولی تولایانی به دی لـړلـے دا درلـه چا پـاکـولـی. دا ستـا هیـر شو. ستا هغه وخت ذهن ته نه راځـی. خیـال او تـصـور تـه دِ نه راځی. ستا چا ټول عمر خد متونه کړے وو. بـل ځـائـے الله تبـارك و تـعـالیٰ فرمائی سورۃ احقاف کښی ﴿وَوَصَّیْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَیْهِ اِحْسَانًا﴾ الله تـعالیٰ فرمائی مونږ دی انسان ته حکم کړے چی دی مور پـلار سره به احسان کوے. ولی؟ پورته کړے وو مور دۀ لره په تکلیف سره. نـو زیـګـولـی وو پـه تـکـلیف سره. پـور ته کول ددۀ او د پیو نه جدا کول ددۀ دیـریـش میـاشتـے. نو بل ځائـے هم الله تبارك و تعالیٰ فرمائی. اے نبی ﷺ خـلـقو ته اووایه چی اولولم تا سو ته. راشـے چی په تا سو باندی رب څه حرام کړے دی. نو یو دا ﴿اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَیْـًٔا﴾ د الله سره بـل شریك مه ګرځوی. او دویم ﴿وَبِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا﴾ مـور پـلار بـه نـه خـفـه کوئ. بار بار الله وائی. ﴿وَ

بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ مور پلار سره احسان کوئ. مور پلار سره احسان کوئ. په سورة النساء کښی هم الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَاعْبُدُوْا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّ بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ اول الله خپل حق ذکر کړی. شرك مه کوئ. دویم وائی ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ مور پلار سره احسان کوئ. په سورة البقره کښی به هم تا سو آؤریدلی وو ﴿وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْ اِسْرَآءِيْلَ لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ الله وائی شریك به ماسره نه کړ ځوئ. دویم کار به دا کوئ ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ مور پلار سره به احسان کوئ. څنګه چی ور سره نن خلق کوی کنه. وی مور پلار پکښی چا راوستی دی. وی یاره دا مور پلار می ما ته هم ډیر کنځل کوی او ښځے ته می هم کنځل کوی، نو خو ژوندی دی نو ځکه در ته کوی کنه، که دا مور پلار دی صبانه وی بیا به ژاړی. چی هغه مور پلار می نشته چی هغه کنځل وینا او رټل را ته او کړی. د هغوی هغه کنځلو او رټلو کښی هم یو مینه وی. یو شفقت وی پکښی. دا رنګے بل ځائے الله فرمائی ﴿يَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ﴾ اے نبی ﷺ تا نه تپوس کوی چی څه خرچ کړی او په چا خرچ کړی نو ته ور ته اووایه چه څه خرچ کوئ نو ﴿فَلِلْوَالِدَيْنِ﴾ په مور پلار خرچ کوئ په اولاد لازم دی چی مور پلار باندے خرچه کوی. ګنړو آیتونو کښی الله فرمائی مور پلار سره ښیګړه کوئ مور پلار سره احسان کوئ. امداد ور سره کوئ خدمت ئی کوئ د مور پلار د شریعت برابر هره خبره منئ مور پلار مه خفه کوئ اګر که په تا سو مور پلار ډیر ظلمونه کوی که ستا مور پلار فرعو نیت ته هم اور سیدۀ خو جواب ور ته مه کوه د بے دینئ خبره ئی مه منه نور دی نه غټه خبره شته؟ بعضی خلق په دی پریشانه وی یاره! پلار راسره زیاتی کوی مور راسره زیا تی کوی او دا مور می ډیره ظالمه ده ستا په خله دا خبره څنګه را

ځی چی مور می ظالمه ده. (اَللّٰہُ اَکْبَرُ کَبِیْرًا)
کـه مور پلار هر څومره ظلم کوی. اولاد به ور سره ښه کوی ځکه د مور پـلار دا خیرے د بچو په حق کښی ډیری زر قبلیږی که د دی پلار د زړۀ نـه دے خیرے اووتـے کـه د مـور د زړۀ نـه دی خیری اووتـے سر والـے بـروالـے بـه ګرځـی بیـا ، بیـا بـه روزی مخکښی وی ته به ورپسـے ئی. پـریشـانـه بـه ئی، پـه دی وجـه بـاندی دی مور پلار د بچو د پـاره ډیر تـکـلیـفـونه برداشت کړے وی. ډیری سختئ ئی تیری کړے وی د دی مور پلار دی خپل اولاد ته ډیره طمع وی ډیر امیدونه وی د چا چی اولاد نـه وی دُعـاګـانـی کـوی سـوالـونـه کـوی د الله نه چی الله مونږ ته بچی راکړی الله ورتـه بـچی ورکړی نو بیا ورسره د مور پلار دومره مینه وی دَ دغـه بچی روزانه دیدار کوی. څوپیری هغـه ماشوم ته ګوری د ما شوم د خبرو انتظار کوی . د ماشوم هغه روانو وِیجاړو خبرو ته ګوری د ما شوم د ژړا هـغـه سـلـګـئ شـمـاری دا ما شوم که په خوب کښی او خندی نو دغـه مـور پـلارئی وائی بچی مو او خاندل، په خوب کښی ئی اوخاندل کـه پـه خـوب کښـی اوژاړی نـو دا مـور پلار ئی وائی بچی مو په خوب کښـی اوژړل بیـا دغـه ما شوم څه لږے لږے خبرے ازده کړی. نو ګوره پـه سپیـنـه ګیـره پـلار وی، مورئی وی هغه د بچی هغه خبرے ځان ته دُهـراوی د سبـق غـونـدے بـچـی مـی دا اُووے. وَړی لُور می دَا اووے. بـچـی دا اووے بـچـی دا اووے. هـغـه بیـا بیـا وائـی ځان سره . بیا که دا مـاشـوم قـدم اخـلـی. نـو مـور پـلار ئی قدم ته لا خو شحالیږی. بعضی عـلاقو کښی به ئی ورته پخوا په خپو کښی هغه ککو ړی ارغړول چی بـچـی قدم اخلی او مور پلار ورله په غټه تنه لګیا دی هغه ما شوم قدم

اخلی مخکښی تری نه ځی پا پلے پل وا خله پل دی بختور شه صبا بل وا خله . دا ور ته پته نه وی چی ما به دی صبا د مرئ نه نیسی. مور پلار دومره خو شحالیږی او بیا مور پلار تمنا ګانے کوی چی زما دا بچی قرآن از ده کړی دی به سکول ووائی. په خپلو خپو دَ اُودریدو قابل به شی. دی به زما د عزتونو وی. بیا د مور پلار سوچ داوی. چی زهٔ ښه ځائے کښی د عزتونو ځائے کښی کویژدن کوم دی خپل بچی ته او زما به اینګور وی زما به خیال ساتی زمونږ د کور خدمتونه به کوی زما د بچی به خیال ساتی، او چی کور ته ډولئ راغله نو ماحول مکمل بدل شو. څو کاله د مور پلار هغه آرزوګانے څومره تمناګانی وی بچی ته کور ته ډولی راغله دَ ډولی دَ راتلو سره کور کښی قیامت شو په مور پلار هم قیامت شو. بیا مور پلار ته راشه هم نه وائی بیا وائی که بیت الله زمونږ کور ته را غلی دی چی شپه اوورځ د هغی نه طوافونه کوی یاد ساتئ دا دَ دی انسان د پاره هلاکت دے د بی بی په خپل ځائے حق شته. بی بی ته د مور پلار حق مه ور کوه. مور پلار ته د بی بی حق مه ورکوه. هر چاته خپل حق ورکړه د بچو خپل حق دے. د پلار ځان ته حق د مور ځان ته حق د بی بی ځان ته حق دے، خو دی مور پلار ډیر تکلیفونه بر داشت کړی دی. په دی وجه حدیث پاك کښی را ځی نبی ﷺ فرمائی:

"چی څوك الله رضا کول غواړی نو دَ الله رضا د مور پلار په رضا کښی ده"

آسانه خبره ده چی څوك دَ الله خفګان غواړی نو چی مور پلار خفه کوی دی سره الله خفه کیږی. بل روایت کښی را ځی امام مسلم ذکر

کړی دی او مسند احمد هم ذکر کړی دی. ابن عمر رضی الله عنهما وائی یو سړے را غے د نبی ﷺ نه ئی اجازت غوښتو چی اے د الله رسوله ﷺ ! زه تا سره جهاد ته ځم . نو نبی ﷺ ورته اوئے. ''اَحَیٌّ وَالِدَاكَ؟'' اے ملګریه! مور پلار دی ژوندی دی؟ هغه ورته وائی آو جی ژوندی دی نو نبی ﷺ ورته فرمائی ''فَفِيْهِمَا فَجَاهِد'' دَهغوی خدمت کښی اولګه او جهاد اوکړه د مور پلار خدمتونه اوکړه. دی د مور پلار خدمت ته نه وی سم . که ښځه ورته وائی ماله نری او ټیټ او چست لباس راوړه. نو هغی ته یس میس (yes miss) که هغه ورته وائی ټیلی وژن راته راوړه نو هغه هم ورته راوړی. نبی ﷺ فرمائی ''فَفِيْهِمَا فَجَاهِد'' دَ دی مور پلار خدمت کوه.

بل یو حدیث کښی را ځی. نبی ﷺ او فرمائیل ''اَلَاأُنَبِّئُكُمْ بِاَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟'' تا سو په ډیروغټو غټو ګناهونو نه خبرومه؟ چی هغه ډیر غټ ګناهونه دی ګورئ.صحابه کرام ﷺ وائی ولی نه. اے دَ الله رسول ﷺ. نبی ﷺ ورته اووے ''اَلْاِشْرَاكُ بِاللّٰه'' دَ الله سره شریك ګر ځول د الله د پاره نور نا ز ولی بر خه داران ګرځول. دا لو یه ګناه ده. او دویم نمبر د ''عُقوق الوالدين'' مور پلار خفه کول. دا وړه ګناه نه ده. دالو یه ګناه ده. د مور پلار نا فر مانی کول وړۀ ګناه نه ده اکبر الکبائر. په ټولو ګناهونو کښی لویه ګناه مور پلار خفه کول. او دریم و ''شهادت الزور''. ددروغو ګواهی کول.

بل حدیث کښی را ځی، نبی ﷺ فرمائی چی ''لَا يَدْخُل الْجَنّه عَاقٌ'' جنت ته به دا خل نشی هغه څوك چی د مور پلار نه عاق وی. نا فرمانه وی. مور پلار پکښی نه کوی. ډیر خلق پکښی مور پلار نه

کوی . نبی علیہ السلام فرمائی چی مور پلار پکښی نه کوی کنه نو دا به جنت ته نه دا خلیږی . دی وائی نه جی ما ته دلته بیت الله ملاؤ شوی دی نو. "الله اکبر کبیرًا" بل کوم تن چی زبا د نه کوی. نیکی ئی اوکړه. احسان ئی اوکړو. بیا لګیا دی زبادل کوی. نبی علیہ السلام فرمائی دا زبادنه کؤنکی "مَنَّان" به جنت ته نه ځی . او دریم نمبر کوم تن چی په شرابو کښی مست وی شراب څکی. شرابی به جنت ته نه ځی. امام ذهبیؒ ګنړ روایات ذکر کړی دی. یو روایت کښی رازی. "لَعَنَ اللّٰه العاق لِوَالِدَیۡهِ" دَ الله لعنت دے په هغه چا چی د مور پلار نافرمانه وی. بل روایت کښی راځی "لعن الله من سَبَّ وَالِدَیۡهِ"

علامه منذریؒ الترعیب والترهیب کښی روایت ذکر کوی "لَعَنَ الله" د الله لعنت دے په هغه چا چی مور پلار ته کنځل کوی مور پلار ته کنځل کول . (الله اکبر کبِیۡرًا)

بل روایت کښی راځی بعضی ګناهونه دا سی دی چی الله تبارك و تعالی د هغی سزا دَ قیامت ورځی ته رو ستو کوی "اِلَّا عقوق الۡوَالدِیۡنَ" سوا د مور پلار د نافرمانئ دګناه نه، د مور پلار د نافرمانی دَ ګناه سزا الله په دنیا کښی ورکوی .

بل روایت کښی را ځی او ګد حدیث دے. سیدنا کعب بن عجره رضی اللہ عنہ فرمائی چی نبی اکرم ﷺ یو پیره په منبر باندی ناست وو. ملګرو ته ئی ووی. "احضروالمنبر" ممبر ته را نزدی شے. مونږه را غلو. صحابه کرام رضی اللہ عنہم فورًا ممبر ته رانزدی شو. نو چی کله نبی ﷺ ږومبے پونړے ته اوختو نو نبی علیہ السلام وئیل آمین. نو چی دویمے درجے ته او ختو (دویمے پونړے ته) بیائی ووئیل آمین. نو چی دریمے ته اوختو نو بیا ئی وئیل آمین. صحابه کرام رضی اللہ عنہم تپوس کوی اے د الله رسوله ﷺ

"لقد سَمِعْنَا مِنْكَ اليوم شَيْاً ما كُنَّا نَسْمَعُ" تا نه مونږ نن نا شنا خبره واوريده. دا مو مخکښی نه وه اوريدلی نو نبی ﷺ ورته او فرمائيل چی کله زهٔ په رومبئ پونړے کينا ستم نو جبريل عليه السلام ما ته راغے. او جبريل عليه السلام هغه ټائم لاس پو ر ته کړؤ جبريل وائی "بَعُدَ من ادرك رمضان" جبريل اوئيل هغه تن دی تباه شی چی د رمضان مياشت ور باندی را غله او دهٔ له پکښی بخنه او نه شوه. جبريل امين عليه السلام وئيل دا سړے دی تباه شی . ما وئيل آمين، نو بيا چی کله دويمے درجے ته اوختم نو جبريل امين عليه السلام وئيل چی کوم يو تن سره ستا تذکره او شوه اے د الله رسوله ﷺ او هغه درود شريف او نه وئيل نو دی دی تباه شی، ما وئيل آمين او چی کله زه دريمے پونړے ته او ختم نو جبريل امين عليه السلام وئيل د چا مور پلار چی بوډا والی ته رسيدلی دی. او اولاد دَ دی مور پلار په خدمت سره جنت ته دا خل نه شو نو دا تن دی تباه شی ما اوئيل چی آمين، نو چی جبريل امين عليه السلام لاس پور ته کړی چی د مور پلار نا فر مان دی تباه شی او خوږ پيغمبر پاك عليه السلام هغه معصوم پيغمبر ﷺ پری آمين وئيلی وی نو تا سو اووائے دَ دی انسان په هلاکت کښی څه شك شته؟ دنيا کښی هم تباه او آخرت کښی هم تباه د مور پلار نا فر مان، ځکه جبريل امين عليه السلام ورته خيرے کړی دی چی د تمام ملائکو سر دار فرشته ده. دَ تمام انبيآء سر دار پيغمبر عليه السلام پری آمين ويئلی دی د پيغمبر عليه السلام خيرے هم قبولی او د جبريل امين عليه السلام خيرے هم قبولی.

په يو روايت کښی راځی :"اَربعة حقٌ عَلیَ الله" څلور تنه دی چی الله به ئی جنت ته نه پريږدی او نه به ور ته د جنت نعمتونه څکوی يو شرابی بل کوم کس چی سودی وی او دريم نمبر چی د يتيم مال خوری د يتيم مال ته ئی کار وئيلی وی. او څلور نمبر د مور پلار نافرمان الله پاك دی جنت ته نه پريږدی.

بل روایت کښی راځی چی دری دعا ګانے او خیرے دی چی ددی قبلیدوکښی هیڅ شك نشته یو "دَعْوَة المَظْلُوْمُ" دَ مظلوم خیرے او دعا یو تن سره ظلم اوشو او هغه لاس پورته کړل. دَ هغه خیرے او دعاګانے ډیری زر قبلیږی.

یو حدیث پاك کښی راځی نبی ﷺ چی سیدنا معاذبن جبل رضی الله عنه یمن ته لیږو، نو دَ نبی علیه السلام تر تیب دا وو چی ملګرو سره به تر څه مینځه تلو سیدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه په اوښ باندی سور دی سیدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه سره نبی علیه السلام بهر راوتے دے. نبی علیه السلام واړی نیولی دی. سیدنا معاذبن جبل رضی الله عنه ته نبی علیه السلام څه نصیحتونه کوی چی یمن ته خوځے خو داسی به کوی، داسی به کوی، دا سی به کوی. هدایات ور ته جاری کوی خو نبی علیه السلام ورته یوه خبره کوی یا معاذ که آئنده راځے شاید چی زما ستا سره ملاقات او نه شی. سیدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه ډیر په ژړا شو. چی ته بیا آئنده راځے زما په قبر به را تیرګے. سیدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه په ژړا شو. بیا ورته وائی. چی هلته خوځے خو یاد ساته. "اِتَّقِ دَعْوَة المظلوم" د مظلوم د خیرونه ځان او ساته. چی چرته در نه ظلم اونشی .چی چا سره ظلم او شو. د چابے عزتی او شوه. د چا ګوټ کنډر او شو. دا غټ مظلوم انسان وی. او هغه لاس پورته کړو چی یا الله دا ډاکو او د اغلاګر او دا چور تباه کړی. او دی اوشرموی نو هغه اوشرمیګی بیائی لاشونه راخکلے کیږی نبی علیه السلام فرمائی یو "دعو ة المظلوم" دَ مظلوم دعا یا خیرے زر قلبیږی . و "دعوة المسافر" . مسافر دی نو دعا خیرے ئی ډیرے قبلیږی ، و "دعوة الوالد علی ولده" دَ مور پلار خیرے یا دعا د اولاد په حق کښی دَ چا چی مور پلار ژوندی وی نو دعا ګانے

دے تری واخلی . دا مور پلار دَ دعاګانو یو لویه سر چشمه ده. دا مور پلار دَ دعاګانو یو لویه چینه ده.

علامه ابن منبه ذکر کوی چی الله موسی علیه السلام ته وحی اوکړه چی اے موسیٰ علیه السلام د مور پلار عزت کوه. ځکه چی چا د مور پلار عزت اوکړو نو عمر کښی ورته برکت اچوم . دَ هغه چا عمر کښی به برکت وی چی مور پلار ترینه خوشحاله وی او داسی اولاد به ورکوم چی عزت به ئی کوی. څوك چی دَ مور پلار نافرمانی کوی الله وائی عمر به ورته بے بر کته کړم او داسی اولاد به ورکړم چی نافرمانی به ئی کوی.

په الکبائر کښی امام ذهبی د ابن منبه په حواله سره ذکر کوی. چی څوك دمور پلار عزت کوی الله به ورته عزت والا بچی ورکړی او چی څوك د مور پلار بے عزتی او نافرمانی کوی. الله به ورته داسی بچی ورکړی چه په سرو سترګو به ئی اوجړوی بیا.

بل روایت کښی راځی سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما راوی دے کوم یو تن چی خپل مور پلار ته په نظرِ رحمت سره او کتل، مور پلار ته ئی او کتل او په خوشحالی سره ئی اوکتل په محبت شفقت سره ئی اوکتل. الله تبارك و تعالی به ورته په دی هر ځل کتو باندی د حج او عمرے ثواب ورکړی. دا ثواب ښځے ته په کتو نه ملاویږی. که ته شپه او ورځ د ښځے نه طوافونه کوے تا ته دا ثوابونه په دی نه ملاویګی دا ثواب که تا ته ملاویګی نو د مور پلار په کتو سره، مور پلار ته په کتو سره تا ته دَ قبول شوی حج او عمرے ثواب ملاویګی. صحابه کرام رضی الله عنهم تپوس کوی اے د الله رسول علیه السلام که یو انسان مور پلار ته دَ ورځی سل پیرے ګوری نو بیا. نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل الله به ورته د سلو عُمرو او دَ سلو حجونو

ثوابونه ورکوی. الله خو ډیر لوئے ذات دی. نو دا مور پلار څومره لوئے دولت شو تا ته په کور کښی مور پلار ته په کتو سره دومره ثوابونه ملاویگی. او نن څومره کم عقل خلق دی. په دی وجه باندی ابن عباس رضی الله عنهما نه منقول دی چی نبی علیہ السلام اوفرمائیل چی کوم تن د الله د رضا دپاره دَ مور پلار تابعدار وی دَ هغه دَ پاره د جنت دوه دروازی پرانستلے شی. او چی څوك دَ مور پلار نافرمان وی هغه له د جهنم دوه دروازے پرانستلے شی. خوښه دَ ده ده . دویم دا که دا مور پلار تا سره ظلم کوی. نو بیا یو ورځ نبی علیہ السلام د مور پلار حقوق بیا نول چی د مور پلار سره احسان کوئ. او دَ مور پلار سره به همدردی کوئ خدمتونه به ئی کوئ نو څه ځوانان راپاسیدل نبی علیہ السلام ته وائی اے دَ الله رسوله علیہ السلام "وَاِنْ ظَلَمَا" اګر که دا مور پلار ظلم کوی. نو بیا به ئی هم خیال سا تو نبی علیہ السلام په هغه خبره غصه شو نو نبی علیہ السلام ورته او فرمائیل "وَاِنْ ظَلَما، وَاِنْ ظلما، وَاِنْ ظَلَمَا" اګر که دا مور پلار ظلم کوی . اګر که دا مور پلار ستا ظالمان دی، فرعو نیان دی. هر څنګه خلق چی دی. خو ته به ورسره بیا هم همدردی کوی . په دی وجه که مور پلار بے دینه مشرکان دی بیا هم ورسره خیر ښیګره کوه ښه سلوك به ورسره ساتے .

سیده اسماء رضی الله عنها را غله دَ نبی علیہ السلام نه تپوس کوی چی اے د الله رسوله ﷺ زما مور مشرکه ده زما ملاویدو ته رائی نو آیا ما دَ پاره دا جائز دی چی زهٔ ئی خیال ساتم زما مور خو مشرکه ده. نبی ﷺ ورته اوفرمائیل داحدیث بخاری کښی دی

"صِلِیُ اُمَّكِ" دمور پلار خیال ساته صله رحمی ور سره کوه قرآن کښی هم الله فرمائی "و صَاحِبُهُمَا فِی الدُّنیا مَعْرُوْفًا" که مور پلار دی بے دینه وی دَ دنیا په کارونو کښی ئی خیال ساته خدمت ئی کوه،

خرچه وربانـدی کـوه دَ لباس خیال ئی ساته، دَ پیزار خیال ئی ساته، دۀ سره دَ خپلـو بـچـو دَ پیـزار غـم وی. دَ خپلـے بی بی د پاره قسما قسم سُوتہونـه، او قسـمـاقسـم دَ بـے حیائی لباس هغه هم ور ته راوړی او یو بوډا پلار ئی وی، یو بوډے مورئی وی. دۀ سره په جیب کښی د هغوی دَ پاره لس روپے نه وی خو دا دَ دی انسان بد قسمتی وی .

سیدنا ابوالدرداء ﷺ وائی چی نبی ﷺ اوفـرمـائیل پلار د جنت منځنے دروازه ده ستـا خـو ښـه ده کـه حفاظت ئی کـوے او که ضائع کـوے ئی. نـو دا ستـا پلار چی دے دا ستا دپاره د جنت دروازه ده نو که خیال دی او سـا تـلـو نـو جنت ته به دا خل شے که خیال دی او نه سا تلو نو دارنگے بیا به ته جهنم ته دا خل شے .

نـو مـور پـلار ډیـر لـوئـے مخلوق دی . دَ مور پلار دَ خدمت په وجه به ستا دعاګانـے قبلیږی . حدیث پاك کښی را ځی . سیدنا عبد الله بن عمر رضی الله عـنهـما نه روایت دے چی نبی ﷺ فـرمـائیل یو پیره دری کسان په لاره روان وو. بـاران ګیـر کـړل. نـو دوی یـو غـار ته داخل شو چی څنګه غار ته داخـل شو نو دَ بره غر نه یو غټ ګټ دی غار ته را غورځیدو او دَ هغه غار هـغـه خله ئی بنده کړه. نو دوی په غار کښی دننه ګیر شو. دَ راوتو څه لار نه وه. هغی ته دیکه ورکوی خو هغه ډیرغټ ګټ وو. په دی کښی یو تن وئیل یا الله ماته یو پیره دَ زنا موقع ملاؤ شوے وه او ستا دَ یری می هغه زنـا نـه وه کـړے نـو کـه زمـا عـمل ستا دَ رضا د پاره وی الله نو هم دَ دغی عـمـل په وسیلی سره دا کانړی لر کړی، هغه کانړی لږ غوندی کولاؤ شو خـو دوی تری را وتـے نه شو. بیا هغی بل تن وئیل یا الله ما سره یو مزدور مـزدوری کـړے وه او هـغـه مـزدور بیـا زمـا سـره څـه خفګان راغلو. هغه پیسـے دَ مـزدورئ ئـی زمـانـه وانـه غستی. خو ما په هغه پیسو تجارت

شروع کړو. ګډے بیزے څه څه . بیا ډیرے مو ده پس دغه مزدور راغلے وو. وی ما ورته وئیل راشه هلکه دا خپل هر څه دی بو ځه. نو ماته ئی ووئیل خندا راپوری کوی؟ وی نا دا ستا په لس شلو روپو ما لږ لږ کاروبار شروع کړے وو دا غونډ هر څه ستا دی. ما سره په قیامت کښی بیا ستا دَ لس شلو روپو دَ پاره هلته به ګنجائش نه وی نو هغه هم د ځوان ځوی وو ګیره ئی دَ مونډه ویسته ټول څاروی ئی بو تلل یا الله که دا عمل می ستا دَ رضا دَ پاره کړے وی. دَ دی عمل په وسیله سره دا کانړے لر کړے یا الله ددی عمل په و سیله سره مونږ نه دا کانړی لر کړی. کانړی لږ غونده را دیخوا شو خو بیا هم دوی را وتے نه شو. هغه دریم تن لاس پورته کړل. چی یا الله زما مور پلار بوډا ګان وو، ما به د هغوی خدمت کولو ما به ټوله ورځ ګډے بیزے سرولی ما سخوتن چی به راغلم مور پلار ته به می رومبے د هغه پیو نه پئی ور کول . هغوی به می مړول. بیا به او ده کیدم داسی خلق هم شته. نن خو ډیر خلق دا سی وی چی دا مور پلار به مو کله سر خوری چی خپل اختیارات مو شی. او خپله خاوره خپل اختیار مو شی. تا له به دا دعا ګانے څوك کوی؟ تا ته دَ حج او عمرو دا ثوابونه به څنګه ملاویګی؟ بیا دوی وائی چی دا پلار مو سر اوخوری چی جائیداد خپل مینځ کښی تقسیم کړو په خوشحالئ سره. داسی خلق شته . چی ډاکټر ته ئی پلار بوتلے ، ډاکټر ته وائی ډاکټر صیب دَ زهرو انجکشن ورته اووهه چی دی سر اوخوری چی مونږ ته جائیداد پاتی شی . وی یا الله ما به دَ دی مور پلار خدمت کوو یو ورځ زهٔ راغلمه پئی می لاس کښی نیولی وو. بچی می هلته دَ لوړی دَ لاسه چغی وهی. خو ما ووئیل چی زما دی مور پلار دا پئی نه وی څکلی زه

بچو تہ مخکښی نه ورکوم نو هغه مور پلار زما اوده شوی وو. نو زه ولاړ ومه ولاړ ومه په دی کښی نا و ختہ شو بانګو نه ئی اووئیل هغه بچی می دَ غه شان دَ لوړی او دۀ شو خو مور پلار می د خوب نه هم نه راپا سول چی زما دی مور پلار په آرام کښی خلل واقع نه شی . نو الله کہ د غه عمل ستا د ر ضا دَ پاره مونږ کړی وی دَ دی په و سیلی سره الله مونږ ته لار راکړی. هغه کانړی راورغړئیدو هغوی ته لار ملاؤ شوه. نو دا رنګے د مور پلار د خدمت په وجه دعا ګانے قبلیږی ، دَ مور پلار خدمتونه اوکړۀ. دعا ګانے واخله ستا دعاګانے به قبلیږی

د مور پلار د حیثیت اندازه دَ دی نه لګولی شی. یو ورځ نبی ﷺ سره صحابه کرام ﷺ ناست وو یو زنانه را غله نبی ﷺ ورته زر خپل څادر اوغوړولو. صحابه کرام ﷺ حیران شو. چی دا څوك زنانه وه چی باپر ده راغلی وه تا ورته څادر اوغوړولو ته ورته پاسیدے تا ئی اکرام اوکړو تائی احترام اوکړو نبی ﷺ ورته اووئے دا زما مور حلیمه السعدیه رضی الله عنها وه. ما له چی کومی مور پیۀ راکړی وو. رضاعی مور وه زما نو دا ما باندی دهغی حق وو زما ملاقات ته را غلی وه.

یو تن د نبی ﷺ په خدمت کښی حا ضر شوی وو تپوس ئی اوکړو اے دَ الله رسوله ﷺ ما خپله بوډے مور په اوګو باندی اوګرځوله. او په داسی ګرمو ګرمو کا نړو باندی ما خپے ایخے وی چی هغی راته دا غوښه ټوله سره کړے وه او کہ لږ پری حصاریدم نو روتولم ئی نو آیا ما دَ دی مور حق ادا کړو؟ نبی ﷺ و رته اوفرمائیل دا ته څه وائی. ستا دَ پیدائش په و خت کښی چی ستا په مور کوم تکلیف وو. ستا دا ټول عمر ګرځول د هغی یو سړیکی برابر تا خدمت نه دی کړی دَ هغی. دَ مور پلار خدمت

صحیح طریقے سره نشی کیدے . چی مور پلار درنه چرته خفه لاړ نشی . مور پلار درنه چرته په خفګان کښی چرته سترګے پټے نه کړی ګوری ټول جهان به در پسی ګرزځی او ملاویږی به درته نه.

د مور پلار ډیر لوئے شان دی. تفسیر قرطبی یو اوږده وا قعه ذکر کړے ده سیدنا جابربن عبد الله رضی الله عنهما په روایت سره چی یو تن د نبی ﷺ په خدمت کښی حا ضر شو شکایت ئی اوکړو چی ! زما پلار زما نه ټول مال اخلی. دَ پلار باره کښی ئی شکایت اوکړو. چی اے دَالله رسوله ﷺ زما پلار زما نه مال خوړلی ډیر اولاد دا سی وی چی هر ځائی لګیا وی چی پلار سره مې دا احسان اوکړو ډوډئ می ورته ورکړه دا مې ورته ورکړۀ دا مې ورته ورکړۀ وایه تا چی به په تولائی کښی ایك دو (1,2) کول او خپل ځان به دی ټول لړلی وو خد متونه ستا چا کړی دی پاګله تا نن لس شل روپے اوګټلے نو په پلار هغه زبادی . نو د نبی علیه السلام تر تیب دا وو نبی علیه السلام به هغه ته دا نه وئیل چی خه ستا پلار تا سره زیاتی کړی دی هلکه پلار ته دی آواز کړۀ پلار دی راؤغواړه په دی وجه تاله چی څوك فیصله راوړی نو دَ یو طرف نه به نه متا ثره کیږی. تا له یو تن را غلے . تا له وائی ما سره دی فلانکی ظلم اوکړو او زیاتی ئی را سره اوکړو، دا ئی اوکړل، دا ئی اوکړل، او ته فورًا هغه بل پسے لاړشے تا ولی داسی زیاتی اوکړو. نه' داسی به نه کوی د یو خبره هم تفصیلی واؤره، او د بل خبره هم تفصیلی واوره. بیا په هغی کښی مشترك او ګوره بیا د هغی نه فیصله کوه. نبی ﷺ هغه ملګری ته وائی لاړشه پلار دی راؤغواړه هغه پلار پسے لاړو. چی څنګه پلار پسے لاړو په دی کښی جبریل امین علیه السلام را غے. جبریل علیه السلام امین

نبی علیہ السلام تہ وائی چی دا پلار ئی چی را شی. نو دی پلار تہ ئی اووایہ چی کلہ تا سرہ دی ځوی جنګ اوکړو نو تا دا سی څہ سوی غوندے مصرعے وئیلی وی، لږی هغه مصرعے را تہ اووایه. نبی علیہ السلام تہ خو دَ هغی پتہ نہ وہ خو جبریل امین علیہ السلام و رتہ اووئے. خو کلہ کلہ سړے خفہ شی نو هسی دا سی څہ اشعار وائی څہ مصرے وائی. جبریل امین علیہ السلام ور تہ اووئے. چی کلہ دَ دے هلك پلار راشی نو تہ دۀ تہ اُووایہ چی هغہ وخت چی تا سرہ دی ځوی شور شرغب او کړو تا کومی مصرعے وئیلے وی هغه را تہ لږی اوایه. هغه پلار ئی حا ضر شو. نبی ﷺ ور تہ وائی ستا ځوی ستا شکایت کوی . آیا تہ ددۀ نہ مال خوری. پلار ورته وائی. جی! تا سو دۀ نہ تپوس اوکړی زۀ دغه مال چر تہ اوسم نبی ﷺ ورتہ اوفرمائیل چی اوس پتہ اولګیده چی تہ غلط وائی ستا دا هر څہ چی دی کنه دا ستا دَ پلار دی. بیائی ترینه تپوس او کړو چی هغه کلمات را تہ اوایۀ. چی ستا غوږ ونو هم نه وو آؤریدلی تا ځان سره دا سی بنګ بنګ کړی وو.

دی تن ور تہ اوئے چی اے د اللہ رسولہ ﷺ په هره معامله کښی زمونږ په تا ایمان او یقین سوا کیږی. بیائی اووئے جی ! دا حقیقت دے. ما یو ځو شعرونه وئیلی وو. په زړه کښی می وئیلی وو . غوږونو می نه وو آؤریدلی . نبی علیہ السلام تہ ئی هغه اشعار اووئے. چی دی ځوی ما سره کله چیر اوکړو. اے د اللہ رسول ﷺ نو ما دا ځان سره اوئیل چی:

غَذو تك مولودا و منتك يا فعا تُعل بما اجنى عليك و تنهل

اے زما بچیہ ما تا تہ په ورکوتوالی کښی د خوراك انتظام کوو. د ځوانی نہ رو ستو می ستا ذمه داری پورته کړی وه . ستا د خوراك او

څنبـاك دا هـر څـه زمـا پـه ګټـه وټـه باندی وو. اے بچیـه ما ستا څومره ترتبیت کوو.

اذا ليلةً ضافتك بالسقم لم ابت لسقمك الا ساهرا اتململ

اے زما بچیه چی ته به د شپے بیمار شوی. نو ما ستا د بیماری دَ وجی نـه ټولـه شپـه شـوګیره کولـه. شپه می بـے قرارے کښی تیریده ته نن رابۅړکـے شوی ئی ماله جوابونه راکوی.

دا رنګـے لګیا دی. اے زما بچیه چی ته به بیماروے ما وے ګو یا چی دا بیـماری تـا ته نه ده لګیدلی. دا بیماری ما ته لګیدلی ده چی دَ هغی پـه وجه به ما ټوله شپه ژړا کوله، بیماری به په تا را غلی وه، بچی! ټوله شپه درته زۀ ناست وومه. ټوله شپه درته ماژړا ګانـے کولی

تخاف الردی نفسی علیك و انها لتعلم ان الموت وقت مؤجل

اے زمـا بـچیـه زمـا زړۀ یـریدو چی بچـے رانه چرته مړ نه شی. دا خو زمـا دَ ارمـانـونـو ځـائـے دے. بـچـے زمـا زړۀ ستـا پـه هلاکت یریدو. حـالانـکـه مـاته دا پته وه. چی مرګ د پاره خو وخت مقرردی. چی کوم وخت مـقـرر دے. پـه هـغـی به مرګ را ځی. خو بچـے زۀ هسی یریدم چی بچـے ته را نه چرته مړنشـے.

فلما بلغت السنّ والغایه الّتی اِلیها مدی ما کنت فیك اؤمّل

اے زمـا ځـویـه چی کله ته د هغه عمر او هغه سټیج او هغه لمحـے ته اورسیـدے چی کـومـی تـه زمـا آرزو وه، چـی ما وئیـل زما ځوئـے بـه لـوئـے شـی، اے زما ځویه چی ته کله هغه عمر ته اور سیدی چی ما دَ هغی تمنا ګانـے کولی.

جعلت جزائی غِلْظَةً وَّ فَظَا ظةً کانك انت المطعم المتفضل

نو اے زما ځویه تا ما ته په سختے سره بدله را کړه. تا ما ته په ناکاره خبرو سره بد له راکړه. ګویا چی تا ټول احسانات په ما باندی کړی دی. ته ما ته دا سی لګیائی. او بیا ئی هغه پلار وائی .

فیلتك اذ لم ترع حق ابوتی فعلت کما الجار المصاقب یفعل

فا و لیتنی حق الجوار و لم تکن علیّ بمالِ دون مالك تبخل

اے زما ځویه تا خو ما ته د پلار والی هغه حق هم ادا نه کړو. دَ یو ګاونډی غوندی خو به دی را ته کتلے وو . خلق ګاونډی ته څنګه ګوری کم از کم د ګاونډی حق به دی راکړی وو. زما په مال کښی به دی زما په حق کښی شو متیا نه کوله.

کله چی نبی ﷺ دا اشعار واوریدل. نو هغه ځوئے ورته دَ ګریوان نه اونیولو. او ورته ئی اووئیل "انت و مالُك لابیك" ته هم ستا د پلار ئی او ستا دا مال هم ستا د پلار دے.

په دی ځان پو هه کړه که ستا دا مور پلار نه وی نو ته به کوم ځائے کښی وی؟ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل "انت و مالُك لابیك" ته او ستا دا مال دا ټول ستا د پلار دی. څوك چی د مور پلار سحر او مانښام خدمتونه کوی نو په دوارو جهانو کښی به عزت والا وی. په دی وجه باندی مور پلار خفه کول نه دی پکار مور او پلار دا ډیری لوئے هستئ دی او بیا خاص کر دَ مور خو ډیر لوئے حیثیت دے. مور کمزوری وی پلار کښی څه نا څه بر داشت وی. مور کښی ډیر بر دا شت نه وی. دَ مور دحقوقو ډیر زیات خیال ساتل پکار دی. ځکه دا مور چی ده نو دا دَ نسل انسانی یو عظیم او ښکلی لفظ دے. دا مور دَ ایثار، دَ همدردی او دَ اخلاص یوه مجموعه ده. دا مور دَ سکون یو مرهم پټئ ده. سړے

ستړے ستو مانـه را شی مور ورسره خبری اوکړی زر ورته ببوزی اووهی. زر ورته اوبه راواخلی نو سکون ورته ملا و شی . څوك وائی دی کائنات ته الله بهترینه تحفه د مور په شکل کښی ورکړی ده . مور بهترینه تحفه ده. دا مور چی ده دا یو ګُور سوری دی ستړی والی کښی ور ته انسان ته آرام ملاویګی او چا ویئلی دی چی مور د محبت او شفقت یو لوئے مینار دی. دَ اولاد دَ پاره خو پته ئی هله لګی چی کله دا دولت د انسان نه لاړی شی بیا ور پسے جهان ګوره دا نه ملا ویګی علامه اقبالؒ هاستل کښی وو خبر ورته راغے چی مور دی وفات شوی ده نو هغه دَ مور په باره کښی یو څواشعار لیکلی وو :

اے زما موری زما د خط دَ را تلو به څوك انتظار کوی ځکه چی دا مور دَ بچی د را تلو انتظار کوی. دا مور د بچی د خط انتظار کوی.

کس کو ہوگا اب وطن میں میرا انتظار کون　　میرا خط نہ آنے سے رہے گا بے قرار

څوك به بے قراره وی زما د خط نه را تلو په وجه

خاک مرقد پر تیری لے کر یہ فریاد آؤں گا　　اب دعائے نیم شب میں کس کو میں یاد آؤں گا

اے موری د نیمی شپے دعا ګانے به راته څوك کوی. زما د پاره به څوك الله ته ژړا ګانے کوی.

تربیت سے تیری میں انجم کا ہم قسمت ہوا　　گھر میرے اجداد کا سرمایہ عزت ہوا

اے مور ما ته چی کوم مقام او عزت ملاؤ دے ستا په دعا ګا نو سره . ستا په خوارو سره ملاؤ دے.

دفتر ہستی میں تھی زریں ورق تیری حیات　　تھی سراپا دین و دنیا کا سبق تیری حیات

آخر کښی عجیبه خبره کوی:

عمر بھر تیری محبت میری خدمت گر ہوئی

اے زما موری تا تول عمر زما خدمتونه او کړل تا تول عمر زما جامی هم وینځلے تا تول عمر زما د پاره ځان اوکړولو.

وی زۂ دی ګل کړم ځان دی خاوری کړو

اے زما موری تا زما دپاره ډیر مصیبتونه بر داشت کړل

عمر بھر تیری محبت میری خدمت گر ہوئی جب تیری خدمت کے قابل ہو گیا تو چل بسی

خو چی موری زۂ ستا د خدمت شو مه، په خپلو خپو اودریدمه د ګټے وټے شومه نو ته لاړی ستړګی دی رانه پټے کړی اوس به ماله څوك دعاګانے کوی. په دی وجه چی د چا مور پلار ژوندی دی یا پکښی یو ژوندے دے دَ الله لحاظ اوکړئ. دَ الله نه اویریګ. دا سر مایه مه ضائع کوئ. دا به تا سو ته روستو پته لګی بیا. مونږ ډیر زیات په دی دنیا کښی اولیدل. چی مور پلارئی خفه کړی وی، قسم می دی وی په الله، سروهلے بروهلے ګرځی. دَ غریبانانو د روټے درك نه لګی یو طرفته او بل طرفته سروهلے او بروهلے لیونی دی نو چی ستا دا مور پلار هر څنګه دی کمزوری دی. که ان پرهـ، که جا هلان دی که بے دینه دی خو انتهائی خدمت ئی کوئ.

سحر و مابنام ورته په خپو زور کوی په ملا ورته زور کوی. په سر ور له زور کوی. په مرئ ورله زور مه کوی. دابه هله کیږی چی مونږ دا خپل بچی جومات ته راولو . که چرے مونږ دا خپل بچے جو مات ته نه راولو هغه ځائے ته ئی لیږو چی ټائی ورته اچوی دا خپل اولاد چی مونږ هغه ځائے ته لیږو چی کوم ځائے کښی ورته د قرآن او سنت خلاف خبری ښائی. نو هغه خلق بیا مور پلار نه پیژنی. هغه ادارو ته مونږ خپل اولاد لیږو چی هلته ورته ګرل فرینډ او بوائے فرینډ او دا قصے ور ته ښائی. دا خلق بیا

مور پلار نه پیژنی. هغوی گر ل فرینډ او بوائے فرینډ سبق زوتوی او بیا داسے ماحول ته خلق لاړشی. او دا سی حالاتو ته راور سیږی. چی بیا دَ انسان او مسلمان او پختون نه غیرت او حیا ختمه شی ده لور سره ئی ټینډ او پردی هلك ئی ځان سره راروان کړی وی.


پلار ته وائی ډیډی دا زما بوائے فرینډ دے. هغه دله هم ورته وائی هے هے، (الله اکبر کبیرا) دا جینئ ده، پردے هلك ئی د کالج هاسټل نه را روان کړے دے. خپل پلار ته وائی ډیډی دا زما بوائے فرینډ دے. یعنی دا پکښی زما بغیر دَ نکاح میړه دے. مطلب دادی د بوائے فرینډ. د بوائے فرینډ مطلب دا دی د ا زمابغیر نکاح میړه دی. هغه ورته خله چینګه کړی.(الله اکبر) دَ قرآن او سنت نه دَ لری والی په وجه دومره دله توب، دومره بے غیر توب مونږ کښی راغلے دے په دی وجه زما عزتمندو خپل اولاد ته دینی تر بیت ورکول پکاردے. دین چی ورته اوخایو نو په دین کښی هر څه دی چی دَ چا مور پلار ژوندی وی. نو هغوی ته منت دا دے، درخواست دا دے. جرګه ورته دا ده چی د چا ورسره تر اوسه پوری نالګی وی نو رَضا ئی کړے او چی د چا نه رضا وی نو نور انتهائی خوشحاله ئی اوساتے. کوم کوم ملګری به ئی د مور پلار به خیال ساتی. ان شاء الله. جزاك الله خیرًا کثیرًا . الله تبارك و تعالیٰ دی مونږ او تا سو ته د عمل کولو توفیق نصیب کړی.

زما مور جانے او په ماګرانے
ځه در پسے ژړا کومۀ زما مور جانے

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر : ''٢''

فضائل درود شریف



دویمه خطبه: ''فضائل درود شریف''

الحمد لله، الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيئات اعمالنا من يهده الله فلا مُضل لهٗ و من يضللهُ فلا هادی له و اشهد ان لا اله الا الله وحده وحده لا شريك له لا نظير له و لا وزيرله لا مثل له و لا مثال له و لا مثيل له و لا مماثل له۔ لا ند له و لا ضد له و لا ممد له و اشهد ان سيدنا و سندنا و حبيبنا و اطهرنا و اكملنا و مولانا و اولانا محمداً عبده و رسوله۔ اما بعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم۔

﴿إِنَّ اللهَ وَمَلآ ئِكتَهٗ يُصَلُّون على النبی يا ايها الذين امنو ا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تسليما﴾

اللهم صلّ علیٰ محمّدٍ و علی ال محّمدٍ كما صلّيت علیٰ ابراهيم و علیٰ ال ابراهيم انك حميدٌ مّجيد اللهم بارك علیٰ محمد وعلیٰ ال محّمد كما باركتَ علی ابراهيم و علیٰ ال ابراهيم انك حميدٌ مجيد

معزز عزتنمندو مشرانو نن چی مونږ د کوم آیت کریمه انتخاب کړی دی په دی کښی ا لله تبارك و تعالیٰ په نبی ﷺ ددرود پاك ویلی حکم کړیدے قرآن کریم کښی الله تبارك و تعالیٰ مختلف احکاما ت ذکر کړیدی

کله الله تبارك و تعالی فرمائی چی تا سو مونځ ادا کړئ د هغی اجر الله ذکر کړیدے. ﴿اقیمو الصلوة﴾ کله الله تبارك و تعالی حکم فرمائی چی ﴿اواتو الزکوة﴾ تا سو زکوٰ ة ادا کوی. نو کله الله تبارك و تعالیٰ حکم فرمائی چی تا سو قربانی اوکړی. کله الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿واتمو الحج والعمره لله﴾ چی تا سو حج او عمره ادا کړئ. مختلف اوامر مختلف احکامات الله تبارك و تعالیٰ په خپل عظیم الشان کتاب

کښی مونږ او تا سو ته ذکر کوی. دا رنګے الله تبارك و تعالیٰ ددی خبری هم مونږ او تا سو ته حکم کړی دی. چی تا سو په جناب نبی اکرم ﷺ باندی درود شریف وائی. په قرآن کریم کښی د نورو انبیآء علیهم السلام وضاحت الله تبارك و تعالیٰ کړی دی د انبیآء علیهم السلام مقام ئی بنودلے دے، د انبیآء علیهم السلام تعریف او توصیف ئی کړی دی دآدم علیه السلام متعلق راځی چی کله الله تبارك و تعالیٰ سیدنا آدم علیه السلام ته وجود ورکړو نو الله تبارك و تعالیٰ ملائکو ته حکم او فرمائیلو چی ﴿اُسْجُدُوا لاٰدَم﴾ چی تا سو د آدم علیه السلام په طرف باندی سجده اوکړئ . آدم علیه السلام الله تبارك و تعالیٰ مسجودٌ الیه دَ ملائك علیهم السلام اوګرځولو، ملائك علیهم السلام د آدم علیه السلام په طرف سجده کوی . خو دغه ځائے کښی ورسره الله دا ارشاد نه دے فرمائیلی چی زهٔ هم آدم علیه السلام ته سجده کوم زهٔ هم د آدم په طرف باندی تعظیم او سجده کوم. د نبی ﷺ محترم متعلق الله فرمائی ﴿چی انَّ الله وملا یکَتَهُ یُصَلُّون علی النبی﴾ الله تبارك و تعالی ایمان والو ته حکم کوی چی تا سو په نبی علیه السلام درود وائے . او ګوره د هغی نه مخکښی الله تبارك و تعالیٰ د درود نسبت اوّلًا ځان ته کوی .

چی زهٔ هم په دی پیغمبر ﷺ درود وائم. نو ملائك علیهم السلام هم په دے پیغمبر ﷺ درود وائی. نو اے ایمان والو ﴿یا ایُّهاالذین امنو صَلُّوُ ا علیه و سلّمُو تَسْلِیْمًا﴾ تا سو هم ور باندی درود اوائے . زهٔ هم و رباندی درود وائم. نو ملائك علیهم السلام هم په دی پیغمبر درود وائی. نو مسلمانانو تا سو هم درود اوائی . نو دی آیت کریمه کښی د درود شریف یو اهم فضیلت ذکر شو . او ګوره علماء کرام په دی پو هیګی چی آیت

شروع کوی نو ﴿اِنَّ اللہ﴾ دا "انَّ" حرفِ تاکید دے ، یقیناً ﴿اِنَّ اللہ وملائکتَہُ یُصَلُّوْنَ﴾ صیغہ دَ مضادع دہ. او دی ځائے کښی علماء ذکر کوی. چی دی ځائے کښی دا صیغہ د استمرار اودوام معنی کښی دہ. څہ مطلب . یقناً ا للہ تبارك و تعالیٰ او ملائك علیهم السلام ﴿یصلون علی النبی﴾ همیشه په پیغمبر ﷺ درود وائی اللہ هم و ر باندی درود وائی اګر چه د هغی خپل مطلب دے.

ملائك علیهم السلام هم ور باندی درود وائی . او همیشه ور باندی وائی . نو اے مومنا نو تا سو هم دا عمل کوئ ﴿صلُّوْا﴾ او اللہ تبارك و تعالی حکم فر مائیلے دی ﴿صلُّوْا عَلَیْہِ وسَلِّمُو تسلیما﴾ او دی آیت کښی بل طرفته یو بله اهمه نکته عظمت شان د نبی ﷺ هم ذکر دی درود شریف هم پکښی ذکر دی. دنبی ﷺ تذکره چی اللہ کوی. نو د نبی ﷺ نوم نه ذکر کوی . ﴿یصلون علی النبی﴾ په پیغمبر پاك په نبی ﷺ باندی درود وائی. اللہ دا نه وائی. چی "یصلون علی محمد" دَ محمد نوم پکښی نه ذکر کوی .

دا ولی د اللہ تبارك و تعالیٰ د نبی ﷺ عظمت ذکر کوی. اللہ تبارك و تعالیٰ د نبی محترم ﷺ شان ذکر کوی د نورو انبیاء علیهم السلام د هغوی حال چی بیا نوی د هغوی نو مونه اخلی ﴿یا آدم اسکن انت و زوجك الجنه﴾ ﴿یا زکریا﴾ ﴿یحیٰی خُذِالْکتٰبَ﴾ د ابراهیم علیہ السلام ذکر کوی. نو اللہ فرمائی ﴿ان اول الناس بابراهیم للذین اتبعوه وهذا لنبّی﴾ د غه آیت کښی اللہتبارك و تعالیٰ د ابراهیم علیہ السلام نوم ذکر کوی. نو ورسره وائی. ﴿و هذ النَّبِیُّ﴾ او دا پیغمبر . اللہ تبارك و تعالیٰ پکښی مونږ ته ادب هم او ښولو . چی آخری پیغمبر ﷺ ته په محمد ﷺ سره

آواز مـه کـوئ او نورو آیتونو کښی هم دا مضمون ذکر شوی دی . چی کـومو خلقو ژوندی پیغمبر ته "یا محمد اخرج بنا" چغـے وهلی نو الله تبـارك و تـعـالیٰ دهغی نه هغوی منع کړی. او ورته ئی او فرمائیـل چی گوری یا د ساتئ ﴿لا تجعَلُوُالرسول کدُعآ ء بعضِکُمُ بعضا﴾ سورة النور کښـی د الله فـرمـائـی. ﴿لا تـجـعـلـو دعـا ء الـرسول﴾ تا سومـه گرځوی دپیغمبر پاك ﷺ بـلـنه ﴿کدعآء بعضکم بعضا﴾ څنگه چی تا سو یو بل ته آواز کوئ چی یا فلا نکیه او یا فلا نکیه. نو نبی ﷺ ته یا محمد سره آواز مـه کـوئ. او الله تبـارك و تـعـالـیٰ فـرمائی ﴿انَّ الَّذِیْنَ ینا دُوْنِکَ مِنْ ورآءِ الـحُـجُـراتِ اَکْثَـرُهُـمُ لا یَعْقِلُوْنَ﴾ اے نبی ﷺ چـی کـوم خـلق تاتـه چـغـے وهـی. ﴿ان الـذیـن ینـا دونك مـن ورآء الـحجـرات اکثـر هم لا یعقلون﴾ اے نبی ﷺ کـوم خـلق چی تاته آوازونه کوی یا محمد چغـے وهـی . دا بـے عقله دی. په دوی کښی عقل نشته ژوندی پیغمبر ﷺ ته ئـی چـغـی وهلی. دلته دوه مسلئـے دی . که څوك چی پیغمبر پاك ﷺ تـه چـغـی وی. یا محمداو دا عقیده ئی وی چی پیغمبر پاك ﷺ د لری او نـزدی نه زما دا پکار زما دا آواز آوری او دا عقیده ئی وی چی دا پیغمبر رارسیـدی شـی او دا عـقیده ئی وی چی دا پیغمبر زما دپاره پس د مرگ نـه دعا گانـے غواړی . نو یاد ساتئ دا عقیده ډیره خطرناکه عقیده ده او کـه دا عـقیـده ئـی نـه وی او بیا هم په جوماتونو کښی اشتهاراتو کښی لیـکـی یـا الله یـا مـحـمـد نوبـے ادبی خوخا مخاده . د الله تبارك و تعالی طـرفنه هم یا محمد ﷺ خـطـاب نشه نو یا محمد خطاب بعض احادیث قـدسیه کښی د الله تبارك و تعالیٰ د طرفنه ملا ویگی. یا جبریل امین د طـرفـنـه مـلاویـگـی . نـو یـا د مـنـا فقانو یهود یانو د طرفنه ملاویگی.

نوکوم خلق چی ځان ته عا شقان وای. یا محمد چغے وهی. نووے ستا نه تپوس کوو. چی دا یا محمد خطاب دا خو یاد الله تبارك و تعالیٰ دطرفنه دے یا جبریل امین د طرفنه دے یا د منا فقانو د طرفنه دے نو یا د یهود و د طرفنه نو وایه تا نه تپوس کوو ته کوم کښی ئی ته خو الله هم نه ئی چی پیغیمبر ته یا محمد سره چغی وهی . نو ته خو جبریل علیه السلام هم نه ئی نو وایه دی نورو کښی ځان ته نمبر خوښ کړه نو دی نورو کښی کوم یو کښی ئی یهود یانو کښی ئی که منا فقانو کښی ئی یهود یانو منا فقانو به پیغمبر ته په نوم سره چغی وهلی یامحمد یا محمد باقی د امداد دپاره چغه وهل دا خو شرك دی د امداد پاره د الله نه علاوه بل څوك را مدد کول دا صریح شرك دی نو که هغه الله نه علاوه فرشتے ته چغه وهل وی که دالله نه علاوه پیغمبر ته چغه وهل وی که د الله نه علاوه یا پیر بابا یا کاکا صیبه رورسیګه را مدد شه دا چغی و هل وی نو که یا علی مدد چغے وهل وی. نو یاد ساتئ دا شرك دی دا نا جائز دی، او که یو سړی وائی چی زما خود حاضر نا ظر عقیده نه ده نو وے یاد ساتل پکار دی. زمونږ دفقهاء احنافو مشهوره فتاوىٰ شامی هغه ذکر کوی "مُجرَّدُ اِیْهَام المعْنی المحَالِ کافٍ فی المَنْع" چی چرته په یو کلمه کښی د غلطے معنی احتمال وی نو د هغی د منع کولو د پاره دا کافی ده . صحابه کرام رضی الله عنهم به نبی علیه السلام ته آواز کولو ﴿راعِنا﴾ زمونږ رعایت اوکړه. زمونږ لحاظ اوکړه. بیا بے ادبه ګستاخو یهودیانو منافقانو هغوی به دا "راعینا" استعمالول نو غلط مطلب به ئی تری اغستو د صحابه کرامو رضی الله عنهم مطلب صحیح وو. الله تبارك و تعالیٰ آیت کریمه راولیږلو. ﴿یا ایُّهَا الَّذِیْنَ اَمنو لا تَقُوْلُوْا

راعِنَا﴾ اے ایمان والو ''راعنا'' مه وائے داولی؟
دا با طل خلق تری نه غلط مطلب اخلی. ستا سو صحیح لفظ دی. خو مه ئی وائے .نو که ته د ''یا رسول الله مدد'' نه صحیح مطلب اخلی خو مشرکان وائی رارسیږی نو دغه مو هم شرك خو دی کنه. په دی وجه دا مه استعمالوه. نو الله تبارك و تعالی فرمائی ﴿انَّ الله و ملائکتِهُ یُصَلُّوُنَ علی النبی﴾ نو الله تبارك و تعالیٰ هم په پیغمبر علیه السلام درود وائی. نو ملائك علیهم السلام هم په پیغمبر علیه السلام درود وائی نو ﴿یاایُّهَا الذین امنو صَلُّوُا﴾ او الله حکم کړی دے اے ایمان والو ﴿صَلُّوُ ا ..﴾ نو تا سو هم په دی پیغمبر پاك ﷺ باندی درود وائی. الله په دی پیغمبر ﷺ درود وائی . ددی څه مطلب دے؟ امام ابو العالیہؒ فرمائی چی د الله تبارك و تعالیٰ دَ درود وئیلو مطلب دادے چی الله تبارك و تعالیٰ ددی پیغمبر پاك ﷺ دملائك علیهم السلام په مجالسو کښی تعریف کوی . د اد الله پاك درود دی. ملائك علیهم السلام د هغوی درود دادی دپیغمبر پاك ﷺ په شان کښی دعا ګانی کوی چی کله دا آیت کریمه نازل شو امام بخاریؒ او ګد حدیث ذکر کوی صحابه کرام را غله تپوس کوی. ګوره صحابه کرام رضی الله عنهم تپوس کوی . او تپوس ډیر ښه څیز دے. الله تبارك و تعالیٰ په قرآن کریم کښی د هغوی تپوسونه ذکر کوی احادیثو کښی دَ نبی ﷺ نه دَ هغوی تپو سونه ذکر شوی دی . محدثینو هغه ټول راجمع کړی دی . او صحابه کرام رضی الله عنهم چی دَ نبی علیه السلام نه تپوس کوی. هغه خو دومره د الله خو ښ شوی دی. الله ئی په خپل کتاب کښی فرمائی. ﴿یسلونك عن الانفال﴾ ، ﴿یسلونك عن المحیض﴾ ، ﴿یسلونك عن الشهرالحرام﴾

الله وائی اے نبی ﷺ تا نه تپوس کوی. اے نبی ﷺ تا نه تپوس کوی. مونږ نن تپوس نه کوو. صحابه کرام ﷺ فورًا تپوس کوی. په کومه خبره چی نه پوهیږی تپوس اوکړه. او الله تبارك و تعالیٰ هم فرمائی ﴿فسئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ ان كُنْتُمْ لا تعلمون﴾ تا سو چی کوم ځائے نه پوهیږے تپوس کوے . تاسو چی دکوم څیز متعلق نه پوهیږے د علم والونه د پوهه خلقو نه دَ هغے تپوس کوے. نو تپوس ډیر ښه څیز دے. او احادیثو کښی راځی نبی ﷺ فرمائی ﴿شِفَاءُ العی السوال﴾ د یو بیمار دپاره شفاء تپوس کول دی . سوال کول. او تپوس کول نیم علم دے. د مسلے تپوس به هغه څوك کوی چی هغه وائی زۀ په دی عمل کښی خطا نه شم . هغه سره د عمل قدر دانی وی. او د عمل قدر دانی هغه چا سره وی. چی څوك د الله په دین مئین وی. او د الله په دین به هغه څوك مئین وی چی د چا په زړۀ کښی دا عقیده مضبوطه شوی چی ما باندی مرګ راروان دی. ما باندی زنکدن راروان دے. زما د قبر ژوند راروان دی . نو زه د هغے د پاره تیاری کوم هغه خلق به تپوس کوی. ډیر دا سی خلق دی چی فرائض غلط ادا کوی واجبات غلط ادا کوی ددین د احکاماتو پته ور ته نه وی . د عقیدے پته ور ته نه وی او د غه شان د ځناورو غوندے زندګی تیروی او یاد اوساتئ عزتمندو! چی کوم خلق خپل عقل ، خپل شعور او فهم په صحیح ځائے کښی نه استعمالوی نو الله تبارك و تعالیٰ په هغوی ډیر سخت رد کړی دے. الله تبارك و تعالیٰ فرمائی دا کوم خلق چی دا خپل اعضاء دا خپلے سترګے او دا خپل غوږونه او دا خپل عقلونه صحیح ځائے کښی نه استعمالوی ﴿اولئك كا لانعام بَلْ هُمْ اَضَلُّ﴾ الله وائی د

دوی مثال په شان د ډنګرو دے ځناور دی . تا له به په نظر را ځی . چی دا خو ډیر لوئے ګریډ والا افسردے. دا خو ډیر لو ی تنخواه والا دے. د دۀ خو ډیر لوئے جائیداد دے. د دۀ خو دومره بینك او بیلنس دی. ددۀ سره خو دومره سامانونه دی. اللہتبارك و تعالیٰ فرمائی دا خپل اعضاء دا خپل دفهم والا اسباب نه استعمالوی. نو تاله په نظر کښی انسان راځی فلانکی صیب فلانکی صیب فلانکی صیب په نظر راځی . اللہ فرمائی دا انسان خر دی. دا انسان غوئے دی .بلکه ﴿بل هُمُ اَضَلّ﴾ بلکه دهغوی نه هم بد تر دے په دی وجه سوال پکار وی تپوس پکار وی چی کوم ځائے سړی پوهه نشی نو د حق پر سته علماؤ نه د مفتیانو عظامونه تپوس پکار دی، نو چی د آیت نا زل شو. د آیت چی یقیناً اللہ پاك هم په پیغمبر ﷺ درود وائی نو ملائك علیهم السلام هم درود وائی. نو اے ایمان والو تا سو هم درود وائی نو صحابه ﷺ خو په عربی پو هیدل. خود آیت په مطلب هغوی نه پو هیدل ، دی کښی دی طرفته هم اشاره ده چی ګوری صرف په خپلو مطالعو کار نه کیږی . ته به دیو حق پر سته د یو کامل انسان چی د قرآن او سنت پو هه ور سره وی. ستا به دهغه سره یو اصلاحی تعلق وی . ور نه ګمراه به شے. او کوم خلق چی ددغه اصلاحی تعلق قائل نه وی. او د هغوی اصلاحی تعلق چا سره نه وی . او په خپل عقل اعتماد کوی او صرف په خپلو مطالعو پسے روان وی. نو تا سو او ګوری یا منکرین حدیث جوړ شوی دی یا منکرین ختم نبوت جوړ شوی دی. یا روا فض جوړ شوی دی. چی د مشائخو او د علماء سره ئی تعلق نه وی په خپله مطالعه باندی اعتماد کوی. او د هر چا کتابونه ګوری نو یا قادیانان شوی دی. د

نبی ﷺ د ختم نبوت نه انکار کوی او یا هغوی پرویزیان شوی دی. د نبی ﷺ احا دیشو ته بکواس وائی دا ولی؟ ځکه چی داسے خلق صرف په خپله ستهی او مطالعه اعتماد کوی. نو صحابه کرام ﷺ تپوس کوی چی اے دا لله رسوله ﷺ مونږ ته خو د سلام طریقه معلومه ده ځکه مخکښی نه مونږ په "التحیات" کښی سلام وایو. چی "السلام عَلَیْكَ اَیُّهَا النبی و ر حمةُ الله وبَرُ کا تُه" اے نبی ﷺ د سلام چل خو راځی . خو "کیف الصّلوه عَلَیْكَ یا رسول الله؟" اے د الله رسوله ﷺ دا صلوة درود به مونږ په تا څنګه وایو؟ نو نبی ﷺ هغوی ته کوم درود ارشاد او فر مائیلو...؟ نن ډیر دا سی خلق شته. بعض علاقو کښی هغوی چی کله اذان کوی نو د اذان نه مخکښی ئی چغے جوړی کړی چی "الصلوه والسلام علیك یا رسول اللهالصلوه والسلام علیك یا حبیب الله یا نورًا من نور الله" او که ته دا نه وائے نو وائی تا سو درود نه منئ. نو وایه آیا د دے درود تعلیم پیغمبر ﷺ ور کړی وو. صحابه کرام تپوس کوی اے د الله رسوله ﷺ "کیف الصّلوه علیك" دا بخاری شریف کښی صحیح حدیث دے . او دَ بخاری شریف درجه قرآن مجید پسی دویم نمبر ده . نو صحابه کرام ﷺ تپوس کوی "کیف الصلوه علیك یا رسول الله؟" اے د الله رسوله ﷺ مونږ له د صلوة طریقه او بنایه. مونږ له ددرود طریقه او بنا یه . مونږه د درود په طریقه نه پوهیږو او دا یو ډیر ښه څیز دے. چی تا له د یو څیز پته نه وی. وایٔه په دی نه پو هیګم ازدٔ به دے شی . نن به یو سړی وی د "بسم الله" معنی به نه ورځی په دی ورته شرم ور ځی . چی ووائی زٔ په دی نه پو هیګم او ازده کول ئی غواړم نبی ﷺ هغوی ته کوم درود او بنودلو .

نبی ﷺ هغوی له درود ابرا هیمی او بنودلو چی ملګرو تا سو دا درود ابرهیمی وائے. ''اللهم صَلّ علیٰ محّمد و علی ال محّمد کما صلّیت علیٰ ابراهیم و علیٰ ال ابراهیم انّك حمید مجید . اللّهم بارك علیٰ محّمد وعلیٰ ال محّمد کما بارکت علیٰ ابراهیم و علیٰ ال ابراهیم انك حمد مجید'' په تول عمر کښی یو پیره درود وئیل خو واجب دی او عند ذکر النبی ﷺ مستحب دی . امام طحاویؒ فرمائی چی د نبی ﷺ نوم واوریدے شی نو درود شریف وئیل واجب دی. دلته یو طالبعلمانه اشکال را ځی چی درود ابراهیمی کښی صلاة علی النبی ﷺ مشبه او صلاة علیٰ ابراهیم مشبه به ذکر شویدے او مشبه به د مشبه نه اولیٰ او افضل وی، په دے کښی د نبی ﷺ نه زیات فضیلت د ابراهیم ثابتیږی حالانکه نبی ﷺ افضل الخلائق دے نبی ﷺ فر مائی ''انا سید ولد آدم یوم القیامه ولا فخر.''

ددے اشکال ځمونږ استاذان ګنږ جوابونه ذکر کوی بعض د هغے نه دادی:

(۱) دا قاعده چی مشبه به اقویٰ وی د مشبه نه دا قاعده اکثریه ده نه کلیه د لته مقصود نفس صلاه کښی تشبهه ده.

(۲) ''کما صلیت'' کښی کاف د تعلیل دپاره دے نه چی د تشبیهه د پاره. مطلب به دا شی چی یا الله تا په ابراهیم علیہ السلام درود نا زل کړیدے په دے وجه په نبی ﷺ هم نا زل کړی .

(۳) بعضی وائی چی مِن قَبیل التخضیض دے چی نبی کریم ﷺ خو د ابراهیم علیہ السلام نه افضل دے او په ابراهیم علیہ السلام نزول دَ درود شوی دے نو په نبی علیہ السلام په طریقه اولیٰ سره نزول پکار دے.

(۴) یا دا تشبیهه المجموع بالمجموع ده ځکه په ال ابراهیم علیہ السلام

کښی الله پاك ګڼړ انبیاء معبوث کړی دی او د نبی ﷺ په ال کښی دا نشته او په ال ابراهیم علیه السلام کښی نبی ﷺ پخپله هم شامل دے.

(۵) دا تشبیهه ما لا یعرف بما یعرف د قبیل نه ده چونکه ابراهیم علیه السلام یهودو نصاریٰ کښی ډیر معروف وو او قریشو ته هم معلوم وو او د غه وخت کښی د نبی علیه السلام شهرت دومره نه وو.

(٦) اللهم صل علی محمد ﷺ باندے کلام ختم شوے وعلیٰ ال محمد نه نوے کلام دے مشبهه به ابراهیم علیه السلام ده او مشبهه صرف ال محمد ﷺ ده.

درود ابراهیمی دعرشه نه را غلے د درود نبی ﷺ صحابه کرام ته تلقین اوکړو چی تا سو دا درود وائے په دی وجه علماء کرام چی کوم محدثین دی. هغوی چی کله باب الجنازه ذکر کوی د جنازے طریقه ذکر کوی دی خبری ته خیال کوی چی هغوی کله باب الجنازه ذکر کوی . د جنازے طریقه ذکر کوی. نو په احادیثو کښی د جنازے مختلفے طریقے را غلی دی نو په هغی کښی چی کله درود شریف هغوی ذکر کوی نو هغوی کوم درود شریف ذکر کوی. هم دا درود شریف. چی نبی علیه السلام صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ووئیل دا درود وائی په دی وجه ځما شیخ الشیخ مفتی کفایت الله رحمه الله په تعیلم الاسلام کښی فرمائی. چی تا سو په جنازه کښی لولے نو هم درود ابراهیمی پکښی لولے دا "کما صلیت و سلمت و بارکت و رحمت و ترحمت" دَ دی په ځائے پکښی دا آسان درود لولے. نو په دی وجه دَ دی په ځائے پکښی دا درود ابراهیمی وئیل پکار وی. دا خبره فتاویٰ حقانیه هم ذکر کړیده نو نبی ﷺ ددی درود شریف تلقین اوکړو. او علماء ذکر کوی چی په پیغمبر

پاك ﷺ باندی درود شریف وئیل دَ نبی ﷺ سره د محبت علامت دے. دَ چا په زړه کښی چی د نبی ﷺ سره مینه ده نو په نبی ﷺ باندی درود شریف وائی . ځکه چی علماء ذکر کوی "من احب شیئاً اکثر ذکره" دَ چا چی دَ کوم څیز سره زیاته مینه وی د هغی ذکر زیات کوی. څوك راشی نو په جومات کښی د پتی خبرے او د کتی خبر ی کوی ریټ دومره اوختو او ګوړه ګرانه شوه او ګوړه ارزانه شوه، او دا رنګے فصلونه ښه روان دی ، ښه نه دی روان . د چا د غے سره مینه وی نو دا رنګے د چا بل څیز سره مینه وی . نو چی د چا دځه سره مینه وی د هغی تذکره کوی. نو چی د چا د نبی ﷺ سره مینه وی. نو دی هر وخت لګیاوی د نبی ﷺ بارګاه کښی درود شریف وائی. او درود شریف الله تبارك و تعالی نبی محترم ﷺ ته رسوی. امام سخاویؒ فر مائی چی په نبی ﷺ باندی درود شریف وئیل دانخه د اهل سنت والجماعت ده . د اهل سنت نخه داده چی دوی به په نبی ﷺ باندی درود په کثرت سره وائی او بعض علماء ذکر کوی دا درود شریف مستقل واجب عمل دی ځکه چی الله پاك ئی امر کړی دی چی "صلوا" تا سو په پیغمبر پاك ﷺ باندی درود وائے امام مسلمؒ چی دَ هغه دَ کتاب صحیح مسلم درجه قرآن پسے دریم نمبر کښی ده. اول د الله کتاب بیا دویم نمبر کښی صحیح بخاری او دریم نمبر کښی صحیح مسلم نو په هغه صحیح مسلم کښی دَ سیدنا ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چی نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل "من صل علیّ صلوةً واحدةً" نبی ﷺ فر مائی چا چی په ما یو پیره درود شریف اولوسته، نو "صلّی الله علیه عشراً" الله تبارك و تعالیٰ به په ده باندی لس پیرے درود وائی ، لس مر تبے ئی اوچتوی

چی څوك یو پیره درود شریف اووائی نو صحیح مسلم کښی صحیح حدیث دی. چی الله تبارك و تعالیٰ په دی انسان لس رحمتونه نا زلوی الله تبارك و تعالیٰ په دی انسان لس پیرے درود وائی چی څوك زیات درود وائی څوك شپه او ورځ زر پیرے او ایك لاکھ پیرے درود شریف وائی . د هغه به کوم حال وی او څومره خوش قسمته به وی نو د الله رحمتونو کښی به د سر د ویختونه واخلے د خپو د نو کو نو پوری ډوب وی نو خو چی د چا د نبی ﷺ سره مینه وی . نو نبی فرمائی ''من صلّی علیّ'' چا چی ما باندی یو پیره درود او لو سته الله تبارك و تعالیٰ په ده باندی لس کر ته رحمتونه را لیږی قرآن کریم کښی ا لله تبارك و تعالیٰ خپل اطاعت د نبی ﷺ اطاعت ګر ځولی دی د نبی ﷺ شان الله ذکر کوی ﴿من یطع الر سول فقد اطا ع الله﴾ چا چی د پیغمبر پاك ﷺ اطاعت اوکړۂ. نو دۂ د الله خبره او منله د پیغمبر دومره شان . قرآن کریم کښی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿قل ان کنتم تحبون الله فا تبّعونی یحیکم الله﴾ که تا سو د الله سره مینه کوے د پیغمبر ﷺ اتبا ع او کړی چی موذن صیب اذان کوی ددۂ اذان به هله مکمل وی چی دی چغه اووهی چی ''اشهد ان لااله الا الله'' ددۂ بانګ به هله مکمل وی ، دَ دۂ دا دَعوت به هله مکمل وی چی دی دَ دی خبری ګواهی، اقرار او اِعتراف هم اوکړی چی ''اشهد ان محمداً رسول الله'' ګوره بانګ کښی الله د خپل نوم سره د پیغمبر ﷺ نوم لګولی دی. نو کوم ځائے کښی چی کلمه د تو حید ده کوم ځائے کښی چی کلمه د شهادت ده چی ''لا اله الا الله'' نو دَ هغی سره دویم جز دے ''محمدٌ رسول الله'' اقامت چی کیږی نو په هغی کښی هم ''اشهدان لا اله الا الله، اشهد محمداً رسول

الله" ځکه الله تبارك و تعالیٰ فرمائی اے نبی محترم ﷺ ﴿و رفعنالك ذکرك﴾ پورته کړی می دے ستا ذکر. چرته چی دَ محمد ﷺ نوم دے نو دَ هغی نه مخکښی د الله نوم دے. د الله نوم سره دَ پیغمبر ﷺ نوم په بانګ کښی هم د الله دَ نوم نه رو ستو دَ پیغمبر ﷺ نوم. اقامت کښی هم دَ الله نوم سره د پیغمبر نوم. نو کلمه کښی هم د الله نوم سره د پیغمبر نوم . نو قرآن کښی الله فرمائی. فاذکرونی ما یا دوی. نو زۀ به تا سو یادو مه، نو نبی ﷺ فرمائی چی څوك په ما درود ونه وائی نو د الله پری لس رحمتونه نا زلوی .

بل روایت کښی راځی. سیدنا انس رضی الله عنه چی خادم خاص درسول ﷺ دے. هغوی د نبی علیه السلام لس کاله خدمت ئے کړے دے د نبی ﷺ . هغوی دَ نبی ﷺ اخلاق ذکر کوی چی خوږ پیغمبر پاك ﷺ په دی لس کاله کښی "ما شتمنی ولا ضربنی ولا زجر نی" نبی ﷺ ما ته سخته خبره نه ده کړی. نبی ﷺ زه رټلے هم نه یمه. نبی ﷺ زه وهلی هم نه یمه، لس کاله د نبی ﷺ خدمت ئی کړی. خادم خاص د رسول الله دے د هغوی نه روایت دی . چی نبی ﷺ او فرمائیل "من ذکرت عنده" د چا په خوا کښی چی زما تذکره او شوه. چا د پیغمبر عربی ﷺ تذکره اوکړه نو "فلیصلّ علیّ" دۀ له پکار دا دی چی ما باندی هغه ټایم درود اولولی. ځکه "ومن صلّ علیّ مره صلّ الله علیه عشراً" څوك چی په ما باندی یو پیره درود وائی الله تبارك و تعالیٰ په دۀ باندی لس پیرے درود وائی الله پری لس رحمتونه نا زلوی. بل روایت کښی را ځی چا چی په نبی ﷺ یو ه پیره درود شریف او لوسته. نو الله تبارك و تعالیٰ په ده لس رحمتونه رو لیږی. او الله تبارك و تعالیٰ ددۀ لس ګناهونه معاف کړی

نو الله تبارك و تعالیٰ ددۀ لس درجے بلندے کړی. په یو پیره درود شریف وئیلو سره څومره لوئے مقام څومره لوئے حیثیت دے . نن زمونږ اعمال ددی قابل دی چی الله ددی باران په ځائے مونږ باندی کانړی را ورولی وی دا خو الله ډیر رحیم کریم ذات دی مونږ او تا سو باندی د ر حمتونو با را نونه را وروی، زمونږ په کورونو کښی به دا سی کوم د ګناه څیز نه وی ، ډیرے کمے زنانه به وی. چی هغوی به په کور کښی د ټیلی ویژن رو زانه کتل نه کوی د ګا نو بجانو اوریدل به نه کوی. نبی ﷺ سجده کښی پروت وو. سیدنا عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه وائی نبی ﷺ ډیره اوګده سجده او کړه نو دا سجده چی وه د نبی ﷺ دی ته علماء سجده شکروائی. د مونځ سجده نه وه، ډیر خلق تا سو به لیدلی وی چی څنګه سلام جرباسی مونځ اوکړی. نو بیا یو سجده اوکړی. علماء دی نه منع فرمائی. دا سجده نشته. نو عبد الر حمن بن عوف رضی الله عنه وائی ، چی نبی ﷺ سجده کښی پروت وو. ډیر زیات ساعت او شو. نو په ژړا شوم زمازړه کښی یره را غله چر ته نبی ﷺ نه روح پرواز نه وی کړی. نو ژړل مے چی نبی ﷺ کله فا رغ شو ما ته ئی ووی عبدالرحمٰنه! ته خو خفه ئی ولی؟ ما اووئیل چی ما سره خو دا ټوکه او شوه ما وئیل که زما خوږ پیغمبر ﷺ نه ساه وتلی ده. روح ئی پرواز کړی دی. نو جی ځکه زما په ستر ګو باندی تاسو اوخکے وینے. زۀ پریشانه وومه. نبی ﷺ ور ته وئیل نه . زما دَ اُمت په باره کښی په ما باندی الله پاك یو انعام اوکړو. نو زۀ دهغه انعام په شکریه کښی الله ته پروت ووم . دو مره او ګده سجده می ځکه او کړه. هغه انعام داوو چی الله پاك دا ا و فر مائیل چی اے زما محبوبه که څوك هم په تا یو پیره

درود لیږی . نو زۀ په هغه لس درودونه لس رحمتونه لیږم . نو په دی انعام کښی نبی علیہ السلام دو مره او ګده سجده کړے وه. نن مونږ ته درود شریف ته مو قع نه ملاویګی نن زمونږ ځوانان او زمونږه پیغلے د موبائیل د مسجونو او دَ sms او دَ چیټنګ نه نه فار غیګی . چی مونږ ته فارغ موقع ملاویګی په موبائیل لوبے ، په مو بائیل ګیمونه په انټر نیټ باندی چیټنګ کول په انټر نیټ رابطے کول. نو مونږه فارغ و خت د غه کښی او لګوو. او نور وخت خو زمونږ دنیا پسے وی. نو نبی ﷺ دومره او ګده سجده اوکړه.

بل یو روایت کښی راځی څوك په نبی ﷺ یو پیره درود اولیږی نو الله تبارك و تعالیٰ دۀ دپاره لس نیکے اولیکی. لس ګناهونه ئی معاف کړی.

ترمذی شریف کښی روایت دی . راوی سیدنا عبد الله ابن مسعود رضی اللہ عنہ دی چی نبی ﷺ فرمائی "اِنَّ اولیٰ الناس بی یوم القیٰمه اکثر هم علیّ صلوۃ" نبی ﷺ فرمائی د قیامت په ورځ به ما ته کوم خلق ډیر نزدی وی.

آیا چی کوم خلق ټول عمر د پیغمبر ﷺ خلاف کوی ؟ چی غمونو کښی هم د پیغمبر ﷺ خلاف کوی چی دا پکښی د تختے حلوه ده. دا پکښی د لړمی حلوه ده. دا ئے ړومبی مانښام دی. دویم مانښام دریم مانښام ، دا ئی جمعه او دائی څلویښتی ، دائی کلیزی. او دائی قبر پخول. دا خلق به پیغمبر علیہ السلام ته نزدی وی؟ دا خو به هندوانو ته نزدی وی. دا خو دهندوانو طریقه کار دی. یا په خپلو ښادو کښی داپکښی پالنګ دی او دا پکښی ور بل دی. او دا پکښی اوس هلك نا وے کوی نو جینے کور کره به ئی راولی. نو بیا به جینکے او هلکان یو ځائے

فوټوان او باسی. او بیا به ور ته د جینے کور هغه نورے جینکے به د پر دی هلك نه ګیر چا پیره تا ویګی. داد مسلمانانو طریقه ده دا د نبی علیه السلام سره محبت دی. دا خلق به د هغه خلقو سره وی چی د چا مشابهت کوی. نو نبی علیه السلام فر مائی . د قیامت په ورځ به ما ته نزدی خلق کوم خلق وی "ان اولی الناس بی یوم القیامه اکثر هم علیّ صلوة" نبی ﷺ فر مائی د قیامت په ورځ ماته به زیات نزدی د خلقو نه هغه خلق وی . چی ما باندی زیات درود شریف لولی نن زمونږ ټول عنوان هم دغه صلوا علیه دی په پیغمبر درود اولولے. دا څومره ملګری چی حاضر شوی دی. نن دا عزم او اراده او کړئ چی انشاء الله روزانه به خپل معمول ګر ځوو چی دومره فضائل دی. دومره لوئے مقام ئی دی. نو که زیات نه وی . نو کم سے کم دا سل پیری خو سحر او مابنام که چا ته دا موقع هم نه وی نو کم از کم چی په ورځ کښی خو سل پیرے ، په نبی ﷺ به درود شریف لولو انشاء الله . او دا درود ابراهیمی به ډیر زیات ښه وی . نور هم احادیثو کښی ګنړ درودونه را غلی دی. خو دالږ آسان هم دی او زمونږ او ستا سو پری ژبه هم را وړیدلی ده دا سی به کوم کوم ملګری وی انشاء الله .لږ لاس او چت کړئ چی درود شریف به په نبی ﷺ کم از کم سل پیرے روزانه او دوه سوه پیرے خو سحر او مابنام ځکه نبی ﷺ فرمائی "ان اولیٰ الناس بی یوم القیامه اکثر هم علیّ صلوٰة" او تا سو به ئی ډیر برکات اووینے . کوم کس چی دا رو ټین جوړ کړی . ددرود شریف دا رو زانه سل پیرے تاسو ګوری بیا. د هغوی په کور کښی برکاتو ته . ددی انسان خپل ایمانی کیفیاتو ددی انسان خپل نور اعمال ته ګوره. دی به ددی درود

شریف بـه بـرکـت سـره د ګـنـاهونو نه هم الله محفوظ کوی. ددی درود شریف پـه بـرکـت سره په رزق کښی هم برکت راځی. ددی درود شریف پـه بـر کـت سـره بـه دی الله پاك دډیرو مصیبتونو بچ کوی . په دی وجه بـعـض عـلماء ذکر کوی. امام طحاویؒ فرمائی دری کسان دا به د قیامت پـه ورځ د الله پـه خـصـوصـی رحـمـت کښی وی. یو هغـه کـس چی د مـصیبت زدو امداد کوی. کومو خلقو باندی مصیبت را لو غر بت پری را غـلـے فقیری پری را غله او دا رنګـے مصیبتونه ور باندی را غله. او د هـغـی سـره مـصیبت کښی لله فی الله منډه او و هله. دی دپاره منډه ترې نه وهی چی صبا به ووټ ما ته را کوی. صبا به ما ته سلام کلام کوی . او زما به عزت کوی.

. چی کوم خلق د مصیبت زده سره امداد اوکړی. دا به د قیامت په ورځ د الله په خاص رحمت کښی وی او دویم هغه تن چی کوم تن زما سـنـت ژونـدے کـوی. او بیـا خـاصـکر هغه سنت چی هغه مړۀ شوے وی. چـی هـغـی ته هډو ځوك تو جه نه کوی لکه د نبی ﷺ د غه سنت هم دی نبی ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته فر مائیلے وو. د جعفر ﷺ او لاد ته رو تـے ور کـړئ غـم ور بـانـدی را غـلـی نـو چی په چا غـم را شی نو د غـم د کورنه رو تـے نه خورل. هغوی ته ورکول. زمونږ او ستا سو اکثر نا رینه او زنـانـه پـه غـم کښی میلمانه کیږی مونږ پکښی رو تـے ته ناست یو. غـم کـور والا تـه روتـے ور کـول پـکار وی نو چی څوك د نبی ﷺ سـنـت ژونـدی کـوی. دا بـه د ا الله تبارك و تعالیٰ په خصوصی رحمتونو کښی وی. دریـم هغه تن چی نبی محترم ﷺ بـاندی درود لیږی . بعض علماء ذکر کوی چی کوم خلق رو زانه سل پیرے درود شریف لیږی په نبی ﷺ

الله تبارك و تعالیٰ به ددۀ سل حا جتونه پوره کوی په هغی کښی به دیرش حا جتونه ددنیا وی او باقی به ورته الله د آخرت د مصیبتونو نه د هغے نه نجات ورکوی. دا رنگے بل روایت کښی راځی . سیدنا عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چی نبی ﷺ او فرمائیل "ان لله ملائکه سیاحین" د الله دا سی ملائك دی چی هغه چکری لګوی، ګرځی داسی داسی ټولګی ګوری چی کوم ځائے ددین خبره کیږی په هغی کښی په نبی ﷺ باندی درود شریف لوستلے کیږی. نو نبی ﷺ فرمائی "ان لله ملائکه سیا حین فی الارض" د الله د پاره خا ص ملائك شته. چی هغوی په دی زمکه کښی ګرځی "یبلغونی عن امتی السلام" هغوی زما په امت کښی چی کوم خلق سلام وائی. هغه ما ته رارسوی. بل یو اوګد حدیث دے سیدنا کعب بن عجره ﷺ نه روایت دے چی نبی ﷺ یو پیره امر اوکړو چی "احضروا المنبر" . اے خلقو ممبر تا حاضر شے. رانزدے شے چی کله مونږ را نزدی شو او نبی ﷺ اولی پو ړے ته شو نو وی وئیل "آمین" نو چی کله دویمے پونړئی ته شو نو وے وئبل "آمین" او چی کله دریمے پونړئی ته شو نو وے وئبل "آمین" . صحابه کرام ﷺ عرض کوی نو وائی چی اے د الله رسوله ﷺ مونږ خو ستا سونه نن یو نا اشنا کار اولیدو. ګوره صحابه کرام بیا تپوس کوی په ایمان اوائے دا سی کوم ملګری د مثلو تپوس کوی ډیر کم به داسی وی چی تپوس به کوی. صحابه کرام فورًا تپوس کوی اے د الله رسوله ﷺ مونږ ستا سو نه نن یو نا شنا کار اولیدو تاسو خو مخکښی داکار نه وو کړے. تا سو خو دری پیرے اووئے په دی یو پونړے اوئے آمین بیا مو اوئے آمین نو بیا مو اوئے

آمین. نو نبی ﷺ ورته او فر مائیل چی جبریل علیہ السلام آمین را غلی وو. نو چی زهٔ دی ړومبی پونړی باندی کیناستم. نو جبریل امین علیہ السلام دا خبره اوکړه. چی په کومو خلقو درمضان المبارك بر کتونو والا، رحمتونو والا، مغفر تو نو والا میاشت را غله او دهٔ په دی روژه کښی د خپلو ګناهونونه توبه او نه کړله او ګناهونه ئی پرینه خودهٔ . او دهٔ ددی رمضان په بر کا تو سره خپل مغفرت په الله اونه کړو نو دا سړی دی تباه او بر باد شی ماوئیل آمین چی کله دویمے پونړی ته شوم نو جبرئیل آمین علیہ السلام وئیل چی کو مو خلقو خپل مور پلار بوډاوالی کښی لاندی کړهٔ یعنی ددهٔ په زندګی باندی مور پلار بو ډا والی ته اور سیدل او دهٔ ددی مور پلار د خدمت په ذریعے سره جنت حا صل نه کړو تباه دی شی ګورا جبریل امین علیہ السلام وائی تباه دے شی چی د مور پلار خدمت ئی او نه کړو د مورپلار په دعا ګانو سره ئی جنت حا صل نه کړو ځکه دمور پلار دعا ګانے او خیرے ټك په ټك قبلیږی . ځکه د مور پلار ډیرلوئے مقام دی. د مور پلار ډیر لوئے شان دی. د مور پلار دعا ګانے د بچو خدمتونه دا بغیر غوض بغیر غرض نه ئی. ددی بچی سره الله تبارك و تعالیٰ ددی مور پلار په زړهٔ کښی فطرتی مینه پیدا کړی وی.قسم می دی وی په الله دا مور و پلار دومره یو قیمتی دولت دی که دوی چر ته هم سترګے پټے کړی او ددوی سر ته د خاورو بالخت جوړ شو نو دا مور و پلار بیا ور پسے جهان ګوره. دا بیا نه ملاویګی.

د چا چی مور پلار ژوندی دی نو ښه خدمت ئی اوکړے نو نبی ﷺ فرمائی زهٔ چی دویمے پونړے ته شوم جبریل امین علیہ السلام راغلی وو. او جبریل امین علیہ السلام ویئلے چی د چا مور پلار بوډا والی ته اورسیده

او دۀ بیا هم د هغوی خدمت او نه کړو د هغوی د خدمت په ذریعے سره ئی جنت حا صل نه کړو نو جبریل امین علیہ السلام د تمام ملائکو سر دار هغه وائی خدایه تباه ئی کړے نو پیغمبر علیہ السلام وائی امین نو کوم انسان نه چی مور خفه ئی نو ددۀ هلاکت کښی څه شك پاتی شو ؟ نبی ﷺ فرمائی چی کله زۀ دریمے پونړے ته شو مه جبریل امین را غے وائی اے نبی ﷺ د چا په خوا کښی چی ستا تذکره او شوه او دا سړی درود شریف او نه لولی نو دادی تباه شی نو ما وئیل امین نو په دی وجه په درود شریف کښی بخل نه وی پکار. بل روایت کښی راځی، په صحیح بخاری کښی حدیث دے نبی ﷺ فرمائی "البَخِیْلُ مَنْ ذکرت عنده فلم یصلّ علی" نبی ﷺ اوفرمائیل هغه سړے سخت شوم او بخیل دے. او دا بخیل د الله نه هم لری وی. دا بخیل د الله ډیر غټ بدی شی. او دا بخل یو ډیر غټ قباحت دی . بخل او شومتیا او جَمَواری کول د الله په دین نه لګول د الله په جومات نه لګول دا رنګے صحیح ځائے کښی نه لګول. او دا بخیل سړی هر وخت سوچ دا کوی چی که دا لس شل روپے می د الله په دین باندی اونه لګوی نو ډیرے به شی. دَ دین په کارونو کښی شومتیا او بخل نه وی پکار. یو روایت کښی راځی "البخیل بعید من الله" دا بخیل سړے د الله نه هم لرے "بعید من الجنه ، بعید من الناس" د خلقونه هم لری نو د جنت نه هم لرے، نو "قریب من النار" اور ته نزدی او چی کوم تن سخاوت کوی نو نبی ﷺ فرمائی دا سړی خلقو ته هم نزدے جنت ته هم نزدی نو جهنم نه لری په دی وجه بخل شو متیانه ځان ساتل پکار وی ددین په کارونو کښی خو خه په کهولاؤ زړۀ باندی کهولاؤ متې باندی خرچه پکار وی الله تبارك و

تعالیٰ هغه ته په مال کښی برکت اچوی نو نبی ﷺ فرمائی صحیح بخاری کښی حدیث دے چی "البخیل من ذکرت عنده فلم یصل علیّ" هغه انسان ډیرغټ بخیل دی، هغه انسان ډیر غټ شوم دے دَ چاپه خوا کښی زما تذکره او شوه او دۀ ماباندی درود شریف او نه لو ستو بل یو روایت کښی راځی هغه سړے تباه دی هغه انسان دپاره هلاکت دی چی دنبی ﷺ دیدن ور ته د قیامت په ورځ نصیب نه شی بخیل سړے هغه څوك دی دنبی ﷺ هغه نوم مبارك واوری او په نبی ﷺ محترم ﷺ باندی درود شریف او نه وائی نو دا ډیر غټ بخیل انسان دی. په دی وجه یاد سا تل پکار دی بعض خلق خط لیکی کتابت کوی او یا څه تصنیف و تالیف کوی نو دۀ سره په ټول خط کښی ډیر شے الفاظو د پاره ډیر شے ځائے وی. او د هغی ډیر شے الفا ظو د پاره دۀ سره ډیر شے وخت وی خو چی کله د پیغمبر پاك ﷺ مبارك او معزّز نوم راشی نو دۀ سره د صلی الله علیه و سلم د لیکلو د پاره و خت هم نه وی او د هغی د پاره دۀ سره ځائے هم نه وی او د هغی د پاره دۀ سره سیاهی هم نه وی نو دا هم ډیر غټ بخیل انسان دے . بعض خلق په لیکلو کښی "صلعم" لیکی دا سخته بے اد بی ده. که چا لیکلے وی نو دا غلطی تری نه شوی ده. بعض خلق د پیغمبر د محمد عربی د هغے نوم دَ پاسه صرف "ص" اولیکی دا غټ بخل دے. دا غټه شُومتیا ده دا غټه بے ادبی ده ګوره دۀ سره د غونډے صفحے دلیکلو دپاره ټائم هم وو د غونډے صفحے د پاره دۀ سره وخت هم وی د غونډے صفحے دپاره دۀ سره سیاهی هم وی دا یو مسلۀ ده دا "ص" لیکل "صلعم" لیکل دا دَ نبی ﷺ بے ادبی ده او درود شریف یو دا سی

عبادت دے چی په دے باندی الله تبارك وتعالیٰ ته هم انسان نزدی کیږی الله تبارك و تعالیٰ فر مائی ﴿اِنَّ الله وملا ئکتهُ یصلون علی النبی﴾ "اِنّ الله" اِنّ حرف تاکید یقینا الله پاك . او ملائك علیهم السلام یُصّلون درود وائی او دا یصلون مضارع په اسمرار دلالت کوی . یقیناً اللهتبارك و تعالیٰ ملائك علیهم السلام درود وائی په نبی ﷺ باندی . نو ﴿یا ایها الذین امنو اصلوا علیه و سلموا تسلیما﴾ اے ایمان والو تا سو هم په نبی ﷺ باندی درود شریف اولولی تول ملګری یو پیره درود ابراهیمی اوائے. اللهم صل علی محّمد و علیٰ ال محّمد کما صلیت علیٰ ابراهیم و علیٰ ال ابراهیم انك حمید مجید . اللهم بارك علیٰ محّمد و علیٰ ال محّمد کما بارکت علیٰ ابراهیم و علیٰ ال ابراهیم انك حمد مجید .

الله تبارك و تعالیٰ دی مونږ او تا سو ته د عمل کولو تو فیق نصیب کړی (آمین)

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر : ''۳''

دَ قرآن نه اعراض

سبب دَ عذاب قبر



دریمه خطبه: "دَ قرآن نه اعراض سبب دَ عذاب قبر"

الحمد لله، الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا هادی له۔ و اشهدان لا اله الا الله وحده، وحده لا شريك له لا نظير له ولا وزير له لا مثل له ولا مثال له ولا مثيل له ولامماثل له، لَا ولد لهُ ولا وا لدَ لَهٗ ولا زوجة لَهٗ۔ لا مُساوی له ولا مناوِیَ لَهٗ وَلا کُفُوَ له۔ و اشهد ان سيدنا و سندنا و حبيبنا و محبوبنا و شفيقنا و شفيعنا مكيًا مديناً قريشيًا هاشمياً محمد اً عبد ه و رسوله۔

اما بعد فاعُوْذُ با لله من الشيطٰن الرجيم ۔ بسم الله الر حمن الر حيم

﴿ومن اعرض عن ذكری فان له معيشة ضنكاً و نحشرهٗ يوم القيامة اعمیٰ قال رب لما حشرتنی اعمیٰ و قد كنت بصيرا۔ قال كذالك اتتك اياتنا فنسيتها و كذالك اليوم تنسیٰ﴾

و قال النبی صلّی الله عليه و سلم عذاب القبر حق او كما قال النبی صلّی الله عليه و سلم "ان الله و ملائكته يصلون علی النبی يا ايها الذين امنو صلّو ا عليه و سلّموا تسليما"

"اللهم صلِ علی محّمد و علی ال محّمد كما صليت علی ابراهيم و علیٰ اٰل ابراهيم انك حميد مجيد اللهم بارك وعلی محّمد و علی ال محمد كما باركت علی ابراهيم و علی ال ابراهيم انك حمد مجيد"

عزتمندو مشرانو نوجوانانو ملګرو ما د سورت طٰهٰ يو څو آيتونه مبارکه اولو ستل او د صحيح بخاری او مسلم دَ يو اوګد حديث يو حصه ما اولوسته په دی آيتونو کښی الله تبارك و تعالی د قرآن مقّدس نه دَ اعراض سزا ګانے ښو دلی دی. چی څوك د الله د کتاب نه د الله دَ دين نه دَ الله د ذکر نه اعراض کوی، مخ تری نه اړوی نو د هغوی د پاره په دے آيتونو کښی وعيدات ذکر شوی دی. اشاره ده پکښی

چی تا سو د الله کتاب پرے ندے. د الله کتاب داد پریخو دو کتاب نه دی. د الله تبارك و تعالیٰ کتاب د ا عظیم الشان کتاب دے. الله عزیز دے کتاب ئے عزیز دے . الله حفیظ دے . کتاب ئے حفیظ دے . الله نور دے . کتاب ئے نور دے . الله لا یزال دے. کتاب ئے لا یزال دے. دَ الله ذات عظیم دے. کتاب ئے عظیم دے.

دا انقلابی کتاب دے چی څومره خلقو دَ دے کتاب قدر کړی دے دَ دی کتاب احترام ئی کړی دے دَ دی د عظمت خیال ئی سا تلے دے. ددی کتاب سره ئی د محبت مظاهره کړی ده الله تبارك و تعالیٰ دنیا او آخرت کښی کا میابی ورکړی ده. کومو خلقو د الله کتاب ته شا کړی ده کومو خلقو د الله کتاب د الله دین شا ته غور زولی دی. دنیا کښی هم پریشان بر زخ کښی هم پریشان اوآخرت کښی هم پریشان په دی وجه قرآن کریم سره خپل تعلق قائمول پکار دی. دا قرآن کریم په الفا ظوسره هم ازده کول په تجوید سره د قرآن هر یو حرف د خپل مخرج نه د خپل صفا تو سره ادا کول بیا د هغی معنیٰ مفهوم ترجمه تفسیر پیژندل او د هغی مطابق خپل ژوند تیرول. او د قرآن تلاوت کول ځکه چی د کومو خلقو د الله د کتاب سره وا سطه را غلی ده د کو مو څیزونو چی د الله د کتاب سره وا سطه را غلی ده هغی ته رب ذوالجلال یو مقام ورکړی دی که هغه نسبت د زمان را غلی هغه زمان ته الله یو لوئے مقام ور کړی که هغه نسبت د مکان را غلی هغه مکان ته الله یو لوئے اعزاز ور کړی که هغه نسبت د یو غار را غلی هغه غار ته الله یو مقام ور کړی که هغه نسبت د یو غر را غلی هغے غرته الله یو مقام ور کړی. که هغه نسبت د یو دشتے او د صحراء را غلی هغے

ته هم الله تبارك و تعالیٰ یو مقام ورکړی دی. که قرآن سره نسبت د لرګی راغلے هغه معزز، که ور سره نسبت د ګټے را غلے هغه محترمه، که ورسره نسبت د پیریانو راغلے د هغوی هغه قرآن آوریدل د هغوی هغه دعوت خپل قوم ته الله د قرآن د اوراقو زینت ګرځولے دے که قرآن سره نسبت د انسان راغلے، که دَ نارینه یا دَ زنانه او دَ بوډا یا دَ ځوان راغلے دے ' الله ځلولی دی. دَ قرآن سره نسبت که د شپے راغلی هغه شپے ته الله یو مقام ورکړی که قرآن سره نسبت د کپړے را غلے هغه کپړے ته الله یو لوئے مقام ورکړی که قرآن سره نسبت د کاغذ را غلی هغه کا غذ ته الله یو لوئے مقام ورکړی چی دی کاغذ ته هم بے اودسه ګوتے نه ورورې په کوم کا غذ باندی چی د الله کتاب لیکلے شوی کومه کپړا قرآن کریم نه تاؤ شوے ده د هغے څومره لوئے اعزاز په دی وجه زما عزتمندو الله وائی که چا تری مخ وارولو پریشانو سره به ئی مخامختیا شی نو قرآن کریم دا سی عظیم کتاب دی. چی دی ته په سینه کښی ځائے ور کول پکار دی اودا قرآن داسی تا ثیر والا کتاب دی چی دی ته څوك هم په انابت سره غوږ کیدی نو د هغه په زړۀ کښی لاری جوړوی قرآن کریم کښی د هغے ګټو وا قعات شته او بل الله پاك د ایمان والو حال هم بیا نوی سوره انفال کښی الله فرمائی چی ﴿انما المؤمنون الذین اذا ذکر الله و جلت قلوبهم و اذا تلیت علیهم ایا ته زاد تهم ایماناً و علیٰ ربهم یتوکلون﴾ د ایمان والو نخه الله بیا نوی چی مؤمنان هغه خلق دی اذا ذکر الله چی کله ور ته د الله یاد او شی نو زړونه ئی په یره شی د ایمان والو نخه داده د ا لله نوم ئی واوریدو زړۀ کښی یره هغه الله چی کوم خالق ذات دی کوم مالك ذات دی رازق

ذات دی دا ټول نظام چلونکی ذات دی د هغه الله خبره اوریدو سره زړۀ کښی یره را شی بعض خلق په وجل نه پو هیګی نو د وجل معنی هغوی کوی چی کله دوی ته د الله ذکر کیږی نو دوی په ټوپونو شی نا د و جل معنی ټوپونه نه ده. د و جل معنی په دی زړۀ کښی یو کیفیت طاری شی د الله یره پکښی را شی د ستر ګو نه ئی او خکی روانی شی غونی در باندی زیګ زیګ شی د الله عظمت د الله صفتونه د الله طا قتونه د الله جمال د الله جلال د الله لوئی . د الله طاقتونه هغے ئی را مخے ته شی زړۀ ئی په یره شی ستر ګو نه او خکی رو ځی دا نه چی با زئ اړوی دا بعض علاقو کښی عجیبه ما حول وی ذکر به کوی لږ سا عت پس به پکښی ټوپو نه شروع کړی یا نعت به ورته وئیلی کیږی نو په نعت کښی به ټوپونه شروع کړی وائبریشن کښی به راشی . وائبریشن کښی به شروع شی. دا جذبے په صحابو ﷺ نه وے را غلے ته د صحابو ﷺ نه زیات په دین مئین ئی څه ؟ په صحابه کرامو ﷺ دا وَجُدونه نه وو راغلی دَ ایمان والو نخه الله بیا نوی ﴿انما المؤمنون الذین اذا اذکر الله و جلت قلوبهم﴾ ایمان والو د الله نوم واوریدو نو زړۀ ئی په یره شو دویمه نخه ﴿واذا تلیت علیهم آیٰته زادتهم ایمانا﴾ کله چی ایمان والاؤ ته د الله کتاب بیان شی قرآن کریم ورته بیان شی نو د ایمان آثار ئی نور هم سیوا شی. قرآن مجید آوریدلو سره ئی ایمانی کیفیات سوا کیږی او دا دَ قرآن تاثیر دے قرآن کریم په زړۀ کښی لاری جوړوی "الله اکبر کبیرا" مشرکان به را تله نبی ﷺ به د الله کتاب بیا نو و مشرکان به ور له کله کله په ژړا شو نو هغه کشرانو به وئیل دا جوړ ښه کتاب دی ځکه ور له زمونږ دا مشران غوږ کیدی نو د ډیرو خلقو

په زړۀ کښی به ئی لاری جوړولی مشرکان به راجمع شو د یوبل نه به ئی قسمونه وا غسته چی قرآن ته به بیا نه ځو نو د هر یو به خیال دا وو چی فلانکی به هم نه وی تلے نو فلانکی به هم نه وی تلے. نو په خپله به لاړو هلته. ټول به هلته را غلی وو د الله کتاب ته به ئی غوږ کیخودے وو. دا سی مشرکان وو بعض مفسرین ذکر کوی یو ورځ نبی پاک ﷺ حرم کښی ناست وو مشرکانو غونډه او کړه عتبه ئی مقرر کړو چی ته لاړ شه ددی صابی سره خبره اوکړه . دغه وخت کښی چی به چا دین حق اختیار کړو صابی به ئی ور ته وئیل او دا عموماً د با طل پر ستو یو پر و پګنډا ده ډیرو پخوانه بس چی په چا یو نوم پوری کوه چی ددی نوم په وجه تری خلق تیخته اوکړی د نبی ﷺ زمانه کښی چی به چا ایمان راوړو په صحیح دین باندی به شو نو خلقو به ور ته وے چی دا صابی شونوے دین ئی اختیار کړو. بیا رو ستو چی کله علماء دیوبند دَ انګریز خلاف شروع اوکړه نو انګریز او لګیده علماء دیوبندته به ئی وهابیان وے. زمونږ علماء د یوبند ته بیا انګریز وهابی نوم کیخودو چی دا خلق ددوی نه متنفره شی یو پیره یو ځائے کښی د جماعت یو امام وو خواه کښی ئی یو هندو دوکان دارو و دهغه نه ئی ډیره مو ده قرض سودا اوړله یو ورځ تری هغه هندو دو کان دار مطالبه او کړه چی استاذ جی ما ته خپل قرض دا کوے او که نا . د جمعے ورځ وه استاذ جی منبر ته او ختو وی ایماندارو فلانکی هندو دوکان دار و هابی شوی. خلقو تری سودا اغستل پریخودل بس هغه سره چی کوم تماټر الو ګان وو هغه ټول خراب شو هغه را غے استاذ ته وائی جی هغه قرض هم در ته معاف نوره سو دا به هم هسے در کومه خو تا چی

څه وئیلے ددی اعلان او کړه چی هغه وهابیت نه تو به ایستے ده . دا سی ئی بد نام کړے وو د اوس هم پنجاب کښی زمونږ بعض وخت کښی جماعتونه بعض علاقو ته لاړشی وی دا وبا سے د وهابیان. د وهابیان دی دا نوے مسلۂ کوی وی دوی وائی هر څه یو الله کوی مخلوق څه نشی کولی. دا یو نوم ور باندی لګوی بیا چی کله په دی پختون خواه کښی پختنو کښی د قرآن نه لرے والی د سنت نه لرے والی وو شیخ القرآن چی کله د قرآن در سونه شروع کړۂ دا پنج پیریان دی دا پنج پیری دی.داد پخوانه دا سی شروع دی. ور نه پنج پیر خو صوابی کښی یو کلے دی نو مشرکان را جمع شو چی ددی صابی سره خبره پکار ده ور ته او ایه چی ته څه غواړی ستا څه مقصددی ستا مطلب څه دی عتبه ئی مقرر کړو د خبرو د پاره عتبه را غے نبی ﷺ سره کینا ستو ور ته ئی وئیل زما یو دوه خبرے واو ره وی رواره تا زمونږ په دی خاندان کښی ډیر زیاتے را غستے دی زمونږ غونډ خاندان تا تس نس کړو او دا څومره زمونږ خدا یان چی دی ته ددوی نفی کوے چی دا څه نشی کولی حالانکه دوی پوری زمونږ حاجتونه ټرلی دی. ګو را که ته مال غواړی تا سره مونږ وعده کوو تا نه به په دی دنیا کښی څوك مالدار ترین انسان نه وی او که ته د حسینی او جمیلی جینے سره وادۂ کول غواړی نو تاله به مونږ چی ستا کوم ځائے خو ښه وی هلته به در ته وا دۂ او کړو اوګوره که اقتدار غواړی که وزارت غواړی نو وزارت به در کړو پیغمبر ته دوزارت او د اقتدار آفر کیږی خو معلومیږی دا چی دین په اقتدار ونو سره نه را ځی . ددین دپاره د پیغمبر ﷺ محنت شرط دی خبرے ئی ور ته او کړی . که په تا څه د جنا تو اثر وی، علاج به در ته

او کړو، خو ددے اکا برو او مشرانو مخالفت مکوه ټول خلق دی متنفره کړی دی هغه خپل اوږد تقریر پوره کړو (الله اکبر کبیرا)نبیﷺ ور ته وے ستا خبره پوره شوه وی آونو اوس زما ځما خبره واوره نورئے ورته څه نه وے. دَ الله کتاب ئی ور ته شروع کړو سورت حٰمٓ السجده کښی ئی ور ته شروع کړو چی کله پکښی دعا د یانو ثمود یانو تذکرے ته او ر سیدو وی روراۂ بس بس زۂ پوهه شوم چی کله هغه خپل ډلی ته ورروان شو هغوی چی ور ته دلرے نه او کته وی یره دا شکل ئی بدل بدل په نظر راځی . معلومیږی دا چی دمحمدﷺ جا دو ور باندی اثر کړے چی هغه څنګه را غلی دی خپل قوم ته ئی خبره کړے چی هغه کوم کتاب بیان کړؤ دا څه جا دو نه دی چی کوم کتاب ئی بیان کړؤ نو دا د بشر خبره نه ده او دا و حی الٰهی ده او که دا مو او منله نود عر بو باد شاهان به شے د عربو مشری به ستا سو په لاس کښی شی خبرے ئی ور ته اوکړے هغوی یو بل ته وے تا سو ته مونږ وے چی په سړی جا دو اثر او کړو غټ جا دو دی ور سره هغه ور ته وائی ما خو رائے صرف در کړه زۂ خو ستا سو ملګری یمه د هغه خپل غیرت دو جے نه ئی ایمان را ونه ړؤ. نو ګوره هغه کفارو کښی هم قرآن کریم لارے ایستے اثرئی پکښی کوو قرآن دا سی عظیم کتاب دی احا دیثو کښی راځی د مشرکین مکه یو ډیر غټ بدمعاش چی د هغه دلار دنیولو څوك نه وو مشرکین را جمع شو صلاح ئی اوکړه چی دے صابی دا نوے دین راوړے دے. دا نوے نوے مسلئ کوی. دَ دۂ کار ختمول غواړی. بس دی لرکول غواړی تمامو مشوره او کړه میټنګ ئی او کړو چی دا کار دا یو بد معاش کولی شی بس داد هر چا کار نه دی

ډیر په غصه کښی روان دی توره ور سره ده ددواړو جهانو سر دار د جناب نبی کریم ﷺ قتل پسے روان دی وړه اراده نه ده ډیره غټه اراده ئی کړے ده (الله اکبر کبیرًا) په لارے یونو جوان مخے ته ور غے وی چر ته روان ئی وی د اصابی چی دی ددۀ دقتل می اراده کړے ده . دۀ طرفته ورځم . او دی د مخے نه لر کول غواړم هغه نو جوان ور سره په لاره کښی خبرے شروع کړی چی گوره دا سی کار دی لو یه قبیله ئی ده لوئے خاندان ئی دی ځان ته کار مه گوره . هغه وی ته څوك ئی چی ما ته مشورے را کوی. هغه سره په پر زو لو شو. هغه پو هه شو چی دا خو ډیر غټ بد معاش دی دۀ سره د چا د جهگړے طا قت کیږی وی ستا خو ښه ده خو ستا په خپل کور کښی خپلے خور ایمان راوړلی دی. بس دا خبره خو پری سمه نا شنا او لگیده. غصه راغلو دَ خور کور ته . خورئی ده اوښے ئی دے. سیدنا خباب ﷺ را غلی دے هغه هغوی ته د الله کتاب بیانوی دۀ دروازه ډبولی ده هغوی پو هه شو ے چی دا خو ډیر غټ بد معاش راغلی ددۀ خود مقابلے څوك نشته. سیدنا خباب ﷺ یو گوټ کښی پټ شوی چی څنگه را غے په او ښی ئی ور منډه کړے ده د گریوان نه ئی اونیولو او گوزارونه ئی وربانده ی شروع کړل ځکه چی چا کښی ظلم وی. هغه کښی انسانیت نه وی هغه کښی ترس کول په انسانیت باندی نه وی داد حیوانیت نخے وی . انسان کښی چی کله دین نه وی نو بس بیا حیوانیت درنده توب په کښی را شی . د مارانو لړمانانو خامارانو درنده گا نو غونده او صاف انسان کښی را شی چی کله دین نه وی بیا به ور ته دسره انسان انسان نۀ ښکاری پلار به نه پیژنی خور به نه پیژنی مور به نه پیژنی رور به نه

پیژنی ترڅ ماما نه پیژنی د هغوی نقصان به کوی ور نه مسلمان ته په غلط نظر کتل د مسلمان شان نه دی د مسلمان بے عزتی کول د مسلمان و ژل مونږ کښی نن دین نشته . ځکه دا کارونه راته آسان دی. نو په دی کښی خو ر ئی چی او کتل چی خاوند ئی خوراته ډیر اووهلو مینځ ته ئی رو دانګل او په دی کښی د غه بد معاش او لګیدو او خو ر رته ئی یو پړك ورکړو. د خور د مخ نه وینے روانے شوی. دا خور ور ته وائی روریه، که ته په خپل دین کلك ئی نو زڅ هم په خپل دین کلکه یمه . دا سی زنانه، زنا نو کښی دا سی استقامت داسی استقلال او رور ته وائی ته به څه کوے خو مړه به می کړے .خوزه هر ګز خپل دین پریخو دو والا نه یم. نن خو چی مونږ ته پیسے ملاویږی نو مونږ ور پسے خپل ایمان هم ور پریګدو خپل حیاء هم ور پسے خر څوؤ خو رورته وائی چی د کوم مور پلار بچی ته ئی د هغوی اولاد زه هم یم . بیادی جا مو ته ئی کتلے دی دوینو لیت پیت دی غصه ئی لږه سړۀ شوی . هغه خور ته وائی تا سو چی دا کومی پانړی لو ستے دا لږے ما ته او ښایۀ خور ور ته وائی ولے چی اوئے تختوی رانه. هغه ورته وائی وعده در سره کوم چی واپس کوم ئی در ته صرف ګورم ئی یو نظر هغه وائی نه کنه رورے. دا داسی پانړی دی ﴿لا یمسه الا المطهرون﴾ دومره ننګ او غیرت کوی نو دا داسی پانړی دی. دے ته پلیت خلق لاس نشی اوړے ته خو مشرك ئی. داسی خبره دے بدمعاش ته کول مخامخ ګران کار وو. لاس وراوړے او ګوری ئی نو لاړشه دی ځائے اوبه پر تے دی اول غسل اوکړه نو هغه وے دا به هم او کړم نو ، غسل ئی کړے چی را غی د الله د کتاب پانړے پر تے دی . دا د قرآن تاثیرات

دی. لاس کښی ئی را خلی سترګے ور باندی لګی . هغے کښی لیك دی ﴿طٰهٰ ما انزلنا علیك القرآن لتشقٰی﴾ الله وائی دا قرآن مونږه نا زل کړی دی. دی دپاره چی ته ځان تکلیف کښی وا نه چوی دا قرآن مو ستا د تکلیف د پاره نه دی رالیږلی ﴿الا تنزیلاً ممن خلق الارض والسموات العلیٰ﴾ دا کتاب هغه ذات رالیږلی دے چی زمکے ئی پیدا کړی دی، آسمانونه ئی پیدا کړی دی. هغه ذات ﴿فَاِنَّه یعلم الجهر واخفٰی﴾ هغه ذات په پټو خبرو په ښکاره خبرو پوهه دی. په دی آیتونو ئی نظر پریوځی دا خالق و مالك و رازق ذات رالیږلی دی. او هغه بدمعاش هغه خورته وائی ﴿ما احسنو هذاالکلام﴾ وه داڅومره حسین و جمیل کلام دے. څومره ښائسته خبرے دی . په زړه کښی ئی ورته ډارك لارکړی ده، نن زمونږ دا زړونه څومره سخت دی د پیغمبرﷺ و ژلو پسے را غلی دی. یو رکوع نیمه ئی کتلے ده. او په زړه کښی ئی ورته لارکړی ده. مونږ تراویح کښی قران واورو مونږه په ترجمه باندی قرآن واورو. مونږه تقریر ونو کښی قرآن واورو . مونږه په مونځونو کښی قرآن واورو . او بالکل مونږ کښی انقلاب نه راولی دا څه وجه ده دا زړونه زمونږ ډیر زیات سخت دی بس هغه انتهائی متاثره شوی دی حبابؓ راوتے دی د ګوټ نه چی سړی باندی خو قرآن اثر او کړو او ورته وائی چی مبارك شه بیګا پیغمبر علیه السلام ستا په حق کښی دعا کړی ده. معلومیګی دا چی ستا په حق کښی دعا قبوله شوی ده. هغه وائی هلا دپیغمبرﷺ مجلس را ته ښائی. وی دے وخت کښی نبیﷺ صفا ډیر ئی سره خوا کښی یو کور کښی دی. ملګری ورسره ناست دی هغه روان شوی چی هلته صفا ډیرے خوا ته

رسیدلی د هغه کور خواته رسیدلی دے د هغه کور د ور په سورو کښی صحابه کرامؓ اولیدو لویۀ چر چه ئی وه لویه بد معاشی ئی وه. صحابه کرام څه یو ګوټ ته او تختیدۀ څه صحابه کرامؓ بل ګوټ ته او تختیدۀ چی دا بد معاش را پسے دلته رالو وژنی مو که بعض صحابه کرام ؓ سخت پریشانه شو چی مونږ خو دَ دوی نه پټ پټ کار کوو. دۀ ته مونږ چا اوخولو دی راپسے دلته را غے. سیدنا حمزۀ ؓ چی هغه ته سید الشهداء هم وئیلی کیږی .احد کښی شهید شوے وو. حضرت حمزہؓ ملګرو ته وئیل در وازه ور ته کهولاؤ کړے را پریدوی که څه ښه اراده ئی راوړی وی. خو خا. ګنی چی دا کومه توره ور سره ده په دی به تری سر قلم کړم. داسی نران اوبهادران ملګری وو هغه را غے ددواړو جهانو سر دار ور ته وائی عمره! په دی او ګه ئی ور ته دا سی لاس کیخودو عمره دا خپله بد معاشی نه پریګدے تر څو به د قرآن سره دشمنی کوے. ترڅو به ددین والو سره دشمنی کوی. هغه وائی جی را غلے یم چی کلمه راته اووائے.او فورًا مسلمان شو. کلمه ئی اووئیله. نبی ﷺ چغه کړۀ الله اکبر. صحابه کرامؓ نعرۀ تکبیر بلند کړه(الله اکبر)قرآن کریم د مکے دغټ بد معاش نه عمر فاروقؓ جوړکړو. فاروق، خلیفه ثانی د عمر کوم مقام دی داد قرآن تا ثیرات دی . د قرآن نه مخ اړول دا لویه ګناه ده ما چی کوم آیتونه لو ستلے وو. په هغے کښی الله و عیدات ذکر کوی د قرآن معرضینو دَ پاره الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿و من اعرض عن ذکری﴾ ”و من“ جوښی هو۔ چا چی هم مخ واړولو. مشر مخ واړو ، کشر مخ واړۀ. مالدار انو مخ واړو، که غریبانانو مخ واړو ، نا رینه مخ واړو که زنانه مخ واړو ”عن ذکری“ الله وائی زما

کتاب تـه نـه دی اوزګار دَ دنیـا هـر یو کار ته وزګار دے ددنیا کسب ته وزګار دوکـانـدارے تــه وز ګار نـوپټی تــه وزګار نو خپل ملازمت تـه روزګار د خپـل بـال بـچ د پـاره ور سره ټائم شته خو یو د الله د کتاب زده کـولو د پاره ور سره و خت نه وی . په کاروبار کښی ئی ګیره سپینه کړه. ور ته وایۀ ما ته د ﴿بسم الله الر حمن الرّحیم﴾ معنی اوکړه دا هم ورته نه ورځـی. دومـره زنـدګی ئی تیره کړه. خو دا ورته پته او نه لګیده چی دا الله کتـاب رالیـږلـی دے په دیکښی الله څه فرمائیلی دی په دی ئی هم ځـان پـو هـه نـه کـړو. او چی دا بعض پو هه خلق پکښی ور ته وائی دا تر جـمـے زده کول هسـے ګپ شپ دی. بعض دا سی پو هه پو هه خلق وی . دا غـټ ظـلـم کـوی غـریبانان خپله هم نه وی ازده کړی نو که خلق ئی زده کـوی نـومنع کوی ئی ځکه الله فر مائی ﴿و من اعرض عن ذکری﴾ چا چـی مـخ واړو زمـا د کـتـاب نه نو ﴿فَاِنُ له معیشة ضنکا﴾ الله وائی ژوند به ور ته تنګ کړم مراد تری ددنیا ژونددی. چا چی د الله د کتاب نه مـخ واړۀ . د الله دیـن پکښی نه وی دنیا کښی ئی ژوند تنګ دنیا کښی ئـی پـریشـانـو سره مخا مختیا مال به ئی وی جائیداد به ئی وی اولاد به ئـی وی بـی بی به ئی وی خو د الله دین سره چی تعلق نه وی کنه د الله د کتـاب سره ئـی چـی مـیـنـه نـه وی سـخت پریشانه به وی . خوب به نه ورځـی پریشانه به وی . مال به ئی وی چی ترځوئی یو لپه ګولی نه وی اچـولـی نـو خـوب نه ورځی ﴿فان له معیشه ضنکا﴾ ژوند به ئی تنګ وی مـال بـه ئـی وی جـائیـداد بـه ئـی وی . خـمبـے به ئی ډکی وی خو ډاکټر بـه و ر ته وئیلی وی که د غنمو ډوډے دی اوخوړه. که خوږ څیز دی او خـوړو کـه مـالـګیـن څیـز دی او خوړۀ تباه کیږے نو غریب ته په

ټیپرو کښی یخنی کوی . د ټیپرو یخنی ئی سحر و غرمه خوراك دی دا بعض زمیدار خلق چی دین والا وی او د مدرسو طلباء کرام او تبلیغیان خانان نوابان ورته زیریگے چی زما جائیدادونه دی.او داټول خوراکونه د غه غریبانان . دیندار خلق کوی دا خوراك کول یو نعمت دی .بعض خلق وائی تا سو دادین والا خلق خوراك ډیر کوی وایۀ ته ئی کولے نشے. په تا بنددی . که لږ غوندے ئی خورے نو بس بیا پریشانه کیږے تکلیف درته جوړیگی دا خوراك خو په تا الله بند کړے په زند گے کښی د سړی د ژوند نه خواږه هم ختم . ما لګین تری هم ختم . نو پا تے پکښی څه شی. نو دنیا کښی ئی ژوند تنګ وی په دی وجه زما عزتمندو چی مونږ د کتاب سره خپل تعلق قائم کړو. دین سره خپل تعلق قائم کړو. تو به او با سو نو هله به پریشانے ختمیږی ګوری پریشانے هسے نه ختمیږی . د پریشانو ختمیدو وا حد علاج د الله دین. قسم دی وی په رب د الله ددین نه بغیر پریشانے نه ختمیګی سوا کیږے به ورځ تر ورځه. که مونږ وایو چی مال لږ نور زیات شی پریشانی به ختمه شی نو نورے پریشانے به سوا کیږی . مرض بڑھتا گیا جوں جوں دوا کی۔ ځکه الله فرمائی ﴿ومن اعرض عن ذکری فان له معیشه ضنکا﴾ الله وائی ژوند به ور له تنګ کړم ، ددنیا ژوند تری نه مراد دی. او دا مونږه او تا سو وینو. چی د چا دَ دین سره تعلق نه وی. انتهائی پریشان هیڅ کښی ئی برکت نه وی دویم تفسیر دا چی بعض مفسرین ذکر کوی ﴿فان له معیشة ضنکا﴾ نه مراد الله وائی د قبر ژوند به ورته تنګ کړم مراد تری عذاب د قبر دی . الله وائی قبر کښی به ورته عذابونه ور کوم . قبر کښی به عذاب ورکوم دَ دین نه ئی مخ وارۀ . دنیا

کښی هم پریشانه نو په قبر کښی هم پریشانه دا نه چی د مرګ سره بس خبره ختمه شوه ډیر خلق وائی دی دنیا کښی د ژوند نه تنګ شی پریشانو نه تنګ شی سوال کوی یا الله مړ می کړی چی بے غمه شمه. بے غمه کیدۀ نشته ، هلته به پریشانی وی نو په دی آیت کښی مفسرین ذکر کوی اثبات د عذاب قبر زمونږ د اهل سنت والجماعه عقیده دا ده "عذاب القبر حق" د قبر عذاب حق دے. دی نه انکار د قرآن انکار دے دَ قرآن په ګڼړو آیتونو سره دَ قبر او برزخ عذاب ثابت دے. ځکه الله پاك د فرعو نیانو باره کښی ذکر کوی ﴿و حاق بآل فرعون سوء العذاب، النار یعرضون علیها غدواً وّ عشیا﴾ فرعونیان غرق شو سحر او بیګاه ور باندی عذاب پیش کولی شی. نو آخرت خو لا نه دی را غلی جهنم خو لا نه دی را غلی. او پس د مرګه پری عذاب شروع شو نو دی ته د قبر عذاب وائی . د غے ته د برزخ عذاب وائی که دا هر ځائے وی . دۀ نه ساه او وته نو که دی چرته درنده تیر کړو نو د غلته ور باندی عذاب شروع شی که ته سوچ کوی چی دا څنګه دی بدن ته څنګه دی روح ته څنګه . روح له ور کولی شی که بدن ته ور کولی شی که دا څنګه وی. دا عقیده او ساته پس د مرګ نه چی کوم ګناه ګاروی بے دینه فاسق فاجر وی هغه د پاره عذاب حق دی روح ته عذاب شته نو بدن ته هم عذاب شته دواړو ته شته. په دی پریشانه کیږه مه چی دا څنګه نو دا خو ته نه ور کوی ور کولو والا خو بل څوك دی یار بعض خلق دی کښی پریشانه وی. په دی کښی چیړ چاړکوی ددی تفصیلات غواړی ددی تفصیلاتو کښی مه پریو ځه. د مرګ نه رو ستو د قبر د برزخ عذابونه هم حق دی. نو نعمتونه هم حق .

نعمتونه هم شته ددین دارو د پاره د ایمان والو د پاره عذابونه هم شته دے بے دینه خلقو دپاره د فجارو فساقو دپاره . په مونږه او تا سو لازم دا دی چی دا عقیده او ساتو چی عذب القبر حق. کومه عقیده . د قبر نعمتونه حق دی، بعض علماء د قبر نه تعبیر بر زخ سره کوی بعض دبر زخ نه تعبیر په قبر سره کوی هغی تفصیلاتو کښی مه پریوځه دا عقیده او ساته دقبر عذاب حق دی او د هغی نه د بچ کیدو دپاره اعمال پکار دی نو ﴿فان له معیشة ضنکا﴾ دَ دے یو تفسیر دادی چی د قبر زندگی به ور باندی تنګه کړی او په دی باب کښی ګڼړ احادیث شته چی د قبر عذاب حق دی . یو روایت د صحیح بخاری او صحیح مسلم ذکر کړیدے چی سیدنا انس ﷺ نه روایت دی نبی ﷺ فرمائی ''ان العبد اذاوضع فی قبره'' چی کله یو انسان په قبر کښی کیخودی شی. ددۀ نه داخپل ملګری روان شی نو انتهائی په تلوار سره دۀ ته ملائك علیهم السلام راشی ''اتاه ملکان فیقعدانه'' ملائك علیهم السلام دۀ له را شی نو دۀ لره کینوی. داد بر زخ زندگی ده. زمونږ او ستا سو د عقل نه بالا تر ده. زمونږ او ستا سو په عقل کښی د هغی تفصیلات نشی را تلی. بس نبی ﷺ وئیلی دی نو دا حق او سچ دی . که ته وائے څنګه نو الله خو قادر او قدیر او مقتدر ذات دے چی ته ئی دَ یو څاڅکی اوبو نه پیدا کولی شوی. په دی باندی هم قادر دے نو حدیث پاك کښی راځی ''اَتاه مَلَکان'' دوه ملائك علیهم السلام ده ته را شی ''فیقعدانه'' نو دۀ لره کینوی. ''فیقولان'' نو ده ته وائی ''ما تقول فی هذالرجل'' ته دَ دے سړی په باره کښی څه وائی؟ تا سو ته چی کوم رالیږی شوی وو. (جناب نبی کریم ﷺ)نو چی کوم انسان ایمان والا دے

نیك عمله انسان دے هغه وائی "اشهدو انَّ عبد الله و رسوله" نیك انسان وائی زهٔ دا ګواهی کوم چی دا دَ الله بنده دے او د الله رسول دے. دهٔ له بیا هغه ملائك وائی "انظر الی مقعدك من النار قد ابدلك الله فی مقعد من الجنه" او ګوره دی خپل د نا ستی ځائے ته دی دا د اور یو ټکړه وه. دا د عذابونو یو نمونه وه خو چی تا دا اقرار اعتراف او کړو . نو الله پاك دا تاله د جنت او ګرځوله. دا الله پاك تا ته د نعمت اوګرځوله دی بیا ټول نعمتونه وینی ټولے خو شحالئ دهٔ ته محسوسیږی "و اما المنافق" هر چه منافق انسان وو. او کا فر انسان دهٔ له وائی د پیغمبر باره کښی څه وائی نو دی وائی "لا ادری" ما ته خو هیڅ پته نشته زهٔ نه پیژنم. ده دنیا کښی د پیغمبر ﷺ خلاف کړے وو. په غم کښی هم د پیغمبر ﷺ خلاف نو په خادی کښی هم د پیغمبر خلاف. نو هلته وائی "لا ادری" ما ته پته نشته. دهٔ ته ملائك وائی "لا دریت و لا تلیت" تا نه د الله کتاب لو ستے وو نه دی د الله په کتاب باندی ځان پو هه کړیے وو. که تا په دنیا کښی د الله د کتاب سره تعلق قائم کړے وی نو ددی سوالونو جوابونه به تا ټهیك کړی وی . او بیا احادیثو کښی راځی "ویضرب بمطارق من حدید" بیا د او سپنی په یو ګرز به وهلی شی او دهٔ له په هغی ګزارو ور کولی کیږی "فیصیحوا صیحه" او دی به چغے او با سی په دهٔ باندی شروع ئی کړی وی او دی دا چغے او باسی بعض روایا تو کښی را ځی د انسانانو او پیریانو نه علاوه نور مخلوقات ته دغه چغے محسوسیږی بل روایت کښی راځی نبی محترم ﷺ فرمائی چی کله دامﻻئك راشی نو دهٔ ته وائی "من ربك؟" ستا رب څوك دی؟ دا د بر زخ حال دی . دا د مر ګ نه پس شروع کیږی.

نو ملائك عليهم السلام دۀ ته وائی ستا رب څوك دی؟ نو چی كوم انسان دنیا كښی د رب سره تعلق وو. درب د خوښی ژوندئی تیر كړے وو رب ئی نه وو خفه كړے . نو هغه ور ته وائی "ربی الله" زما رب الله دے. بیا ور ته وائی "ما دینك؟" هغه ور ته وائی زما دین اسلام دی. بیا ور ته وائی د پیغمبر ﷺ باره كښی څه وائی؟ "ما تقول فی االرجل الذی بعث فیكم؟" دا تا سو ته چی كوم تن را لیږلی شوی وو. ددۀ باره كښی څه وائی؟ دی وائی "هُوَرسول الله" دا دَ الله رسول دے. دۀ له یو څلورمه خبره هم كوی خو دا څلورمه خبره مونږ او تاسو اكثر نه وی آوریدلی. څلورمه خبره ورته ملائك علیهم السلام كوی "وما یدریك" دا تا كوم ځائے ازده كړی؟ داجوابونه تا كوم ځائے زده كړی؟ دے وائی "قرأت كتاب الله فامنت به" ما د الله كتاب لو ستے وو. دَ الله په كتاب می ایمان راوړے وو د الله د كتاب می تصدیق كړے وو بیا به یو آواز كوونكی یو آواز او كړی چی "صدق عبدی" زما بنده ریشتیا اووئے "فافرشوه من الجنة و البسوه من الجنة" دۀ له د جنت لباسونه واچوے جنت طرفته ورته در وازے كهولاؤ كړئ. د جنت خوشبو یانی به دی محسوسوی. دَ هغه ځائے هغه خو شبویانی او چی كوم ځائے پوری نظر لگی هغه ځائے پوری طرفونه به ور ته كهولاؤشی دو مره به ورته الله تبارك و تعالیٰ هغه نعمتونه ښكاره كوی تر كوم ځائے پوری ئی چی نظر لگی او هر چه بے دینه انسان دی. نوده ته وائی "من ربك؟" ستا رب څوك دی؟ بے دینه انسان ور ته وائی "ها ها لا ادری" ده چرته دَ رب خبر نه وه منلے نو دَ رب كتاب ته ئی نا سته نه وه كړی. بے دینه انسان وو دَ رب خلاف ئی كړے وو تول

عمر دَ رب د نظام خلاف ئی کړی وو، قبر کښی هم دَ دین تپوس کوی ستا دین څه دی؟ نو دی وائی افسوس ما له پته نشته بیا ور ته وائی دا تاسو ته چی کوم رالیږلی شوے وو دَ هغۂ باره کښی څه وائے؟ دے بیا وائی افسوس مالـه پتـه نشتـه. نو بیا اعلان او شی دے سړی تکذیب کړی وو. دۂ دروغ وئیلی وو . نو دۂ له تا سو د جهنم تولایانی خوری کړی دَ اور جامی ور ته واچوی اور طرفته ورته دروازے کهولاو کړئ. د هغی هغه ګرمی او د هغے هغه بد بوئے او هغه ډډوزی ددۂ طرفته راځی بیا د قیامت دَ ورځے پوری په برزخ کښی پریشانو کښی پروت وی لهذا دا معمولی خبری ګنړل نه دی پکار زما عزتمندو! په بعضی روایاتو کښی راځی "و یضیق علیه قبره حتی تختلط اضلاعه" دا قبر پری دومره را تنګ شی چی دا پختے ئی یو بل کښی ننوزی او کړسار شروع کړی. الله دی مونږ او تاسو ته نجات دَ دغه عذابونو نه راکړی او بعضی روایاتو کښی راځی په دۂ باندی داسی ملائك مسلط شی چی هغه ږندی او کنړی وی آوازونه نه آوری او دا رنګے هغوی سره دَ اوسپنے یو لوئے ګرز وی "لو ضرب بها جبلا لصار ترابا" کچری غر ته په هغه یو ګزار ورکړی شی نو ټول غربه خاوری شی دا غر څومره سخت وی او دا رنګے مسند احمد کښی روایت دی "لو ضرب بها جبلا لصار ترابا" کچرته دی باندی غرته ګزار ورکړی شی دا غونډ غر به خاوری اوګرځی . او ملائك علیهم السلام به دی بے دینه انسان لره وهی. او دے به چغے وهی نو په دی وجه باندی د قرآن دَ دغه آیت نه یو مسلۂ ثابته شوه چی عذاب د قبر حق دے او نعمتونه د قبر هم حق دی دنیکانو دپاره.

بل یو روایت کښی راځی. امام ترمذیؒ ذکر کړی دی دَ سیدنا عثمان ﷺ باره کښی راځی چی کله به په قبرستان ورتیریدو. نو اوبه دریدو او ژړل به ئی "حَتّٰی یبل لحیته" په ژړا به شو دا ګیره مبارکه به ئی تولـه لونده شوه. نن خو زمونږ عجیبه کیفیات او عجیبه حالات دی. مونږ او تاسو پـه قبر نـه ورتیـریـږو قبر جـوړو چا تـه قبر کنو او هلته خندنـے کوؤ حـالانـکـه بـعـض صوفیاء کرام دَ ذړۂ دَ سخت والی علاج دا ذکر کوی دَ قـرآن تـلاوت کـول مرا قبۂ موت کول. ځان سره محاسبه اعمال کول او قبـر ستـان ته کله کله تلل چه په قبرستان ور تیریږو او عبرت حاصل نه کـړو نـو دا بـه مـونـږ بـل کـوم ځـائـے نه عبرت حا صلؤ. احا دیشو کښی راځی تـاسـو د قبرنـو زیـارت ته ځـے. ځان ته مرګ رامخـے ته کوی او مـړو تـه دعا کوی نو زمونږ په مقبره کښی دا کیفیات دی. په غم کښی نـاسـت د تـعزیت د پاره ناست عیدګاه کښی جنازی د پاره راجمع شوے او هیـڅ قسـمـه خبره زمونږ په دی زړۂ اثر نه کوی ایماندارو لږ سوچ په دی خبـرو پـکار دی په دی وجه دَ سیدنا عثمان ﷺ ډیر لوئـے مقام دے ډیر لوئـے مقام والا صحابی دے. دومره لوئـے مقام ئی دے د الله کتاب ئـی لـوسـتـو سـوره البـقـرة ئـی شروع کړی وه ﴿فسیکفیکهم الله وهو السـمیـع الـعـلیـم﴾ دی ځـائـے ته اور سیدؤ په دغه وخت کښی د الله یو دشـمـن را غـے او سیدنا عثمان غنی ﷺ ئـی شهیـد کړو. په قرآن باندی دهغه وینـے هم په د غه آیت بهیدلی دی. غالبًا حسن بصریؒ یا امام ابن سیـریـنؒ فـرمـائـی. چـی مـا طـواف کـوو ما سره په طواف کښی یو تن مـلـګری شو هغه کس لاس پور ته کړی دعا غواړی. چی یا الله ته ما ته بخنه او کړی خو زما خیال دا دی چی ته ماته بخنه نه کوی. وی ما هغه

سړی مجبور کړو چی دا ته څنګه سوال کوی هغه ماته قصه اوکړه. چی ما قسم کړی وو چی زهٔ به دا عثمان ﷺ یو پړك وهم نو په ژوندونی خو د هغه مخے ته راتلے نه شومه چی کله سیدنا عثمان ﷺ شهید شو . نو خلق د سیدنا عثمان ﷺ صیب تما شے تـه را تله. جنازه وربانـدی انفرادی کیدله نو د غه سړے را غلو وائی زه خپل قسم پوره کوم. وائی ما چی کله سیدنا عثمان غنی ﷺ ته پړك ورکو نو زما دا لاس مکمل شل شو. او زما دا غونډ لاس د لرګی شو غو ښه تری مکمل کټ شوه. دا ګوره کرامات د اولیاؤ ته هم اشاره ده کرامات د اولیاؤ حق دی خو کرامت لِلولی وی او یو مِنَ الولی وی نو کرامات د مړو اولیاؤ د پاره شته او د هغوی نه نشته. د هغوی نه ظهور نه کیږی د هغوی دَ پاره شته. نو بعض خلق پکښی لِلولی او مِن الولی نه پیژنی. کرامات پس د مرګ نه لِلاولیاء شته او مِن الاولیاء نشته. نو وائی ما دهغه لاس اولیدؤ وی ما ته ئی هغه قصه او کړه چی هغه وخت کښی هم لرګی وو. په البدایه والنهایه کښی حافظ ابن کثیرؒ ذکر کړی دی. نو سیدنا عثمان غنی ﷺ ډیر لوئے مقام ولا صحابی دے. او ډیر خپل ښه دورئی هم چلولی او ډیر انقلابات پکښی را غلی دی او ډیر روافض اوشیعه ګان اوس هم د هغه خلاف کوی . نو د هغه کیفیت دا وو چی کله به د قبرستان خواته را غے نو اوبه دریدو او په ژړا به شو "حتی یبل لحیته" تر دی چی دهغوی ګیره مبارکه به لونده شوه. دومره بـه ئی ژړل ورته. اووئیلے شو "تُذْکرُاالجَنَّه والنَّارَفَلَا تَبْکِیْ" ګوره د جهنم تذکره کیږی د جنت تذکره کیږی. ته ژاړی نا چی کله قبرستان ته را شے نو دو مره ډیر زیات ژاړی؟ هغه ور ته وائی

نبی علیہ السلام فر مائیلی دی ''اِنَّ الـقَبْـرَ اَوَّلُ مـنـزِلِ مِنْ مَّنَازِلِ الآخرة'' دا قبر دآخرت دَ مـنـازلـونه ړومبے منزل دی نو د آخرت د سفر ړومبی آغاز دَ دی ځائے نـه ستمارت کیږی دا قبر چی دی نبی ﷺ فر مائی ''اِنَّ القَبْرَ اَوَّلُ مـنـزِلِ مِـنْ مَّـنَـازِلِ الاخـرة'' دا قبر د آخرت د منازلونه ړومبی منزل دے چی چا پـه دی کښی نـجات او موندۂ . ددی نـه رو ستو بـه ورتـه ټولـے مـرحـلـے اَسانـے شی. مثلاً یـو سړی ددی ځائے نـه مکے او مـدیـنـے تـه ځی، دو بئی ته ځی یا امریکے ته ځی. نو که تا سو خیال کـړی وی نـو پـه ائیر پورټ کښی په بلا ځایونو کښی د هغه چیك اپ کیـږی. نـو کـه دَ ده پـه کـاغـذونو کښی لږ غوندی خرابوالے وو نو دی بیـامـخکښی نه شی تلی، راوپس کوی ئی. او که په ائیر پورټ کښی دَ دۂ ټول کـا غـذونـه چیك شو، ګو تـے ئی ور ته چیك کړی، سترګی ئی ور تـه چیك کړی. کا غذونه ئی ور ته چیك کړه او هر څه برابر شو او ده تـه وائی اخوا ورځه د جهاز انتظار کوه. نو دی چی دَ دغـے ائیر پورټ نه بهـر جهاز ته اووتو نو بس بیا دَ دۂ نور دومره چیك اپ نه کیږی بس بیا دی ډارِك جهـاز کښی کیـنـی او الـو ځی نو دا رنګـے که قبر کښی دی فیـل شـو جـوابـونـه ئی صـحیح ور نه کړۂ هلته خطا شو نو مخکښی مشـکـلات دی. کـه دے سړی ته قبر کښی نجات ملاؤ شو اخوا اُمور آسان دی. او که دۂ له په قبر کښی نجات ملاؤ نه شو نو بیا اخوا حالات ډیـر زیـات سخت دی. بل روایت کښی راځی نبی ﷺ چـی به کله دمړی ددفـن نـه فا رغ شو. ابو داؤد شریف کښی حدیث دے. ''اذا فرغ من دفن الـمیت'' قبر سره به خوا کښی او د ریدۂ. ملګر و ته به ئی اعلان اوکړو. ''استـغـفـروا لاخیـکم'' دی خپل رور ته مو بخنه او غواړئ زمونږ خلق

بل اعلان کوی چی ایماندارو روتے تیاره ده هلته به ځو. هلکه دا څه وادۀ دے؟ بعضی خلق په دی حقو خبرو خفه شی. ښه پو هه پو هه خلق وی. نو زمونږ خلق دا اعلان کوی ایماندارو چی څوك قبر ته راغلی وی چا چی قبر کنستے وی چا چی جنازه کښی شرکت کړی وی هغوی به مونږ سره حجرے ته ځی. الحمد لله زمونږ په علاقو کښی خو اوس دا رواج په ختمیدو دے. نبی ﷺ چی به دَ دفن نه فارغ شو نو اعلان به ئی او کړو "استغفروا لاخیکم" اے مسلمانانو رونړو دی خپل رور ته مو استغفار اوغواړئ. امتحان ئی شروع شو، "استغفروا لاخیکم ثم صلوا بالتثبیت" دۀ دپاره د ثابت قدمئ دعا ګانی او غواړی "فانه الآن یسئل" دۀ نه به اوس تپوسونه کولے شی. په دی وجه ډیر احتیاط پکار دی. او دا عقیده سا تل پکار دی چی "عذاب القبر حق" عذاب د قبر حق دے. دَ سیدنا ابو سعید رضی الله عنه نه روایت دی امام تر مذی روایت ذکر کړیدے نبی ﷺ فرمائیلی په دی قبر کښی انسان باندی ننانوے اژدها ګانی مسلط شی بے دینه انسان باندی، اَو دۀ لره تړك ور کوی او ددۀ نه دا غو ښے راشوکوی او یو اژدها د هغی نه دا سی ده که چرته دی زمکی ته ئی یو پُوکی قدر ورکړو دا څومره زمکه ده نو دارِمی کښی روایت راځی "ما انبت خضراً" هیڅ یو شینکے به زر غون نه کړی نو چی دا دۀ له تړك ور کړی او غوښه تری شو کوی نو څومره سخت عذاب به وی الله دی مونږ او تا سو محفوظ کړی دا رنګے بل روایت کښی راځی. اسماء بنت ابی بکرؓ راویه ده. چی یو پیره نبی علیه السلام تقریر کولو "فذکر فتنه القبر" نبی علیه السلام دَ قبر د عذابونو تذکره اوکړه چی سړی ته به په قبر کښی عذاب ورکولی


شی چی کله نبی ﷺ دَ قبر د عذابونو د لړمانانو خا ما را نو د تو رو چینجو دا تذکره کوله نو سیده اَسماء رضی الله عنها وائی "ضج المسلمون ضجة" هغه مسلمانان ډیر په چغو سر شو. چی دا سی عذا بونه دی بخاری کښی دا روایت دی ضج المسلمون ضجة مسلمانانو سمے چغے جوړی کړی چی داسی عذابونه دی. او هغه خلق صحابه کرام وو ، چی، په قرآن مجید کښی الله تعالیٰ فرمائی ﴿رضی الله عنهم و رضوا عنه﴾ زما عزتمندو په ګنړو آیاتونو سره او په ګنړو احادیثو سره عذاب قبر ثابت دے. دا زمونږ عقیده چی عذاب قبر ثابت دے نو "فَاِنَّ له معیشة ضنکاً" په دی کښی یو تفسیر دا دے چی دَ قبر زندګی به ئی تنګه وی. دا خو دَ دُنیا او دَ قبر سزا شوه ور پسے الله تعالیٰ فرمائی ﴿وَ نَحشُرُہ یَوُمَ القِیَامَةِ اَعُمٰی﴾ د قیامت په ورځ به ئی ړوند راپاسوم دا بل عذاب شو. دَ الله تعالیٰ د کتاب نه ئی مخ واړؤ، دَ الله تعالیٰ دَ دین نه ئی مخ واړؤ. دُنیا کښی هم پریشانه نو بر زخ کښی هم پریشانه نو الله تعالیٰ وائی ﴿وَ نَحشُرُہ یَوُمَ القِیَامَةِ اَعُمٰی﴾ د قیامت په ورځ به ئی ړوند راپاسوم . دی به چغے کړی اے زما ربه ﴿لِمَ حَشَرُتَنِیُ اَعُمٰی﴾ زۀ دی ولی ړوند راپاسولم زۀ خو دنیا کښی لیدونکے ووم نو الله تعالیٰ ور ته یو جواب ورکوی هغه جواب مونږ ته نن آوریدل پکار دی الله تعالیٰ وائی ﴿کَذَالِكَ اَتَتُكَ اٰیَا تِنَا فَنَسِیُتَهَا﴾ تا ته ما آیاتونه رالیږلی وو ته ورته اوزګار نه وی نو ستا جومات کښی دَ قرآن درس کیدؤ ستا جومات کښی دَ دین خبری کیدے تا وئیل زۀ نه یم اوزګار ﴿کَذَالِكَ اَتَتُكَ اٰیَاتُنَا﴾ تا ته زما آیتونه راغلے وو ﴿فَنَسِیُتَهَا﴾ تا هیر کړی وو ﴿کَذَالِكَ الُیَوُمَ تُنُسٰی﴾ دا رنګے ته هیر

شوی، نو په الله خو هیر نه راځی ﴿كَذَالِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى﴾ دا رنګے ته دَ الله تعالیٰ دَ رحمت نه نن پریخودلی شوی. نو زما عزتمندو الله تبارك و تعالیٰ دی مونږ او تاسو د قبر د عذابونو نه د فتنو نه محفوظ او ساتی او الله دی زمونږ او ستاسو تعلق د خپل عظیم کتاب سره نصیب کړی. څومره خلق په دی روژه کښی یا مخکښی څومره مسلمانان و فات شوی دی الله تعالیٰ دی دَ هغوی مغفرت نصیب کړی او آئنده دَ پاره دی الله زمونږ او ستاسو صلاحیت او استعداد په خپل دین باندی اولګوی. اقولُ قولِیُ ھٰذا استغفر الله لِیُ وَلکُمْ وَلِسَائرِ المُسْلِمُنْ.

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر : ”٤“

دُعا (حصه اول)



ځلورمه خطبه: ''**دعا**'' [ړومبئ حصه]

الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره ..... اما بعد فاعوذبالله من الشيطان الرجيم . بسم الله الرحمن الرحيم .

﴿واذا سألك عبادی عنی فانی قريب اجيب دعوة الداع اذا دعان فاليستجيبو الی وليؤمنو ابی لعلهم يرشدون﴾

وقال النبیﷺ: ''الدعاء هو العباده''

﴿ان الله وملٰئكته يصلون علی النبی يا ايها الذين اٰمنوا صلوا عليه و سلموا تسليما..... ﴾

عزتمندو مسلمانانو مشرانو کشرانو ما يو آيت مبارکه او د هغے په ضمن کښی يو حديث مبارکه ذکر کړو. قرآن کريم کښی الله رب العزت د صحابه کرامؓو او د نورو خلقو د نبی عليه السلام نه څه بعضے تپوسونه او د هغے جوابونه ذکر کړے دی. بعض اوقاتو کښی صحابه کرامو ته به يو مسئله راپيخه شوه صحابه کرام ﷺ باوجود دَ دے چه هغوی اهل لسان وو په عربی ژبه ور ته عبور حاصل وو خو هغوی په خپل رائے به عمل نه کولو. صحابه کرامو ته به چه کله يو مسئله را پيخه شوه نو هغوی فوراً نبیؐ ته رجوع کړے ده نو نبی ﷺ الله ته توجه کړے ده نو بيا د برے نه آسمانی وحی نا زله شوی ده.مثلًا: ﴿يسئلونك عن الانفال﴾ د غنيمتونو باره کښی صحابه کرامو ﷺ تپوس او کړو نو د برے نه الله دَ دوی د سوال جواب راولیږلو. ﴿يسئلونك عن المحيض﴾ د زنانو په خاص ايامو کښی بعض خلقو افراط کړے وو نو بعض خلقو تفريط کړے وو د هغے جواب الله ذکر کړو چی ﴿قل هو اَذًا فاعتزلوا النساء فی المحيض﴾

﴿یسئلونك عن الیتٰمی﴾ ﴿یسئلونك عن الشهر الحرام قتال فیه﴾ بار بار ﴿یسئلونك﴾ او ﴿یسئلونك﴾ تپوس کوی ستا نه اے نبی ﷺ تپوس کوی ستا نه اے نبی ﷺ ﴿قل﴾ ته ورته اُوایه اے نبی ﷺ

اکثر ځایونو کښی د نبی کریم ﷺ نه صحابه کرامو تپوس کړے نو الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ته ورته اوایه اے محبوب به قرآن کریم کښی ګنړ مقامات دی نو دے آیت کښی هم تپوس شوی دے خو دَ جواب ورکولو انداز پکښی جدا دے ﴿و اذا سالك عبادی عنی فانی قریب﴾ د نبی کریم ﷺ نه تپوس شوے وو چه ځموبزرب بعید دے "فنناديه ام قريب فننا جيه" لرے دے چه چغے ورته اُوهو او که نِزدے دے چه په رو (په قَلاره) ترے نه سوالونه کوو. دا تپوس دَ نبی ﷺ نه د الله تبارك و تعالیٰ باره کښی شوی دے. او دا سے تپوس به چا کولو نو چه دَ هغوی دَ الله سره مینه وه. د الله سره ئی تعلق وو. الله رب العزت ئی را مدد کول غوښتل . د الله نه ئی سوالونه کول غوښتل، دعا ګانے کول ئی غوښتل نو دا سے تپو سونه هغوی کول نو الله رب العزت دلته کښی دا نه وائی چه محبوبه ته ورته اوایه چه زه نِزدے یم . دے ځائے کښی د جواب انداز جدا دے. ځکه دلته کښی تپوس د الله رب العزت باره کښی کیږی چه الله لرے دے او که نِزدے دے کوم خلق چه تپوس کوی نو الله رب العزت هغه خلقو سره ډارك خطاب کوی ﴿فانی قریب﴾ اے محبوبه چه کله تپوس کوی ستانه ځما بند یګان ځما باره کښی نو اے زما بندیګانو زه نیزدے یم. هغه و سیله ئی ترے نه ختمه کړه. الله ته دو مره دا خلق خوښ شوی دی. ﴿اجیب دعوه الداع.....﴾

زه قبلوم دعا دَ د عا کوونکی . نو دعا گا نے الله قبوی نودے آیت کریمه کښی تر غیب دے د پاره دَ دعا کولو چه الله نه سوال کوئ. دعاگانے غواړئ چه کله هم زمانه غواړئ.

یو روایت کښی راځی کله چه د الله رب العزت بندیگان الله ته لاس پورته کړی(د الله نه سوال کئی) نو کله دَ الله د طرف نه اعلان کیږی : ''هل من مستغفر ، هل من مسترزق''

آیا څوك بخښنه غو ښتونکی شته. آیا څوك رزق غوښتونکی شته دا د شپے په آخری حصه کښی د الله د طرف نه اعلان را ځی . که چا د الله رب العزت خلاف ژوند تیر کړی وی. نا فر مانے ئی کړے وی ګناهونه ئی کړے وی نو دا سے څوك شته زما بند یګانو کښی چه هغه هر څه ور ته معاف کړم او هر څه ور ته ختم کړم. (خو چه څوك وی کنه) نو ځکه الله فرمائی ﴿اجیب دعوة الداع .....﴾ نو دے آیت کښی هم دَ دعا تر غیب دے الله فرمائی زمانه سوال کوئی. زه دعا ګانے قبلوم. بل ځائے کښی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿اُدعو نی استجب لکم﴾ اے ځما بندیګانو ما نه سوال کوی زه دعاګانے قبلوم ﴿ان الذین یستکبرون عن عبادتی سیدخلون جهنم داخرین﴾

کوم خلق چه ځما د عبادت نه، ځما دد عا ګانو نه ځما دپکار نه ځان غټ ګنړی الله فرمائی جهنم ته به ئی ذلیله ور د ننه کړم.

نو الله فرمائی د عا ګانے غواړی . خو ګورے یاد ساتی دا غوښتل به یو اځے د الله نه کیږی. دا غو ښتل به د الله نه علاوه د بل چا نه نه کیږی. ما فوق الاسباب غوښتل. د هغه خلقو باره کښی قرآن کریم ډیر سخت الفاظ ذکر کړے دی. چه کوم خلق خپلو مصیبتونو کښی خپلو

حاجاتو کښی د الله نه علاوه بل چا ته را مدد شه چغے وهی بلکه دا عقیده سا تل پکار دی چی :''صرف اورصرف یااللہ مدد باقی شرک وبدعت''

پکار به الله ته کوی ځکه الله فرمائی ﴿ومن اضل ممن یدعوا من دو ن الله﴾ نشته غټ ګمراه د هغه چا نه چه د الله نه علاوه بل چا ته چغے وهی ''یا معین الدین اجمیری ، یا پیره بابا ، یا کاکا صاحبه ، یا شاه دوله'' نو الله فرمائی ﴿ ومن اضل ممن یدعوا من دون الله﴾ بل ځائے کښی الله فرمائی ﴿لهٗ دعوة الحق﴾ الله لره بلنه حق بلنه ده. او کوم کسان چه د الله نه علاوه بل څوك را مدد کوی

﴿لا یستجیبون لهم بشیء الا کبا سط کفیه الی الماء لیبلغ فاه و ما هو ببالغه . وما دعآء الکفرین الا فی ضلل﴾

قرآن کریم و ر باندے فتویٰ هم لګوی چی ګوری یاد ساتئ الله ته پُکار کول حق چغه ده. دا حق خبره ده. کوم کسان چه د الله نه علاوه بل څوك رامدد کوی بل چا ته چغے وهی ﴿لا یستجیبون لهم بشیء﴾ الله فرمائی دوی دپاره حیث قبولوالے نشی کولے دَ دوی مثال دا سے دے ﴿کباسط کفیه الی لمآء.....﴾ مثال ئی پشان د هغه کس دی لکه چه یو سړی د او بو په غاړه ناست دی او اوبو ته چغے وهی اے اوبو راشئ اے اوبو راشئ نو اوبه نشی راتلے نو دغه شان د الله نه علاوه ستا بل څوك امداد نشی کولے . ﴿ومادعآء الکفرین الا فی ضلل﴾ الله فرمائی د کافر دا چغه په تباهی کښی ده. ځکه الله فرمائی ﴿ اجیب دعوة الداع.....﴾ زه دَ دعا کوونکو د عا قبلوم که زما بندیګان دے زمانه سوال کئی الله بار بار تر غیب ورکوی . احادیثو مبارکو کښی هم تر غیب دے چه نبیؐ فر مائی دعا ګانے غواړے یو صحیح روایت کښی

راځی چی : " الدعاء هو العباده" دا دُعا ګورے بعینه عبادت دے. بیا د مختلف حالاتو دعا ګانے دی (مسنون ادعیه دی) د هغے هم اهتمام پکار دے . ماسختن اوده کیږی. احادیثو مبارکو کښی دُعاګانے راغلی دی

"اللهم با سمك اموت و احیا" "رب قنی عذابك یوم تبعث عبادك" "و فوضت امری الیك ووجهت و جهی الیك وَ اَلجاء ت ظهری الیك رغبة ورهبة الیك لا ملجاء و لا منجأ منك الا الیك اٰمنت بکتابك الذی انزلت ونبیك الذی ارسلت. دا د ما سختن دَ اُوده کیدو دُعاګانے دی.

نو بیا د سحر د پا سیدو دعا ګانے هم احادیثو مبارکو کښی را غلی دی.

"الحمد لله الذی احیانا بعد ما اماتنا والیه النشور"

حمدونه هغه ذات لره دی چه زه ئی د مرګ نه ورستو را ژوندے کړم (ځکه دا خوب خو پشان د مرګ وو) او هغه رب طرف ته ځمونږ دو باره پور ته کیدل دی دا رنګے دصبا دعا : "اللهم بك اصبحنا و بك امسینا و بك نحیا وبك نموت والیك النشور."

د مانښام کیدو په وخت کښی دعا: " اللهم بك امسینا و بك اصبحنا و بك نحیا و بك نموت والیك النشور "

ددے دعا ګانو احادیثو مبارکو کښی بار بار تر غیب را غلے دے. خو نن مونږ سره ددے دیاد ولو د پاره و خت نه وی او نن مونږ سره نه دا سوچ او فکر شته چه زه به بطور مسلمان ځنګه زندګی تیروم په دے دعا ګانو نو څه ډیر وختونه هم نه لګی. دا چه کله انسان عادت شی لکه ځنګه چه مونږ او تاسو ددنیا نور روزګار سره عادت یو نو هغه مونږ ته څوك نه را یا د وی د غه شان به بیا دا هم به مونږ ته څوك نه

یاد وی بلکه دا به ځمونږ او ستا سو رو تیین جو ړ شی. ځمونږ طبیعت بـه دے سره عـادت شی. دا رنګـے احادیثو مبارکو کښی د خوراك دُعاګانے هم را غلے دی نبیؐ سره یو پیره پرکتې خوراك کولو دَ اُم سلمه رضـی الله عـنهـا زوی دے غـالبًـا عـمر نوم ئی دے. نو ما شوم دے نو خـوراك پسـے ئی لاس تاؤلو راتاؤلو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل "یا غلام" اے هلـکـه! چـه ډوډی خـوری نـو "سَـمّ الله" بسم الله و ایه "و کل مما یلیك" د خپل مخـے نه خوره او په خی لاس سره خوره.

د خـوراك چـل ئـی ور تـه او ښودلو بعض روایاتو کښی راځی نبی کریم ﷺ سـره څـه ملګری ناست وو نو خوراك ئی کولو چه کوراك انتهاء ته او ر سیـد و نـو نبـی ﷺ مسـکـی شو ملګرو ترے نه تپوس اوکړو چی جـی تـاسـو ولـے مسـکـے شـوے؟ نـو نبی ﷺ ور تـه ووی چی شیطن درسره بـرابـر لـګیـا وو ډوډئـی در سـره خوړه چه کله دے په آخر کښی کـلمه اووئیله "بسم الله اوله واٰخره" نو شیطان په دے خپل حَلق کښی (تـالـو) ګـوتـے ورکړے او هغه هر څه ئی اُلټیئ کړل. چه پدے خوراك باندے ده "بسم الله" اووئـے نو دا ځمونږ د پاره ندے صحیح .

احادیثـو کښـی راځـی چه شیطان د اخپل اولاد خواره کړی نو چه کوم کـس خپـل کـو رتـه د نـنـه دا خـل شـی او بسم الله او ائی بیا خوراك ته کیـنـی او د بسـم الله ووئی دروازه ئی هم په بسم الله بنده کړه نو شیطان خپـلـو بـچـو تـه وائـی اے بـچو ستا سو د پاره نه دلته د خوراك انتظام شتـه او نه د او سیدو انتظام شته ځکه ده خو بسم الله اووئـے او چه کوم کـس کـور تـه بـغیـر د "بسـم الله" نـه دا خـل شـی (خفـه کیـږو بـه نـه ایماندارونن مونږ ټول کارونه بغیر د کلمـے نه کوو)

بغیر د کلمے نه خوراك ته ناسته کوی نو مشر شیطان دے نوروته وائی ورځی په دغه کور باندے " ادرکتم المبیت " تا سو د شپے تیرولو ځائے اومندو او د خوراك څکاك دَ پاره هم ستاسو دلته کار اوشو نو دا د مختلف اوقاتو دُعاګانے دی د خوراك څکاك دُعاګانے هم راغلے دی د خوراك نه بعد دعا احادیثو مبارکو کښی را غلے ده.
"الحمدلله الذی اطعمنا و سقا نا و جعلنا من المسلمین ."
که د چاسره میلمه شوے ، خوراك دے او کړو نو هغه له هم پکښی دعا اوکړه: " اکل طعامکم الابرار و افطر عندکم الصائمون اللهم بارك لهم فی ما رزقتهم واغفر لهم وارحمهم "
آداب د میملستیا، ډوډی ، د خوب دَ تلو راتلود هغه آدابو باب خو جداد ے په احادیثو مبارکو کښی دا خو صرف دَ دعاګانو خبره کوو.
داسے د ښځے خاوند د خپل خصوصی اوقاتوکښی هم شیطان خپل کشران خوروی. نو چه څوك "بسم الله" اونه وائی نو شیطان نورو ته وائی ستاسو دلته کښی کار اوشو په احادیثو مبارکو کښی دعاګا نے راغلے دی. "اللهم جنبنا الشیطان و جنب الشیطان مار زقتنا"
دعا ګانے اوایه ور نه په اولاد کښی به دے بیا د شیطان مداخلت وی دَ دے دعاګانو ایزده کولو د پاره وخت فارغول پکار دی یا د خپل جماعت او محلے او د کلی دعا لم خوا ته ځه یا تبلیغ کښی ځه ، او دا پکښی ایزده کوه.خونن ایماندارو مونږ دے ته او زګار نه یو ، نو یو دعا ګانے دی د مختلفو اوقاتو دپاره د آذان نه ورستو دُعا ، بیت الخلاء ته د تلو دعا ، دَ بیت الخلاء نه دَ راوَتو دعا ده. پدے باندے محدثینو مستقل کتابونه لیکلے دی. دا رنګے په لاره د تلو ، بازار ته د تلو، جماعت ته د

تلو، جومات نه دَ راوتو دَ دے دُعاګانو اهتمام پکار دے، جومات ته چی داخلیږو نو "اللهم افتح لی ابواب رحمتك" به وایو چی جومات نه راؤځو "نو اللهم انّی اسئلك من فضلك" به وایو چی مسافر رخصتؤ نو سنن ابی داؤد کښی دعا ده چی دا به ورته وایو "استودع الله دینك و امانتك وخواتیم عملك"

دَ دوشمن نه به د ویرے په وخت کښی "اللهم انّا نجعلك فی نحورهم و نعوذبك من شرورهم" وایو. کله چی په پاونړو یا چړائی ور خیژو نو "الله اکبر" ویل پکار وی او دا راکوزیدو په وخت کښی "سبحان الله" ویل. عیادت کښی مریض ته "لا بأس طهور ان شاء الله" ویل.

د میاشت لیدو دعا "اللهم اَهِلّه علینا بالامن والایمان والسلامة والاسلام ربّی و ربك الله"

چی څوك افز نجی او کړی نو "الحمدلله" به ووائی آوریدونکی دَ "الحمدلله" به "یَرحمك الله" اُوو ائی ، نو افزنجی کؤنکی به ورته "یهد یکم الله و یصلح بالکم" او دَ او دس دو ران کښی به دادعا وائی "اللهم اغفرلی ذنبی ووسع لی فی داری و بارك لی فی رزقی" د اودس آخر کښی به دا دعا وایو "اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریك له و اشهد ان محمدا عبده و رسوله" چی مصیبت زده اوینو او دا دعا اُولولو چی "الحمدالله الذی عافانی مما ابتلاك به و فضلنی علیٰ کثیر عن خلق تفضیلا" الله پاك به دعا ویونکی دَ دَغه مصیبت نه محفوظ اوسا تی. مجلس نه چی پاسو نو "سبحانك اللهم و بحمدك اشهدان لا اله الا انت استغفرك و اتوب الیك" لوستل پکار وی. د کور نه چی اوځو نو "بسم الله تو کلت علی الله لا حول و لا قوة بالله" به وایو.

چی کور ته دا خلیږو نو "اللهم انی اسئلك خیر المولج و خیر المخرج بسم الله ولجنا و بسم الله خرجنا و علی الله ربنا توکلنا" به وایو.
بیت الخلاء ته ددا خلید دعا "اللهم انی اعوذبك من الخبث والخبائث" بیت الخلاء نه د و تو په و خت کښی "غفرانك" ویل ثابت دی.
زما عزت مندو چی کله ځمونږ د رب سره مینه وی نو دَ رب دَ رسول سره به مو هم مینه وی. ژوند کښی به خوشحالی او برکت وی.
یو دَ سورلئی دعا ده او یو د سفر دعا نو دواړه زده کول هم پکار دی او دواړه وئیل هم پکار دی دسور لئی دعا ده "سبحان الذی سخرلنا هذا و ما کنا له مقرنین و انا الیٰ ربنا لمنقلبون" او د سفر دعا ده "اللهم انا نسئلك فی سفرنا هذا البر والتقویٰ ومن العمل ما ترضیٰ ، اللهم هون علینا سفرنا هذا و اطوعنا بعده ، اللهم انت الصاحب فی السفر والخلیفه فی الاهل ، اللهم انی اعوذبك من و عثاء السفر و کابة المنظر و سوء المنقلب فی المال والاهل والولد"
او په تنها ئیو کښی الله رب العزت ته ژړا کول خپل ضرورتونه او خپل حاجات الله ته پیش کول. شیخ الاسلام علامه ابن تیمیۃؒ یو دعا ذکر کوی چه دا دعا ځما دَ ډیر وخت نه معمول دے د سحر مانځه پسے .
"یا حیّ یا قیوم لا اله الا انت برحمتك استغیث اصلح لی شانی کله ولا تَکِلْنی اِلیَ نَفْسِیْ طرفة عین" شیخ الاسلام وائی چه ځما څومره وخت او شوچه دا دعا وویم نو ماله چرته هم په حیث کار کښی رکاوټ نه دے راغلے او چه کوم یو کار زما زړه کښی راشی چه دا کار کول پکار دی نو بس فورا هغه کار کیږی.
بیا مفتی شیفؒ لیکلی کله چه ما دا دعا شروع کړے نو ماله چرته

مشکل مخے ته ندے راغلے.
ځما استاذ محترم مفتی مسلم صاحب نستوی سلمه الله تعالیٰ فرمائی مالـه چـه کله څه مشکل مخے ته را غلے دے دَ دے دعا په برکت سره الله مـا ته آسان کړی دے. دا دعا سحر مانځه پسے ۴۰ پیرے وئیل پکار دی "اصلح لی شأنی" سره بـه سوچ اوکړے چه کوم یو کار دے په تـصور کښی دے نـو هغـه سوچ ته راوله "ولا تکلنی الی نفسی طرفة عین" یا الله خپل نفس ته د سترګو دَ رپ برابر هم پرے نه دے.
پـه چـا چـی قـرض وی نـو دعـا دے وائـی د سـحر مانځه پسے ورستو.
"اللهم اکفنی بحلالك عن حرامك وَ اغننی بفضلك عمن سواك"
دا دعـا اوایـه قرض به دی ختم شی که د غرونو برابر قرض دے ولے نه وی. دا دُعـا سـحـر مانځه پسے معمول اوګرځوه، دا رنګے بعض علماء ذکـر کـوی د سحر د مانځه نه ورستو "بسم الله الر حمن الرحیم" دا 'م' د "الحمد لله" سره او تړه "بسم الله الر حمن الر حیم الحمد الله ..... "
یـو څلویښت پیرے وایه نو تا ته به بیا مشکلات مخے ته نه را ځی دَ ده غوره و خت علماء ذکر کوی د سحر د سنتو او فر ضو په مینځ کښی خـو دا ئـی مطلب نه دے چه تا نه سحر د امامتی مونځ شوی دے او تا سـنـت اوکړو بیـا دعـا تـه نـاست ئی. دا رو حانی علاج هم دی. نن خلق پـریشـانـو کښی مبتـلا دی قسـم می دی په الله که مونږ دے رو حانی عـلاج طـرف تـه را غـلـو نو پریشانے به په خپله ختمے شی. زړه ته به سکون ملا ویږی ځکه د الله اعلان دے.﴿الابذکر الله تطمئن القلوب﴾ " د الله پـه ذکر سره زړونو ته اطمینان ملا ویږی نو دیکښی اشاره ده چه هر حال کښی الله طرف ته توجه پکارده ځکه الله اعلان کوی .

﴿واذا سئلك عبادی غنی فانی قریب اجیب دعوة الداع اذادعان﴾
الله فرمائی زه قبلوم دعا ددعا کوونکښی کله هم چه زمانه سوال کوی داخو الله اعلان کوی نو چه یو سړی را پا سیدلے دے د شپے په آخری حصه کښی ټول خلق او ده دی. او دوه رکعت نفل اوکړی. او ډیر ساړه هم وی نو هغه ذات خو لیدل کوی د هغه نه خو څه پټ ندی او هغه وخت کښی د الله د طرف نه اعلان کیږی آیا څوك غو ښتونکی شته.
او دلته ور ته انسان لاس پور ته کړیدے او جاړی ور ته چی یا الله :
﴿یا مقلبَ القُلوب ثَبّت قَلبی علی دینك ویا مصرف القلوب صرف قلبی علی طاعتك﴾
اے دزړونو اړونکی را ړونکی ذاته زما زړه په خپل دین کلك کړے یا الله ما د خپل طاعت نه وانړی یا الله زه خو د ګناهونو نه ډك یمه، ربه ستر ګے می په ګناه ککړے ، غوږونه می په ګناه ککړ ، ربه سوچ می ګنده ، فکر می ګنده، تصورات می ګنده، خیالات می ګنده ربه زه خو د سر نه را وخلے تر خپو پورے په ګناهو کښی ډك یمه.

سراپا معصیت میں ہوں سر پا مغفرت تو ہے
خطا کوشی روش میری خطا پوشی ہے کام تجھ کا

ربه زه خود ګناهونو نه ډك یمه. خو ربه ته خو ډیر کریم ذات ئی ربه ګناهونه کول خوزما کار دے خو ته به ئی را ته پټوی ، پرده به پرے اچوی او ته به ئی را ته معاف کوی .نو ربه دا ګناهونه را ته معاف کړے دے ګناهونو سره چرته ددنیا نه لاړ نشم اوالله ته په دغه وخت کښی انسان لاس پورته کړی وی چی اے ځما ربه

الهی عبدك العاصی اتاك مقراً بالذنوب و قدد عاك
فان تغفر فانت لذالك اهل وان تترك فمن یرحم سواك

اے ځمارېه ستا تختيدلے بهګوړه غلام ستا در ته بيا را غلے. چه يو انسان دغه وخت کښی الله سره لائن برابر کړی وی نو څومره مزه به وی څومره لذت به وی هيڅوك هم نه وی او انسان الله ته لاس پور ته کړے دے او الله ته وائی مقراً بالذنوب و قد دعاك اے ربه اقبال جرم کووم، اقرار جرم کوم ربه ستا چه کوم بګوړه غلام ستا در ته راغلے دخپلو ګناهونو اقرار کوی. د خپلو جرمونو اعتراف کوی (اللهاکبرکبيرا) د اخو اَلله اعلان کړے دے چه څوك غوښتونکی شته او دلته ورته د الله يو بنده لاس پور ته کړی وی چه "الهیٰ عبدك العاصی اتاك"

اے ربه ستا غلام د خپلو ګناهونو اقرار و اعتراف کوی "و قد دعاك" او تا نه سوال کوی. "و ان تغفر فانت لذاك اهل، و ان تترك فمن يرحم سواك." نو اے ربه که ځما په ګناهونو دے آل ډيليټ را وستو . ربه ګناهونه خو می ډير کړے نوپه ګنړه کښی می هم کړی دی . ربه سترګے می غلطے استعمال شوی، غوږرونه می غلط استعمال شوی، لا سونه می غلط استعمال شوی، نو خپے می غلطو طرفته ورغلے دی نو اے ځما ربه "وان تغفر فانت لذاك اهل" که ما ته دے ټول ګناهونه معاف کړه نو ته ددے لائق ئی چه دا سے اوکړے(ته داسے کولے شی ربه) ستا نه خو څوك تپوس کولو والا نشسته چه دا مجرمان دے ولے معاف کړه ، خو اے ربه "وان تترك فمن يرحم سواك" او که ربه زه دے معاف نه کړم نوبيا : "فالیٰ ای باب اقرع" نو ربه بيا به زه کوم در ټکوومه بيا به زه چا ته ځم.

خو دا چه د انسان د الله سره تعلق جو ړ شی نو بيا ور ته دا خبرے خوند ورکوی او ددے سره به انسان بيا د خپلو او ښکو ډالی هم ليږی نن

ځمونږ د الله سره تعلق نشته مونږ نن په دنیا کښی دومره وړوب شوی یو ځمونږ نن ددنیا دلذتو نو سره ددنیا خواهشا تو سره د ګناهو سره د مال سره د مادے سره دومره محبت را غلے دے چه مونږ پکښی دے څیزونو ته نه او ز ګارېږو. نو ځان به لږ لږ او ز ګارول پکاری.

مونږ چه بیان واورو، تقریرواورو ، و عظ واورو نووایو هلکه نن خوپکښی مولوی صاحب په دا سے لاړو ، دا موضوع ئی پکښی او چیرلـه او یار ډیر خه تقریری او کړو، ډیر خه بیان ئی اوکړو. د فلانکی غم کښی د فلانکی مولوی صاحب را غلے وو نو دا خلق ئی ډیر اوجړول.

ایماندرو عمل صرف تقریر او ریدل په غم کښی ، جمعو کښی په تبلیغ کښی په نو رو مو قعو باندے تقریر اوریدل نه دی بلکه چه د انسان ژوند کښی تبدیلی راشی. خپل ژوند به بدلول پکار وی پدے وجه دَ الله سره تعلق غواړی چه کله الله سره تعلق قائم شو نو بیا به دعا ګانو کښی انسان ستړے کیږی نا بیا به وائی چه ځان می پدے کښی نو ر هم ستړے کړے. د الله نه به په ګهنټو ګهنټو سوالونه کوی او جاړی به او بنکے به بهیږی ، دے به وائی چه ما څوك دَ ځائے نه نه پا سوی چه زه هغه رب سره راز ونیاز کوومه.

ہمارا کام ہے راتوں کو رونا یاد دلبر میں

یو صحابی دے لاس ئی پور ته کړی د عا غواړی صحابی خو صحابی وو دعا ګانے غواړی حضرت مولانا محمد یوسف رحمه الله "حیاة الصحابه" کښی دهغوی هغه دعا ذکر کړے ده. په دعا کښی

وړوب دے. خود الله سره تعلق هم دے او د الله معرفت هم ور ته حا صل دے. خو څه ډیرناشنا نا شنا الفاظ هم وائی دعا غواړی لاس ئی پور ته کړے دے

یا من لا تراه العیون و لا تخالطه الظنون
ولا یصفه الواصفون ولا تغیره الحوادث
ولا یخشی الدوائر و یعلم مثا قیل الجبال و مکائیل البحار
و عدد قطر الامطار و عدد ورق الاشجار
و عدد ما اظلم علیه اللیل و اشرق علیه النهار

اے هغه ذاته تا ددنیا ستړګے په دنیا کښی نشی لیدے (ته دا سے ذات ئی) ربه ستا هغه کبریائی د چا په خیال و ګمان کښی نشی را تلے. ربه ستا کما حقه تو صیف او ثناء نشی کیدے . ربه ددنیا انقلابات په تا باندے نظر انداز کیږی نا. ته د تغیر او تبدل نه پاك ئی. ربه ته خو هغه ذات ئی چه ته دهوا ګانو د سمندرونو د یو یو چپے نه خبر داری . ربه ته خو هغه ذات ئی څومره باران چه تا په دنیا کښی را ورولے دے او څومره راورے. څومره قطرے دی هغه ستا په علم کښی دی. ربه ته خو هغه ذات ئی په دنیا کښی څومره او نے (درخت) دی او نو کښی څومره پانړے دی نو په پانړو کښی څومره رګونه په رګونو کښی څومره ریشے دی هغه ستا په علم کښی دی. ربه په دنیا کښی څومره شپے تیرے شوی دی څومره ور ځے پکښی را غلے دی. ربه پدے غرونو کښی څومره کانړی دی. ربه دے نه څومره څومره ذرے جو ړیږی دا ستا په علم کښی دی. ربه ستا نه په آسمان کښی څه نه پټیږی نو په زمکه کښی څه نه پټیږی

صحابی لګیا دے خوند ئی ور کړے دے. او مونږ چه دعا ګانے کوو. نو یا الله ما او بخښی مور او پلار او بخښی د ضرب ضربا ضربوا ګردان مو یاد کړے ئی . مونږ دعا غواړو نا ، مونږ دَ دُعا ګردان وایو.


ځما عزتمندو ! دعا په اصل کښی د غو ښتلو نوم دے. مونږ خو صرف رټه لګولے وی. ددعا د پاره څه آداب دی ددعا قبلیدو د پاره څه شرائط دی چه دعا غواړو په التحیات شکل کښی دے کینو لا سونه دے ډیر او چتوی نا(واو ګونه دے نه بره کوی)

او مخکښی دے درود شریف اوائی، استغفار دے اوائی بیا دے د الله صفات بیان کړی. او خپل ځان دے الله ته انتهائی عاجزه او محتاجه او ګنړی. ګنهګار دے ځان او ګنړی . او لږ لږ دے ا لله ته او جاړی آخر کښی دے بیا بیا درود شریف اولولی او په آخر کښی دے آمین اوائی نو دا دعا ګانے به قبلیږی. او دعا قبلیدو نخه داده بعض علماء ذکرکوی چه په دعا کښی دده ستر ګو نه اوښکے روځی چه انسان دعا غواړی او په ده باندے غونی زیګ زیګ شی او مونږ څنګه دعا کوو. مونږ که غم ته لاړ شو نو غم کښی ځمونږ دعا څنګه ئی " دعا به او کړو" نو څومره خلق چی دعا کوی نو که تپوس ترے نه او کړے چه تا دعا کښی څه اووئے نو حیث ئی هم پکښی نه ئی ووئیلے صرف په غم کښی ئی خپله حا ضری لګولے وی الله دے مونږ ته د صحیح دعا کولو تو فیق نصیب کړی. (آمین ثم آمین)

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر : ''٥''

دُعا (حصه دوم)



پینځمه خطبه: ''**دعا**'' [دویمه حصه]

الحمد لله نحمده ونستعينه و نستغفره و نعوذبا الله من شرور انفسنا و من سيأت اعمالنا من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا هادی له و اشهدان لا اله الا الله اللهم انك تسمع كلا می و تریٰ مكانی و تعلم سری وعلانيتی لا يخفیٰ عليك شئ من امری انا بائيس الفقير المستغيث المستجير المقر المعترف بذنوبی اسئلك وابتهل اليك ابتهال المذنب الذليل وادعوك دعاء الخائف الغريق و دعاء من خضعت لك رقبة ، و رغم لك انفة ، اللهم لا تجعلنی بد عاء ك شقيا ، وكن بی رؤف الر حيم. يا ارحم الراحمين ، يا ارحم الراحمين ، يا ارحم الراحمين ، و اشهد انّ سيدنا و سندنا و حبيبنا و محبوبنا و محبوب ربنا و اعلانا و اولانا و مولانا محمدًا عبده و ر سوله ، اما بعد! فقد قال النبیﷺ ما من مسلم يد عوا بدعوة ليس فيها اسم قطيعة رحم الا اعطاه الله بها احدی الثلث اما ان يجعل له دعوته و اما ان يؤخره له و اما ان يكف عنه من السوء بمثلها قالو اذا اقصر قال الله اكبر.

عزتمندو مسلمانانو ددعا باره كښی مخكښی څه تذكره شوی وه چه الله رب العزت په خپل كتاب عظيم كښی ددعا ګا نو ترغيب ذكر كړے الله فر مائی: ځمابنده ځمانه سوال كوه زه د خپلو بند يګانو دعا ګانے قبلوم. بيا مونږ بعض دعا ګا نے هم ذكركړے وئے . دَ خاص وختونو دَ پاره دُعاګانے. بيا ذ هن ته سوال را تلو چه مونږ خو ډير كرته دعا ګانے كوو او ډير كر ته ځمونږ دعا ګانے نه قبليږی . او په قرآن كريم كښی ددعا ګانو ترغيب دے. احاديثو مبارکو كښی دَ دُعاګانو ترغيب دے. امام بخاری مستقل كتاب الدعواة ذكر كړے دے او په هغے

کښی ئی یوسل پنځه څلویښت احادیث مرفوعه ذکر کړی دی او یو کم اویا بابونه. الله فرمائی مانه سوال کوئ. دعا ګانے غواړئ زه ئی قبلوم نو دُعا ګانے ولے نه قبلیږی؟ دَ دُعا د قبلیدو دَ پاره څه شرائط او آداب دی؟ نو دے بیان کښی به ان شاء الله دَ دُعا څه بعض آداب بیانیږی.

تفسیر قرطبی ذکر کوی چی د حضرت ابراهیم بن ادهمؒ نه چا تپوس او کړو چی مونږ دعا کوؤ او قبلیږی نه دا څه وجه ده نو حضرت ور ته اوفرمائیل :

" لانکم عرفتم الله فلم تطیعوه" چی تا سو الله خه پیژنی او بیائی هم تابعداری نه کوئ. "و عرفتم الرسول فلم تتبعوا سنته" او تا سو پیغمبرﷺ پیژنی او د سنتو تا بعداری ئی نه کوے. "و عرفتم القرآن فلم تعملوا به" په قرآن پوهیږئی او عمل پرے نه کوے. "و اکلتم نعم الله فلم تؤدوا شکرها." د الله نعمتونه خوری او شکرئی نه ادا کوئ. "و عرفتم الجنة فلم تطلبوها" جنت پیژنی او غواړئی نا. "و عرفتم النار فلم تهربوا منها" جهنم پیژنئ او تیخته ترے نه کوئ. "و عرفتم الشیطن فلم تحاربوه وواو فقتموه" شیطان پیژنئ او خلاف ئی نه کوئ بلکه ملګرتیا ئی کوئ. "و عرفتم الموت فلم تستعدوا له" مرګ پیژنئ او تیارے ورته نه کوئ. "و دفنتم الاموات فلم تعتبروا" مړی دَفن کوئ او عبرت ترے نه حاصلوئ. "و ترکتم عیوبکم واشتغلتم بعیوب الناس" خپل عیبونه در نه پټ دی او د خلقو عیبونو کښی مشغوله ئی.

نو ځما عزت مندو دعا خود مومن د پاره هتیار دے. د عبادت او د بند ګئ اودعبدیت نچوړ دعا ده. ددرمنده زړونو دپریشانه زړونو ددنیا د هر یو سهارونه د ما یو سه خلقو دپاره د عا یو لویه سهاره ده او بیا خا صکر

په سخت مصیبتونو کښی په هغے کښی د انسان د پاره د مصیبتونو نه نجات دے نو دعا گا نے الله رب العزت قبلوی خود دعا گانو د پاره څه آداب او شرائط دی نو هغه بعض مونږ ذکر کوو. که چری د هغی آدابو خیال او سا تلے شی، د هغے رعایت او کړے شی نو بیا به دعاگانے قبلیږی. اما م بخاری په خپل صحیح بخاری کښی هم ددعا گا نو بعضے آداب بیان کړی. احادیث مبارکه ئی ذکر کړے دی .

اول ادب:

امام بخاری باب قائم کړے " باب الدعاء عند الوضوء" نو هغے کښی ئی روایت ذکر کړے . سیدنا ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه راغلو نبی ﷺ ته ئی دَ دُعا درخواست اوکړو چه ما دَ پاره دُعا او کړه نو نبی کریم ﷺ هغه وخت کښی اوبه راؤغښتی او اودس ئی اوکړو بیا نبی ﷺ لا سونه پورته کړه او دعائی اوغوښتله.

نو دے حدیث نه دا معلومه شوه چه ددعا آدابو نه یو ادب دادے چه انسان د اودس په حالت کښی دعا غواړی کچرته ممکن وی او څه تکلیف نه وی او که مو قع نه ئی نو بغیر د اودس نه هم دعا غوښتلے شی اودس څه فرض واجب نه دی. خو ادب دا دے چه او دس کښی اوغستلے شی ځکه چه اودس کښی انسان وی نو دے په طهارت کښی ئی او طهارت خو ځان ته نیم(نصف) ایمان وی

دویم ادب:

قبلے طرف ته مخ کول امام بخاریؒ باب قائم کړے. باب الدعاء مستقبل القبله" او د نبیؑ ګنړ روایات ئی ذکر کړے دی چه "استقبل النبی ﷺ الکعبة فدعا عن نفر من قریش" نبی ﷺ دعا

غـوښتله سوال ئی کولو دَ الله نه د قریشو یو ډلے ته ئی خیر ے کولے ځکه هغوی مسلمانانو ته ډیر تکلیفونه رسولے وو.

نـن مونږ دَ الله نه ګیلے کوو چه سوال کوو او سوال نه قبلیږی نو تا اول دعـا کړے نـده. نـه مـونـږ د چا خواته تلے یو د علماؤ خواته د نیکا نو خـواتـه چـه دا دعـا بـه ځـنـګـه قبـلیږی دے دپاره کوم آداب دی او کوم شرائط دی. ددنیا څیزونو د پاره مونږ د هغـے ما هر ینو پسـے ګرځو چه دا تخم به کوم وخت کښی کیږی. او کوم قسم تخم صحیح دے او دا به ریـټ کـوم وخـت کښـی کـوی . پـه هـغـے کښی پوره معلومات کوو او دلته حیث څه سوچ او فکر را سره نشـته دے.

دریم ادب:

پـه دعـا کښـی لاس پـورتـه کـول دَ دعا دَ آدابو نه دی. که بعض وخت کښی مو قع نه وی او لاس څوك اوچت نه کړی نو دا اجازت شته دَ نبـی ﷺ نـه لاس پـور تـه کـول پـه دعـا ګـانـو کښی ثابت دی یو روایت کښـی راځـی ،امام بخاری کتاب المغازی کښی روایت ذکر کوی: ''رفع النبی ﷺ یدیه ، اللهم انی ابرء الیك مما صنع خالد ''

بـل روایـت کښـی راځـی، امـام تـرمـذی روایـت ذکـر کـړے چـه نبی ﷺ فـرمـائـی: ''ان الله حیّ کریم یستحی اذا رفع الرجل الیه یدیه ان یردهما صفرا خائبتین'' (ترمذی ٣٥٥٦)

یـقـیـنًا الله ډیر حیاء والا ذات دے ډیر کریم ذات دے چه د الله یو بنده الله تـه لاس پـور تـه کـړی او الله رب الـعـزت ورته دا لاسونه نامراده او خالی واپس کړی دا دَ الله شان نه دے.

دعـاګـانـو کښـی لاس پـورتـه کـول دادالله سـره تعلق غواړی ، محبت

غـواړی د الله پـه طـاقتـونـو او خـزانـو نـظر لرل نو بیا انسان غـواړی چه غـواړم تـرے نـه هـغه سره خود هیڅ یو څیز کمے نشته ځکه الله رب العزت پخپله فرمائی ﴿وان من شیء الا عندنا خزائنه﴾

اے ځما بندیګانو دا سے یو څیز نشته چه ما سره ئی خزانے نه وی. الله سره درحمت خزانے بے شماره د مالونو خزانے بے شماره ﴿و ان من شیء الا عند نا خزائنه﴾

وہ کیا ہے جو نہیں ملتا خدا سے جیسے تم مانگتے ہو غیر اللہ سے

امام بخاریؒ باب قائم کړے دے.

" باب الرفع الایدی فی الدعاء" په دعا کښی لاس پورته کول. لاسونـه پـورته کول به څنګه ئی؟ علماء د هغے طریقه ذکرکوی. چه د دواړو لا سـونـو تـلـی دے پورته کړی وی .په التا لاس دعا کولو نه منع راغـلـے دی بلکه احادیثو مبارکو کښی راځی تا سو دے خپلو تلو سره پـه سیـد ها لاس دعا کوی التا لا سونه مه پو ر ته کوی. اوس هم بعض خـلق وائی" چه اُلتـه لاسونه ورپسی او چت کړونو تباه بر باد به شی" نو دا دَ دُعـا دَ آدابـو خـلاف دی. ځـکـه یو روایت دی ابو داؤد ذکرکوی نبی کریم ﷺ فرمائی"اذاسئلتم اللهببطون اکفکم ولا تساء لوه بظهورها" (سنن ابی داؤد۱۴۸٦)

چـه کـلـه سـوال کـوئ نـو پـه اُلتـه لا سونو سره سوال مه کوئ بلکه په سید ها لا س دعاکوئ (د لاسونو په ګیډو سره)

بـعـضی روایا تو نه دا ثابت ده چه اوږو ته مخامخ لا سونه پو ر ته کوی دے نـه ئـی مـه بـره کـوی. بعض خلق پکښی د سر نه هم لا سونه پو ر ته کوی دغـه نـاجـائـزدی. اوبـعـض خـلـقـو ډیـر زیـات ځان سره نیزدی کړی وی. دَ

التحیات په شکل کښی نسته پکار ده. که چا ته څه تکلیف نه وی او قبلے طرف ته مخ وی او په اودس کښی وی د اللہ نه سوال کوی چه یا اللہ بل در راته نه دے معلوم یا اللہ ځما مشکلات حل کولو والا ته ئی ځما پریشانے حل کولو والا ته ئی او اے ربه! که ته ئی را ته نه حل کوی او ته ځما پریشانے نه ختموی نو دَ دُنیا هیڅ یو طاقت ئی راته نه شی ختمولے. نو بیا په هغه دعا کښی د انسان زړه لګی او که ستا زړه غواړی او که نه خو ستا د ستر ګو نه به پخپله او خکے روانے وی . پخپله به دالله سره یو کنکشن برابر شی . پدے وجه ابو داؤد کښی یو روایت راځی چه کله دعا او سوال کوی نو دواړه لا سونه اوړو ته برابر او چتوی. بل یو روایت کښی راځی چه نبی کریم ﷺ دعا غوښتله لا سو نه ئی پو ر ته کړه. او صحابی وائی " ورأیت بیاض ابطیه"(بخاری ص ۱۶۰۲)

ما ته دنبی ﷺ د ترخونو سپین والے په نظرا غلو.(دنبی ﷺ دَ ترخونو نه یو رنړا راووته دا دَ نبی ﷺ معجزه وه حالانکه ترخونو کښی یو تیاره غوندے په نظر راځی)

نن ځمونږ ډیرے ښکلے دُعا ګانے وی مونږ خو دُعاګانے نه غواړو او نه دعا ګانے کوو او بیا وا یو ځمونږ دعا اللہ نه قبلوی. مونږ خو دُعا پو رے کله کله توقے کوؤ. که دعا غواړے نو لږ وخت ورته ورکړه. لږ دَ آدابو خیال ئی اوساته.

نو یو ادب دا چه دعا کښی لاس پو ر ته کول او دپو ر ته کولو هغه مقدار هم ذکر شو دا حادیثو مبارکو په رنړا کښی چه اوږے ته برابر لاس پو ر ته کول که لږ نِزدے وی نو هم خیر دے.

څلورم ادب:

دَ دُعـا پـه آخرکښی د الله رب العزت حمد و ثناء ذکر کړے شی او پـه نبی پاك بانـدی درود پاك اووئیـلے شی. دایو اهم ادب دے نن ددے نـه ډیـره زیـاتـه کـو تـا هـی کیـږی پـه معاشره کښی . او چـه پـه وړوکـوالـی کښـی مو کوم ګردان یاد کړے وی نو هغه وایو ددے آدابو لحاظ خو پکښی مونږ اډو سا تونه.

یو تن را غـے مونځ ئی اوکړو او دعائی کوله " اللهم اغفرلی وارحمنی" یـا الله مـا او بـخښـے او ما باندے رحم اوکړے. نبی ور ته اووئـے هلکه دلته را شه ور ته ئی ووئـے تا ډیره تلوار او نکړه (ډیره زر دے دعا اوکړه) چـه کـلـه ته مونځ کوی نو کینه او د الله حمد بیان کړه. د الله لوئی بیان کـړه. درود شـریف اولـولـه نـو بیا دعا اوغواړه او د الله حمد و ثناء او درود شـریف پـه آخر کښی اولوله. بیا بل تن راغـے هغوی هم مونځ اوکړو او بیـائـی د الله حـمـد و ثـنـاء اووئـے. درود شریف ئی اولوستو نبیؐ ور ته او فـرمائیـل (ایها المصلی ادع تجب) اے مونځ کونکیه اوس سوال کوه ستا سوال قبلیږی (دا روایت امام تر مذی ذکر کړے)

ځکه تا د ادابو خیال او ساتلو.

ددے وجـه نه علما ذکر کوی چه کوم کس لاس پو ر ته کړو او دے وائی الـلهـم صـل علی محمد وعلی اٰل محمد . نو دا الله پاك نه رد کوی چه چه اے الله پاکه! ته په نبی ﷺ بـانـدے رحمتونه اولیږی نو ستا سو څه خیـال دے چه دا خبره به الله رد کړی؟ او بیا چه په آخر کښی هم دا سے اوائی چه اللهم صل علی محمد ..... او په دے مینځ کښی ئی چه کوم سوال کړے ئی نو دا خو دالله د شان سره نه ښائی چه وړومبی او آخری

خبره ئی نه رد کوی او مینځ کښی ور ته الله رد کړی (دا ډیره زبر دسته نکنه ده خو که ځمونږ ذهن پدے کار اوکړو)

محدثین ذکر کوی چه کله یو انسان دعا غواړی او دے درود پاك اوائی نو د ادرود پاك الله نه رد کوی او که په آخر کښی په نبی بیادرود اوائی نو بیائی هم الله نه رد کوی نو که ددے په مینځ کښی څه د خپل مغفرت سوال اوکړی څه د خپلو مشکلا تو د الله نه سوال کوی نوولے هغه به ور ته الله رد کوی څه؟ چرے هم نا لهذا ددعا په اول او اٰخر کښی ددرود اهتمام پکار دے.

پنځم ادب:

په دعا کښی د خپلے عاجزی اظهار کول د خپلو ګناهونو اقرار او اعتراف کول چه یا الله زه ډیر ګنهګار یمه . یا الله د ګناهونو نه ډك یمه. ربه سترګے می په ګناه باندے ککړے دی. ژبه می په ګناه باندی ککړه ده. ربه هر طرف ته د ګناه ما حول دے را ته او هر طرف نه د ګناه نه ډك یمه

سراپا معصیت میں ہوں　　سراپا مغفرت تو ہے
خطا کوشی روش میری　　خطاپوشی ہے کام تجھ کا

یا الله زه د سر نه را واخلے تر خپو پورے د ګناهو نو نه ډك یمه ربه زه انسان یمه نو زه کمزورے یمه. نو مانه به ګناه کیږی او بخښنه خو ستا کار دے نو ربه ته بخښنه اوکړے ددعا په آدابو کښی دا ده چه انسان ددعا په آدابو کښی لږ لږ خپل ګناهونه الله ته ذکر کړی چه یا الله دا ګناه می کړے او دا ګناه می کړے د خپلو ګناهونو اعتراف اوکړی ځکه یو روایت کښی راځی . امام احمدؒ خپل مسند کښی ذکر کړے دے.

چه الله پاك هغه بنده ته ډیر خوشحالیږی او ډیر تعجب کوی. ان الله لیعجب من العبد ،چی دے الله ته لاس پور ته کړی او دے وائی. (لا اله الا انت انی قد ظلمت نفسی فاغفرلی ذنوبی چه ربه ستا نه علاوه بل څوك حاجت سر کولو والا نشته ما په خپل ځان ظلم کړے دے. ګناهونه می کړے دی. نور به ماله ځما ګناهونه معاف کړے. فانه لا یغفر الذنوب الا انت ربه ستا نه بغیر حیث څوك ګناهونه معاف کولووالا نشته. نو الله فرمائی عبدی عرف ان له ربا یغفر ویعاقب (مسند احمد ۹۷)

ځمادا بنده په دے خبره پو هیږی چه دده رب هم شته چه هغه ګناهونه معاف کوی الله ډیر زیات خوشحالیږی دے بنده ته

نو ددعا په آدابو کښی دادی چه د خپلو ګناهو نو د خپلو کمو کوتا هو اقرار او اعتراف اوکړیشی.

<u>شپږم ادب:</u>

دَ دعا په قلبیدو باندے یقین کول دا نه چه ګوروئی کچر ته دے پکښی سمے او خوړو. په دے باندے الله خفه کیږی هغه ورځ چا یو ما شوم دم ته راوستو. ووئے جی ډاکټر انو باندمے ستړے شو نو که چرته دے دم سمے او خوړو. نو ما ورته ووئے بالکل به دا سمے نه خوری ته دے په خپله عقیده باندے تو به او با سه د الله باره کښی ته دومره غلط سوچ لرے. قرآن کریم شفاء ده د با طنی مرضونو د پاره هم د ظاهری مر ضونو د پاره هم او که ته وئے دے دم چر ته سمے او خوړو نو ټول عمر به د غه شان کړیګے. د شپے به دَ دے ماشوم د لاس نه خوب نه شی کولے تو به او با سه.

حدیث پاك کښی راځی نبی کریم ﷺ فرمائی امام ترمذیؒ روایت ذکر کړے "ادعوا الله وانتم مو قنون بالاجابة"

د الله نه سوال کوئ، دعا ګانے غواړئ چی تا سو یقین کونکی ئی دَ دُعا په قبلیدو باندے. چه الله پاك دعا قبلولو والا ذات دے ، ولے الله پاك خو "العیاذ بالله" څه دروغ وئیل چه ځمانه غواړئ زه دُعاګانے قبلوم، او ته ووئے چه زه ئی ګورم او ترائی په دے باندے کوم دا غلط سوچ دے ځکه حدیث قد سی دے الله فرمائی : "انا عند ظن عبد بی"

زه خپل بنده سره دا سے معامله کوم چه څنګه په ما باندے دده ګمان وی نن ځمونږ په الله څنګه ګمان دے (الله اکبر کبیراً) ځان سره په تنهائی کښی پدے خبرو سوچ پکار دے چه ځمونږ په الله باندے کوم ګمان دے . نو الله مونږ سره ځمونږ دَ ګمان متعلق معامله کوی. نو دے حدیث کښی وائی نبی ﷺ فرمائی: "ادعوا الله وا نتم مو قنون بالاجابة" تا سو د الله نه غواړے په دا سے حال کښی چه تا سو یقین کوونکی ئی دَ دُعا په قبلیدو باندے .

"واعلموا ان الله لا یستجیب دعاء من قلب غافل" ځان پو هه کړے چه الله دَ غافل زړه دُعاګانے نه قبلوی .

چه کوم زړه په غفلت کښی دے الله پاك ته د غفلت زړه والا د سوالونو هیڅ ضرورت نشته. چه کوم انسان بے پروائی سره سوال کوی څه توجه ئی خپله نه ده برابر کړے . بے پر وائی سره لګیا دے سوال کوی نودے روایت کښی را غلۀ. چه کوم بے پرواه انسان ، غافله زړه د هغه دعا ګا نے الله نه قبلوی .

په دے وجه دعا کښی مکمل عزم پکار دے شك او تردّد به پکښی نه

کـے ، پـه دے وجـه امـام بـخـا ری بـاب قـائـم کړے دے: " باب لیعزم الـمسـئـلة فـانه لا مکره له" په سوال کولو کښی کلك عزم سا ته چه دا سوال به ځما الله پاك قبلوی .

اووم ادب:

ددعـا الـفاظ درے پیرے وئیـل یو خو بعض عـلا قو کښی ددعا تـر تیـب دا وی چـه امـام صـاحـب دعـا کوی نو یو پیره دعا اوکړی نو بیا لاس پـو ر تـه کړی نو وائی" دعا برائـے شفائـے مریضان " دعائـے برائـے فـلان فـلان. د غـه تـر تیـب پیـغـمبرﷺ نه نۀ دے ثابت. البتـه احادیثو مبـارکـو کښی دَ نبی ﷺ نه دا ثبوت شتـه چه نبی ﷺ یو سوال کوی نو درے کـرتـه هـغـه سـوال کـوی نو بعض خلقو ترے نه د غه بل مطلب اغستـے دے.

بخاری شریف کښی هم روایت دے. مسلم شریف هم روایت ذکر کړے دنبی ﷺ باره کښ چی: "کان اذ دعا دعا ثلثا و اذا سئُل سئل ثلٰثا."

چـه کـله نبیﷺ دعا کوله نو درے پیرے ئی دعا کوله. هغه الفاظ ئی درے پیرے ووئیـل دا نه چه ووئیـل به ئی چه بیا دعا اوکړے ، او بیا دعا اوکړے ، او بیا دعا او کړے. دا تر تیب ئی نه دے کړے. سوال ئی د الله نه کولو نو درے پیرے به ئی سوال کولو.

بـل یـوروایـت کښـی راځی ابن ماجه کښی روایت دے نبیﷺ فرمائی کـوم کس چه د الله نه درے پیرے جنت وغواړی چه دے وائی :"اللهم انـی اسـئـلك الـجنة اللهم انی اسئلك الجنة . اللهم انی اسئلك الجنة. الـلهـم انـی اعـوذبك مـن النار . اللهم انی اعو ذبك من النار ، اللهم انی اعو ذ بك من النار "

نو ابن ماجه کښی روایت دے چه کوم کس د الله رب العزت نه درے پیرے جنت او غواړی او درے پیرے د جهنم نه پناه اوغواړی نو دا جنت وائی چه یا الله پاکه دا انسان درنه ما غواړی نو دے ما ته را ولے او کوم کس چه درے پیرے د جهنم نه پناه اغواړی نو دا جهنم وائی چه یا الله دا انسان ځما نه او سا تی ځمانه ئی بچ کړے او ما ته ئی مه راولی (الله اکبر کبیراً)

نن مونږ د الله نه ګیلے کوو چه الله ځمونږ دعا ګانے نه قبلوی مونږ چرته دعا ګا نو آداب ایزده کړی څه؟ نو یو ادب ددی چه دعا کښی زاری پکار ده چمتې جانا(انختل) بعض علماء ئی مثال ذکر کوی.

مثال: لکه څنګه چه یو ما شوم بچے وی او ډاکټر پرے غوړ څیزونه بند کړے وی چه دے ما شوم ته به غوړ څه نه ورکوی. او دا ماشوم جاړی او ر مور ئی دلمنے نه نیولے وی او چغے ور ته وهی. چه ماله پراته او ماله پراته نو دا ما شوم په دغه ژړا باندی د مور نه پراته او خوری نو مونږ هم چه الله ته لاس پو ر ته کړے وی او ژړا کوو چه ربّه ربّه ربّه اوددے انسان دے زړه کښی پخپله یو احساس پیدا شی چه ان شاء الله دا دعا ځما قبوله ده په دا سے دعا کښی په انسان باندے غونی زیګ زیګ شی. د ستر ګو نه هم او ښکے او بهیږی نو دا رنګے په دعا کښی عاجزی کول قرآن کریم هم دا تر غیب ذکر کړے ﴿ادعوا ربکم تضرعا وخفیة﴾ دالله نه په عا جزی سره سوال کوئ چه ربه ډیر کمزورے یمه. او دا تر تیب مونږ ته سورت فا تحه هم ښودلے دے چه وړومبی د الله صفات بیان کړه. ﴿الحمد لله﴾ حمدو نه الله لره دی ځکه ''رب العالمین'' دے، ''الرحمٰن الر حیم'' دے، ''مالك یوم الدین''

دے، دَ اللہ لوئی او صفات بیان شو نو دویم نمبر کښی خپل اعتراف عجز و قصور . ﴿ایاك نعبد و ایاك نستعین﴾ یا اللہ زہ ډیر کمزورے یمہ زہ خو دا خپل تندے تا لہ پہ خاورو کښی لګوومہ یا اللہ ھر مصیبت کښی تا را مدد کوومہ دا پکښی خپلہ عا جزی شوہ نو بیا کوم څیز بہ غواړی . نو مونږ تہ اللہ تعلیم راکړو. ﴿اھدنا الصراط المستقیم﴾ یا اللہ مونږ پہ نیغہ لار کلك کړے.

نبی پاك ﷺ بہ ھم چہ دعا غوښتلہ نو پہ ډیرے عاجزی سرہ بہ ئی غوښتلہ بلکہ بعض روایا تو کښی خو راځی . سنن نسائی یو روایت ذکر کوی . عبداللہ بن عمرو بن عا ص رضی اللہ عنہ وائی زہ را غلم د نبی ﷺ خوا تہ "وھو یصلی" نبی پاك ﷺ مونځ کښی مشغولہ وو. "ازیز کا زیز المرجل" د نبی ﷺ سینے مبارکے خُوټکار کولو (دَ کټوئ پہ شان خُوټکیدہ) دا سے پہ عاجزی سرہ ئی د اللہ نہ سوال کولو. دعا ګانے ئی غوښتے . نو یو ادب ددعا چہ عا جزی سرہ سوال کول.

اتم ادب:

دعا پہ رو آواز سرہ کول چغے پکښی نہ وھل یو خو کلہ کلہ تر غیب دپارہ یو ملګری دعا اوکړی او نور خلق پرے آمین اوائی تر غیب او تعلیم دپارہ ھغہ ځان تہ خبرہ دہ خو کہ یو انسان ځان تہ لګیادے نو پہ دمہ دمہ او پہ عاجزی سرہ دے سوال کوی قرآن کریم کښی اللہ فرمائی: ﴿ادعوا ربکم تضرعا و خفیۃ﴾ رابلئ اللہ لرہ پہ عاجزی سرہ او پټہ سرہ.

نھم ادب :

پہ دعا باندے تلوار نہ کول چہ دا دے فوراً قبولہ شی بعض

تن داسے وی چه یو شپه تهجد اوکړی نو بیا دے بره بره آسمان ته ګوری چه اوس به را باندی وحی نازله شی زه دَ دے زمانے زبرګ یمه بس تړك په تړك به ځما دعا او خیرے قبلیږی ، دَ دُعاګانو په قبلیدو کښی تلوار نه کول . بلکه بعض علماء ذکر کوی چه دَ بعضی کس دا لاس پو ر ته کول او دعا ګانے غوښتل الله ته مزه ور کوی نو الله ور ته ځکه دا دعاګانے زر نه قبلوی چه دے ماله لګیا وی او سوال را نه کوی، او بعضی چه بے خونده غوندے انسان وی او د الله نه ئی خوښ نو چه دے کله کله د الله نه سوال اوکړی نو الله ئی ورته تړك په تړك قبول کړی چه دا انسان ما له نور لاس نه پورته کوی. قرآن کریم کښی هم راځی چه کله شیطان دَ آدم علیہ السلام په طرف سجده اونه کړه او الله دَ جنت نه او شړلو نو هغه و خت کښی شیطان دَ الله نه سوال اوکړو چه یا الله ماله دَ قیامت دَ ورځے پورے ژوند را کړے نو الله ور ته اوفرمائیل زه درمی کړو ما ته نور لاس مه نیسه. دَ شیطان سوال تړك په تړك قبول شو. نو دا تړك په تړك قبلیدل په دے دِ مونږ مغروره کیږو نه.

ابراهیم علیہ السلام دُعا غوښتنے وه چه اے ځما ربه د بیت الله شریف بنیادونه خو می راوخیجول ، مدرسه خو می جوړه کړه. خو دے دپاره یو معلم پکار دے ، مدرس پکار دے ، او دی کښی به تعلیم د څه وی؟ ﴿ویعلمهم الکتاب﴾ چه دے خلقو ته به د الله کتاب بیا نوی. نو علماء ذکر کوی چه د ابراهیم علیہ السلام دا دعا دوه زره کاله پس قبوله شوه.

سیدنا موسی علیہ السلام سوال کولو ، هارون علیہ السلام پرے آمین ووئے چه یا الله دَ دے فرعو نیا نو نه مونږ ته نجات راکړے. نو علماء ذکرکوی دغه سوال څلویښت کاله بعد قبول شو. په دے وجه دعاګانو کښی

تلوار کول او بے صبری کول دا ډیر نقصانی څیز دے. دے سره کله کله بیا انسان ما یوس شی چه ما خو دادعا کړے وه او دعا می قبوله نه شوه الله پاك خو د مخلوق غوندے ندے. چه تا ور ته در خواست ور کړ او چه ته وئے چر ته ددی تو کرے کښی به ئی غورځولے وی جارو کړے به ئی یا ما شامانو به پرے ځان ته چوارے اغستے وی اللہرب العزت ته خود هرڅه پته ده نو ته به د بے صبری شکار کیږی نا د پکښی ډیر زیات نقصان دے.

لسم ادب:

ددعاپه آخر کښی لفظ " آمین" وئیل کله کله به بعض خه پو هه خلق وی چه قوم ته راو ګرځی نو وائی اللهم آمین. اللهم آمین. دا دعا په آخر کښی وئیل پکار دی بعض راویا تو کښی راځی دا آمین ددعا دپاره مهر دے. نو مهر د هر څیزپه آخر کښی لګی . نو چه کله تا دعا اوکړه نو آخر کښی اوایه آمین اللهم آمین، ثم آمین .

د آمین مطلب دا دے چه اے ځماربه ځما دا د عا ته قبوله کړے .ددعا د ادابو خیال هم سا تل او ور سره دحرام خورئی نه هم ځان سا تل ځکه چی د چا خوراك څښاك لباس د حرامو وی نو دعائی نه قبلیږی .

تیری عظمتوں سے ہوں بے خبر یہ میری نظر کا قصور ہے
یہ بجا ہے مالک بندگی میری بندگی میں قصور ہے
یہ خطا ہے میری خطا مگر تیرا نام بھی تو غفور ہے

یا رب ان عظمت ذنوبی کثیرة فلقد علمت بان عفوك اعظم ،

اے ځما پرور دګاره که ځما ګنا هو نه زیات شویدی نو ځه پدے پو هه ئیم چه ستا معا فی ځما د ګنا هونو نه هم زیاته ده

ادعوك ربی کما امرت تضرعا
و اذا رددت یدی فمن ذ ایر حم

اے ربہ ځہ تا را بلم په عاجزئ سره چی څنګه ستا حکم دے که لاس می نامراده کړی واپس نو بل به را باندے څوك رحم کوی؟

یو لسم ادب: دعا صرف د الله نه غوختل.

دولسم ادب: د نا جائز او نا منا سب څیزونو سوال نه کول

دیارلسم ادب: ددعا کو لو نه مخکښی څه نیك عمل کول مثلاً صدقه ، خیرات او نفل و غیره .

څوارلسم ادب: که دعا قبوله نه شی بیا هم دعا کول

پنځلسم ادب: په دعا کښی تنګ نظری او بخل نه ځان سا تل.

دَ دعا د قبولیت و ختونه:

(۱) د شپی آخری حصه(۲) شب قدر(۳)نهم ذی الحجه باندے په میدان عرفات کښی (۴) د جمعی په ورځ(۵) د اذان په وخت کښی (٦) میدان جهاد کښی (۷) د اذان او اقامت تر مینځه و خت کښی (۱۰) په وخت د ختم القرآن کښی.

دَ دُعا د قبولیت ځایونه:


(۱) ملتزم(۲) سیزاب رحمت لاندے(۳) کعبه کښی دننه (۴) زمزم کو هی سره (۵) صفا مر وه سره (٦) مقام ابراهیم سره(۷) مقام عرفات کښی (۸) مزدلفه کښی (۹) منیٰ کښی (۱۰) جمرات سره .

الله رب العزت دے مونږ او تا سو ته ددعا ګانونو د آدابو تو فیق نصیب کړی ،(آمین) اقولو قولی هذا استغفر الله لی و لکم و لسائر المسلمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبہ نمبر: ''٦''

شپر نمبری



شپږمه خطبه: **" شپږ نمبرے "**

الحمد لله و کفیٰ ، و سلام علیٰ عباده الذین الصطفیٰ ، اما بعد فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم ، بسم الله الرحمن الرحیم ، ﴿قل هو الله احد ، الله الصمد ، لم یلد ، و لم یولد ، و لم یکن له کفوا حدا﴾

عزتمندو مسلمانانو!

الله رب العزت دے وخت کښی مونږ او تاسو ته توفیق نصیب کړو. چه مونږ او تاسو د الله ددین د خبرو د پاره را جمع شوی یو او ددے اندازه . او ددے قدروقیمت به هغه وخت کښی معلوم شی چه کله ځمونږ او ستاسو دد نیا زند گی ختمه شی ځکه دینی مجلس کښی ناسته لوئے سعادت دے ، الله تبارك و تعالیٰ هر انسان ددین و دخبرو او ریدو دپاره او په داسے مجالسو کښی د شرکت مو قع الله هر چا ته نه ور کوی بلکه نبی کریم ﷺ فرمائی چه کله الله رب العزت ارا ده او کړی چا ته د خیر رسولو نو الله رب العزت ئی ددین د پاره قبول کړی او ددین پوهه ور ته ورکړی. بیا دا مجلس ډیر اعلیٰ او ډیر او چت دے پدے کښی د الله ، او د الله دَ رسول ، د الله دَ دین ، دَ قبر ، حشر ، آخرت ، او دَ زنکدن خبرے بیانیږی چه دے سره د انسان زند گی جوړیږی نو په دا سے مجالسو کښی انتهائی د ادب مظاهره پکار وی نو چه مونږ او تاسو دا سے مجلس کښی ناسته کوو. نو خپل ځان د الله رب العزت دَ دین خبرو ته محتاج گنړل چه مونږ او تاسو ته دَ دے خبرو انتهائی ضرورت دے او مونږ او تاسو د الله دین ته په هر حال کښی محتاج یو. خبره آوریدل په دے نیت سره چه دا به زه په خپل عمل کښی راوَلم .او انتهائی په ادب سره خشوع او خضوع سره. توجه سره

دَ اللہ دَ دین خبرے آوریدل او د ژړا کیفیت او شکل جوړول . خوش قسمته دی هغه ملګری چه هغوی اللہ رب العزت قبول کړی دی دَ خپل دین دَ محنت دَ پاره کورونه ئی پریخودی دی. بیا خاص کر زنانو ته څومره مشکلات وی. او بیا دا دور هم د فتنو دور دے خو چا به ورله دعاګانے کړے وی . دا سے اعمال به ئی کړے وی چه د اللہ به خوښ شوی وی. اللہ رب العزت به دَ دین دَ محنت دَ پاره قبول کړے وی او دویم نمبر کښی خوش قسمته دی هغه خاندان او هغه کور والا چه هلته یو جماعت راشی، مستورات په پرده کښی راشی او هغه جماعت سبب اوکړځی دَ دے کور دَ خلقو دَ پاره او دَ کلی او محلے دَ پاره هم دَ هدایت ذریعه اوګرځی. په دے وجه یو کور ته چه یو جماعت لاړ شی نو دوه وَخته په هغے کښی دَ بهر نه بیان آوریدلے کیږی دَ چم ګاونډ دَ کلی خپل خپلوان زنانه راجمع کیږی نو دا څومره ثوابونه چه کیږی سبب ئی دا جماعت او کور والا ګرځیدلے وی نو دا ټول ثوابونه هغوی ته ملا ویږی ، بیا یوائے دا نه بلکه دا درے ورځے چه کوم جماعت راشی دَ چم ګاونډ خلق خپل خپلوان هغوی سره کینی او د جماعت زنانه هغوی سره مذاکرے کوی. د مونځ د فرضو واجباتو کور کښی د زندګی تیرولو اصول دا ټول ترغیبات ګو یا چه دا درے ورځے هغه کور یو دینی مدرسه اوګرځی په هغه کښی د ذکر اذکار د تعلیم و تعلم سلسله قائمه شی نو د ایو انتهائی د خو شحالے خبره ده. د مبارك باد مستحق دی هغه کورونه چه هلته جماعت راځی. او بیا دا ټول نقل و حرکت که هغه ددین هره یو شعبه ده. که هغه ددین هر یو محنت دے که هغه د اللہ په لار کښی وتل دی که هغه مدرسو ته تلل

دی کـه هغه جهاد ته تلل دی. که هغه قرآن ایزد کول او ښودل دی ددے ټول هر څه مقصد د الله سره تعلق جو ړول او د الله رضا حا صلول دی.
ځکـه نـن پـه دنیـا کښی ډیر دا سے مسلمانان شته چه د هغوی نه الله رب الـعـزت هیـر شـوی دے نـو دالله رب العزت نا فرمانو کښی مبتلا شـوی د الله خـلاف کښی مبتلا شوی نو ددے خبرو په تبلیغ کښی یا د هـانـی کـول وی چـه دا خپـلـه عـقیده جوړول پکـار دی دا خپل یقین جـوړول پـکـار دی چه الله ځمونږ خالق دے. الله ځمونږ مالك دے . الله ځـمـونږ رازق هم دے . نظام چلولو والا هم د الله ذات دے. هغه الله چا ته محتاج ندے. دا ټوله دنیا الله ته محتاج ده هغه داسے ذات دے ﴿یخرج الحی من المیت و یخرج المیت من الحی﴾
ژونـدے د مـړنـه پیـدا کوی او مړ د ژوندی نه پیدا کوی هغه دا سـے ذات دے ﴿یـو لـج الـلیل فی النهار و یولج النهار فی اللیل﴾ چه د شپـے او ورځـے انـقـلاب راولـی ، کـلـه شپـه نـو کلـه ورځ راولـی ، د مـوسمونو انقلاب کله د یخنئ موسم نو کله د ګرمے موسم. کله ورځ اوږده نو کله شپه اوږده ، الله رب العزت باران را ورولو والا ذات دے. الله رب الـعزت هغه ذات دے ﴿انه هو اضحك و ابکی﴾ په چا خوشحالی راولی نو په چا مصیبت راولی. الله رب العزت هغه ذات دے. مالداری راولی نو غریبی راولی. الله رب العزت هغه ذات دے.
﴿و تعز من تشآء و تذل من تشآء﴾
عزت ور کولو والا هم د الله ذات نو ذلت ورکولووالا هم د الله ذات دے .
ځما عزتمندو! که ځمونږ دا عقیده برابر شوه چه عزت خو د الله په لاس کښـی دے نو مونږ په د مخلوق نه عزت نه غواړو او دا عزت نه په مال

کښی شته نه په ملك کښی شته. نه به وزارت کښی شته نه په تجارت کښی شته. نه په لوئے لوئے محلاتو کښی شته.
الله هغه ذات دے چه عزت ورکوی نو کله ئی د ذلت په نقشو کښی ورکوی نو کله ذلت د عزت په نقشو کښی ورکوی.
څه مطلب؟ مطلب دا چه مونږ او تا سو ته مخامخ یو څیز په نظر راځی پدے کښی ذلت دے لکه چا سره مال نه وی. د چا بنګله نه ئی . د چا کور نه ئی نو مونږ وا یو دا خو ذلت دے اوس پدے نقشو کښی الله عزت ورکوی او ګوره اصحاب کهف قرآن کریم کښی د هغوی وا قعه بیان شوی ده چه هغوی خپل کورونه پریخودل. په غار کښی ئی پناه واغسته. ذهن خو دا وائی چی دوی خو ځان ذلیله کړو ، او ګوره لوئے لوئے محلات ئی وو. لوئے لوئے بنګلے ئی وے ، پلاران ئی و زیران او بادشاهان وو او دے نوجوانانو هغه هر څه پریخودل. پیسے ور سره نشته، مال ور سره نشته کورئی نشته، لاړل په یو غار کښی ئی پناه وا غسته نو مونږ وا یو چه دائی خو خه او نکړه د عزت هغه اسباب او د عزت هغه نقشه ئی پریخوده دائی خود ذلت لاره اختیار کړه خو الله رب العزت ددغے ذلت په نقشه کښی عزت ور کړو او الله رب العزت د هغوی د غار تذکره کئی. الله رب العزت د هغوی د تلو تذکره کئی. الله رب العزت د هغوی د او ده کیدو او د خوب تذکره کوی او الله رب العزت ئی دومره اکرام کړے دے چه دی کله هغه غار ته تلی نو الله فر مائی .
﴿فضربنا علیٰ اٰذانهم﴾ الله فر مائی ماپه غوږونو او تیول (الله هو می ور ته شروع کړه) او الله رب العزت د هغوی د سپی تذکره کړے ده.

﴿وکلبهم باسط ذراعیه بالوصید﴾ چه او ګوره هغه سپے د هغه غار مخے ته پروت دے او خپلے لیچے ئی جوزے کړیدے چه کومو خلقو د الله ددین دپاره کورونه پریخو دے وو الله ورله دومره عزت ورکړو.

۲.فرعون سره ظاهری نقشه د عزت ده با د شاهی ئی ده نو کران ئی دی خادمان ئی دی ډیر مال و جائیداد دے ور سره خو فرعون ته الله د عزت په نقشو کښی ذلت ور کړو. په دنیا کښی به چا دا سے چرته نه وی او ریدلے چه فلانکو خپل سپی ته فرعون نوم کیخودو نو ظاهری نقشه ئی د عزت ده او الله ور ته ذلت ورکړو.

۳. او ګوره بلال حبشی رضی الله عنه په غلامئ کے ګیر دے. پر دے غلام دے د رنګ نه تك تور دے مال و جائیداد ورسره نشته. مور او پلار ئی نشته او هغه ته الله کوم مقام ورکړو. چه کله مکه فتح شوه نبی کریم ﷺ بلالؓ ته وائی .بلالؓ تا ډیرے سختے بر دا شت کړی خلقو په ګر مو شګو کښی را خکلے ئی. خلقو در ته په سینه باندے کانړی کیخودلی، را شه ته نن خانه کعبه ته بره او خیجه او په هغے د الله رب العزت دلوئے چغه اووخه.

۴.بله واقعه چه ظاهری نقشه د ذلت ښکاری او الله پکښی عزت ورکئی(یوصحابیؓ دے مشهور دے په ذوالبجادین سره) نوجوان صحابی دے. دے به د ډیر لرے ځائے نه نبیؐ ته را تلو او په پټه ئی ایمان راوړو. په خپل کور کښی به ئی چه کله مور او ترونو به ئی د نبی ﷺ خلاف خبرے کولے نو دے به ور ته هسے ډیر په توجه سره ناست وو ده له به ئی مزه ورکوله چه هغوی به د نبی ﷺ نوم اغستو،

هغوی له پته نه وه چه دے ولے دومره په توجه سره دا خبر ے آوری. آخر دا چه هغوی وربانده پو هه شو چه څه چل دے نو بس دے نوجوان ورته خپل ایمان ښکاره کړو چه ماپه محمد عربی ﷺ باندے ایمان راوړے دے . مور او ترونه ورته وائی چه یا به د پیغمبر ﷺ دا مجلس پریدوی او یا به ددے کور نه دوه لاسه او دوه خپے اوځی چه کومے جا مے دے اغستی دی دا به هم لرے کړے ډیر زیات ئی او خلو او دو مره ظلم ئی ور سره او کړو چه هغه جامے ئی هم ترے نه لرے کړے او د غه شان پاتے شو. اوس دا ظاهری نقشه د ذلت ښکاری چه ګوره کورئی پریخودو. مور ئی پریخوده خاندان ئی پریخودو. او چه کله دے په را و تو کښی وو او جا مے ئی په بدن باندے نه وی . نو د مور ور باندے ترس راغلو نو خپله لو پټه ئی ور ته ور کړه چه دا دے دبدن نه تاؤ کړه، هغه نو جوان هغه لو پټه دوه حصے کړه یو ئی د بره بدن نه تاؤ کړه او بله باندے ئی خپل ستر راوستو (بجادة په اصل کښی دخادر یو پیسکی ته وائی دَ دوؤ څادرو والا)

دے د کور نه لاړو سفر ئی او کړو د مور لو پټه ئی د بدن نه تاؤ ده او را غے د نبی ﷺ مجلس کښی کیناستو نبی ﷺ ترے نه تپوس کوی وائی څنګه ئی ستا څه نوم دے هغه ور ته خپل دَ جاهلیت نوم واغستو نبی ﷺ ور ته او فر مائیل بل انت عبد الله ستانوم خو عبدالله دے . او عبد العزیٰ نوم ستا نه دے. اوس هغه هر څه ئی هیر دی. خپلے جامے ئی نه دی یاد . هغه مور ئی نه ده یاده خپل خاندان ئی نه دے یاد. او د نبی ﷺ په خبرو ئی انتهائی اطمینان حا صل شو. نبی ﷺ غزوه تبوك ته روان وو. نور صحابه ﷺ هم دی او دا صحابی هم ورسره

دے ، واپسئ کښ په لاره باندے په دے صحابی تبه را غله نبی ﷺ ته صحابه کرام رضی اللہ عنہم خبر ورکړو چه هغه میلمه اجنبی پر دیسی، مسا فر چه راغلے وو هغه خو بیمار شوی دے او څوك ئی شته دے نه. نبی ﷺ راغے په خپل غیږ کښی ئی وا چولو او نور صحابه کرام رضی اللہ عنہم ورته ډیر حیران دے اوپسخیږی ورته چه دا کوم خوش قسمته انسان دے چه دَ دواړو جهانو دَ سر دار په غیږ کښی پروت دے. او هغه نوجوان د نبی ﷺ په غیږ کښی دے او نبی ﷺ ته ګوری یو خوند او لذت حاصلوی چه ما ته دا ځائے چرته ، چه د دواړو جهانو دَ سردار په غیږ کښی یم. او پدے کښی دے مسافر سلګئ شروع کړے او ساه ئی ورکړه. بیا نبی ﷺ خپل څادر مبارك خور کړو او وائی د ه ته ځما په دے څادر کښی کفن ورکړے نو څومره عزت الله ورکړو ظاهری نقشه دَ ذلت ښکاریده ځکه چه خاندان ئی پریخودو. جا مے ترے نه لرے کړی شوی او دلته ورته الله څومره عزت ورکړو چه نور صحابه کرام رضی اللہ عنہم ورته پسخیږی او په د غه صحابو کښی ابوبکر رضی اللہ عنہ او عمر رضی اللہ عنہ هم موجود دی او وائی چی خدایه دا کوم لوئے مقام دِ ورکړو رُونړه ئی دلته نشته څوك مسافر را غلے وو، دَ نبی ﷺ په څادر مبارك کښی ئی ورته کفن ورکړو او دا مسئله ده چی مړی به قریبی رشته دار قبر ته کوزوی بیا نبی ﷺ صحابه کرامو ته اووئیل تا سو ترے نه اخوا شئ بیا ئی په خپلو لاسو مبارکو کښی اوچت کړو او په خپل لاس ئی قبر کښی د فن کړو.

پدے وجه که دا سے څوك تپوس هم او کړی چه هغه کوم صحابی دے چه نبی ﷺ په خپلو لا سو مبارکو دَ هغه په قبر کښی کار

کړے دے او په خپلو لا سو مبارکو ئی قبر ته ورکوز کړے دے. نو داسے صحابی عبد اللہ ذوالبجادین دے. نن خو مونږ ته پته نه لګی چه کوم صحابی کرامو څنګه ژوند تیرکړے. د صحابه کرامو څه نومونه وو د هغوی څنګ ترتیب وو

نو ځما عزتمندو! عزت ور کولو والا د اللہ ذات ده نو د هغه ذات سره تعلق قائمول دی بیماری هغه راولی نو صحت هغه ورکئی . هغه اللہ رب العزت اولاد ور کولو والا ذات دے. چا ته اوغواړی نو اولاد ور کوی چا ته غواړی نو نه ور کوی نو چه چا ته اللہ او لاد نه ور کوی نو ددنیا حیث یو طاقت او ددنیا هیڅ یو ملنګ هیڅ یو منجور هغه ته اولاد نه شی ور کولے .اللہ رب العزت فرمائی: ''﴿یهب لمن یشآء انثا، ویهب لمن یثآء الذکور او یزو جهم ذکرانا و انثا و یجعل من یشآء عقیماً﴾

اللہ خو هغه ذات دے چا ته اوغواړی لونړه ورکوی

ایماندارو دلته بله یو خبره مخے ته را غله چه لونړه ئی پکښی اول ذکر کړے د زنانو مقام ته پکښی اشاره ده ځکه علماء ذکر کوی چه یو زنانه د ډیرو نا رینو نه زیات ددین کار کولے شی او دا خبره حقیقت هم دے چه زنانه د نا رینو نه زیات ددین کار کولے شی. خو چه کوی ئی او که ددین کار نه کوی نو دا بیادډیرو نارینو نه زیات د بے حیائے کارو نه کولے شی

مثال: یو زنانه ده هغه ددے ځائے نه ځی سړك ته، یا مردان ته یا بل ځائے ته او دا کهلاؤ مخ روانه ده نو دے ته دورځے دوه سوو کسانو او کتل او د دوسو کسانو څلور سوه سترګے دی. نو څلور سوه سترګے بے حیائی کښی مبتلا شوی ځکه احادیثو مبارکو کښی راځی ''

العینان تزنیان " دا ستر گے هم زنا کوی. نو دے څلور سوو ستر گو زنا او کړه. نو ددے څلورسوو ستر گو د زنا سبب دا یو زنانه او گر ځیده.

او کـه دایو زنانه ده او دادینداره شوه او په زند گی کښی ئی دین را غـلو. نو ددے خاوند دینداره پلار ئی دینداره رونړه ئی دینداره. ددے د و جـے نـه ددے نـارینه د الله په لار کښی و ختونه اولگوی ، بچی ئی مـدرسـو تـه لاړ شـی. دیـن ایـزده کـړی. ددے یـو زنانه د وجـے نه .ځکه عـلـمـاء ذکـر کوی د زنانه غیږ د خپلو ما شو مانو د پاره ورړومبی تربیت گاه او مـدر سـه وی د زنـانـو ډیر لوئـے کر دار دے او ډیر لوئـے شان دے دیـن اسـلام هـم زنـانـو ته ډیرلوئـے مقام ورکړے په قرآن کښی الله رب الـعـزت د نـعـمـتـونـو تـذکـره کوی نو ورړومبی پکښی زنانه ذکر کوی. ﴿یهـب لـمـن یشآء انٰثا﴾ الله هغه ذات دے چه چا ته اوغواړی نو لونړه ور کوی.

۲. دویـم دا لـونـړه ئی اول ځکه ذکر کړے چه دَ جاهلیت په زمانه کښی زنانو ته به ډیر بد کتلـے شو. دا خویو دین اسلام دے چه زنانو ته ئی دَ زنانوو حق ورکړو چه دا زنانه ستا لور ده ، نو دَ لور په تا دومره حق دے. که دا خور ده نو د خور در باندے دومره حق دے.

واقـعـه: یو مولانا صاحب بیان کولو. چی یو ځائـے کښی ډیرنیك انسان وو. هـغـه بـه د حـج د پـاره هـر کـال اراده کولـه او هر کال بـه ئی دا خلـه کـیـنـسـل کیده. پنځه شپږ کاله مسلسل داسی اوشو بیا ورته چا اووئـے چـه ستـا خـور شتـه؟ نـو وائـی خپل سکه خورمی نشته او میرنه خور مـی ده نـو هـغـه ورته اووئـے چه دهغه خور نه دے دعا واخله هغه لاړو خـور تـه جـوړه جـامـے واغستـے او خور ته وائی دعا راته کوه او چه په

هغه ځل باندے ئی څنګه دا خله او کړه نو فوراً ئی دا خله منظوره شوه . نود خویندو لوئے حیثیت دے لوئے مقام ئی دے. نو که دابی بی ده نو په شریعت کښی د بی بی هم لوئے مقام دے شریعت ذکر کوی چه د خپلے بی بی دا حق به بلے زنانه ته نه ور کوی . په بی بی هم دغه شان حق دے چه ددے دخاوند سره کوم تعلق دے دا تعلق به د بل چا سره نه جوړوی دا به هم د خپل خاونددحق خیال ساتی دقیامت په ورځ به ترے نه ددے تپوس کیږی

نو که دا زنانه مورده نو د مور بیا څومره لوئے مقام دے یو صحابی رضی اللہ عنہ راغے نبی ﷺ ته وائی د اللہ رسوله چا سره احسان او کړم نبی ﷺ ورته او فرمائیل " امك" د مور سره احسان کوه وائی چی بیا د چاسره نو نبی ﷺ ورته او فرمائیل مور سره نو وائی بیا د چاسره نو وائی د مور سره او بیا دپلار سره او بیاد نورو رشته دارانو سره نو د مور او پلار ډیر لوئے مقام دے. او ډیرلوئے حیثیت ئی دے. د مور او پلار دعا ګانے او خیرے د د اولاد په حق کښی ډیرزر قبلیږی . او بیا د سخر خواخے مثال هم د مور او پلار پشان ئی . نو کوشش دا پکار دے چه کورونو کښی به هله امن و سکون، او اطمینان راځی چه انګور سخر خواخے پشان دمور او پلار اوګنړی او سخر خواخے انګور پشان د لور اوګنړی ، نو هله به کار کیږی. یو زنانه دے سوچ او کړی که چرته د اینګورنه غلطی او شی نو که دا غلطی دَ دے لُور کړے وے نو څومره پر دے به ئی پرے اچولے او د هغے د پاره به ئی مختلف احتمالات کتل چه دا لور می داسے نه ده او بس غلطی ترے نه اوشوه، او ماشومه ده او داسے ده او که اینګور نه لږه غوندے هم غلطی اوشی (لږه هم کنړواه

کښی کړه شی) نو بس را شه که تو دیرې بیا به دا په چم ګاونډ کښی وائی چه دانګور می دا سے ده دا چه را غلے ده نو دا چل شوی او دا چل شوی انګور پسی به لګیائی او خپلے نیکے به انګورته اړوی ځکه د هغے خلاف غیبت کوی. نو پدے وجه ځما عزتمندو ! دزنانه ډیر لوئے مقام دے. الله پاك وړومبی زنانه ذکر کړی) " یهب لمن یشاء انثا، د جاهلیت په زمانه کښی زنانو ته ډیر سپك کتلے شو.

عزتمندو تبلیغ کښی یوورومبی دا یقین جوړکړے چه هر څه کولو والا د الله ذات دے چا ته لونړ ور کوی چاته ځامن ور کئی.

واقعه: یو صحابیؓ دے نبیؐ ته د جا هلیت د زمانے زند ګی ذکر کوی چه اے د الله رسوله مونږ باندی دا سے وخت را غلے وو چه مونږ د اسلام نه لرے وو. داسے وخت را باندے را غلے وو. چه زما په کور کښی یو بچے وه او هغے زما بی بی زما نه پټه لویه کړے وه . زه ترینه نه وم خبر.

عموماً دمیندو زند ګی داسی چی کوم ما شوم د هغوی په غیږ کښی وی او هغه کله لوئیږی نو که هغه په خبرو پو هیږی هم نه نو مور ور ته په غوږ کښی قصے کوی او ورته وائی چه بابا جان به دے را شی تاله به جا مے واخلی. کهلونے به در ته وا خلی او دا څیزونه به در ته واخلی. او دا به در ته وا خلی نو هغه ما شوم چه لوئیږی نو په ذهن کښی ئی دا نقشه ګرځی . چه ځما پلار به ما بازار ته بوځی او ماله به پیزار وا خلی دا به وا خلی او دا به وا خلی. نو دا رنګے هغه زنانه به هم خپلے ما شومے ته دا قصے کولے.

صحابی وائی د الله رسوله زه را غلم کو ر ته نو ددرے څلورو کالو ما

شومے را تہ را منډے کړہ. (او په د غه و خت کښی دا ماشومان ډیر زیات محبوب وی او د کوردټولو افرادو توجه ئی ځان ته را ګرځولے وی) نو وائی ما ښځے ته اووے چه دا څوك ده نو اخوا دیخوا ئی کول خو په آخر کښی ئی را ته خبره اوکړه چه دا ځمونږ لور ده او ما ستا نه پټه لویه کړے وه نودے ډیر زیات غصه شو او ښځے ته وائی زه راځم لس پنځلس مینټه کښی او دا تیاره کړه ځان سره ئی بو زم هغه ماشومه ډیره خوشحاله شوه چه ما ته به مور کومے قصے کولے او مالـه بـه ئی وئیل چه پلار به دے راشی او تا به چکر ته بوځی. او دا دا څیزونه بـه در تـه وا خلی نو ځما به اوس هغه ار مانونه پوره شی. او دَ مور دَ سترګو نه ئی غټے غټے او خکے روانے دی .

لږوخت پس ئی پلار راغلو او ما شو مه ئی د ګوتے نه او نیوله او روانه ئـی کـړه. ما شومه ډیره په خو شحالے سره روانه ده. ډیر لرے صحرا ته لاړل. او دا مـا شـومـه پـلار مـخـامـخ پـه پولـه باندے کینولـه او کنده کـنسـتـل ئی پخپله شروع کړل. دا ماشومه چه اوګوری چه دبابا جان په تـنـدی خـولـے را غلے نو را منډے کړی او خولے ور ته پاکے کړی. نو کـه پـه ګیـره کښی ئـی خاورے جمع شی نو ګیره ورته او سنډی ور ته وائـی بـابـا دمـه اوکـړه سترې شـوی. (نبیؐ ته وا قعه بیانوی او د نبیؐ په رخسار مبارك باندے د اوخکو باران دے)

وائـی د الله رسـولـه دے ما شومے څو پیرے ماته ګیره پا که کړه او زما خـولـے ئی پا کے کړے. او چه ماکله کنده اوکنسته نو ما شومه می د لا سـو نه او نیوله او کنده کښی می کینوله نو ما شومے ډیرے زیاتے چـغـے اووهـلے او مونږ ته اډو ترس نه را تلو او رحم نه را تلو ځکه دین

نـه وو اسلام نه وو زنانو سره دا سـے معامله کیده. نبیؑ ور ته او فرمائیـل بس که بس که نور مخکښی حالات را ته مه بیانوه.

نـو ځـما عزتمندو! دین اسلام زنانو ته لوئـے مقام ورکړو. پدے وجه چه مـونږ او تـاسـو چـی د الله ځـومره شکر اداکړو نو دا کم دے .زنانوته ئی لوئـے حیثیت او مقام ورکړو.

الله فرمائی: ﴿یهب لمن یشآء انثا، ویه لمن یشآء الذکور﴾

نـو چـی ځـمونږ ذهن کښی دا راشی چه الله خالق دے ، مالك، را زق او هـر څـه کولو والا دے او دا مقصد هم د لا اله الا الله دے . دا ډیره درنه او وزنـی کلمه ده. ددے ډیر فضائل را غلی دی یو فضیلت ئی دا دے چی رسـول الله او فـر مائیـل "جددوا اِیمانکم" خپل ایمان تا زه کوئ ، تپوس اوشـو چـی "کیف نـجـدد اِیـمـانـنـا ؟" چـی ایـمان څنګـه تازه کوو ؟ نو نبیﷺاوفرمائیـل چی "اکثروا من قول لا اله الا الله"

لا الـه الا الله کثـرت سره وائی جا بر بن عبد الله ؓ نـه روایت دے چی د ابو هریره ؓ نـه روایـت دے چـی رسول الله ﷺفرمائی "ما قال عبد لا اله الا ا لله قط ما اجتنب الکبا ئر" (رواه الترمذی)

کـوم تـن چـی دا کـلـمه د زړه د اخلاصه اووائی نو د دے د پاره د آسمان دروازے کهـولاویـږی تـر دے چی سیدها عرش ته رسی یعنی قبلیږی خو په دے شرط چی دَ لویو ګناهونو نه ځان سا تل وی.

مسـلـم شـریف کښی د عـثـمـان ؓ نـــه روایـت دے چـی رسـول الله فرمائیلی دی "من مات وهو یعلم انه لا اله الله دخل الجنة"

کـوم تـن تـه چـی مرګ را غـے په دا سی حال کښی چی دائی یقین وی چـی د الله نـه عـلاوه بـل کارساز نشته نو جنت ته به دا خلیږی د کلمے

دویم جز دے محمدر سول اللہ ددے مطلب دا دے چی نبی کریم ﷺ دَ اللہ رالیږلی شوے پیغمبر دے او اللہ چی رسول رالیږی نو په دے مقصد چی خلق ئی تابعداری اوکړی ﴿و ماارسلنا من رسول الا لیطاع﴾ د اللہ تعالی حکمونه د نبی ﷺ په طریقو سره پوره کولو کښی دَ دُنیا او آخرت کامیابی ده ، په قرآن کریم کښی د نبی ﷺ دَ اتباع بار بار حکم شوی دے ﴿ما اتاکم الرسول فخذوه و ما نهاکم عنه فا نتهوا﴾ ، ﴿فلیخد ر الذین یخالفون عن امره ان تصیبهم فتنه او یصیبهم عذاب الیم﴾ ﴿من یطع اللہ و رسوله فقد فاز فوزا عظیما﴾ ، ﴿قل ان کنتم تحبون اللہ فا تبعونی یحببکم اللہ﴾ .

نو دَ نبی ﷺ طریقو ته رواج ور کول او خپل غم ښادئ کښی د رسمونو رِواجونو بدعاتو او خرافاتو نه ځان سا تل پکار دی تبلیغ کښی دَ وتلو مقصد هم دا دے چی ځمونږ یقین د اللہ په ذات جو ړ شی او د رسول اللہ سره او د هغه دمبارکو طریقو او سنتو سره ځمونږ مینه پیدا شی یقین مو داجوړ شی چی د الوهیت صفتونه یواځی اللہ لره دی اللہ سره د خدائی په صفتونو کښی هیڅوك شریك او برابر نشته د خپلے رضا مالك دے. ددے کلمے وئیلو سره په مونږ د اللہ حکمونه فرض کیږی په هغے کښی اول حکم د مونځ دی .اللہ په حکمونو کښی د ټولو نه وړومبی حکم دمانځه دے قرآن کریم کښی اللہ رب العزت دمونځونو تر غیب ذکر کړے دے اللہ فرمائی ﴿اقیمو الصلوٰة﴾ مونځونه ادا کوئ.

﴿والمقیمین الصلوٰة﴾ مؤمنان به مونځونه اداکوی.

﴿حافظوا علی الصلوٰة﴾ د مونځونو حفاظت کوئ.

﴿اذا قمتم الی الصلوٰۃ﴾ کله چی دَ مانځه ارا ده کوئ نو اول طهارت حاصلوئ. نو دمونځ ډیر لوئے مقام دے او ډیر لوئے حیثیت دے . ﴿ان الصلوٰه تنهیٰ عن الفحشاء والمنکر﴾ الله تعالی فرمائی چی بے شکه مونځ د بے حیائی او د ناراوو نه منع کول کوی. بل مقام کښی الله فرمائی ﴿ان الذین امنو و عملو الصلحٰت و ا قا مو الصلاه و اتو الذکوۃ لهم اجرهم عندربهم ولا خوف علیهم ولا هم یحزنون﴾ ، ﴿ قل لعبادی الذین امنو یقیموا الصلوٰۃ وینفقوا مما رزقنٰهم سِرّا وّ علانیة من قبل ان یاتی یوم لا بیع فیه و لا خلال﴾ د سیدنا ابراهیم علیہ السلام دعا الله تعالیٰ ذکر کړیده چی ﴿رب اجعلنی مقیم الصلوٰه ومن ذریتی﴾ د مونځ باره کښی احادیثو مبارکو کښی هم ډیر فضائل راغلیدے.

مسند احمد کښی روایت دے د جابر رضی اللہ عنہ چی رسول الله ﷺ فرمائی "مفتاح الجنة الصلاة ، مفتاح الصلوٰۃ الطهور" د جنت کنجی مونځ دے . او د مونځ کنجی اودس دے. دَ سیدنا انس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "جعل قرة عینی فی الصلاة" چی ځما دَ سترګو یخ والی په مانځه کښی ایخودلے شویدے.

د سیدنا عمر رضی اللہ عنہ نه روایت دے چی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "الصلاۃ عماد الدین" چی مونځ دَ دین ستن ده. دَ سیدنا علی رضی اللہ عنہ نه روایت دے چی دَ رسول الله ﷺ آخری وصیت هم دا وو چی "الصلاة، الصلاة ، اتقو الله فیما ملکت اَیمانکم" چی د مونځ اهتمام کوے او د خپلو غلامانو حقوق ادا کوے.

سیدنا ابوسعید خدری رضی اللہ عنہ فرمائی چی ما دَ رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چی فرمائیل ئی "الصلوٰت الخمس کفارة لما بینها" پنځه وختونه

مونځ دَ درمیانی وختونو دَ پاره کفاره ده. بیا نبی ﷺ اوفرمائیل چی دَ یو تن دَ کور مخے ته نهر وی هغه پکښی پنځه و خته غسل کوی د هغه په بدن به هیڅ خبرے پا تے نه شی دا رنګے چی څوك پنځه و خته مونځ پابند ئی سره کوی د هغه په ذمه به ګناه پاتے نه شی .

نبی ﷺ فرمائی ''من صلی البر دین د خل الجنة'' چا چه دوه یخ مونځونه اوکړل دا خل به شی جنت ته. د یخو مونځونو نه مراد د صبا او ما زیګر مونځ مرا د دے .

نبی ﷺ فرمائی ''مروا اولاد کم بالصلاۃ و هم ابناء سبع سنین واضربو هم علیها و هم ابناء عشر سنین و فر قوا بینهم فی الضاجع.''

چی اولاد مو دَ اووه کالو شی نو د مونځ ورته ښائی او چی د لسو کا لو شی او مونځ نه کوی نو سزا ورکوئ.

بعض علماء ذکر کوی وړومبی تپوس به د قیامت په ورځ د مانځه کیږی دا مونځ دومره اهم عبادت دے. ځمونږ شریعت مونږ ته وائی که څوك په ولاړه مونځ نشی کولے نو په نا سته دے کوی که په نا سته نشی کولے نو په ملاسته دے اوکړی. یعنی په حیث حال کښی هم دمونځ معافی نشته.

ځما عزتمندو! دے طرف ته لږ سوچ پکارے دے چه مونځ دومره اهم عبادت دے چه په وخت د بیماری کښی هم د مونځ معافی نشته او نن کله مونږ او تاسو کره غم یا ښادی را غله نو ډیرے خو یندے میندے ډیرے شریفانان او بزرګانے کچر ته غم ښادی کښی یوځے شی نو ډیر وختونه د مانځه تیریګی او مونځ طرف ته ئی تو جه نه وی وائی کور کښی به ئی قضا او کړو.

او کـوم کو ر کښی چه ودونه را شی نو دهر څه انتظام پکښی شوی وی دډوډے انتظام د دیګونو انتظام د تامبوانو انتظام د هر څه انتظام وی د الله د حـکـم د مـانـځـه انتظام چه د مونځ و خت به پکښی هم راځی نو داود سونو به څه تر تیب وی څه لو تے به پکاروی چټایانے به د مانځه د پاره پـکـاروی او د مـانـځـه دَ پاره صفا کمره پکار ده نو دَ دغـے اهتمام پـکښی مـونږ نه کوو مسلمانانو ته دے طرف ته لګ سوچ پکار دے او غم ئی پکار دے .

ځـمـا عزتمندو! لږ سوچ پکار دے په تبلیغ کښی تلل هم دے دپاره ئی چـه مـونږ او تا سو سره غم پیدا شی. مونږ او تا سو سره سوچ پیدا شی که یو سړی بیماردے په اشارے دِ مونځ اداکوی بعض خلق د ګوتو په اشارے سره مونځ کوی نو دا غلطه خبره ده او مونځ دومره اهم عبادت دے چـه کـلـه دَ مسـلـمـانانو دَ کافرانو سره جنګ دے نو شریعت وائی مسـلـمـانـان به دوه ډلـے شی یو ډله به امام سره یو رکعت اوکړی یو ډله به دشمن ته ولاړه وی په دغه وخت کښی هم د مونځ معافی نشـتـه.

او ځـمـا عـزتمندو! مونځ دومره اهم عبادت دے چه کله بیت الله کښی طـواف کیـږی او دغه دوران کی دمانځه وخت دا خل شی نو طواف بند شـی. او دلتـــه مـونـږ پــه وړه وړه خبره بـاندے د الله رب العزت عبادت مـونـځ لـره چهټی ورکـوو. نـو کـوشـش دا پکار دے ډیر کر تـه ډیرے خـویـنـدے مینـدے دا سے وی چه په هغوی باندے مونځ فرض شوی وی او هـغوی ته پته هم نه وی نو دے خبرو باندے انتهائی سوچ پکار دے ځکه ډیرے خویندے مینـدے مغالطه کښی پاتـے شی د زنانو په خـاص ایامو کښی که هه د ماشوم د پیدائش نه ور ستووی نو کله دے

زنانه باندے د ماشوم د پیدائش نه هفته بعد مونځ فرض شوی وی او دا به هغه څلویښت پنځو ست ورځے انتظار کوی نو ایماندارو د داسے مسائلو ډیر زیات زده کول پکاردی هغے د پاره د اشرف علی تهانویؒ کتاب "جنتی کالے" په اردو کښی "بہشتی زیور" د اډیر زیات اهم دے چه ځمونږ میاندنے خویندے دا په کو رونو کښی ګوری او مطالعه ئی کوی.

ځما عزتمندو! دمونځ سره چه کوم مسائل متعلق دی یا زمونګ د زندګی سره متعلق چه کومے خبرے دی نو دا به ایزده کول پکار وی ځکه دا په مونږ او تا سو باندے فرض دی د خپل نا رینو په ذریعه سره د علماؤ مفتیانو نه تپوسونه کول.

ځما عزتمندو ! الحمد لله نن الله احسان کړی دے په دے معا شره کښی کور په کور دینی مدر سے دی نو دینی مدر سو سره را بطه ساتل او هلته خپل بچی لیږل نو دے سره به د علم یو فضاء جو ړیږی د جهالت تیارے به ختمیږی ځکه د جهالت تیارو د پاره علم پکار دے او د علم ډیر لوئے مقام دے علم دانبیاؤ میراث دے د علم دومره لوئے مقام دے چی نبی ﷺ هم د علم د زیا توالی سوال کوی چی ﴿رب زدنی علما﴾ الله فرمائی ﴿هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون﴾ چی علم والا اوبے علمه برابر نشی کیدے. ﴿یرفع الذین اٰمنوا منکم والذین اوتو العلم درجٰت.﴾

نبی ﷺ فرمائی "خیرکم من تعلم القرآن و علمه" بهترین په تاسو کښی هغه څوك دے چی قرآن زده کوی او نوروته ئی ښائی. بل حدیث کښی را ځی "من یرد الله به خیراً یفقهه فی الدین" چا ته چی الله تعالیٰ د

خیراراده اوکړی نو ددین پوهه ورته ورکړی .د یو روایت مفهوم دے چی د علم یو باب ازده کول د زرو رکعتو نفلو نه افضل دے .

دَ سیدنا ابو الدرداء ﷺ نه یو روایت نقل دے امام ابو داؤدؒ ذکر کړیدے نبی ﷺ فرمائی چی کوم تن د علم حا صلولو دپاره په یو لارځی نو الله پاك ئی د جنت د لارونه په یو لار بوځی ملائك ور ته وزری غوړوی او د عالم دپاره د زمکے او آسمان ټول مخلوق او د دریاب مهیان ور ته د مغفرت دُعاګانے غواړی او د عالم فضیلت په عابد باندے دا سی دے لکه د څوارلسمی سپوږمے فضیلت په نورو ستورو باندے.

هر وخت دَ الله په یاد کښی مشغولیدل دَ الله ذکر کول تلاوت کول دَ مسنون دُعاګانو اهتمام کول ، بیت الخلاء نه د راوَتو دُعا ، دَ جامو اچولو دعا ، خاص سورتو نه په خا ص موقعو باندے لوستل دا رنګے د خاص او قاتو خاص دعا ګانے دی او د اذ کارو اهتمام کول.

او ځما عزتمندو! په دے معاشره کښی چه ځمونږ او ستا سو اخلاق دا سے ئی چه ځمونږ او ستا سو نه څوك خفه نشی د مشرکشر تمیز کول.د نبی ﷺ والا اخلاق ځان کښی راوستل که څوك را سره زیاتے او ظلم اوکړی نو د الله د رضا دپاره معاف کول د چا غیبت نه کول، چغلی نه کول دا بهترین اخلاق دی که چرته ځمونږ خویندے میندے په غم ښادو کښی هم یو ځائے شی نو د چا غیبت نه کول بلکه د خپل دین باره کښی خبرے کول پکار دی کوم قدم چه مونږ او تاسو اخلو نو هغه د الله دَ رضا د پاره که هغه په کور کښی د مور او پلار خدمت کول وی که زنانه د خپل خاوند خدمت کوی. که د اولاد خدمت کوی که د ځنا ورو خدمت کول وی نو د الله د ر ضا دپاره کول ځکه کوم عمل چه د الله

د رضا د پاره نه وی دهغے د الله په نیز باندی حیث قدر و قیمت نشته او خپل مال و بدن استعداد او اولاد د الله ددین دپاره استعمال کښی راوستل ځکه صحابه کرامو ﷺ دَ الله دَ دین د اشاعت دپاره ډیرے قربانے ورکړی دے. ډیرے سفرے ئی کړی دی. هغوی دخپل بدن وینے توی کړے دی نن چے دا مونږ او تا سو په اطمینان سره په خوشحالے سره د الله ددین محنت کوؤ. او کلمه وایو دا دین او دا کلمه مونږ ته د صحابه کرامو ﷺ دَ وینو په چپو کښی را رَسیدلے ده بیا صحابیاتو زنانو (رضی الله عنهن) دَ الله دَ دین دپاره قربانے ورکړے دی. او دا هم یاد ساتی په دین اسلام کښی وړومبی وینه هم زنانه ورکړے ده سیده سمیه رضی الله عنها دے سره ابو جهل ډیر زیات ظلم کړے وو. په خیټه باندے ئی حمل وو. ابو جهل لعین حضرت سمیهؓ په خیټه باندی په نیزه سره اووخله او حمل ئی ور له ضائع کړو. اوبیا ئی ورته خپو پوری پړی او تړل او یو اوخ پورے ئی ور له یو خپه او تړله او بله خپه ئی ورله بل اوخ پورے او تړله او یو اوخ ئی په یو لاره روان کړو او بل ئی په بله لاره روان کړو. وائی :

''سمیہ ہوگئی ٹکڑے کلیجہ دیکھ حمزہ کا''

هغه سمیهؓ دوه تکړے شوه زنانو دا سے قبربانئ ورکړی. نن ځمونږ او ستا سو نه مطالبه او شی د یو درے ورځو دپاره او مونږ ته ګرانه وی مونږ به صبا الله رب العزت ته څه وایو چی مونګ ددین دپاره څه قربانی کړیده .


پدے وجه ځما عزتمندو! په تبلیغ کښی هم ددے خبرو یادهانی کول وی تبلیغ ډیره خه لاره ده چه کله ددے په اصولو سره انسان او چلیږی

ددے اصو ل دادی د زنانو دپارہ چه کومے محلے ته کوم کلی ته چه جماعت لاړ شی نو چه په دا سے کمره کښی وی چه هغه ساده وی د کور والا د ضرورت سامان پکښی نه وی. بل دا چه هلته کښی نیزدے باتھ رُوم وی نو هغے ته د ضرورت په وخت کښی تلل. او جماعت والا زنانه به بغیر د ضرورت نه دَ کمرے نه بهر نه راؤزی . درے ورځے به مستقل دغه کمره کښی وی ذکر اذکار به کوی دعا ګانے به کوی جړا ګا نے به کوی ځان دپاره دعا امت د پاره دعا کومے چه د چم ګاونډ د کور د محلے زنانه وی هغوی سره به مذاکرے کوی نو دے نه به محله کښی په کلی کښی علاقه کښی ډیر زیات خیر او بر کتونه خواره شی او ددے ډیر زیات اثرات به ئی وی خپلے ارادے اولیکے، جزاکم اللہ .

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر : ''٧''

توبه



وُومه خطبه: **" توبه "**

الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره..... اما بعد فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم ، بسم الله الرحمٰن الرحيم .

﴿يٰٓاَيُّهَا الذين اٰمنوا توبوا الى الله توبة النصوحا﴾ و قال تبارك و تعالىٰ فی مقام آخر ﴿ان الله يحب التوابين و يحب المتطهرين﴾ و قال النبی ﷺ: "التائب من الذنب كمن لا ذنب له"

﴿سبحان ربك ربّ العزة عمّا يصفون ، و سلام على المرسلين والحمدلله ربّ العالمين﴾ اللهم صلّ على سيدنا محمد و على آل سيدنا محمد و بارك و سلّم .

عزتمندو! مسلمانانو مشرانو نوجوانانو او ګرانو اوريدونکو د قرآن کريم څه حصه ذکر کړے شوه او د جناب نبی کريم ﷺ د ذخيره احاديث نه يو حديث مبارکه اولوستی شو په دے آيتونو مبارکو کښی او حديث طيبه کښی يو مضمون بيان شوی دے چه هغه د توبے مضمون دے. د "تو بے" طرف ته تر غيب او فضائل د تو بے مونږ بار بار اورو خو ځمونږ او ستا سو ذهن کښی دے دا رانشی چه دا خبرے خو مونږ بار بار او ريدلے دی که دا خبرے مونږ بيا بيا اورو نو ديکښی څه قباحت نشته، پدے کښی څه شر نشته پدی کښی خير دے بار بار ددے خبرو په اوريدو سره په زړه باندے اثر کيږی.

مونږ او تا سو روزانه خوراك کوو چرته مونږ دا سوچ ندے کړے چه بيا بيا ډوډے خورم . بيا به ډوډے خورم او چه ددين يو خبره مونږه بيا بياواورو نو مونږ ته نفس او شيطان وائی چه دا خبره خو تا اوريدلے ده دا يو غلط سوچ دی څنګ چه روزانه انسان خوراك ته محتاج دے او

د غه خوراك او غذا د انسان بدن ته فائده ورکوی نو دا رنګے د الله ددین خبرے بار بار اوریدل هم روح ته فائده ورکوی دا د روح خوراك دے بل دا چه انسان ته پته نشته چه د قبولیت وخت کوم یو دے . د توبے یو دا سے مضمون دے چه بار بار بیان کړی شی او د انسان تو بے طرف ته توجه پیدا شی او دے هغه مجلس کښی په صدق دل سره تو به او با سی او کـه د غـه و خـت د قبـلیدو وو نو بس دا خوکامیاب شو تو به ئی قبـولـه شـوه. د ګـنا هونو نه به بیاځان سا تی د ګنا هونو نه به بیا متنفره وی . دنیکو د کارونو سره به ئی محبت وی.

معنی د توبے: الرجوع "تا ب و اناب" رجوع کول واپس کیدل . علماء توبے مختلف تعبیرات ذکر کوی.

1. بعض علماء وائی.

"التوبه رجوع من الافعال المذمومة الیٰ افعال المحمودة"

ترجمه: توبه د ناکاره کارونو پریخودل او نیکو کارونو طرف ته رجوع کول.

۲. بعض علماء ذکر کوی : "التوبة الندم علی ما فات واصلاح ما هو اٰت"

ترجمه: تو به دے ته وائی چه د انسان نه مخکښی کوم ګناهونه شوی پـه هـغـے پښیـمـانـه شی او را تـلـونـکی و خت کښی د خپلو اعمالو اصلاح کوونکی وی(چه آئنده به زه غلط کار نه کوومه)

۳. بعض علماء ذکر کوی: التوبه الحیاء العا صم والباء الدائم .

تـرجـمـه: تـو بـه دے تـه وائـی چـه داګـناه کوونکی انسان د الله نه حیاء اوکړی او همیشه د پاره د ګناه والا زند ګئی نه نیکے طرف ته راشی.

۴. بـعض علماء ذکر کوی: التو به قود النفس الی الطاعة بخطام الرغبة وردها المعصیة بزمام الر هبة،

ترجمه: تو به دے ته وائی چه په خپل نفس کښی د منلو رسئی وا چوی (نفس خپل طرف ته را کاږی نفس پسی نه ځی)
دده په زړه کښی یره را شی او هغه ګناه طرف ته نه واپس کیږی
۵. بعض علماء ذکر کوی: "التوبه نارٌ."
ترجمه: دا تو به په زړه کښی یو لګولے شوی اور دے د یو سوراخ او د چودی نوم دے چه اوهو ما خو الله خفه کړے دے راسره به حساب کتاب کیږی. دا ګناه به د قیامت په ورځ تمامو خلقو ته ښکاره کیږی بس ددے دا غم په زړه کښی پیداشی خلق وائی کنه تا خو زه پریشانے کښی وا چولم ما سره خو اس غم دے که تا سو خیال کړی ئی کله کله بعض سړی دد کان نه غلا کوی یا بل ځائے کښی غلا کوی په پټ طریقے سره نو چه دده په خپل ځان هم شك پیدا شی چه دا دکاندار یا کور والا په ما پوهه شو نو بیا ور سره هر وخت غم وی چه خدایه چرته را باندے رپورټ اونکړی چرته می مور او پلار رونړو خویندو ته او نه وائی دا غم وی ور سره.
نو چه مونږ سره دا غم په زړه کښی پروت ئی چه دا به څه کیږی که د قیامت په ورځ ګناه ټولو خلقو ته ښکاره شوه.
۷. بعض علماء ذکر کوی: "التوبة خلع لباس الجفاء و نشربساط الوفاء."
ترجمه: د ظلم او د بے حیائے هغه لباس لرے کول او د وفا څادر غوړول.
۸. بعض علماء ذکر کوی: "اذا ذکرت ذنبك فلم تجد له حلاوة."
ترجمه: تو به دے ته وائی چه تا کومه ګناه مخکښی کړے وی هغه ګناه درته را یاده شی او تا له پکښی څه خوند او مزه محسوسه نشی.
ته په هغه ګناه باندے خفه شی. مثلاً یو انسان دے مخکښی ئی

شراب څکلے دی ګانے بجانے ئی آوریدلے دی غلط لیدل ئی کړی دی او ده تـه دا پته ده چه دا شراب می څکلے وو نو دا می ګناه کړے ده دا ګانـے بـجانـے مـے آو ریدلے نو دا می ګناه کړے ده. او دا ګنا هونه مـی کـړی دی چه دا وَرته کله را یاد شی نو خفه شی وائی او هو دا خو ما الله خـفـه کـړے دے. او په هغـے باندے څه خوند او مزه محسوس نه کړی.

۸.بـعـض علماء ذکر کوی: "التوبه ان یعلم العبد جرء ته علی الله و یری حلم الله عنه ."

ترجمه: چه انسان دے ته سوچ او کړی چه ګوره الله موجود دے د هغه ذات طاقت هم شته او زه دو مره جرات کووم د الله په خلاف کښی د الله په طاقت باندے زه جرأت کووم او الله ما د پاره دومره صبر کوی. نو چه داکیفیت پیدا شو دے ته وائی توبه

مـطـلـب دا چـه یـو انسان ګناه کوی او خپل سوچ ئی فورا برابر کړو چه ګـوره زه دا ګـناه کووم نو الله شته ، الله موجود دے. الله قا در دی چه زه دا ګـنـاه کـوم او پـدے وخـت کښی الله ما ته د زمکے در وازے کهلاؤ کـړی او مـا پـکښی ور دنـنـه کـړی. او هغـه ذات دے چـه زه د هغـه نا فـرمانی کووم پدے وخت کښی هغه قادر دے چه په ما باندے آسمان نـه د کـانړو باران راوری. او هغه پدے قا در دے چه زمانه ځنا ور، خنزیر او شـادو جـوړ کـړی. خـو هـغـه ذات څومره لوئے صبر والا دے او ما ته صبـر کـوی. نـو دے سـره چـه کوم کیفیت پیدا شو انسان مجبوره شو چه زه به ګناه نه کووم اوبیا به الله نه خفه کووم. دے ته وائی توبه .

۹. بعض علماء ذکر کوی. چه د توبے درے درجے دی.

اوله درجه: "علم بضرر الذنوب"

چه انسان ته د ګناهونو د ضرر پته او لګی نن مونږ ته دا پته نشته چه ددے ګناځه ضرر دے نظر مو غلط استعمالیږی غوږونه مو غلط استعمال کړی حرام مو او خوړل..... او مونږ ته ئی اډو د ضرر علم نه وی. چه زه به ددے په بدله کښی بُدری مومه، ددے بدله کښی به زه ټکره اُووَخم

په دے وجه امام غزالیؒ احیاء العلوم کښی یو زبردسته خبره ذکر کوی. چه لوئے عالم هغه دے چه هغه باندے د ګناهونو نقصانات کهلاؤ شی.

دویمه درجه: "الندم علیٰ تضییع حق الله تعالیٰ."

چه ما خو د الله رب العزت حق ضائع کړو نو په هغے پښیما نه شی چه او هو ما خو د الله حق ضائع کړو د کوم ذات چه په ما باندے بے شماره احسانات کړیدی، ذات چه ماله وجود راکړے کوم ذات چه ماله دا سترګے ، غوږونه، اندامونه، خوراك څکاك دا هر څه را کړی کوم ذات چه ځما دپاره دا غر پیدا کړے کوم ذات چه ځما د پاره سپوږمی پیدا کړے کوم ذات چه ځما د پاره ستوری پیدا کړی ځما د پاره باران راوری دا وُنے بوټی ما د پاره زَرغونوی دا ځناور وغیره دا هر څه الله ځما د فائدے د پاره پیدا کړی نو ما خو د هغه ذات حق ضائع کړو په هغے پښیمانه شی .

دریمه درجه: "عملٌ فی الاصلاح"

چه انسان د خپلے اصلاح د پاره عمل کوی (نن مونږ د بل کس اصلاح کوو خپل ځان مو هیر وی.)

د توبے شرائط: علماء د توبے دپاره څه شرائط ذکر کوی. او تو به دے ته نه وائی چه د ځان نه غوږونه را کاږی چه یاالله توبه توبه خدایه تو به

دا خو تو بہ ندہ ځمونږ ډیرمیندے خویندے بہ ټیلی ویژن تہ هم نا ستے وی پہ لاس کښی بہ ورسرہ تسبیحات هم وی او وائی استغفراللہ استغفراللہ ددے څہ مطلب دی خوش رہے رحمان بھی راضی رہے شیطان بھی دا ګوری نہ کیږی اور او اوبہ نہ یوځے کیږی

علماء د توبے د پارہ څہ شرائط ذکر کوی.

۱. اجتناب من المحارم :

چہ تو بہ او باسی نو ځان بہ د ګناہ نہ بالکل بچ کوی دا نہ چہ بیا بیا بہ ګناہ کوی او توبہ بہ او باسی

۲. ورد المظالم:

تا د چا حق اغستے دے نو هغہ حق بہ ور تہ واپس کوی

کہ کلہ انسان د چا حق اغستے ئی او دا ورتہ نہ واپس کوی نو ددے تن مونځونہ، طوافونہ، صدقات نہ قبلیږی.

۳. والنیة ان لا یعود:

زړہ کښی بہ دانیت کوی چہ داګناہ بہ بیا نہ کومہ.

بعض علماء ذکر کوی د توبے تعلق د دریؤ زمانو سرہ دے .

۱، ماضی ۲، حال ۳، مستقبل

الندم علیٰ ما مضٰی، الاقلاع فی الحال، العزم ان لا یعود فی المستقبل

ترجمہ: تیر شوی زمانہ کښی کوم ګناهونہ شوی پہ هغے ښپیمانتیا حالاً هرہ ګناہ پریخودل آئندہ د پارہ د ګناہ نہ کولو غزم کول

د توبے لب لباب ، نچوړ او ثمرہ دا دہ چہ اللہ رانہ پہ دے ګناہ خفہ کیږی نو دا ګناہ ځکہ پریږدم کہ دَ ګناہ د پریخودلو سبب بل څہ وی نو بیا دا توبہ نہ دہ ځکہ علماء ذکر کوی یو سړی زنا پریږدی زنا پہ پیسو

سره کوی نو پیسے ورسره ختمے شوی نو دے وائی بس زه نوره زنا نه کوم. نو دا تو به نه ده ستا خو زړه کیږی خو پیسے درسره نشته بلکه تا سره پیسے هم شته مواقع (ځایونه) هم ملاویږی او ته اُووائے چه ځما نه الله خفه کیږی نو دَ الله دا خفه کیدل چه په کښی مینځ کښی را غله نو دا توبه شوه.

یو سړے جواری کوی او دے جواری پدے نیت سره پریږدی چه هر ځل زه داؤ بیلم چرته هم می ندے ګټلے نو دے جواری پریږدی هر څه ور سره ختم شو نو دا هم تو به نده.

په دے وجه علماء ذکر کوی. "درجوانی توبه کردن شیوه پیغمبری است" په ځوانے کښی تو به کول نبوت والا عمل دے. چه کله انسان بوډا شی نو بیا خو دے پخپله د ګناه کولو نه وی نو که یو سړی ګناه پریدی په دے وجه چه زما دزنا طاقت نشته، ما سره مال نشته، قوت نشته نو دا خو تو به نده، پدے وجه توبے لره په نیت کښی لوئے د خل دے بیا یود عقیدے تو به ده او یو د عمل تو به ده. د عمل د توبے نه مخکښی د عقیدے تو به پکارده کچرته عقیده کښی غلط څیزونه را دننه شو. عقیده په غلطو څیزونو باندے جوړه شوه نو د عقیدے توبه د عمل د توبه نه مخکښی ده پدے وجه مجدد الف ثانیؒ ذکرکوی چه وړومبی کار دا پکار دے چه خپله عقیده صحیح کړیشی ځکه د عقیدے تو به دا عمالو په تو بے باندے فضلیت لری. او هغے طرف ته اډو د چا تو جه هم نه وی. عقیده ئی ګنده وی او دے لګیاوی اعمال کوی ذکر اذکار کوی، دا رنګے خیراتونه کوی نو که په عقیده کښی د بد عاتو سره مینه محبت دے نو دهغے نه توبه ایستل پکار دی .

دویم نمبر کښی دا عمالو تو به ده خپل اعمال ټهیك کول نو که د انسانانو حقوق دے ضائع کړے وی یا دے غصب کړے وی هغه ور ته واپس کول پدے وجه یو روایت کښی راځی.

"رد درهم الی ربه اعظم عند الله من سبعین صلاة مقبولة"

که تا د چا نه یو روپے پټه کړے وی یا دے غصب کړی وی نو دا مالك ته واپس کول داویا قبول شوی مونځونو نه بهتره عمل دے .

په دے وجه علامه شعرانی ذکر کوی " حضرة الله تعالیٰ محرم دخولها علیٰ کل من علیه تبعة للآدمیین من مال او عرض او دم ."

چه په چا د انسانانو څه حقوق وی (خلاف شریعت طریقے سره ئی د چا حق وهلے وی د چا یو انچ زمکه ئی لاندے کړی وی..... تر څو ئی چی هغه ادا کړے نه وی نو دے انسان ته د الله په حضور کښی دا خله ممنوع ده دی به الله خپلے مخے ته نه پریدی الله ورته خپل دیدار نه نصیب کوی.

ډیر زیات احتیاط پکار دے په دے څیزونو کښی په دے وجه قرآن کریم کښی الله تبارك و تعالیٰ تر غیب ور کوی.

﴿یٰٓاَیُّها الذین اٰمنوا توبوا الی الله توبةً نصوحًا.﴾

اے ایمان والو! الله ته په اخلاص سره توبه اوباسئ. دَ "توبةً نصوحاً" وضا حت مفسرین ذکر کوی، تفسیر قر طبی بعضی اقوال ذکرکړی دی خلاصه ئی دا ده. چه په اخلاص سره تو به او باسئ.

صرف وقتی توبه نه. کله کله مونږ وایو" تو به خدایه توبه" دا نه بلکه په اخلاص سره تو به اوباسئ چه الله سره تعلق قائم شی په دے وجه علماء ذکر کوی چه کوم انسان توبه اوباسی نو دے توبے سره الله رب

العزت دَ دے انسان هغه شته ګناهونه هم معاف کړی. نو یواځے ګناهونه نه بلکه ده نه چه څومره ګناهونه شوی وی نو په اعمال نامه کښی ورته الله پاك د هغے په ځائے نیکئی اولیکی. یو حدیث پاك کښی راځی نبی ﷺ فرمائی د قیامت ورځ به الله رب العزت یو بنده راپاسوی ده به څه نیك عمل کړے وی او څه به ئی بد عمل کړی ئی .
الله به ملائکو ته اوائی چه دا لوئے ګناهونه ئی یو طرف ته کړے (دنیا کښی دۀ د ټولو ګناهونو نه تو به ایستی ده) ده ته به الله رب العزت یو وړه غوندے ګناه رامخامخ کړی وائی به ځما بنده دا ګناه تا کړے وه دَ دے انسان به خله کښی لاړے اوچے شی ، دے به زړه کښی وائی چه دا په کښی د کوم ځائے نه؟ دا ګناه خو ما ډیره پټه کړے وه. او وړه غوندے ګناه وه دا هم را پسی لیکلے شوی ده.
ځکه ځمونږه دا عقیده ده. او د قرآن دا مسئله ده د قیامت په ورځ چه عملنامه تقسیم کړے شی نو دا انسان به چغے کړے: ﴿مالِ ٰهذا الکتاب لا یغاد ر صغیرة ولا کبیرة الا احصٰها﴾
"دا څنګ عملنامه او کتاب دے چی ځما وړوکی عمل او لوئے عمل هرڅه ئی را جمع کړے دی." په دے وجه قرآن کریم کښی الله فرمائی ځمونږ د خلے نه یو لفظ، یو حرف یو قول نه روځی مګر ملائکو ډارك (فوراً) د هغے اندراج کړے وی.
﴿و کفی با الله شهیدا﴾ الله پخپله هم ګواه ذات دے .
﴿الیوم نختم علی افواههم﴾ الله فرمائی په خلے به ورته د قیامت په ورځ مهر اولګو او د انسان دا لاس خپے اندامونه به ګواهی اوکړی چه ربه مونږ ئی دے طریقے سره استعماکړی وو..

زمکـه بـه هم ګـواهـی کـوی، پدے زمکـه کښی الله رب العـزت د ریکارډنګ یو زبر دست صلا حیت ایخو دلے دے. لکه مونږ تا سو په دے ځائے کښی نا ست یو نو دے زمکه کښی دا هر څه ریکارډ کیږی دا زمـکـه بـه ګواهی کوی چه دا خلق په دے ګرمے کښی په دی وخت کښی دو مـره وخـت را جمع شوی وو. د مونځ د پاره را جمع شوی وو د ا ختـر د مـانـځـه د پـاره سـحـر راجمع شوی وو. په دے لاره باندے خپلو رشته دارانو کره تلے وو دا ټول پدے زمکه کښی ریکارډ کیږی

نو دا څو قسمه غټ ګواهان دی (۱) کرامًا کا تبین ۲. الله رب العزت ۳. د انسـان د خپـل بـدن اعـضـاء ۴. زمـکه(۵) کوم وخت کښی چی عمل کړی وی .

نـو هلته خو به څه پټیږی نه دے انسان ته به الله وائی بنده دا ګناه دے کـړے وه نـو دے بـه وائـی آؤ یـا الله دا مـا کـړے وه هلتـه خود انکـار ګنجائش به نه وی الله به ور ته اوائی چه تا دے نه تو به ایستے وه دے بـه وائی آؤ ربّه تو به می ایستے وه الله به ور ته او فرمائی راشه او ګوره دے بـدلـه کښی مـی در ته دغه جنت در کړو. د غه نیکی می در کړ. د غـه بـا غـونه دی . د غه میوی دی د غه خو شحالے دی او ګوره چه کله دے انسـان تـه دا اوائـی نـو دے بـه خپلے لارے تیر کړی دے به اوائی چـه یا الله دے نه علاوه هم ما ډیر ګناهونه کړی دی. غټ غټ ګناهونه می کړی دی.

نـو ځـمـا عزتمندو! تو بے والا دومره لوئے مقام دے الله تبارك و تعالیٰ فـرمـائی: ﴿ان الله یحب التوابین﴾ استاذان ذکر کوی دا "یُحِبُّ" صیغه دَ مضارع ده او په مضارع کښی د حال او استقبال دواړو معنی وی د الله

ورسره اوس هم محبت دے او آئنده به ئی هم ورسره محبت وی (اللہ محبت کرتا ہےاورمحبت کریگا) دَ کومو خلقو سره "التوابین" چه کوم خلق په اخلاص سره تو به او باسی یو روایت کښی راځی نبی ﷺ فرمائی :

"التائب من الذنب کمن لاذنب له"

چا چه د ګناه نه توبه او با سله دا داسے دے چه ده اډو دګناه کړے نده، (خو چه څوك په صدق دل سره توبه او باسی)

او بخاری شریف کښی روایت دے. "لله اسرع بتوبة عبد ....."

اللہ د خپل بنده په تو بے سره دومره زیات خوشحاله شی .....

نبی ﷺ یو تمثیل ذکر کوی. ځکه د عربو دَستور دا وو هغوی چه به یو خبره ذکر کړه او په هر ژبه کښی خپل خپل محاورات وی(متلونه وی) نو هغے سره انسان په خبره باندے په آسانے سره پوهه شی .

یو انسان دے هغه تلے بازار ته او خپله سورلئی هم ور سره ده او سو دا ئی هم وا غستله لکه مونږ به دا ختر دا ایام یاد کړو، چه دا ختر نه یو څو ورځے مخکښی یو سړی تلے وی با زار ته خپلو بچو ته پیزار جامے دا ختر میلمنو د پاره خوراکونه او ډیرے سو دا ګانے و ا خلے او خپل مو تر سائیکل یاموټرباندی هر څه کیدی دے روان دے یو ځائے کښی څه تقاضے ضرورت د پاره اخوا لاړو او ګاډے ئی پریخود و چه دے واپس را غلو نو ګاډے نه وو نو دانسان ډیر زیات خفه او د خفګان نه ئی زړه چوی یو خوا منډه بل خوا منډه خو ګا ډے ور ته ملاؤ نشو نبی ﷺ فرمائی دے چه کله ستړے شو او د هر طرف نه ما یو سه شو نو دے را غے او په یو ځائے کښی ئی ډډه اولګوله او او ده شو چه کله را پاسیدو نو هغه سورلئ هغه شان دخپل سامان سره ولاړه ده نو دے به دغه وخت کښی سم خو

شحاله شی نبی ﷺ فرمائی دغه انسان به څومره خوشحاله وی ده نه زیات الله پاك د خپل بنده په توبے خوشحالیږی.

او د غـه انسـان د ډیـرے خـو شـحالـے نه چه وار پار ترے نه خطاشی او وائی " یا الله ته زما بنده ئی او زه ستا رب یم "

نـو ځمـا عـزتـمـنـدو! تـو به کول د خپلو ګناهونو نه د رمضان المبارك میـاشت تیره شوه پدے کښی شیطانان مونږ ته ډیر کار یدلی وو. ځکه احـادیثـو کښـی راځی چه هغه شیطانان سرکشه په رمضان کښی قید کـړے شـی. نـو کـو شـش دا کـوی چـه شیطانان مو په دے اختر کښی قابو نه کړی ځکه شیطان د الله بندیګان په اختر کښی قابو کوی .ځکه وائی ده خو په رمضان کښی ډیر تلاوتونه کړی ذکر اذکار ئی کړے دے روژے ئـی نیـولـی دی. افـطاری ئـی کـړی. خیـر ا تونـه ئـی کـړی دی صـدقـات ئـی کـړی دی زکوٰتونه ئی ورکړی دی. تهجدئی کړے دی او صـرف د الله رحـمتـونـه پـدے میـاشـت کی را وریدل نو شیطانان وائی اوس بـه ور سـره ګـورو. نـو چه مونږ او تا سو نه کوم کو تا هی شوی وی نـو چـه پـه هـغـے په صدق دل سره تو به او با سو چه انشاء الله د شیطان پـه قـابوکښی به نه راځم نو که مونږ څه ګناه او غلطی هم او کړو نو فو راً تو به ایسـتل کله کله مونږ دا وایو چه دا ګناه به رانه بیا بیا کیږی نو د الله د طرف نه اعلان کیږی.

باز آ باز آ ہر آنچہ ہستی باز آ　　گر کافر و گبر بت پرستی باز آ
ایں درگئی ما درگئی ناامیدی است　　صد بار اگر توبہ شکستی باز آ

کـه تـانـه ډیـر کـرتـه هـم ګـنـاه شـوی ده ډیـر ګناهونه درنه شوی دی الله فـرمـائـی اے ځـمـا بـنـده ماته را شئی په صدق دل سره تو به او باسی د

خپل ګناه اقرار او اعتراف او کړے او الله ته لاس پور ته کړے.

"الٰهی عبدك العاصی اتاك مقراً بالذ نوب و قد دعاك"

اے ځما پرور دګاره ستا د ګناهونو ډك بنده ستا در ته را غلے دے دَ خپلو ګناهونو اقرار کوی. چه زما سوچ ګنده فکر می ګنده خیالات می ګنده، ربه لا سونه می په ګناه ککړ، سترګے می په ګناه ککړی، غوږونه می په ګناه ککړ، ژبه می په ګناه ککړه، ربه هر طرف ته د ګناه نه ډك یم ربه د خپلو ګناهونو اقرار او اعتراف کوم ربه تا ته پکار کوم تارا بلم، تا نه غواړم، تانه سوال کوم

"فان تغفر فانت لذالك اهل وان تترك فمن یرحم سواك"

ربه که ته می او بخښے ځما ټول ګناهونه ختم کړے نو اے ځما ربه ستا نه څوك تپوس کولو والا نشته او ته ددے اهل ئی . او اے ځما ربه که ته ما پریدے او د خپل درنه می او شړی، نو .

فمن یرحم سواك: ربه ستانه علا وه به را باندے بیا څوك رحم کوی. بل کوم در ته به ځم.

په دے وجه احادیثو مبارکو کښی د تو بے تر غیب دے په تو بے سره الله رب العزت ډیر زیات خو شحالیږی نبی کریم ﷺ د توبه کوونکو ګنړ فضائل ذکر کړی دی . تو بے سره انسان د ګناه نه دا سے پاك شی لکه چه د مورنه ما شوم پیدا شی او د ګناه نه پاك وی .

د عمل نه مخکښی که په عقیده کښی د انکار حدیث جراثیم را دننه شو د انکار ختم نبوت جراثیم را دننه شو، په عقیده کښی شرکیات را دننه شو بد عات را دننه شو د نبی کریم ﷺ احادیثو ته بکواس وائی د نبی کرم ﷺ احادیثو پورے استهزاء کوی . که چرته انسان د هغے نه

تو به او نه با سی دا انسان مرتد دے. دَ دے انسان مونځونه نه قبلیږی، دُعاګانے نه قبلیږی، روژے نه قبلیږی ،نو د اعمالو د اصلاح نه مخکښی د عقیدے اصلاح ډیره زیاته پکار ده . بعض کا رو نه انسان سره به تو به کښی مدد ور کوی 'یو' اخلاص 'دویم' امتلاء القب من محبة الله زړه د الله د محبت نه ډکول. 'دریم' مجاهده 'څلورم' فکر آخرت 'پنځم' د ګناه د ځا یونو نه ځان سا تل 'شپږم' دنظر حفاظت 'اووم' د ناکاره خلقو سره نه کینا ستل بلکه د صالحینو مجالس اختیارول بل د خپلو سوچونو اصلاح او د ګناه نتیجه باندے سوچ کول ، د ګناه پریخودَلو عَزم کول او دَ دُعا اهتمام کول.


یا الله توبه او با سو ځمونږ دا تو به په خپل دربار عالیه کښی قبوله او منظوره کړی.

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ”۸“

[ابتدائی آیاتونه]

سورة التوبة



اَتَمه خطبه: ''ابتدائی آیتونه دَ سورة التَّوبة''

الحمد لاهله والصلوٰة علی اهلها اما بعد فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم. ﴿براء ة من الله .....﴾

دسورت تو بے ورومبی آیتونه ددے د زده کولو نه مخکښی څوخبرے پیژندل پکار دی.

په سورت تو به کښی د څو غزواتو تذکره هم شوی ده. او دا رنګے د هغی متعلق ګنړ احکامات دے سورت تو به کښی دا مضمون هم بیان شوی دے چه څومره د عربو قبائل وو او د هغوئی سره معاهدے شوی وو نو د هغے دختمیدو اعلان پکښی ذکر دے .دے سورت کښی د فتح مکه تذکره هم شوی ده غزوه حُنین او تبوك تذکره هم ده. فتح مکه دَ تولو نه اول په سن آته هجری کښی واقع شوی وه او بیا څومره د عربو قبائل چه وو نو په ذالحجه سن نو هجری کښی چه هغوی سره کوم معاهدات وو د هغے د ختمید لو اعلان شوی وو پدے سورت کښی هم د معاهداتو د ختمیدو متعلق آیتو نه ذکر شوی دی.

تفصیل : چه په سن نو هجری کښی نبی کریم ﷺ د عمرے ارا ده او که نبی کریم ﷺ خوب لیدلے وو چه مونږ سره د ملګرو نه لاړو او دبیت الله طواف مو او کړو.

نبی کریم ﷺ په سن ٦ هجری کښی د عمرے د پاره را روان شو ملګری ور سره وو(چوده سو کسان وو نبی کریم ﷺ چه حدیبیه مقام ته او ر سیدو نو نبی کریم ﷺ څه کسان او لیږل چه لاړشی قریش خبر کړی چه مونږ صرف د عمرے په نیت سره را غلے یو طواف به کوو سعی به کوو. او بیابه واپس ځو. خو هغوی انکار او کړو چه مونږ تا سو نه

پریدو(حالانکه دا اتارتی د هغوی سره نه وه چه څوك ئی د بیت الله د طواف نه منع کړے وے او دا څومره د افسوس مقام وو چه بیت الله جو ړ شوی د نبیؐ د پاره وو او نن هغه پخپله بیت الله ته نه پریدی بیا په د غه مقام کښی څه خبرے کیدے نبیؐ ملګرو ته یو خبره او کړه که دے قریشو سره ځمونږ څه طریقے سره رو غه کیږی خو چه په هغے کښی ددین د شعائرو تو هین نه ئی نو زه به د هغوی هر شرط ته غاړه کیدم. بیا مختلف کسان تله را تله اوږده وا قعه ده . بالاخر چه مذاکرات طے شو. صلح او شوه د لسو کالو د پاره علامه آلو سی تفسیر روح المعانی کښی ذکر کوی. چه دا میعاد لس کاله مقرر شو چه دپکښی به مونږ دیو بل خلاف جنګ نه کوؤ با قی چه کوم آس پاس قبائل دی هغوی ته به اختیار حا صل وی که څوك د نبیؐ سره ملګری کیږی او که څوك د قریشو سره ملګری کیږی، د نبیؐ سره قبیله خزاعه حلیف اوګرځیدل. دنبیؐ د هغوی سره و عده او شوه چه مونږ به خپلو کښی ملګری یو او قبیله بنی بکری د قریش سره شو پدے معاهده کښی دا و وچه لس کاله به حیث قسمه جنګ د یوبل خلاف نه وی نو ر هم پکښی ګران ګران شرطونه طے شوی وو.

یو شرط پکښی دا وو کچر ته څوك ددے قریشو نه ایمان قبول کړی او د پیغمبرﷺ او د مسلمانانو خوا ته لاړشی نو مونږ ته به ئی واپس کوی او که ستا سو نه څوك مونږ ته را غلو او کافر شو نو مونږ به ئی نه واپس کوو دا ګران شرط وو. پدے کښی چه کوم د قریشو مشر وو سهیل د هغه زوی ابو جندل مسلمان شوی وو. نبیؐ صحابوؓ ته اووئے چه دے و ر ته واپس اولیږی. پلار او مشرکانو ډیر وخلے وو وینے ترے

نـه بهیدے په هتکړو کښی ګیر وو. دے بیا راو تختیدو نبیؑ بیا اووئے دے ور ته واپس کړے.

سیدنا عمر ﷺ بیـا بیـا راځی او تاویږی وائی د الله رسوله ولـے مونږ په حقه نـه یو. خپل ځانونه به شهیدان کړو ما ورته پریدوے، سیدنا عمر ﷺ بار بار لګیا دے. سیدنا ابو بکرصدیق ﷺ ورته وائی چپ شه! پیغمبر د ځان نه یو کـار نـه کـوی هغه ته د برے نه حکم کیږی. حضرت عمرؓ بیا ځان ملامته کـولو چه دا ما څه کول چه کله دوی واپسی کښی راروان وو. حضرت عمرؓ وے زه دنبیؑ نـه لږ اخـوا اخـوا تـلـم مـا وے هسـے نـه څه ګستا خی را نه شـوی وی او زمـا بـاره کښی څه وحی نا زله نشی. وائی زه اخوا ووم پدے کښـی د نبـی کیـفیت بدل شو. د صلح حدیبیه نه په وا پسی کښی په سن ٦ هجری نبیؑ آواز او کړو چه عمرؓ څه شو، عمرؓ وائی ما باندے وار خطائی را غله چه زما باره کښی څه نا زل شو. چه زه کله را غلم نبیؑ ما ته مبارکی راکړه چه الله پاك وحی راولیږله ﴿انا فتحنا لك فتحا مبینا﴾

تـالـه مـی لـو یـه فتـح در کـړه اوس لا فتـح خو نـه وه را غلـے خو صلح حدیبیه سبب او ګر ځیدو د پاره د فتح مکه

د غـه کـوم د سهیل زوی ابو جندل چی وو هغه دا سوچ اوکړو که زه بیا د پیـغـمبرﷺ خـوا ته ځم نو بیا به می واپس کوی مشرکانو نه او تختیدو چـر ته یو لاره وه هلته کښی ئی ځان ته یو جونګړه غوندے جوړه کړه او هتـلـه کښـی د یـره شـو. نـو یو بل صحابی دے هغه هم چه د قریشو نه مسـلـمـان شـو هـغـه وائـی که زه هم د پیغمبرﷺ خواته لاړم نو ما به هم واپـس کـوی. نو دے هم د ابو جندل خوا ته لاړو. نو د غـه شان به چه کوم کسـان مسـلمانان کیدل نو هلته به تلل او یو ګروپ جوړ شو. نو چه کله بـه د شـام نـه د کـافـرانـو څـه قـافـلـه را تـلـه نـو دی به هغه لو ټ کوله نو

مشرکان سم تنګ شو. په دهغه دو ران کښی د معاهدے د ننه دننه نبیؐ په سن ۷ هجری کښی د عمرے د پاره لاړو درے ورځے هلته ایسار شو او بیا واپس را غلو. بیا پنځه شپږ میا شتے تیرے شوی قبیله نبی بکر چه کوم د قریشو حلیف وو نو هغوی د شپے په قبیله خزاغه باندے حمله اوکړه قریشو هم ددی حمایت اوکړو د شپے وخت وو او دوی وے چه ددے نه به پیغمبرﷺ څنګ خبر شی هغه خو مدینه کښی دے. بالا آخر نبیؐ ته دے قبیله خزاغے خبر ورکړو چه ځمونږ خو تا سو سره ملګرتیا وه او دے قریشو خو وعده ما ته کړه نو چه ددے وا قعه اطلاع نبیؐ ته او شوه نو نبی ملګرو ته اووئے چه تا سو ځان تیاروی. دوی وعده ما ته کړه نو اوس ددی سره ځمونږ معاهده ختمه ده.

مشرکانو ته خو خپل زور معلوم شوی وو په بدر کښی بیا په احد کښی او احزاب کښی نو دا کفار ډیر یریدل چه کله دوی یره محسوس کړه چه مسلمانان را باندے چرته حمله او نکړی. نو دوی ابو سفیان اولیږلو چه ته لاړشه مدینے منورے ته او حالات معلوم کړه. سیدنا ابو سفیانؓ لُور کره را غلو(سیدنا ابو سفیان ؓ دَ نبیﷺ سخر هم وو، دَ هغوی لُور اُمّ المؤمنین سیده اُم حبیبهؓ په نبیﷺ وا ده وه) چه کله سیدنا ابو سفیانؓ اُم حبیبهؓ کره راغلو نو اُمّ حبیبهؓ هغه بستره راغونډه کړه پلارئی حیران وو چه بچے دا ولے ځما نه دے بستره غونډه کړه وائی ابا جان ته مشرك سړے ئی دا خو د پیغمبرﷺ پاکه بستره ده ،په دے پلیت خلق مونږ نه پریدو.

نو دغه و خت کښی ابو سفیان را غلے وو. را غے سیدنا عمرؓ ته وائی. سیدنا ابو بکرؓ ته وائی چه پیغمبر ارا ده کړے ده چه مکے باندے حمله کوو نو تا سو ورته اوائے چه وعده به برابروی او معاهده به وی

سیدنا ابو بکر ﷺ ووئے زہ پیغمبر تہ نہ شم ووئیلے. سیدنا عمر ﷺ ووئے زہ پیغمبر تہ نہ شم ووئیلے.

بیا سیدنا علی ﷺ را غلو سیدنا علی ﷺ ور تہ اووئے چہ زہ پیغمبر تہ نہ شم وئیلے سفارش دے نہ شم کولے، یو لارہ در تہ ښودلے شم دا سے کار او کہ پہ مسجد نبوی کښی اودریږہ او اعلان اوکړہ چہ ایماندارو ځمونږ ګورے معاهد ہ پہ معاهده ده ، د یو بل خلاف جنګ بہ نہ وی، ابو سفیان وائی زہ پو هه نه شوم او بس دا اعلان می اوکړو او واپس را غلم مکے تہ خلقو راتہ ووئے څہ پیغام دے راوړو. وائی ما سرہ خو پیغمبر ﷺ تہ څوك نہ ور تلہ او دا کار می او کړو. هغوی ور تہ ووئے دا خو تا د کم عقل توب کار اوکړو آیا مونږ د جنګ د پارہ ځان تیار کړو او کنہ مونږ خو پہ حیث پتہ باندے پو هه نشو.

د غہ حالات چلیدہ. نبیؑ چہ دے حالاتو نہ خبر شو نبیؑ ملګری تیار کړہ او د مکے مکرمے باندے حملے کولو قصد ئی اوکړو او مکہ مکرمہ فتح شوہ. کوم خلق چہ پہ قریشو کښی وو او زړہ تہ ئی ایمان ور کوز شوی وو خو اظهار ئی نشو کولے نو چہ کلہ مکہ فتح شونو هغوی هم د زړہ د خلاصہ ایمان قبول کړو. دا رنګے بیا نبیؑ پہ مکہ کښی اعلان اوکړو: ﴿لا تثریب علیکم الیوم﴾ کہ چا مونږ سرہ هر څومرہ زیا تی کړے وی پہ تا سو هیڅ ملامَتیا نشتہ بالکل هر څہ ختم. تیر پہ هیر با قی روزګار.

پہ مکہ باندے مکمل د مسلمانانو قبضہ را غلہ چہ کوم یو خوا بل خوا غیر مسلمہ خلق وو هغوی تہ امن ورکړے شو.

پہ سورۃ التوبۃ کښی دَمُشرکینو ګنړ اقسام هم ذکر دی.

د مشرکینو اقسام: یو قسم هغہ خلق وو چہ هغوی سرہ پہ حُدیبیہ

کښی معاهده (وعده) شوی وه دوی پخپله وعده ما ته کړے وه دهغوی دا وعده ما تول د مکے د فتح کیدو سبب هم اوګرځیدو)

۲. څه خلق دا سے وو چه هغوی سره وعده شوی وه خو وخت پکښی مقرر وو په خپله معاهده کلك پا تے و و لکه دَ بنی کنانه دوه قبیلے نبی زهرا بنی مدلج دی سره وخت مقرروو. تفسیر خازن ذکرکوی چه ددوی معاهده کښی نخه میا شتے وخت باقی وو.

۳. دریم قسم هغه خلق وو چه هغوی سره وخت نه وو مقرر، وعده ور سره وه چه د یوبل خلاف به جنګ نه کوو.

۴. څلورم قسم هغه خلق وو چه دهغوی سره حیث قسمه معاهده نه وه. نو دا رانګے کومو مشرکینو یا اهل کتابو چه معاهدے ئی ماتے کړے وے. چه وړومبی جماعت وو د قریشو چه دوی صلح حدیبیه کښی وعده پخپله ما ته کړے وه، دی خو د مزید مهلت مستحق نه وو. خو دا سورت چه کله نا زل شو نو د اشهر الحرام میا شتے وه نو قرآن کریم د هغوی باره کښی ذکر اوکړو.

﴿فاذ انسلخ الاشهر الحرم فاقتلوا المشرکین حیث وجد تموهم﴾

صرف د عزت دے میا شتو پورے ور ته مهلت ورکړے نو چه بیا ئی کوم ځائے کښی مومی نو قتل کړے دوی لره.

چه اشهر الحرم ختم شی نو په دیکښی به دوی یا جزیرة العرب پریدی یا به مسلمانان شی. او که په دیکښی ئی یو کار هم اونه کړو نو بیا ورسره جنګ اوکړے.

چه کوم جماعت سره میعاد مقرر وو. صلحه ور سره شوی وه. او هغوی وعده نه وه ما ته کړے نو دهغوی باره کښی سورة التوبة ذکر کوی: ﴿الا الذین عاهدتم﴾ مګر هغه څوك چی تاسو ورسره وعده کړے، چه وعده

کړے ده او وعده کښی ئی کمے ندے رواستے نو ﴿فاتموا الیهم عهدهم﴾ نو هغوی ته خپلے وعدے پورے انتظار اوکړے. دا حکم د نبی زبرا او بنی مدلج باره کښی وو. هغوی ته نخه میا شتے مهلت ورکړے شو او د سورت تو به نورو آیتونو کښی دی چه کوم دانور خلق وو ﴿براء ة من الله ورسوله.....﴾

چا سره وخت نه وو مقرر او عده ور سره شوی وه نو قرآن کریم اعلان ذکر کوی. څلورمیاشتے مهلت ور ته ورکړے ، څلور میا شتے کښی به دی یا جزیره العرب پریدی او یا به مسلمانان شی نو یاد هغوی خلاف جنګ اوکړے.

مفسرین ذکر کوی په سن ۹ هجری کښی په حج کښی سیدنا ابو بکر صدیق رضی الله عنه او سیدنا علی رضی الله عنه مقرر شو دے اِعلان کولو دَ پاره . دوی مکے مکرمے ته را غله میدان عرفات کښی او منٰی کښی چه کوم ځائے به تمام قبائل عرب را جمع وو. اعلان به ئی کولو. چه ایماندارو پوره عربو ته دا خبره اورَسوئ. سیدنا علی رضی الله عنه یمن والا ته هم دا اعلان کړے وو .او چه کله میاشتے د عزت ختمے شی نو ځمونږ به تا سو سره بیا هغه وعده نه وی ، هرڅه به ختم وی نبی صلی الله علیه وسلم اعلان هم کړے وو.

چی دے کال نه بعد به هیڅ مشرك حج ته نه رازی .

په جزیره عرب کښی هر قسم شرك ختم. په دغه وخت کښی اعلان او شو د نن نه پس به آئنده یو مشرك هم حج ته نه راځی. اوس هم چه هغوی په چاپو هه شی چه شرك وی پکښی نو ډیر شرك والا هغوی کله کله د ائیرپورټ نه هم واپس کوی. نو پدی وړومبی آیتونو کښی دغے طرف ته اشاره ده ﴿براء ة من الله وَ رسوله.....﴾

په سورة التوبة کښی دَ څلورو ډلو بیان دے .

(۱) ړومبی ډَله دَ مُشرکین دَه ، دَ دوی څلور قسمونه دی.

(الف) معاهدین بالعهودالموقت

(ب) معاهدین بالعهود الغیر الموقت

(ج) مُحاربین (د) مُستأمنین

(۲) دویمه ډَله دَ اهلِ کتابو دَه ، دَ دوی دوه قسمونه دی.

(الف) یهود (ب) نصاریٰ

(۳) دریمه ډَله دَ دَ مُنافقانو (دَ لستونړی دَ مارانو) دَه ، دَ دوی څه دَ پاسه شپیتهٔ قباحتونه ذکر کوی.

(۴) څلورمه ډله دَ مؤمنانو ده .

دا رنګے په سورة التوبة کښی الله رب العزت مؤمنانو ته تنبیه ورکوی چی ځان دَ ناکاره مُلیانو او ناکاره پیرانو نه هم اُوساتئ : ﴿یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ کَثِیْرًا مِنَ الْاَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَیَاْکُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَ یَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ﴾

الله رب العزت دِ مونږ ته قرآن ته دَ ناستے تو فیق نصیب کړی. ځکه چی انسان قرآن ته کینی نو د ډیر یدو نه هم خبر شی او د ژوند تیرولو لارے هم زده کړی.

گر تو می خواہی مسلمان زیستن
نیست ممکن جز بہ قرآن زیستن

★★★★★★★★★★★★



خطبہ نمبر : ”۹“

قرآن او تقویٰ

نهمه خطبه: ”بیان په موقع د ختم القرآن“
”قرآن و تقویٰ“

الحمد الله نحمده و نستعينه و نستغفره .....

اما بعد ! فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم . بسم الله الرحمن الرحيم .

﴿يٰٓاَيُّها الذين اٰمنوا التَّقوا الله و كونوا مع الصادقين﴾

معزز علمائے کرام او ددے علاقے عزتمندو پختنو مسلمانانو مشرانو کشرانو او نوجوانانو ملګرو انتهائی د خوشحالے مو قع ده چه مونږ اوتاسو نن په کومه اجتماع کښی را جمع یو. دالله رب العزت کتاب ځمونږ او ستا سو دے معصومانو بچو اختتام ته رسولے دے . او په هغے خو شحالے کښی مونږ او تا سو دلته را جمع شوی یو.

الله تبارك و تعالیٰ په دنیاکښی انسان ته وجود ورکړے او داانسان الله رب العزت د نورو مخلوقاتو نه ممتاز ګرځولے دے انسان ته الله شرافت ورکړے، کرامت ورکړے ، عزت ئی ورکړه بیا دا انسانانو او ځناورو په مینځ کښی الله رب العزت فرق ګرځولے دے د هغوی خوب خوراك څکاك ، د نورو ضروریات زندګی ټول هر څه کښی الله رب العزت انسان د ځنا ورو نه جدا ګرځولے دے. که ځناور دی نو په ځناورو کښی خپل صفات دی. د هغوی خپل کارونه دی مثلاً یو ځائے کښی دوه ځناور دی غویان دی که خرونه دی که هرڅه ئی که چرته په هغے کښی یو ځنا ور ته څوك دَ اُوبو انتظام اوکړی د سوری انتظام اوکړی، دهوا انتظام اوکړی.نو هغه سره د بل ځناور سوچ او احساس نه وی دا رنګے په ځناورو کښی بعض ځناور داسے وی چه هغه بل چا ته تکلیف ورکوی او خپله فائده تلاش کوی لکه بعض

درنده ګان وی هغه نور ځناور ماتوی او د هغوی وینے څکی.
بعض دا سے حیوانات ، درند ګان دی چه هغوی بل چا ته تکلیف رسوی او پخپله ئی پکښی حیث فائده نه وی.
خو داسے سوچ به د انسان نه وی ځکه بیا خو انسان او ځنا ور کښی فرق نه پاتے کیږی. چه د یو انسان هم سوچ داوی چه زما کور شته، ما کره د بجلی او بو انتظام شته، زما د سوری انتظام شته زما د خوراك څکاك انتظام شته او دا نور خلق به خپل کار کوی نو دا خو د ځنا ور و والا سوچ دے، دے سره خو انسان د انسانیت نه اوځی . پدے وجه د انسانیت دویم نوم دین اسلام دے، کچرته یو انسان د انسانیت کا رو نه نه کوئی نو قرآن کریم د هغوی باره کښی ذکر کوی:

﴿اولٰئك کالا نعام بل هم اضل﴾

تاسو ته به انسان په نظر راځی. شکل به ئی د انسانانو غوندے وی تا سو به وائی چه دا خو پیرے تنخواه والا دے. داخو پیر لوئے صاحب جائیداد انسان دے، خو چه کله ئی کارونه د انسانیت نه وو نو قرآن کریم کښی الله رب العزت فرمائی :
﴿اولٰئك کالا نعام بل هم اضل﴾ دَ ده مثال خو په شان دَ ډنګرو (ځناورو) دے.
د انسان خو یو لوئے حیثیت او مقام دے. بیا الله رب العزت د اانسان مکلف ګرځولے دے، الله رب العزت د خپلو احکاماتو خپلو بندګانو ته حکمونه را لیږلی دی. الله رب العزت خپلو بندګانو ته د زند ګی تیروولو د پاره یو دستور را لیږلے دے. چی قرآن کریم دے ،
د ا قرآن کریم دا سے یو عظیم الشان کتاب، دا سے یو ضابطه حیات، دا سے یو دستور زند ګی چه دے په خلقو کښی صفات را و لی اوس

هم چه د کومو خلقو دے سره تعلق را شی نو صفات پکښی را شی د قرآن کریم د انقلاب او د قرآنی کریم د اثر د هغے دپاره ښکاره دلیل ځمونږ او ستا سو دا راجمع کیدل دی. دا دے قرآن کریم مونږ راجمع کړے یو. دا قرآن کریم دا سے یو والی او اجتماعیت را ولی، دا سے اتفاق او اتحاد را ولی دا د قرآن کریم اثر دی.

امام بخاریؒ په خپل صحیح بخاری په آخر کښی " باب المؤاخات " قائم کړے دے. انسان چه هغے کښی سوچ کئی نو حیران شی چه دے قرآن کریم څنګ خلقو کښی رورولی رراوستے وه یو دوه صحابه کرام ﷺ د هغوی ملګرتیا (رورولی) نبی کریم ﷺ قائمه کړه. یو عبد الرحمن بن عوفؓ او یو بل صحابی ددوارو ورور ولی قائمه شوه. دا انصاری صحابی عبد الرحمن بن عوف ﷺ ته وائی ملګریه! زما او ستا خو ورورولی قائمه شوه. نو څومره چه زما جائیداد دے په هغے کښی به نیم ستائی او نیم (نصف) زمائی او زما دوه بیبیانے دی نو ته اندازه او لګوه چه کومه بی بی پکښی ستاخو ښه وی زه به هغے له طلاق ور کړم چه عدت ئی ختم شی نو ته به ور سره نکاح اوکړی(دا خبره په ووئیلو او او ریدو کښی ډیره آسانه ده خودا ډیره درنه خبر ده، نن مونږ د قرآن نه لرے یو ددین نه لرے یو نو په ایمان ئی اوائی چه نن مونږ په یو انچ زمکے باندے خپل ورور سره دشمنی کوو او که نه، مقدمے ور سره کوو، قتل و غارت کوو ، عدالتونه دَ دے څیزونو نه ډك دی. دا د اللہ دَ دین نه دَ لری والی دَ وجے نه. دَ اللہ د کتاب نه د لری والی دوجے نه)

خو عبد الرحمن ﷺ ور ته وائی ملګریه تا ته دے اللہ جزائے خیر در کړی خو ما ته بازار اوښایه (په هغوی کښی هم خود غرضی نه وه)

هغه ور ته بازار اوښودلو بیا هغه به دهغه و خت منا سبت سره څه حلوه و غیره تیارول او په بازار کښی به ئی خر څول خپل تجارت ئی شروع کړو.

څه ورځے تیرے شوی عبد الرحمٰن رضی الله عنه د نبی علیه السلام مخے ته تیر شو نبی علیه السلام ور ته وائی ملګریه ستا په دے جامو خو څه رنګ غوندے لګیدلے دے دا څه وجه ده هغه وخت کښی به چه چا واده اوکړو یو قسمه خوشبو به ئی استعمالوله د هغے اثر به په جامو ښکاریدو. نبی علیه السلام ور ته او فرمائیل داڅه دی؟ عبد الرحمن ور ته وائی د الله رسوله واده می کړے.

(دا سے که مونږ ته خپلو دوستانو کښی څوك اوائی چه واده می کړے او ته می نه ئی خبر کړے، ځمونږ به ور سره غم ښادی پاتے وی. نو دا خه صفت نه دے) دَ دے نه یو بله مسئله هم راووته چه او ګوره دَ پیغمبر علیه السلام څومره لوئے شان دے.

دَ خپل ملګری د حال نه ندے خبر چه واده ئی کړے. نن خو دوستان وائی چه دا مړی هم ژوندی پیژنی با قاعدګی سره جو ابونه هم ورکوی او دا خو لاڅه بعض وائی مړی ته د چر چنړاو چنړے هم پته لګی.

پیغمبر علیه السلام ورته وائی:

مشره زنانه ده اوکه جینی؟ وائی چی ما خو مشرے زنانه سره واده کړے نبی علیه السلام ور ته او فرمائیل جینئ نه وه چی وادۀ دے ور سره کړے وو؟ نبی علیه السلام ور سره خوش طبعی هم کوی. چه تا د هغے سره لو بے کولے او هغے تاسره لوبے کولے. نو نبی علیه السلام ته وائی دَ الله رسوله! ستاسو خبره خو ډیره مزیدار ده خو زما واړه واړه رونړه خویندے دی مور پلار می وفات شوی دی نو ما مشره زنانه په دے نسبت سره کوله

چه زما ددے ورنړو خویندو تر بیت اوکړی.
نبی علیہ السلام ور تـه او فـرمـائیـل: ''اولـم ولـم بشـاه'' دواده پروګرام بـه کوی (ولیمه به کوی)
پـه دے یـو روایـت کښـی ډیـرے مسـئـلـے دی. مواخات، ورورولی په کوم انداز سره قرآن قائمه کړه، نو قرآن کریم یو داسے کتاب دے، چی انقلاب راولی،
واقـعـه: بعض علماؤ ذکر کوی یو تن دے دهغه نوم دے سلام بن جبیر یهـودی دے شام ته تلـے د تجارت په غرض سره سامانونه ئی وا غسـته بیائی مدینه منوره کښی خر څول او دے دمدینـے منورے وو.
پـه شـام کښـی ئـی یـو غـلام وا غسـتـو . د غـلام نـوم سـالم دے ډیـر کمزورے دے د رنګ نه هم ښکلے ندے څه د کار هم نه معلو میږی.
مـدیـنـے تـه ئـی راوسـتـو. نـوره سـودا ټـولـه خرڅـه شوه خو غلام نـه خـرڅیـږی. درے ورځـے مسـلسـل د شپـے او ورځـے ئی او درولـے خو څـوك ئـی نـه اخلی. سخت پریشانه دے چه خدایه دا خو ما د تجارت دَ پـاره اغسـتـے وو او څوك ئی په اتانـے هم نه اخلی د مدینـے منورے یو جینئ په لاره تیریده دا غلام ئی څو وختـه لیدلـے وو.
غـلام نـه ئـی تپـوس او کړو چه ته خو ډیر غرمو کښی ولاړ ئی خیر خو دے هـغـه ورتـه وائـی مـا داخپـل مـالك خرڅوی خو ما څوك نه اخلی هغه جینئ د سلام بن جبیر سره خبره اوکړه چی دَ دے غلام څه قیمت دے؟ هـغـه ورته وائی که په خپل قیمت ئی نه اخلی نو هسـے ئی بوزه خـو چـه زه تـرے نه خلاص شم بهر حال هغه زنانه غلام واغستو کور ته ئی را وستو د هغه تربیت ئی شروع کړو،
د مـکـے مکرمـے یو اولوئـے تاجر او بزنس مین حذیفه راغلـے

وو د شام نـه پـه مـدیـنـه کښی لږ آرام او دَمه کوله چا ورته ددغـے زنانه قیـصـه اوکړه چـه غـلام سره ئی دومره احسان او کړو نو حذیفه اووئے چـه دا خو ډیره خه زنانه ده د نکاح پیغام ئی ور ته اولیږلو. نکاح اوشوه مـدیـنـه مـنـوره کښی او سیـدل څـو میا شتـے ئی تیرے کړے بیا ئی مـکـے ته د واپسی تلو اراده اوکړه(ددغـے زنانه نوم ثبیتـه وو) دی درے واړه مکـے ته راغلل.

د حـذیـفـه پـه مکه کښی د یو بل لوئـے تا جر سره تعلقات اودوستانه وه (عـثمان غنیؓ نوم ئی وو خلیفه ثالث) هغه ایمان قبول کړے وو.

دعـثمان غنیؓ دَ ده سـره ډیره پخه دوستی وه چه کله حذیفه مکـے ته راغـلـواو عـثمانؓ خـو مسـلـمـان شـوی دے نـو د سره ئی طبیعت نه لـگیـدو چه د ایمان والا یو خدائے وی او د مشرك خو ډیر خدایان وی نو ځـمـونږ خـو خـپـل مـیـنځ کښی دو ستی نه چلیږی .حذیفه ئی خوا ته راغـلـو چـه عـثـمـان صـاحـب ځمونږ دومره دو ستی وه دا به اوس پاتـے کیږی هغه ورته وائی نه، خو ته په کفر کښی ئی او زه په ایمان کښی یم دعـوت ئـی ور تـه شروع کړو (دَ دعوت ډیر زیات اثر وی) نو هغه اُووے مـاتـه هـم کـلـمـه اُوایه زه دوستی نه پریدم حذیفهؓ هـم مسلمان شو.

کـورته راغلو ورته وائی ما ایمان قبول کړو دعوت ئی شروع کړو بی بی تـه وائـی ما هم دنبی علیہ السلام مـجـلـس تـه بـوزه چه زه هم ایمان قبول کړم.

حـذیفه اوثبیتـه ورسره دواړه را غله، نبی علیہ السلام دقرآن درس ورکولو، د الله کتاب ئی بیا نولو، ایمان ئی بیانولو . دوی ایمان قبول کړو بیا به روزانه دا ښځه خاوند د نبی علیہ السلام درس تـه راتله د الله کتاب سره نسبت قائم شو اُس د غـه غـلام خـو په کور کښی دے یوورځ دنبی علیہ السلام په درس کښی

دغه زنانه نا سته وه د نبی ﷺ د خلے مبارکے نه ئی واؤریده چه چا یو غلام آزاد کړو دَ دے غلام په بدله کښی به الله دغه انسان مکمل د جهنم نه آزادکړی ثبیتهٗ اُووئے چه دا خو یو ګولډن چانس دے خپل غلام به آزاد کړم چه څنګ دا زنانه کور ته راغله نو خاوند ته وائی زما دا غلام د الله د پاره آزاد دے نو پکار خود داوه چه هغه غلام خوشحاله شوی وی. هغه په ژړا شو چه زما خو څوك نشته، مور پلار می نشته دَ وړوکوالی نه دغه غلام یم او خرڅیږم زه به چرته ځم حذیفه رضی الله عنه ورته وائی خفه کیږه مه مونږ سره به ئی خو ته به آزاد ئی دَ غلام حیثیت به ستا نه وی .

هغه غلام(سالم) د هغوی سره دَ نبی ﷺ مجلس ته شروع شو قرآن به ئی یا دولو. وخت تیر شواو سالم قرآن کریم دا سے یاد کړو چه په هغه دور کښی په مکه مکرمه کښی دهغه غوندے قرآن لو ستونکښی بل څوك نه وو. یو ورځ د مدینے نه هم خلق راغلے وو. د نورو ځایونو نه هم د مونځ وخت وو نو چه هغوی او کتل هغه سالم په مصلیٰ باندی ولاړ وو.ټولو خلقو تعجب اوکړو چه دا کس خو پرون غلام وو چا په یو روپے نه اغستو، او نن ور پسے په مقتدیانو کښی د سیدنا عمر رضی الله عنه غوندے خلق ولاړدے. هغوی تپوس اوکړو چه په مکه کښی دا سے بل څوك نشته چه مصلیٰ ته مخکښی شی هغوی ورته اووئے په دے وخت کښی د سالم غوندے مزیدارقرآن لو ستونکی نشته.

پخوائی حیثیت د غلام وو او اوس ئی نسبت د الله کتاب سره را غے نو الله ورته کوم مقام ورکړو د اداالله کتاب سره چه د چا نسبت قائم شی په هغه کښی ډیر صفات را شی.

بعض روایا تو کښی راځی یو انصاری صحابی وو د هغه د پټی څه مسئله وه د هغه د پټی په ګاونډ کښی یو بو ډا بابا وو نو دے نو جوان صحابی ته د هغه بوډا د پټی یو پوله پکار وه په په پیسو ئی هم ترے نه اغسته هغه ورته ډیر منت اوکړو خو بابا وے سوال نه پیدا کیږی که کروړها روپے هم راکوی نو دا زه نه درکوم ډیر زیات ئی ورته اووئے خو هغه نه منل.

دے نوجوان نبی علیہ السلام ته اووئے چه جی زما دا یو پوله پکار ده ، تاسو زما دپاره سفارش اوکړے .نبی کریم ﷺ با با ته اووئے د پټی دا پوله ده ته ورکړه. هغه ورته اووئے دَ الله رسوله ستاسو حکم دے او که ستاسو ما ته مشوره ده که ستاسو حکم ئی نو ټول پټی ورته پریږدم. نبی علیہ السلام ورته اُووئے چه زما رائے داده چه دا ورته پریږده . او تا ته به الله دَ دے بدله کښی په جنت کښی مکمل باغ درکړی.

هغه بو ډا بابا ورته وائی د الله رسوله ستا خبره خو صحیح ده جنت ته خو به ځو کنه. نبی علیہ السلام ورته اووئے بالکل دَ ایمان والا دَ پاره خو الله جنت تیار کړے .نو بابا وائی د الله رسوله ﷺ خیر دے دا یو باغ دے پکښی زما دپاره کم ئی کنه (خو بابا خپله خبره نه پریږدی)

دغه وخت کښی یو صحابی نا ست وو هغه دا خبرے واوریدے وائی دَ الله رسوله ﷺ که دا باغ دَ ده نه بل چا واغستو هم به سودا دغه شان وی. نبی علیہ السلام اوفرمائیل بالکل آؤ. صحابی ورته وے د الله رسوله ما ته ئی پریږده.

دا صحابی هم بزنس مین سړی وو د هغوی په ژبه باندے پوهیدو. باباجی کور ته تلے دے ورپسی لاړو دروازه ئی ورته او ټکوله وائی

باباجی السلام علیکم ! ستا سو دا باغ خو ډیر خه باغ دے، صفتونه ئی شروع کړه او ورته وائی تا ته پته شته د مسجد قباء مخامخ یو باغ دی د کھجورو بابا وائی آؤ د هغه باره کښی هم مونږ ډیر څه آو ریدلے دی چه دا ډیر غټ باغ دی. ور ته وائی هغه ستا د باغ په دریو برابر دے دهغے کھجورے هم ډیرے اعلیٰ دی وائی څنګه خو ښه دے نده چی هغه غټ باغ تاله در کړم او دا باغ پکښی ماله را کړے باباجی وائی هسے ګپ مه لګوه زما باغ خو د هغے د بدلولو قابل نه دے ورته وائی وعده درسره کوم هغه باغ به ستاشی ستا دا ورکے باغ به زما شی. بابا ډیر خوشحاله شو چه غټه سودا می اوکړه را غے نبی علیہ السلام ته وائی چه جی سودا می اوکړه دا اوس هغه ملګری ته ورکړے چه خپل ضرورت کښی ئی اولګوی. تفسیر قرطبی ذکر کوی چی کله دا آیت نازل شو ﴿من ذالذی یقرض الله قرضاً حسناً﴾ نو یو صحابی دے چی نوم ئی ابوالدحداح رضی اللہ عنہ دے عرض ئی اوکړو ، "یا رسول الله! ان الله یرید منا القرض؟ ، قال نعم یا ابا الد حداح ." اے دَ الله رسوله! آیا الله ځمو مونږ نه قرض غواړی؟ نبی علیہ السلام اوفرمائیل چی اے ابوالداحه آؤ. ابو الدحداح رضی اللہ عنہ اُووے چی اے د الله رسوله ځما صرف او صرف دوه باغونه دی دا دواړه الله ته ورکوم نبی صلی اللہ علیہ وسلم ور ته او فرمائیل چی یو باغ دے خپل اهل و عیال ته پریده او یو با غ الله ته ورکړه د نبی صلی اللہ علیہ وسلم خبره ئی اومنله چی صحیح ده ، او تاسو ګواه شی چی کوم پکښی اعلیٰ باغ دے مشتمل دے په شپږ سوه اونو د کھجورو هغه الله ته ورکوم، نبی علیہ السلام ور ته اوفرمائیل " اذاً یجزیك الله به الجنة" تا ته خو به الله ددے بدله کښی جنت درکړی ابوالدحداح رضی اللہ عنہ پا سیدو او هغه لوئے باغ

تـه لاړو چـی کـوم ئی د الله په نوم کړی وو ښځه او بچی ئی په هغه باغ کښـی وو مـا شو مانو کهجورے خوړے او او نو په سورو کښی لو بے کولے ابو الد حداح خپلے بی بی ته څو اشعار ووی

هداك ربی سبل الرشاد ★ الیٰ سبیل الخیرو السداد

چی اے ځمـا بی بـی الله رب الـعزت دے تا د هدایت او د خیر په لارو کلکه کړی.

و بینی من الحائط با لودار ★ فقد مضیٰ قرضا الی التناد

دَ دے بـاغ نـه اوس په دے و خت په خوشحالی سره جدا شه دا باغ می د الله رب العزت ته د قیامت دورځ پورے قرض ورکړو نه په زبادلو او نه دَ واپسئ په ارادے سره.

مثلك ادی مالدیه ونصح

تـا ته دے په خیر او خوشحالو زیرے وی ستا غوندے خلق دا سے ښه ښه کارو نه کوی .

قد متع الله عیالی و منح ★ بالعجوة السودآء والذهو البلخ

الله ځمـونږ بچو ته قسماقسم کهجوری ور کړیدی که یو باغ مو الله ته ور کړو نو څه؟

والعبد یسعیٰ وله ما قد کدح ★ طول اللیالی و علیه ما اجترح

بـنده چی څه کوشش کوی نو د خپلے فائدے د پاره کوی او د آخرت د ژونـد د صـحیـح کیـدو د پـاره کـوی. ورنه الله ته څه حاجت دے؟ خپلو بـچـو طـرفتـه متـوجـه شوه چی کومی کهجوری د ماشومانو په لمنو کښـی دے هغـه ئـی تـرے او سـانډلے او چی کومی کهجوری د مـاشـومانو په خلۀ کښی دے نو دَ خلے نه ئی ور ته راویستی. او خپل

ماشومان ئی بل باغ ته بوتلل نبی ﷺ چی دے واقعه نه خبرشو نو وے فرمائیل "کم من عذق رداح و دار فیاح لابی الدحداح" ډیرے اوګدے او نے کهجورے او وسیع او فراخه مکان په آخرت کښی دَ ابوالدحداح دپاره .

زما عزتمندو دا صفات په هغوی کښی د الله رب العزت کتاب راوستی وو. د الله کتاب د انسان نه بخل او شومتیا لرے کوی، ضد و عناد دَ انسان نه لرے کوی. په انسان کښی خه صفات راولی.

سیده عائشهؓ باره کښی راځی پچاس هزار درهم ورسره وو خادم ته ئی اووئیل دا په یتیمانانو او غریبانانو باندے تقسیم کړه هغه ټول ئی تقسیم کړه نو په آخر کښی ور ته خا دم وائی چه عائشهؓ ستا سو روژه وه نو ځان ته به مو ترے نه خو څه پریخودے وو عائشهؓ ور ته وائی تا به ما ته را یاد کړے وو کنه.

نو الله رب العزت مونږ او تا سو ته دا یو دستور حیات، د زندګی تیرولو اصول د کتاب په شکل کښی را لیږلے دی. مونږ او تا سو باندے د الله د کتاب ګنړ حقوق دی او ددے به ځمونږ او ستا سو نه تپوس کیږی نن مونږ اکثر په بے پر وائی کښی زندګی تیرو. څلویښت کاله پنځوس کاله او شپیته کاله تیر شی او د بسم الله په معنی هم ځان پو هه نه کړو. د الحمد لله په تر جمه هم ځان پو هه نه کړو قرآن کریم کښی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی د قیامت ورځ به ئی نبی کریم ﷺ به د الله دربار کښی ولاړ ئی د خلقو خلاف به مقدمه درج کوی اس دا د چا خلاف چا چه زنا ګانے کړے ئے چا چه زکوٰة نه دے ور کړے چا چه روژے نه دی نیولی. نه،نه دا خو په خپل ځائے ګناهونه دی خو ددے نه

یولوئے جرم هم شته.

﴿و قال الرسّول یاربّ ان قومی اتخذوا هذا القرآن مهجورا﴾

نبی کریم ﷺ به د الله عدالت کښی ولاړوی او الله رب العزت ته به وائی اے ځما ربه ځما دے قوم د اقرآن پریخودے وو. قرآن ته نه وو اوزګار بیا مهجوراً باره کښی مفسرین ذکر کوی.

د قرآن کریم پریخودل دا هم دی چه ټول عمر ئی تیرکړو او دالله کتاب ئی هډو اونه لوستو. دا الله کتاب ئی هډو ایزده نه کړو یا قرآن کریم ئی خو اولستو ختم ئی او کړو خو بیا کال را شی او کال تیر شی اودے ئی تلاوت هم او نه کړی. او یا تلاوت ئی خو کوی خو قرآن غلط وائی د حروفو خیال نه ساتی او یا د حروفو ئی هم خیال سا تی خو دے باندے عمل نه کوی پدے باندے ځان نه پوهه کوی د اقرآن کریم پریخودل دی نو کو شش دا پکار دے چه دا لله کتاب نه پریدو دا خپلے سینے سره اولګوو. دا خپله معا شره کښی را ولو ځکه علامه ابن قیمؒ ژړا کړے وه.

نبذو کتابك من وراء ی ظهورهم و تمسکوبذخارف الهذیان

اے زما ربه دے قوم داقرآن پریخودے وو ستا کتاب ئی شاته غورځولے وو ستا کتاب ته نه وو اوزګار نور هر څه د پاره اوزګار وو دَ اَخبار د پاره ورسره تیم وو. دَ بال بچ د پاره ور سره وخت وو میلمنو دپاره ورسره وخت وو لوبو دَ پاره ورسره وخت وو کرکټ دَ پاره ورسره وخت وو هر څیز دَ پاره اوزګار وو خو که اوزګار نه وو نو یو د الله کتاب ته نه وو اوزګار.

نو ځما عزتمندو! د الله کتاب را غستل دے سره خپل نسبت قائمول د الله کتاب سره نسبت چه د چا هم را غلے دے الله ور ته عزت ور کړے دے. اس دا نسبت قائمول په څو طریقو سره ئی

(۱) د قرآن کریم پخپله ایزده کولو کوشش کول.
د قرآن کریم بل چا ته د ښودلو کو شش کول خوکه ددے طاقت دے نه ئی نوددی خدمت کول(د قرآن ایزده کوونکو او د قرآن ښودونکو خدمت کول دا به دَ هر چا دَ خپل وس مطابق وی. د چابه مالی وس کیږی د چا به بد نی وس کیږی.
بعض روایاتو کښی راځی د ا قرآن والا به سفارش کوی. یو حافظ قرآن به د سلو کسانو دپاره سفارش کوی او عالم به ډیرو دپاره کوی.
په خلقو کښی دوه قسمه خلق وی یو قسم خلق دا سے وی د چا بچی چه د الله کتاب طرف ته شروع شی. په مدرسه کښی دا خل شو نو بعض خپل خپلوانو کښی به ور ته وائی که دا بچے دے علم ته او با سلو، قرآن ایز ده کړے ته دے ویستو نو صبا به څه خوری چنړے به ترے نه جوړ شی. دا به کئی او دا به کئی او دا د عوامو غلطی نده د ځمونږ د بعض ملایانو غلطی ده. بعض وخت کښی ځمونږ دملایانو د وجے نه دین او علم بد نام شی . الحمدلله دلته خو محنت شوی دے خوبعض علاقو کښی به ښکلے ښکلے علمائے کرام وی خه مزیدار پټکی به ئی وهلے وی او که کله غم اوشی نو په مقبره کښی به ئی دَ صابن چکئ ته لاس نیولے وی نو چه د عوام خلق ورته ګوری نو هغوی وائی چه زما بچے علم اوکړی او بیا صبائی د صابن چکئ ته لاس نیولے وی نو دا سے علم نه خو نه علم خه دی. جانماز ته ئی لاس نیولے ئی بلکه بعض علاقو کښی په قبرستانونو کښی په جانماز او صابن چکئ باندے دَ فټ بال میچ کیږی.
یو ته جانماز وراولی او بل ته جانماز وراولی. صابن، ګوړه سخاتونه لس

شل روپے ور تہ ملاؤشی نو د بعض عوامو په ذهن کښی د علم او علماؤ یو منفی تاثر قائم شی چه د علماؤ به دا شان وی په دے وجه دا دَ علم شان نه دے .

نوکوشش دا پکار دے چه کوم ځائے کښی مدرسو والاوی. حق پرست مدرسو والا. پو هغه مدرسو والاوی چه دهغه مدرسه او درس ددنیا د حاصلولو د پاره یو ذریعه وی دے نه ځان سا تل پکار دی هغه به تا سو تہ ځمونږ نه ډیر خه معلوم دی. چه ټول عمر ئی نه قرآن نه دین نه سنت بیان کړے وی خو چه کله د اقتدار حاصلولو ور ځے را شی نو دین به ور تہ را یاد شی او کہ نور دا سے د مال حاصلو لو ورځے را شی نو دین به ئی رایاد شی. دهغه خلقونه خپل بچے لرے ساتل ور نه صبابه ستا بچے هم په دغه لار روان ئی. داسے علم، داسے دین چه په هغے صبا دَ الله په دربار کښی انسان ته نجات ملاویږی حاصلول پکار دی.

نو ځما عزتمندو! الله رب العزت داقرآن کریم مونږ او تا سو ته یو ضابطۂ حیات رالیږلے دے. دَ دے په مونږ او تاسو باندے حقوق دا دی چه دَ دے مونږ او تاسو خیال اوساتو دَ دے مونږ اوتاسو انتهائی قدر اوکړو. استاذان به محنت کوی، کړیګی به طلباء به کړیګی سبقونه به یا دوی، خو چه مونږ او تاسو ورسره سنګ په سنګ ولاړ یو نو کړاونه به دوی کوی ، مطالعے به دوی کوی او په ثوابونو کښی به ورسره مونږ او تاسو شریك یو. هم دَ دے خلقو مجلسونو کښی ناسته کول. الله رب العزت یو ضابطه رالیږلے ده، په دے کښی الله رب العزت احکامات رالیږلی . اوامِر ئے رالیږلی دی . مامخکښی یو آیت مبارکه ذکر کړے وو په هغے کښی هم الله دوه امره ذکر کړے دی.

اول امر (۱) ﴿یا ایها الذین امنوا تقوا اللہ﴾
"یا ایها الذین امنو" سره خطاب په قرآن کریم کښی بعض استاذان ډیر زیات ذکر کوی دا "یا ایها الذین امنوا" سره خطاب په قرآن کښی ۸۹ کرتے دے ، بار بار اللہ وائی اے ایمان والو! اے ایمان والو! او اکثر ځایونو کښی ور پسی امر ذکر دے یا نهی چه دا کار کوئ او دا مه کوئ. مونږ ته شیطان وائی مونږ خو کمزورے یو نو ولے العیاذ باللہ اللہ پاك ظلم کړے دے چه په مونږ کښی ئی د یو څیز طاقت نه ئی ایخودلے او مونږ ته وائی دا کار کوی دا یو شیطانی وسوسه په مونږ کښی رادننه شی که چا ته وے چه هلکه فرض مونځ دے ولے ندے کړے وائی جی کمزورے یونووایه شکور ته چی کینی نو هغه وخت کښی خو کمزورے نه ئی خو چه د اللہ حکم ته خبره شی نو کمزوری ئی اللہ خو د ظلم او عدوان نه پاك دے. دادے په اللہ پاك الزام لګوی.
تقویٰ څه ته وائی:
علماء ذکر کوی تقویٰ د نیکے کولونوم نه دے، نفلو ته تقویٰ نه وائی ذکر اذکار ته تقویٰ نه وائی. مونځونو ته تقویٰ نه وائی تلاوت ته تقویٰ نه وائی:
" اتقو اللہ " د اللہ نه یره د ګناه د بچ کیدو نوم تقویٰ دے د حرامو نه د بچ کیدو نوم تقویٰ دے.علامه اندلسیؒ فرمائی چی متقی هغه څوك دے چی ځان سا تی د کولو د هغه کار نه چی په هغے کښی یره د عذاب وی بعض وائی د حرامونه ځان سا تل او ادا کول دَ فرائضو، دَ سیدنا ابن عباسؓ نه روایت دے "من احب ان یکون اکرم الناس فلیتق اللہ." چی که څوك دا غواړی چی په ټولو خلقو کښی عزت مند وی

نو د الله نه دے یره کوی، سیدنا علیؓ فرمائی "التقویٰ ترك الاصرار علی المعاصی ، و ترك الاغترار بالطاعة" مطلب دا چی ګناهونه بار بار نه کول ، او دَ نیکئ په کارونو کولو نه مغروره کیدل . ابراهیم بن ادهم فرمائی "التقویٰ ان لا یجد الخلق فی لسانك عیبا ولا الملائکة فی افعالك عیبا ولا مالك العرش فی سرك عیبا" سبحان الله! مشرانو څنګه زبردستے خبرے کړیدی مونږ به سوچ کوو چی مونږ کښی تقویٰ شته او که نه، که وی راکے نو الحمد لله به وایو ، او که نه وی راکے نو ځان کښی به دَ راوستو کوشش کوؤ ، نو تقویٰ دا ده چی مخلوق ستا ژبه کښی عیب او نه مومی ، ملائکؑ کارونو کښی عیب او نه مومی او د عرش مالك ستا باطن کښی عیب او نه مومی .

بعض وائی "التقویٰ ان تزین سرك للحق کما زینت ظاهرك للخلق" چی خپل با طن الله ته ښکلے کړی څنګه چی خپل ظاهر مخلوق ته ښکلے کوی. امام رازی تفسیر کبیر کښی ذکرکوی "المتقی الذی سلك سبیل المصطفٰی ، و نبدا الدنیا وراء القفٰی وکلف نفسه الاخلاص والو فاء واجتنب الحرام والجفاء" چی د آقاء نامدار په لار روان شو او دنیا ئی شا ته کړه او ځان کښی ئی اخلاص او وفاداری را وسته او د حرامو او بے و فائی نه ئی ځان بچ کړو. چی وارۀ او لوئے ګناهونه ئی پریخودل دا تقویٰ ده. هیڅ یو ګناه معمولی مه ګڼړه دا غرونه دَ وړو کانړو نه جوړ وی . که یو انسان ډیر عبادات کوی حتی چه په تندی کښی ئی یو غټ محراب جوړ کړے دے خو د خور حصه ورسره ده. ډیر بزرګ انسان ډیر عبادات هم کوی ډیرے غټے تسبیح هم ور سره دی خو چه د خور یا خور زے حصه ئی ګیره کړے وی چا ورته ووئے راځه د الله کتاب ته کینه نو

هغه ورته وائی یار قرآن می ډیر خوښ دی خو چه درس ته کینو نو دیکښی وائی خورته حصه ورکړے خورزے ته حصه ورکړے نور څه کار ئی نه وی ، دے په درس کښی مونږ پسے خبرے کوی. نو بعض پکښی دا سے خلق هم ملاویږی تقویٰ نوم د ګناه پریخودلو دے.

دَ تقویٰ معنی ده سُود پریخودل بے حیائی پریخودل دے ته تقویٰ وئیلے کیږی. نفس او خواهش تقاضا کوی چه ګناه اوکه په لارکښی سړی روان دے نو پر دے زنانه رارواںے دی نفس او خواهش وائی اوګوره ورته ، ته وے نه زه خپل رب منع کړے یم . الله فرمائی ﴿قل للمؤمنین یغضوا من ابصارهم﴾ الله فرمائی نارینو ته چه خپل نظرونه ښکته کړی پردو زنانو ته مه ګوری دے ته وائی تقویٰ . نو الله فرمائی ﴿یا ایها الذین امنو اتقو الله﴾ اے ایمان والو د الله نه یره کوی تقویٰ اختیار کړے تقویٰ معنی پرهیز کول که کله مونږ او تا سو مونځونه تلا و تونه ذکر اذکار، دعا ګانے ، تهجدونه ، عمرے طوافونه دا هر څه کوو خو پر هیز ور سره نه ئی نو بیا فائده نه کوی لکه د شوګر یو بیمار دے ډاکټر ته لاړو ډاکټر ورته وائی دا دا دوائی به پدے دے وختونو استعمالوی نو دے هغه دوائی استعمالوی خو ډاکټر ورته پر هیز هم ښو دلے ئی چه دے سره به خواږه څیزونه نه استعمالوی او دے خواږه څیزونه ور سره استعمالوی نو بیا دوائی پوره اثر نه کوی.

د هر یو عبادت یو خپل رنګ ، خپل اثر، خپل خوند او خپله مزه ده اوس نه ځمونږ بعض مسلمانان وائی چه دابه څه کیږی دا خو ډیرے سختی روژے را روانے دی نو دا روژے به ډیرے مزیدارے وی چه په سخته ګرمے کښی انسان روژه په خله څلور پنځه وخته د الله کتاب

تـه نـاسـت ئی دیکښی به څومره لذت وی د هر یو عبادت ځان ته خپله مـزه او خـونـد ئـی. خـو پـه شـرط ددے چـه ورسـره پرهیز کول وی . د ګـنـاهـونو نه اجتناب کول ځکه الله فرمائی ﴿یا ایها الذین امنوا التقوا الله﴾ اے ایمان والو دالله نه او یریږی ، تقویٰ اختیار کړے، بعض علماء وائی تقویٰ دا ده چه یو انسان د شرك نه ځان او ساتی.

قرآن کریم د تقویٰ فائدے ذکر کوی:

کـه چـا کښی تـقـویٰ را غـلـه نـو پـه تـقویٰ الله څه ورکوی په تقویٰ الله ډیرے فائدے مرتب کوی.

۱. ﴿ان تتـقـوا الله یـجعل لکم فرقانا﴾ که تا سو کښی د الله نه یره راغله الله بـه تـا سـو تـه یـو نـور فارق درکړی. الله رب العزت به تا سو کښی یو داسـے صـلاحیـت کیـدی چـه تـاسو به حق او باطل کښی تمیز کولـے شـی، نـن دنیـا کښی ډیـر دا سـے خـلق شته چه وائی دا ټول خه دی.نو مـونږ ته ډیر زیات افسوس را شی پدے خبره او خه پوهه تن به ئی، یو تـن بـه ټول عمر خلق را بلی بد عا تو ته شرکیا تو په دعا ګا نو کښی به د ځان نـه دیـن جـوړوی پـه خـلقو کښی به ئی شائع کوی او بل طرف ته خـلـق بـه ورتـه ټول عمر قرآن و سنت وائی او دے وائی دا ټول ځمونږ د سر تاجونه دی.

دا خـو چـه چاکښی تقویٰ را شی هغه ته پته لګی هغه بیا پروا نه کوی چـه خـلـق را سـره ملګری کیږی او که نه وائی حق دے نو که لږدے زه بـه ئـی مـلـګـرے یـم. نو د تقویٰ یو فائده چه الله به تا سو کښی امتیاز پیدا کړی د حق او باطل

۲. ﴿و یـکـفـر عـنـکم سیاٰتکم﴾ الله به ستا سو نه مصیبتونه لرے کړی

ددنیا مصیبتونه هم ، یا سیاُتکم ، که یره تا سو کښی را غله الله به در ته ټول ګنا هونه معاف کړی. بل ځائے الله فرمائی

۳. ﴿ان اولیاء ه الا المتقون﴾ الله دلته کښی د خپل ولایت تاج ورپسروی تقویٰ والا ته د الله دو ستان ندی مګر تقویٰ والا. ولایت خاصه به ور ته ملاؤ شی ځکه ﴿الله ولی الذین اٰمنوا﴾ دالله پاك خاص دو ستان دی نو تقویٰ سره به تا ته د الله ددو ستی تاج در پسر شی که د ګناهو نو نه اجتناب وو، که د پردی حق د خوړولو نه اجتناب وو.

۴. ﴿ان اکرم مکم عند الله اتقکم﴾ په تا سو کښی زیات معزز زیات کریم زیات شریف هغه دے چه په چا کښی زیاته تقویٰ وی که هر څنګه انسان دے.

۵. ﴿و من یتق الله یجعل له مخرجًا﴾

که په چا کښی هم د الله نه یره راغله "مَنْ" جوبھی ہوں. ځمونږ استاذان ذکرکوی دا "مَنْ" دَ پاره دَ عموم راځی که هر څوك وی که نارینه دے که زنانه که مالدار دے که غریب ، هرے طبقے او هر شعبے والا خو ﴿ومن یتق الله﴾ په چا کښی هم چه دَ الله نه یره راغله نو ﴿یجعل له مخرجًا﴾ الله به ورته لارے کهلاؤ کړی د مصیبتو پریشانو نه به ئی الله او ساتی.

٦. ﴿و یرزقه من حیث لا یحتسب﴾ الله به ور ته د هغه ځائے نه د رزق اتنظام او کړی چه دده په وهم او ګمان کښی به هم نه رازی یو روایت کښی راځی" اتق الله" د الله نه یره کوه تا به الله په ټولو خلقو کښی معزز و مکرم او ګرځوی. نو الله پاك یو امر اوکړو . ﴿یاایهاالذین امنو اتقو الله﴾ اے ایمان والو د الله نه اویریږئی.

دویم امر : ﴿وکونو مع الصادقین﴾ تا سود رشتونو خلقو ملګری شی

چه څوك هم رشتیاء وائی.
اس په کائنات کښی زیات رشتیاء په څه کښی دی نو زیات رشتیا د الله او د الله د رسول خبره ده.
﴿ومن اصدق من الله حدیثًا﴾ د الله نه د چا زیاته رشتونے خبره کیدشی. د الله رب العزت وینا خو ډیره رشتونے ده نو درشتیاؤ خلقو ملګری شی ګویا چه دقرآن و سنت والا ملګری شی د قرآن و سنت مقابله کښی د بابا او کاکا خبره مه منئی، د قرآن و سنت مقابله کښی خو بونه او قصے قطارے مه منئی او نن خود بعض خلقو دین په خوبونوسره ئی فلانکی ځائے کښی ئی خوب لیدلے وو فلانکی په هواکښی روان وو. فلانکی په سمندر کښی روان وو. دے ته به دین وائی. نو دا خو دین ندے پدے باندے خلق په دهوکه کښی ساتی .تا سو به هم پیژندلے وی،
د بعض خلقو بیا هم سترګے پټی او حق خبره نه منی خپله وائی دَ بل نه آؤری چه یو سړی وائی زه دا خبره نه منم نو ددے خوخه جواب نشته ځمونږ استاذانو به یو واقعه ذکر کوله .
واقعه: مولانا حسین علی اَلوانیؒ به په درس کښی واقعه ذکر کوله چه یو ځائے کښی یو ملك او خان صاحب وو هغه سر یو نوکر وو. هغه نو کر ته خط را غے د ښځے د طرف نه ښځے ور ته په خط کښی لیکلی وو.
" ځما خاونده اسلام علیکم . پس د سلام نه عرض دا دے چه ستا ښځه کونډه شوی او ته زر راشه " دا نوکر خط ګوری او ژاړی چه خدایه ښځه می کونډه شوی (ښځه خو به ئی هله کونډه کیده چه کله دا سړے پخپله وفا ت شوی وو)
هغه راغے ژاړی او ملك صاحب ته وائی چه جی ښځه می کونډه شوی

او ډیر زیات ژاړی . هغه ور ته وائی ستا ښځه نه ده کونډه شوی ته خو ژوندے ئی. او هغه وائی نه کنه پدے خط کښی ئی لیکلی دی.

نو دا سے خلقو د پاره به څه جواب وی او څه علاج وی چه ته ور ته ووئے دین قرآن و سنت دے ، دے به وائی دین دځانه خوبونه دی، قصے قطارے هم دی. ګوری یاد ساتئ دَ اُستاذ خپل ځائی دے. دَ شیخ او مُرشد او د پیر خپل خپل ځائے دے خو د قرآن و سنت غوندی حیثیت به ورته نه ورکوی. یوکال زه مانیرئی ته تلے ووم دَ انور شیر صاحب دی ځائے ته نو هلته کښی مولانا عبد الرازق صاحب یو ډیره زبردسته خبره اوکړه او اوس ئی زه اکثر په درسونو کښ بیانوم مولانا عبد الرازق صاحب په بیان کښی اُووئے. که شیخ القرآن د پنج پیر راپاسی کنه او ما ته یو خبره اوکړی او هغه د قرآن و سنت خلاف وی نو قسم دے زه د هغه خبره هم نه منم.

حالانکه په مونږه پښتنو باندے ډیر احسانات د شیخ القرآن د پنج پیر دی مونږ ته ئی ایمان ښودلے. عقیده ښودلے ، خپل شیخ ، خپل استاذ د قرآن و سنت والا حیثیت خو به نه روکوو، د هغوی قدر و احترام په خپل ځائے دے ..

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿کُونوا مع الصادقین﴾

دَ رشتینی خلقو ملګری شئ دَ رشتینی خلقو سره دَ ناستے خپل اثرات وی دَ نیکا نو خلقو صالحینو خلقو د صادقینو خلقو په مجلس کښی د نا ستے خپل اثرات وی ځکه شیخ سعدی بابا ذکر کوی.

گلے خوشبوئے درحمام روزی
رسید از دست محبوبے به دستم
بدو گفتم که مشکی یا عبیری

که ازخوشبوئے دل آویز تو هستم
بگفته من گلے نا چیز بودم
ولیکن مد تے با گل نشستم
جمال همنشین در من اثرکرد
د گر نه من هما خاکم که هستم

وائی زه یو ورځ حمام ته لاړم هلتے نه را ته د محبوب د لاسه ډیره خوشبو داره خټه ملاؤ شوه نو ما ترے نه تپوس اوکړو د هغے خټے نه چه دا راته اُوایه چه ته مُشك ئی که عنبر ئی چه ستا د خوشبوئ دَ وجے نه په ما کښی مستی راغله نو وائی هغے خټے راته یو عجیبه جواب راکړو چه زه خو ډیره بے کاره خټه یم زه خو د هیڅ نه یم خو ما څه موده د ګل په ویخ کښی تیره کړے ده نو د ګل په ویخ کښی دَ پاتے کیدو اثر دا دے ورنه ماته خپل ځان معلوم دے.

نو که مونږ او تا سو د تو حید و سنت والا خلقو په مجلسونو کښی ناسته کوو د هغے به ډیر زیات اثرات وی د هغے به ډیرے فائدے وی او د هغے به مونږ او تا سو باندے اثرات وی .

تا سو به قیصه اوریدلے ئی استاذان اکثر طلباو ته ذکر کوی چه یو تن را غلے وو مهیان به ئی نیول. د سمندر په غاړه باندے څه طلباء کرام ناست وو خپل سبق ئی یادولو . چه دے کس مهیان را ټینګ کړه او ستړے شو نو را غلو ددے طلبا و په مجلس کښی ئی یو منټ دو مینټه نا سته او کړه . نو هغے طلباو دمیراث مسائل یا د ولو. چه ﴿للذکر مثل حظ الا ثنین﴾ اولاد دَ پاره دُومره حصه، نا رینه د پاره دومره حصه. او که فرض که په اولاد کښی خنثی مشکل ئی د هغه د پاره دا حصه او خنثی مشکل دے ته وائی نه نارینه وی او نه زنانه وی هغوی

لـگیا وو تکرارئی کولو. او دا مهیانو والا په هغه سبق باندے پوهه شو یا پوهه نه شو.

بیـا دے مهیـانو والاپه خپلو مهیانو کښی یو بهترین مهـے او کتو با د شاه تـه ئی راوړو چـه دا مـی تـا سـو تـه تحفه روړے ده با دشاه ترے نه مهـی وا غستـو او وزیر ته ئی حکم اوکړو چه ده ته دے بدلـے کښی یو لـس اشـرفـے ورکړه. نو د وزیر په زړه کښی ور سره بغض پیدا شو وائی کـه دا سـے چا بل مهـے راوړو نو بیا به هغوی ته هم بادشاه دا سـے انعام ورکوی. نو باد شاه ته وائی باد شاه سلامت دا مهی خو دومره قیمت والا نـدے او تـا سو ور ته دومره لوئـے انعام ورکړو. د ا انعام ور ته ندی پکار. با د شاه وائی ما اوس اعلان کړے دے نو وزیر ور ته وائی چه تا سو دَ ده نـه تپـوس اوکړے چـه دا مهـی نـر دے او کـه ښځه ده . که جواب ئی صـحیح کړو نو انعام به ورکړے او که صحیح ئی نه کړو نو بیا به انعام نه ورکوی.

بادشاه د هغه کس نه تپوس اوکړو چه دا کوم مهی ما له تا په تحفه کښی راوړے دے نو دا نر دے او که ښځه ده. نو هغه ور ته وائی دا نه نر دے او نـه ښځـه ده بـلـکـه دا خنثی مشکل دے (د مجلس هغه اثرات دی) نو هغه با د شاه حکم اوکړو چه لس اشرفـے ورته نورے هم ورکړے.

نـو ځمـا عـزتمندو! دَ دین والا خلقو د قرآن و سنت والا خلقو په مجلس کښـی د نـاستـے ډیـر زیات اثرات ئی د الله پاك احسان دے گیر چاپیره مـدارس دی نـو هـغـے ته خپل بچی لیږل. او خپل مال و استعداد د الله پـه دیـن بـانـدے لـگـول د ځان نـه بـخل اوشومتیا اوباسل مونږ اکثر د جـومـات د بِـل د پـاره هـم چـنـدے کـوو نـو ځما عزتمندو . نو دا دومره شـومتیـا او بـخـل خـونـد نـه کـوی یـو حـدیث پاك کښی راځی. نبی

کریم ﷺ قسم کړے دے د نبی کریم ﷺ خو د قسم نه بغیر هم خبره موکده مضبوطه وی فرمائی : ''ما نقصت صدقه من مال''
صدقه کولو سره مال کښی حیث کمے نه راځی . نو چه پیغمبر ﷺ زمداری واغسته چه ته صدقه کوه مال کښی کمے نه راځی نو ولے ځمونږ د پیغمبر ﷺ په خبره باندے یقین نه راځی. مونږ اکثر د مدرسے د پاره هم چندے، د جومات دپاره هم چندے، دَ بِل د پاره هم چندے د یو مسلمان ضمیر نه را بیداریږی چه دا زما زمه داری وه د جومات صفائی، د جماعت خدمت د مدرسے خدمت، مونږ او تا سو به نه یو جماعتونه به هم آبادوی. مدرسے به آبادے وی خوکه مونږ او تا سو لږ خپل مال په جماعت او مدرسه کښی لګولے وی نو ددے ثوابونه به مونږ ته هلته کښی ملاویږی او په ځائے ددے چه مونږ او تا سو شو متیا کوو او د الله ددین دپاره را سره نه وی او په دین ئی نه لګوؤ نو په بل بل ځائے کښی به رانه د امال لګی.

یو ځائے کښی څه ډیر شو مان خلق وو جومات ئی جوړولو نو کټ ئی بهر اچولے وو د چندے د پاره یوورځ یو خان (سیټ) په لاره تیریدو دموټر نه را کوز شو زر روپیئی ور ته ورکړے هغه سړی ډیر خو شحاله شو. دنوم تپوس ئی ترے نه اوکړو هغه ور ته خپل نوم او نه ښودلو چه دا زما د رب سره معامله ده یو هفته لس ور ځے بعد بیا را غلو نو بیائی لس زره روپے ورکړے . هغوی ووئے چه دا خو ډیر الله والا تن دے. په دریم ځلورم ځل ورته چندے والا وائی چه پریږدم دے نه ماته به خپل تعارف کوی نو هغه ورته خپل جیب نه کار ډونه رو با سل چه دا زما پته ده زه د فلانکے علاقے یم او دا زما visting cardدے. او کاروبار دا دے چه دا غریبانان خلق بهر ملك ته بوځم

(پورے با سم ئی) چه په لاکھ ویزه وی نو زه ئی ور ته په پنځوست زره، څلویښت زره کوم او قرض کها ته هم ور سره کوم او بیا دا خان په خپله مخه لاړو او ورته ئی اووئے چه زه به صبا نه بل صبا راځم که تا سو کښی څوك دا سے غریبانان ئی نو چه ویزے ور ته اوکړم.

دے کس جماعت کښی اعلان اوکړو چه ایماندارو هغه کوم خان چه راغلے وو او چنده ئی راکوله هغه خو ډیر خه سړی دے خلقو ته ویزے کوی. اوس هلته خودوی چند ے دپاره کټ اچولے وو خو چه کله ئی دَ ویزو واوریده نو چا خپل کور ګانړه کړو. چا دَ ښځے په سر پیسے را غستی چا خپلے زمکے خرڅے کړی هر چا پچاس شپیته هزار روپے را جمع کړی چه بس ویزه پکار ده. چه کله هغه خان په بله ورځ را غلو نو دهغه کسانو لیسټ او پیسے ئی ور ته ورکړے. هغه خان یو لس ورځے پس ور ته یو ډیر عجیبه خط راولیږلو. په خط کښی ئی لیکلی وو. اے دله ګانو بے خوندو جومات په چندو جوړوی او ویزو دپاره در سره شته خپل کار کوی زه یو تن هم نه لیږم .

نو ځما عزتمند! چه مونږ او تا سو د الله په دین باندے د ل کهول کر پیسے اولګوو الله دے مونږ او تا سو ته د عمل کولو تو فیق نصیب کړی آمین. الله دے ځمونږ دا مدر سه او تمام مدارس د حق والو همیشه د پاره آبادے او ودانے سا تی. اقول قولی هذا استغفرالله لی ولکم ولسائر المسلمین .....

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ”١٠“

وحدتِ اُمّت



لسمه خطبه : **"وحدت (یو والی د امت)"**

الحمدلله و کفیٰ، و سلام علی عباده الذین اصطفیٰ ، امابعد! فاعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم . بسم الله الر حمن الر حیم .

﴿یاایها الناس انا خلقنکم من ذکر و انثٰی و جعلنکم شعوبا و قبائل لتعارفوا ان اکرمکم عند الله اتقکم ان الله علیم خبیر﴾ ﴿ان الله و ملئکته یصلون علی النبی یا ایها الذین امنو صلوا علیه و سلموا تسلیما﴾ اللهم صل علی محمد و علی آل محمد کما صلیت علیٰ ابراهیم و علیٰ ا ل ابراهیم انك حمید مجید.

انتهائی عزتمندو! قدر مندو مسلمانانو! ما دسورة الحجرات دیار لسم نمبر آیت مبارکه تلاوت کړو ، قرآن کریم خو کلام الله دے ، د الله کلام دے او دا خبره د مُسَلَّماتو نه ده چه " کلام الملوك ملوك الکلام "

د باد شا هانو خبرے دَ خبرو بادشا هانے وی. نو گو یا چه دَ تمام کائنات دَ انسانانو، پیریانو د خبرو بادشاه خبرے دا قرآن کریم دے . اوس چه څوك غواړی چه زه دَ الله رب العزت سره خبرے کوم نو د الله کتاب دِ لولی. دا قرآن کریم الله تبارك و تعالیٰ خپلو بندیگانو ته ژوند تیرولو دَ پاره یو ضابطهٔ زند گی را لیږلے دے، دا نن چه دَ سورة الحجرات کوم آیت او لستے شو، په دے سورة کښی یو خاص مضمون دے او نن حقیقت دا دے چه په معاشره کښی دَ دے انتهائی ضرورت هم دے ځکه نن دَ نفسی نفسی یو فضاء جوړه ده. مونږ او تا سو بار بار آؤریدلے دی چه د قیامت په ورځ به دَ نفسی نفسی عالم وی او دا خبره به سمجهـ ته نه راتله چه څنگه به دَ نفسی نفسی عالم وی خو نن زمانے مونږ ته دا اوښودل چه نن ورور دَ ورورنه بیزاره دے، خور دَ خور

نـه بیزاره ده، دَ تره په زړه کښی دَ وراره څه حیثیت نشته، دَ وراره په زړه کښی دَ تره څه حیثیت نشته، دَ تره دَ ځامنو او دَ ماما دَ ځامنو خپل مینځ کښی مینه او محبت نشته بلکه ځان دَ یو بل دُشمنان حسابوی وائی دا تر بوران دی. دَ تر بورانو په یو بل کامیابی او خوشحالی نه سودیږی ، دا څومره غلط سوچ دے نن په دے معاشره کښی دشمنئ، تربګنئ دی، او دَ قطع رحمئ یو ما حول جوړ دے نو دا سورت دَ دغه برائیو اصلاح کوی، دا سورة دَ معاشرے نه دُشمنئ، عداوتونه ، تربګنئ، جنګ جهګړے اوفسادات لرے کوی ، په دے سورة کښی دَ دے علاج دے.

دوه قسمه مریضان وی، یو اوښیار مریض او بل کم عقل مریض وی. اوښیار مریض ډاکټر ته لاړو، ډاکټر د هغه معائنه اوکړه د هغه بیماری ئی چیك کړه چه هلکه ستا د ا دا مرضونه دی دوائی ئی ور ته اولیکله چه دا دوائی به استعمالوی نو دا مریض فوراً ددوائی استعمال شروع کړی . او کم عقل مریض چی ډاکټرته لاړشی بعض ډاکټران چیټو کښی خپل ریکارډ لیکی چه ستا دا مرضونه دی او دا دوائی په استعمال کښی راولی لس ورځے پس به بیا را شی نو دا کم عقل مریض خلقو ته وائی زما خود ا مرض دے داکټر راته ددے مشوره راکړے. دا هر څه یا دوی. چه دا ګولی راته را کړی سحر ، غرمه ، مابنام به استعمالوی او دا پال پرهیزدے بس دا صرف یا دوی او دوائی په استعمال کښی نه راولی نو ددے خو څه فائده نشته دے. نو حقیقت حال دا دے چه مونږ او تا سو روحانی مریضان یو. بیاما د بعض بیمارو ذکر اوکړو نواوس که مونږ حقیقی معنو کښی د

معاشرے نه بُرائے لرے کول غواړو نو صرف ددے په یادولو به کار نه کیږی دابه زړه ته اچول پکاروی او عملی قدم به اغستل پکاروی .نو دے سورت کښی په معاشره کښی د یووالی ،دوحدت او دورور ولے د اتفاق او اتحاد د پاره آداب بیانوی د مسلمانانو په خپل مینځ کښی یو تنظیم وی .یووالی به ئی یو بل سره مشوره ئی د یوبل په خګو باندے خوګیدل وی. د یوبل په خوشحالے باندے خوشحالیدل وی. اوس به سوچ کوو چه دا قرآن کریم څنګه آداب بیانوی او څنګ طریقے سره به په مسلمانانو کښی یو والی اتفاق اتحاد راځی او دا آداب چه دے سورت ذکر کړی نو د هر آدب نه مخکښی اکثر آیتونو کښی یو جمله راځی او هغه جمله ده ﴿یا ایها الذین اٰمنوا﴾ که مونږ ځان ته ایمان والا وایو نو بیا مونږ باندے ولے کلام دَ باری تعالیٰ اثر نه کوی چه مونږ هم دَ الله یو او دا کائنات هم دَ الله دے.

﴿ولله ملك السمٰوت والارض﴾ ﴿انا لله﴾ مونږ دَ الله دَ پاره یو . دا خو حقیقی معنی کښی مونږ د الله پاك د بندګئ او غلامئ نه انکار کوو که مونږ حقیقی معنو کښی ځان دَ الله غلامان ګنړو نو غلام خو دَ حکم تعمیل کوی دَ غلام خوکار دا دے چه خپله خوښه به نه کوی .

اول ادب

اول آیت کښی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی: ﴿یٰاَیها الذین امنوا لا تقدّموا بین یدی الله و رسوله﴾

اے ایمان والو د الله او د رسول نه مه مخکښی کیږئ ،مۀ وړاندی کیږے . دے سره به معاشره کښی څنګ یووالی راځی. بس هر څوك چه وی مالدار وی که غریب، زمیدار وی که دکاندار ، که تاجر ، خو ګورے یاد

ساتئ ﴿یٰٓاَیھا الذین امنوا لا تقدّموا بین یدی اللہ و رسولہ﴾ بس دَ قرآن او سنت نہ مخکښی مه ځے. بس کوم ځائے پوری چه قرآن او سنت اجازت ورکړے دے هغه ځائے پورے ځے ، دَ هغے نه وړاندے کیږئ مه. یو ځائے کښی اللہ تعالیٰ فرمائی چه داسے اوکړه نو د هغے خلاف مه کوه یو ځائے کښی د نبی ﷺ مبارکه طریقه ده چه دا سے کول پکار وی نو ته پکښی خپلے طریقے مه راؤباسه اتفاق اتحاد به وی، او چه کله دَ قرآن و سنت د شریعت د اصولو پابندی نه وی بیا به هر چا ځان له خپل دین جوړ کړے وی د خپلے خوښے دین به وی. د خپلے خو ښے دَرودونه به وی. دَ خپلے خو ښے دُعاګانے به وی ، دَ خپلے خوښے بانګونه به وی ، ته په شریعت کښی اوګوره ، ځکه دا شریعت خو کامل مکمل دے ، اللہ تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿الیوم اکملت لکم دینکم و اتممت علیکم نعمتی و رضیت لکم الاسلام دینا ﴾

دا دین می تا سو ته کا مل مکمل ګرځولے دے . ځمونږ او ستاسو په دین کښی دَ ماشوم دَ پیدائش نه راواخلے تر مرګه پورے احکامات ، دَ بیت الخلاء نه راواخلے تر بیت اللہ پورے احکامات دا هر څه په دے دین کښی بیان شوی دی. نو بس شریعت کښی ئی ګوره کنه ، دَ لالا کاکا ماما او بابا خبرو پسی مه ځه. بس بهئی اللہ څنګه ووئیلے دی او د اللہ رسول څنګه ووئیلے دی بس پدے رو غه شوه کنه، اختلافات ختم شو. معا شرے نه دشمنے، تر بګنئی بعض حسد او عناد ختم شو چی زه هم د اللہ او رسول ﷺ خبرے ته کینم او ته هم د اللہ او رسول خبرے ته کینے نو بس یووالے دے.

دے مشرانو ته به پته وی اوس چه کومه میاشت تیره شوه در بیع الاول

میاشت دا خو دا سے میاشت دہ چہ ګورہ نن نہ تقریبا لس پنځلس کالہ مخکښی بعض علاقو کښی بہ خلقو دے میاشت تہ دَ "بارہ فات" میاشت وی بارہ فات یعنی پہ دولسم تاریخ نبی علیہ السلام وفات شوی. اوس بعض علاقو کښی پہ ھغہ دولسم تاریخ باندے بارہ فات نہ عید او اختر جوړہ شویکدم د ھغہ غم دو رځے نہ د اختر ورځ جوړہ شوہ بعض علاقو کښی شتہ بعض علاقو کښی نشتہ جنګ جھګړے جو ړوی عوام غریبانان ھم پریشانے کښی دی چہ دیخوا را تہ څوك یو څہ وائی او څوك را تہ بل څہ وائی بس زہ اډو جو مات تہ نہ ځم، دین تہ نہ ځم د ابیا یو شیطانی حملہ وی حالانکہ دا سے نہ وی پکار تہ پخپلہ لږ تحقیق کوہ.قرآن د یووالی اصول ذکر کوی نو بس دیخوا ھم مہ ځہ او اخواھم مہ ځہ نو قرآن او سنت تہ را شہ ﴿لا تقدموا بین یدی اللہ و ر سولہ﴾ کہ چرتہ قرآن او سنت او بیا د ھغے تشریح چہ آئمہ مجتھد ینو کړے دہ نو کہ دا خبرہ پکښی ثابتہ وی چی عیدمیلاد النبی دین دے ، بارہ وفات مناؤل دین دے ، نو صحیح دہ او کہ نہ وی ثابت پہ دلائل شرعیہ سرہ نو اجتناب ترینہ پکار دے . بعضی ځایونو کښی بہ عُرسونہ وی، میلادونہ وی، پہَ مړو پسے اووۀ مانښامونہ وی، دا جمعے دی، دا څلویښتی دہ، دا کلیزہ دہ. دَ قرآن او سنت نہ مخکښی مہ ځہ، دے کښی ئی اوګورہ دا صفا دعوت دے ھیڅ څہ مشکل او پټ والے پکښی نشتہ نو پہ معا شرہ کښی بہ پریشانئ وی یو والی بہ وی اتفاق اتحاد بہ وی خو دا آداب بہ یاد سا تل پکاروی یو ادب دا شو چہ دقرآن او سنت د خبرے نہ وړاندے کیږی مہ. مفسرین ذکر کوی :

"لا تقدموا اقوالکم لا تقدموا افعالکم و آراء کم"

خپل قول فعل او خپله رائے د قرآن او سنت نه مخکښی مه بوزه . بس الله رسول دا سے وئیلے دی . صحابؓ، تا بعینو دا سے کړی دی . بعض وائی چه یار زما خیال خو دا وائی نو ته ورته اووایه دا خپل خیال په خپل کور کښی کیده، بعض خلقو دین نوم د خپلو خیالا تو ګرځولے وی که تاسو کتلے ئی بعض ځایونو کښی چه تقریر ته یو کس راپاسوی نو دَ ستیج سیکرټری وائی" ایماندارو اوس به فلانکی راشی او دَ خپلو خیالاتو اظهار به اوکړی، نو دا دِین وُلے د خپلو خیالاتو دَ اظهار نوم دے څه؟ ځمونږ بعضی استاذان په دے باندے سخت غُصه کیږی چی داسے مه وائئ بلکه داسی وائئ چی فلانکی به راشی دَ الله او دَ الله دَ رسول خبره به اوکړی . د خپلو خیالا تو اظهار دے مونږ ته په منبر او محراب باندے نه کوی . تفسیر ابن کثیر لیکلی دی چی تلوار مۀ کوے په هیڅ څیز کښی مخکښی دَ قرآن او سنت نه بلکه تا بع شے په ټولو کا رو نو کښی د کتاب او د سنت دے آیت مبار که کښی رد دے په هغه چا باندے چی تحلیل او تحریم د ځان نه جوړی ددے حکم د پابندئی کولو د پاره د آیت په تتمه کښی وائی ﴿واتقوالله﴾ (الله اکبر) دا یو ادب شو په معا شره کښی څومره امن وحدت ، اتفاق او اتحاد راولی.

دویم ادب

آیت : ﴿یآایها الذین اٰمنوا لا ترفعوآ اَصواتکم فوق صوت النبی﴾ دا دویم ادب دے مقصد ئی دا دے چی احترام ا و عزت د صاحب شرع کوه. رعایت دَ سنتو کوه. آواز پورته کول که طبعی وی هغه جائز دی او که بے پروا هئی سره وی نو مناسب نه دی یو د پاره د تو هین آواز پورته کول

دی نو دا ممنوع دی ددے آدابو لحاظ پس د وفات د رسول ﷺ نه په مسجد نبوی کښی هم ضروری دی .

ځمونږ مشائخ کرام فرمائی چی په کوم ذکر باندی د رسول الله نه او چتولے د آواز ثابت نه وی نو په هغی باندی آواز پور ته کول صحیح نه دی.

نود پیغمبر ﷺ په آواز باندی خپل آواز مه پور ته کوی علماء پدے آیت لیکی د خپلو مشرانو په مخکښی آواز مه پور ته کوی ددے ادب لحاظ سا ته ځکه ادب انسان ډیر لوئے ترقی ته رسوی د مور پلار ادب د منبر محراب ادب، د جومات ادب، د مدرسے ادب.

"خپل آواز مه پور ته کوه" دا آیت چه کله نازل شو بیا بعضی صحابه کرام رضی الله عنهم داسی وو چه هغوی به بیا دَ نبی ﷺ په مخکښ خبرے هم نه کولے. بعضی د کورونو نه نه راووتل هسی نه جومات کښی تیزه خبره اونکړو ، پیغمبر ﷺ ته آواز په تیزه ورنکړو چه د پیغمبر ﷺ په آواز ځمونږ آواز اوچت شی. ﴿لا ترفعوا اصواتکم فوق صوت النبی﴾ بعض خلق د نبی علیه السلام په زمانه کښی دا سے وو چه نبی علیه السلام کور کښ دننه ناست وو نو دَ چار دیوارئ نه بهر بعض کسان راغلے وو دَ یهودو او منافقانو، نبی علیه السلام ته ئی آواز کولو "یامحمد اخرج بنا" دا نبی علیه السلام ژوندے وو نو چه کله نبی علیه السلام ژوندے وو او هغه ته کومو خلقو آواز کولو چه "یا محمد" قرآن کریم کښی الله تعالیٰ فرمائی ﴿ان الذین ینادونك من ورآء الحجرات اکثرهم لا یعقلون﴾ الله تعالیٰ فرمائی دوی کښی عقل نشته . کوم خلق چی دنبی علیه السلام دَ حاضر ناظر کیدو عقیده ساتی دَ هغوی په خبرو کښی تضاد دے یو طرفته وائی چی نبی علیه السلام حاضر

ناظر دے بل طرفته شعرونه وائی چه ." سنا ہے آپ ہر عاشق کے گھر تشریف لاتے ہیں۔" نو تشریف خو به هغه څوك راوړی چی موجود نه وی.
پیغمبر ته آواز کول په "یا محمد" سره صحیح نه دی ځکه چه ته یا الله هم وائے او یا محمد هم وائے، نو دا صحیح خبره نه ده، او دَ دے ناروا والی دوه وجے دی، یو: که دَ چا عقیده کښی شرك وی چه زه یامحمد وایم نو پیغمبر ﷺ هر ځائے موجود دے حاضر ناظر دے نو دا خو شرکی عقیده ده ځکه چه نبی علیہ السلام مکه کښی وو نو مدینه کښی نه وو، مدینه کښی وو نو مکه کښی نه وو، چه غارثور کښی وو نو غار حرا کښی نه وو، چه غار حرا کښی وو نو غارثور کښی نه وو. ځکه پیغمبر علیہ السلام خو هر ځائے کښی موجود نه وو چه هر ځائے موجود وو نو بیا ور پسی کا فرانو دومره تلاشی ولے کوله. نو که دا عقیده وی نو دا شرکی عقیده ده .
دویم یا محمد وئیل بے ادبی ده پیغمبر ﷺ ته په نوم سره آواز کول خه خبره نده ته خپل پلار ته په نامه نوم اخلی چه اے فلانکیه نه پیغمبر ﷺ په نوم سره مه رابله نو یو ادب ئی ذکر کړو چه د خپلو مشرانو ادب کوی چه کله د مشرانو ادب کیږی نو دهغوی په زړه کښی به د کشرانو د پاره مینه او شفقت وی نو بس اتفاق اتحاد به وی او که د مشرانو ادب نه کیږی نو دهغوی په زړه کښی به بیا د کشرانو د پاره شفقت هم نه ئی دا دوه خبرے شوی. یو خبره د قرآن او سنت نه وړاندے مه ځی. دویم د مشرانو ادب کوی.

دریم ادب

﴿یٰٓاَیها الذین اٰمنوآ ان جآء کم فاسق بنبإٍ فتبینوا﴾

تیر شوی آدابو سره چونکه اتفاق اتحاد جوړیږی لیکن بعضے خلق دا اتحاد خرابوی چی هغه فا سق، دروغ ژن او چغل خور وی نو دَ هغه بے تحقیقه خبرے منل نه دی پکار.

خلاصه دَ دریم ادب دا ده چه تا له چا اووئیل چه فلانکیه سپی درنه غوږ تختولے دے نو سپی پسے منډه مه وهه، وړومبی خپل غوږ گوره. ﴿یٰٓاَیھا الذین اٰمنوآ ان جآء کم فاسق بنبإٍ فتبینوا﴾ اے ایمان والو که تاسو ته یو فاسق فاجر دَ چا باره کښی خبر درکړو چه هلکه فلانکی خو داسی کړی دی نو هسے نه چه ته اُووائے چه خه دا سے ئی کړے دی زه به دَ ده څرمن اوباسم، نه دا سے به نه کوی شریعت کښی دے نه منع را غلے ده، اوچه کومو خلقو داسے کړے دی د هغوی کورونه تباه شوی دی، رورولئی ئی تباه شوی دی، رشته داری ئی تباه شوی، ملګرتیا ئی تباه شوی، خاندان ئی تباه شوی بلکه الله فرمائی تا سو تحقیق کوی چه وا قعی دا خبره چا کړے اودویمه خبره دا ده چه کله کله یو ځائے کښی یو خبره یو کس په Positive senseکښی اوکړی خو چه کله بل تن ئی رسوی نو بیا دده انداز Negativeوی پدے خبرو یقین مه کوی او یا که تاته چا خبر اوکړو هم نو چه تحقیق ئی نه کوی نو یقین هم پے مه کوه وائی بس دا به ئی هسے یوخبره کړے ئی نو کو رونه به نه ورانیږی او که دا سے ئی نو څومره کورونه تباه شی چه فلانکی ستا باره کښی دا وئیل او دا وئیل او ته به نن هلته کښی غم ته ځی، او ښادی ته به ځی او بیا دا کس هم کلك شی دا مصیبت به پخوا زنانو کښی وو اوس د سړونه هم ښځولی جوړشوی دی.

خفه کیږو به نه ایماندارو ځمونږ معا شره کښی نن دا بُرایانے شته خو

دا یاد ساتل پکار دی که یو سړی دا غواړی چه زما عمر کښی او هر څه کښی دے برکت وی نو صله رحمی دے قائمه کړی په معاشره کښی دے یو والی اتفاق اتحاد راولی داسے اتفاق اتحاد هم نه چه بس خوشحاله کورنے ئی چه هیڅ پرده پکښی نه ئی او راجوړخانه ئی دَ کوره جوړه کړی وی د شریعت د اصولو دننه دے دَ صله رحمی او رشته داری اُوپالی.

﴿یٰٓاَیُّها الذین اٰمنوا﴾ اے ایمان والو تاسو له یو فاسق خبر د چا باره کښی اوکړو نو تاسو تحقیق کوئ هسی نه ته هغه بل تن ته نقصان اورسوئ. او ته بیا ورسته معلومات اوکړی چه خبره خو دا سے نه وه نو ﴿فتصبحوا علی ما فعلتم نادمین﴾

دے آیت مبارکه کښی د فاسق خبربغیر د تحقیق نه د قبلونو نقصان ذکر کوی، که چرته در ته یو فا سق د یو تن یاد یو قوم باره کښی نا کاره خبر در کړو، مثلًا تا ته ئی اووی چی فلانکی تا ته کنځل کړی دی، تا پسے ئی دا دا خبرے کړیدی، یا په تائی بهتان لګولے دے او تۀ ددے فا سق پدے خبره عمل اوکړی او د هغه تن نه انتقام وا خلے، د هغۀ بے عزتی اوکړی دَ هغه سره جنګ او کړی نو دا سبب دَ پښیمانتیا دے.

بیابه پښیمانه ئی، چرته به دِ خپل ورور خفه کړے وی، هغه له به دے کنځل وینا کړے وی، او دا سے ډیر معا شره کښی کیږی . مونږ ته وائی مؤمنانو دَ فاسق په خبره باندے اعتماد مه کوئی نو هغی معاشره کښی به وحدت وی، یووالی به وی، اتفاق اتحاد به وی، بس دَ چا نه زړه مه بَدوه (الله اکبر کبیراً)

﴿یآیها الذین أمنوا﴾.....

تالـه یـو تـن خبـر راؤړو چـه فلانکی ستا باره کښی داسے وائی ته نه یو کړے او نـه بـلـه او بس د هغه بے عزتی اوکړے چه تا ځما باره کښی دا ووئیـلـے وو. او هغه غریب ځان نه نۀ دے خبر، نو بیا هغه خپلو خپلوانو تـه اووائـی او جهـګړه جوړه شوه نو اوس به څه کول پکار وی نو ورپسے بل ادب کښی دے دپاره علاج ذکر کوی. دیو بے اعتباره انسان په خله تا اعتـمـاد اوکړو دوو کسانو مینځ کښی جهګړه را غله قتل و غارت او شو اوس د مسلمانانو ذمه داری څه ده ؟ هغه څلورم ادب کښی ذکر کوی .

څلورم ادب

دے څـلـورم ادب کښی بـه لږ سـوچ کـوو چـه مونږ خپلـه زمـه داری څـومـره سر ته رسوو. دا دری خبری خو لږے آسانـے وے چه دَ قرآن او سنت نه مخکښی تلل نه دی پکار مونږ ته تپوس پکار دے چه په غم او ښـادئ کښی چـه قـدم اوچتوو نو دیکښی دَ شریعت څه حکم دے؟ ''قـال الله او قال الرسول'' دیکښی څه وائی؟ او دویم دَ مشرانو ادب پکار دے، ټهیك ده جی ادب بـه کـوو ان شاء الله، دریم دا چه دَ چا په خبره به اعتـمـاد نـه کـوم ، داڅـلـورم ادب د یـکښی ځمونږ لږه ذمه داری ده الله تبارك و تعالیٰ فرمائی .

﴿وان طآئفتان من المؤمنین اقتتلوا فاصلحوا بینهما﴾

کـه چـرے دَ مؤمنانو دَ دوؤ ډلو جنګ جهګړه راغله ، قرآن کریم ورته کافر نـه وائـی) قـرآن کـریـم دَ نـورو مسـلـمـانـانو ذمـه داری ښائی، دوه ډلـے دوه خـانـدانـونـه دوه کسـان دی، خـپـل مـیـنځ کښی ئی جنګ راغلو، او جنګ ولـے راغلو ځکه دَ بـے اعتماده کس په خبره ئی اعتماد اوکړو چه فلانکی

داسے وئیلی او داسے وئیلی، بعض خلق اولگی خبرہ گرموی دا سے پہ دے معاشرہ کښ شتہ، ډیر جرگو والا کښی ھم داسے شتہ، اللہ دِ معافی اوکړی ھغوی یو کس تہ وائی چہ تہ گورے کلك شہ روغے تہ غاړہ مہ گدہ، دے بہ درے لاکھہ روپے درکوی خو تہ د شپږو لاکھو نہ پہ کمو روغہ او نکړے نو دا خو دَ شریعت خبرے نہ دی (اللہ اکبر)

جرگے والا بہ دا ھم نہ کوی، بعض وخت انسان خفہ وی یا غصہ وی، ھغہ سرہ ظلم شوی دے، مظلوم دے او دہ تہ جرگے والا راغلو نو دے ورتہ وائی نہ زما بے عزتی ئی کړے، زہ بہ ئی څرمن اوباسم، زہ بہ ترے نہ ښځہ راولم، او دا بہ کوم او دا بہ کوم، بعض کم عقل جرگہ مار ھغہ بل تن تہ وائی، تہ خفہ کیږہ مہ مونږ روغہ کښی تلے وو خو ھغہ وے زہ بہ ترے نہ ښځہ راوَلم نو ھغہ کس نور ھم گرم شی، نو دا خو جرگے والا نہ شو دا خو فسادی او شری شو. دا سورۃ د معاشرے نہ نفرتونہ ختموی، دا سورۃ د معاشرے نہ دُشمنے تربگنے ختموی، دا سورۃ خو د اتفاق او اتحاد درس ورکوی، دا خو صرف دَ دے یو سورۃ دا آداب دی او بیا چہ کلہ قرآن نہ راغونډوی ھغہ جدا خوند کوی، نو دے ادب کښی د مسلمانانو ذمہ دارئی ښائی، کہ چرتہ دَ مؤمنانو دَ دوؤ ډلو جنگ را غلو نو اے مسلمانانو! تاسو څہ اوکړئ؟ ﴿فاصلحوا بینھما﴾ قرآن وائی تا سو ددوی مینځ کښی صلحہ اوکړے، ځکہ بل ځائے کښی اللہ فرمائی ﴿والصُّلح خیرٌ﴾ صلح کښی ھر طرف تہ خیر ھِیُ خیر دے او نہ صلح کښی شر ھِیُ شر دے تا سرہ ظلم او شو زیا تی او شو نو قرآن کریم ډیر عجیبہ کتاب دے شیخ القرآن مولانا غلام اللہ خانؒ بہ فرمائیل .

قربان جاؤں تیرے سکھانے دے انداز نو

اے قرآنہ تہ چہ دا خلق څنګه پوهه کوی نو ستا دَ دے انداز نه قربان شمه (الله اکبر) قرآن کریم کښی الله تعالیٰ فرمائی صلح اوکړے ځکه چی په صلح کښی خیر هی خیر دے او که چرته تا سره ظلم او زیاتی اوشو نو قرآن کریم وائی ته هم ترے نه بدله واخله اوس که قرآن تاله ډارك وے چه بس معاف ئی کړه . الله فرمائی زه معاف کولو والا یم څومره خلق دی دَ الله نافرمانی کوی او الله پاك رزق هم ورکوی الله تبارك و تعالیٰ پیدا کړے هم دی الله تعالیٰ پرے دَ نعمتونو بارا نونه هم کړی دی دَ هغه ذات نافرمانی هم کوی بیا هغه تن هغه ذات ته وائی چه ربه بیا به نه کوم نو هغه رب ئی معاف کوی هم. نو چه کوم خلقو سره زیاتی کیږی نو ډارك الله دا نه وائی چه معاف ئی کړه اول کښی الله فرمائی بدله ترے نه واخله د بدلے اجازت شته حاکم شرعی ته لاړشه چه ما سره ظلم شوی ماله ئی غابنی مات کړی شریعت وائی ته هم غابنی مات کړه. خو دے پسے فوراً قرآن یو بله خبره ذکر کوی که تا سو معافی کوی نو دا ډیرخه عمل دے د بدلے اجازت خو شریعت در کړو خو بیا دا بدله به پشان د هغے ئی مثلاً تاله چاپو پرق در کړو نو تا د هغه پرق بیلنس کړے دے څه ؟ چه هغه پرق په دمه وو که تیزوو که څنګه وو کچرته تا ور ته لږ غوندے هم تیزور کړو نو بیاته ظالم شوی. نو غوره خبره دا ده چه ربه ته معاف کوونکی ذات ئی ما تا د پاره معاف کړو. یو سف۴ سره خپلو ورنړو څومره زیاتی کړے وو . کو هی ته ئی او غورځولو. د پلار نه ئی په دهوکه بوتلو اوبیا په لاره باندے ئی و خلے هم دے او بیا دے ورنړو یوسف علیہ السلام په قافلے والو باندی خرڅ کړو. غلام ئی کړو یوسف علیہ السلام ته ئی لاسونه اوترل ځان سره قافلے والا روان

کړو بیا مصرکښی په یوسف علیہ السلام بولی لګی. مصر کښی خرڅ شو، دا دَ رونړو دَ لاسه او بیا چه عزیز مصر واغستو او بیا دَ زلیخے په کور کښی پرے امتحان را غلو زلیخے پرے الزام اولګولو بیا یوسف علیہ السلام جیل ته لاړو، بیا په کنعان کښی قحط را غلے وو بیا ئی ورنړه مصر ته تلی دی او غَلـه ئی راوړے ده اوږده واقعـه ده خو بهر حال چه کله حالات بنکاره شوی دی یوسف علیہ السلام ورنړو ته اعلان کړے دے چه دا ځمونږ او ستا سو مینځ کښی شیطان وسوسه اچولے ده . ﴿لا تثرب علیکم الیوم﴾ په تاسو نن ورځ هیڅ ملامتیا نشته.

دَ نبی علیہ السلام سره مکے والا څومره زیاتی اوکړه ځما خپل سوچ دا دے چه د تمامے دنیا د پاکانو، نیکانو، تهجد ګزارو، قاریانو، علماؤ صالحانو دَ بزرګانو اولیاؤ دَ دے ټولو دَ بدنونو نه دَ هر څه نه دَ نبی علیہ السلام دَ وینے یو قطره ډیره قیمتی ده .

دَ نبی علیہ السلام دَ بدن نه وینے توی شوی په طائف کښی هغه واقعه دَ طائف مونږ څه دَ پاره آورو. بیا په غزوه اُحد کښی دَ نبی علیہ السلام تندی په کانړی لګیدلے وو دَ تندی نه ئی وینے روانے وے بعض روایاتو کښی راځی یوصحابی راغے دَ پیغمر علیہ السلام تندی ئی پاک کړو او هغه وینه ئی اوسټله غاښونه مبارك دَ نبی علیہ السلام شهیدان شو، دَ دے مشرکینو دَ لاسه نبی علیہ السلام چه خانه کعبه کښی سجده کوله نو لری او ګندونه ئی راوړل او په نبی علیہ السلام ئی واچول او دا څه دَ نبی علیہ السلام نران بهادران صحابه کرام ته دے خلقو څومره اذیت ورکولو؟ څومره ئی شهیدان کړی وو؟ او دا څه کوی دَ نبی علیہ السلام سَکه تره، بهادر، نډر تره سیدنا حمزه رضی اللہ عنہ خلقو راتینګ کړے وو او بدن ئی ورته سِیرے کړو او د هغه زړه او اِینه ئی راویستل او چکونه

ئی پری اولګول، چه کله مکه فتح شوه بعض مشرکین ګوری چه پیغمبرﷺ به ځمونږ باره کښی څه اعلان کوی چه حلالوی به موکه په ژوندونی به رانه څرمن اوباسی، ځکه مونږ خو دوی سره هر قسم زیا تی کړے دی او نبیﷺ څه اوکړل امت ته ئی نمونه پریخوده نبی علیہ السلام وائی زه نن هغه اعلان کوم، کوم اعلان چه یوسف علیہ السلام خپلو ورنړو ته کړے وو نو تا سو ځما ورنړه ئی ﴿لا تثریب علیکم الیوم﴾ په تاسو باندے نن ورځ هیڅ ملامتیا نشته . دَ نبی علیہ السلام دَ تره قاتل وَحشی وو کله چه مکه فتح شوه دَ لرے لرے ځائے نه جماعتونه راتله او مسلمانان کیدل به دغه وخت وَحشی په طائف کښی او سیدو، دۀ ته هم ملګرو اووئے چه ته هم لاړشه دَ نبی علیہ السلام په لاس اسلام قبول کړه دا وحشی وائی زه ګهبراویږم ما ډیر زیاتی کړے دے. هغوی ور ته اووئے چه ته خو لاړشه کنه، هغه راغے نبیﷺ سره ئی لاس ملاؤ اسلام ئی قبلولو نبیﷺ چه ور ته څنګه او کتل نو هغه خپل تره ئی رایاد شو او تره ئی معمولی سړے نه دے بلکه اسد الله دَ الله زمرے دے، تره ئی هغه شخصیت دے، نبی علیہ السلام فرمائی (سید الشهداء حمزہ) د تمامو شهیدانو سردار به سیدنا حمزہؓ وی دومره لوئے شخصیت دے.

چه کله وحشی را غے او نبی علیہ السلام سره ئی لاس ملاؤ کړل نبی علیہ السلام ورته وائی "انت وحشی قاتل عمی" زما د کاکا جان قاتل هغه وحشی ئی وحشی سر ښکته کړے دے وائی اے دَ الله رسوله آؤ. نبی علیہ السلام ورته وائی صحیح ده خو بس یو کار کوه چه زما مخے ته مه راځه بیا می خپل تره رایادیږی. حالانکه نبی علیہ السلام سره طاقت هم وو قوت هم وو دغه ځائے کښی ئی زورځندولے هم شو. نو قرآن کریم مونږ ته دَ دے ذمه داریٔ یاد

دهانی کوی خو مونږ ته پته نشته، نن مونږ په کرکټو خه پوهیږو په جَوارو خه پوهیږو، مونږ ته دَ دغے ځیزونو ډیره خه پته وی. خو دَ دے ذمه دارئ پته نشته چه قرآن کریم ټولو ایمان والا ته وائی چه ګوری یاد ساتئ که د دوو ډلو مینځ کښی خفګان را غو، جنګ جهګړه را غه نو ﴿فاصلحوا بینهما﴾ دَ دوی په مینځ کښی صلحه اوکړئ، بیا الله په دے ډیر ځه ورکوی بعض روایاتو کښی خو راځی اصلاح ذات البین چه دَ دوؤ کسانو په میئځ کښی صلح کول، دا د نفلی حجونو نه، دَ نفلی عمرونه، دَ نفلی صدقاتو نه او مونځونو نه غوره عمل دے نو دا څلورم ادب شو چه ﴿وان طائفتن من المؤمنین اقتتلوا فاصلحوا بینهما﴾

ورپسے فوراً یو بله خبره ذکر کوی ﴿انما المؤمنون اخوة﴾ دا ایمان والا رونړه رونړه دی، چا چه دا عظیم الشان کلمه وئیلے ده چه "لاالٰه الا الله محمد الرسول الله"

په دے باندے به خفه کیږو نه بعضی قباحتونه ځمونږ په دے معاشره کښ رادننه شوی دی چه دَ هغے نه بے حیائی خوریږی، وائی فلانکئی ته ما خور وئیلے ده نو ځان سره می ور ته د اختر شوقدر برخه راوړے ده .الله خو وائی دا ټول مسلمانان رونړه خویندے دی نو ته به د چا چا برخه کوی، دا په شریعت کښی نشته او دا بے حیائی ده ما ورته خور وئیلے ده، او ما ور ته ورور وئیلے دے، پرده نه کوی دا می دَ نکاح ورور دے، او دا می دَ نکاح خور ده نو خپله سکه خور به ترے نه خفه ئی د هغے حصه به ئی ګیره کړے وی او پردی زنانه یادوی چه دا می د نکاح خور ده، دَ نکاح دا خور هم پکښی نشته . دا ځمونږ دَ منبر او محراب دَ ذمه دارانو یو غټه سستی ده یا چشم پوشی ده چی دا به ئی د نکاح ورور

شی، نه بلکه مولوی صاحب ته پکار دا وی چه تپوس اوکړی چه خپل ورور ئی شته پلار ئی شته، ماما ئی شته، تره ئی شته چه دوی اولیږی او ورته وائی چه د زنانه نه اجازت راواخلئ، شریعت خو دا وائی . چرته لرے رشتے دار به وی او بیا د هغه نه پرده نه کوی.

نہ جان نہ پہچان، میں ہوں تیرا مہمان

وائی دنکاح ورور سره عمرے ته تلے شی او سکه ورورسره نشی تلے دا څومره غلطه خبره ده نه الله فرمائی ﴿انما المؤمنون اخوة﴾ تمام کلمه گو رونړه رونړه دی.

(الله‌الله) وه دقرآن نه زارشه، قرآن څه عجیبه کتاب دے دَ قرآن خوند چه چا اغستے وی قسم می دِ وی په الله که بیا ئی د ځان نه جوړ شوی قیصو قطارو ته غوږ کیخودو.

پنځم ادب

﴿یٰٓاَیُّھا الذین اٰمنوا لا یسخر قوم من قوم عسیٰٓ ان یکونوا خیراً منھم﴾

اے ایمان والو یاد ساتی نارینه دے چرته نورو نارینو ته سپك او نګوری چا پسی دے ډرامے او ټوکے نه کوی ځکه که ستا په نظر کښی او ذهن کښی یو کس سپك راځی خو الله پاك فرمائی ﴿عسیٰٓ ان یکونوا خیراً منھم﴾ تا ته پته نشته کیدے شی دغه تن ستا نه غوره وی، ته دَ چا خاتمے نه څه خبر ئی، ځکه بعضی روایاتو کښی راځی "انما الاعمال بالخواتیم" دَ اعمالو دارومدار په خاتمه باندے دے، یو سړے به ډیر بزرګ د زمانے په نظر راځی آخره خاتمه به ئی خرابه شی. (..... الله دے ځمونږ او ستا سو خاتمه په ایمان اوکړی) ډیر بزرګ ولی به په نظر راځی اوس پته خو نه لګی چه دَ ده به آخری انجام څه وی؟ او یو سړے

ډیر شرابی، زنا کار، بد کار، فاجر فاسق، په نظر رائی اوس پته خو نشته چه دا سړے آخر کښی تو به اوباسی او الله رب العزت ئی توبه قبوله کړی نو دَ دغه فاجر فاسق او شرابی دَ خاتمے خو پته نشته. دَ چا باره کښی یو نظریه مه قائموه چاله سپك مه ګوره.

زنانه دے نورو زنانو ته سپګ نه ګوری کیدے شی ته کومے زنانه ته سپك ګوری هغه ستانه غوره وی نو دا سے احادیثو مبارکو کښی ډیرے عجیبه خبرے را غلے دی نبیؐ فرمائی دا سے د الله بند ګان شته چه چاله در شتے پیغام اولګی څوك ئی پیغام نه قبلوی څوك به هغه باندے اعتماد اواعتبار نه کوی خو نبیؐ فرمائی چه دا دا سے تن دے: "ان اقسم علی الله لابرة۔"

که دے دَ الله په ذات یو قسم اوکړی نو الله ئی ور ته پوره کوی دا کس الله ته دومره ګران دے خو دے نه مراد بے نمازه ملنګان پلیت خلق ندی مراد. بعضی ملنګان وی، سخا جامے ئی اچولے وی، څه وضو او غسل هم نه کوی، نو هغه مراد نه دی، بعض خلق دَ حدیث نه غلط مراد واخلی، هغوی خو فرائضو کښی کمے کوتاهی کوی، دا کوم چه په الله قسم کوی دا خو مونږ ته پته نشته نور خو دا ډیر لوئے ولی بزرګ انسان دے. نو الله بل ادب ذکر کوی ګوری یاد ساتئ چا ته سپك او نه ګوری او بل دَ دے ادب په ضمن کښی ذکر کوی ﴿ولا تلمزو انفسکم﴾ یو "همز" دے او یو "لمز" دے ﴿ویل لکل همزة لمزة﴾ په دیکښی فرق دے. "همز" دیته وائی چه پَشی شا دَ چا عیب لټوی، پَشی شا ورپسی ډرامے کوی، او "لمز" مخامخ یو سړے موجود دے په سترګو او شونډو دَ هغه خلاف خبرے کوی نو قرآن کریم کښی الله

فرمائی ﴿ولا تلمزوآ انفسکم﴾ په چا تهمت مه لګوه په دے سترګو چا پسی اشارے هم مه کوه.

﴿ولا تنابزوا بالالقاب﴾ ګوری معاشره کښی یو والی راولی، په غلط نوم سره چاته آواز مه کوه او بیا پدے آیتونو باندے تفسیر قرطبی عجیبه عجیبه خبرے لیکلی دَ سیدنا عبد الله بن مسعود ﷺ په باره کښی ئی لیکلی دی هغه وائی چه زه یو سپی ته هم بد نه شم کتلے هسے نه چه الله زمانه سپے جوړ کړی بیا یو مسلمان ته سپك کتل خو ډیره لویه خبره ده .

دے رائیونډ کښی یو عالم دے دَ رائیونډ دَ مسجد امامتی هم کوی مولانا جمیل صاحب ډیر لوئے بزرګ او ولی دے هغوی بیان کښی فرمائیل (الله الله) وائی چه کله یو سړے چا ته وائی چه هلکه دیخوا شه اخوا شه نو زما دا زړه سم په رپیدو شی چه دا خو دَ الله بنده دے ده کښ ایمان دے دا سے په سپکاوی ور ته وائی چه اخوا شه دیخوا شه دَ ده خو ډیر لوئے قدر اوکړه. مونږ رائیونډ کښی دَ مشرانو مشوره کښی ناست وو مولانا جمشید صاحبؒ وو، حاجی عبد الوهاب صاحبؒ وو، نور بزرګان وو نو ځمونږ د پختنو یو عالم وو نو هغه دے نورو کسانو ته وے چه بهائی آګے آګے آجاؤ) مخکښی راځئ، مخکښی راځئ، مولانا جمشید صاحب دا خبره واؤریده نو هغه ته غصه شو وائے: ''بهئی انکو یه مت کهو کے آګے آګے آجاؤ انکو فرمادو که بهائی آګے آګے تشریف لے آؤ'' نو دا به څومره خوږه خبره وی نو الله فرمائی ﴿و لا تنابزوا بالالقاب﴾ غلط نوم سره چا ته آواز نه کول چه اے ړوندے اے کونړه اے فلانکیه دا سے آواز مه کوه ځکه دا ته دَ الله تخلیق پورے خندا کوے تا له چه

کوم کس سپك بنکاری نو دا چاپیدا کړی دا خو هغه لوئے ذات پیدا کړی (الله اکبر کبیراً)

شپږم ادب

یو "تَجَسُّس" دے یو "تَحَسُّس" دے ، دا سورۃ څنګه په معاشره کښی دَ اتفاق او اتحاد په عنوان روان دے، اصل کښی مونږ مسلمانان دَ قرآن دَ درسونو نه په غفلت کښی پاتے شوی یو مونږ ته چا نه دے بیان کړے، "ولا تجسوا" او احادیثو کښی راځی "ولا تحسوا، کونو عباداللہ اخواناً۔" تجسس دے ته وائی، جاسوسی کول، چا پسے لګیدل، دَ خلقو کمزورو پسے لګیدل، (Weak Piont) تلاش کول، چه دے دے ځائے کښی او دریږی دائی کمزوری ده، دائی کمزوری ده. الله تعالیٰ فرمائی ﴿ولا تجسوا﴾

دَ "وَ لا تحسسوا" مطلب دے په چا پسے څوك لګول چه ته دے فلانکی پسے اولګه چه دے څه څه کارونه کوی ، خپل کار سره کار ساته دا څیز مه کوه معاشره کښی به وحدت وی یو والی اتفاق اتحاد به وی .

﴿ولا یغتب بعضکم بعضا﴾ یعنی بعضی دِ دَ بعضو غیبت نه کوی، نن ځمونږ جومات، ځمونږ حجره ، ځمونږ غم ښادی، ځمونږ دَ خویندو میندو په تنور ډوډۍ پخول دَ نارینو دَ زنانو دَ مجلس سُر ، خوند او مزه په غیبت سره جوړه وی بعضی عوامونه به تا سو آؤریدلے وی چه هغوی وائی چه خدائے دِ په غیبت کښی نه راولی. اوکوی به غیبت ولے الله ستا په کنډر کښی او سیزی څه؟ چه غیبت کښی به ئی نه را ولی ، شیطان مونږ کوم ځائے کښی په ستړ کښی او خی دا مونږ څومره غټ جرأت کوو .

د غیبت تعریف: په انسان کښی څه کمی دے کو تا هی ده ګناه ده او ته خلقو ته هغه وئے چه د خلقو په نظر کښی د فلانکی سپك شی او دا یاد سا تل پکار دی څنګ چه د غیبت کول حرام دی د غیبت اوریدل د هغے نه زیات حرام دی غیبت کوونکښی ته موقع څوك ورکوی؟ نو د غیبت اوریدل د کولو نه زیاته ګناه ده ځکه که دے غیبت کوونکی ور ته اووئے چه یا غیبت مه کوه دا ګناه ده نو بس دا تن به پخپله خاموش شی خو مونږ ور سره ها کښی ها ملاوؤ چه آؤ کنه دا سے چل دے نو د مجلس مزه یے برابری او دا غیبت دا سے ګناه ده چه دے ته وائی ګناه بے لذت په ګناهو نو کښی ډیر قسمونه دی یو ګناه دا ده چه عارضی پکښی تا ته لږ غوندے مزه را غله لکه تا ګانه بجانه واوریده یو سا عت د پاره تا ته عارضی لذت ملاؤ شویا نور ګناهونه ځمونږ مر شدؒ به فرمائیل د ګناه سره څه او شی.

لذت عارضی ملی، عزت دائمی گئی　　یہ ہے گناہ کا اثر کہ راحت زندگی گئی

د ګناه سره د زندګی را حت او سکون تباه شی .

په غیبت کښی خو څه لذت هم نشته او دے غیبت سره ستا نیکئ هغه بل تن ته آوړی .

احادیث مبارکه کښی خو ډیر زیات د غیبت په مذمت کښی راغلی دی خو دلته دَ قرآن چه کومه جمله ده (الله اکبر) دَ قرآن جامعیت ته به حیران شے چه په دے جمله مونږه پوهه شو نو بیا به مونږ دَ غیبت نه ځان ساتو الله تعالیٰ فرمائی بعضی دے تا سو کښی دَ بعضو غیبت نه کوی ورپسی مثال ذکرکوی. ﴿ایحب احدکم ان یا کل لحم اخیه میتاً فکر هتموه﴾ آیا تاسو کښی یو تن دا خوښوی چه دے ځائے کښی

(dead boday) دَ یـو مسـلمان لا ش پروت دے تا سو ترے نه یو ټکړه رانیـمـه کـړے او هـغـه اُوخـرئ ، دا څـوك خوښوی ؟ الله تعالیٰ فرمائی ﴿فکرهتموه﴾ تـاسـو خو دا نه خوښوئ او څوك چه دَ چا غیبت کوی دا دَ مړ ورور غـوښـے خوړل دی.

اوس بیـا هـم ځـمـونږ سـمـجهـ تـه خبره رانغله ، مفسرین ذکر کوی یو انسـان پـه حـالـت اضـطراری کښـی دے. یـو انسان د لوږے د لاسه مړ کیـږی د خوراك څکاك څه نشته نو په هغه حرام حلالیږی هغه وخت کښـی ده تـه شـریـعـت وائـی د حـرام څیز نه ته خوړے شی نو یوځائـے کښی یو لاش پروت دے د مسلمان، بل طرف ته د خنزیرغوښه پرته ده، بـل طرف ته د مړ غوئی او خر غوښه پرته ده نو په تا حرام روا کیږی چه تـه د لوږے د لاسه مړکیږی نو شریعت وائی په دے حالت کښی دَ دے خـنـزیر د غـوښـے نه او خره خو د غه لاش نه غوښه مه خوره،اومونږ خو پـه دے جـومـات کښـی دَ خـنـزیـر نـه خـطـرناك څیزخورو ﴿و لا یغتب بغضکم بعضا ایحب احد کم .....﴾

بـعـض عـلـمـاء فـرمـائـی "و فیك عیـوب و لـلـناس اعین" پـه تا کښی عیبـونه دی او خلقو لره ستر گی دی. دَ انسان نیك بختی په دے کښی ده چـی د انسـان په خپلو عیبونو نظر وی نو دۀ ته به د بل چا د عیبونو بیـا نـو لـو فـرصـت هـم نـه ملاویږی . یو روایت کښی رازی "لا تغتابو الـمسـلمین" د مسلمانانو غیبت مه کوئ. د معراج په شپه د نبی علیه السلام ورتګ پـه یو دا سی قوم اوشو چی نوکونه ئی دَ تانبی وو او خپل مخ او بـدن ئی پرے راشوکولو نو جبریل امین علیه السلام نـه ئی تپوس او کړو چی دا کـوم خـلق دی جبریل امین ورته جواب ور کړو چی دا غیبت کونکی

دی غیبت دا سی گناه ده چی پکښی د حقوق الله هم مخالفت دے اود حقوق العباد هم د لیونی او کا فر ذمی غیبت هم نا روا دے.

بعض مو قع باندے د غیبت گنجائش شته لکه د ظالم خلاف چی مظلوم شکایت کوی دَ استفتاء په غرض سره د مفتی نه د تپوس کولو په و خت چا لره د چا د شر نه خبر ولو د پاره لکه چی بعض مصنفین او لفین غلطے خبرے د قرآن او سنت خلاف خبرے کړی وی یا چا صحابیؓ یا پیغمبر پسے خبرے کړی وی او خلقو ته وے چی دا خبره ئی غلطه لیکلی ده. نو دا غیبت نه دے بلکه دا خو خیر خواهی ده.

چی فسق فجور او بد عات و خرفات خوری نو د هغوی غیبت روا دے.دا رنگے ور پسی آیت کښی چه کوم الله تبارك و تعالی فرمائی اے خلقو (ټولو خلقو ته خطاب کئی) چه تا سو گو ری د آدم بابا او حوابی بی او لاد ئی نو ولے دومره نفرتونه کوے د یوبل نه' بل دا چه دَ دنیا دا ژوند خو د محبت د پاره هم ډیر کم دے تاسو پکښی نفرتونه د کومے غارے کوئ تاسو د یو مور او پلار اولاد ئی البته تاسو کښی خیلونه، قبائل قومونه شته خو دَ دے مقصد دا دے ﴿لتعارفو﴾ یو بل سره تعارف کول دی نور په دے کښی څه غوره والی نشته دا د هندوانو نظریه ده چه دا فلانکے ذات دے او دا فلانکے ذات دے ، دا په اسلام کښی نشته.

تیرے دربار می پہنچے تو سبھی ایک ہوئے

﴿ان اکرمکم عند الله اتقکم﴾ په ټولو خلقو کښی الله ته زیات معزز هغه تن دے چه په هغه کښی زیاته د الله یره ئی نو معیار فضیلت دا په تقویٰ باندے دے نه په خیل نه په قبیله نه په قوم.


الله دے مونږ او تا سو ته د عمل کولو توفیق نصیب کړی. اللهم صل علی سیدنا محمد وعلیٰ اٰل سیدنا وبارك و سلم .

اے پاکه پرور د ګاره پدے خبرو مونږ ته د عمل کولو تو فیق نصیب کړے ربه ځمونږ ددے معا شرے نه دابد امنی دا دشمنی عداوتو نه تربګنی په خپل فضل کرم سره ربه د خپلو پاکو نومونو په و سیله سره ختم کړے ربه مونږ مسلمانانو کښی یو والی اتفاق اتحاد را ولی د کومو مسلمانانو کو رونو کښی پریشانے دے ربه هغه پریشانے ئی ختمے کړے ځمونږد تمامو مسلمانانو شرعی حاجات د خپل غیبی خزانونه پوره کړی. و صل الله تعالیٰ علی خیر خلقه محمد وآله و اصحابه اجمعین بر حمتك یا ارحم الر حمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ''١١''

دَ مونځ اهمیّت



یوؤلسمه خطبه : "دَ مونځ اهمیت"

الحمد لله نحمده و نستعينه ، اما بعد فاعوذبالله من الشيطٰن الر جيم بسم الله الر حمن الر حيم .

﴿اقيموا الصلوٰة و اٰتوا الزكوٰة وار كعوا مع الراكعين﴾ و فی روایة " الصلوٰة عماد الدين" ﴿ان الله و ملئكته يصلون على النبی يٰأيها الذين اٰمنوا صلوا عليه و سلموا تسليما﴾ اللهم صل على محمد وعلیٰ اٰلِ محمد كما صليت علیٰ ابراهيم و علیٰ اٰلِ ابراهيم انك حميد مجيد.

عزتمندو مسلمانانو! ما یو آیت مبارکه ذکر کړو، په دے آیت کریمه کښے الله رب العزت مونږ او تا سو ته د درے خبرو حکم کړه دے. اول دوه حکمونه (۱) اقیمو الصلوٰه (۲) وا راکعو ا مع الر کعین د مانځه متعلق دی او یو حکم پکښے د زکوٰ ه متعلق دے او دا ځمونږ او ستا سو او تمام مسلمانانو فرض دی چه په مونږ او تا سو باندے الله رب العزت د طرف نه کوم څیزونه فرض دی د کومو څیزونو مو نږ ته الله حکم کړے او د کومو څیزونو نه مونږ الله منع کړے یو دا ایزده کول په مونږ او تا سو باندے فرض دی که چر ته مونږ او تا سو د خپلے زندګی متعلق چه څه کول پکاردی د څه نه اجتناب پکاردی دا ایزده نه کړو نو قیامت کښے به مونږ او تا سو مجرمان یو او دا مسئله علماؤ ذکر کړے ده چه دا نا پوهتیاچی ځان نشم پوهه کولے دا خبره د قیامت په ورځ مونږ ته نجات نشی راکولے ځکه چه الله رب العزت مونږ ته دا ژوند را کړے دے. دا زندګی مونږ او تا سو سره د الله رب العزت امانت دے بیا دے لږ غوندے ژوند کښے مونږ او تا سو نه الله رب العزت مطالبے کوی چه دا کو ئی او دا مه کوئی.

دَ دنیا دا زندګی په دنیا کښی یو پیریډ دے او دا پیریډ ختمیدو والا دے څنګه چه سکولونو او مدرسو کښی یو پیریډ وی ماشومان وائی اوس بـه دَ فـلانـکـی اسـتـاد پیـریـډ شـروع شی په هغه پیریډ کښی زوړ سبق آوورول شـروع شـی. سبـق پـکښـی وئیـل شـروع شی په دیکښی ټلے اووخلے شی او پیریډ ختم شی.

دا رنـګـے عزتمندو! ددنیا دا زندګی یو پیریډ دے دا شروع دے بیا دے پیـریډ ته څوك مخکښی را غلے ئی څوك و رستو را غلے ئی الله رب الـعـزت چـه ده د پـاره څـو مره پیریډ مقرر کړے هغه پیریډ به دے پوره کـړی نـو مـلك الـمـوت بـه را شـی ټلی به او خی چه پیریډ ختم شو .نو دے پیریډ کښی به مونږ او تا سو ته څه ایزده کول پکارئی ځکه که چر تـه طـالب علم او سټوډنټ د سکول کالج یونیورسټی او مدر سے هغه پیـریډ په اهتمام سره اټینډ نه کړی هغه پیریډ ته توجه سره نا سته او نه کـړی .د زده کـړے نیت او نه کړی او څه ایز ده نه کړی .پیریډ ختم شی، بیا ور پسے امتحان ئی نتیجه ئی نو بیابه دے ناکام او فیل شی.

نـو ځـمـونږ دا ژونـد هم یو پیریډ دے د زده کولو د پاره ځمونږ دا زند ګی یـوائـے د خوراك څکاك د پاره ، دا رنګے ددنیاروز ګار د پاره او دنیا ګټلو د پاره یوائـے نده بلکه یو روایت کښی راځی "الدنیا خلقت لکم"

الله فـرمـائـی اے ځما بندیګانو دا دنیا ټوله ستا سو دپاره پیدا شوی ده. دا نـور ستـا د پـاره اے انسـانـه، دا سپـوږ مـی ستـا دپاره دے د انسانـه زمـکـے او پټی ستـادپاره، دا خشـا کـونـه ستـا دپاره او ګوره ځناورو ته ګډے بیزے میخـے غواګانـے دا هر څه ستا دپاره ورځ هم ستا د پاره نو شپـه هـم ستـا د پـاره دا ټول نظام الله رب العزت د انسان د خدمت د پاره

پیدا کړی ځنا ور د انسان په خدمت کښی ، اوبه د انسان په خدمت کښی اورهم د انسان په خدمت کښی او سپوږمی هم د انسان په خدمت کښی ځکه وائی.

" الدنیا خلقت لکم " دا دنیا تا سو دپاره "و انتم خلقتم للاخرة" خو تاسو د آخرت د پاره پیدا شوی ئی، تاسو به دنیا کښی دا سے ژوند تیروئ دا پیریږ به دا سے تیروئ چه ورپسے آخرت راروان دے په دے کښی دا سے کارونه اوکړے چه صبا آخرت کښی سرخرو او کامیاب ئی بیا آخرت کښی به حساب کتاب کیږی . مونږ او تاسو ته به دے پیریږ کښی زده کړه پکارئی ددنیا دے زندګی کښی.

ما چه کوم آیت کریمه ذکر کړو ده هغے کښی الله رب العزت فرمائی ﴿اقیمو الصلوٰة﴾ مونځونو ته رواج ورکړے ځکه د عقیدے نه روستو عبادا تو کښی اهم مونځ د دائیګی د پاره و خت نه ملا ویږی . الله رب العزت فرمائی ﴿اقیمو الصلوٰة﴾ مونځ اداکړے . دَ اقامة الصلوة مطلب دا دے چه مونځ پنځه و خته کوی نو په جمع سره مونځ کوی.

نو دمونځ د فرائضو هم خیال سا تی د مونځ دواجبا تو هم خیال سا تی نن ډیر مسلمانان شته چه د مونځ د وا جبا تو پته هم ور ته نشته، او ددنیا په کار کښی به خه ما هر وی پتی ته به کوم و خت کښی خاوره اچول پکارئی کوم و خت کښی به نوئی ذخیره لګول پکارئی.کوم و خت کښی به ذخیره ایستل پکارئی او کوم و خت کښی به خه ریټ کوی ددے خوور ته پته ئی خو که تپوس ترے او کړے چه د مونځ څه مسائل را ته اوایه نو بیا به نه پوهیږی.

یوورځ څه نو جوانانو سره ناست ووم په پرائیوټ سکولونو کښی ئی

سبقونه وے. گپ شپ می ور سره لګولو ما ور ته اووئے بچے د میاشت فیس څومره ور کوی هغوی اووئے دوه یا دونیم زره روپے ما ترے نه تپوس اوکړو د کال فیس در نه څومره اخلی وے پنځلس زره. ما ترے نه تپوس اوکړه د ګاډی فیس څومره ور کوی هغوی اووئے پنځه یا شپږ زره میاشت. دکتابونو د هغے نه علاوه . بیا دا خوراك څکاك ددے نه علاوه حساب اولګوی، بیا ترے نه ما تپوس اوکړو چه بچے مانځه کښی څوفرض دے قسم می دی په الله په جومات کښی ناست یم که دَ فرضو پته هم ورته وه.

دا ځمونږ نوے نسل چه د مونځ د فرضو پته ور ته نشته او مونږ دا اډو بالکل خپله ذمه داری ګڼړونه چه دیکښی د مشرانو هم څه ذمه دارے شته بس مونږ په دے خه مطمئن یو چه د پټی کار کولے شی او پیسے ګټلے شی نو دا ډیره ده دَ اقامة الصلوٰة مطلب دا چه مونځ قائم کړئ اومونځ جمع سره کوئ ځکه الله رب العزت فرمائی دا مونځ چه دے دا په مسلمانانو باندے په خپل وخت کښی فرض دے. دانه چه نا وخته قضا مونځونه کوئی قضا مونځ جومات کښی کول هم خه کار نه دے. چه ته چا ته وائے دا مونځ رانه قضا شوی وو، دا می کولو داسے خبره کول هم ګناه ده دا دے هغه خپله ګناه خلقو ته ښکاره کوی چه ما ګناه کړے وه. دَ الله حکم راته وو چه دے وخت کښی مونځ ادا کړه نو ما هغه وخت کښی د الله هغه خبره نه وه منلے نو زه ئی اوس قضا راګرځوم ته دا بیا پټ په پټه باندے کوئ.

نومونځ پنځه وخته کول په خپل وخت باندے کول جمع سره کول دمونځ د فرائضو خیال ساتل، واجباتو خیال سا تل چه انسان مونځ کوئی

نو چه د مونځ د مسائلو خو ور ته پته وی . که مانه په مانځه کښی دا قسم غلطی او شی نو څه به کوم سجده سهو به کوم ځائے کښی کوم .مونځ به می په کومو خبرو باندے ماتیږی دا به ایزده کول پکاروی نن مونږ اوتاسو اوز ګار نه یو.نو الله فرمائی ﴿اقیمو الصلوٰة﴾. مونځ ته رواج ورکړے نو یوائے نه بلکه نورو خلقو کښی هم د مونځ دعوت چلول.

الله رب العزت فرمائی﴿وامر اهلك بالصلوة وا صطبر علیها﴾

خپل اهل و عیال ته هم د مانځه اووایه نو پخپله هم په دے مونځ باندے کلك شه ځکه که ستا اهل و عیال مونځ نه کوی او ته ترے نه تپوس نه کوی نو ته به ګنهګار ئی بیا تا د الله رب العزت دَ دے حکم خیال او نه سا تلو.

نبی علیہ السلام فرمائی ستا اولاد په خه بد باندے پو هه شونو په مانځه باندے ئی او دروه چه کله عمرئی لس کاله شی او مونځ نه کوی نو سزاورته ورکوه.

دا مونږ ته نبی علیہ السلام تعلیم راکړی دے لکه ا لله رب العزت مونږ ته د ایمان ولا نخے ذکرکوی چه ایمان والا کوم خلق دی نو ﴿الّذین یقیمون الصّلوة﴾ مونځونو ته رواج ورکونکښی وی ﴿والمیقمین الصلوة﴾ ، ﴿حافظو اعلی الصلوٰة﴾ ، ﴿اذاقمتم الی لصلوة﴾

چه کله دَ مونځونو اراده اوکړی نو اول اودس کوئ، ځماعزتمندو دَ مونځ اهمیت دپاره علماؤ ډیرے وجے ذکر کړی چه مونځ څومره اهم دے د مونځ دومره ا همیت چه ګوره کله انسان بیمار شو نو شریعت دا نه دی وئیلے ته بیمار شوی نو مونځ مه کوه. شریعت کښی دادی چه یو سړی په ولاړه مونځ نه شی کولے نو په نا سته دی کئی که په ناسته ئی نشی

کولے نو په ملاسته دے کوی په اشاره سره دے کوی (قبلے طرف ته دے خپے کړی مخ به هم قبلے طرف ته شی سر ته دے بالخت کیدی ډډه دے او خی. الله اکبر دے اوائی او مونځ دے شروع کړی)

پخوا بـه بعض خلقو کښی دا خبره مشهوره وه چه اشاره مونځ دا مطلب چه ګوته به نیغه اودروی او الله اکبر سره به ئی را ښکته کے دا د ښځو خبرے دی دا شریعت کښی نیشته، دے سره مونځ نه کیږی دا بـه کیدیشی چه تاسو هم آو ریدلے وی.خو دمونځ معافی پکښی نه ده ذکر شوی .

ځمونږ خو چه معمولی شان په سر درو دوی نو مانځه نه چهټی کوو او ډیر مسلمانان به دا سے وی تا سو به هم لیدلے وی ته به ور ته وائی را ځه د مانځه وخت دے دے بـه وائی جامی می پلیتی دے وے ولے پیشاب دے پکښی کړے دے څه؟ فرض مونځ دے او دے وائی جامے می پلیتی دی.دا سے مسلمانان هم ډیر ئی هغه یو تن په منډه روان ور ماور ته اووئے د مانځه وخت دے مونځ اوکړه د هغه خیال دا وو چه د چائے ست ئی را ته اوکړو نو وائی نه ډیره مهربانی (الله اکبر کبیراً) یو تن ته چا یو ورځ اوئیل چی بانګ اوشو رائه چی مونځ ته لا ړشو هغه ور تـه ویل جامی می پلیتے دے.ځو ورځی پس ور ته ملګری اوئیل چی رازه د فلانکی وادۀ ته ځو نو ور ته ئی ویل صبر اوکړه جامی بدلوم نو .

الله فرمائی ﴿اقیموا الصلاۃ﴾ نو مونځ دومره اهم عبادت دے .

(۱) یو نکته د مونځ دا همیت د پاره (صلوٰه المریض) د مریض مونځ دے . فقهاؤ باب قائم کړے دے چه مریض به مونځ څنګه کوی نو په وخت د مرض کښی هم مونځ تدے معاف نو هسے په سر در دی تبے

او تو هی به څنګه معاف شی
(۲) دویم چه کله دشمن سره جهګړه ده(د مسلمانانو او دکا فرو جهګړه ده) یو طرف ته کافر غشی را وری او ډزے کوی دیخوا مسلمانان دی د مونځ وخت را غے نو شریعت دا نه وائی چه مونځ به ور ستو او کړے دے د پاره احادیثو مبارکو کښی قرآن کریم کښی مونځ د صلوٰه الخوف را غلے دے دیرے په وخت کښی به مونځ څنګه کوی نو مونږ ته شریعت وائی چه کله دشمن نه یره ده نو مسلمانان به دوه ډلے شی یو ډله به دشمن ته او د ریږی او بله ډله به را شی مونځ به شروع کړ دی چه یو رکعت اوکړی نو دی به واپس لاړشی نو هغه بله ډله به را شی امام سره به یو رکعت اوکړی.
دا سے خطرناك حالاتو کښی هم مونځ ندے معاف مونځ دو مره اهم دے د مونځ دو مره لوئے اهمیت دے او دا لاڅه چه کله بیت الله شریف کښی طواف کیږی او د خانه کعبے نه طواف خو ډیر نا شنا عبادت ئی کنه دا انسان خپے البے خپے، سر تور سر روان ئی تا ویږی د بیت الله شریف نه او طوا فونه کئی خو چه کله د مونځ و خت را غے نو طواف ستاف (بند) شی. نو دا مونځ دو مره اهم عبادت دے د مونځ د پاره طواف هم او دریږی او نن په وړه وړه خبره باندے ته ده مونځ نه چهټی کوی نو ځکه الله رب العزت فرمائی ﴿اقیموا الصلوٰة﴾ مونځ ته رواج ورکړئ نو مونځ قائم کړے . د مونځ د و ختونو هم اهتمام او سا تی پینځه و خته مونځ کوی.
دے آیت کښی ور سره دویمه خبره ذکر کوی چه ﴿وارکعوا مع الراکعین﴾ د رکوع کوؤنکو سره تا سو هم رکوع کوئ اشاره شوه

پکښی دَ جمع مونځ ته ځکه چه نور مسلمانان رکوع کوی نو تاسو هم ورسره رکوع کوی دَ یهودو په مونځ کی رکوع نه وه په دے وجه د راکعین نه مراد دَ اُمتِ محمدیه مونځ کونکی دی ، د مونځ دجمع اهمیت باره کښی ابو داؤد شریف کښی روایت دے چی "لا صلوة لجار المسجد الا فی المسجد" چی د جومات د ګاونډیانو فرض مونځ د جومات نه بغیر نه صحیح کیږی، د سیدنا عبد الله بن عباس ﷺ نه روایت دے چی "من سمع النداء فلم یجب فلا صلوٰة له الا من عذر" چی څوك اذان واوری او د جمع مونځ ته جومات ته رانشی نو مونځ ئی نه صحیح کیږی مګر که عذرئی وی ﴿وارکعوا مع الراکعین﴾ کښی اجتماعیت ته هم اشاره ده چی دَ دین محنت اجتما عی جماعتی تنظیمی شکل کی پکار دے دَ دین کار انفرادی هم کیدیشی خو د الله مدد د جماعت سره وی، "یدالله علی الجماعة" قرآن سنت اجتماعیت ته ترغیب ورکوی ﴿واعتصموا بحبل الله﴾ منګولے او لګوے په رسئی د الله سره ﴿جمیعاً﴾ ټول ﴿ولتکن منکم امةٌ یدعون الی الخیر﴾ په تا سو کښی دِ یو جماعت وی چی خیر طرف ته را بلل کوی، جماعت دے ته وائی چی سوچ او فکر ئی یو وی، مشوره وی پکښی، دَ یو بل منل وی پکښی، یو بل برداشت کول وی پکښی، ایثار وی، دَ یو بل دَ ضروریاتو احساس وی، دا سے صفات ځمونږ نه شریعت غواړی، دَ دین د محنت د پاره، د قرآن و سنت د درسونو د اشاعت د پاره، د شرکیاتو بدعاتو، رسمونو، رواجونو د ختمولو د پاره مشورے او میټنګونه کول، دے د پاره منظم انداز کښی کار کول نو الله تعالیٰ فرمائی ﴿وارکعوا مع الراکعین﴾

د مونځ دآدابو هم خیال ساتئ په دے مانځه کښی دَ اِمام صاحب نه مخکښی لاړ نه شئ. په بعضی روایاتو کښی راځی نبی کریم ﷺ فرمائی " کوم یو انسان چه د امام نه مخکښی سجدے ته ځی نو الله رب العزت به ور ته دا شکل د خَر په شکل کښی بدل کړی"

د امام دومره متابعت را غلے، او مونږ ته خو کله کله خپل امام یو نوکر ښکاری څوك چه ځمونږ خدمت کوی په عام معا شره کښی کله څوك ځمونږ پیزار ګنډی نو څوك ځمونږ ویخته برابروی نو د جومات امام به هم ځمونږ د هغوی غوندے خدمتګاروی نه نبی علیہ السلام فرمائی چه کله امام " الله اکبر" اوکړی نو تاسو ورپسے " الله اکبر" کوئ چه کله امام رکوع ته لاړ شی نو تاسو رکوع کوئ چه کله امام سجدے ته لاړ شی نو تاسو هم سجدے ته لاړ شئ د امام نه چرته مخکښی لاړ نه شئ په جومات کښی هم د امام نه مخکښی مه ځی ځمونږ د خلقو چونکه دین سره زیات تعلق نه وی دلته خو الحمد لله ماحول جوړ دے. بعضی علاقو کښی به دا سے ئی چه امام صاحب ته خلق را شه هم نه وائی، په کوم وخت کښی به ور ته را شه وائی په څومو قعوباندے چه کله ور کره ما شوم را شی نو امام صاحب پسی به رامنډے کړی نو دا تپوس ترینه نه کوی چه امام صاحب مفتی صاحب مولانا صاحب مونږ کره ما شوم را غے نو ځمونږ خو دین کا مل دے د نبی علیه السلام سیرت، د صحابه کرامؓو زند ګی د تا بعینو ژوند دا محفوظ پروت دے،د هغوی د زند ګی هر یو طرف بالکل وا ضحه دے هر څه په دین کښی شته نومونږ ور ته دا نه وایو چه د ماشوم د پیدائش په وخت کښی څه کول پکار دی په دے کښی سنت

طریقے څه دی.نو په دیکښی دهندوانو طریقے کومے دی. دیهود او نصارو طریقے کومے دی د کومو خبرو اهتمام پکار دے.نو د کومو نه ځان سا تل پکار دے . دا تپوس ترے نه نه کوو بس دا وایو چه استاجی مونږ کره ماشوم راغلے راشه بانګ (اذان) ورته اُوایه، ته ورته وایه ولے تـه هندؤ ئی څه، بانګ نه شی وئیلے، یا بانګ درته نه درځی. صرف دَ بـانګ د پـاره د غـه و خـت کښـی ضـرورت را غو د نورو مسائلو تپوس پـکښـی نـه کوؤ.بیا د ما شوم په پیدائش کښی خلاف شریعت کا رونه ډیـر مسـلمانان رونړه کوی.بیا امام صاحب سره خبرے ختمے. (سلام او شـو اومـاشـوم شـوی هـغـه تـه بـانګ او ایـه) بیـا جومـات تـه هم نـه راځو.امام صاحب سره کینو هم نه چی څه کول پکار دی او څه نه .

(۲)بیادغه ما شوم دے یابل ما شوم دے د نکاح وخت ئی را غلو نو بیا امـام صـاحـب پسـے را مـنـډه کـړی چـه اسـتـاجی نکاح ده. د هغه نه دا تپوس هم نه کوؤ(تبلیغ والا مشران وائی کنه چه تا سو اول کو شش دا کـوی چـه دعـلماؤ و ختونه معلوموی چه دوی په دے وخت کښی څه کوی او څه نه کوی هسی نه د مطالعه وخت ئی دے.دلیکلو وخت ئی دے د آرام وخـت ئـی دے.ځـمونږ خلق اکثر که یو عالم صاحب په لاره روان ئـی نـو پـه لارے ئـی او دروی چـه استاجی ما خو په آسمان کتلے خـو خه ده خدائے په زمکه کښی راکړے. بیابه وائی خوب می لیدلے نـو یـوګـنټهـه کښی به هغه خوب وائی.او دا تپوس نه کوی چه دده به څه کارئی، چرته به روان ئی څه پروګرام به ئی او اکثر د علماؤ و ختونه ډیـر زیا ت مصروف وی نو ګنټهه کښی ورته خوب اوائی) نومونږ او تا سـو تـرے مـعـلـومات هم نه کوو چه ددے استاجی کوم یو وخت فارغ

دے اوکوم ندے فارغ نو دے به وائی چی نکاح ده فلانکے نیټه مونږ پخپله ایخودلے.اوس که د استاجی خپل څه پروګرام وی نو مونږ ئی خپل نو کر ګنړوچی خپل هر څه پریده خو نکاح ته راشه (العیاذ بالله) په خلے نه وایو خو ځمونږ هغه حال دا سے وائی نو بیا ترے دا تپوس هم نه کوؤ چه نکاح کښی څه کول پکار دی او څه نه دی پکار. دَ نبی علیہ السلام دَ دور نکاحونه څنګه وو؟ بس استاجی نکاح راته اوترِه.

استاذانو به خبره کوله چه یو علاقه کښی چا جومات ته امام صاحب راوستو نو امام صاحب ورته وائی چه ځم درسره امامتی ته خو یو وعده را سره ټول اوکړئ چه دَ ډم نه به راته کم نه ګورئ. خلقو وے جی تاسو ځمونږ امام به ئی ځمونږ مور او پلار به ئی امام صاحب وے بس د ډم نه به را ته کم نه ګورئ دا وعده راسره اوکړی، هغوی اووئے دے لیونے دے که څه وجه ده. دا چه مونږ ته پینځه وخته جمع راکوی ځان ئی فارغ کړے دے دَ دنیا د روزګار نه ئی ځان ایستے دے ځمونږ غم ښادی په دے امام صاحب ښا ئسته کیږی چه دے نه ئی ځمونږ غم ښادی نیمګړے ئی او دے وائی چه د ډم نه به راته کم نه ګورئ. بس هغه خلقو اووئے زه استاجی چه ته څنګه خوشحاله ئی مونږ به هغه شان کوؤ. امام صاحب ئی جومات ته راوستو. میاشت دوه تیرے شوی نکاح پکښی راغله په نکاح کښی هغه خلقو ډمی راوستے، ګډا ګانے پکښی وی په ډمو باندے ئی چالیس پچاس هزار روپے اوشیندلے . او بیا ئی ورله دَ لارے د کرائے دَ پاره لس شل زره روپے ورکړے. او چه کله استاجی نکاح اوترِله نو هغه له ئی دوه سوه روپے په جیب کښی واچولے نو هغه استاجی ورته اووئے. چه تاسو ماسره

وعده نه وه کړے چی دَ ډم نه به درته کم نه ګورو.
نو کله کله ځمونږ خلق هم د امام صاحب خیال نه ساتی نو په نکاح کښی مونږ استاذ ته اوایو نکاح راته اوټړه.
(۳) په دریم ځل ځمونږ کله امام صاحب ته ضرورت راځی؟ چه کله ابی یا بابا وفات شی دا تپوس ترے نه نه کوؤ چه جی جنازه کښی کوم و خت مقرر کړو په خپله خوخه د کور نه وختونه مقرر کړو او کله کله په بعض علاقو کښی په مړو باندے چو بیس ګهنټے هم تیرے کړی.مردان ښار کښی یو میاشت مخکښی غم شوی وو نو چه میخه نه پیدا اکیده (چه په روجو کښی ئی غوخه اچولے وے) نو په دویم سحر ئی د هغه جنازه اوکړه (۲۴ ګهنټے بعد) نو د غه وخت کښی عالم ته نه راځو چه د شریعت حکم څه دے؟ مونږ ته د غم احکامات بیان کړی.
نبی علیه السلام فرمائی : "اسرعوا بالجنازة"
په جنازه باندے تلوار کوئ. جنازه مه حصاروی. دی وائی خپل خلق به ئی بهر ملك نه راځی د فلانکی ځائے نه به راځی نو مونږ د غه تپوسونه نه کوو بس وایو فلانکی وخت باندے جنازه ده فلانکی ځائے کښی ته به جنازے ته راځی.
بس مونږ ته د غه درے ځایونو کښی د امام ضرورت را زی مونږ چرته امام صاحب سره نه یوناست چه امام صاحب عالم صاحب مفتی صاحب زه به دا زند ګی څنګه تیروم . ما باندے د بی بی څه حقوق دی، د اولاد څه حقوق دی، د ګاونډی په ما څه حقوق دی، په ما د مور او پلار څه حقوق دی دا تپوسونه ترے نه کوؤ، او خه پکښی خوشحاله یو تپوس هم نه کوؤ د دین پته هم را ته نیشته، د فرائضو پته هم راته

نیشته، ددین نه نا خبره یو.
ځما عزتمندو چه مونږ او تا سو خپله زندګی او خپل ژوند بدل کړو خپل ټائم ټیبل بدل کړو، لږ لږ جومات ته وخت ورکړو. که فضائل بیا نیږی د فضائلو حلقه کښی کینو، که علماء را ته در سونه کوی دهغوی په مجالسو کښی نا سته کو ځمونږ او ستا سو به ډیره فائده کیږی ګوره تا سو چه یو ګهنټه تبلیغ والا ملګرو سره کینی نو دمونځ د فرائضو واجباتو د غسل دفرضو نه به خبر شے نو په ګهنټه کښی به ډیره فائده اوشی. نو چه بیاوخت فارغ کړے د یو درے ورځو د پاره نو مزید فائده به دے اوشی د مونځ سبق به واورئی تاله به اندازه اولګی چه زه څومره غلطئ کښی یم ما کښی څومره کمے دے ته به بیا راځے، علماؤ سره به کینے او تپوسونه به ترے کے سه روزه، چله، څلورو میاشتو کښی په وتو چا نه عالم او مفتی مقرر نه جوړیږی. مشران وائی چه تبلیغ کښی دَ وتو مقصد دا دے چه مونږ علماؤ سره ناستے ته جوړ شو. نو تبلیغ کښی تلل دے د پاره دی چه علماؤ سره تعلق پیدا شی چه دے بیا د علماؤ نه پوره دین ایزده کوی نو یو دَ دے خبرے اهتمام پکار دی.
دویم کوشش دا پکار دے چه خپل بچی دینی مدارسو ته اولیږو تا سو به په هغه بچو ډیر زیات خوشحاله ئی چه کوم بچی تا سو دینی مدارسو کښی دا خل کړی هغوی به دین ایزده کړی د نبی علیہ السلام سنت او سیرت به ایزده کړی هغه مشهوره واقعه ده' بعضی علماؤ ذکر کړے ده، په البدایه والنهایه کښی هم ذکر ده، نورو علماؤ هم نقل کړے ده چه عبد الر حمٰن فروحؒ یو تن وو هغه په جهادی سفر کښی تلے وو چه کله تلونو دے هم

ځوان وو او بی بی ئی هم خه ځوانه وه. او ستائیس سال بعد راغے نو اوس پخپله هم بدن ئی کمزورے شوے وے او ستائیس سال بعد خوزنانه هم بوډے شوی ئی هغه چه راغے دروازه ئی او ټکوله د خپل کور، د کور نه یو نوجوان تن راوتے دے. دے ور ته وائی دا خو ځما کور دے. او هغه تن وائی دا خو ځما کور دے دواړه په جنګ شوی دی په دیکښی امام مالکؒ راوتے دے ځکه چه د غه نوجوان د امام مالکؒ استاد وو. امام مالکؒ وائی چه ځما شیخ سره د چا جنګ دے. او زنانه هم دروازے ته را خوا ته شو چی ځما بچی سره د چا جهګړه ده نو هغے خو خپل خاوند او پیژندوخو هغه خاوندئ نه وو چه کوم ځوان وو، ویخته ئی تورو او س سپین ویخته او سپینه ګیره او چه هغه بی بی ته اوکته نو د بی بی شکل ئی هم هغه شان ندے بوډے وه. هغه بوډئ امام مالك ته وائی چه دا خو دِ پلار دے بیا کور ته تلے دے ښځے سره خبرے کوی نو تپوس ترے نه کوی چه زه تلم نو ما تا ته څه پیسے پریخودے وی هغه دِ څه کړی. هغه ورته جواب کښی وائی خبرے به ورو ستو کوؤ اوس مانځه ته لاړشه د مونځ وخت دے چی دے جومات ته لاړو مونځ ئی اوکړو دَ مانځه نه بعد یو نوجوان په مسجد نبوی کښی ناست دے درس ورکوی او دَ امام مالکؒ په شان خلق ورته ناست دی لویه حلقه وه دنبی علیه السلام احادیث بَیانیده.

"حدثنا فلان قال حدثنا فلان....."

دا میلمه ورته ډیر حیران شو چه دا به د چا بچے ئی چه دَ نبی علیہ السلام احادیث بیانوی او دومره لوئے لوئے خلق ورته ناست دی چه کله کورته راغلو نو ښځه ورته وائی جومات کښی دے څه اولیدل هغه

اووئے یو نوجوان ناست وو. درس ئی ورکولو او ډیر زیات خلق ورته ناست وو نوجوان خو ما پوره اونه لیدو هغه بی بی ورته وائی دا ستا هغه بچے تا چه ما له کوم مال پریخودے وو هغه ما دَ ده په طالب علمے او دین ایزده کولو باندے لګولے هغه اووئے بالکل خه دے کړی. نو انتهائی خوشحاله شو، نو چه خپل بچی مونږ او تا سو دین ته وقف کړو نو په هغے به ډیر زیات دنیا کښی هم خوشحاله او آخرت کښی هم خو شحاله یو.

الله دے مونږ او تاسو ته په دے خبرو د عمل کولو تو فیق راکړی.

الله دے ځمونږ صلاحیت، استعداد، مال اولاد دَ خپل دین دَ پاره، دَ خپلے رضا دَ پاره استعمال کړی. اقول قولی هذا استغفرالله لی ولکم ولسائر المسلمین.

★★★★★★★★★★★★



خطبہ نمبر: ''۱۲''

درسِ تقویٰ

دولسمه خطبه : **"درس تقویٰ"**

﴿سبحانك لا علم لنا الا ما علمتنا انك انت العليم الحكيم .....﴾

﴿يا ايّها الذين امنوا اتقوا الله وكونو ا مع الصادقين﴾

دَ دے آیت کریمه د مخکښی سره ربط او مناسبت : په مخکښی آیت کښی دَ هغه درے صحابه کرامو ﷺ حال بیان شوی وو سیدنا هلال بن امیه ﷺ، سیدنا مراره بن ربیع ﷺ او سیدنا کعب بن مالك ﷺ چه دا درے صحابه کرام ﷺ د غزوه تبوك نه پاتے شوی وو او چه کله آقائے نامدار ﷺ د تبوك نه واپس را غے نو منافقین را غلل هغوی مختلف (عذرونه) پیش کړل او دے درے کسانورشتیا حال اووئے چه ځمونږ هیڅ عذر نه وو مونږ وے نن ځوا و صباځو بس په دے کښی پاتے شوی یو بیا نبی ﷺ دوی نه خفه شو او پنځوس ورځے دوی سره نبیٔ خبرے نه وی کړے د کعب بن مالكؓ واقعه په احادیثو مبارکو کښی ذکر شوی ده.

هغه خپله واقعه پخپله بیانوی. دزوی نوم ئی عبد الله ده هغه د خپل پلار نه نقل کوی چه ځما پلارکله نا بینا شونو ماله ئی دتبوك د واقعه بیان کړے وه. دے صحابه کرامو رشتیا وئیلے او د غه زمانه کښی چه کله نبیٔ دوی سره خبرے نه کولے او خفه وو ترے نه نو الله رب العزت دهغوی حال بیانوی ﴿ضاقت عليهم الارض بما رحبت﴾

په دوی باندے دا زمکه تنګه وه چه دا به څنګه چل ئی چه د نبی علیه السلام ځمونږ سره خبرے به نه کوی . اوزړه ئی تنګ شوی وو. بیا الله رب العزت ددوی تو به قبول کړه او بیا دوی ته مبارکے ورکړے کیدے. بیانبی علیه السلام ډیر خوشحاله وو. دی رشتیا وئیلے نو دے آیت کریمه

کښی هم الله رب العزت فرمائی ﴿ وکونوا مع الصادقین﴾ د ریشتونو خلقو ملګری شئ.

دے آیت کریمه کښی دوه اوامر دی (۱) یو امر ﴿یٰٓایها الذین اٰمنوا اتقوا الله﴾ اے ایمان والو د الله نه اویریږی.

په ﴿یا ایها الذین امنوا﴾ سره په قرآن کریم 89 کرته خطاب شوی دے.

﴿یٰٓاَهل الکتاب﴾ سره خطاب هم کم دے تو ﴿یا ایهاالذین کفروا﴾ ﴿یٰٓاَیها الکفرون﴾ سره خطاب هم کم دے ﴿یٰبنی اسرائیل اذکروا﴾ سره خطاب څلور کرته دے خو ﴿یاَیها الذین امنوا﴾ سره بیا بیا خطاب دے په دی کښی د ایمان والو شان ته اشاره ده چه ایمان والا دومره لوی شان والا خلق دی چه الله رب العزت ورته بار بار وائی اے مؤمنانو، اے مومنانو، اے د ایمان خاوندانو.

اکثر ځایونو کښی چه ﴿یٰٓاَیها الذین اٰمنوا﴾ را غلے نو ورپسی الله فرمائی دا کار کوی او دامه کوی. لکه ﴿یٰٓاَیها الذین اٰمنوا لا تقولوا راعنا﴾ ﴿یٰٓاَیها الذین امنوا اتقو الله﴾ اکثر ځایونو کښی دا ذکر کوی ډیر کم ځایونو کښی ورپسے به خبر ذکر شوی وی.

اکثر اوامر او نواهی د ﴿یاَیها الذین اٰمنوا﴾ نه ورستو ذکر دی دیکښی اشاره ده چه دا امر دے ، دے باندے عمل کول، چه کوم څیز نه الله منع کړے د هغے نه اجتناب کول. الله رب العزت په انسان کښی دَ دے طاقت ایخودلے دے نو ځکه خو ورته الله حکم کوی. الله رب العزت انسان ته ددے طاقت ورکړیدے د هغے نه اجتناب کول، الله رب العزت په انسان کښی ددے طاقت ایخودلے دے نو ځکه خو ور ته الله حکم کوی. دا نه چه الله فرمائی مونځ اوکړی نو انسان وائی زه

ډیر کمزورے یم نو مونځ نشم کولے نو العیاذ باالله الله ظلم کوی چی درته د مانځه وائی.

الله فرمائی زکوٰه ورکړی او ته ووئے زه زکوٰه نه ورکوم دے سره به ځما مال کم شی . الله فرمائی که مال در سره ئی نو حج اداکړی نو چه کوم انسان کښی د دغه حکم منلو استعداد دے نو ځکه الله هغوی ته حکم کړے دے. چه بیا کومو ځایونو کښی دے انسان کښی څه بیماری را غلے یا څه تکلیف را غلے نا بیا هغه ځایونو کښی ور سره شریعت د اسانتیا معامله کړے ده. ﴿یاَیّها الذین امنوا اتقوا الله﴾ اے ایمان والو د الله نه اویریږی، تقویٰ اختیار کړی.

تقویٰ څه ته وائی: د ګناه نه دبچ کیدو نوم تقویٰ دے هرے نیکے ته تقویٰ نه وائی.تقویٰ دنیکے کولو نوم ندے.د ګناه نه د بچ کیدو نوم تقویٰ دے.او کله کله مونږ یو ورځ نیمه دَ ګناهونو نه هم ځان او ساتو مونځونو ته هم زور ورکړو،تلاوتونه هم ډیر زیات کوو. خو شیطان مو په داسے کارونو کښی مبتلا کړی چه هغه نیکے راته اوسوزی او ګناهونه را ته نور هم سیوا کړی.

مثال : مولانا اشرف علی تهانویؒ مثال ذکر کړے دے دَ یو تن چه هیڅ فائده ئی اونه شی انسان د ګناه نه ځان نه سا تی یو وخت کښی خو ډیرے نیکے اوکړی خو صباء داسے ګناهونه اوکړی چه دا نیکئ ئی ختمے کړی نو څه فائده او شوه اولټه نقصان زیات شو.

یو علاقه کښی یو تن وو د هغه یو ځائے کښی ډیوټی وه.ډیوټی ته ما سختن تلو نو بی بی ور ته اووئے اوس مه څه او شپه ده خو هغه اووئے نه ، بیا سحر ډیوټی ته نشم رسیدے.پیدل روان شو نو لاره ترے

نه خطا شوه په بله لاره ران دے د تهجد و په وخت کښی ئی په یو جومات باندے نظرپر یوتو، دے ور ته لږ ساعت ګورئی بیا وائی دا خو ځمونږ کور سره کوم جومات دے د هغے پشان دے. بیائی چه منارو ته کتلے نووائی دا چا ځمونږ د جماعت هغه منارے دلته را پټے کړی دی دے ګوری را ګوری او حیران دے چه یو طرف ته ئی او کته نو د خپل کور پشان کورور ته په نظر راغے وائی دا خو ځمونږ کور پشان دے، کله وائی په د ماغو کښی می فرق را غلو او کله وائی په خوب کښی یم او کله وائی نه زه خو په خوب کښی نه یم زه خو خه صحیح یم په دیکښی اذانونه شروع شو نو دے وائی دا اذان دا آواز خو ځمونږ د جومات د آذان پشان دے دا څنګه چل دے په دیکښی ئی وراره د دروازے نه رووتو ووئے تره السلام علیکم څه کوی چه ووئے کته ووئے دا خو په رشتیا ځمونږ هغه کور دے او ځمونږ هغه محله ده.

لاره ترے نه ګډه وډه شوی ده نو بیا خپل کور لارے ته رووتے دے. نو تهانویؒ وائی دده څه فائده او شوه چه دومره سفری اوکړو او واپس خپل ځائے ته را غلو.

نو انسان دوه ورځے د ګناه نه ځان او سا تی نو بیا بله ګناه اوکړی بله ګناه اوکړی نو نیکے ور سره ختمے شی ځکه بعض ګناهونه نیکے سوزی بیا ذکرکوی.

یو ځائے کښی یو تن وو هغه چرته سفر کولو نو هغه سره یو مزیدار اس وو په هغے باندے روان وو خو هغه اس کښی دا کاروو چه کله به ئی پیشاب اوکړه نوبیا به واپس شو او هغه به ئی بوی کول.ددے نه بغیر به هغه سفر نه کولو. نو دا کس ئی سخت پریشانه کړے وو په لارے ور

سره یو بل مسافرهم یوځے شو هغه ورته وائی هلکه اس خو دے ډیر مزیدار دے هغه ورته وائی مزیدار څه دے په سر ئی را ته درد کړے. لس مینټه سفر اوکړی او چه پیشاب اوکړی نوواپس شی او هغه بوئی کړی نو بیا مخکښی ځی. هغه ورته اووئے دا مسئله به دے حل شی هغه یوغټ چا بك راواغستو او چه کله به دے اس پیشاب اوکړو او دے به واپس شو نو دے کس به ورته سر ته هغه چابك را واچولو نو بیا به نیغ تلو. څه لارے پورے خودغه ترتیب وو آخر کښی دَ دواړو لارے جدا شوی نو دا بل تن ورته وائی ته په خپله مخه ځه او ځه په خپله مخه ځم اخوا دے الله مل شه هغه اس چه اوکتل چه هغه چا بك والا سړی خو نشته او دے مطمئن شو نو راواپس شو او چه کومو کوم ځائے کښی ئی پیشاب کړے وو په هغے بیا واپس راغے اوهغه ئی بوئی کړے نو تهانویؒ د غه مثال ذکر کړے دے چه یو ورځ باندے خو مونږ ډیرے نیکے اوکړو خو بیا غیبت کښی مبتلا شو نو دَ دغے نه ځان ساتل دغے ته وئیلے کیږی تقویٰ.

﴿یٰٓاَیها الذین امنوا اتقوا الله﴾ اے ایمان والو د الله نه او یریږے تقویٰ ځان کښی راولئ. د تقویٰ ډیر زیات ثمرات دی. دَ تقویٰ ډیر زیات برکات دی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی.

﴿ان تتقوا الله یجعل لکم فرقانا﴾ که تا سو الله نه او یریدے تقویٰ مو اختیار کړه الله به تاسو ته فرقان درکړی .

د فرقان معنی: د فرقان مفسرین ګنړے معنے ذکر کوی .

(۱) تا سو ته به الله دا سے یونور درکړی چه په هغے به تاسو د حق او با طل تمیز کوی.او دا تمیز هر چاته نه ملاویږی دا صرف په تقویٰ

ملاویږی تاسو ګوری نه په دنیا کښی ډیر زیات خلق ئی که څوك ور ته قرآن او سنت وائی نو وائی دا هم خه وائی نو که څوك ور ته منګهړتے قصے وائی نو وائی دا هم خه وائی.دے تمیز نشی کولے. وائی بس دا ټول خلق یو شان دی او دا برابر دی ځکه دۀ کښی تقویٰ نشته چه دے فرق اوکړی .نو یو فائده الله به فرقان درکړی.

(۲) ﴿ان اکرمکم عند الله اتقکم﴾ : په تا سو کښی زیات معزز ، مکرم او عزتو نو والا تن هغه تا سو کښی زیات د الله نه یریږی چه زیات متقی دے نو دغه اکرم او عزتمند دے د الله په نیز باندے اګر که هغه ډیر غریب دے که د جامو او ډوډے درك ئی هم نه لګی خپل کورئی هم نشته خو د الله نه پکښی یره ده دا ډیر مکرم او معزز دے .او که یو تن د الله په نیز هغه هیڅ حیثیت نشته. اوګوره قارون سره څومره مال وو فرعون سره څومره مال وو. خو د الله تعالیٰ په نزد ئی هیڅ مقام نه وو بلکه ذلیله ئی کړل .

(۳) ﴿ان اولیاء ه الا المتقون﴾: چاکښی چه تقویٰ را غله هغه د الله تعالیٰ دو ست شو، تقویٰ والا اولیاء الله دی، په کوم کس کښی چه دَ الله نه ویره ده هغه ولی دے، او چه کوم کس کښی د الله نه ویره نشته نو هغه ګوری ولی نه دے د پغمبر خلاف ئی شکل جوړ کړے او ته وے دا ولی دے. چرس څکی او سترګے ئی سرے کړی، مونځ اودس ئی نه وی او ته وے دا غټ ولی دے او ملنګ دے او رسیدلے دی بس وئے صحیح ده رسیدلے به ئی، جهنم او ګمراهی ته به رسیدلے ئی. چه مونځ او دس ئی نشته پاك پلیت ئی نشته او وائی جی دا ولی دے الله فرمائی ﴿ان اولیاء ه الا المتقون﴾ په چا کښی چه څومره تقویٰ ده

نو دومره الله ته نیزدے دوست دے.'" ندی دوستان مګر متقیان" نو کله الله فرمائی ﴿ومن یتق الله یجعل له مخرجاً﴾ چا چه د الله نه یره شروع کړه او تقویٰ پکښی راغله ده ته به الله رب العزت ټول رکا وټونه ختم کړی. تقویٰ لوئے سبب دے د نجات او بعض روایا تو کښی راځی سیدنا عمر رضی الله عنه دَ سیدنا اُبی بن کعب رضی الله عنه نه تپوس کوی چه ما ته دَ تقویٰ تعریف اوکړه نو هغه ئی پوهه کوی او ورته وائی ته چرته په داسے لاره تلے ئی چی یو طرف ته هم ازغی وی او بل طرف ته هم ازغی وی هغه وائی آؤ. هغه تپوس کوی چه ته څنګه ځی؟ نو هغه وائی زه خپل څادر او جامے راغونډے کړم نو هغه ورته اووئے بس دغه تقویٰ ده. دے معاشره کښی چه ته ژوند تیروی نو ماحول به دَ ګناه دعوت درکوی نفس به د ګناه دعوت درکوی نو ته ځان پورے خپلے جامے را غونډه کړه د هغے طرف ته التفات او توجه مه کوه دے ته الله فرمائی ﴿الا ان اولیاء الله لا خوف علیهم ولا هم یحزنون﴾ خبر شے خلقو چی د الله په دوستانو به هیڅ ویره او خفګان نه وی د الله دوستان څوك دی؟ ﴿الذین اٰمنوا و کانوا یتقون﴾ چی ایمان ئی راوړی دے او تقویٰ ئی اختیار کړی ده نو ﴿لهم البشری فی الحیوة الدنیا و فی الآخرة﴾ دنیا او آخرت کښی ورته زیری دی ﴿و ذالك هو الفوز العظیم﴾ او دا لو یه کامیابی ده . قرآن کریم کښی الله رب العزت دَ تقویٰ ذکر ډیرو ځایونو کښی یه مختلف انداز سره کړے ، ﴿یٰاَیها الناس اتقو ربکم﴾ ، ﴿یٰاَیها الذین امنوا اتقوالله و التنظر نفس ما قدمت لغد واتقوا الله﴾ کله الله فرمائی ﴿فاتقوا الله ما ستطعتم﴾ کله الله فرمائی ﴿یٰاَیها الذین امنوا اتقوالله حق تقاته﴾ آخرت کښی به هم

تقویٰ پکار رازی ﴿الاخلاء یومئذ بعضهم لبعض عدو الا المتقین﴾ ﴿ثم ننجی الذین اتقو﴾ ، ﴿وازلفت الجة للمتقین﴾ ، ﴿و سیق الذین اتقوا ربهم الیٰ الجنة زمراً﴾ ، ﴿تلك الجنة التی نورث من عبادنا من کان تقیاً﴾ ، ﴿ان للمتقین مفازاً ، حدائق و اعناباً ، و کواعب اترابا ، و کأسا دهاقا﴾ ، ﴿ان المتقین فی ظٰلل و عیون﴾ ، ﴿ان المتقین فی جنٰت و نهر﴾ ، ﴿مثل الجنة اللتی و عد المتقون فیها انهار من ماء غیر اٰسن﴾ کله الله فرمائی ﴿ولباس التقویٰ ذالك خیر﴾ دا سے معلومیږی ته وے چی قرآن ټول د تقویٰ نه ډك دے، (سبحان الله) ﴿واتقوا الله واعلمو انکم ملٰقوه﴾ ، کله الله پاك ډیر صفات ذکر کړی چی نیکی دَ چا نیکی ده چی په الله ئی ایمان وی په آخرت ئی ایمان وی . دغه رشتینی خلق دی ﴿و اولٰٓئِك هم المتقون﴾ او د غه متقیان دی.

تقویٰ سره انسان محبوب خدا ګرځی ﴿فان الله یحب المتقین﴾ او متقیانو سره د الله محبت وی ﴿واعلموا ان الله مع المتقین﴾ تقویٰ سره اعمال قبولیت ته رسی ﴿انما یتقبل الله من المتقین﴾ تقویٰ سره دَ دشمن د مکرونو نه حفاظت وی ﴿ان تصبروا و تتقوا لا یضرکم کیدهم شیئًا﴾ سیدنا نوح علیہ السلام قوم ته وائی ﴿اذ قال لهم اخوهم نوح الا تتقون﴾ سیدنا نوح علیہ السلام هم دا دعوت ورکوی ﴿اذقال لقومه الا تتقون﴾

بعضی واقعات : نبی ﷺ فرمائی کله ما ته ډیر لوړه وی کور کښی کهجوره وی خو زه ویم هسے نه دا دَ صدقے وی نو وے نه خورم. دے ته وائی تقویٰ.

سیدنا ابو بکر صدیق رضی اللہ عنہ د خادم د لاسه یوه کهجوره اوخوړه او چی پوهه شو چی دا صحیح نه وه نو التے ئی کړه دے ته وائی تقویٰ.

امام ابو حنیفه به کوشش کولو چه ګاهك دهوکه نه شی نو د حرامونه ځان ساتل، دَ سود نه ځان سا تل دَ پردی حق نه ځان ساتل دَ بے حیائی نه ځان ساتل د مور پلار د نا فرمانئ نه ځان ساتل د الله رب العزت د هر قسم خلاف نه ځان سا تل دی ته وائی تقویٰ. یو بزرګ فرمائی متقی هغه چا ته وائی "اذا قال قال لله، اذا سکت سکت لله ، و اذا ذکر ذکر لله "

چی کله خبرے کوی نو د الله د پاره خبرے کوی او چی کله خاموشه وی نو د الله د پاره خاموشه وی او چی کله ذکر کوی نو د الله ذکر کوی، نو په دے آیت کښی هم د الله د طرف نه خپلو بندګانو ته دوه حکمونه دی یو حکم د تقویٰ دے.

﴿یا ایها الذین امنوا اتقو الله﴾ اے ایمان والو د الله نه اویریږئ دویم امر ﴿وکونوا مع الصادقین﴾ دَ ریشتینی خلقو سره شئ. ریشتینی کوم خلق دی؟ مفسرین ذکر کوی.

چه ظاهراو با طن ئی برابروی منافقت پکښی نه وی. دسورت مضمون سره ئئ او لګوه مخکښی د منا فقینو ذکر شوی وو دمنا فقینو مه ملګری کیږه چه منافقت پکښی نه وی چه څه ئی په زړه وی نو هغه ئی په خله ئی دا صادقین دی، دا رنګے بعض مفسرین ذکرکوی سورة البقره آیت ۱۷۷ کښی : ﴿لیس البر ان تولو وجوهکم قبل المشروق المغرب﴾

الله رب العزت په دے آیت کښی دَ ریشتینی خلقولس صفات بیان کړی دی :

(۱) چا چه ایمان راؤړو په الله (۲) په ورځ د آخرت (۳) په ملائکو (۴) په کتابونو (۵) په انبیاء کرامو(٦) ور کوی مال په مینه یا محبوب مال ورکوی رشته دارانو ته یتیمانانو ته مسکینانانواو مسافرو ته سوال کوونکو ته او په آزاد ولو د غلامانو کښی(۷) پابندی کوی د مانځه

(۸)ورکوی زکوٰۃ(۹)پورہ کوونکښی د وعدو وی چه کله وعده اوکړی (۱۰)صبرکوونکښی وی په وخت دتکلیف او مصیبت کښی او په وخت د جنګ کښی نو ﴿اولـٰئِك الذين صدقوا﴾ غه کسان رشتونے دی او د غه کسان متقیان دی.

بعض ځایونو کښی الله رب العزت فرمائی کله سورت احزاب کښی چه بعض کسان دا سے شته ﴿صدقوا ما عاهدوا الله﴾ چه الله رب العزت سره ئی کومه وعده کړے نو هغوی رشتینی کړی ده نو دے آیت کښی هم فرمائی ﴿وکونوا مع الصادقین﴾ تاسو د رشتونو خلقو سره شئ. اوس په دنیا کښی رشتیاء څه دی؟ نو د قرآن کریم نه غټ رشتیاشته څه؟ الله رب العزت فرمائی ﴿ومن اصدق من الله قیلا﴾ د الله نه هم د چا خبره رشتیاکیدے شی؟ نو داقرآن کریم رشتیا خبرے دی دَ نبی علیہ السلام احادیث مبارکه رشتیا خبرے دی نودقرآن او سنت ملګرتیا کوی .وکونو ا مع الصادقین چه څوك در ته منګهړتے قصے وائی، چه یو باچاوو او داسے چل ووفلانی خوب لیدلے وو او فلانکی په هواکښی روان وو فلانکی په او بو کښی روان وو دا قصے قطارے به کوی. نو ته ور ته وایه هلکه دا قرآن کښی الله وئیلے دی یا نبی علیہ السلام احادیث مبارکو کښی وئیلی دی نو دے به وائی بس چا ووئیلے دی یارنو، الله تعالیٰ فرمائی ﴿وکونوا مع الصادقین﴾ تاسو دَ رشتینی خلقو ملګری شئ. دَ رشتینی خلقو دَ ملګرتیا ډیر زیات اثرات وی، شیخ سعدی بابا ذکر کوی ، دیوتن حال بیانوی :

گلے خوشبوے درحمام روزے — رسید از دست محبوبے بدستم
بدو گفتم کہ مشکی یا عبیرے — کہ از بوئے دل آویز تو مستم
بگفتہ من گلے ناچیز بودم — ولیکن مدتے با گل نشستم

جمال ہمنشین در من اثر کرد دگر نہ من ہماں خاکم کہ ہستم

چه زه یوورځ حمام ته لاړم نو ماله د یو دوست د لاس ډیره خوشبوداره خټه ملاؤشوه نو هغه خټے ته ما اووئے چه خټے ته مشك ئی او که عنبرئی چه ستا د خو شبو ئی نه په ما کښی هم مستی را غله.نو خټه راته وائی زه خوبے کاره خټه یم خو څه موده می د ګل په ویخ کښی تیره کړے ده.ماکښی د ګل هغه خوشبو اثرکړے دے.ور نه ما ته خپل ځان معلوم دے چه زه خو بے کاره خټه یم.

نو مونږ هم ډیر ګنهګار او ډیر کمزوے خلق یو نو چه مونږ د قرآن دے رشتیاؤ خبروسره ملګر تیا کوو.دقرآن کریم درس کوم ځائے کیږی هلته د ملائکو ماحول وی نودملائکو په ماحول کښی چه انسان کینی نو ولے ددے به اثرنه وی څه؟ وه په خټه کښی دے د ګل اثرکیږی.په دے وجه دینی مجلسونو کښی ناسته پکاره ده.

دَ نیکانو صالحانو په مجلسونو کښی ناسته پکار ده جمعے اهتمام پکار دے. امام آلوسی بغدادی الحنفیؒ فرمائی "خالطو هم لتکونوا مثلهم وکل قرین بالمقارن یقتدی" د نیکانو اولیاء بزرګانو سره اختلاط کوئ چی تا سو هم د هغوی غوندے شئی ځکه ملګری د ملګری تابعداری کوی ځکه چی : خربوزہ خربوزے کو دیکھ کر رنگ پکڑتا ہے

مولانا روم فرمائی .

قال رابگزار مرد حال شو ★ پیش مرد کامل پامال شو

پښتانه وائی د ښو په مجلس کښی کینه نو خه به شی، او د بدو په مجلس کښی به بد شے د نیکانو مجلس د قرآن و سنت مجلس ددینی مذاکرو مجلس دا خودا سے پاك او نیك مجلس وی چی "لا یشقیٰ جلیسهم" چی دَ داسے مجلسونو والا خلق بد بخته نه شی کیدے .


علامه سید سلیمان ندویؒ فرمائی چی د الله محبت حاصلولو د پاره د الله والو په مجلس کښی ناسته ضروری ده. صحابو کرامو رضی الله عنهم ته که لویه درجه ملاؤ شوی ده نو دا دَ هغوی د عباداتو دَ وجے نه ده بلکه د نبی ﷺ د محبت په برکت سره ورته دا مرتبه ملاؤ شویده، که ټوله دنیا د اویس قرنیؒ غوندے د بزرګانو نه ډکه شی خو چه د پیغمبر ﷺ مجلس کښی ناسته او نکړی صحابی نه شی جوړیدے.

ځکه خو مولانا رومؒ فرمائی ځمونږ مرشد محترم حضرت مولانا حکیم اختر صاحبؒ به فرمائیل چی بعضی اَمونه خواږه نه وی ذائقه ئې هم مزیداره نه وی په هغے کښی باغ والا د بنکلی او مزیدار آم سترګه اولګوی نو د هغه بنکلی آم د صحبت دَ وجے نه هغه بے خوږو آمونه هم خواږه شی. د ناکاره خلقو د مجلس نه ځان سا تل پکار دی. الله رب العزت دے مونږ او تا سوته د صلحا، په مجلس کښی د نا ستے تو فیق نصیب کړی. الله رب العزت دے ځمونږ زړه کښی حب الهی او حب رسول وا چوی، یاالله ځمونږ د هغه چا سره مینه پیدا کړے چی تا سره ئی مینه ده، یا الله مونږ ته د شپے په تنهایو کښی د قیام اللیل توفیق نصیب کړی، یا الله ځمونږ ګناهونه معاف کړی، دنیکئی کا رونه راته محبوب اوګرځئ ، د ګناهونو نه مو لرے اوسا تے، یا الله ځمونږ اخلاق صحیح کړی، ځمونږ اخلاق صحیح کړی، ځمونږ کردار ګفتار صحیح کړے. زمونږ د قرآن او سنت سره مینه پیدا کړے، د مسلمانانو په مینځ کښی خاص کر د علماؤ په مینځ کښی اتفاق و اتحاد پیدا کړے ربه! ته زمونږ نه راضی شی آمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ''١٣''

دَ عید الفطر مسائل



دیارلسمه خطبه : "دَ عید الفطر مسائل"

﴿یاَیُّها الذین اٰمنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم لعلکم تتقون﴾

دے آیت کریمه کښی الله رب العزت دروژے علت او غا یه ذکرکړے ده چه مسلمانانوباندے دا روژے فرض شوی دی اوس ددے روژو نیولو مقصد څه دے ﴿لعلکم تتقون﴾ دے د پاره چه حصول د تقویٰ او شی او خلقو کښی تقویٰ را شی او حقیقت هم دادے چه کله یو انسان د روژے دآدابو خیال او ساتی نو ده ته تقویٰ حاصلیږی او دا متقی انسان اوګرځی. ځکه درمضان المبارك په وړومبی عشره کښی د رحمتونو بارانونه وی، دویمه عشره کښی د مغفرت باران وی، او دریمه کښی د هلاکتونو نه او د جهنم نه نجات وی. په دے وجه دَ احادیثو مبارکو نه دا خبره معلوم ده چه چا ته په رمضان المبارك کښی هم مغفرت او نه شو نو دَ دے انسان په تباهی کښی هیڅ شك نشته. بیا دا رمضان المبارك داسے یو میاشت وه چه هر ما ښام په هغے کښی الله رب العزت د جهنم نه لس لاکهه مسلمانان چه هغوی په جهنم کښی وی نو دهرافطاری په وخت کښی الله رب العزت ملائکوته حکم کوی تا سو لاړشی اوهغه مسلمانان رها کړے(دا سے هر ماښام رها کوی)

بیا بعض روایاتو کښی راځی چه کله دا ختر ورځ وی نو الله رب العزت فخر کوی او ملائکو ته وائی چه دهغه بدله به څه ئی چه چا باندے ما دا روژے فرض کړے وے او هغوی داروژے اونیولے.او دروژو نیولو نه ور ستو هغوی بیا دعا دپاره وتلے وی. الله فرمائی چه ځمادے په خپل جلال قسم وی چه زه ددے خلقو دعا ګانے قبلوم او دا ختر په ورځ چه

کـلـه دا خـلـق د مانځه نه واپس کیږی نو د الله طرف نه د الله بنده ګانو ته اعـلان اوشـی "ار جـعـوا قد غفرت لکم" تا سو کورونو ته واپس شی ستا سو بخښنه شوی ده.ستا سو ګناهونه په نیکو سره بدل شوی دی.

بـعـض روایـا تـو کښـی راځی د وړو کی اختر په ورځ باندے ملائك؈ په لارو کښـی نـاسـت ئـی او خـلـقـو تـه آوازونـه ور کـوی چـه اے د مسـلـمـانانو ډلـے تاسو د خپل رب احسان طرف ته ځی دا رنګے تا سو تـه الله رب الـعـزت دروژو حکم در کړے وو تا سو روژے او نیولے اوس هـغـه انـعام حاصل کړے. په دے وجه د اخترد ورځـے نوم په اسمانونو کښـی " یـوم الـجـائـزه " دے بیـا دا یـو دا سـے میاشت وه چه دیکښی ډیروخلقواعتکاف کولو او کوم تن چه اعتکاف کوی نو دا تن د ګناهو نـو نـه مـحـفـوظ ئـی او اعـتـکـاف کـوونکی تـه د حج او عمرے پشان ثوابونه ملاویږی.

اخـتـر تـه پـه عـربـی کښـی "عید" وائی، دا "عـید" یا خو مأخوذ دے دَ "عـادَ یـعـودُ" نـه، چـونـکـه دے کښـی مـعـنی دَ اِعادے ده. کال په کال بـانـدے دا ورځ راځی ځکـه ور تـه "عید" وائی، یا دے ته دا نوم تفاولًا ایـخـودلـے شوی دے چه داسـے دَ خوشحالو ورځ دے بیا بیا راشی. او پـه هـر یـو مذهب کښی د خلقود پاره څه خاص ایام وی د خوشحالـے دَ پـاره پـه اسـلام کښی د مسلمانانو دَ پاره دوه اخترونه وی (۱) عید الفطر (۲) عـبـد الاضـحٰی دے نـه عـلاوه بـل اخـتـر پکښی نشـتـه دے. عید میلاد النبی ﷺ دا بدعت دے .

داپـه شـریـعـت کښـی نشـتـه.بیـا عـبـد الـفطر(وړوکے اختر) دا رمضان الـمبـارك کښـی چه کومو خلقوروژے نیولے وی، عبا دتونو ئی کړے

وی اعتکافونه ئی کړے وی، تلاوتونه ئی کړے وی الله ورته توفیق ورکړے وی) نو په هغے باندے اظهارمسرت دے او په هغے باندے تشکر دے. دا د خو شحالے ورځ ده نو ددغے ورځ په موقعه باندے خوشحالی څه ده.نو هغه د مسلمانانو په یو میدان کښی په عید گاه کښی راجمع کیدل ئی (د علاقے ټولو مسلمانان)

په دے وجه دا خوشحالی به دعا مو خلقوپشان، ددنیا درسم و رواج پشان مناوول نه ئی پکار، بلکه دغه د مسلمانانو د پاره غټه خوشحالی ده چه په دغه ورځ باندے دی په عید گاه کښی راجمع شی او دخپل الله د توحید لوئے او د عظمت هغه ترانے اوائی ټول مسلمانان اجتماعی طریقے سره الله ته به سجده کښی پریوځی.

بطور شکریه چا روژے نیولیئی او که نه ئی نیولے ئی نو هغوی سر سایه اداکړی.بیا اسلامی طریقے سره اخترمناوول دی، طبعی اثر به داوی چه مسلمانان د خوشحالے په دے ورځ هم د اللهتابع شی.د هغے نه منع کیدل پکار دی چی په څه الله خفه کیگی کله کله د ډیروخوشحالوپه موقع باندے دانسان نه الله هیر شی نو دا بیا ډیره د نقصان خبره وی. دے اخترونو کښی هم کوشش دا پکار دے چه ځمونږ او ستاسو نه الله رب العزت هیرنشی.

د رمضان المبارك میاشت دا د الله رب العزت د طرف نه یو میلمنه میاشت وه هغه ځمونږ نه رخصت شوه.د هغے په احترام کښی د هغے په عظمت کښی به ځمونږنه څه کو تاهی شوی وی بے ادبی به شوی وی بے اصولی به شوی وی او ضرور به شوی وی د هغے د الله رب العزت نه معافی غوښتل پکاردی ځکه پته نه لگی چه مونږ

اوتاسو تـه درمـضان المبارك دامياشت بيا نصيب كيږی او كه نه شايد چه دا ځمونږ د زندګی آخری رمضان وی

بـل مـقـصـد د رمـضـان الـمبارك يوا ځـے لوړه تنده بر دا شت كول نه وو بـلكه د الله سره پكښی تعلق او تقویٰ حا صلول وو. داورځ مسلمانانود عبادا تـو ورځ ده. د هـغـے د پاره به شريعت كښی دا ختر مونځ راغلی دی خـوافسـوس دا چـه نن ځمونږ مسلمانان د غيرو خلقو نقل كوی او هـغوی د عبادت په ځائے په دے ورځ كښی لبے كهيل كود تماشے او پـه خـرافـاتـو كښی مبتـلاشی.اختـر ورځ داد خـو شحالـے مو قع وی ديكښی اكثر خلق كو شش دا كوی چه خپل رشته داران هم خوشحاله كړی نـو پـكـار هـم دا سـے ده بـلـكـه د خـاندان او چم ګاونډ مشرانو ته پـكـاردائـی چـه د كـومـو مسـلـمانانود خپلو سره څه خفګانو نه ئی نو هـغوی د يو بل سره رضاكول پكار دی.ځكه كه په دے زړه كښی د بل مسـلمان د پاره بعض او حسد ئی نو روايا تو كښی راځی چه ځمونږ دا عـمـال الله رب الـعـزت ته بره آسمان ته نه خيژی (دا نه قبليږی) نو دا د خـوشـحالـے موقع ده هغه خپل خفګانو نه هغه بغضونه حسدونه به لرے كول پكاروی.

څـنـګـه چـه مـونـږ تـه دغـه كـو شـش پكار دے نو چه په داسـے موقع بـانـدے مـونـږ الله رب الـعـزت هـم خفه نه كړو. بيا دے معاشره كښی ډيـرغـريبانان فقيران خلق شته كونډے رنډے شته يتيمانان ما شومان شتـه چه هغوی سره هم مونږ دا خو شحالی شريكه كړو، چه هغوی ته مـونـږ د هـغـوی هغه يتيم والـے محسوس نه كړو ، هغوی ځان سره په خـوشـحالوكښی كينوؤ خوراك څكاك كښی كينوؤ.ځكه دا خو مونږ

او تا سو ته احساس نه کیږی.خو هغه یتیم ماشوم چه هغه بهر راوځی د کور نه او نور ماشومان ور ته وائی چه مونږ ته خو پلار نوئے جامے وا غستلے دا دا کهلونے ئی را ته وا غستے هغه ماشوم لاړشی کورکښی مو ر ته وائی چه فلانکو ته خو مور پلاردا دا څیزونه وا غستل. هغه مور ئی ځان ته را جخت کړی وائی چه بچے خیردے دا اخترکال په کال راځی نو بل کال به در ته وا خلم.نو اوس هغه مور ته به څومره احساس کیږی او د هغه ماشوم زړه به څومره درد کوی. نو د غه ما شومان په خپلو خوشحالو کښی ځان سره شریك کول پکار دی.

فقهاؤ داختر د ورځے د پاره څه آداب ذکرکړے (۱)د شریعت مطابق خپل زیب و زینت کول پکار دی(۲) د اختر په ورځ باندے غسل کول سنت طریقه ده (۳)مسواك کول (۴)د خپل طاقت مطابق خه لباس اچول (۵) خوشبو استعمالول (٦) سحر دَ وخته پاسیدل دَ نورو ورځو په نسبت (۷) بیا داختر مونځ ته تلل که د چا څه عذرنه ئی نو مستحبه او غوره عمل دادی چه انسان پیدل لاړشی .(۸) دَ وړوکی اخترمونځ ته د تلو نه مخکښی خوږ څیز خوړل(۹) دا ختر مونځ ادا کولو نه مخکښی خپل صدقه فطر (سرسایه) نه ځان فارغول.(۱۰) په یو لارے باندے تلل او په بله لاره باندے را تلل دا سنت طریقه ده (۱۱) په لاره باندے الله اکبر ، الله اکبر لا اله الا الله الله اکبر الله اکبر ولله الحمدذکر کول.

دا رنګے ډیرخلق دا ختر مونځ ته تلے ئی او یو ځائے ناست ئی چه څنګه دعا او شی خطبه اووئیلے شی خلق رخصتیږی نو یو ګهنټه ئی یو ځائے تیره کړی ئی او بیا پاسی او یو بل ته ور غاړے وځی او سلام

کوی مبارکی ورکوی .دا یادداشتل پکار دی داحادیثو مبارکو نه هم دا خبره ثابته ده چه وخت د مصافحے ابتداء د ملاقات وی، وړومبی ملاقات کښی ور ته السلام علیکم اووَایه او اخترد مبارك شه یا عید دے مبارك شه که دَ دے په ځائے نور الفاظ اُوئیلے شی نو هم به غوره وی لکه " تقبل الله منا و منکم " الله دے روژے قبولے کړه، الله دے دا روژے مبارکے کړه، الله در ته اختر کښی خوشحالے نصیب کړه، دد غه الفاظو تخصیص هم ندے پکار ځکه بیا به ئی خلق د دین یو حصه اوګنړی .حالانکه عید دے مبارك شه او اخترد مبارك شه دا څه دا ختر د آدابونه، سنتو نه ،او مستحبا تو نه نده. نو که په نورو الفاظوسره اووئیلے شی نو غوره خبره به وی چه " تقبل الله مِینّا و منکم " الله دے ستا سو اوځمونږ دا عبادات قبول کړی.

سنن کبریٰ کښی روایت دے، سیدنا واثله بن الاسقع ﷺفرمائی "لقیت رسول الله فقال تقبل الله منا و منك، قال نعم تقبل الله منا ومنك" دے روایت کښی ضعف شته خو دا الفاظ نورو روایاتو کښی هم ثابت دی، منیة المصلی شرح کبیری کښی لیکلی شوی دی چی ابو امامه او واثله بن اسقع نه دا الفاظ ثابت دی، دا رنګے علامه ابن حجر عسقلانیؒ فرمائی چی "کان اصحاب رسول الله اذا التقوا یوم العید یقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنك" خو زمونږ علاقو کښی چی کوم ترتیب رائج دے چی دوه ګهنټے خلق یو ځائی نا ست وی د مونځ نه رو ستو یو بل سره مصافحے شروع کړی دے باره کښی علامه ابن عابدین شامیؒ وائی "انها من سنن الروافض و نقل عن ابن حجر انها بدعة مکروهة لا احل لها و قال ابن الحاج انها من البدع" دا رنګے

شیخ احمد رومیؒ فرمائی چی سلام کول او مصافحه د ملا قات اول یا په وخت د رخصتی کښی مسنون دے د جمعے او اخترونو د مونځ نه پس دا ترتیب صحیح نه دے. شاه اسحاق "مأة مسائل" کښی لیکی "تخصیص روز عید در حدیث شریف ثابت نشده" مولانا عبدعبد الحی لکھنویؒ فرمائی: ''مصافحہ اور معانقہ کا وقت ابتدائے ملاقات ہے پس عید کی نماز کے بعد مصافحہ اور معانقہ مسنون نہیں ہے۔ (مجموعۃ الفتاوی)

مولانا رشید احمد گنگوھی فتاویٰ رشیدیه کښی فرمائی ''عیدین میں معانقہ کرنا بدعت ہے۔

مفتی کفایت الله په کفایت المفتی کښی ذکر کړی دی ''احادیث سے بوقت ملاقات مصافحہ ثابت ہوتا ہے۔''

شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدنیؒ فرمائی ''یہ مکتوبات میں عید کی نماز کے بعد ملنا اور مصافحہ یا معانقہ کرنا کوئی امر مسنون نہیں لوگوں کی اختراعات اور بدعات میں سے ہے۔

مولانا اشرف علی تھانویؒ په امدادالفتاوی کښی ذکر کړی دی ''مصافحہ بعد عیدین یا نماز کے بعد پنج گانہ مکروہ و بدعت شامی میں اسی ترویح موجود ہے۔''

بیا دَ اَختر نه ورستو هغه شپږ روژے د شوال نیول که دا د شوال په میاشت کښی کله هم موقع ملاؤشی که مسلسل نه ئی نو بے ترتیبه ئی هم نیولے شی. دَ اختر په ورځو کښی روژه نیول صحیح نه دی دا ګناه ده ځکه نبی علیہ السلام فرمائی :" فانها ایام اکل و شرب و جماع "

دَ اختر دا ورځے د خوراك څكاك او خوشحالو ورځے ئی ځکه دا ختر په ورځ روژه مه نیسئ.

چه کله اختر تیر شی نو د شوال میاشت کښی شپږ روژے نیول داسے دی لکه چه انسان ټول کال روژے اونیسی.

دَ دے نـه عـلاوه ځمـونږ مـعاشره کښی د اختر په ورځو کښی ځمونږ زنـانـه اکثـر نـارینـه مـجبوره کړی چه هغوی دے پخپله شاپنګونو ته لاړے شـی نـو دا ډیر دَ ناروا او زیا تی کار دے نو کوشش دا پکار دے او ځان کښی غیـرت راؤ چتول پکار دی، هغه خپلو زنانو باندے لږ قابو راوستل پکار وی چه کومه زنانه د خاوند خبره نه منی او هغه وائی چه خـامـخا به زه مارکیټ کښی ګرځم نو د پردو سړونه به سودا کو م، پکار دا ده چـه خـاونـدئ مـنع کړی او چه نه منع کیږی نو رخصت دے ور ته ورکـړی (طلاق دے ورکړی) ځان کښی حیا و غیرت او پختو را و ستل پکارئی. خپلے روژے غار غارکول ندی پکار.

صـدقـه فـطـر بـاره کښی دا خبـره یـاد سا تل پکار دی چه دا په مـکـلف مسلمان باندے واجب ده کوم نا بالغ ما شومان ئی دهغوی په مشـرانـوبـانـدے دا ور کـول واجـب دی.کـومـو خـلقودرمضان المبارك روژے نـدے نیـولے د عذر دَ وجے نه یا د سستئ دَ وجے نه په هغوی هـم صـدقـے فـطـرادا کول واجب دی بیا دا اختر په ورځ باندے دا ختر د مـونځ طریقه داده چه مونځ کله او دریږی نو د زړه نه نیت کول پکارئی ځـکـه اصـل څیز د زړه نه نیت دے. الفاظ وئیل د پیغمبرنه ندی ثابت چـه نیـت کـوم یـا می نیت کړے دے بعض خلق پوره ګردان یا دوی په دیـکښی تـرے نه کله کله تکبیراولیٰ هم فوت شی او کله کله ترے نه قیـام کښی هم تا خیرراشی. الفاظ وئیل ضروری خبره نده. بلکه بعض علماؤ لیکلی دی که څوك دا الفاظ وئیل لازمی ګڼړی نو بیا ګناه ده.

دوه رکـعـتـه مونځ واجب د وړوکی اختر سره د شپږو زوائد تکبیراتو بس دا نیـت زړه کښی راغـلو او الله اکبر دے اوکړو نو کا فی ده د الله اکبر نه

ور ستو به ثناء اووئیلے شی لاس به په نامه باندے ئی د هغے نه ور ستو به درے تکبیرات اوشی(دا تکبیرات واجب دی) دیکښی به غوږونوته لاسونه پو ر ته کولے شی. مقتدی به خاموشی سره ولاړئی بیا چه کله امام تعوذ او تسمیه اوائی او فا تحه اولولی نو غوره خبره دا ده چه وړومبی رکعت کښی او تسمیه اوائی او فا تحه اولولی نو غوره خبره دا ده چه وړومبی رکعت کښی سورت اعلیٰ اوائی.دویم رکعت کښی سورت غاشیه اولولی.دویم رکعت کښی د رکوع نه مخکښی به د غه درے تکبیرات اوائی د اخترد مونځ نه مخکښی نفل کول خاص کر عید گاه کښی دانا جائز دی.که څوك وائی چه نفل خو یوعبادت .خو چونکه دا طریقه د نبیؐ نه نقل نده صاحب هدایه هم لیکلی دی.

" ولا یتنفل فی المصلیٰ قبل صلوٰه العید لا نه لم ینقل عن النبی "

دا ختر د مونځ نه مخکښی په عید گاه کښی نفل مه کوی ځکه دا طریقه د پیغمبرﷺ نه نقل نده چه کوم کار د پیغمبرنه نۀ ئی ثابت هغه نه کول چه کوم ځائے د پیغمبرﷺ نه دعانده ثابت هغه ځائے به دعانه کوؤ او نفل به هم نه کوؤ.اوس ډیر خلق وائی مُلیان راوتی دی خلق دَ د عا نه منع کوی، خلق دَ دَرُود نه منع کوی، خلق دَ عباداتو نه منع کوی، نه دا پروپیګنډے دی. کوم ځائے چی عبادت نه وی ثابت هلته به عبادت نه کوؤ.

بیا دا ختر د مونځ نه ورستو غوره خبره داده چه امام صاحب ته پکاردائی چه قوم ته مخامخ شی او اجتماعی دعا اوکړی. د هغے نه ور ستو به دوه خطبے اوائی. دا خطبے اوریدل واجب دی .

ډیر کرته امام صاحب چه کله سلام اوکړی نو ډیر خلق روان شی او خطبے ته

ایسار نـه شی، دَ خطبـے نه ورستو دعا نشته ځمونږ بعضی علاقو کښی دستـور دا وی چـه خطبه اووائی او بیا خلقو ته اووائی چه په خطبه کښی دعا اووئیلے شوه خو دَ خلقو د تسلئ دَ پاره بیا کوؤ، کوم څیز چی دَ پیغمبرﷺ، صحابه کرامو رضی الله عنهم او تـابعینو نه نۀ دے ثابت دا څیز به بیا اوکړو نو دا صحیح طریقه نده.ما نځه پسے چه کومه دعا کول ئی چه هغه اوشی.

د اختـر په ورځ د بے پردگی د مظاهرے نه ځان سا تل پکار دی . خپلـے زنـانـه پـو هـه کول پکار دی کچرته خپلو رشته دارا نو کره هم تلل ئی نو دَ بے پردگئ مظاهره نه ده پکار .

په دے ورځ باندے د قبرونو تعزیت کول ددے تخصیص کول چـه پـه دے ورځ تـلـو کښی ډیر زیات ثواب دے نو دا صحیح سوچ نه دے. بیاډیر خلق قبرونه چونه کوی نو دغه څیزونو نه ځان سا تل پکار دی کـه هسـے یو انسان قبرونو ته ځی چه هغوی ته دعا اوکړی .اوځان تـه مـر ګ را یـاد کړی نـو د اختر په ورځ هم تلل جائزوی.خو که د چا دا نـظریه ئی چه خپلو مړوته اخترمبارکی ور کوم نو دغـے نظریه باندے تلل ناجائز دی.

بـلـه خبـره ځـمونږ په مسلمانانوکښی الحمد لله دا څیز ختـم شوی دے کـه چـا کـره بـه غـم شوی وو او په دے کال کښی به چرته مخکښی غـم شـوی وو نـو غـم لـــس شـل ورځـے یـا میـاشـت دوه شوی وی او اختـر خـوشـحـالـی ورکره را غله نو دا ظالم به لاړشی او هغه ته به خپل مړی بیا را یاد کړی چه یو دعا به اوکړو د فلانکی وړومبی اختر دے. خدائے دے پـو هـه کړه نـو پـه هـغـه بـانـدے غم را غلے وو او تـه ورتـه اوس خـوشـحـالـی پـه غم بدلوی. دا سے کم عقل خلق هم په معاشره کښی

شتـه دے کـه چا کـره غـمـونـه هـم شـوی ئی او څوك راشی او لاسونه پـورتـه کـوی نـو تـاسـو ور تـه وائـی خبر دار دا لاس دے په کور کښی او چتوه. دا ګناه ده ،ظلم دے ، زیا تی دے ددغـے نه اجتناب پکار دے .

بـل دا چـه پـه دے ورځـوبـاندے د خپلوعباداتو د حقوق الله او حـقـوق الـعبـاد خیـال سا تـل پـکـار دی.د روژو چه کوم مقصد وو نو په هـغـے بـانـدے بیـا بیـا سـو چ کول پکار دی چه آیا د روژو هغه مقصد حـاصـل شو او که نه ځکه الله فرمائی﴿یا ایها الذین اٰمنوا کتب علیکم الـصیـام﴾ اے مـؤمـنـانـو پـه تا سو باندے روژے فرض شوی دی لکه څـنـګـه چـه پـه مـخکښی خلقو باندے فرض شوی وی . ددے روژے مـقصد ﴿لعلکم تتقون﴾ دے د پاره چه تا سو پر هیز ګاران شی . تقویٰ دے تـه وائی چه د هرے ګناه نه ځان ساتل نو آیا مونږ او تا سو کښی د هرے ګناه نه ځان سا تل را غلل او که نا.

بیـا دے میـا شت کښی شیطانان قید شوی وو نو هغوی مونږ تـه ډیـر زیـات غـصـه وو. نو ډیر خلق هغوی دا ختر په ورځ باندے قابو کـوی ځـکـه دے انسـان ترے نه یو میاشت عبادت کړے ئی ذکر اذکار ئـی کـړے ئـی. مونځونه ئی کړے ئی تلاو تونه ئی کړی نوکوشش دا پکار دے د شیطان نه د بچ کیدو نسخه دا ده چه انسان په ذکر کښی یو وخت هم خاموشی را نه ولی که په لاره ئی نو هم دے ذکر کوی.

پـه ناسته دے هم ذکر کوی. په ولاړه دے هم ذکر کوی. نو د غه انسـان بیـا د شیطان په قابو کښی نشی را تلـے. او که کله انسان د شیطان پـه قـابـوکښـی را غلو نو تباه کوی ئی او د تمامو روژو هغه نور ترے نه د اختـر پـه ورځ بـانـدے ختـم کـړی ځـکـه د هـر عمل یو نور ملا ویږی د

مونځو نو خپل نور دے،د تلاوتونو خپل نور دے ذکر اذکارخپل نور دے د روژو تهجدو، اعتکاف خپل نو ر دے اس دا نور ډیر په ګرانه باندے ملاویږی خو شیطان کو شش دا کوی چه په وړومبئ پونړئ کښی دا نور ختموی ،په دا سے ګناهونو دا سے بے حیاؤ داسے غلطو طریقوکښی انسان مبتلا کوی، نو ډیر اختیاط سره به اخترهم تیرول پکارئی، څنګه چه په روژه کښی د ملګرو معمولات وو د قرآن درسونو کښی شریکیدل تلاوتو نه ئی کول ذکر اذکار ئی کول په دے میاشت کښی ځان چارج کول وو د یو لسو میا شتو د پاره هسے نه چه هغه چارج ځمونږ نه ړومبئ ورځ ختم شی هسے نه چه ځمونږ د پا کستان هغه بجلی وی چه موبائیل پرے نیم منټ هم نه چارج کیږی، هسے نه چه ځمونږ نه روژے هم د غه شان تیرے شی.

الله رب العزت دے مونږ او تا سو د شیطان په قابوکښی نه را ولی

"اللهم صل علی محمد وعلی سید نا و بارك و سلم تسلیما کثیراً.

دعا: یا حیّ یا قیّوم برحمتك استغیت ، لا اله الا انت سبحانك انی کنت من الظالمین.

اے ځمونږ پروردګاره د رمضان المبارك مسافره میملنه میاشت وه ربه مونږ دا اقرار و اعتراف کوؤ چه مونږ نه به ددے میاشت بے ا دبی شوی ئی ددے میاشت ددے ورځو بے اد بی به رانه شوی ئی څه بے اصولی به شوی ئی. او ضرور به شوی ئی ربه ربه مونږ تا نه سوال کوؤ مونږ ډیر کمزورے یو مونږ عاجزه یو اے ځمونږه ربه ځمونږ تمام کو تا هی کمی معاف کړے. ځمونږ لوئے او واړه ګناهونه معاف کړے . زمونږ خطائے معاف کړے ربّه، اے ځمونږ ربه د رمضان المبارك دے مبارك میاشت کښی ددے روژو تا څومره ثوابونه څومره بر کات او ثمرات لیکلی ئی

ربـه هغه مونږ ته برابر نصیب کړی. ربه ځمونږ ګناهو نو باندے نظر مه کـوی ځمونږ ګنا هونه نظر انداز کړے ربّه اے ځمونږ ربه ځمونږ ګناهو نـه ستـا د سیـلاب مـخـے ته یو قطره ده اے ځمونږ ربه ځمونږ ګناهونه نـظر انـدا زکړے ربّـه دتـمـام مسـلـمانانودا روژے پـه خپل در بار کښی قبـولـے او مـنـظورے کړے ربّـه پـه تـمام دنیا کښی چـه څومره خلق اعتـکـاف تـه نـاست وو ربه د هغوی هغه اعتکافونه قبول کړی . څومره دے میاشت کښی مسلمانانو زکوٰتونه خیراتونه کړی ربه ته ئی په خپل در بـار کښـی قبول کړی ربه څومره خلقوپکښی صدقه فطر ادا کړو او ادا کـوی ئـی ربه ته ئی په خپل دربار کښی قبول او منظور کړی. ربه څومره مسـلـمـانـان دے میاشت کښی تلاوتونه ذکر اذکار اوکړو، ختمونه ئی او کـړل د قـرآن کـریـم درسـونـه ئـی اوکړل عمرے ئی اوکړے، طوافونه ئی اوکـړل ربّـه تـه ئـی پـه خپـل دربـار کښـی قبـول او منظور کړی، څومره مسـلـمـانـانـو دے میاشت کښی ددین خدمتونه کړی ئی ته ئی په خپل دربـار کښـی قبـول کړے خاص کر زنانو چه هغوی به افطاری او سحری تیـارول روژے پـه خلـے باندے او د ګرمی په میاشت کښی ربه هغوی ته ددے محنتونو بهترین بدلے په دنیا اوآخرت کښی ورکړی.

اے ځمـونـږ ربّـه ځمونږ د خپل ذات سره تعلق قائم کړے. ربّه ځمونږ دخپـل ځان سره دو ستی قائمه کړی ربه ځمونږ د خپل خوږ پیغمبرﷺ سره د هغـه د طـریـقو او سنتوسره مینه محبت نصیب کړے ربّه، ربّه ځمـونـږ مـال بـدن اولاد ، صـلاحیـت او استـعـداد د خپـل دین د پـاره استعمال کړے، اے ځمونږ رب ځمونږ مسلمانانوکښی یوالی راولـے. اتفاق او اتحاد پکښی راولـے.

څـومـره مسـلـمـانـانـو داعـزم کړے چه ځمونږ نه څوك خفه دی که زه

مشریم کشر تہ بہ ور ځم ، ربہ هغه مسلمانانوتہ ددنیا او آخرت خوشحالے ورکړے..

ربہ څومره بیماران چی په دے حاضر مجلس کښی دی، دَ دوی په کورونو کښی دی یا دے محله کښی دی یا په تمام دنیا کښی څومره بیماران دی که جسمانی بیماری وی او که رو حانی بیماری وی ،ربه شفاء کا ملہ ور تہ نصیب کړے. د چاڅومره شرعی حاجات دی د هغوی شرعی حاجات د خپل غیبی خزانو نه پوره کړے. ربه کوم مسلمانان ، کوم علماء، کوم حق پرست د خپلویا د پر دو په جیلونو کښی دی ربه ته ئی په خیر ا و عا فیت سره خپل اهل و عیال تہ واپس کړی.ربه مسافرخپل اهل و عیال ته په خوشحالو سره راولے ربه څوك چه قرضو نو کښی ګیردی د هغوی د قرضودا دا ئیګی انتظام اوکړے ربه .


ربه کوم یتیمانان دی یا کونډے زنانه وی ته دهغوی د پاره د صبر او تسلی سامان مهیا کړے . اے ځمونږ ربه نن دا څومره ملګری دا ختر په دے سحر باندے ستاد کتاب دے درس تہ را جمع شوی دی.ربه ددی ټولوشرعی حاجات د خپل غیبی خزانونه پوره کړی څومره ملګری دے درس سره، دے مدرسی سره د لچسپی ساتی، محبت ساتی ربه جولے ئی د خیرنه ډکے کړے ربه ځمونږ نه تر مرګه پورے د توحیداو سنت کار وا خلے. ربه مونږ د قرآن او سنت نه مه جدا کوی.

و صلی اللہ تعالیٰ علی خیرخلقه محمد وعلی آله و اصحابه اجمعین برحمتك یا ارحم الر حمین اٰمین اٰمین اٰمنی

★★★★★★★★★★★★

خطبہ نمبر: ''۱۴''

دَ حُسنِ خاتمے اسباب



څوارلسمه خطبه : "دَ حسن خاتمے اسباب"

الحمدلله الذی لایکشف الشدائد الاّ هو، ولا یرفع المکائد الا هو، و ما مراد العا شقین فی الدارین الا هو، وما مطلوب الواصلین فی الکونین الا هو، العباد کلهم ضعفاء لا قوی الاّ هو، والناس کلهم فقراء و لا غنی الاّ هو، لا حافظ و لا نا صر الا هو، غا فر الذنوب و قابل التوب شدید العقاب ذوالطول لا اله الا هو، هل من خالق غیر الله یرزقکم من السماء والارض لا اله الاّ هو، ومن یملك السمع والابصار لا اله الاّ هو، و من یعلم السرّ والجهر لا اله الاّ هو، موسیٰ علی الطور حین ناداه قال لا اله الا هو، یو نس فی بطن الحوت فناداهُ قال لا اله الا هو، ابراهیم فی النار الحریق حین ناداه قال لا اله الا هو، یو سف فی قعر البئیر حین ناداه قال لا اله الا هو، و اشهد ان لا اله الا لله وحده لا شریك له، هو الحی لا اله الا هو، و اشهد ان سیدنا و مولانا محمداً عبده و رسوله.

اما بعد فاعوذ با لله من الشیطان الرجیم بسم الله الر حمن الرحیم .

﴿شهدا لله انه لا اله الا هو﴾ و قال النبی ﷺ: "من کان اٰخر کلامه لا اله الا الله د خل الجنة" ﴿ان الله و ملٰئکته یصلون علی النبی یاَیُّها الذین اٰمنوا صلوا علیه و سلموا تسلیماً﴾

اللهم صل علی محمد و علی آل محمد کما صلیت علیٰ ابراهیم وعلی آل ابراهیم انك حمید مجید .اللهم بارك علیٰ محمد و علیٰ آل محمد کما بارکت علیٰ ابراهیم و علیٰ آل ابراهیم انك حمید مجید.

عزتمندو مسلمانانو! ما دَ آیت مبارکه څه حصه او یو حدیث مبارکه ذکر کړو. د حدیث مطلب دا چه څوك په وخت د زنکدن کښی دَ دنیا دَ زند ګی په آخری لمحاتو کښی لا اله الا الله اُووائی او دا ئ آخری کلام او

آخری خبره وی نو نبی ﷺ فرمائی " دخل الجنه" جنت ته به داخل شی. چونکه دے حدیث پاك کښی د انسان د خاتمے تذکره شوی ده چه د چاخاتمه په ایمان اوشوه، د چا خاتمه په کلمه طیبه او شوه د چا خاتمه په کلمه تو حید او شوه نو د خل الجنه (دے به جنت ته دا خل شی) آیت مبارکه کښی هم اشاره ده چه هم ددے لا اله الا الله مسئله تو حید بیان الله هم کړے. نو په دے د ملائکو هم گواهی ده په دے د علماؤ هم گواهی ده.

په دے وجه علماء ذکر کوی چه اصل دارو مدارد انسان په خاتمے باندے دے یعنی انسان ظاهر کښی په نظرډیر بزرگ ډیر خه او ډیر شریف راځی خو مونږ ته د هغه د خاتمے پته نشته چه خاتمه به ئی څنگه ئی.او یو انسان مونږ ته ډیر گناه کوونکښی په نظر راځی مونږ او تاسو ته ډیر غلط کار کوونکښی په نظرراځی خومونږ ته دا پته نشته چه دا مونږ ته په نظرډیربزرگ راځی چه دده خاتمه به څنگه ئی او دا کوم انسان چه مونږ ته په نظربد راځی نو دده خاتمه به څنگه ئی . نو اصل اعتبارخاتمے لره دی. ځکه وائی کنه: " خدائی دے آخری خاتمه صحیح کړه" ددے مطلب هم دغه دے. که یو انسان دے هغه شپیته اتیا کاله یا سل کاله سجدے کړے دی.دعا گانے ئی کړی ئی طوافونه ئی کړے ئی. ذکر اذکار ئی کړے ئی خو بس د مرگ نه لږشان مخکښی العیاذ بالله' الله دے ځمونږ حفاظت اوکړی په خله باندے کلمه د کفررا غله نوددے انسان خاتمه په کفر باندے اوشوه . نو هغه شپته کاله اتیا کاله او سل کاله عباد تونه ئی ضائع شو.

بل طرف ته یو انسان دے هغه شپیته کاله، اتیا کاله یا سل

کالـه ګنـاهونو کښې ژوندتیرکړو. د الله په نافرمانو کښې زند ګی تیره شـوه هـر لـمحه ګناه دورځـے ګناه د شپـے هم ګناه کتـل ئی هم د ګناه نو اوریـدل ئـی هـم د ګنـاه سو چونه هم د ګناه خود زند ګی یو سکینډ ئی پاتـے دے. او بس په هغـے کښـے د زړه د اخلاص نه ئی دا کلمه اووئیله لا الـه الا الله مـحمد رسول الله نو داسړی جنتی دے. الله دے ځمونږ او ستا سو ټولو خاتمه په ایمان باندے اوکړی . نو دے بیان کښې مونږ دا بیـانـوو چـه د یـو انسـان د خـاتمـے د صحیح کیدو د پـاره کوم اسباب شـریـعـت رالیـږلـے دی. نـو دا بـنیادی خبرے دی ځکه که یو انسان په خپلـه زنـدګی کښـی ډیـر ځـان نیك نیك کـوی خو اصل اعتبـارخو خـاتـمـے لره دے. نو هغه کوم اسباب دی چه په دنیا کښې انسان هغه اختیـارکړی نـو هـغـے سره به ددے انسان خاتمه خائسته ئی . دا به په ایمان باندے ئی.

اول سبب: علماء ذکر کوی کوم کس چه دعائے و سیله کوی. او دعائے و سیـله احادیثو کښې را غلـے ده څنګ چه آذان او شی نو ور پسی "اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلوٰة القائمة اٰت محمداًن الوسیلة .....

لـوسـتـل دیـکښـی بـعـض خلقو څه د ځان نه هم اضافـے کړے دی. نو په هـغـے کښې حق پرستو محقیقنو علماؤ ته رجوع پکارئی چه هغه الفاظ مـونـږ تـه صحیح کړی ځکه چاد ریډیو نه یاده کړے ئی، چا د ټی وی نه یا ده کړے ئی. او په دماغو کښې هغه نا سته ئی. هغـے کښې بعض کلمات نـه دی ثابت نو زیادت د پیغمبرﷺ په کلما تو کښې جائز ندے په شریعت کښـی چـه کـوم الـفـاظ راغلـے ئی نو هغه الفاظ به وئیل پکارئی تا سو به اوریدلـے ئی کله کله ډیردا سے خلق ئی چه دعا به غواړی .

" اللهم انت السلام و منك السلام و حينا ربنا بِالسَّلام " نو دا حيّنا ربنا بالسَّلام په احاديثو کښې نشته.

لږ د هغه علماؤ سره چه هغوی احاديثو مبارکو سره ذوق شوق ئې ناسته پکار ده. دا نه چه ګاډی کښې کتاب خرڅيدو نو کتاب کښې درود تاج ليکلے شوی وو. او په هغے کښې دا سے دعا ليکلے شوی وه کتاب به علماؤ ته ښائی هسے نه چادځان نه الفاظ جوړکړے ئی اود پيغمبرﷺ الفاظو سره ئی لګولے ئی ګوری د ثواب په ځائے به در ته عذاب ملاؤشی ځکه ديکښې ډير احتياط پکار دے ځکه مونږ په دنيا وی څيزونو کښې صحيح او خراب معلومو چه څوك را باندے دونمبر څيز خرڅ نه کړی. نو دويم نمبرکلمے هم کله کله بازارونو کښې ملاويږی خلق پدے تجارت کوی. او خلق پدے بے دينه کوی. خلق بدعا تو کښې مبتلا کوی نو دعا ګانو کښې به درودونو ذکر اذکار کښې که ته ئی عبادت ګنړے نو ديکښې اتباع د پيغمبرﷺ لازمی ده چه د پيغمبرﷺ نه څنګه الفاظ نقل دی نو هغه به وايو. نو د حسن خاتمه د پاره يو سبب دا دے چه که آذان کيږی نو احاديثو مبارکو کښې راځی د آذان جواب ورکوئ بلکه تر دے پورے علمائے کرامو ليکلی دی که يو سړے ذکر اذکار کوی يا د قرآن کريم تلاوت کوی نو دَ آذان په وخت کښې دے خاموشه کيږی او د هغے آذان جواب دے ورکوی.

دَ آذان جواب، احاديثو مبارکو کښې راځی کله چه مؤذن صاحب اُووائی چه "الله اکبر ، الله اکبر" نو چه څوك ئی آؤری هغوی به هم وائی "الله اکبر ، الله اکبر" چه مؤذن صاحب بيا اُووائی "الله اکبر ، الله اکبر" نو آؤريدونکی به هم دا سے بيا اُووائی. آوريدونکښې به هم هغه الفاظ

وائی خو دَ "حیَّ علی الصلوة" په ځائے به "لا حول ولا قوة الا بالله" وائی. دا دَ اذان جواب دے، نن مونږ دا نه ایزده کوؤ مونږ دَ خپل روزګار نه نۀ اوزګاریږو مونږ ته دَ الله دَ دین ایزده کولو دَ پاره وخت نه ئی فارغ نو په احادیثو مبارکو کښی دَ دے ترغیب دے چه کله آذان اووئیلے شی نو ورپسی دا دعا لوستل پکار دی "اللهم رب هذه الدعوة التامة....."

دعابه په دمه آواز سره لولی. په دیکښی جهرندے ثابت. اوس ډیر خلق به وائی ولے په جهر سره وئیل څه ګناه ده څه؟ دا خو څه خبرنده، شریعت کښی چه څنګه پیغمبرﷺ کړے ئی هغه شان به کوو. صحابه کرامؓ څنګه کړے ئی هغه شان به کوو. بس دا آسانه خبره ده. خو چه څوك وائی چه ګناه نده نو تپوس ترے نه اوکړے ووئے په دے آذان کښی چه "الله اکبر" ته څلور پیرے وائے نو شل پیرے ئی وایه کنه دا څه بد کار دے څه؟ په آخر کښی چه کله آذان ختمیږی. او "حی الصلوٰة ، حی الفلاح، لا اله الا الله" نو په آخر کښی ورسره "محمد رسول الله" ولے نه وائی ولے دا څه بد کار دے څه؟ نو دے به وائی چی دا د پیغمبرﷺ نه نۀ دی ثابت کنه نو محمدرسول الله دا دَ پیغمبرﷺ او صحابونه نۀ دی ثابت، د مازیګر د مونځ نه ورسته نفل د پیغمبرﷺ او صحابونه نۀ دی ثابت، آذان په شروع کښی د څلور پیرے نه سوا "الله اکبر" د پیغمبراو صحابونه نۀ دی ثابت نو وائے دا "اللهم رب هذه الدعوه التامه ....." دا هم د پیغمبرﷺ او صحابونه په جهر سره نه دی ثابت آسانه خبره شوه .

بعض علاقوکښی دا سے وی چه امام صاحب به د فرض مونځ سلام اوګرځوی نو سنت مونځ هم په هغه مصلی کښی کوی حالانکه

احادیثو مبارکو کښی مسئله دا ده چه امام صاحب کوم ځائے فرض مونځ او کړی نو د سنتو د پاره دے ځائے بدل کړی. نو دے به په هغه ځائے ناست وی، بعض علاقو کښی مقتدی غریب که ضروری کار ئی هم وی مخکښی نشی تلے چه امام صاحب ور ته ترڅو راګرځیدلے نه ئی. اوس که ور ته وائی چه دا ترتیب خوداسے ندے. چه کوم ملګری حرمینو شریفینو ته تلے ئی نو هلته څنګه ترتیب دے دَ دعا. دا رنګے ځمونږ تبلیغی مراکزو کښی څنګه ترتیب دے دَ دعا. نو د هغے نه به دے ترتیب نه ایزده کوی دا عجیبه خلق وی.

ځمونږ تمام عالم اسلام مشران د حرمینو شریفینو ائمه کرام دی. دا رنګے ځمونږ دے ملك کښی تبلیغی مراکز دی خلقو ته د الله دین رسول غواړی .اوګوره چه هلته کښی دَ دعا ګانو ترتیب څه دے. امام فرض اوکړل نو ځائے دِ سنتو ته بدل کړی یا دے یوصف روستو شی . او بل دا چه کله امام صاحب سلام اوګرځولو نو د مقتدی ورسره دَ مونځ هغه تعلق ختم شو. نو اوس مقتدی ته که وخت شته نو که ځان ته لس مینټه دعا غواړی او که شل مینټه. دغه شان دَ امام صاحب هم که څه ضروری کار وی او ځان ته لس مینټه یا شل مینټه دعا اوغواړی نو دیکښی په چا څه پابندی نشته.

بعض علاقو کښی به ئ خلق باقاعده ګی سره ایسار کړی وی چه تر څو هغه سنت ئی هم په مصلیٰ کښی نه ئی اداکړے او بیا قوم ته راؤګرځی نو بیا د عا اوکړی او په مخ چه لاس راکاړی نو بیا وائی دعا برائے شفائے مریضان. نو کله پکښی فارسی کښی الفاظ وائی او کله پکښی پښتو کښی الفاظ وائی. دے به لګیائی دعا ګانے به کوی چه

تـه ور ته اووئـے هلکه دا تر تیب پیغمبرﷺ ندے کړے نو دے به وائی دا دعـا ولـے څـه بـد کـار دے څـه ته ور ته ووئـے دا بانګ کښی الله اکبر شـل پیـرے وئیـل څـه بـد کـار دے څه دے به وائی دا پیغمبر ﷺ ندی کـړے نـو دا ته چی په دعا کښی کوم ترتیب کوے نو دا هم پیغمبرﷺ نه دے کړے.

په دے وجه په ذکر و اذکارو کښی په دعا ګانو کښی په عبادا تو کښی په درودکښـی مـونږ او تا سو محتاج یو منقول ته چه کوم یو څیز شریعت کښـی نـقـل دے. ډیـر څیـزونـه بـه مـونږ او تا سو تـه خـه ښکاری خو پیغمبرﷺ او صحابوؓ به هغه نه ئی کړے نو مونږ به ئی هم نه کوو.

ځکه قرآن کریم کښی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی .

﴿یا ایها الذین اٰمنو الا تقدموا بین یدی الله ور سوله﴾

اے ایمان والو دالله او رسول ﷺ نه مخکښی مهٔ ځـے، خپله رائـے د الله او رسـول پـه خبره مخکښی نه کړے خپل یو عمل ، خپل یوکار، خپل یو قول او فعل د الله او رسول په خبره باندے مخکښی نه کړے.

دا قرآن کریم مونږ ته آداب ذکر کوی.

نـو دارنـګـے "اللهم رب هذه الدعوة التامة ..... " دے ته دعائـے و سیله وائـی ځـمونږ خلاف یو پروپیګنډه چلیږی . څوك وائی د قبر عذاب نه مـنـی څوك وائی تبلیغ نه منی، او څوك وائی دا نه منی او دا نه منی، دَ حسـاب کتـاب ورځ را روانـه ده دَ الله نـه اویـریږئ پروپیګنډے مه کوئ بـلـکه تحقیق کوئ. نو په هغـے کښی یو پروپیګنډه دا هم ده چه وائی دوی و سیـلـه نه منی. مونږ خلقو ته وایو دعائـے و سیله غواړئ چی په صـحیـح بـخاری کښـی ذکـر ده. دا رنـګـے دا دعا ئـے و سیلـه احادیثو

مبارکو کښی راځی. دا و سیله په جنت کښی یو خاص مقام دے. اودا به الله تبارك و تعالیٰ یو خاص بنده ته ورکوی. نبی علیه السلام فرمائی ځما امید دے چه هغه انسان به زه یم چه هغه مقام د و سیلے به الله رب العزت ما ته را کوی نو لهذا تا سو ځما د پاره د الله نه مقام و سیله طلب کوی. په احادیثو کښی دا را غلی خو هغه جهراً وئیل پکښی ندی ذکر شوی نبیؐ فرمائی کوم یو تن چه د آذان نه ور ستو دا دعا ئے و سیله او لسته نو " حلت له شفاعتی" دده دپاره ځما شفاعت حلال شو یعنی ددے تن شفاعت به زه کوم (نو په ایمان ئی وائی چا د پاره چه پیغمبرﷺشفاعت کوی نو د پیغمبرﷺشفاعت به رد کیږی؟ نه چرے هم نه ردکیږی.

نو دے تن د پاره خوشخبری شوه په حسن خاتمه باندے (خبره د خاتمے روانه وه) دا رنګے چه کوم یو تن دآذان نه رو ستو دعائے وسیله لولی نبیؑ فرمائی د قیامت په ورځ به زه دده شفاعت کوم.

ملا علی قاری د مشکوٰة یو شرحه لیکلی ده، لس جلده کښی هغے کښی ذکر کوی چه په دے حدیث کښی دَ هغه چا د پاره زیرے دے چه کوم تن دعائے و سیله لولی. دهغوی د پاره د حسن خاتمے خوشخبری ده. نو دَ دے دعا اهتمام پکار دے.

دویم سبب: علمائے کرام ذکر کوی د مسواك اهتمام کول.

مسواك معمولی څیزنه ګنړل . په نوروڅیزونو هم غابنونه پا کیږی خو د مسواك هغه فضیلت ور ته نه حاصلیږی. دمسواك اهمیت مونږ او تا سو ته د هغه حدیث نه هم معلومیږی .امام بخاری هغه حدیث ځائے په ځائے ذکر کړے دے. نو خطیب تبریزی په

مشکوٰه کښی هم ذکر کړے دے چه کله نبیؐ مرض الوفات کښی وو نو د عائشهؓ په غیږ کښی پروت وو د غه و خت کښی عبد الر حمٰن بن ابی بکرؓ راغے(دا د عائشهؓ ورور وو)

دۀ سره مسواك وو.ددواړو جهانوسر دار بیمار دے په هغه بیماری کښی ئی مسواك ته کتل(عائشهؓ خو د نبیؐ ډیر محبوبه بی بی وه ټول عمرئی د نبیؐ د مزاج مطابق زند گی تیرولے) د نبیؐ په مزاج باندے پوهه شوه چه دے وخت کښی دے دا مسواك غواړی نو عائشهؓ نبیؐ ته وائی اے د الله رسول " افا خذه لك " دا مسواك ترے نه درته واخلم .ددواړو جهانوسردار خبرے نشوے کولے بیماردے احادیثو مبارکو کښی راځی ." فا شار برأسه " په خپل سر مبارك سره ئی اشاره اوکړه چه آؤ. عائشهؓ فرمائی چه کله می ترے نه مسواك واغستواو نبیؐ ته می ور کړو نو هغه سخت وو او نبیؐ کښی دومره طاقت نه وو چه مسواك ئی کړے وے عائشهؓ وائی چه ما ور ته اووئے اے د الله رسوله . " افالینه لَكَ " دا مسواك در ته نرم کړم. (او گوره پیغمبر دے خبرے نشے کولے. ځان ته صحت نشی ور کولے) نبیؐ بیا اشاره اوکړه. فا شار براسه، عائشهؓ وائی مسواك می د نبیؐ نه واغستو فَلَيَّنتُهُ او نرم می کړو ور ته.

بعض روایا تو کښی راځی عائشهؓ فرمائی چه د الله د نعمتونو نه به مایو دا نعمت دے چه کله نبیؐ و فات کیدو.نو نمبرئی هم ځما سره وو. کور هم ځما وو. او په غیږه کښی هم ځما پروت وو. نو په هغه و خت کښی د نبیؐ د لاړو مبارکو سره ځما لاړے هم یو ځے شوی دی.

نو او گوره نبیؐ په مرض الوفات کښی هم مسواك و خلے دے

یو روایت کښی راځی نبیؑ فرمائی دا مسواك د خلے د پا کولو د پاره یو آلـه ده د الله د رضا سبب هم دے. او دے مسواك کولو کښی د ډیرو امـرا ضـو نـه حـفاظت هم دے نـن تا سو او ګوری چـه چرتـه د غـابنـونو ډاکټر خواته لاړشی هو هلته د ټولو نه زیات خلق راغلے وی ځکـه نـن دا سـنت په خلقو کښی ختم شوی دی مسواك څوك هم نه کـوی الا مـن شاء الله ډیر کم خلق به ئی چه د مسواك اهتمام به کوی. کـلـه غـابنـونـو ته چینجی اولګی او کله دردونه کوی د هغے نه چه در ګـونـو هـغـه کـنکشن چه د سر سره ئی، غوږ و نو سره ئی نو بیا ورسره سـر هـم خوږیږی . او غوږو نه هم نو بیا کله یو ډاکټر او کله بل ته ځی. وئے نبیؑ فرمائی چه مسواك کوه کنه.

یـو روایـت کښـی راځی نبیؑ فـرمائی جبرائیـل اُمین به ما ته را تلو او د مسـواك دا خبـره بـه ئـی را تـه بـار بـار کـولـه نو ماسره غم وو چه چرته د مسواك دا حکم فرض نشی بیا به امت ته ډیره ګرانه شی .

نـو مسـواك کـول دا یـو ډیـر اهـم عبادت دے په بل حدیث پاك کښـی ددے یـو فـائـده راځی او هـغـه ټولـو فائدو کښی غټـه فائده ده نبی ﷺ فـرمـائـی کـوم کـس چـه مسـواك کـوی نو دۀ ته به په وخت د زنـکـدن کښـی کـلـمـه شهادت الله نصیب کوی نو دے نه بل څه غټ شته.

نـن خلق وائی زه به په جیب کښی مسواك ګرځوم . په دے ور تـه ځان بـد ښکـاری، د مـوبـائیـل پـه ګـانـو بـجـانو خو ورته ځان بد نه ښکاری، په نسوارو ورته ځان بد نه ښکاری، نو چه مونږ او تاسو ان شاء الله د مسـواك اهتـمـام شـروع کـړو د ابه سبب ئی د حسن خاتمے دپاره

ځکه چه آقائے نا مدار هم فرمائی چه څوك مسواك كوی نو په و خت د زنكدن كښی به ور ته كلمه شهادت نصيب كيږی.

اوس كه مونږه وايو چه دا څنګه ځكه مونږ ته كله كله شيطان وائی چه په مسواك خو ستا نيم منټ او لګيدو او په دے به الله تا جنت ته بوځی. نو شيطان مونږ دا سے كار كښی ځائے ته اور سوی د يو عمل نه موورستو كوی. په دے وجه د الله رب العزت ګنږنو مونه دی په هغے كښی يو نوم دے " الشّكور ' بعض محدثين ذكر كوی چه شكور چا ته وائی: الذی بعطی الاجر الجزيل على العمل القليل. چه په لږ شان عمل باندے ډير څه وركوی، نو كه ځمونږ په ذهن كښی د الله داصفت ئی نو كه بيا لږشان مسواك كوی د هر مانځه نه ئی مخكښی كوی.د نبیؐ معمول دا وو چه كور ته به دا خليدو نو مسواك به ئی كولو. اوس هم كچرته تا سو تلی ئی . الله رب العزت دے مونږ او تا سو بار بار بوځی حرمينو شريفينو ته هلته خلق د مسواك انتهائی اهتمام كوی او خاص كر د جمعے په ورځ هغوی غټ غټ بنډلے ځان سره روړی او خلقو ته ئی هديه كوی، او نن مونږ ځان ته نه استعمالو نو نوروته به ئی څه ورکړو. ځكه هغوی ته پته ده چه ددے مسواك دومره فوائد شته نو يو سبب د حسن خاتمه د پاره دعائے و سيله لو ستل . دويم سبب د مسواك اهتمام كول بعض صحابه كراموپه غوږ كښی مسواك كيخو چه چرته را نه هير نشی.

دريم سبب: د خپل نظر حفاظت كول. ځكه يو روايت كښی راځی نبیؐ فرمائی چا چه د خپل نظر حفاظت او كړو" يجد حلاوه الايمان "

دۀ ته به الله د ايمان هغه خوږ والی نصيب كړی. نن په مونږ كښی

ایمان شته خو هغه خوږ والی پکښی نشته. لکه چه یو غټ بالټی کښی یو چمچمه یا چوندے چینی وا چولے شی نو چینی خوپکښی موجود ده او څوك دا نشی وئیلے چه نشته پکښی خو هغه خوږ والی پکښی نشته دے.

د غه حال ځمونږ دے نو په دے وجه ځمونږ مونځ کښی زړۀ نه لګی. تلاوت کښی موزړۀ نه لګی، عباداتو کښی موزړه نه لګی، قیام اللیل کښی مو زړه نه لګی ور نه قسم می دی په الله په دیکښی یو لذت دے . په عباداتو کښی خپل لذت دے په قیام الیل کښی خپل لذت دے ځکه وائی .

ہمارا کام ہے راتوں کو رونا یاد دلبر میں.

انسان خپل خالق حقیقی سره رازو نیاز کوی. ربه کمزورے یم، ربه ګنګاریم. ربه بل می څوك نشته . او تا ور ته لاس پورته کړی ئی اود ټولے دنیا خلق او ده دی. په تنهائی کښی تالاس پور ته کړی او لګیائی .

الٰهی عبدك العاصی اتاك مقراً بالذنوب و قد دعاك.

اے ځماربه ستا ګنهګار بنده تاته ولاړدے. ربه ته می ډیر خفه کړے ئی په هر مورمی ستا خلاف کړے دی. غوږونه می ستا خلاف استعمال کړے دی. نظرمی ستا خلاف کښی استعمال کړے دے. ربه ستا بنده د خپلوګنا هونو اقرار کوی. اقبال جرم ته ولاړیم . ربه دنیا کښی دا سے خلق شته که چا ترے نه ډیرقتلونه هم کړے ئی ربه که چائی ډیرے بے عزتے هم کړے ئی او هغه د هغوی مخکښی خپل اعتراف اوقبال جرم اوکړی نو هغوی ئی معاف کوی. نو ربه زه ستا مخکښی ولاړیم او خپل اقبال جرم کوم. ربه ماټول عمرګنا هونه کړی.

د شپے هم ګناهونه د ورځے هم ګناهونه.

"فـــان تـــغـــفـــر فـــانـــت لـــذاك اهـــل"

ربه که ته می معاف کوی نو تانه دنیا هیڅ یو طاقت تپوس نشی کولے چه تاداخپل غلام ولے معاف کوی نو ته ددے اهل ئی .

وان تترك فمن یرحم سواك.

او ربه که ته می مغفرت اونکړے. ته می ګناهونه معاف نکړے نو بیا به کوم در ته ځم. بیا به چاته وایم ربه. نو ما د خپل درنه بے نوامه واپس کوی.

نو ځما عزتمندو!الله تبارك وتعالی یو صفت دے "الشکور"په لږ شان عمل باندے ډیر څه ورکوی نود شکور معنی ده. الذی یعطی الاجر الجزیل علی العمل القلیل. نو کوم یو انسان چه دنظر حفاظت کوی الله به ور ته د ایمان هغه حلاوت ورکړی، نن ځمونږ د ایمان هغه خوږوالی نشته. ځکه ځمونږ مونځ کښی ډډے نه لګی. ځمونږ دعا کښی ډډے نه لګی ور نه چه لږشان ځمونږ ایمان کښی خوږوالی وی نو ځمونږ چه دا لاس پور ته کیده نو ځمونږد سترګونه به بے اختیاره او ښکے بهیدلے چه دا خو ما هغه لوئے ذات ته لاس پورته کړی دی.

په دنیا کښی یو غریب د چا نه یو روپے یانورڅه غواړی نو څنګه شکل ئی جوړکړے ئی او څنګ ترتیب سره ئی داسې هم کوګ کړے ئی او دا آواز کوی " اللہ کےنام پہ دے بابا" د انسان په زړه کښی یو ترس پیدا شی چه دۀ ته دارو پے خامخه ورکړم . نو چه مونږ د هغه بادشاه نه غواړو نو مونږ هیڅ شکل د عاجزی نه جوړوو ځمونږ اتو میتك دعاوی خالی جگہ پرکریں. ما او بخښے مور او پلار می او بخښے

نیا نیکو نه می او بخښے..... هغه خوږ والی نشته دے. نو دا د عا نده، علماء ذکر کوی ''ایک ہے دعا مانگنا اور ایک ہے دعا پڑھنا'' یو دعا لو ستل دی لکه ط ، ظ، ع ، غ، ف، ق ..... ما او بخښے مور پلار نیا نیکو نه بس ګردان اوکړو د ضرب ضربا..... او خبره ختمه شی.

یو دعا غوښتل دی.نو مضمون داروان وو چه اصل اعتبار خاتمے لره دے. نو د انسان خاتمه به څنګه په ایمان سره کیږی د هغے د پاره څه اسباب دی، نو بعض علماؤ کوشش کړے دے او دا سے احادیثو کښی ئی بعض ځایونه را غونډ کړے دی چه څوك پدے خبر و عمل او کړی، نو د هغه د پاره زیرے دے په حسن خاتمه باندے .یو په هغے کښی د دعائے و سیله بعد الآذان اهتمام کول دی. دویم مسواك کول . دویم د نظر حفاظت کول.

د نظرحفاظت ډیر زیات لازمی دے نن عموماً ټولو خلقو ته دا مرض دے خلق دے نه پریشانه دی وائی حافظه می کمزورے ده تیر شوی سبق او مطالعه ترے نه هیره وی. سوال جواب رانه هیرئی ځان سره به ئی لیکو ځکه یا د نه پاتے کیږی. دا و جه دا ده چه د نظرحفاظت نشته او مونږ ئی ګناه هم نه ګنړو. ځکه ځمونږ مرشد مولانا حکیم اختر صاحب فرمائی .

بے پردہ حسینوں سے ہوا تنگ زمانہ ☆ آنکھوں نے شروع کر دیا اب دل کو ستانا۔

نو ځما عزتمندو! د نظرحفاظت ابتداء کښی به لږ شان ګران ئی خود نظرحفاظت نه کولو ډیر زیات نقصانات ئی، بعض علماؤ یو واقعه لیکلی ده.

واقعه: ابوعبد الله اندلسی دا ډیر بزرګ ولی الله او پیر تیرشوی دے.

دے پـه لاره روان وو یـو مُلك تـه تـلـو خپـل مریدان هم ور سره دی پـه یـو ځائـے کښی څه زنانـه بهـر راوتـلـے وے، بس دَ ده په هغوی نظر پـریـوتو او نظر ئی هلته کښی ایسار شو. شاګردانو ورته اووے چه ځو کـنـه. نـو دے ور تـه وائـی ځما دلته نه خپـے نه ځی ټول شاګردان ورته جاړی. او دے وائی زه نشم تلـے. ملګری ترے نه لاړل او جاړی

هـغـه زنانه د هغه عـلاقـے د سردار چوهدری لور وه او هغه غـیر مسلمه وه. د څـه تـرتیـب سـره د هـغـے سـره خبـرے شروع کړے او هغـے غـیر مسلمـے هم دا غوښتل چه مونږ چرته بعض مسلمانان ګمراه کړو نو د هـغـے پـلارتـه اووئـے. نو پلارئی ورته اوئـے چه بالکل په نکاح ئی در کوم خو ځما دوه شرطه دی اول دا چه اسلام به پریدے.

" تصادم آنکھ کرتی ہے سزا پھر دل کو ملتی ہے"

دویـم شـرط دا چـه ځمونږ دا خنزیران به څروی، ده ورته ووی صحیح ده نکاح ئی ور سره اوکړه.

د زمـانـے شیـخ، د زمـانـے بـزرګ ، دے دوو شـرطونو ته غاړه کیـخـوده شـا ګـر دان خپـلـو عـلا قـو کښی جړاګانـے کوی کال نیم بعد واپس بیـا را غـلـل د خپـل شیخ د حال معلو مولو دپاره. چه شیخ به په څـه حـال کښی ئـی چه دوی او کـتـل نو هغه د غیر مسلمو ټوپی په سر کـړے ده او کـو مه همسا چه په وخت د و عظ کښی به ئی استعمالو له پـه هـغـے باندے خنزیران شړی راشړی. دے شا ګردانو چه د خپـل شیخ هـغـه حـال تـه او کـتـل نـو ډیـرزیـات په جړا شو بیا ترے نه دا شا ګـر دان تپوس کوی چه حضرت تا سو خو د قرآن حافظ وی.

د قـرآن څه حصه را ته اوائی. نو هغه ورته ووی "و من یضلل اللہ فما له

مـن مکرم" چا له چه الله ګمراه کړی دهغه د پاره څوك د عزت ور کولو والا نشته زه الله اوس ذلیله کړے یم په احادیثو کښی ئی هم یو حدیث او لستو چه صرف دا را ته یاددی او نور را نه هیرشوی دی.

دومره لوئی بزرګ په یو ځل غلط نظر کتو سره د هغه نه قرآن هیریږی . احادیث مبارکه هیریږی نو مونږ او تاسوخو هسے هم په ګناهونو کښی ډوب یو او چه نظرهم غلط استعمال کړو او چه بیا د مختلفو شکلونو عکاسی هم ځمونږ نظر اوکړی نو بیا به ځمونږ په قرآن او سنت کښی زړه نه لګی.


نو دے بیان کښی مونږ درے اسباب بیان کړه د حسن خاتمے د پاره (۱) دعائے و سیله (۲) مسواك کول . (۳) د نظر حفاظت کول الله دے مونږ او تاسوته د عمل کولو توفیق نصیب کړی او الله دے ځمونږ خاتمه په ایمان اوکړی.

اقول قولی هذا استغفر الله لی ولکم و لسائر المسلمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبہ نمبر: ''۱۵''

دَ سُوئے خاتمے اسباب



پینځلسمه خطبه : "دَ سُوئے خاتمه اسباب"

الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره.....

اما بعد فاعوذبا لله من الشيطان الرجيم ، بسم الله الرحمٰن الرحيم

﴿كذالك نقص عليك من انبآء ما قد سبق وقد اتينٰك من لدنا ذكرا. من اعرض عنه فانه يحمل يوم القيٰمه و زرا خالدين فيه . وساء لهم يوم القيامه حِملاً﴾

عزتمندو مسلمانانو تير شوی بيان کښی مونږ د حسن خاتمے اسباب بيان کړی وو، ځکه اصل اعتبار د انسان خاتمے لره دے څنګ چه بعض روياتونه دا مضمون ثابت دے تاسو کښی څوك هم په دنيا کښی چاپسے تګ (تلل) کول غواړی. نو هغه ته پکاردادی چه د ژوندو خلقو(که نيکان خلق دی) په ځائے چه کوم نيکان خلق وفات شوی دی نو چه د هغوی په طريقوباندے روان شی ځکه اصل اعتبارخاتمے لره دے که په دنيا کښی ستا په نظرکښی يو تن ډير نيك او ډير خه سړی دے خو د هغوی د خاتمے پته نه لګی نو په دے وجه اصل خبره دا ده چه د انسان خاتمه په ايمان او شی بيا د هغے د پاره مونږ څه اسباب ذکر کړے وو يو د هغے نه د عائے و سيله لو ستل.

ګنړ کتابونو حديث ذکر کړے لکه امام ابو داؤدؒ ، امام بخاریؒ امام ترمذیؒ چه نبی کريمﷺ فرمائی چا چه دا دعا اولو سته .

د هغه دَ دعا هغه الفاظ صحيح احاديثوکښی چه کوم راغلے هغے ته مونږ اشاره کړے وه. چه هغه الفاظ دادی.

"اللهم ربّ هٰذه الدعوة التامة والصلاة القائمة اٰت محمد نِ الو سيلة والفضيلة وابعثه مقاماً محمود نِ الذی وعدته "

امام ابو داؤدؒ او بخاریؒ د الفاظ ذکر کړے دی. البته مصنف ابن ابی شیبه کښی دا الفاظ هم شته "انك لا تخلف المیعاد" اوس په دیکښی "و الدرجة الرفیعة" امام سخاویؒ ذکر کوی چه داالفاظ د پیغمبرﷺ نه ندی ثابت نو دا عجیبه دور دے نن تحقیق نشته بس کوم یو څیز یو کتابچه کښی چا اولیدلو نو هغه بیا نوی. حدیث به نه ئی او حدیث به ور ته وائی دا غټ ظلم او زیاتی دے. نبیؑ فرمائی چا ما باندے دروغ جوړ کړه یو خبره مانده کړے او څوك وائی دا پیغمبرﷺ ووئیلی دی نو "فلیتبؤ مقعده من النّار"

دۀ ځان له جهنم کښی ټهکانه جوړه کړه تحقیق نشته تقریربه کوی نو دا خو پکښی مه وایه چه پیغمبروئیلے هغه ورځ یو تن بیان کولونو بیان کښی ئی ووئے چه ددنیا دا جا دو د هاروت او ماروت د جادو نه هم زیات خطرناك دے دا خو منکرروایات دی نو په دے وجه دَ نبی علیہ السلام نه ثابت شده الفاظ بـه وئیل پکار ئی خو نن افسوس دا دے چه نبی اکرمﷺ نه ثابت شده الفاظوباندے هغه خواهش پرستو، بد عا تو ته رواج ورکوؤنکو تسلی نه کیږی نو بیا دا وائی ولے داریډیو او تی وی والا نه پوهیږی څه؟ نو ولے ریډیو یا تی وی څه دلیل دے څه؟ دے وائی په تی وی کښی پکښی "والدرجة الرفیعة" وائی، دا غلط وائی کنه کتابونه شته په هغے کښی پکښی " والدرجة الرفیعة" نشته نو ته ئی پکښی ولے وائی. نو دَ دے دعاخیال سا تل پکاردی. ځکه په دعا ګانو کښی (چونکه دعا عبادت دے)

ومبنی العبادة علی النقل . په عباداتو کښی به نقل چلیږی ځکه دے ملك کښی ډیردا سے خلق شته چه خپلے خپلے طریقے خپلے

خپلے دعاګانے خپل خپل درودونه دا دے خلقوسا ز کړے دی پنجاب طرف تـه درود تاج اوبعض وائی پیغمبرچا خوب کښی اولیدواوفلانکی درود ئی ورتـه اوخودلو وے دین په خوبونوسره نه ثابتیږی نبی کریم ﷺ چـه کـوم درود د آسمانونه را و ړے وو ته په هغـے نه ئی خوشحاله، ته په هغـے نـه ئی مـطـمـئـن څومره محدثین چه دی هغوی چه کله کتاب الـجنائز ذکر کوی نو په جنازه کښی درود چه ذکر کوی نو درود ابراهیمی ذکر کوی په دے وجه مفتی کفایت الله تعلیم الاسلام کښی ذکر کوی .

" جنازہ میں بھی وہ درود پڑھو جو تشہد والی ہے۔"

دا غـوره درود دے او دا ثـابـت هـم دے. یـو طـرف ته یو درود پاك یو دعا احـادیـثـو مبارکو کښی ثابته ده او دَ بلـے دعا دَ الفاظو ثبوت نشته نو ته ولـے د پیـغـمبـر ﷺ هـغـے له ترجیح نه ورکوی ځکه زړه کښی پیغمبر سـره مـیـنـه نشتـه. دا رنـګـے ډیر امامان صاحبان تحقیق نه کوی بس پخوا نه ئی چرته دعا یاد کړے وی.

"حیّنا ربنا بالسلام ، اللهم انت السلام و منك السلام وادخلنا دارالسلام ."

امـام مسـلـمؒ څـو ځـایه دا دعا نقل کړے ده خو د هغـے الفاظ صرف دومره نقل دی . "اللهم انت السلام و منك السلام تبارکت یا ذا الجلال والاکرام." دا ور پسـی الـفـاظ صـحـیـح احـادیـثـو کښی نشته خوسړی چا ته اوائی څـوك ایـزده کـوونـکی نشته، څوك پو هه حاصلوونکښی نشته نو د مـانـځـه نـه روستـو دا دعـاثـابـت ده د فرض مونځ نـه رو ستو نبی علیہ السلام وئیـلـے ده امـام مسـلـمؒ دا ر وایت ذکر کړے خو چونکه ځمونږ غوږونه هـغـه پخوانو غلطو الفاظوسره اشنادی نو نن ور ته که ته صحیح خبره کـوی نـو دی وائی ولـے دا دومره خلق نه پو هیده، حدیث کښی صرف د

غـه ځائـے پورے نقل ده، اوس نوره ستا خوخه ده چه ته د نبی ﷺ په الـفاظو مطمئن نه ئی او چه خپلـے ټکړے ور سره او لګوی نو په هغـے مطمئن کیږی دا خو عجیبه مسلمانی ده.

نـو پـه دے وجـه مـونږ د حسن خاتمـے اسباب بیا نول په هغـے کښـی یـو دعائـے و سیله لو ستل. دا ګنړو کتابونو ذکر کړے ده په هغـے کښی "والدرجة الرفيعة" نشته دے. نو چه بس کوم ځائے پورے ثابته ده هغه ځائے پورے وئیل پکار دی نو نبی ﷺ فرمائی چا چه دا دعائے وسیله اولوسته د هغه د پاره ځما شفاعت واجب شو . دَ دے دعا الفاظ په صـحیـح بـخاری کښی ذکر دی، سنن ابی داؤد او دا رنګـے امام ترمذی او مصنف ابن ابی شیبه کښی ورسره د "انك لا تخلف الميعاد" اضافه هم.

د حسـن خـاتـمـے اسبـابـو کښـی دویـم مسـواك کول وو. دریم نـظرحفاظت کول . دا رنګـے نو ر هم د حسن خاتمـے ګنړ اسباب دی خو دے سره چـه مـونږ د سوئـے خـاتمـے اسباب هم اوپیژنو یعنی د انسان خـاتـمـه په څه نا کاره کیږی هغه کوم څیزونه دی چه هغـے سره د انسان آخـری و خت بـے ایمانه اوګرځی (دا څومره د نقصان خبره ده) ډیر کرته یو انسـان شپیتـه کـاله اویا کاله عبادتو نه کړی وی. خیراتونه ئی کړے وی، او آخـری خـاتـمه ئی غلطه شی الله دے مونږ او تا سو د نا کاره خاتمـے نه او سا تی ځکه اصل اعتبار خو خاتمـے لره دے څوك چه چا ته دعاکوی. " الله دے آخری خاتمه خائسته کړه" نو دا ډیره ښکلـے دعاده.

دَ سوئـے خاتمـے هم ګنړ اسباب دی . مونږ یو څو ذکر کوؤ.

اول سبب: خپلووالدینو ته تکلیف رسول. د چا نه چه مور او پلار خفه ئـی او پـلار ئـی پریشانه کړے ئی دمور اوپلار ازاری اغستـے ئی ددے

کسانو خاتمے به صحیح نه ئی ځکه د مور او پلار خدمت خو عبادت ګرځولے شوی دی. د مور اوپلارد خپولاندے جنت دے ځکه دا مور اوپلار لوئی دولت دے .قرآن کریم کښی چه الله تبارك و تعالیٰ خپل حق ذکر کړی نو هلته ور سره اکثر ځایونو کښی وائی﴿وبالوالدین احسانًا﴾ ګوری یاد ساتئ مور او پلار سره به احسان کوئ مور او پلار به نه خفه کوئ.

بعضی روایا تو کښی راځی د الله تبارك و تعالیٰ خوشحالی د مور او پلار په رضا کښی ده او د الله تبارك و تعالیٰ خفګان د مور او پلار په خفګان کښی دے د چانه چه مور او پلار خفه وی نو الله به ترے نه خفه وی دے باره کښی بعضی روایاتو کښی یو واقعه ذکرکړے ده یو صحابی دے سیدنا علقمه ﷺ ډیر خه صحابی دے آخری و خت ئ دے، بیمار دے، او بس زنکدن ئی شروع کیدو والا دے نو مسئله دا ده چه کوم یوتن باندے داسی سختے ئی نو دهغه په مخکښی ذکر او اذکارکوئ کلمه شهادت ور ته شروع کړے ځکه حدیث پاك کښی راځی: "من کان اخر کلامه لا اله الاّ الله د خل الجنه " د چا په ژبه چه آخری الفاظ دا را غله چه لا اله الا الله نو دا انسان جنتی دی. نو د االفاظ به اوس د چا په خله راځی. چه ذکر اذکار اکثر کوی چه ددے کلمے پشان عقیده او عمل ئی وئی ځکه یو انسان ته په هغه څه کښی مرګ راځی چه هغه کوم کار کښی مصروفه ئی چه د انسان کوم سوچ او کوم فکرئی نو هغے کښی ور ته مرګ راځی . په دے باندے یو داکټر کتاب لیکلے دے هغه د ډیرو مریضانو حالات بیان کړے دی وائی هغه مریضان چه ځمونږ په مخامخ ترے نه ساه اوتے وی هغه ذکر کوی چه یو تن دے ساه ورکوی

نو د ساه ورکولو په وخت کښی د هغه په خلے باندے کلمه نه راځی او دا چغے ووهی" دا په لس نه دا په شل دا په لس نه دا په شل" او بس ساه ئی ورکړه. ځکه دَ هغوی ټول سوچ په دیکښی ئی که مونږ او تاسو خیال کړی ئی کنه چه کوم یو انسان کوم سوچ او کوم فکر لری نو چه دے کله او ده شی کله په خوب کښی هم هغه چغے وهی کوچوان لګیا دے چغے وهی او اس ته ګزارونه ورکوی. دا رنګے یو کنډیکټرهم چه په ژبه ئی د الله رب العزت د تو حید نوم نه ئی په ژبۀ ئی کلمه د لا اله الا الله نه راځی. مونځ اودس ته اوزګار نه ئی نو هغه دورځے لګیا دے.ګدر، جبر، شنکر، د لاسه کوز شه و ر خیجه ورکړه کرایه و اخله بقایا چلو استاد، نو که تا سوخیال کړے ئی په خوب کښی هم دے لګیائی او دا چغے وهی.

نو چه انسان ته مرګ را شی نو چه په کوم کار کښی لګیدلے وی اکثر هغه سوچ او فکر د هغه وی. په بخشالی کښی یو جټ زمیدار تن وو. خو ډیرنیك او الله والاتن وو د زنکدن حالات ئی شروع شو او چاته پته نه لګی، خپلوبچو ته وائی چه بچو دا صحن جارو کړئ . ګر بتی اولګوی. ګلدستے کیدوی. څه میلمانه راروان دی دغه ځائے کښی ما ته ښکاری. بچوئی ووئے خدائے خبر چه د پلار مو دماغ خراب شو که څه چل دے، خو مخکښی چرته داسے چل نه دے کړے. او دا خبرئی کولے. چه میلمانه را روان دی صفائی اوکړی. او بس دیکښی ئی ساه ورکړه.

د بعض خلقولاسو کښی تسبیحات وی او ساه ورکړی. د قرآن کریم تلاوت کوی او ساه ورکړی.

صوبه سنده کښی یو مشر وو تبلیغی مشوره کیده او په هغے کښی ناست وو او ملګری هم ورسره ناست دی په دیکښی دی لږ شان اودریدو خو پوره اودریدلے نه وو او ډیر په خوشحالئ سره ئی لاس اوچت کړو کله چه څوك د سلام دپاره لاس ورکوی، ملګری ئی وائی مونږ اُووئے خدائے خبر چه پیریان دی که څه دی. او بس دیکښی ئی ساه ورکړه. په جومات کښی دے څومره خوش قسمته وو.

او ځمونږ چه روزانه په خلے باندے کنځلے ئی ، بدردئی غیبتونه ئی نو ځمونږ په خله به څنګه کلمه شهادت نصیب شی ځکه نبی علیہ السلام فرمائی ''من کان اٰخر کلامه لا اله الا الله دخل الجنة'' اس الله دے په خپل فضل سره ځمونږ دا کلمه په خلے را ولی که ځمونږ عمل ته شی که ځمونږ کردار ته شی نو ډیر ګرانه ده ځکه وائی د الله په لوئی کرم به کیږی په عقل ګرانه ده ځما د جانان مینه

نو سیدنا علقمه رضی اللہ عنہ دے هغه ته ملګری ګیر چا پیره ناست دی. او ''لا اله الا الله، اشهدان لا اله الا الله '' وائی خو دَ دے صحابی په خلے باندے کلمه نه جاری کیږی. ملګری ئی پریشانه دی چه دا څنګه چل دے، ده صحابی لویه درجه وی، ده نبی علیہ السلام ته خبر ورکړو چه اے د الله رسوله ﷺ دَ علقمه رضی اللہ عنہ په ژبه کلمه نه راځی او ساه ترے نه نۀ اووځی. نبی علیہ السلام را غے ذکر ئی شروع کړو ''لا اله الا الله'' تلقین ورته کوی خو بیائی هم په ژبه کلمه نه راځی . نبی علیہ السلام تپوس اوکړو چه دده مور ژوندے ده وویلی شو چی آؤژوندے ده نو مور ئی ورته راوسته. د هغے نه تپوس کوی چه ته دَ دے علقمه رضی اللہ عنہ نه خوشحاله ئی او که خفه ئی هغه وائی زه دَ ده نه خفه یم پیغمبر ﷺ

ورتـه وائـی چـه مـعـافی ورته اوکړه نو هغـے اووئـے چرے ئی هم زه نه مـعـاف کـووم. ځـمـا زړه ئـی خـفـه کړے دے (ځکه دَ دے مور او پلار مثـال دَ مـاشومانو شی په وړه وړه خبره خفه کیږی بیا خاصکر چه اولاد ددے قـابـل شـی چـه هـغـوی تـه رشتـه او شی واده ورته او شی نو بیا د مـوراوپلار نورے هم ګیلـے سیوا شی په لکونو او بنګلو نه خوشحاله کیـږی بـس صـرف تـه ور سره لږ ساعت ماسختن کینه ور ته وایه جی دعـاګانـے را تـه کـوئ. د یـو روپے نیمـے څیز ور ته اخله وئـے جی دا وا خـلـے نـو دعـا بـه در ته کوی د مور اوپلار چه عمر سوا کیږی مثال ئی دمـاشومانانو کیږی بل دا چه ددے مور او پلار خپلو بچو د پاره څومره آرزګانـے امیدونه ئی.....

خـو چـه کله وا ده او شو نو مور او پلار ترے نه پاتـے شی نو بیا ددغه مور او پلار زړه یو درد اوکړی)

نـود علقمهؓ مور وائی اے د الله رسوله خفه یم ترے نه نبیؐ پو هه شو چه مورئی ډیر خفه ده او نه رضاکیږی او نبیؐ خو ډیر حکیم انسان وو نـونبیؐ خپـلـو مـلـګروتـه اووئـے چه لږ خشاك را غونډ کړے نو مورئی تپـوس کـوی چه څه دپاره نبیؐ ور ته او فرمائیـل چه علقمهؓ پدے سوزوم نـو مـورئی اووئـے چه اے الله رسوله پدے او رخومی نه سود کیږی نبیؐ ور تـه او فرمائیـل چه ته ورته معافی نه کوی او ده نه ساه اوځی نو دے به جهـنـم کښـی ټـول عـمـر په اور سوزی. نومور ئی خبره سمجهـ ته راغله (ځـکه یو انسان په خبره پو هه کول ډیر وخت اخلی "کلم الناس علی قدر عـقـولهـم" چـه کـله مور ئئ په خبره پو هه شوه نو هغـے اووئـے بس ما دَ زړه دَ اخـلاص نـه معاف کړو. کتابونه ذکر کوی چه د غه وخت دَ هغه په

خله کلمه دَ "لا اله الا الله" راغله او ساه ئی ورکړه.

نـو مور او پلار خفه کول مور او پلارته اذیت ورکول مور اوپلار پریشانه کول دا سبب دے د سوئے خاتمے.

دویـم سبـب: علماء ذکر کوی د سوئے خاتمے د پاره یو سبب تکبر دے. دَ کوم انسان چه زړه کښی تکبر راشی نو دا دَ دۀ دَ پاره تباهی ده.

دَ تـکبـر مـطلب: د تکبر مطلب دا دے چه د دۀ ته دا نور خلق اډو د سړی ځامن نه ښکاری چه دے وائی ځما پشان هیڅ څوك نشته.

"ہم چوں دیگرے نیست" کـه یـم خـوزه یـمـه نـو دا تکبر دے، دَ تکبر دَ وجے نه خـاتـمـه نـاکـاره کیـږی، تـکبر شیطان اوکړو. الله تبارك و تعالیٰ آدم علیہ السلام ته وجـود ورکړو نو الله تبارك و تعالیٰ حکم اوکړو چه تا سو په طرف دَ آدم علیہ السلام سـجـده اوکـړئ نـو شیطان سجده او نه کړه اودے ووئیل ﴿انا خیرٌ منه﴾ زه غوره یم ﴿واستکبر﴾ ځان ئی غټ او ګنړلو چه زه خو ډیر خه یمه نو د هغه انـجـام څه شو؟ د قیامت د ورځے پورے لا محدود، لا متناهی ، نعمتونو نه را بهر شو. ذلیل شو مردود شو ، ملعون شو "اعوذبا الله من الشیطان الر جیم" شیطان رتلے شوی د تکبر د وجے نه.

فـرعـون کښی هـم یـو لـوئـے تـکبـر وو. بـنی اسرائیـل ئی ټول کـمـزوری خـلق ګنړل د هغه د تکبر انجام څه شو ﴿و اغر قنا ال فرعون﴾ فـر عـون ووئـے ما سره اقتدار دے ما سره عهده ده ﴿انا ربکم الا علیٰ﴾ چـغـه ئـی وهـلـے وه. ستـاسو لوئـے رب خوزه یمه . خلقوته ئی ووئـے ګـوری یاد سا تی ستا سو د پاره بل خدائـے نه وینم که یم نو زه یمه نو دا ډیـر غـلـط سـوچ دے کـه یم خو زه یمه. شیطان وائی" چه څوك وائی چـه زه یـمـه دا سـے به شی چه لکه زه یمه" او که ته وے چه زه یم او زه

ویمه چی زه یم نو نه به ته ئی او نه به زه یم "

دا ډیر خراب عادت دی" زه، انا، ځما" د انسان خاتمه تباه کوی او مونږ کښی نن دا څیز راغلے دے. او که دا مزاج د انسان جوړشی، او تواضع را شی عاجزی راشی چه :

" میں کچھ نہیں، میرا کچھ نہیں، میں خاک تھا خاک ہوں اور خاک ہوجاوں گا"

نو دابه سبب وی دَ حسن خاتمے دَ پاره چه زه څه هم نه یم ځما هیڅ حیثیت نشته ځما قدرت او طاقت نشته. دا مال او دولت هر څه پاتے دی. دا مال او دولت تا سره قبر ته تلو دپاره ندی تاله قبر دعذاب نه د نجات ورکولو د پاره ندی دا به هغه صورت کښی تاله د نجات سبب اوګرځی چی دالله د رضا دپاره ئی استعمال کړی. دے باره کښی یوواقعه ده ده مردان طرف ته یو تن تیر شوی ډیر مال او جائیداد ئی وو نو یو تن ور ته اووئے چه حاجی صاحب دا زمکے او جائیداد ځان سره قبر ته نشی اوړی هغه اووئے زه به ئی ځان سره آخرت ته اوړم. علماء ور ته اووئے چه دا ته څه وائے؟ دا هر څه پاتے دی ..... بیا هغه خپل بچی راغونډ کړه بچو ته وائی ما ته پته ده که زه مړشم نو دا غونډ جائیداد به تا سو ته پاتے شی تاسو ما پسی روپے هم نه لګوی د غه رسمونه رواجونه به کوی جمعے، مابنامونه ده قبر پخول دی کلیزه. بیا خبره ختمه بیا ما پسی د ایصال ثواب د پاره هیڅ هم نه کوی نو تاسو خفه کیږی مه تا سو ته می خپله خپله برخه جدا کړه او باقی حصه زه دارالعلوم ته ورکوم ستاسو به دیکښی هیڅ قسمه اختیار نه وی. پوره لیکل ئی ورسره اوکړه او مدرسے د پاره ئی انتقال اوکړو. بیا هغه علماء چه کله دهغه غم ته را غله او بیان ئی کولو نو بیان کښی

ئی اووئے چه حاجی صاحب به وئے چه دا به زه ځان سره اوړم نو واقعی چه ځان سره ئی آخرت ته یوړه.

نو او ګوره فرعون تکبر کولو خپل مال، خپلے عهدے، خپل صدارت باندے مغروره وو نو څه او شو الله فرمائی د نعمتونو نه می را بهر کړو مو سی علیہ السلام او بنی اسرائیلو پسے را روان شو د خپل تخت او اقتدار نه بهر شو. موسی علیہ السلام او بنی اسرائیل الله بچ کړه ﴿اغرقنا ال فرعون﴾ الله فرمائی فرعونیان می غرق کړه. نو تکبر ډیر خطرناك څیز دے. الله فرمائی:﴿ساصرف عن اٰیتی الذین یتکبرون فی الارض﴾

زه د خپل کتاب د فهم نه هغه خلق بندوم چه په چا کښی تکبر دے یو حدیث پاك کښی راځی، حدیث قدسی دے:"التکبر (الکبریاء) ردائی"

دا لوئی ځما شان دے الله فرمائی دا لوئی ځما څادر دے. نو ولے یو سړی ما سره جهګړه کوی او ځمانه دا څادراخلی . په تکبرالله ډیرخفه کیږی او بعض روایاتو کښی راځی . دا کوم خلق چه وائی زه یمه. د قیامت په ورځ به ددی حشر دنرو میږو په شکل کښی کیږی . د خلقو د خپو لاندے به راځی. دوموره به ذلیله ئی ټوله دنیابه ئی ووینی چه دا هغه تکبروالا خلق دی. که الله ور ته لږشان لوئے بول واړه بول بندول نو بیا ور ته چل نه ورتلو. او دومره تکبر او دومره لوئی ئی کوله یو غریب فقیر سړی وو په لاره روان وو نویو ډیر مالدار سړی ور ته ووی ته ما پیژنی نو هغه غریب ور ته وائی آؤ. زه د ے پیژنم که دا څر من دے لږ شان لری شی نو وینه به ترے روځی، نو هغه وینه هم ګنده ده او دننه ټول د ګندونو بو جئی ئی مړه. دا حقیقت دے انسان ته الله

ډیر عزت ورکړے ډیر شرافت ورکړے نو دے کله کله ځان او نه پیژنی دے وائی کـه آسـمان مـا ټیـنګ کړے. مـونږ سره چـه لږمال، بینك بیـلـنـس ګـاډی را شـی نـو ځـمـونـږ مثال پشان دهغه چتی شی. چتی آسمان ته خپے بره کړے وی او وے ئی د آسمان ما ټینګ کړے.

نـو سـوئـے خـاتـمـے پـه اسبابو کښی یو د مور اوپلارنا فرمانی کول دی .دویم سبب تکبر کول او ځان لوئی ګڼړل

دریـم سبـب: د الله پـاك نیکانوبندیګانو سره اولیاء کرامو سره بغض سا تل چه کوم د الله دو ستان دی ، الله والاخلق دی، دین والا خلق دی په زړه کښی هغوی ته سپك کتل نبی علیہ السلام فرمائی ، چه الله فرمائی .

" من عادلی ولیاً فقد آذنته بالحرب"

څـوك چه ځما ولی ته، علم والا ته، دین والا ته بد ګوری الله فرمائی ځماد طـرف نـه دے سړی تـه اعلان جنګ دے، یو انسان تاته صحیح عقیده ښائی، صـحیح عمل بیانوی. تا نه څه څیز طلب کوی نه . ، الله فرمائی چا چه ځما دوست ته سپك او کتل نو دے سړی ته ځماد طرف نه اعلان جـنګ دے کـه مـونږ قرآن او احادیث ټول ستړی کړو نو دیکښی صرف دوه ځـایه د الله د طرف نه اعلان جنګ دے. الله سره څوك جنګ کولـے شـی؟ هـغـه کـس چـه اولیاؤ ته بد ګوری، لوئی اولیاء خو انبیاء کرام دی، صـحـابـه کـرام دی بیـا هـغوی پسـے ائمه مجتهدین دی دارنګـے د هغه زمـانـے کـوم نیکان او پاك خلق ئی نو چه څوك دوی ته سپك ګوری نو احادیثو کښی د دا سـے خلقو خلاف اعلان جنګ دے.

او دویم قرآن کریم ذکرکوی چه کوم خلق د سود نه نه منع کیږی.

د سـود اوګانږو روز ګار کوی په غلطو طریقو سره خپل مال سوا

کوی نو چه سودی معاملات ئی اګر که نوم ئی بدل شی . دایاد سا تل پکاردی که خرته څوك نوم بدل کړی خو هغه خرورسره نه بدلیږی. که سود ته څوك نوم پروفټ کیدی. که څوك ور ته بجټ سکیم کیدی، که څوك ور ته منافع وائی خو یاد سا تئ دا سود حرام دی، سود حرام دے. سود حرام دے الله او پیغمبرور ته حرام وئیلے نبیؐ فرمائی څوك چه د سود یوه روپے حاصلوی هغه دا سے ده لکه چه د خپلے سکه مور سره شپږ دیرش کر ته زنا کوی. نو په دا سے لکهونو او کروړونو به څوك څه کوی نو دے کس ته هم د الله طرف نه اعلان جنګ دے.

په دے وجه ځماعزتمندو مونږ او تا سو ته پکار دادی چه دسوئے خاتمے د اسبابو نه ځان او سا تو او د حسن خاتمے اسباب اختیارکړو. نو ګویا چه دا څو خبرے شوے. د تیر شوی بیان مضمون او ددے بیان مضمون چه مونږ یاد کړو اوددے دعوت او تبلیغ اوکړو. چه دهغه چا خاتمه به خائسته ئی چه د آذان نه ور ستو دعائے و سیله لولی.مسواك کوی. د نظر حفاظت کوی.

د هغه چا خاتمه به ناکاره ئی چه مور اوپلار خفه کوی تکبر کوی نیکانو خلقو ته بد ګوری.

الله تبارك و تعالیٰ دے زمونږ او ستاسو بلکه د تمام عالم د مسلمانانو خاتمه په ایمان اوکړی او الله دے مونږ د ناکاره خاتمے نه او سا تی . آمین ثم آمین


اقول قولی هذا استغفرالله لی و لکم ولسائر المسلمین .

سبحانك اللهم و بحمدك اشهدان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك

★★★★★★★★★★★★

خطبہ نمبر: ''۱۶''

دَ روژے مسائل



شپارلسمه خطبه : "دَ روژے مسائل"

الحمد لله نحمده و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا .....

اما بعد فقد قال النبی ﷺ "لخلوف فم الصائم اطیب عند الله من ریح المسك." و قال النبی ﷺ: یقول الله تبارك و تعالی: "الصوم لی و انا اَجزِی به ، و فی روایه و انا اُجزیٰ به" او کما قال النبی ﷺ ﴿ان الله و ملئکته یصلون علی النبی یٰاَیها الذین اٰمنوا صلوا علیه و سلموا تسلیماً﴾

عزتمندو مسلمانانو ما یو دوه حدیثه ذکر کړه. ددے دواړو احادیثو مبارکو د روژے د میاشت سره یو لوئی نسبت دے او په دے دواړو احادیثو مبارکو کښی د روژه دار هغه مقام، د روژه دار هغه شان، د روژه دار هغه عظمت او د روژه دار یو لوئی مقام ښودلے شوید ے ډیر کرته ډیر داسے کارونه او ډیر دا سے اعمال شته چه د انسان په نظر کښی د هغے هغه دومره حیثیت نه وی خو عند الله د هغه عمل ډیر لوئی حیثیت وی یو په هغه اعمالو کښی عمل د روژے دے.

روژه د سحر د را ختونه تر د نور د ډوبیدو پورے د الله په بندګانو باندے په دے میاشت کښی پابندی وی د خوراك څکاك نه او د نورو بعض ضروریات انسانی نه . نو انسان په دے کښی خوراك څکاك نه کوی د ملائك صفت هم دا دے چه چه ملائك خوراك او څکاك نه کوی نو ګو یا چه په دے روژه کښی د الله دبندګانو د انسانانو د روژه دارو د ملائك سره یو مشابهت راشی(یو شان والے راشی)

دویم دا دے یو حدیث پاك کښی رازی چی نبی علیہ السلام فرمائی :

"لخلفوف فم صائم اطیب عند الله من ریح المسك"

اے مسلمانانو راشی د روژه دار مقام او ګورئ راشئ روژه دار هغه

حیثیت او ګوری. را شئ دروژه دار عظمت او ګورئ

مونږ او تا سو خو وایو چه خوراك څكاك به نه كوؤ بس دا روژه ده دے خوراك څكاك نه كولو سره ددے انسان دومره عظمت او دومره لوئی فضیلت او ګر ځیدو. دا یو دومره یو صاحب فضیلت انسان او ګرځیدو دا یو دومره صاحب مقام انسان او ګر ځیدو چه نبیؐ فرمائی. "لخلوف فم الصائم اطیب عند الله من ریح المسك"

چه كله دانسان معده خالی ئی نو د انسان د خلے نه یو وګمه شان راوځی نو نبی علیہ السلام فرمائی د غه وګمه دَ روژه دار دَ خلے نه چه راؤزی نو دا هم الله ته ډیره ګرانه ده نو روژه داربه ور ته څومره ګران ئی د هغه مشكو عنبرو خوشبوئی نه الله ته د روژه دار د خلے د غه و ګمه ډیره زیاته غوره ده او ډیره ئی خو خه ده ځكه خود روژه دار دومره لوئے حیثیت دے كه په دے میاشت كښی څوك نفل عبادت كوی الله ور ته په فرضو سره بدلوی او كه فرض ئی ادا كولو نو په او یا فرضو سره ئی ور ته بدلوی. داد روژه دارمقام دے خوكه دے میاشت كښی ګناه ئی كوله نو د ګناه حیثیت به ئی هم سوا كیږی.

او ګوره تاته الله یو فرض په اویا فرضو سره بد لوی نو څومره بد قسمته به ئی هغه مسلمانان چه په دے میاشت كښی نو ا فل خو څه كے، فرائض هم ترے نه فوت كیږی. دا خود نیلام یو میاشت ده دیكښی صرف نیكے دے او نیكے دی. او په دیكښی به هم دا سے مسلمانان ملاؤ شی چه هغوی به فرض مونځ ته هم نه اوزګاریږی، نو ډیر مسلمانان به د روژے دے عبادت ته هم نه اوزګاریږی. دے ته به ئی ملاماته وی .

خو نبی ﷺ فرمائی:''د روژه دار د خلے هغه وګمه الله رب العزت ته د مشکو عنبر و نه زیاته ګرانه ده'' نو دا روژه دار به ور ته څومره ګران ئی.

بعض روایا تو کښی راځی کله چه مسلمانان افطاری ته ناست ئی په وخت دا فطاری کښی هر قسمه خوراك د مخے ته موجود دے هر قسم مشروبات مخے ته موجود دی. هر قسم اشیاء پرا ته دی او د الله رب العزت د طرف نه اعلان ندے شوی نو مجال شته یو مسلمان د هغے نه لږ خوراك هم نه را خلی چه دے ژبے باندے ئی او لګوی چه د غه افطاری په وخت کښی الله رب العزت ډیر زیات خوشحاله ئی پدے وجه احادیثو مبارکو کښی ددعا ګانو د قبولیت په وختونو کښی یو وخت د افطاری هم دے او هغه و خت اکثر ځمونږ نه په فضولیاتو کښی تیرشی. مونږ ډیرمسلمانان اکثرروژه لنډو نو ګپ شب لګوو. اوس دغه وخت دَ دعا دَ قبولیت دے، الله رب العزت د برے نه ملائکو ته وائی اے ملائکورا شی او ګوری ځما دے بندګانو ته نظاره او کړے د هغه مشرق نه را وا خلے د مغرب پورے او د شمال نه را وا خلے تر جنوب پورے دے غونډه دنیا کښی او ګوری دا څومره مسلمانان دی څومره خوراك څکاك ور ته پروت دے خو ځما د طرف نه حکم نه دے شوی نو په انتظارکښی ناست دی. بیا الله پاك ملائکوته حکم کوی هر مابنام د افطاری په دوران کښی اے ملائکو لاړشی یو لس لاکھ هغه مسلمانان چه هغوی جهنم کښی دی نو هغه مسلمانان د جهنم نه راؤباسی او جنت ته ئی راولے. نو لس لاکھ په ورومبئ روژه لس لاکھ په دویمه روژه ..... روزانه دا سے لس لاکھه راوباسی.(دا روایت ضعیف دے)

په دے وجه ځما عزتمندود رمضان المبارك ددے یویو لمحه یو یو ساعت، یو یو سکینډ دا ډیر زیات قیمتی دے ګوری بیا چه کله ورځ دا ختر شی نو احادیثو مبارکو کښی راځی. چه کله مزدورمزدوری او کړه هغه ته د مزدوری په آخر کښی بدله ور کولے شی د اختر په آسمانونو کښی په ملائکو کښی نوم دے " یوم الجائزه " د مزدوری ورکولو ورځ نو دا ختر په سحر الله تبارك و تعالیٰ ملائکوته اعلان کوی چه تا سو درمضان المبارك په دے میاشت کښی چه هر مابنام لس لس لاکهه مسلمانان جهنم نه رویستے دی. د هغے ټولو برابرنن دجهنم نه راوباسئ..... دا خوددے میاشت مقام دے .

ځکه ما چه کوم دویم حدیث مبارك ذکر کړے دے دیکښی نبی ﷺ فرمائی چه الله فرمائیلی دی(حدیث قدسی دے) الله فرمائی اے ځما بندګانو "الصوم لی وَ اَنا اَجزِی به" دیکښی دوه قسمه روایات راغلی دی، یو کښی راځی "و انا اَجزِی به" او بل کښی راځی "وانا اُجزٰی به" الله فرمائی دا روژه ما دپاره ده.

اعتراض: ذهن ته سوال راځی چه ولے دا مونځ د بل چا د پاره دے څه؟ د حج، زکوٰه، خیرات صدقات د بل چا د پاره دی څه؟

جواب : دغه هم د الله دپاره دی. خو حدیث کښی راغله چه الله فرمائی چه دا روژه ما دپاره ده خصوصیت سره ئی ذکراوکړو. د هغے وجه داده کله کله انسان مونځ اودس کوی نو دے دپاره چه دا خلق راته مونځ ګزار اوائی خلق را ته خه سړی اوائی. اوډیر خلق حج کله کله دے دپاره کوی، چه خلق را ته حاجی صاحب اوائی. ډیر خلق شته زکوٰه، خیرات او صدقات دے دپاره کوی چه خلق به را ته سخی صاحب اوائی نو په

دے عباداتو کښی دریا شائبه شته. نو رو عبادا تو او اعمالو کښی دا ګنجائش شته چه په هغے کښی انسان نیت غلط شی. نیت دے خراب شو، ریا پکښی را غله دکهلاوه پکښی راغله، شهرت پکښی راغلو ، نمود پکښی را غلو، خلقونه ځان ښودنه پکښی را غله خو روژه کښی دا څیز نشی کیدے مثال په طور زه خلقوته وویم ایماندارو ځما روژه ده او بره چهت ته او خیژم او جیب کښی را سره دا و بو بو تل دے او هغه او څکم چا ته خو پته نه لګی. خو الله ته خوپته لګی ځکه خو الله فرمائی " الصوم لی اونا اجزی به ..... دا روژه ما دپاره ده او زه پخپله ددے بدله ورکوم د مونځونو بدلے به الله ملائکو ته او فرمائی چه دے مونځ کوونکو ته بدلے ورکړے. دے حج کوونکو ته بدلے ورکړے دے زکوٰه والا ته بدلے ورکړئ د غه مقام او دغه جنت ور ته ورکړے. او الله به او فرمائی.


روژه دارو دیخواراشئ زه نن په خپل لاس سره تا سو ته بدله درکوم، دا د روژه دار مقام شو، دومره لوئی حیثیت ئی دے .

مونږ او تاسوته پکاردی چی دے میاشت کښی ډیر عبادات ذکراذ کار تهجد تلاوت دینی مطالعه، مسلمانانو سره همدردی اوکړو او د روژے یو یو لمحه قیمتی کړو الله دے مونږ او تاسوته آسانه کړی.

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ''١٧''

رمضان المبارک



اُولّسمه خطبه : "رمضان المبارک"

اعوذ بالله من الشيطان الرجيم ، بسم الله الرحمن الرحيم .

يـاَيُّها الذين اٰمنوا كتب عليكم الصيام كما كتب على الذين من قبلكم لعلكم تتقون﴾ و قال النبی ﷺ:"ان لله تبارك و تعالیٰ عتقاء فی كل يوم وليل و ان لكل مسلم فی كل يوم وّ ليله دعوه مستجابه"

عـزتـمـندومسلمانانو مشرانوما د قرآن كريم يو آيت مباركه او ذخيـره احاديثـو نـه يـو حـديث طيبـه هغـه ذكر كړو ددے جمعے پـه مناسبت سره چه داد شعبان اعظم دمياشتے ددے آخری جمعه ده دے نـه ورستو چه كومه مياشت شروع كيدو والا ده هغه د رمضان المبارك ميـاشـت ده او پـه تـمـامـو ميـا شتـو كـے ددے مياشت يوخپل حيثيت دے، دے د هغـے يـو خپـل عـظـمـت دے او د هغـے يو لوئی مقام او شـرافـت دے څنګه چه په تمامووړځو كښی د جمعے ورځ اعلیٰ ده په تـمـامـو مـلائـكوكښی جبريل امين مقام او چت دے ، په تمامو انبياء، كـرامـؤ كښی د جناب نبی كريم ﷺ شان او چت دے دا رنګے په تمامو ميا شتو كښی د رمضان المبارك حيثيت اومقام ډير زيات دے.

درمـضـان الـمبارك دا دومره لوئی مقام د څه دوجے نه دے؟ نو يـو په دے وجه چه په دے مياشت كښی د الله د كتاب نزول شوی دے يـا د لـوح محفوظ نه آسمانی دنيا ته داقرآن كريم نازل شوی وو مكمل پـه ميـاشـت د رمـضـان الـمبارك پـه ليله القدر كښی او بيا دهلته نه په ديـرويـش كـالـه كښی د وخـت پـه مـنـاسبت سره لږ لږ نازليدو نو دے مياشت كښی د الله د كتاب نزول شوی دے.

پـه دے ميـاشت كښی الله رب العزت په خپلو بنديګانوباندے روژے

فرض کړے دی. او روژه څه ته وائی ؟ خوراك څکاك نه کول اوخپل شهواتی قوتونه د باؤ ساتل. د ملائکو صفت دے خوراك څکاك نه کول نو گویا چه دے میاشت کښی دَ انسانانود ملائکو سره مشابهت راشی. د الله رب العزت صفت دے خوراك څکاك نه کول نو د انسان نسبت پیدا شو د ملائکو سره، د هغه پاکو خلقو سره، الله رب العزت د خپل کتاب قرآن اسرار او رموز، دَ دے فهم په روژه دار انسان باندے کهلاووی ځکه دا قرآن کریم په رمضان کښی نازل شوی دی.

بعض مفسرین ذکر کوی آسمانی کتابونه اکثر په میاشت د رمضان کښی نازل شوی دی. نو ددے میاشت مقام خوډیر اعلیٰ دے حدیث پاك کښی راځی نبی علیہ السلام د روژے نه مخکښی میاشت په آخری ورځ باندے صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ته خطبه وئیلے وه .

"یا ایها النّاس قد اظلکم شهر عظیم مبارك" اے خلقو په تاسو الله تبارك و تعالیٰ یو میاشت نازلونکی ده، په دیکښی د الله د رحمتونو سوری وی، مبارکه میاشت ده. "شهر" دا دا سے میاشت ده : "فیه لیلة خیر من الفِ شهر" چه دیکښی یو شپه د ایك هزارمیاشتو دَ عبادت نه غوره ده. لیلة القدر. چه انسان په دے رمضان المبارك کښی هره شپه عبادت کوی نو هغه شپه پکښی ضروررا ځی که دے انسان ته پته اولگیده او که اونه لگیده بل نبی علیہ السلام او فرمائیل "شهرٌ" دا داسے میاشت ده "جعل الله صیامه فریضة" الله رب العزت دیکښی روژے فرض کړے دی. "و قیام لیله تطوعاً" دیکښی الله رب العزت د شپے قیام (تراویح) د ثواب څیز گرځولے دے، د ورځے روژه نو د شپے تراویح (بس دَ الله سره نسبت قائمیږی)

نبی علیہ السلام اوفرمائیل:"من تقرب فیه بخصلة من الخیر کان کمن ادی فریضةً منه فریضه فیما سواه."

دا یو دا سے میاشت ده چه دے کښ چا یو نیکی هم اوکړه نو ده ته به الله د هغے ثواب د فرضو برابر ورکوی. او نبی علیہ السلام اوفرمائیل: "من ادّیٰ فریضة فیه کان کمن ادیٰ سبعین فریضة ."

چا چه یکښی یو فرض هم اداکړو نو الله دۀ ته او یا فرضو برابرثواب ورکوی.

بعض مشائخو ذکر کړی دا د نیلام میاشت ده خو دا به تاله په آخرت کښی پته اولگی. چه بچی به درله یو نیکی نه درکوی مور اوپلار به درله یو نیکی نه درکوی. بی بی به درله یونیکی نه درکوی. نو که تا دے میاشت کښی یونفل اداکړو ا لله ئی در له په فرضو سره بد لوی او که یو فرض دے اداکړو نو الله ئی در له په اویاؤ فرضو سره بدلوی.

معلومه دا شوه چه دا میاشت ضائع کول ندی پکار. اوس نه ور ته لوئی لوئی ارادے کول پکار دی او خوش قسمته به ئی هغه خلق چی الله ور لـه روغ صورت نصیب کړے دے. ځکه بعض مسلمانان غریبانان زړه ئی غواړی چه روژے اونیسو خو کمزور ئی. دروژے بر دا شت نشی کولے طا قت نشی لرلے صلاحیت ور ته الله کمزورے کړے ئی. استعداد پکښی نه ئی نو هغه ته خودا نیکی بیا نشی ملاویدے ځکه هغه ته رمضان المبارك دمیاشتے اود روژو تو فیق نشی نصیب کیدے نو چاله چه الله استعدادورکړے دا ضائع کول ندی پکار بل نبیؐ او فرمائیل وهو شهر الصبر دا د صبر میاشت ده په دے میاشت کښی به د صبر ټریننگ کوی و الصبر ثوابه الجنه او د

صبر بدلـه جنت ده و شهر المواسات دا د یوبل سره د همدردی میاشت ده و شهرٌ یـزاد فی رزق المؤمن فیه. دا یو دا سے میاشت ده دیکښی د یو مسلمان رزق زیاتیږی.

بـل نبیٔ او فـرمـائیـل: من فطرفیه صائماً کان مغفرة لذنو به و عتـق رقبتـه من النار. چا چه یو روژه دار ته روژه ما تـے ورکړو نو د هغه د پـاره بـه دګنـاهـونـو د معـاف کیدو او د اور نـه بـه د خلاصیدوسبب اوګرځی.

تا چه چاته روژه ما تـے ورکړودے روژه دار ته د سحر نه تر مابنام پـورے څـومـره ثـوابـونه ملاویږی نو چا چه ور ته روژه ما تـے ورکړو او څـه افـطاری ئی ور ته ورکړو نو ده ته به هم هغه شان ثواب ملاویږی نو دا واقعی د نیلام میاشت ده.

الـحـمـد لله ځمونږ خو څه نه څه وس کیږی. د صحابه کرامؓ خـو ډیـره د فقر او غربت زند ګی وه، صحابو چه دا واوریده چه چا ته چا روژه مـا تـے ورکـړو هـغـه تـه دَ روژه دار دَ ثواب برابر ثواب ملاویـږی، هغوی را غله او ډیر سخت خفه دی وائی اے د الله رسوله ځمونږ خو دا وس نـه کیږی. دا خـو ځـمـونـږ زړه غواړی چه مونږ ډیرو خلقو ته روژه ماتـے ورکړو خو اے الله رسوله ' لیس کلنا یجدما یفطر صائماً''

ځـمـونـږ خـووس نـه کیږی چـه روژه دا ر تـه روژه ما تـے ورکړو نبیٔ او فـرمـائیـل دا ثواب الله په دے ورکوی چه تا چا ته د کهجورے یو ټکړه هـم ورکـړه. او که د چا د کهجورے د یو تکړے وس هم نه کیږی نو بیا نبی علیہ السلام اوفرمائیل او ''شربة مآء، او مذته لبن'' که چاله دے د پئیو یا دَ اوبـو یـو ګـوټ هـم ورکـړو د روژه مـاتـی د پاره نو دَ روژه دار دَ ثواب برابر

ثواب به ورته هم ملاویږی.

څومره لو یه خبره شوه خو ګوری یو خبره ورته شرط ده چه زبادل او د هغے ذکر کول پکښی نه ئی. چه پټ په پټه باندے ئی چه ستا د الله سره پټه معامله وی، دا سے نه چه ته ئی روزانه زبادی چه ما خوفلانی فلانی ته روژه ما تے ور کړے دے. بعض خلق زبادل کوی او په خلقو کښی ځان خه شو کوی نو دا خو ریا شوه په دے اجر وثواب نه ملاویږی دا رنګے نبی علیہ السلام اوفرمائیل دَ دے میاشتے او له عشره رحمت دے ، "اوسطه مغفرة" در میانے عشره کښی د الله د طرف نه د مغفرت وعده کیږی، "و اخره عتق من النار" آخری عشره ئی دجهنم نه رهائی ده. بیا نبی علیہ السلام فرمائی په دے میاشت کښی چه څوك د خپل خادم نه بوجھ سپك کړی (نوکر دے ماتحت ئی دے کشر ئی دے روزانه په هغه کار کوی نو دے ورته روژه کښی وائی چه خیر دے روژه کښی لږ کم کوه) نو الله دَ دے سړی مغفرت فرمائی. دَ اورنه ورته رهائی ورکوی.

بیانبی علیہ السلام اوفرمائیل تا سو په دے روژه کښی څوکارونه ډیر کوئ. دوه څیزونه د الله د رضا د پاره او دا دوه خوبه تا سو خامخه کوی هغه دوه چه په هغے خپل رب راضی کړے یو لا اله ا لا الله ، استغفر الله وائی د الله نه جنت طلب کوی او د جهنم نه پناه غواړه دا مونږ ته یو ټائم ټیبل ذکر کوی چه رمضان کښی به تاسو څه کوی. او مونږ خو خپل ټائم ټیبل جدا جوړ کړے ئی چه کوم ددنیا کارونه ئی نو د شپے پکښی انسان او به څکلے شی هغه به د شپے کوو او د ورځے به پکښی صرف خوبونه کوؤ. نبی علیہ السلام فرمائی دا خو د عبادتونو میاشت ده، دا خو د تلاوتونو میاشت ده په دے میاشت کښی خو د الله کتاب

نازل شوی دے. نو نبی ﷺ فرمائی په دے میاشت کښی دغه څلور کاره کوه (۱) لا الـه الاّ الله (۲) استغفر الله (۳)د الله نه جنت غواړئ "اللهم انی اسئلك الجنة" (۴) "و اعوذبك من النار" دا په رمضان کښی ډیر ډیر وائئ، بعضی روایاتونو کښی دعا ګانے را غلے دی "اللهم انك عفو تحب العفو فاعف عنی" بیا ګوره د الله د طرف نه څومره د احسان معامله به در سره اوشی کله یو انسان پیشمنی(چرك بانګ ته را پا سیدو او هغه تیم کښی الله رب العزت د خپل شان مطابق دَ دنیا آسمانونو ته نزول کړی وی او هغه وخت کښی د الله د طرف نه اعلان کیږی. د چا څه مسئله ئی ما ته ئی وړاندے کړے چه حل ئی کړم. که چا ته د رزق مسئله ئی څه رکا وتپونه ئی ور ته ، پریشانے ور ته جوړے دی. څه ګناهونه ئی کړے دی په زړه ئی بوج راغلے دے (چاکښی چه لږه شان هم دالله نے یره ئی نو چه دده نه څه ګناه او شی نو په زړه ئی بوج ئی چه خدایه دا به څه کیږی که زه بغیر د تو بے نه مړه شم او که ددے ګناهونو سره قبرته لاړم څه به را سره کیږی نو الله فرمائی آیا دا سے څوك شته چه مانه بخښنه اوغواړی. نو مونږ او تاسو پیشمنی هم اوکړو. خو وضو پکښی او نه کړو خله کښی اوبه وا چو یا نه بس خوراك اوکړو اوبیا په هغه ځائے سملو. بیا سحر د جمع مونځ ځمونږ نه پاتے دا مونږ یوغټ نقصان اوکړو. ځکه الله تبارك و تعالیٰ فرمائی اے مسلمانانو په تا سو روژے فرض دی څنګه چه په مخکښی خلقوباندے فرض وے. نو دا روژے څه دپاره دی. ددے روژو علت غایه څه دے مقصدئی څه دی ځکه د هر یو عبادت یو خپل مقصد ئی نو الله فرمائی ددے روژو نیولو مقصد

﴿لعلکم تتقون﴾ چه په تا سو کښی تقویٰ را شی.
د تقویٰ معنی: د تقویٰ معنی ده پرهیز، دَ الله تعالیٰ نه ویره، د ګناهونو نه اجتناب .

په دے وجه باندے چه کوم یو انسان د علاج سره سره پر هیز هم کوی نو دا ور باندے اثرکوی ځکه الله خو ډیر حکیم ذات دے نو الله مونږ ته نسخے راکوی چی دادا کارونه کوئ مونځ کوئ، روژے نیسئ، زکوٰه ورکوئ حج اداکوی تلاوت کوی ذکر کوی د الله نسخے ذکر کړے خو حکیم ذات دے نو مونږ ته وائی ور سره ورسره پر هیز هم کوه، نو کچرته دے پرهیز او نه کړی نو چه کله یوتن ډاکټر ته په دویم ځل لاړشی نو ډاکټر ورته وائی چه زه ستا اډودوائی ته ضرورت نشته ځکه ته دوائی سره پرهیز نه کوی. نو د روژے مقصد چه مونږ او تا سو کښی پر هیز ګاری راشی. د ګناهونو نه ور سره پر هیزایزده کړو نو هله به ځمونږ د عبادا تو اثر ډیرئی.

یو روایت کښی راځی نبی کریمﷺ فرمائی چه دے رمضان کښی سر کشه شیطانان قید کړے شی. د جنت دروازے کهلاؤ کړے حدیث پاك کښی راځی نبیؐ فرمائی دروژه دا ر د خلے نه چه کوم بد بو راوځی الله ته د مشکو عنبرونه سوا محبوبه ده(اطیب عند الله من ریح المسك) یو روایت کښی راځی نبیؐ فرمائی چه الله فرمائی الصوم لی و انا اجزی به. بعض روایاتو کښی راځی و انا اجزی به دواړه روایات صحیح دی چه الله فرمائی روژه ځما د پاره ده. ځکه نور عبا د تو کښی څه نه څه ریا را تلے شی. خو روژه کښی ریا نشی راتلے. ور نه که بهر د خلقو په مخکښی روژه نیسی او کمره کښی پټی او به اوڅکی نو د هغے نه خو څوك خبریږی نه خو نه دا د الله رب العزت سره یو خپل

رازو نیازئی. نو ځکه حدیث قد سی دے الله فرمائی دا روژه ما دپاره ده او ددے ځه پخپله بد له ورکوم اویو روایت کښی دی " وانا اجزَ یٰ بِهِ" ددے بد له زه پخپله یم ګویا چه دے روژه دار ته به زه ملاؤ شم. نو چاله چه الله ملاؤ شو نو دۀ ته بیا د څه کمے دے" من کان لله کان الله له " څوك چه د الله شو نو الله د هغه شو. په دے وجه درمضان المبارك ګنړ فضائل او ګنړ مسائل دی. بعض مسلمانانو ته بعض مرضونه ئی نو چه کله ده ته یو ما هر ډاکټر اوائی چه ته روژے مه نیسه تا ته نقصان در سوی نو هغه صورت کښی که دے روژے او نه نیسی نو خیردی. بیا بیماران په څو قسمه ئی بعض دا سے بیماران دی چه د هغوی د صحت امید شته. او بعض ډیر کمزورے ئی بو ډاګان ئی د شیخ فانی درجے ته رسیدلے ئی نو علماء ذکر کوی چه د کومو کسانو د روغیدو څه امکانات شته نو هغوی له د فدیه ورکولو ضرورت نشته دے چه کله ور ته الله صحت ور کو نو دا روژے به او نیسی او که چا فدیه ورکړه او بیا دے روغ شو نو دے به بیا هم روژے نیسی فدیے ثواب به ور ته جدا ملا و شی او کوم دا سے خلق ئی چه د هغوی د روغیدو څه ګنجائش نشته بیماری ئی دائمی ئی او که روژے نیسی نو بدن ته ئی نقصان رسوی نو دے به فدیه ورکړی، د روژے بے عزتی نه کول بعض خلق وائی چه روژے به خو هغه څوك نیسی چه هغوی کره کور کښی څه نه وی. دا د ګناه خبرے دی

ګورے چه الله مونږ ته د یو عمل او یو کار حکم کړے نو الله مونږ کښی د هغے استعداد پیدا کړے ئی. که تا سو خیال کړے ئی څمونږ دے کلو کښی مشینان دی ، کارخانے دی د هغے خپلے مشیندرے ئی نو هغه مشیندرے ته خلق څه نه څه آرام ور کوی یا

دوه ورځے یا هفته کښی څه دمه ورکوی د غه شان ځمونږ دا معدے چوبیس ګهنټے سروس کښی لګیدلے ئی ټول کال. سحر چائے ..... لس بجے د غرمے روټے ما سپخین چائے ما ښام روټی..... لګیا یو نو دا یو میاشت ددے معدے د پاره لږ شان آرام دے چه ته پکښی د سحر د بانګ نه راواخلے تر ماښام بانګ پورے دے معدے ته لږه د مه ورکړے پدے وجه د روژے مقصد دادے چه د انسان دا بدن لږ شان لوږے سره عادت شی.

شیخ الحدیث مولانا زکریا لیکلی دی. ځمونږ بعض مسلمانان د روژے په مقصدپو هه نه ئی نو هغوی په افطاری کښی ددرے ورځو ستاك (خوراك) جمع کړی.

پیشمنی کښی به دومره خوراك اوکړی دی وائی چه بیا اوږے کیږم نه د ورځے .لږ خوراك کوه.

پیشمنی کول هم سنت طریقه ده بعض خلق وائی کنه د روژے خو هر ماښام اخترئی خو دپیشمنی را سره ډیر غم ئی نو پیشمنی مستقل سنت طریقه ده. بعض روایاتو کښی راځی هغه و خت کښی په دۀ د الله رحمت را وریږی. نو پیشمنی ته پاسیدل پکارئی که د چا خوراك څکاك ته زړه نه کیږی نو یو کهجوره دے اوخوری او یو ګوټ او به دے اوڅکی .

ځماعزتمندو! ځمونږ په دے مسلمانانو کښی یو بل غټ مرض شته. ډیرومسلمانانوټول عمر روژے خوړلے ئی د روژے د بندیدو وخت چه کله صبا دا خل شی.

بعض وخت یو مؤذن صاحب پانچ منټ لیټ را شی نو دا سے خونه ده چه ته به روژه پانچ منټ لیټ بندوی. پدی وجه ځان سره


نقشے سا تل پکارئی. چه کوم تیم کښی سحر دا خلیږی " صبح الصادق" نو په هغه تیم روژه بند شوه. نو که ورستو څوك بانګو نه هر څومره اوائی نو وائی دے کنه ځمونږ ډیر مسلمانان روژه به بنده شوی ئی. او هغوی به وائی چه بانګ ئی نه دے وئیلے او اوبه به څکی او خوراك به کوی. د غه روژے نه کیږی دا غریب بیا هسے ټوله ورځ لوږه تنده تیروی. نو د روژے بعضے مسائل دی د هغے وخت په وخت تپوس کول پکارئی دے لږو وخت کښی د هغے بیا نیدل ممکن ندی او د روژے استقبال پکار دے دا د الله د طرف نه یو رحمت دے چه مونږ ور ته د اوس نه خوشحاله شو. غریبانانو سره پکښی امداد اوکړو هغوی ته څه نه څه افطاری ور کړو. هغوی سره څه نه څه همدردی اوکړو د غه شان خپلو رشته دارانو سر او روژه کښی انتهائی د عبادا تو اهتمام د تلاوت اهتمام . چه مونږ او تا سو دا په ځان لا زم کړو چه په دے روژه کښی به کم از کم درے ختمه کوو انشاء الله بیا به ئی الله را ته آسانوی . ځکه دیکښی نفل الله په فرضو سره بدلوی نو چه مونږ او تا سو په دیکښی ډیره زیا ته کمائی او کړو.

څومره مسلمانان بیماران ئی هغوی ته د عا اغواړو چه یا الله هغوی ته شفائے کا ملہ نصیب کړے. ا لله دے مونږ او تا سو ته د عمل کولو تو فیق نصیب کړی او الله دے مونږ او تا سو ته دا چه کومه میاشت د رمضان المبارك را روانه ده د هغے د آدابو او د هغے د اصولو او د روژو نیولو توفیق نصیب کړی. (آمین)

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ''١٨''

مسجد ضرار



اَتلسمه خطبه : درس قرآن بعنوان **"مسجد ضرار"**

﴿سبحانك لا علم لنا الا ما علمتنا انك انت العليم الحكيم﴾ ﴿رب الشرح لی صدری و یسّرلی، امری و احلل عقدة من لسانی یفقهو اقولی﴾ ﴿والذین اتخذوا مسجداً ضراراً و کفراً و تفریقا بین المؤمنین و ارصاداً لمن حارب الله و رسوله من قبل . و لیحلفن ان ارد نا الا الحسنی . و الله یشهد انهم تکذبون﴾ [سورة التوبة ۱۰۷]

دَ دے آیتونو مبارکو د مخکښی سره ربط: مخکښی د منا فقینو ذکر شروع وو. بیا د ایمان والو او صاف بیان شو او په هغے کښی په مینځ مینځ کښی د منا فقینو خباثتونه ئی ذکر کول چه مسلمانان ځان د منافقت د ددے خبرو نه او ساتی . په دے آیت کښی هم د منافقینو یوخاص خباثت ذکر دے او هغه دا چه دے منافقانو د مسجد قباء په مقابله کښی یو جومات جوړ کړے وو. او نوم ئی ورته جومات اویخودلے وو خو جومات نه وو او دا مسجد قباء وړومبی جومات وو چه مدینه منوره کښی جوړ شوی دے. او احادیثو مبارکو کښی راځی چه څوك په مسجد قباء کښی دوه رکعته نفل اوکړی نو دیکښی دَ قبول شوی عمرے برابر ثواب دے. دا رنګے دے منافقانو اصل کښی خپل یو دفتر او خپله یوه اډه جوړوله چه مونږ به په دیکښی د مسلمانانو خلاف را جمع کیږو. وو منافقان مونځونه ئی کول ددین کارونه ئی کول دا سے نه چه هغوی ښکاره کفر کولو ښکاره ئی خه دَ دین کا رونه کول خو در پرده د الله د کتاب مخالفت ئی کولو. نو چه مونږ او تاسوددغه قباحتونو او خباثتونو نه ځان او سا تو چه چرته په مسلمانانوکښی دا سے ئی دَ جومات مقابله کښی اډه جوړئ صرف

ددے د پارہ چہ پہ مسلمانانو کښی تفریق او تورپ پیدا کړی نو هغه د منافقانو کار ئی.

نو اصل کښی دوی دجومات په نوم ځان ته یو اډه او دفتر جوړ کړے وو په هغے کښی به را جمع کیدل د قرآن خلاف مشورے د نبی علیہ السلام خلاف مشورے بہ ئے کولے، نوم ئی هم ورته جومات کیخودلے وو خو دا دَ منا فقینو یو انجمن وو.

دا ترتیب څنګه اوشو؟ ..... چه کله نبی علیہ السلام مدینے منورے ته لاړو نو دغه قباء سره خوا کښی نبی علیہ السلام قیام کړے وو او د هغے نه ورسته بیا د مسجدنبوی ﷺ تعمیر شوی وو نو قباء والو د غه ځائے کښی جومات تیار کړو او په مسجد قباء سره مشهورشو. نبی علیہ السلام به کله کله را تلو نو دوه رکعته مونځ به ئی پکښی کولو. منافقانو اُووئے مونږ دَ دے خلاف یو ځائے جوړوؤ او هغے کښی به راجمع کیږو دَ مسلمانانو خلاف به مشورے کوو نو بعضی سا ده مسلمانان به هم دلته راځی نو ځان طرف ته به ئی راړوؤ (دا ټولے خبرے مفسرینو لیکلی دی)

چه کله دوی مونځ د پاره راشی نو مونږ به پکښی خپل ترغیب او چلوو چه دا محمد ﷺ خو داسے دے، دا قرآن داسے دے، دوی قرآن ته او محمد ﷺ ته ځی دا څیز هغه منافقانو کړے وو. (اللہ اکبر کبیراً)

دَ جومات دَ جوړولو دا مشوره ور ته چا ورکړے وه؟ ..... جا مه ئی دَ پیرئ اچولے وه، سیدنا حنظله رضی اللہ عنہ چه کوم صحابی تیر شوے دے هغه ته غسیل الملائکه وئیلی شی (چه ملائکو ورته غسل ورکړے چه کله ئی واده اوکړو او وړومبی شپه ئی کور کښی تیره کړه بیا سحر جهاد ته تلے او هلته شهید شوی دے)

دا دَ دغی صحابی پلار دے. ابو عامر فاسق او ابو عامر راهب ورته وئیلے کیږی. دے دَ خزرج قبیلے مشر وو، دے دَ هجرت نه مخکښی نصرانی شوے وو. د پیرئ زندګی ئی تیرولە. دَ پیرئ لباس ئئ اچولے وو او خلقو به ور ته نذرانے ، تحفے تحائف او ډالی راوړلی. او خلق ئی ډیر زیات مریدان شوی وو چه دا ډیر زیات بزرګ انسان دے ځکه خلق خو بزرګ هغه چا ته وائی چه چا ته دا هم نه وائی چه دا غلط کار مه کوه دَ ګناه کار مه کوه دا رسم او رواج، بدعت مه کوه. بس دَ چا په کار کښی کار نه ساتی. او که ته ورته اُووئے چه دا کار دَ شریعت برابر اوکړه نو ته به ئی بدی شی نو دۀ هم لوئی پیر د ځان نه جوړ کړے وو ځکه په دا سے پیرئ کښی خو ډیره مزه وی کنه خلق ور ته رامات وو پیسے اغستل او څه او څه . چی کله نبی علیہ السلام مدینے منورے ته هجرت اوکړوپیری ختمه شوه دده هغه مقام ختم شو. خلق ټول نبی علیہ السلام ته راراوان شو نو خپل ریاست قائمو لو د پاره د نبی علیہ السلام سره ئی زړه کښی حسد پیدا شو.

دا رنګے په جنګ بدر کښی الله مسلمانانوته غلبه ورکړه نو دا ابو عامر(د حضرت حنظلۃؓ صاحب پلار) اولګیدوقریشو باندے محنت شروع کړو. چه دا خو لږشان خلق دے دلته مدینے کښی تا سو غونډ راجمع شئ زۀ درسره یم رائی حمله به پرے اوکړو. نو دا سازشونه ئی کول نور خلق ئی هم تیارول. نو دا جنګ اُحد هم دَ ده په مشورو سره شوی دے.

دا رنګے دۀ چه به کوم خلق تیارول نو وعدے به ئی ترے نه اغستے چه د محمد صلی اللہ علیہ وسلم خلاف به جنګ کوؤ بیا چه کله حنین اوشو او په

هغے کښی قبیلۂ حوازن ته شکست اوشو نو دے شام ته او تختیدو او هلته نه به ئی مدینے منافقانو ته پیغام رالیږلو چه څومره درنه کیدی شی د پیغمبرﷺ خلاف خپله هتیار او اسلحه تیاره ساتئ. او بل یو کار اوکړئ ځما دَ پاره دَ جومات په نوم یو مرکز جوړ کړئ. دا مشوره ورته ابو عامر راهب ورکړی وه نوم ئی ور ته ځکه جومات کیخودو چه خلق ئی مخالفت نه شی کولے (اللہ اکبر کبیراً) او ده ورته اُووے زه دَ رُوم بادشاه ته ځم هغه هم د مسلمانانو او دَ محمدﷺ خلاف تیارؤم او هلته نه به یو لوئے لښکر ځان سره راولم په محمدﷺ او د هغه په ملګرو به حمله اوکړو د مدینی نه به ئی اوباسو.

نو د مدینے منافقانوداسے یو کار اوکړو د مسجد قباء مقابله کښی ئی یو ځائے جوړ کړو چه مسجد قباء ته کو مه مجمع راجمع کیږی چه دا کمه شی او دے کښی تورې پیدا شی (ځکه چه جومات موجود وی نوکور کښی او حجره کښی مونځ کول ډیر زیات نامناسب کار وی ځکه نبی علیہ السلام فرمائی څوك چه فرض مونځونه دَ جومات نه علاوه بل ځائے کښی کوی زړه می غواړی چه کورونه ورته اوسوزوم خو نن به مسلمانان په دے څوك پوهه کړی (اللہ اکبر کبیراً)

دوی به د غلته د کفر او منافقت مشورے کولے جومات ئی جوړ کړو او دوی په دے انتظارکښی وو چه ابو عامر به کله راځی.

دا جومات هغه وخت کښی جوړ کړے شو چه کله نبی علیہ السلام تبوك ته تیارے کولو د منافقانو یو جرګه را غله، ووئے اے د اللہ رسوله کله کله باران وی بو ډاګانو ته تکلیف وی قباء ته نه شی راتلے. نو جی مونږ د هغے بو ډاګانو د تکلیف د وجے نه دلته یو جومات

جوړ کړو جی. (او ګوره څومره چالاك دی جی جی کوی) دا ئې جوړ کړے دَ پیغمبرﷺ او دَ مسلمانانو خلاف یو مرکز وو. نوم ئی ورته جومات ورکولو. نوم ئی ورته دَ دین دَ مرکز ورکولو نو جی مونږ په دی غرض سره جومات جوړ کړے دے چه بیمارانو او کمزورو خلقو ته سهولت وی نو جی ځمونږ درخواست دا دے چه تاسو راشئ بسم الله به اوکړئ چه لږ برکتی شی (څومره چالاك دی) نبی علیہ السلام ور ته اُووے بالکل صحیح ده دربه شم پیغمبر علیہ السلام ورسره زړه کښی څه نه سا تل او پیغمبر علیہ السلام ته خو دا پته نه وه چی دوی دَ دین په نوم یو مرکز جوړوی دَ منافقینو مرکز، انجمن، دا منافقین دَ قرآن خلاف ځان ته یو اډه جوړوی، نبی علیہ السلام ورته اُووے صحیح ده اوس اوز ګار نه یم تبوك ته روان یم د تبوك نه په واپسئ به زه درشم. چه کله نبی علیہ السلام د تبوك نه واپس را غے نو هتله روان شو بسم الله د پاره په دیکښی جبرئیل اُمین علیہ السلام راغلو او دا آیتونه ئې نا زل کړل چه اے محبوبه یاد سا ته الله فرمائی دلته خو مونځ پریدوه دلته اودریږه هم مه. دے ځائے ته ورنشی یو ځائے د قرآن خلاف او نبی علیہ السلام خلاف جوړ شوی وی او نوم ئی ورله دَ دین ځائے ورکړے دے نو یاد ساته داسے ځائے کښی اودریږه هم مه، ځکه دا خو جومات نه دے.

ددے جماعت مصد: ﴿والذین اتخذوا مسجدا ضرارًا﴾

ددے مقصد ﴿ضراراً﴾ دَ ''ضرار'' مطلب دے مسلمانانو ته ضرر ورکول، مسلمانانو ته تکلیف ورکول، دَ دے وجے نه دے ځائے ته نوم کیخودلے شو ''مسجد ضرار'' اصل جومات مسجد قباء مسجد تقویٰ هغه دَ دے لائق دے چه ته هلته لاړشی او هلته اودریږی.

دا وحی چه را غله نبی علیہ السلام څه اوکړل، نن چه دا سے یو ځائے وی دَ جومات خلاف کښی، دَ قرآن دَ درسونو خلاف څوك اډه جوړه کړی اوته دا آیتونه پیش کړے نو ځمونږ د خلقو ذهن بل بل خوا ځی.

چه دا آیت نا زل شو په د غه و خت کښی نبی علیہ السلام مالك بن دخشم ته حکم او کړو چه لاړ شه او دا کومه ئی چه د جومات په نوم اډه جوړه کړی ده د قرآن خلاف نو دا او سوزوی او بالکل ختم ئی کړئ د نبی علیہ السلام دَ حکم تعمیل او شو او د غه عمارت ئی ور ته او سوزولو.

مسئله: دیکښی یو بله خبره هم ذهن ته را غله چه نبی علیہ السلام اُووے اوس تبوك ته ځم، واپسئ کښی به راشم نو پیغمبر ﷺ ته دا پته نه وه چه دا ئئ د مسلمانانو خلاف اډه جوړه کړے ده نو پیغمبر ﷺ په غیبو نه پوهیدو لهذا د هغه خلقو دا طریقهٔ کار غلط دے. چه وائی فلانی نوك کښی غل معلوموی. کوډے منترے معلومی، تعویذونه راوباسی، قمست معلومی، او کوره ژوندے پیغمبر ﷺ دے دَ منافقانو په پلانګ نه دے پوهه.


او دا دَ عقیدے مسئله ده چی غیب دان صرف او صرف یو دَ الله ذات دے. عالم الغیب دا صفت خاص دَ الله تعالیٰ دے، دَ الله تعالیٰ دَ خاصو صفاتو نه یو صفت دَ الله نه غیر ته ورکول شرك دے او دا ډیر اهم مضمون دے د منبر او محراب دَ حاملینو ذمه داری ده چی دا مسئله او مضمون په هر میدان بیان کړی چی عوام الناس ته پته اولګی، حق ورته معلوم شی، نو په غیبو صرف الله تعالیٰ پوهیږی اوکوره نبی ﷺ څومره لوئے شان ئی دے او د منا فقینو د چال نه نۀ وو خبر، نو چی پیغمبر ﷺ په غیبو نه پوهیږی نو منجور، پیر ملنګ او تعویذونو والا

به څنګه په غیبو پوهیږی،
زما عزت مندو چی مونږ او تاسو د قرآن درسونو ته ناسته کوؤ نو دَ دے مسئلو نه به خبریږو او دے نه اندازه اولګوئی چی دَ قرآن درسونه څومره اهم دی، نو دَ قرآن دَ درسونو اهتمام پکاردے.
الله تعالیٰ دے مونږ او تاسو ته د عمل کولو توفیق نصیب کړی.
آمین ثم آمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ''١٩''

عقيقه



نولسمه خطبه : "عقیقه"

الحمد لله نحمده و نستعینه و نستغفره.....

اما بعد فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم. بسم الله الرحمٰن الرحیم ﴿اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَیْکُمْ نِعْمَتِیْ وَ رَضِیْتُ لَکُمُ الْاِسْلَامَ دِیْنًا﴾ وقال النبی ﷺ: "کل امتی یدخلون الجنة الا من ابیٰ قالوا و من یابی یا رسول الله؟ قال من اطاعنی دخل الجنة و من عصانی فقد ابی (رواه البخاری)

عزتمندو مسلمانانو! مونږ او تاسو چه نن په کومه اجتماع کښی راجمع یو دا ستاسو دَ جامع مسجد خطیب او بهترین عالمِ دین، دا دَهغوی دَ بچیۍ دَ وومے او عقیقے په خوشحالئ کښی دا پروګرام منعقد شوے دے او په دیکښی مسلمانانو ته یو عملی تعلیم هم دے او په دیکښی مسلمانان دَ دے خبرے نه خبرول هم دی چه ځمونږ په دین کښی مونږ او تاسو ته هرڅه الله او رسول بیان کړی دی. د ما شوم د پیدائش نه را وا خلے تر مرګ پورے احکامات ځمونږ دین مونږ او تاسو ته ښودلے دی. ډیر کر ته مونږ مسلمانان په دا سے خبرو کښی لا پر واهی کوو ځکه چه ځمونږ او ستا سو په زړه کښی د الله ددین څه حیثیت او اهمیت نه ئی نو دا نن اجتماع د مولانا کلیم الله د بچے په خوشحالے کښی ده او په دے پروګرام سره د هغه مشرکانو او د هغه کافرانو د عمل او د هغوی د نظریے رد هم دے عملی طریقے سره ځکه د مشرکانو حال قرآن کریم بیان کړے دے. چه ددے مشرکانو نظریه داده:﴿ اتخذ الله ولدًا﴾ الله ځان ته دا نیکان خلق په ځوی والی سره نیولی دی . کله د الله تبارك و تعالیٰ په باره کښی دا

نظر به سا تی چه ملائك بناتُ الله دی. الله ته لونړه ثابتوی. قرآن کریم په هغوی باندے رد کوی چه پخپله خو مو پوزیشن دا دے، پخپله خو مو حال دا دے چه تاسو الله ته څنګه لونړه ثابتوئ ځان ته خو لونړه نه خوخوی ﴿اِذَا بُشِّرَ احدھم بالُانثٰی ظلّ وجھه مسوداً وَّ ھو کظیم یتواری من القوم﴾

دا قرآن کریم دَ مشرکانو حال بیانوی چه کله مشرکانو ته زیرے ورکولے شی په لور سره نو تك تور شی مخ د هغه دَ و جے دَ غم نه او ډك ئی دَ غصے نه.

دیکښی مسئله معلومه شوه چه د لور په پیدائش باندے خفګان کول دا خو د مشرکانو طریقه ده، د کافرانو طریقه ده بیا یو اځے دا به نه وه چه غصه به وو بیا به د قوم نه هم پټ پټ ګرځیدو چه څوك را ته دا او نه وائی چه لور دے شوی ده. دا به د هغه جا هلیت د زمانے د هغه مشرکانو کاروو.

نو بیا دویم نمبر کښی به ئی دا کار کولو چه خپله بچے به ئی ژوندے خخوله. د خپلولونړو سره ئی ظلم کوو. د لور هغه خبرو رکول ور باندے بد لګیده نو ځان د پاره لونړه نه خوخی او الله لره لونړه ثابتوی تا سو خو عجیبه کار کوئ.

پدے وجه علماؤ لیکلی چه د هلك په پیدائش باندے خوشحالی کول او د جینئ په پیدائش باندے خفګان کول دا دَ مشرکانو طریقه ده. دا سے نه ئی کول پکار بلکه ډیر دا سے مسلمانان شته چه د هغوی په کور کښی وړومبی لور پیدا شی نو په هغے هم پریشانه ئی حالانکه په یو روایت کښی راځی.

" مِن بَرکَةِ المَرءَ ہِ تبکیرھا بالانثی" [کنزالعمال]
دَ زنانہ خوش قسمتی په دیکښی ده چه اول اولاد ورته الله تعالیٰ لور ورکړی.

قرآن کریم چه کله نعمتونه ذکر کوی نو هغه نعمتونو کښی دا هم ذکر کوی ﴿یهب لمن یشآءُ اِناثاً وَّ یهب لمن یشاء الذکور او یُزَوجهم ذکراناً وَّ اِناثا و یجعل من یشآءُ عقیمًا﴾

دَ آیت مقصد دا دے چه اولاد ورکولو والا یو دَ الله ذات دے. بل څوك اولاد ورکولو والا نشته . دَ دنیا هیڅ یو طاقت اولاد نه شی ورکولے. ځمونږ دے علاقو کښی د بعض خلقو نظریه دا وه چه د چا به اولاد نه کیدو نو د الله نه غوښتل به نه وو د الله او رسول حکم او خبر ئے پکښی نه معلومولو. چه کله وادۂ به ئی او شو چه درے څلور کاله به اوشو او بچی به ئی نه وو نو بیا به لاړه چرته چه خپلو خپلوانو کښی چم ګاونډ کښی بوډے زنانه ته دَ دے بوډے حیثیت به ئی دَ لوئی پیغمبرے وو. نو بوډے ته به ئی اووئے نیا درے څلور کاله می اوشو دَ واده اولاد می نشته نو هغے به اُووئے ته فلانکی درګاه ته تلے ئی؟ پیر بابا ته تلے ئی؟ نو هغے چه به اُووئے نه، نو دے به ورته وئیل هلته لاړه شه . او دا وظیفه به لږ شان ګرانه وه خپے ابلے به . پیدل به ځی او د هغه درګاه نه به تاویږی او طواف به کئی(دا به دے مشرانو ته پته ئی چه دے ملك کښی دا حال شروع وو) نو چه دا به هتله لاړه درګاه نه به ګیر چاپیره تاؤ شوه نو بیا به را غله او دا امید او طمع به ئی وه چه ما ته به اوس اولاد ملاؤشی. درے څلور کاله به تیر شواو چه بیا به هم اولاد او نشو بیا به بوډے پسے لاړه، داسے چا الله نه پیژندو. دَ

خلقو نه الله هیر وو. دا خو اوس د الله ډیر لوئی احسان دے چی قرآن و سنت بیانکؤنکی علماء ئی پیدا کړل، دَ رسم و رواج شرکیاتو بدعاتو رَد کؤنکی حق پرست ئی پیدا کړل چه بے نیازه خو تلے ووم او ځما خو اولاد او نه شو تا چه را ته کومه و ظیفه ښولے وه هغه می هم اوکړه نو هغے به ورته اُووے ته چه کله درگاه نه طواف کولو نو بچے تا به پکښی ساه اغستے وه، دا ووه طوافونه به بچے په یو ساه کوی کنه. نو هغه به بیا شروع شوه دا اوه طوافونه به ئی کول.

دا به ئی ورته نه وئے چه اوگوره زکریاعلیه السلام پیغمبر دے اولاد ئی نشته نو هغه زکریاعلیه السلام الله ته چغه کړے اے ځما ربه ﴿لا تذرنی فرداً وَّ انت خیر الوارثین ربّ هب لی من لدنك ذریة طیبة﴾ اوگوره زکریا علیہ السلام بچے غواړی نو د یو الله نه غواړی. دَ آیت مقصد دا دے چه ځامن او لونړه ورکولو والا یو دَ الله ذات دے. دَ الله نه علاوه بل څوك اولاد ورکولو والا نشته. دے آیت کښی یو عجیبه انداز دے ﴿یَهَبُ لِمَنْ یَّشآءُ اِنَاثا﴾ الله ور کوی چاله چه اوغواړی لونړه. لونړه ئی پکښی اول ذکر کړے ځکه دے زنانوسره دے لونړو سره په جاهلیت کښی ډیرظلم کیدواوس هم چه کوم خلق اسلامی ذهن والا نه وی نو هغه خلق په دے ظلمونو کښی مبتلا دی، دَ یهودو معاشره اوگوره دَ غیر مسلمو په معاشره کښی دَ زنانو هیڅ حیثیت نشته دے.

دا خو دَ یورپی ملکونو والا، مغربی ملکونو والا صرف پروپیګنډه ده چه هغوی وائی مونږ دَ زنانؤ دَ حقوقو دَ پاره آواز پورته کوؤ ، دا خو دَ هغوی په میډیا باندی نعرے دی چه (Women Rights) دا حقوق نسواں دی، او هغوی دَ زنانه حقوق دے ته وائی چه

دا زنانه به ''مردوں کے ساتھ شانہ بشانہ کام کریں گے''
دا د یورپ والا یو نعره (چغه) ده. دے نه ډیر مسلمانان متأثره دی ځمونږ مسلمانانو زنانه هم په ''یوم خواتین'' باندے احتجاجونه کوی خپلے مطالبے پیش کوی چه مونږ آزادی غواړو.

قرآن کریم ذکر کوی ﴿یهب لمن یشآء اناثا﴾ زنانه ئی اول ذکر کړے. دَ لور مقام ته پکښی اشاره ده. دا خو د یو دین اسلام خصوصیت دے چه په دیکښی د زنانو یو لوئے مقام دے. سورة النساء الله نا زل کړے دے څومره حقوق ئے په کښی دَ زنانو خودلی دی ، دَ هغوی مَهَر، دَ هغوی خرچه ، دَ هغوی خیال ساتل ، هغوی سره ظلم نه کول ، دا ټول په کښی ذکر دی.

زه کله کله سوچ کومه که ځمونږ د مسلمانانو زنانۂ چرته لږ غوندے دا خپل دین مطالعه کړو بیا خاص کر داقرآن کریم ئی اول نه آخره پورے اولوستو چه دیکښی الله تعالیٰ دَ زنانۂ کوم حق بیان کړے دے په دیکښی د زنانوکوم شان ئی بیان کړے دے نو زه ویم د غه زنانه به وائی چه ربه بل کا ر می نه وئے خوراك څكاك می نه وئے خو چه صرف تاته په سجده باندے پرته وے. دا تا ماته کوم مقام راکړے. ګوره قرآن کریم د نارینۂ حق حصه نه ده مقرر کړے د هغے ئی یو میزان نه دے ښودلے دنارینۂ حصه شته خو میزان ئی ورته دَ زنانو حق ذکر کړے دے.
﴿لِلذَّكَرِ مِثل حَظّ اَلاُ نْثَيَيْنِ﴾ هلك ته به دَ دوۂ خویندو په مناسبت سره حصه ملا ویږی . مطلب دا چه دوو خویندو ته څومره حصه ملاویږی نو د هغے برابربه یو هلك ته ورکولے شی د زنانو هغه حصه ئی ورته

میزان او تول او ښودلو.

نو دغے آیت کښی اللہ تبارك و تعالیٰ د زنانو هغه فضیلت ته اشاره کړے ده د زنانو هغه مقام او هغه حیثیت ته ئی اشاره کړے ده چه ګورے اللہ زنانو ته ډیر لوئے مقام ور کړے دے. سورة النساء هغه سورت چه په هغے کښی د زنانو حال بیان شوی نو کله قرآن کریم ذکر کوی. ﴿وعاشروهن بالمعروف﴾ ژوند ورسره تیروئ په ښۀ طریقے سره دے زنانۀ سره به ظلم نه کوئ. د خادِمے حیثیت به ورته نه ورکئی. د هغے د مهر انتظام به کئی. د هغے د نان نفقے او رهائش انتظام به کئی.

بعضی روایاتو کښی راځی چه کوم تن ته اللہ تعالیٰ دوه یا درے لونړه ورکړے او د هغوی صحیح تربیت ئی اوکړو. ادب ئی ورته اوښودلو، دا به دے پلار د پاره د جهنم د اور نه حجاب وی.

یو عالم بیان کښی ډیره زبردسته خبره کړے وه. چی یو علا قه کښی یو تن وو د هغه شپږه لونړه وے بیا ئی بی بی بیماره وه نو دے راغے ډیر په غصه کښی بی بی ته وائی که دے پیرے دے لور پیدا شوه نو هغه به هم قتلوم او تا به هم قتلوم (دا دَ دهریت سوچ دے) ولے دا اولاد انسان ځان ته پخپله جوړی څه؟ ﴿یصور کم فی الارحام کیف یشآء﴾ دا خو د اللہ اختیار دے چه چا ته څنګه شکل ورکوی او څنګه ئی پیدا کوی نارینه ئی پیدا کوی او که زنانه.

نو هغه بی بی ئی ژاړی چه خدایه دا به څنګه چل وی اوس هم بعضی مسلمانانو کښی داسے درندګان وی کله کله اللہ انسان ته دَ هدایت اسباب پیدا کوی چه کله دغه خاوند ئی د شپے اُودۀ شو خوب

ئی اولیدو په خوب کښی د قیامت میدان قائم دے او فیصله او شوه بعض خلق جنت ته لاړل او بعضی جهنم ته او دَ دے سړی باره کښی دَ جهنم فیصله اوشوه. ملائکو ته اَوپر اوشو چه دا خو دهری ذهن والا دے چه کله ملائکو روان کړو او د جهنم یو دروازے ته ئی اورسولو نو هلته ئی یو لور ولاړه ده او فرشتو ته وائی تاسو ځما بابا چرته بوځئ نو هغوی ورته وائی جهنم ته ئی دننه کوو. نو هغه لور ئی چغے کړے چه دے جهنم ته بوځئ نو ما به هم ورسره بوځئ..... ملائکو اُووے راځی په دے بله دروازه ئی بوځو. چه هغه ګیټ ته لاړه نو هلته ئی بله لور ولاړه وه..... ملائکو اُووے راځی په دے اووم ګیټ ئی بوځو. نو په د غه و خت کښی هغه سړی راپاسیدو. توبه او استغفار ئی شروع کړو او بی بی ته ئی اُووے چه دعا کوه چه خدائے راته دا اُوومه هم لور راکړی.

ځکه الله فرمائی ﴿یهب لمن یشآء اِناثًا وَّ یهب لمن یشآء الذکور﴾ چا ته چه اوغواړی لور ور کوی چا ته چه او غواړی نو هلکان ور کوی چا ته ګډوډ ورکوی چا ته اډو ور کئی نه. نو چه الله چا ته نه ورکئی نو ددنیا هیڅ یو طاقت ور ته نشی ورکولے.

د چا چه اولاد نه ئی الله دے ورته په خپل فضل و کرم سره نیکه عمله اولاد نصیب کړی (آمین)

ځما عزتمندو! اولاد باندے خوشحالی پکار ده او ځمونږ دا دین څنګه چه ما مخکښی آیت مبارکه ذکر کړے دے په هغے کښی د الله دَ طرف نه اعلان دے. ﴿الیوم اکملت لکم دینکم و اتممت علیکم نعمتی و رضیت لکم الاسلام دیناً﴾

داپه نبی علیہ السلام باندے آخری وحی ده او دا وحی په عرفات

کښی نازله شوی وه. اعلان پکښی دا دے.

الله فرمائی دین می درته کامل او مکمل کړے دے. دیکښی هرڅه شته دے په دیکښی د بیت الخلاء نه تر بیت الله پورے احکامات شته، په دیکښی د ماشوم دپیدائش نه تر مرګه پورے احکامات شته، په دیکښی د عبادا تو طریقه، په دیکښی د معاملاتو طریقه، په دیکښی د زندګئ دَ هرے شعبے طریقه موجود ده په دے وجه ملا علی قاریؒ ذکر کوی.

"فلا نحتاج فی امر الدین سِوَی الکتاب والسنه."

مونږ ته الله قرآن او سنت رالیږلی دی نو مونږ نورڅه ته محتاجه نه یو پدے وجه ابو حامد الغزالیؒ په " احیاء والعلوم الدین " کښی ډیره عجیبه خبره ذکر کړے ده چه عوامو ته ددے خبرے حق حاصل دے چه کوم خلق ورته د منبرا ومحراب نه بیان کوی نو دعوامو هم یو ذمه داری ده چه دا منبر او محراب والا کینوی چه جی تاسو مونږ ته دا مسئله کوئ نو دَ دے څه ثبوت دے؟ امام غزالیؒ طریقه ښودلی ده چه څنګه به ورته وائی چه جی ما ته دَ دے دلیل اوښایئ نو د ځان نه به درته عربی جوړه کړی ځکه بعضی خلقو ته دَ عربی جوړولو خه چل ورځی نو عوام غریبانان خو نه پوهیږی نو دَ هغوی دا خیال ئی چه دا ئی راته چرته قرآن اُووے.

چرته یو زنانه وه نو هغه زنانه یو کتاب نیم چرته وئیلے وو. خو هغے سره پکښی څه عاجزی او تقویٰ نه وه راغلے نور هم پکښی تکبر سوا شوی وو ، حالانکه کومه زنانه چه قرآن او سنت ته ناسته اوکړی په هغے کښی عاجزی پکارئی په هغے کښی اخلاق پکارئی نو دهغوی

کره یو بوډے زنانه راغله . نو دے خو چرته لږه عربی ایزده کړے وه نو دا هغه بوډے ته وائی حمارے ترور پخیررا غلے(حماره خر ے ته وائی) نو هغه بوډے خو پدے نه پوهیده هغے وی که دا ئی را ته چر ته د آدابو کلمات اووئے. نو په جواب کښی ور ته وائی هغه بوډے وئے بچے مونږ خو ګنهګار خلق یو. حماره به ته ئی او حماره به ستا موری مونږ خو ډیر غریبانان یو.

نو مونږ به هم دا تپوس نه کوو چه ددے خبرے دلیل څه دے نو امام غزالیؒ طریقه ښودلے ده" فَسْئَلُوْهُ عَنِ السُّنَّةِ"

تا سو د عالم صاحب نه دا تپوس اوکړے چه ددے سنت طریقه څنګه ده، د نبی علیہ السلام په دور کښی څنګه ده د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم په دور کښی څنګه ده دا تپوس ترے نه اوکړے دومره ظلم به نه کئی چه بیا به په پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم دروغ وائی او کچرته ته ور ته اووئے دلیل را ته اوایه نو اخوا دیخوا به در ته اُووائی، چرته به دَ دے زمانے یو کتاب راؤړی. نو چرته به دَ لږ مخکښی زما نے کتاب راؤړی. دَ ده نه تۀ تپوس اوکړه چه دَ دے په سنتو کښی اصل شته او کنه. دَ نبی علیہ السلام نه دا ثابت دی او کنه، دَ صحابه کرامو رضی اللہ عنہم نه دا ثابت دی اوکه نه. ائمه مجتهدینو نه دا ثابت دی اوکه نه، بیا به ئی پته اولګی، دَ دے تپوس مونږ او تاسو ته حق شته دے. مونږ عوام په دے کښی تپوس نه کوو. بس چه چا راته څه اُووے نو سترګے پټے کړو او روان یو ورپسے دا ترتیب نه دے پکار. ځکه ډیر خلق وائی پخوا فلانکے را غلے وو او فلانے را غلے وو هغوی خودا خبره نه وه کړے او دا اوس نوئے نوئے مسئلے راووتے نه دا مسئلے ډیرے زړے دی خو مونږ ئی اوس اورو

پدے وجه ځما عزتمندو!

قرآن کریم ذکر او کړو چه دا دین می تا سو ته کامل او مکمل ګرځولے دے د ما شوم د پیدائش نه را وا خلے تر مرګ پورے په کښ احکامات دی . دپیدائش په هغه احکاماتو کښی مونږ نن لږه لږه خبره ذکر کوو د ما شوم په پیدائش د ماشوم پلار یا خاندان والو ته مبارکباد ورکول او دعا ورته کول دے سره خاندان کښی وحدت مینه محبت اخوت والا فضا جوړیږی.نن مونږ د عقیقے په سلسلے کښی را جمع شوی یو د عقیقے باره کښی محدّثین ذکر کوی " العقیقة من سنن الثابتة" دا عقیقه د پیغمبرﷺ په سنتو کښی ثابت عمل دے عقیقه څه ته وائی . د هغے خو بیا لغوی، اصطلاحی او شریعی ګټو وضاحتونه دی.

دعقیقے مطلب: دا هغه ذبیحه ده چه د ماشوم د طرف نه د ماشوم د پیدائش په اوومه ورځ باندے ذبحه کولے شی شکراً لله د الله د شکریه ادا کولو د پاره علیٰ نعمت الولد چه الله تا ما ته بهترین بچے راکړو ذکرًا کان او انثی دا بچے هلك وی اوکه جینی ئی د هغے په خوشحالی کښی څاروی ذبحه کول بیا احادیثو مبارکښ راځی امام بخاریؒ حدیث ذکر کړے دے ، سیدنا سلمان بن عامر ضبیؓ ذکر کوی.

" سمعت رسول الله ﷺ مع الغلام عقیقه فاحریقوا عنه الدم و امیتوا عنه الاذیٰ "

ما دَ نبی علیہ السلام نه آؤریدلے دی فرمائی چه ما شوم پیداشو نو تاسو د هغه د طرف نه وینه او بَیوئ اوخیرات اوکړئ .

بعض علاقو کښی اکثر دَ ماشوم د پیدائش په اوومه ورځ خلق غنم او جوار ګډوډ پاخه کړی او په خپلو خپلوانو او چم ګاونډ کښی ئی

اُوویشی. نو داد عقیقے طرز بدل شو. نبی علیہ السلام فرمائی تا سو عقیقه کښی وینه توی کړئ. نور هم ډیر راویات پدے کښی شته بعض روایاتو کښی راځی چه په دے اوومه ورځ دے ما شوم ته تاسوسر اوخری. بعض روایاتو کښی دا هم شته چه تا سو دے ماشوم ته پدے اوومه ورځ باندے نوم هم کیدے.

دا صرف د ماشوم په پیدائش کښی که څوك خپل دین او احادیث مطالعه کړی نو ډیر احکامات مخے ته راځی . په ترمذی او اَبوداؤد کښی حدیث دے، نبی علیہ السلام فرمائی " عن الغلام شاتان و عن الجاریه شاة "

دَ هلك د طرف نه دوه چیلئ یا دوه ګډان او د جینئ د طرف نه یو چیلئ یا یو ګډ حلال کړے دَ سنن نسائی په یو روایت کښی راځی.

" ان رسول الله عق عن الحسن والحسین بکبشین کبشین"

امام نسائی روایت ذکر کړے چه نبی علیہ السلام د سیدنا حسن رضی اللہ عنہ او سیدنا حسین رضی اللہ عنہ په عقیقه کښی دوه دوه ګډان حلال کړی وو.

نو دا نبی علیہ السلام سنت طریقه ده

دَ عقیقے حکمتونه: علماء ذکر کوی چه ده عقیقے کښی حکمت څه دے ؟ددے ګنړ حکتمونه دی. یو خو د الله شکر ادا کول دی د الله په ورکړے شوی نعمت باندے چه هغه نعمت اولاد دے. نو اشاره شوه پکښی اولاد د الله تبارك و تعالیٰ لوئی نعمت دے انبیاءٔ د الله نه د اولاد سوال کړے چه یا الله ماته بچے راکړے. الله نعمتونو ذکر کوی په هغے نورو قومونو باندے چه الله تا سو ته اولاد سوا کړو نو دا زیات والے د اولاد دا نعمت دے . لهذا چه د چا دا ذهن دے " بچے دو ہی اچھے تو یہ ہیں ذہن کے کچے" مونږ زمینداران خلق یو چه کله د غنمو ریبلو وخت ئی نو بیا به یو ته

منت کوؤ او بل ته منت کوو او که په خپله دَ چا لس دولس ځامن ئی نو بیا مو څه خیال دے. بل چا ته به سوال نه کوی بس یو ګینټه کښی به ئی فصل راغونډ کړے وی.

دَ سنن ابی داؤد په یو روایت کښی راځی: "تَزَوجوا لُوَدُودَ الْوَلُوْدَ" چه کله وَدُونه کوئ نو هغه خاندانونو کښی کوئ چه هغے کښی زیات بچی پیدا کیږی ځکه زه به په خپل امت باندے فخر کوؤم.

دا اولاد دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه لوئے نعمت دے دَ هغے په شکریه کښی ګډ چیلے یا دوه ګډان او دوه چیلئ ذبح کول دَ ثواب کار دے دویم نمبر کښی الله فرمائی " زِیْنَةُ الحیاة الدُّنیا" دا اولاد دَ دنیا یو زینت دے .

(۲) دویم حکمت : روابط بین المُسْلِمِیْن' په عقیقے سره دَ مسلمانانو په خپل مینځ کښی ربط پیداشی . دا نن چه مونږ او تاسو راغونډ شوی یو' یو بل سره مو تعارف اوشو غالبًا دے علاقے ته زه په اول ځل را غلم نو دا دے عقیقے مونږ کښی ربط راوستو ځکه سنت دے او سنت سره اجتماعیت راځی. سنت سره په خلقو کښی وحدت راځی.

(۳) دریم حکمت : " اظهارُ السُّرور" چه زه الله ستا په دے نعمت خوشحاله یم د خپلے خوشحالے اظهار کول دی.

(۴) څلورم حکمت: دا ما شوم د طرف نه فدیه شی بیا دا ما شوم د ډیرو مرضونو او بیمارونه په امن ئی .

چونکه ځمونږ دین کا مل او مکمل دے نو دین کښی دا راځی چه کله ما شوم پیدا شواو دهغه صفائی او شوه .نو هغه ما شوم ته تا سو په یو غوږ کښی آذان او کړے او په دویم غوږ کښی اقامت اوکړے. دے

باندے علامه ابن قیمؒ یو بهترین کتاب لیکلے دے(احکام المولود، تحفة الودود) دَ ماشوم د پیدائش احکامات ئی پکښی ذکر کړے دی.

په دویم نمبر دا چه دغه ما شوم دے نو ګورے یاد ساتئ تاسو ورته صحیح نوم کیدوئ دا په مور او پلار باندے دَ دے ماشوم حق دے . دَ خپلو علماؤ نه دَ نوم باره کښی تپوس اوکړئ. بعض خلق په یو کړے باندے د بچو نومونه کیدی. نو دا څه لازمی خبره نده.

بعض خلق چه چم ګاونډ کښی یا خپلو خپلوانو کښی چرته لرے هم د یو ما شوم نوم ئی نو هغه خپل بچی ته هغه نوم نه کیدی چه بیا به دی خفه شی. حالانکه پلار او په نیکه یو شان نومونه ملاویږی " محمد ابن محمد ابن محمد الجزری" د زوی د نو سی او د نیکه یو شان نودم دے . دارنګے د سیدنا علی رضی اللہ عنہ د ډیرو ځامنو یو شان نومونه وو.

ځمونږ په تبلیغی مشرانو کښی مفتی زین العابدین د فیصل آباد یو ډیر بهترین مفتی تیر شوی دے. د هغه درے ځامن دی او دَ درے واړو نوم یوسف (یوسف اول، یوسف ثانی، یوسف ثالث) وو. نو یو شان نومونه کیخودل څه قبیح عمل نه دے . دَ نبی علیہ السلام باره کښی راځی چه نبی علیہ السلام به غلط نوم بدلولو. نو که نوم دَ چا غلط وی نو هغه بدلول پکار وی صحیح معنی والا نوم کیخودل او دا لازمی نه ده چه د چا د نوم په آخر کښی ګل راځی. نو دے به بیا آخره پورے دَ ګل پتئ چلوی.

د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ښکلے ښکلے نومونه شته دے. بعض نومونه داسے وی چه هغے کښی د شرك وهم وی دا رنګے د عبدیت اضافت

پکښی غیر الله ته ئی نو د هغے نه ځان او ساتئ . بعض دا انګریزانو نومونه ئی بعض د ډمو او ګلو کارانو نومونه ئی د هغے نومونو نه ځان سا تل د نیکانو خلقو نومونه کیدوئ هغوی سره مشابهت اختیار کړئ. ځکه وائی:

فَتَشَبَّهُوُا ان لم تکونوا مثْلُهُمْ اِنَّ التَشَبُّهَ بالکرام کرام

دَ نیکانو خلقو مشابهت کوئ نو دا هم یو خه خبره ده ځکه د قیامت په ورځ خو به ویلی شئ.

تیرے محبوب کی یارب شباہت لے کے آیا ہوں
حقیقت اس کو تو کر دے میں صورت لے کے آیا ہوں

اے ځما ربه زه خو ډیر ګنهګار یم . ما خوته ډیر زیات خفه کړے ئی ستا ډیر حق می ضائع کړے دے. ستا د محبوب په ډیروطریقو ما خپے ایخودلے دی. خو اے ځما ربه ستا چه کوم محبوب خلق دی انبیاء کرام علیهم السلام صحابه کرام علیہم السلام دی ما خو خپل شکل دَ هغوی د شکل په شان جوړ کړے دے. ربه زه خو ډیر کمزورے یم خوستا د محبوب نه عقیقه ثابت ده نو رَبَه زه هم د خپل وس مطابق عقیقه کوؤم.

بعض علماء نورو خلقو ته ترغیب ورکوی چه دا کار داسے دے او داسے ئئ کوئ. او الحمد لله ستاسو مولانا صاحب تا سو ته خپلے بچے په عقیقه کښی دا ثابت کړه چه دا سے ترتیب دے. چه نن اوومه ورځ ده نو ما چیلی هم حلال کړو نو ما خپل یار دوست ته هم دعوت ورکړے نو ما په اوومه ورځ خپلے بچے ته نوم هم کیخودو.نو ما ور ته سر هم او خریولو.

که چرته نارینه اولاد وی نو په اوومه ورځ باندے که ته د هغه

ختنه اوکړے نو دا ډیره خه خبره ده. دا رنګے تحنیك د نبی ﷺ او صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ثابت عمل دے ځمونږ خلق ور ته بوتی وائی ترتیب ئی ورته بدل کړے دے.

مطلب دَ تحنیك: چه نیك انسان دے الله والا انسان دے، پرهیز ګار انسان دے هغه دے یو خوږ څیز په خپله خله کښی جوړه کړی بیا هغه څیز دے ماشوم ته خله کښی ورکړے شی، چه د نیك انسان لاړے د هغه معدے ته لاړے شی دے ته تحنیك وائی.

دَ ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم چه به ماشومان اوشو نو د نبی ﷺ خوا ته به ئی راوستو نبی ﷺ به ورته اُووے آیا کهجوره دے ورسره راوړے ده؟ که وے به ئی چه آؤ جی نو نبی ﷺ به کهجوره خپله خله مبارکه کښی وړه وړه کړه او بیا به ئی ماشوم ته خله کښی ورکړه دا هم په دین کښی شته .

بیا په دے اُوومه ورځ چه د چا وس کیږی نو ذبحه کول هم سنت طریقه ده بیا ورستو د ما شوم نور حقوق هم شته. دا خو صرف ماشوم والی کښی دی. بیا دا ما شوم په خه بد باندے پوه شو نبی ﷺ فرمائی د اوؤ کالو شو نو په مانځه باندے اود روه مونځ ور ته او ښایه چه کله د لسو کالو شو او مونځ نه کوی نو سزا ور ته ورکوی . نن مونږ خپل اولاد ته تربیت نه ورکوو. بیا مونږ ور ستو جاړو چه اولاد ځمونږ خبره نه منی نو مونږ ئی آغاز غلط کړے ئی. چه کله ما شوم په عالم بطن کښی وو نو هغه زمانه کښی هم مورئی تیلی ویژن ، وی سی آر او سی ډی ګانو ته نا سته ئی. نو چه بیا کله د غه ما شوم په غیږ کښی ئی نو دغه مورئی پردو نا رینو ته نظرونه کئی چه کله ئی مور دا ګانے

بجانے اووری. چه کله ئی مور د بے حیائے پروګرامونه ګوری نو هغه اثرات د غے ماشوم ته منتقل کیږی. نن که تا سو خیال کړے ئی واړه واړه ما شومان به ئی او د ډیرو خبرو معلومات ئی ور ته نو بیا چه د غه ما شوم لویږی نو د غه ما حول کښی لویږی.

دے باره کښی چه څومره غیر مسلمه خلق دی هغوی خپل طریقه کار خپلو ماشومانو ته ډیر ایزده کوی. یو عالم یو کتاب کښی لیکلی. زه په جهاز کښی روان اوم نو ما سره شاته سیټ کښی یو غیر مسلمه زنانه وه او خپل ماشوم ورسره غیږ کښی وو نو هغے ماشوم ته ئی په چمچه کښی خوراك ورکولو او چه کله به ئی ور ته خله کښی خوراك ورکړو نو ورته به ئی اُووے چه بچے اُووایه Thank You شل پیرے ئئ ورته هغه چمچه کښی خوراك ورکړو او هره پیره به ئی ما شوم ته اُووے چه Say thank You ځکه هغوی د خپل ما شوم تربیت کوی (او مونږ خپل اولاد ته جزاك الله خیراً. السلام علیکم و رحمة الله و برکاته دا خبرے نه بنایو) او وائی بیا د هغه ماشوم په جامو څه توی شو نو مور ورته هغه پاك کړه نو هغه ماشوم ورته بیا په خپله وے تهینك یو. ځکه مور ورته د غه شان تر بیت ورکئی. نو هغوی خپلو بچو ته خپل اخلاقیات بنائی، او نن مونږ سره کامل دین شته، قرآن کریم راسره شته او مونږ بالکل په غفلت کښی یو.

نو ځما عزتمندو دا پیغام د قرآن کریم دے ځکه الله فرمائی: ﴿یٰاَیُّهاالذین اٰمنوا ادخلوا فی السِّلم کافَّة﴾ اے ایمان والو په اسلام کښی پوره پوره دا خل شئ.

ځمونږ چه کوم ځائے خه ئی هلته مو شپه ئی، په سنن ابن ماجه کښی یو حدیث دے، نبی علیہ السلام فرمائی :

"ترکتکم علیٰ ملة بیضاء لیلها کنهارها"

تاسو می دا سے په صفا دین باندے پریخودے ئی چه د هغے شپه هم په شان د ورځے روښانه ده، کله الله فرمائی:﴿ ان الدین عند الله الاسلام﴾ کامل دین د الله په نیز باندے اسلام دے. دا سے کامل دین چه د ماشوم د پیدائش نه را واخلے تر مرګه پورے احکامات ، حقو ق الله، حقو ق العباد پکښی شته دے او دا پیغام مونږ ته د الله کتاب را کوی نو قرآن به ایزده کول پکار ئی دا تعلیم حاصلیږی د قرآن کریم د درسونو نه ځکه داقرآن کریم دا سے کتاب دے چه ددے نه بغیر هرڅه نیمګړے دی که یو سړی وائی زه جهاد کوم اود قرآن نه ئی تعلیم ندے اغستے نو دا جهاد نیمګړے دے ځکه قرآن کریم کښی د مجاهد د پاره صفتونه بیان شوی دی په قرآن کښی د جهاد د پاره اصول بیان شوی دی. قرآن کښی قواعد الجهاد بیان شوی دی موا قع د جهاد بیان شوی دی.

که یو سړی وائی زه تبلیغ کووم خود قرآن درس سره ئی نه لګی د قرآن کریم درسونو ته نا سته نه کئی نو دا تبلیغ نیمګړے دے ځکه چه قرآن کریم کښی د عوت د پاره تبلیغ د پاره اصول بیان شوی دی د هغے فوائد ئی ښودلے دی نو چه قرآن ته نا سته نه کئی نو بیا به هغه تبلیغ والا ځانه قصی او نیمګړے خبرے کوی داقرآن کریم مونږ ته په هره شعبه کښی درس را کوی. پدے وجه د رائیونډ مشران هم په واپسی کښی ددے خبرے ډیر تاکید کئی. چه ملګرو تاسو واپس لاړ شئ نو چه کوم ځائے د قرآن درس کیږی. مشران ډیر ښکلے ښکلے خبرے کئی. دا خو مونږ بیا اوزګار نه یو قرآن کریم ته نا سته نه کوو. او الحمد لله تا سو خو خوش قسمته ئی دا خبره زه تا سو ته په ګارنټی سره کووم

او په ذمه دار منبر باندے نا ست یم تا سو نا رینه جومات کښی د قرآن درس ته کینئ . زنانه کور کښی د قرآن درس ته راجمع کیږئ تاسو ته به په څو میاشتو کښی اندازه اولگی چه اوخو ما خو کلمه ووئیلے وه او ما ته خو ددے کلمے د مفهوم او مقصد پته نه وه. ما خو ټول عمر په رسمونو رواجونو کښی تیر کړے. د ماشوم په پیدائش کښی رسمونه رواجونه، بیا په واده کښی رسمونه رواجونه بیا په نکاح کښی د ګوټ رسم، د خپے ارتے رسم، د جوړے رسم په پالنګ ختل، ور بل دا ټول د شریعت خلاف دی اود چا چه غم ښادو کښی د شریعت خلاف کا رو نه او چلیږی دده مخکښی زند ګی کښی ډیره مزه نه ئی ځما عزتمندو! ما یو حدیث مبارك لو ستے وو (ما اُووے زه به نیمه ګهنټه خبره کوم خو تا سو خلق دا سے شوق او ذوق سره ناست ئ چه ځما په خلے الله پاك ستاسو د فهم مطابق او ستاسو د طلب موافق خبرے را ولی. مولانا اشرف علی تهانویؒ یو ځائے کښی لیکلی.

کله کله مونږ چرته ښار ته لاړشو . ښار کښی چونکه تعلیم یافته خلق زیات ئی، زیات تر او ښیار خلق ئی نو مونږ د کتابونونه یو تقریراو مضمون راجمع کړو چه کله مونږ هلته لاړشو او بیان شروع کړو نو هر څه را نه ګډوډ شی. بیا هغه خبرے اونکړے شو بس اخوا دیخوا خبرے او کړو. او کله کله مونږ داسے باندو ته لاړ شو نو الله ځمونږ په خلے هغه خبرے را ولی چه مونږ چرته او ریدلے هم نه ئی قرآن او سنت د مینځ خبرے الله ځمونږ په خلے راولی. ددے وجه دا ده چه دے خلقو کښی طلب ډیر زیات دے. نو ددی هغه صحیح طلب په بنیاد باندے الله پاك د مقرر او مبلغ په خلے باندے هغه شان الفاظ

راولی چه څومره خلقو کښی طلب ئی).

ما دَ صحیح بخاری یو حدیث مبارکه لو ستے وو نبی علیہ السلام فرمائی "کُلّ اُمتی یدخُلُوْنَ الجنه الا من ابیٰ قالوا و من یأبی یا رسول الله قال من اطاعنی دخل الجنة و من عَصانی فقد اَبی"

ځما هر امتی به جنت ته داخلیږی سوا د هغه چا نه چه چا دَ جنت دَ تلو نه انکار اوکړو صحابه کرام رضی الله عنهم تپوس کوی (دا تپوس نن مونږ او تاسو نه کوؤ) صحابه کرامو رضی الله عنهم سره غم وو د الله رسوله داسے کم عقل انسان به هم وی چه د جنت د تلو نه به انکار کئی (عزتمندو د جنت د تلو نه څوك انکار کئی؟ نبی علیہ السلام اُوفرمائیل چه څوك ځما اطاعت کئی (جو بھی ہو) ځما خبره منی بس دا خبره معلومه ده ورته چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا سے کړے دی.


"سرِ تسلیم خم ہے جو مزاجِ یار میں آئے"

بس پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا سے کړی دی دے نه اخوازه قدم نشم اغستے. نبی علیہ السلام یو ورځ مسجد نبوی کښی لګیا وو څه ملګری اخوا دیخوا اولاړ وو، نبی علیہ السلام هغوی ته اووئے "اِجلسوا" کینئ تاسو، یو دوه ملګری د جومات نه بهر راروان وو د جومات نه ئی بهر دا آواز واؤریدو نو هغوی په هغه ځائے کیناسته. دومره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم منل وو پکښی نو د نبی علیہ السلام تابعداری کول سبب دے د دا خلیدو د جنت او د نبی علیہ السلام نافرمانی کول جنت ته د تلو نه انکار کول دی، الله دے مونږ او تاسو ته د عمل کولو توفیق نصیب کړی. آمین.

★★★★★★★★★★★★

خطبہ نمبر: ”۲۰“

آذان [حصہ اول]



شَلَمَه خُطبه : "آذان" [اوله حصه]

الحمدلله نحمده و نستعينه و نستغفره.....

اما بعد فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم ـ

﴿وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللهِ وَ عَمِلَ صَالِحًا وَّ قَالَ اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ﴾

﴿ان الله وملٰئكته يصلّوُن على النبیّ يٰاَيُّها الذين اٰمنوا صلّوا عليه و سلموا تسليمًا﴾

اللهم صلّ علیٰ محمّدٍ و علی ال محّمدٍ کما صلّیت علیٰ ابراهیم و علیٰ ال ابراهیم انك حمیدٌ مّجید اللهم بارك علیٰ محمد وعلیٰ ال محّمد کما بارکتَ علی ابراهیم و علیٰ ال ابراهیم انك حمیدٌ مجید۔

عزتمندو مسلمانانو! الله تبارك و تعالیٰ په خپلوبندیګانو څه احکامات فرض کړی دی او هغه احکامات ادا کول څه مشکل ندی بلکه د الله تبارك و تعالیٰ د هر حکم په ادائیګی کښی یو خپل لذت دے په هغے کښی یو خپل خونداو خپله مزه ده څنګه چه الله تبارك و تعالیٰ په دے کائنات کښی د انسانو د جسمانی غذا د پاره مختلف قسمه میوے پیدا کړی. بیا د هرے میوے ځان ته خپل لطف او خپله مزه ده. نو دا رنګے د الله تبارك و تعالیٰ د هر یو حکم ځان ته یو مزه ده د هغے یو خونداو یو متهاس دے هغه جدا خبره ده چه په مونږ او تا سو کښی د هغے احساس چا ته کیږی او چا ته نه کیږی. د الله تبارك و تعالیٰ د حکم د ا دا ئیګئ د هغے د لذت احساس به چا ته کیږی چه د هغه عقیده او یقین برابر ئی چه دا حکم د الله تبارك دے اوهغه تعالیٰ کوم ذات دے؟ د هغه کارونه څه دی؟ د هغه طا قتونه څه دی؟ د هغه نعمتونه څه دی؟ اوس که ذهن کښی ددے خبرے یقین وو نو بیا د الله د حکم ادائیګی به آسانه وی او په هغے کښی په یو

خپله مزه حاصليږی.

د الله تبارك و تعالیٰ احکامات خو ګڼ دی. بعض احکامات، بعضے فرائض د هغے د خاص خلقو سره تعلق ئی. نو د بعض عبادا تو د خاص وختونو سره تعلق ئی. د بعض عباداتود بعض میاشتو سره تعلق ئی ، بعض عبادات نارینه، زنانه، غریبانان ، مالدار ټولو ته شامل ئی (هر مکلف لره) بعض عبادات د یو وخت پورے تړلے ئی. چه هغه په هغه و خت کښی ادا کیږی د هغے نه ور ستو نه ادا کیږی لکه د هغے نه یو عبادت د حج دے عبادت د زکوٰه دے. نو دا تعلق سا تی د مالدار انو سره .

د عباداتو نه یو اهم عبادت چه بنیادی رکن دَ دین اسلام دے (الصلوة) مونځ کول، نبی علیہ السلام په مرض الوفات کښی هم او په حجة الوداع کښی هم بار بار دَ دے وصیت کولو. نو دا مونځ په نارینه ، زنانه (بالغ) غریبانانو، مالدارانو باندے الله پنځه وخته فرض کړے.

دَ دے مانځه د اطلاع د پاره چه خلقوته دَ دے آواز اورسیږی چه د مانځه وخت شوی دے نو دهغے د پاره په مساجدو کښی پنځه وخته آذان راغلے.

په دے بیان کښی به مونږ د آذان متعلق لږ شان خبر ے کوؤ ان شاء الله. دَ آذان اهمیت او مشروعیت، آذان د کله نه شروع شوی، بیا ددے تفصیل به هم لږ شان کوو چه په دنیا کښی دا سے یو سکینډ نشته چه هغه سکینډ به د آذان نه خالی ئی. د هغے نمونه به ذکر کوو (ان شاء الله) د آذان لغوی معنی ده (الاعلام) اعلان کول، بیا آذان دَ مخصوص کلماتو نوم دے چه په هغے سره خلق د مانځه د پاره

رابللے شی. او په شریعت کښی آذان د پنځه و خته مونځونو د پاره راغلے دے. او احادیثو مبارکو کښی راځی چه کله په کور کښی ماشوم پیداشی که هلك ئی اوکه جینئ نو به خی غوږ کښی ورته آذان او کړئ. دے نه علاوه مصیبتونو دفع کولو د پاره څه مجربات ملاویږی خو هغه احادیثو کښی نه دی راغلی، احادیثو کښی په وخت دَ زیاتوالی د باران کښی آذان نه دے راغلے نو که داسے څوك کوی او سنت طریقه ئی ګڼړی نو دا ظلم دے بعض وختونو کښی د جناتو د علاج د پاره آذان عاملین حضرات کوی خودغه و خت کښی د آذان کول به سنت نه ګڼړی صرف بطور علاج به ئی کئی(دا به نه وائی چه د پیغمبرﷺ طریقه ده چه مریض ته دے دے آذان کولے شی

ابتداء کښی آذان نه وو د هغے وجه دا وه چه د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم تعداد کم وو بس راغوند به شوه ځان ته به ئی جمع اوکړه. بیا په دمه دمه صحابه کرام سوا کیدل بیا د جمع د مونځ د پاره په اهتمام سره دَ راجمع کیدو ضرورت وو. ځکه چه ملګری ګڼړ ئی نو څه یو ځائے ئی او څه بل ځائے ئی نو دا به ټول څنګه را جمع کیږی او په کوم وخت کښی به د جمع مونځ او د ریږی ځکه د جمع د مونځ خو خپل فوائد ئی . اللہ تبارك و تعالیٰ حکم کړے.

﴿وارکعوا مع الراکعین﴾ رکوع کوئ سره دَ رکوع کوؤنکو.

یو روایت کښی راځی" کوم خلق چه کورونو کښی فرض مونځ کوی او دَ جَمعی مونځ ته جومات ته نه راځی نو ځما زړه غواړی چه څه نوجوانان ځان سره کړم او خشاك ځان سره واخلم او د هغوی کورونه اوسوزؤم. خو بیا اُووایم چه په دے کور کښی به ماشومان وی،

زنانه به ئی، کمزورے خلق به ئی .

نو دَ جَمعی دَ مونځ دَ راجمع کیدو دَ پاره څه ترتیب اختیار کړے شی؟ نبی ﷺ کـه دَ الله نـه سوال کولو نو الله به ور ته یو طریقه ذهـن کښی اچوله خو د نبی علیہ السلام هر یو کردار، هر یو عمل د امت د پاره یـو نـمـونـه ګرځی . لکه دے مقام کښی اوس وحی راغلے نه ده چه دَ مـونـځ دَ جـمـع کیـدو دَ پاره څه تر تیب پکار دے، نبی کریم ﷺ صحابه کرام رضی اللہ عنہم راجـمـع کـړه. د هـغـوی نـه ئی مشوره اغستل شروع کړل. نو اوګورے ددواړو جهانو سر دار دے او د ملګرو نه مشوره اخلی نو اشاره شـوه پـکښی د مشورے مسنونیت ته(چه مشوره مسنون طریقه ده) مشورے سره سره استخاره هم مسنون ده

خـودا اسـتـخـاره بـه پـخـپـلـه کول پکار وی. او دا اِستخاره به په کـومـو کـارونو کښی کوئ داسے نه چه یو ځائے کښی دَ ګناه کار دے او بـل ځـائـے کښی دَ دیـن کار دے او تـه اُووائـے چـه زه پـه دے کښی اسـتـخـاره کـوم نـو داسے کارونو کښی به استخاره نه کوئ استخاره په جـائـز کار کښی کول وی کله دوه جائز کارونه دی. تا له یو هم فائده مند ښکاری او بل هم فائده مند ښکاری مثلاً ته خپل بچی ته رشته کوی نـو یـو طرف ته دے وریره ده او بل طرف ته دے خورزه ده او ته وئـے که هـر یـو زه غـوارم نـو مـا لـه ئی راکوی نو اوس پـه دے دوران کښی تـهٔ استخاره اوکړه د استخارے دُعا به نبی علیہ السلام خپلو ملګرو ته ښودله.

د اسـتـخـارے دعا ګانـے احادیثو کښی راغلی دی. نو استخاره بـه جـائـز کارونو کښی کوئ. یا مثلاً دوه نوکرئ دی اودواړه جائز دی نو تـه وئـے چـه زه کومه اختیار کړم نو دے کښی ته استخاره اوکړه یا دوه

ډاکټران دی ته وئے چه کوم یو ته لاړ شم نو استخاره اوکه خو استخاره کښی دا خبره یاد سا تل پکار دی چه خوب لیدل پکښی ضروری نه دی ډیر مسلمانان وائی مونږ استخاره او که خو خوب مو اونه لیدو (ولے تا لـه بـه وحی کیږی څه) بعض وخت کښی انسان خوب اووینی او بعض وخت کښی او نه وینی.

دَ استـخارے مـطـلـب دا چـه تـا استـخـاره او کړه نو د هغے نه ورستـو چـه تـه څه کار کوی نو په هغے کښی به الله تاله خیر او بر کت اچوی. دَ استخارے معنیٰ ده دَ اللهنه خیر طلب کول .

دے پنجاب طرف ته بعض خلقود ځان نه پیران جوړ کړے وی او خـلـقـوتـه استخاره کوی او وائی استخاره د پاره مشوره اوکړے او په دے باندے د خلقونه پیسی اخلی دا ټول ګپ شپ دے .

د استخارے دعا.

"اَللّٰهـم اِنّـی اَسْتخیرکَ بِعِلْمِکَ وَاَسْتَقْدِرُکَ بِقُدْرَتِکَ اِنَّکَ تعلم وَلَا اَعْلَمُ اِنَّکَ تَقْدِ رُ وَلَا اَقْدِرُ"

که په عربی کښی چا ته نه ورځی نو په پختون کښی دے وائی.

" یـا الله زه دا کـار شـروع کـووم تـه په هرڅه باندے قدرت والائی تاله د هر څـه پتـه ده. زه خوډیرفقیراو محتاجه یمه، ما سره علم نشته زه نه پوهیږم. ربـه کـه دے کار کښی ما دپاره خیر وی نو ماله ئی آسان اوګرځی او ربه که دے کار کښی ما دپاره خیرنه ئی نو ما دَ دے نه لرے اوساتی."

په بعض راوایا تو کښی مختصرد عا هم را غلے ده:" اَللّٰهُمَّ خِرْلِیْ وَاَخْتَرْلِیْ" دَ ورځـے هم دا وئیلے شی.

دَ آذان حـکـم لا نـه وو راغلے نبی ﷺ صـحـابه کرام رضی اللہ عنہم را جـمع کړه د

مشورے د پارہ چه ملګرو څه کول پکار دی. چه دے مونځ د جماعت دَ پارہ ملګری راجمع کیږی.

الله تبارك و تعالیٰ د صحابه کرامو ﷺ صفت هم ذکر کړے ﴿وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰی بَیْنَهُمْ﴾ دَ دوی کار خپل مینځ کښی مشورے سره وی .

نبی علیہ السلام ته هم الله تعالیٰ فرمائی ﴿وشاورهم فی الامر﴾ ملګرو سره په اهم کارونو کښی مشوره کوه . ځکه مشورے سره کار نور هم آسان شی.

مشوره کښی دا ضروری خبره ده چه ملګرو مشورے ورکړے نو مشر به فیصله کوی دا به نه وی چه زما مشوره دے اومنلے شی دا غلط سوچ دے. لکه مثلاً د تبلیغی جماعت یو مشر (لس کسان دی) نو مشوره کیږی چه کار څنګه طریقے سره اوکړو نو یو ملګرے وائی داسے کار پکار دے بل وائی داسے پکار دے بل وائی داسے پکار دے. او هر یو وائی چه ځما خبره دے اومنلے شی نو بیا خو جماعت نه چلیږی . بیا دا میر او مشر ضرورت څه شو؟ خلق خپلے مشورے پیش کړی او بیا هغه امیر او مشر ته چه الله څنګه زړه کښی واچول نو ټول به په هغے عمل کوی نو دیکښی به الله ډیر خیر اچوی. په دے وجه دَ دے نه د مشورے اهمیت هم مخے ته راغلو او نبی علیہ السلام به اکثر ملګرو سره مشورے کولے.

کله چه په بدر کښی اویا کسان قیدیان راغله د کفارو نو نبی ﷺ صحابه کرام ﷺ را جمع کړل او تپوس ترے نه کوی چه دے قید یانو سره څه اوکړو حضرت عمرؓ توره راویستے او وائی اے دا لله رسوله دیکښی چه د چا خپل خپل قید یان دی نو هغے دے په خپل لاس سره هغه قتل کړی. ابو بکر صدیقؓ خپل رایه ورکړه اے د الله

رسولـه دَ دوی نـه بـه فـديـه واخلو او خلاص به ئی کړو کیدیشی ایمان راوړی. او پیسے به د مسلمانانو په اجتماعی کارونو کښی اولګوؤ.

نو نبی علیہ السلام د جماعت د مونځ ترتیب برابرولو صحابه کرام علیہم السلام ئئ راجمع کړل چه څه تر تیب پکار دے ؟

څـومـره خـونـدبـه ئی کولو" مسجد نبوی میں آقا بیٹھے ہوں گے، اردگرد صحابہ کرام رضی اللہ عنہم کا جھرمٹ ہوگا، کیسا پیارا سماں ہوگا؟ یہ تو بتا مسجد نبوی!!

دا بـه کـوم منظر وو دَ دواړو جهانو سردار ناست دے. ابوبکرؓ عمرؓ، علیؓ، طـلـحهؓ، عبد الله ابن زید ابن عبد ربهؓ او نور صحابه کرام رضی اللہ عنہم دی، سردار دو جهـان رائـے اخـلـی دا بـه کوم کیفیت وو، دا به یو کومه فضا وه. چه نبی علیہ السلام رائـے اخلی.

څه ملګرو رائـے ور کړه چه د غه و خت کښی به اور بلوؤ.

دے و خـت کښـی چـه څـومـره مـلـګرورائـے پیـش کړی پیـغـمبرﷺ د یو رائـے هم نه ده قبوله کړے. دا چه ځمونږ دور کښی یو مشـر تـه څوك خبره اوکړی او هغه ئئ او نه منی نو مونږ ورته وایو چه ځمـا درسره غم ښادی څه چه دا جماعت می هم دربخښلـے دے. مونږ مشـر نـه پیژنو، په کور کښی ځامن پلار نه پیژنی په محله کښی مشر نه پیژنی.

نـو یـو تن رائـے ورکړه چه اور به بلوؤ ملګرو ته به پته لګی چه اور بـل شـو نـو د جمع و خت شو. نبی علیہ السلام اُووے دا خـو دَ آتـش پرستو مجوسو خلقوکار دے دا ځما نه دے خوښ.

یـو تـن اُووے نـاقـوس کښـی بـه چـغـه وَهو" الصلوٰة" د مونځ وخـت دے. نـاقوس دا یو بیګل غوندے وو. نبی علیہ السلام اُووے دا دَ یهودو

کار دے. ځان د هغوی د مشابهت نه هم بچ کوئ ځکه یو روایت کښی راځی نبی علیہ السلام فرمائی " من تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُم" چا چه د کوم قوم مشا بهت اختیارکړو هغه د هغوی نه دے. (نن خو مونږ جامے د یهودو، فیشن د یهودو په شان غم ښادی د یهود و په شان)

بل تن اُووے د غه وخت کښی به یو ښکر کښی آواز کوو. نبی علیہ السلام اُووے دا د نصارو طریقه ده.

نبی علیہ السلام هم فکر مند دے صحابه کرام رضی اللہ عنہم هم فکر مند شو، فیصله او نه شوه نبی علیہ السلام د یو ملګری په رائے هم عمل اونکړو. صحابه کرام رضی اللہ عنہم لاړل خپلو خپلو کورونو ته او تول فکر مند دی (تبلیغ والا مشران وائی ملګری فکرمند کړئ نو دَ الله امداد به را شروع شی) په صبا باندی عبد الله ابن زید ابن عبد ربه رضی اللہ عنہ صحابی راغلو، نبی علیہ السلام ته وائی چه زه اُوده ووم خوب کښی یو کس راغے او ما ته ئی دا کلمات او ښودل:

"الله اکبر، الله اکبر ، الله اکبر ،الله اکبر اشهد ان لا اله الا الله ، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمداً رسول الله، اشهد ان محمداً رسول الله، حی علی الصلوة، حی علی الصلوة، حی علی الفلاح، حی علی الفلاح، الله اکبر، الله اکبر، لا اله الا الله ."

نبی علیہ السلام اُووے دیکښی خو دَ الله تعالیٰ لوئی ده دَ پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم رسالت دے پکښی راشه بلال رضی اللہ عنہ ته دا کلمات اوښایه چه دَ دے آذان اوکړی. بلال رضی اللہ عنہ په اوچت ځائے اودریدو او دا کلمات ئ په اوچت آواز سره اولوستل ، څه ورځے بعد عمر رضی اللہ عنہ او نور ملګری هم را غله چه مونږ ته هم په خوب کښی داسے کلمات چا ښو دلی دی. بس نبی علیہ السلام په دے کلماتو باندے صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ته حکم اوکړو چه آذان کښی

به دا کلمات وئیلے کیږی. په دے وجه عبد الله ابن زید ابن عبد ربه ﷺ ته صاحب الاذان (بانګ والا صحابی) هم ووئیلے کیږی.

مؤذنین: په د غه زمانه کښی دَ نبی علیہ السلام څلورمؤذنین وو. چه شهرت ئی حاصل کړے وؤ.

۱.سیدنا بلال ﷺ: دا د حبشو نه را غلے وو. د دین اسلام د پاره ئی ډیرے قربانی ورکړے دی و خلے شوی دے په ګرموشګو را خګلے شوی دے په سینه ور ته غټ غټ کانړی کیخودلے شوی دی او د هغه لویو لویو کانړواو ګرمو شګو باندے پروت دے او بیائی هم چغے وهلے دی. اَحَدٌ اَحَدٌ اَحَدٌاللہ یودے، الله یو دے.

۲. سیدنا ابو مخذوره ﷺ : دا وړوکے ما شوم وو او دے مسلمان شوی لا نه وو ده به خلق خاندول نو چه بلال ﷺ به کله آذان کولو نو ده به دَ بلال ﷺ نقل ایستلو(پیخے به ئی کولے)

بعض ما شومان دا سے وی چه نقل او باسی. نن ځمونږ د مسلمانانو اعمال صحیح ندی(الله اکبر کبراً) نو ځمونږ ما شومان د ډراموا سی ډی ګانو نقلونه او با سی ځکه چه کور کښی د غه ما حول وی. د محبت ډرامے، د عشق قصے کهانے، خو دکشی کول دا هر څه په موبائیلو کښی وی نو د هغے ما شومان د غه چلو نه ایزده کوی. ډاکے کول، بے حیائے، زنا ګانے، جینکے او هلکان د کور نه د تختیدو چلونه ایزده کوی ځکه وائی.

اس گھر کو آگ لگ گئی گھر کے چراغ سے۔

دا خو مونږ پخپله خپلو بچوته راوړے وی، وائی Refreshment کیدو د پاره. نو چه کله بیا هغوی Refreshment

حاصلوی نو ولے ئی منع کوئ بیا ور ستو ژاړی چه لور می تختیدلے. وے Refershment تــه تلے ده ژاړے څه د پاره (اللہ اکبر کبیراً) ابو محذوره ﷺ هم نقل اوباسلو نبی ﷺ راتیریدو چه پیغمبر دے نورو ماشومانو اولیدو نو هغوی منډے کړے نبی ﷺ ته دَ دے ماشوم نقل اوباسلو ډیره مزه او خوند ورکړو. نبی ﷺ د ویختو نه په دواړه لاسو سره اونیولو او ورته ئی اُووے چه وختی دے کوم نقل کولو هغه شان بیا اوکړه.، هغه پوهه شو چه اوس خو می پریدی نه او دَ دواړو جهانو سردار لاس چه د چا په سر باندے پروت وی نو څومره بختور وی، ابو محذوره ﷺ هغه شان بانګ اُووے خو چه کله "اشهد ان محمداً رسول الله" ته اُورسیدو نو لږ شان په دمه باندے شو ځکه دَ پیغمبر ﷺ رسالت خو کفارو نه منلو. اس هم که تاسو او ګورے په سعودیه کښی یا ځمونږ دے ملك پاکستان کښی هم بعض خلق داسے شته چه هغوی چرته آذان کوی نو شهادتین پکښی بعض ځایونو کښی په دمه اوائی. او دا د شوا فعو مسلك دے.

ابو محذوره نبی ﷺ ته آذان او کړو، بیا نبی ﷺ ترے نه روان شو ابو مخذوره ﷺ ورته وائی، چرته ځے؟ نبی ﷺ ورته اووے زه جومات ته ځم. ابو مخذوره ورته وائی زه هم درسره ځم زه خو نه پاتے کیږم نو هغه هم ورسره روان شو.

روایاتو کښی راځی د سیرت کتابونه ذکر کوی چه ابو مخذوره ﷺ تر مرګ پورے د خپلو ویختو نه یو ویخته هم نه وو لرے کړے. چه په دے باندے دَ دواړو جهانو سردار لاس کیخودلے دی.

۳. سیدنا سعد بن قرظ ﷺ : علماء ذکر کوی دا سعد بن قرظ هم یو

مؤذن وو.

۴. سیدنا ابن ام مکتوم رضی اللہ عنہ: دا یو نا بینا صحابی وو. قرآن کریم کښی دَ هغه په باره کښی مستقل یو سورت نازل شوی دے . سورت عبس او سورت اعلٰی هم ور ته وئیلے شی . او د هغه یو لوئی شان دے احادیثو مبارکو کښی ئی تذکره را غلے دی نو زما عزت مندو!

دآذان په طریقے سره خلق مونځ د پاره متوجه کولے شی دمونځ اعلان کولے شی او ابتداء کښی څلور پیرے دالله د عظمت چغے وهلے شی الله اکبر.....

ابتداء کښی څلور پیرے د الله اکبر وجه :

علماء ذکر کوی ابتداء کښی څلورپیرے د الله اکبر وجه دا ده دا ټول کائنات د څلورو اجزاؤ نه جوړدے.

(۱) اور (۲) اوبه (۳) هوا (۴) زمکه

او په دے څلورځیزونو کښی الله لوئی لوئی طاقتونه کیخودلے دی .

۱. داور طاقت: په اور کښی ځان ته یو طاقت دے او چه اولگی که د بجلی نه اولگی او که د یو معمولی سروټکے نه اولگی نو کور ونه سوزی ، محلے سوزی، ډیر نقصان کئی دیکښی الله یو طاقت کیخودلے دے .

۲. د اوبو طاقت : سمندر چه را شی په سمندر کښی بیا چه کوم ځناور دی. په ټنونو د هغوی و زنونه دی اوپه سمندر کښی پاتے کیږی. او بیا چه کله سیلابونه را شی نو کورونه ملکونه او علاقے روانے کړی.

مخکښی به مونږ او تاسو یدل چه فلانکی ملك کښی سیلاب راغلے نو مونږ او تاسو پښتنوپه خپلوستر گو او لیدل نو په دے اوبو

کښی هم الله یو زور اورطاقت ایخودلے.

۳. د هوا طاقت : په هوا کښی هم الله یو طا قت کیخودلے دی.

عا دیان ثمودیان الله په هوا سره تباه کړی. بعض علماؤ لیکلی چه مونږ بعض ملکو ته لاړونو دا لوئے لوئے چتونه ئی د هوا د طوفان سره به اونو کښی زوړندوو. عادیان ثمودیان چه دنیا ئی چیلنج کوله چه ځمونږ د مقابلے څوك شته؟ " لم یخلق مثلهافی البلاد" بیا الله په هوا سره تباه کړه

۴. د زمکے طاقت : په زمکه کښی هم یو طاقت دے دے نه زلزلے شروع شی. بعض ملکونو کښی په زلزلو کلی او شلیږی او تباه شی او ټول کلی ځان ته را کاږی . دابه هم پخوا مونږ او تا سو او ریدل چه فلانکی ملك کښی زلزله . فلانکی ځائے کښی زلزله نو دا هم مونږ او تا سو ته الله په خپلوسترګو اوښودل پښتنو کښی هم الله زلزلے راوستے.

بعض علماء پدے باندے لیکل کړی او هغوی د بعض ملکونو زلزلے ذکر کړی. چه یو کال په چین کښی زلزله را غلے وه او په هغے کښی اته لکه خلق تباه شوی وو. په کلتور نیا کښی زلزلے په سن ۹٦کښی راغلے وه او هغه زلزله مکمل اووه ورځے چلیده او ډیر کلی ئی تباه کړی وو.

نو الله تبارك و تعالیٰ دا کائنات د څلوراجزاؤ نه جوړ کړے نو هر مانځه دپاره مخکښی څلورپیرے الله اکبر چغے وهلے شی.

" اے یاد سا ته د اور د طاقت نه مه متاثره کیږه، د اوبو د طا قت نه مه متاثره کیږے. د هوا د طاقت نه د زمکے د طاقت نه مه متا ثره کیږه. الله د هوا نه زیات طا قت والا د زمکے نه زیات طا قت والا، او بو

نه زیات طاقت والا. داور نه زیات طا قت والا دے.

دا ګوری څه معمولی کلمه نده آذان څه وړوکی دعوت ندے د آذان کول د الله د طرف نه دعوت دے "حیّ علی الصلوٰۃ" "حیّ علی الفلاح" مانځه ته راشئ. کا میابئ ته راشئ.

شیخ القرآن د پنچ د پیر ذکر کوی.

د شرك اعتقادی څلورقسمونه دی (۱) شرك فی العلم ، (۲) شرك فی ا لتصرف(۳) شرك فی الدعاء(۴) شرك فی العبادت .

نو مؤذن صاحب چه آذان کوی نو وړومبی شرك اعتقادی رد کړی. ځکه چه د چا په عقیده کښی شرك ئی او مونځونه کوی نو دا بیا بے فائده دی (چه ا لله هم کو لے شی خو دا جهنډے پرے هسے ولاړے دی څه الله هم کولے شی خوفلانکی هم رامدد کیدے شی)

الله اکبر الله لوئے دے په اعتبارد علم سره د الله برابر علم د بل چا نشته. الله اکبرالله لوئے دے په اعتبارد تصرف سره بل متصرف نشته. الله اکبر . الله لوئے دے د د پاره د بلنے صرف الله ته به بلنه کولے شی الله اکبر . الله لوئے دے دے د پاره د عبادت، عبادت به یوائے الله ته کولے شی. سر به بل چا ته نشی ښکته کیدے.

سر میرا نا واقف سجدہ نہیں
مگر اسمیں عیب یہ ہے کہ یہ ہر جگہ جھکتا نہیں

د مسلمان زند ګی به ددے نه عبارت ئی. چه د مسلمان سر به بل چا ته نه ښکته کیږی. ډیر مسلمانان دا سے ئی چه خپل استاد ته خپل پیر ته سلام کئی نو په سینه به لاس کیدی او سر به راتیټ کړی دا نا جائز دی. نیغ په نیغه به سلام کوی. د نبیؐ طریقه دا وه مخامخ په

مخامخ به ئی سلام کولو.

دآذان جواب ور کول:

احادیثو مبارکو کښی راځی چه څوك د آذان جواب ور کوی نو د ه تــه بــه د آذان بـرابـر ثـواب مـلاویږی. د مؤذن دپاره خو ډیرا جرونـه ثوابونه دی. نبیؐ فرمائی تا سو د مؤذن صاحب د آذان استجابت (قبول والــے) کـوی. د هـغــے دوه مـطلبه دی (۱) یو قولی اجابت دے (۲) یو فعلی اجابت دے.

فـعـلـی اجابـت: مـوذن صاحب آذان او کو چه مانځه د پاره جومات ته راشئ نو تا د الله دا دعوت قبول کړو، او مونځ ته راغــے.

۲. قـولـی اجابـت: احادیثو مبارکو کښی راځی چه کله موذن صاحب آذان کئی نو ته به ئی جواب ورکوی.

د آذان جـواب: چـه څـنـګ مـؤذن صاحب وائی الله اکبر ..... نو ته به هم هـغـه شان دوباره ځان سره اُوائی، خو چه کله مؤذن صاحب اوائی "حیّ عـلـی الـصلوٰة، حیّ علی الصلوٰة، حیّ علی الفلاح، حیّ علی الفلاح" نو دَ دے په ځائــے به وائی. "ولا حول و لا قوة الا بالله"

واقعه: دَ امـام احـمـد مـتـعلق راځی چه د هغه په ګاونډ کښی یو لو هار وو، امـام احـمـدؒ خـو ډیـر لوے مُحدّث وو د هغه کتاب مسند احمد نن صبـا مُـحـقّـق دوه پـنـځوست جلده کښی ملاویږی هغه دور کښی ئی لیـکـلـی دوه جلده ئی صرف فهرست دے. مسند احمد داسے کتاب دے کـه تـه پکښی د ابو هریرة رضی الله عنه روایـات کـتـل غواړی نو مرویات ابی هریره رضی الله عنه پـه عـنـوان کـښ ګوره، که په صحیح بخاری کښی وی، که په صحیح مسلم کښی وی، که په سنن ترمذی کښی وی، که په سنن ابی

داؤد کښی وی، کـه پـه مجمع الزوائد کښی وی او که په سنن ابن ماجه کښی وی، کـه هر ځـائـے کښی وی هغـه ټول بـه پـه یو بـاب کښی ملاویږی. دغه شان د عمرؓ روایات دابو بکرؓ روایات د هر صحابی په نوم بـاندے د حروف هجاپه ترتیب ئی شروع کړے ده. اول دا لف نه شروع چـه د کوم صحابی په نوم کښی او ل الف راځی د هغه روایات بیا دَ با او تـا ..... ډیـر مـحـنـت ئی کـړے، هـغـه دور کښی د هغه کوم مشقتونه کـومـے سزاګانـے، کـوم تکلیفونه هغه ځان ته یو لوئے دا ستان دے زندګی د امام احمد بن حنبلؒ هغه دورکښی د با طل پرستو مقابله. په کوړو باندے سزا ګانے ورکول .

نـو چـه کـلـه هـغـه لـو هـار کـاکـا وفات شو نو چا خوب کښی اولیـدو ډیـر خـوشـحـاله اووائی کوم مقام چه الله امام احمدؒ ته ورکولو هـغـه مقام ماته هم ملاؤشو. نو هغه کوم کس چه خوب کښی اولیدو هـغـه وائی زه ډیر حیرانه شوم چی امام احمد بن حنبلؒ ته ګوره. د هغه د بـدن نـه خـو وینے بهیدلے شوی وو. ډیرے شو ګیرے به ئی کولے، تـکـلـیـفـونه ئی بر دا شت کول. او دے لو هار خو خپله مزدوری کوله . چړے جوړل فلاس جوړول..... د ۀ ته څنګه هغه مقام ملاؤ شو.

نـودے کـس مـعـلـومات شروع کړوددے لو هار د بی بی نه ئی تپـوس اوکړوچـه ستـا سـو دے خـاونـد داسے څه عمل کولو. نو هغه وائـی چـه بـس پـنـځـۀ و خته خپل کار به ئی کولو د هغه د زندګی دوه خبـرے مـا تـه امتیـازے دی. یـو دا چـه کـلـه بـه امام احمد بیان کولو. تـلاوت به ئی کولو. دے به په ژړا شو او وئیل به ئی چه یا الله پاکه ځما خوډیر بچی دی، او زه مزدوری کوم زه خودے له نه او زګاریږم. چه ربه

زه هم عالم وئے. ما هم دا سے تلاو تونه کولے نو څومره به خه وه. په زړه کښی ئی په اخلاص سره داسے تمناوه .

دویم نمبر دا چه کله به آذان کیدو او د ۀ به ستړك په لاس کښی وو نو چه کله به الله اکبر آواز واوریدو نو ستړك به ئی اوغورځولو. نو داد هغے په برکت سره ور ته الله دا مقام ورکړے دے.

ځما عزتمندو! د آذان متعلق نور هم مسائل شته. او په دنیا کښی داسے یو لمحه او سیکنډ نشته چه هغه د آذان نه خالی ئی مثلاً د ټولو نه اول په اندونیشیاء کښی صبا کیږی هلته کښی د سحر آذان او شی نو هلته کښی چه څومره جزائر دی په ګهنټه یو نیمه کښی هلته آذانونه مکمل شی. بیا دے سره خوا کښی چه څومره ممالك دی نو ګهنټه نیمه پس هلته کښی و خت داخل شی نو هلته کښی آذان شروع شی دا سے ګنټه دا چکر او لګوی پاکستان کښی پکښی هم و خت دا خل شی ډهاکه هندوستان.... بیا نهه ګنهټی بعد اندونیشیا کیښ دما سپخین و خت دا خل شی نو هتله کښی بیا آذان شروع شی. پدے باندے بعض علماء اوږ د تفصیل لیکلے دے چی اندونیشیاء دا سے ملك دے چی عین مشرق کښی واقع دی آبادی هم ډیره زیا ته ده په دے ملك کښی جزیرے هم زیاتے دے کوم و خت چی اندونیشیاء کښی د سحر و خت دا خل شی ډهاکه کښی د شپے دوه بجے وی یو نیمه ګهنټه اندونشیاء کښی د سحر آذانونه جاری وی نو دے نه پس جکا ر ته کښی د سحر و خت دا خل شی یو ګهنټه دا سلسله جاری وی چی ډهاکه کښی و خت دا خل شی بنګله دیش کښی د اذان سلسله جاری وی چی کلکته او سری لنکا کښی هم و


خت دا خل شی دا سلسله کلکته بمبئی کښی شروع شی او پوره هندوستان فضاء به د توحید او رسالت د آوازونو چغی وی. سری لنکا او سیالکوټ کښی سحر وخت یو وی سیالکوټ نه د کوئټے کرا چی او ګوادر پورے څلویښت منټه فرق دے پاکستان کښی د سحر اذان شروع شی چی تول پاکستان کښی د سحر د بانګ و خت په ختمیدو شی افغانستان او مسقط کښی د اذانو نو سلسله شروع شی د مسقط او بغداد مینځ کښی یو ګهنټه فرق دی د غه وقت عرب یمن امارات کویت عراق کښی اذانونه شروع شی د بغداد نه سکندریه پورے د یو ګهنټے فرق دے سو ډان شام صومالیه کښی اذان شروع شی ترکی کښی بیا سلسله اذان شروع کښی بیا افریقه ، لیبیا او تیونس کښی شروع شی. اذان چی د اندونشیا نه شروع شوے وو ۹ ګهنټے نه بعد بحر او قیانو س ته را ؤرسی بحر اوقیانوس کښی چی د سحر اذان وی اندونیشیا کښی د ماسختن و خت دا خل شی د ظهر د اذان سلسله چی ډهاکه کښی شروع کیږی اندونیشیا کښی د ما زیګر بانګونه شروع شی یوه نیمه ګهنټه کښی دا سلسله جکارته ته اورسی د مازیګر بانګونه شروع شی یو نیمه ګهنټه کښی دا سلسله جکارته اورسی اندونیشیا کښی د مابنام اذان شروع شی.

الحاصل : په دے فضا کښی ۲۴ ګهنټے د توحید اور سالت چغے وی الله اکبر کبیراً الحمد لله کثیراً سبحان الله بکرةً واصیلا .

★★★★★★★★★★★★

خطبہ نمبر: ''۲۱''

آذان [حصہ دوم]



یَویشتمَه خُطبه : "آذان" [دویمه حصه]

الحمدلله وکفیٰ و سلام علی عباده اصطفیٰ، اما بعد فاعوذبالله من الشیطٰن الرجیم، بسم الله الر حمن الر حیم .

﴿وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَنْ دَعَآ اِلَی اللّٰہِ﴾ صدق الله العظیم

زما عزت مندو د آذان متعلق څه خبرے مونږ او تاسو ګذشته جمعه کښے آؤریدلے وے، نن هم بعض اهمے خبرے د آذان متعلق ذکرکوؤ، الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَنْ دَعَآ اِلَی اللّٰہِ﴾ د چا خبره ښائسته کیدے شی د هغه چا نه چی هغه رابلل کوی الله ته و عمل صالحاً او عمل کوی د سنت برابر او د خپلے عقیدے اظهار هم کوی اووائی ﴿اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ﴾ چی زهٔ د منونکو نه یم، زه دایمان والؤ نه یم، زهٔ د مسلمانانو نه یمٔ په دے آیت مبارکه کښی د آذان اهمیت ته هم اشاره ده ځکه چی اذان هم یولوئے دعوت دے، او الله طرف ته رابلل دی.

دآذان طریقه: فقهاء کرام ذکر کوی چی مؤذن دے په طهارت کښی وی (۲) مؤذن صاحب به په او چت مقام باندے اذان کئی. نن خو د لوډ سپیکرو انتظام شته نو کچرته او چت ځائے نه ئی او په لوډ سپیکر باندے آذان کئی نو دا و چت ځائے ضرورت بیا نشته خو کچرته بجلی نه ئی یاد لوډ سپیکرانتظام نه ئی نو بیا غوره خبره دا ده چه د مؤذن د پاره او چت ځائے ئی. د نبیؐ په زمانه کښی بلالؓ جماعت سره خواکښی یو او چت کور د هغے د پاسه هم بلالؓ اذان کړے دے.

ځکه د آذان مقصد خلقو ته د الله د و حدت، د الله د حکمونو پیغام رسول دی.

(۳) چه کوم د شهادت ګوتے ئی. مونږ خلق ور ته مسواکه ګوته وایو او مسواکه ګوته ور ته ځکه وائی کچرته چا سره مسواك نه ئی نو د مسواك په ځائے استعمالیږی او دے ته په عربی کښی سبابه وائی ځکه چه اکثرخلق کنزل کئی نو دا ګوته او چتوی(د کنزلو اشاره کوی پدے سره) او دے ته د شهادت ګو ته هم وائی چه په و خت د " اشهدان لا اله الا الله " سره او چتیږی په مانځه کښی نو دا ګوتے به مؤذن صاحب په خپلو غوږونو کښی ورکړی او چه کله اذان کئی نو کعبے شریفے ته به ئی مخ هم ئی چه کوم آذان د مانځه د پاره کیږی نو هغے کښی قبلے طرف ته مخ کول لا زمی دی.اوکوم اذان چی ماشوم ته کیګی هغے کښی قبلے طرف ته مخ کول لازمی نه دی، او په غوږونو کښی ګو تے ورکول هم لا زمی نه دی.

بیا دا رنګے " الله اکبر ، الله اکبر"په " را " باندے به زیر او پیش نه وئیلے کیږی. دا به سا کن وئیلے شی بیا د هغے نه ورستو "اشهد ان لا اله الا الله ، اشهدان لا اله الا الله، اشهد ان محمداً رسول الله، اشهدان محمداً رسول الله" د آذان آخری کلمات به ساکن وئیلے کیږی داسے به نه وئیلے کیږی (الله اکبر الله اکبر) البته بعض فقها ؤ ذکر کړے دی کچر ته د "را" زبر اووئیلے شی نو جائز ده " الله اکبر الله اکبر" که پدے اول باندے زبر اووئیلے شی نو خیر دے.

(۵) بیا دَ "حیّ علی الصلوٰة" په دوران کښی مؤذن صاحب د پاره خپل مخ ښی طرف ته ګرځول پکاردی. او دَ "حیّ علی الفلاح" په دوران کښی ګس طرف ته به مخ ګرځی، بعضی خلق پکښی ټول تاویږی داسے نه دی پکار . سینه به بالکل کعبے طرف ته وی صرف ستړ به

لږ شان کوګ کړی یو طرف ته او بل طرف ته داد آذان طریقه ده.

احادیثو مبارکو کښی راځی نبی علیہ السلام یو مؤذن صاحب ته اوفرمائیل " اذا اذنت فترسل و اذا اقمت فحدر"

چه کله ته آذان کوی نو په خوند خوند او په قلاره قلاره سره وایه او چه کله اقامت کوی نو زر زر وایه. خو چه الفاظ پکښی صحیح وئیلے کیږی. دالفاظو ډیر زیات خیال سا تل پکارئی.

که چرته چا بغیر دَ اودس (وضو) نه آذان اوکړو نو آذان ئی جائز دے خو صرف دَ آدابو خلاف دے. البته اقامت بغیر د اودس نه مکروه دے.

په حالت د جنابت کښی آذان او اقامت کول دواړه مکروه دی (مکروه تحریمی) ځکه په حالت د جنابت کښی جماعت ته را تلل نا جائز دی .

بیاپه الفاظوکښی هم ډیر خیال سا تل پکارئی. بعض مؤذنین چه د بانګ شوق ئی وی خو الفاظ غلط وائی. نو دا الفاظ ایزده کول پکار دی . که چرته دا سے غلطی اوشوه چه هغے سره معنی بدله شوه نو بیا دَ بانګ اعاده واجب ده. " آلله اکبر " وئیل غلط دی. یا په دے باندے کهړا زبر وئیل نو بیا دَ دے معنی شوه "چه آیا الله لوی دے" (نو دده پکښی شك دے) دا سے بانګ نه کیږی.

یا "الله آکبر" وئیل . "آشهد ان لا اله الا الله" وئیل دے سره معنی غلط شوه. یا "اشهد ان مؤخمداً رسول الله" یا "راسول الله" دَنبی علیہ السلام هغه نوم پکښی غلط شو دا سے بانګ نه صحیح کیږی دَ ثواب په ځائے ګناه ملا ویږی، په دے وجه پکار دا وی مونږ مسلمانانو لره چه مونږ لږ لږ علماؤ سره قاریانو سره نا سته کوو چه دا خپل آذان ور ته آؤروو. بعض مسلمانانا دا سے ئی چه ته ور ته وئے بانګ اوایه

نو دا ور تہ ډیر لوئے مصیبت ښکاری. او وائی ما خو په ژوند کښی دا کار چر تہ ندے کړے وئے ته به ئی تر ژوندہ اونکړے . دا لله اکبر دا نعرہ خو نہ ختمیږی انسان چه مړهم شی نو په جنازه کښی ورپسے څلور تکبیره وئیلے کیږی ځکه که د الله اکبر زمانه ختمه شو نو دنیا ختمه شوه

دآذان الفاظ ایزده کیږی دا مونږ تہ چه الله دا غابنونه ژبه، شونډے دا حلق راکړے نو دهغے نه دا حروف ادا کیږی خو چه لږ شان ور تہ انسان وخت فارغه کړی. بس مونږ چه مخکښی څه ایزده کوو ځمونږ ژبه پدے نه راوړی. نو دا به ګورے ایزده کول پکار ئی.

دآذان او اقامت د کلماتو آخر به ساکن وئیلے شی. په دے به حرکت نه شی وئیلے کیدے بعض خلق د (را) پیش وائی دا هم غلط دے(اقامت کښی خاصکر وائی تا سوبه خیال کړے ئی) البته که د وړومبی الله اکبر په "راء" باندے زبر اووائی او دویم دا رنګے بعض ملګری. " حیّ علی الصلوٰۃِ ، حیّ علی الصلوۃ" "حیّ علی الفلاحِ ، حیّ علی الفلاح" اکثر وائی نودنحوی او صرف د قاعده مطابق خوصحیح دی خو مسنون دا سے نه دے. بعضی وائی:" قد قامت الصلوٰۃُ قد قامت الصلوۃ" دا سے به نه وئیلے کیږی. آخربه ئی ساکن وئیلے کیږی، ځکه نقل دا سے دے او شریعت خو د نقل نوم دے چه څنګه شریعت کښی را غلے وی نو هغه شان به ئی وایو. مونږ کراچئ کښی مد ر سه جامعه فا روقیه کښی وو ځمونږ استاذ محترم شیخ سلیم الله خان صاحب په وړومبی صف کښی اولاړ وو. مولانا منظور مینګل صاحب جمعے ته مخکښی وو د مسجدالفاروق

امامت به منظور مینګل صاحب کولو. نو یو قاری صاحب اقامت شروع کړو، چی "قد قامت الصلوۃُ قد قامت الصلوۃ" ئی اووئیل او چه څنګه سلام جرباسلو نو شیخ سلیم الله خان صاحب پاسیدو او وے وئیل څه شو هغه قاری صاحب او ډیره وینائی ور ته اوکه.

نن مونږ هم تپوس نه کوو صحابه کرامؓ به تیم په تیم تپوسونه کول. قرآن کریم د هغوی سوالات ذکر کوی که مونږ ځان سره حساب کتاب اوکړو نو څومره تپوسونه به مو کړے ئی. چه زه به آذان څنګه کومه، د مونځ مسائل به څنګه وی، نور دا سے زندګئ کښی اهم حالات راځی په هغے کښی ځمونږ کو مے ذمه دارئ دی .

په دے وجه دغه شان آذان او اقامت چه مو قوف او نه وئیلے شی (وقف ور باندے اونکړے شی) دا خلاف سنت دے اګر چه د صرفی او نحوی قاعدے مطابق صحیح دی. خود آذان دا طریقه د غه شان نده نقل شوی. پدے و جه علامه شامیؒ ذکر کوی.

" و قَدْ کانتُ الکلمات الآذان اعراباً اِلَّا انَّه سمعت مو قوفةً"

ابراهیم نخعیؒ فرمائی: " الاذان جزمٌ والتکبیر جزمٌ "

د آذان او اقامت آخر کښی به جزم وئیلے کیږی

حدیث پاك کښی راځی نبی علیہ السلام حکم اوکړو بلال رضی اللہ عنہ ته

" امر بلالاً ان یجعل اصبعیه فی اذنیه قال انه ارفع لصوتك"

اے بلال رضی اللہ عنہ خپلے ګوتے دے غوږونو کښی ورکړه دے سره به ستا د آواز نور هم پورته کیږی.

د آذان په تیزو وئیلو کښی حکمت دا دے چه دے سره شیطان تختی په دے وجه دَ سحر په آذان کښی "الصلوٰۃ خیر من النوم" وئیل دی که چرته

دا پاتے شی او پہ آخر د آذان کښی ورتہ را یاد شو او دائی اووی نو هم خیردے. او دا "الله اکبر، الله اکبر، لا اله الا الله" دا به ورسره دوباره اوائی.

په کنز العمال کښی یو روایت دے چی یو پیره بلال رضی الله عنه نبی صلی الله علیه وسلم ته دَ سحر د مونځ اطلاع ورکولو د پاره راغے نو نبی علیه السلام آرام فرمایلونو بلال علیه السلام ور ته دوه پیرے اووی" الصلوة خیر من النوم یا رسول الله" د نبی صلی الله علیه وسلم سترګے اوغړیدی او وی فرمائیل "ما احسن هذا یا بلال! اجعله فی اذانك" بلاله دا څه خائسته کلمات خپل اذان کښی ئی شامل کړه.

نو بلال رضی الله عنه به دا کلمات بیا د سحر اذان کښی ویل، او نبی صلی الله علیه وسلم دا کلمات ابو محذورة رضی الله عنه ته هم تلقین کړی وو، ابو داؤد شریف کښی روایت دے چی نبی صلی الله علیه وسلم ابو مخذوره نه او فرمائیل فان کان صلوٰة الصبح الصلوة خیر من النوم الصلوٰة خیر من النوم الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله زما عزت مندو د جمعے دویم اذان سنت عثمانی دے ځکه د صحابه کرامو رضی الله عنهم وربانده هم اجماع ده دے اذان ته بد عت ویل د هغه چا کار دے چی هغوی د صحابو رضی الله عنهم اجماع نه منی دا رنګی شل رکعته تراویح چه سنت عُمری دی د هغی نه هم انکار کوی او کاری هر ځائی عوامو کښی انتشار خورول او مسائلو ته هوا ور کول دی او نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "علیکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدین المهدیین" دا دآذان او اقامت متعلق مسائل دی دا په چوبیس ګهنټو کښی دا خل دی او د چوبیس ګهنټو علم ایزده کول په هر نارینه او زنانه باندے فرض دی. دا به کله ایزده کوو نو په دے چو بیس ګنټو کښی مونږ ته د الله کتاب متو جه دے او مونږ دَ دے په معنی باندے نه پوهیږو دا بسم الله ولے په دے څلیرشتو ګهنټو کښی نه ده داخله څه؟ پدے

وجه د څليرشتوګهنټو احکامات زده کول پکارئی نو دا رنګے کچرته دا لصلوة خيرمن النوم کچرته هير شی نو هم آذان او شو او آذان دو باره ووئيل ندے پکار .

بله مسئله: احاديثو مبارکو کښی راځی نبی پاك فرمائی.

'من اذن فهو يقيم' چا چه آذان اوکړونو دا آذان والا دے اقامت هم اوکړی.

که مؤذن صاحب بل چا ته اجازت ورکړی نو هم خير دے.خو حق د مؤذن صاحب دے نو پکار دا ئی چه مؤذن صاحب پخپله اقامت هم او کړی يا نورو ته د هغه د طرف نه اجازت ئی.

دا رنګے کوم ملګری چه آذان کوی نو هغه ته پکار دا وی چه دَ آذان متعلق مسائل، د مونځ دَ وختونو مسائل دے ورته معلوم وی.

بله خبره. چه کله اقامت شروع کيږی.

دے پنجاب طرف ته بعض خلق ئی نو هغوی ځائے په ځائے نا ست ئی چه کله "حیّ علی الصلوة، حیّ علی الفلاح" شروع شی نو هغوی وائی راځئ اودريږئ، د صحابه کرامو ﷺ نه د غه شان نقل ده چه څنګه اقامت شروع کيږی نو چه ملګری اودريږی هغه دوران کښی به نبی عليه السلام اعلان کولو: " سووا صفوفکم" صفونه برابرکړی. او نبی ﷺ به د صفونو سيدها کولو ډير زيات اهتمام کولو. او نن دا څيز ختم شوی دے . البته په رائيونډ کښی صرف د جمعے په ورځ د صفونو ډير زيات اهتمام کيږی.

په حرم پاك کښی هم امام صاحب مستقل درے اعلانه کوی: "سووا صفوفکم فان تسوية الصفوف من اتمام الصلوة" خپل صفونه مو برابر کړے ځکه د صفونو برابر والے دا د مونځ پوره والے دے.

احادیثو مبارکو کښی راځی نبی ﷺ فرمائی صفونه سیدها کوی که صفونه نه سیدها کوی نو ستا سو په زړونو کښی به الله مخالفت پیدا کړی.عداوتونه او دُشمنی به شروع شی.

نن مونږ دَ صفونو اهتمام نه کوو، بعضی روایاتو کښی راځی چه نبی علیہ السلام به د صفونو ډیر زیات اهتمام کولو صحابه کرام رضی اللہ عنہم فرمائی چه نبی علیہ السلام پخپله په صفونو ګرځیدو . یورځ پکښی یو کس د صف نه مخکښی شوی وو او سینه ئی بهر راوتے وه،

نو د نبی علیہ السلام طریقه دَ تعلیم ډیره عجیبه وه. "ما بال قوم" دے قوم ته څه شوی دی چه دوی ته دومره موده مسائل بیان شو او دیکښی بیا هم بعضی خلق د صفونونه مخکښی کیږی او صف نه سیدها کوی. یو عام خبره ئی اوکړه نو هغه ملګری به پخپله پوهه شوی ئی (الله اکبر کبیراً) نو د صفونو ډیر اهتمام پکار وی.

بله خبره : آذان د خطیب مخے ته وئیل لازم خبره نده(دا مسئله به په بعض ملګرو باندے نا شنا لګی) کچرے تاسو کښی چا په رائیونډ مرکز کښی مونځ کړے ئی یو هلته د خطیب مخے ته آذان نه کیږی بلکه موذن ډیر لرے وی "او که اوشی نو څه ګناه نده.

او که څوك وائی چه مخے ته وئیل فرض واجب لازم دی نو دا فرض یا څه لازم ندی.

دغه شان اقامت کښی هم دالازمی نده چه امام ته دے بالکل شا ته ولاړی که په دویم صف کښی اقامت اوکړی نو هم خیردے که ورستو او شی. نو هم خیردے. د سنتواو آدابو خلاف خبره نده.

دا رنګے فتاویٰ عالمګیری ذکر کوی د مؤذن متعلق.

"و ینبغی ان یکون الموذن رجلًا عاقلًا صالحا تقیاً عالماً بالسنة."

۱. مناسب دی چه مؤذن سړی ئی: په ښځے باندے آذان نشته . چه ددے آواز څوك و او نری . نو دا چه ګانے بجانے وائی نو دا خوبیاد جرم د پاسه بل جرم دے. ځکه ګانے ووئیل ځان ته جرم او بیا په ښځے باندے ویل بل جرم . نو په شریعت کښی د ښځے آذان ندے را غلے حتی چه ښځه به امام هم نه ګرځی پدے کښی هم ګنړ مسائل دی.

۲. عاقلا: چه عاقل ئی لیونے سړی به آذان نه کوی

۳. صالحًا : چه نیك انسان ئی.

۴. تقیاً عالماً بالسنة: چه د سنّتو طریقے ور ته معلوم ئی د مونځ د و ختونو نه به ځان خبروی. دَ نبی ﷺ ارشاد دے چی "لیؤذن لکم خیارکم" بهترین انسان دِ آذان کوی، مؤذن به هرانسان نه ګرځی . چه را شه ته بانګ اُووایه. او راشه ته بانګ اُووایه. نه معلومات به کئی. چه د آذان و خت په څه ټیم دا خلیږی . د سحر د آذان و خت په څو دا خلیږی ځکه یو حدیث پاك کښی راځی: "الامام ضامن والمؤذن مؤتمن"

۱. امام ذمه دار دے څه مطلب: که امام صاحب مونځ کوی او دے امام صاحب زړه کښی څه ګندونه ئی. یامونځ ئی اونشو نو ددے غوندے قوم ذمه داری په دے امام باندے ده.

څومره ګرانه ذمه داری ده (الله اکبر کبیراً) نن ځمونږ په زمانه کښی دَ ټولو نه سپك څیز دا مصلی ښکاری. دَ هر یو څیز یو خپل میرټ وی کوالیفکیشن ئی او دے مصلے مونږ سره هیڅ میرټ او کو الیفکیشن نشته.امام صاحب به ضامن ئی یو روایت کښی راځی دا مصلی دا ذمه داری سنبالول دا خو د پیغمبرمیرا ث دے.

۲. والمؤذن مؤتمن : پدے مؤذن اعتماد کولے شی.

مثلًا د ما سختن و خت ندے دا خل شوی او مؤذن صاحب آذان او کړوکه بیماران ئی هغوی به کورونو کښی مونځونه او کړی بے وخته. اکثرزنانه به هم مونځونه اوکړی. نو څومره جرم به او شی. ډیرو ځایونو کښی خلق ددے خیال نه سا تی. ځمونږ دے کلی کښی هم اکثرد ماسختن آذان د و خت نه مخکښی کیږی. نو آذان هم او نشو او چا چه مونځونه اوکړه نو هغه هم اونشو. ځکه چه د مونځ د پاره و خت پیژندل فرض دی. دنبی ﷺ ارشاد دے " اللهم ارشد الائمة واغفر للمؤذنین" اے الله امامانو ته هدایت نصیب کړی او اذان کونکوته مغفرت اوکړی.

نو په دے کښی ډیر زیات خیال سا تل پکارئی.نو دا رنګے مؤذن به عالم بالسنة ئی چه دے د آذان او د هغے د مسائلو نه واقف ئی. یو روایت کښی راځی نبی پاک ﷺ فرمائی: "سیأتی علی الناس زمان یترکون الآذان علی ضُعفآء هم"

دا سے یو زمانه به په خلقورا شی چه آذان به کمزورو خلقوته پریخودلے شی . په آذان به ور ته ځان بدی ښکاری. او نن هغه دورشروع دے. او په دے کښی ستا زړه دعا اوکړی د سعودیه حکومت ته که په حرمینوکښی ئی که په عام مساجدو کښی ئی هغوی ښکلے نه ښکلے، کو الیفائیډ قاری، عالم د آذان د پاره ګوری. ددوو آذانونو د پاره جدا قاری. درے آذانونودپاره جدا قاری . او بیا د هغوی خپلے خپلے ډیوټی ئی. نو په ټول دنیا کښی د حرمینو هغه آذان یادیږی(د مکے مکرمے آذان، د مدینے منورے آذان)

نو په حدیث کښی راځی چه دا سے زمانه به په خلقورا شی.
"یترکون الآذان علی ضعفآء هم" دوی به دا بانګ پریدی په کمزورو خلقو چه د بل څه کارنه ئی نو آذان به کوی. خونبی علیه السلام فرمائی.
" و تلك لحوم حر مها الله علی النار "
دا داسے غوښے دی چه الله دغه غوښے په اور حرام ګرځولے دی . یعنی د مؤذنینو دا غوښے به اور ته نه ځی. ځکه خلق خو ورته سپك ګوری. پدے وجه فتاویٰ عالمګیریه یو خبره ذکر کوی.
" و یکره آذان الفاسق ولا یعاد " چه د فا سق سړی آذان وئیل مکروه دی او کچرته آذان او کړی نو اعاده به ئی نشی کولے.
بیا د فا سق سړی تعریف ذکر کوی چه فسق څه ته وائی .
"ار تکاب المسلم کبیرة قصداً او صغیرة مع الا صرار ."
قصداً لویه ګناه کول یا وړه ګناه بار بار کول. چه کوم کسان ګناه کوی نو آذان و اقامت به نه کوی.
فسق څه دے: (۱) سود والا فاسق دے(۲) شرابی فا سق دے(۳) غلا کوونکی (۴) زنا کوونکی (۵) بے حیائی کوونکی (٦) ډول او سر نا ته غوږ کیخودونکی (۷) ګا نے بجانے ویونکی او اوریدو نکی (۸) مونځ پریخودونکی (۹) د مور او پلارنا فرمانه، (۱۰) اکل مال الیتیم. د یتیم مال خوړونکی (دا ټول کتابونو ذکر کړے دی هسے نه چه څوك فلانکی ځائے کښی د یتیم مال خوری او دی وائی چه ددے مولوی صاحب ور سره خپله ذاتی دشمنی ده)
غاصب (د چانه ئی زمکه ګیر کړے د اګر که یو انچ ولے نه ئی) ګیره لرے کونکی (داړهی) یا د شرعی مقدار نه ئی کمول دا هم علماؤ

په باب د آذان او اقامت کښی ذکر کړے چه دی به آذان او اقامت نه کئی. او که چرته آذان ئی اوکړو نو اعاده پرے نشته خو داکار ئی صحیح ندے. کنزلو والا تن ځکه دا آذان خولوئے دعوت دے . او الله تبارك و تعالیٰ فرمائی.

"ومن احسن قولا ممن دعآالی الله " څوك دے زیات خائسته د هغه چانه په وینا کښی " دعا الی الله " چه را بلل کئی الله طرف ته او په آذان کښی هم رابلل دی الله ته.

مؤذن صاحب څه وائی: د آذان د هرے کلمے په تشریح ځان پوهه کول پکار دی.

الله اکبر :

الله ډیر زیات لوئے دے د هر څه نه . بل حیث یو څیز خو د الله د طاقت نه لوئے نشته. د الله طاقتونه لوئے، د الله قدرتونه لوئے د الله نعمتونه لوئے الله په هر اعتبار سره لوئے ذات دے دالله اکبر څلور پیرے مؤذن صاحب وائی.

چه کله د الله د الوهیت د الله د لوئے. د الله دکبریائے اقرار مؤذن صاحب اوکړی نو دهغے نه ورستو بیا شهادت دے.

"اشهدان لا اله الا الله" زه دا اقرار کوم چه بل حاجت سر کولو والا نشته. بل ذمه دار نشته، بل نفع ور کولو والا. بل نقصان ورکولو والا نشته، بل دا تا اوغوث اعظم، او گنج بخش نشته، بل اولاد ورکولو والا نشته، بل صحت ور کولو والا نشته(دا مؤذن صاحب بانگ کښی وائی)

اشهدان لا اله الا الله. زه دا گواهی کوم اعتراف کووم لا اله الا الله . چه راج به یو د الله چلیږی حکومت به یو د الله چلیږی. نو چه کله دا اقرار

دے او کړو نو دے نه ورستو اشهدان محمداً رسول الله زه دا هم ګواهی کوم دا هم زه اقرار او اعتراف کوم چه محمد ﷺ رسول د الله دے رسم و رواج به دهغه چلیږی.

"اشهدان لا اله الا الله اشهد ان محمداً رسول الله" د اخلاصه ده د لا اله الا الله محمد رسول الله نو دیکښی دوو مسئلوته اشاره شو او دا مسئلے به یاد سا تو راج به د الله چلیږی او رواج به د پیغمبر ﷺ چلیږی(څنګه زبردست خبره شوه)

۱. اشهد ان لا اله الا الله . راج چلے گا تو ایک اللہ کا چلے گا

۲.اشهد ان محمد رسول الله (چه رسول دے اومنلو) تو رواج اسی ہی کا چلے گا.

نو په غم کښی هم طریقه د پیغمبر ﷺ، په بنادئ کښی هم طریقه د پیغمبر ﷺ ما شوم پیدا شی نو طریقه د پیغمبر ﷺ څتنے کښی هم طریقه د پیغمبر ﷺ دا خو مؤذن صاحب مونږ ته دعوت راکوی. نن خو مونږ وایو بس بانګ ئی اووئے او خبره ختمه شوه.

اول ئی مونږ ته عقیده صحیح کړه ځکه چه عقیده صحیح نه ئی نو د مونځونو فائده نشته. اول الله اکبر اوشو. بیا شهادت د لااله الا الله ، او شو. بیا شهادت د " محمدرسول الله " نو چه کله عقیده برابر شوه نو د هغے نه ورستو وائی" حی علی الصلوٰه" حی علی الصلوٰه ما نځه ته را شی مانځه ته را شی. اول نه وائی چه مونځ ته راشی ور پسی وائی حی علی الفلاح ، حی علی الفلاح . کامیابی ته را شه کامیابی ته را شه. که ته کامیابی لټوی نو کامیابی په جماعت کښی ده.

نن خلق وائی زه به کامیاب شم چه جائیداد می سیوا شی، مال می سیوا شی . تنخواه چی سیواشی، اقتدار می سیوا شی، ووټران می سیوا شی

نو دا به کامیابی ئی. دلته په جماعت کښی پنځه و خت آواز کیږی "حیّ علی الفلاح، حیّ علی الفلاح" کامیابئ د پاره جومات ته راشه.

ځمونږ عقیده دا ده ځمونږ سوچ دا دے چه کامیابی په مال و جائیداد او په تنخوا کښی ئی. مؤذن صاحب مونږ ته عقیده ښائی "حیّ علی الفلاح" د کامیابی ځائے او پیژنه دا کامیابی په جومات کښی ملاویږی چه مونځ ته انسان برابرشو نو بیا وائی.


اللہ اکبر، اللہ اکبر . لا الہ الا اللہ

دامسئله چرته هیره نکړے. نشته بل حاجت سر کولو والا مګر یو اللہ دے . دا د آذان لفظی او مختصرترجمه او تشریح وه. په آذان کښی یو لوئے سبق دے د اذان په کلماتو کښی یو لوئے جامعیت دے ددین بنیادی اصول پکښی راجمع دی جاندار او موثر دعوت دے ، دَ هر مسجد نه روزانه پنځه وخته دَ دین دا لوئی دعوت نشر کیدګی مقصد هم پکښی دا دے چی مسلمانان د غیر اسلامی دعوتونو او پروګرامونو شکار نه شی نو که مونږ او تا سو لږ لږ وخت فارغ کړو دَ آذان اقامت او د مونځ د یو یو لفظ ترجمه لږ شان ایزده کوم. عام خلق چه کو شش دا کوی چه لس مینټه په ځلیر شتو ګهنټو کښی او باسی چه خپل عالم حافظ او قاری صاحب سره کینی چه دمونځ سبق او تر جمه ور سره یادوی د آذان او اقامت تر جمه ور سره یادوی او چه پدے باندے پوهه شو چه دا مونږ څه وایو او څه کوو. نو ددے به ډیره زیاته فائده ئی. انشاء اللہ اللہ دے مونږ او تا سو ته په دے خبرو د عمل کولو توفیق نصیب کړی(آمین)

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ''٢٢''

مُحرم



دوه ویشتمَه خُطبه : "مُحرّم"

الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره .....

اما بعد فاعوذبالله من الشيطان الرجيم ـ بسم الله الرحمٰن الرحيم ـ

﴿كنتم خيرا مة اخرجت لناس تأمرون بالمعروف و تنهون عن المنكرو تؤمنون بالله﴾

عزتمندو مسلمانانو! دا کومه میاشت مبارکه چه شروع ده دا ډیره معززه او محترمه میاشت ده او دَ دے میاشت نوم دے محرم الحرام. څنګه چه دَ شمسی کال (چه کوم دَ نوَر حساب کتاب دے) آخری میا شت دسمبر وی او وړومبئ میاشت جنوری وی، اګر چه د غه جنوری فروری ..... نومونه بعضی علماؤ ناخوښ ګرځولے دی خو چونکه اوس رائج دی او د هغے دا ستعمال نه بغیر ډیرمشکلات دَ خلقو مخے ته راځی. نو دا رنګے د اسلامی کال آغاز دَ محرم الحرام نه کیږی. ډیر مسلمانان داسے شته چه هغوی دَ محرم میاشت سپیره ګڼړی نو په دے میاشت کښی هغوی نکاح، وَدُونه او دَ خوشحالے پروګرامونه وغیره نه کوی او دا عقیده لری که چا په دے میاشت کښی بنادی اوکړه نو دے سره به کور ته سپیره والے منتقل شی دا ډیره غلطه نظریه ده. او دا ډیره غلطه عقیده ده. ځکه یو زمانه یا یوه میاشت سپیره ګرځول ناروا دی. بعضی ملکونو کښی بعضی خلق شته چی دَ محرم میاشت په دے وجه سپیره ګڼړی چه (العیاذ با لله) چونکه دے میاشت کښی سیدنا حسین رضی اللہ عنہ چه دَ سیدنا علی رضی اللہ عنہ او دَ سیده فاطمہ رضی اللہ عنہا ځوے او دَ نبی علیہ السلام نوَسی وؤ، هغه شهید شوے وؤ. دا خو هغوی شهادت سپیره اوګڼړو او دا خو ډیره غلطه خبره ده. شهادت خو یو لوئے مقام دے. بیا دا میاشت معزّزه دَ سیدنا حسین رضی اللہ عنہ دَ

شهادت دَ وجے نه معززه نه ده بلکه دَ اسلام نه مخکښی هم دا میاشت د محرم محترمه وه. بنی اسرائیلو ته د فرعون نه نجات هم په دے میاشت دَ محرم کښی ملاؤ شوے وو. په دے میاشت کښی فرعون ظالم تباه شوی وو. نو دا کوم خلق چه په دے میاشت کښی و دونه کول خه نه ګنړی. دا د فرعون په هلاکت باندے خفه ئی چه ځمونږ نیکه پدے کښی هلاك شوی وو. نو ځکه ښادی نه کوو.

سیدنا حسین رضی الله عنه که شهید شو نو د شهید خو لوئے مقام دے او مونږ او تاسو ته په دے محرم کښی لوئے عبرتونه هم پراته دی. چه ګوره د اسلامی کال آغاز دے نو په دے کښی دَ سیدنا حسین رضی الله عنه دَ شهادت واقعه هم راغله، دَ سیدنا حسین رضی الله عنه دَ شهادت نه مخکښی خلیفه ثانی سیدنا عمر بن خطاب رضی الله عنه هم په دے میاشت کښی شهید شوی وو (وړومبی محرم باندے) په لسم تاریخ باندے سیدنا حسین رضی الله عنه شهید شوی وو نو ګویا چه دَ اسلامی کال آغاز دَ شهادت سره تړلے دے نو په دیکښی مسلمانانو ته د جهاد ترغیب دے.

بله خبره: په دے میاشت کښی ډیر خلق خرافاتو کښی مبتلا شوی اوس خو الحمد لله په دے علاقو کښی د قرآن کریم دَ درسونو په برکت سره. دَ توحید و سنت دَ اشاعت په برکت سره د خلقو ذهن سازی شوی ده ورنه دے مشرانو ته به یاد وی چه په دے میاشت کښی به خلقو وریژی پخولے او ترشے به ئی پکښی اچولے. او ووئیل به ئی چه دا دَ مړو شپه ده. او دا دَ حسنیانو شپه ده. نو بعض خلقو به شربت ویشلو او وے به ئی چی سیدنا حسین رضی الله عنه باندے او به بندے شوی وے او عقیده به ئی دا ساتله چه دلته مونږ شربت خیرات کړو نو دا سیدنا

حسین رضی اللہ عنہ تـه هلته کښی رسی. دا یو بله غلطه نظریه وه. داسے قسمه غـلـط نـظریـات خـلـقـو کښی رائج وو دا دَ شیعه ګانو نه په مسلمانانو کښی منتقل شوی وو.

کـه چـرته دَ سیدنا حسین رضی اللہ عنہ دَ شهـادت پـه ورځ باندے خلق د حسـنیـانـو شپـه کـوی. د مـړو شپـه کوی نو بیا دے د سیدنا عمر رضی اللہ عنہ دَ شهـادت پـه ورځ هـم وریـژی پـخـوی او شربتونه دی ویشی کنه، سیدنا عـثـمان غنی رضی اللہ عنہ هـم شهیـد شـوی وو د هـغـه شپه دے هم مناوی کنه، نبی علیہ السلام وفـات شـوی دے دَ ټولـو نـه اعلیٰ دے نو دَ هغه دَ مرګ شپه دے هـم مـنـاوی کـنـه. بیـا خو به یو ورځ هم دَ چا اوزګاره نه شی (ګوره څـوك سـوچ هـم نـه کـوی) او پـه دے میاشت کښی مسلمانان دشیعه ګـانـو هـغـه تقریرونه آوړی نو هغوی ورته واقعه کربلا بیانوی ډیره په عـجیبه انداز سره چه خلق ژړوی.

سیدنا حسین رضی اللہ عنہ سره صحیح ده ظلم شوی وو، هغه یو مظلوم انسان وو، دهوکه ور سره شوی وه، سیدنا حسین رضی اللہ عنہ یو دَ سید هفاطمہ رضی اللہ عنہا ځوی وو، دَ نبی علیہ السلام نـوسی وو. او د سیدنا علی رضی اللہ عنہ ځوی وو. دا دَ سیدنا حسن رضی اللہ عنہ نه کشر وو او نبی علیہ السلام ته دا خپل نوَسی ډیر زیات ګران وو چه کله سیدنا امیر معاویه رضی اللہ عنہ بیمار شو او بیا هغه خپل نائب او خلیفه ئی یـزید مقرر کړو. او دا یزید سیدنا امیر معاویه رضی اللہ عنہ په خپلـے رائـے سره نه وو مـقـرر کړے دَ سیدنا مغیره بن شعبه رضی اللہ عنہ نـه ئی هم مشوره اغستـے وه. او بیـا ډیرو صحابه کرامو رضی اللہ عنہم دَ یـزید په لاس باندے بیعت هم کړے دے. نـن په تاریخ کښی خلقو یزید ډیر زیات بد نام کړے دے او بعینه قاتل ئی دَ سیدنا حسینؓ حسابوی، دا غلطه ده.

اصل خبره داده. چه کوفے والو سیدنا حسین ﷺ ته دَ یزید دَ خلافت دَ ملاویدو نه ورستو ډیر خطونه اولیګل چه تاسو دلته راشئ او ډیر خطونه د تاریخ کتابونو ذکر کړی دی، مقدمه د ابن خلدون ور باندے ډیر خه لیکل کړی دی چه تاسو دلته راشئ کوفے والو مجبوره کړو. نو ملګرو ورته اُووے چه تا سو هلته کښی مه ځئ دا کوفے والا خه خلق نه دی. خو چه سیدنا حسین ﷺ کله روان شو نو کوفے والو ورسره بے وفائی اوکړه. سیدنا حسین ﷺ لره ابن زیاد ګیر راکړو بیا شمر راغے او ډیر بے دردے سره ئی دَ نبی علیہ السلام دا نوسی دَ سیده فاطمہؓ دَ زړه ټکړه شهید کړو. او شمر ترے نه بیا سر هم کټ کړو او په اسونو باندے ئی دَ بدن ډیره بے حرمتی اوکړه، بیا چه دغه سر کله یزید ته تلے نو یزید ورباندے خفګان ښکاره کړے دے. اګر چه د سیدنا حسین ﷺ په شهادت او وفات کیدو کښی یزید هم ګنهګار دے ځکه چه هغه وخت کښی حکمران یزید وو. خو چه کومو کتابونو کښی یزید ته چا کافر وئیلی چا ورته لعنتی وئیلی نو دومره زیاتی هم نه دے پکار. بس دَ یزید حکومت وو او دَ یزید په حکومت کښی سیدنا حسین ﷺ سره ظلم اوشو او سره دَ خاندانه شهید کړی شو.

د تاریخ کتابونه ذکر کوی چه جنت البقیع کښی دفن شو یا دمشق کښی او باقی جسد ئی په کربلا کښی پاتے شو . سیدنا حسین ﷺ په دے لسم تاریخ (یا پرون لسم تاریخ وو یا نن لسم تاریخ دے) باندے شهید شو.

دَ سیدنا حسین ﷺ مناقب خو ډیر زیات دی خو دا یو واقعه خاص کول او دا په عجیبه انداز سره پیش کول نامنا سب دی.

په دے ځان پوهه کول پکار دی چه سیدنا علی ﷺ شهید شوی وو، دَ هغه څوك نوم هم اخلی اوکه نه؟ دَ سیدنا علی ﷺ شپه مناووی؟ سیدنا حسن ﷺ شهید شوی وو، دَ سیدنا حسین ﷺ ورور وؤ ز هر ورته ورکړے شوی وو، دَ سیدنا حسین ﷺ نه مخکښی دَ هغے چا ته پته هم نشته او نه هغه واقعه څوك بیانوی. او بیا دَ سیدنا حسین ﷺ نه دَ سیدنا حمزه ﷺ دَ شهادت وا قعه هم ده هغه سره څومره ظلم شوی وو. چه کله سیدنا حمزه ﷺ باندے ئی ګزار اوکړو او بیا دَ ابو سفیان ښځه را غله او دَ هغه زړه او اِینه ئی راؤباسله او په غاښونو کښی ئی اوچکوله نو دَ سیدنا حمزه ﷺ دَ وفات شپه هم مناوی که نه؟ سیدنا عثمان غنی ﷺ شهید شو، دَ الله کتاب ئی لوستلو چه کله ئی ﴿فسیکفیکهم الله و هو السمیع العلیم﴾ اولستو نو ظالمانو وربانده حمله او کړه او شهیدئی کړو. او وینه ئی د قرآن د پاسه اوبهیدله.

دَ سیدنا عثمان غنی ﷺ په بی بی باندے حمله شوی وه. لاسونه او ګوتے ترے نه کټ کړے شوی وے. دا دومره ظلمونه ورسره شوی وو. نو په دے وجه د سیدنا حسین ﷺ واقعه په دے ورځو کښی بیانول او په هغے کښی غُلو کول بیا ډیر دَ تاریخ کتابونه شته چه هغوی په دے کښی دو مره غُلو کوی چه بعضی صحابه کرامو ﷺ باندے بد نامه لګوی، سیدنا امیر معاویه ﷺ باندے پکښی بد رد وائی، دا کوم خلق چه دے ته ډیره هوا ورکوی دَ هغوی اصل کښی سیدنا امیر معاویه ﷺ سره دشمنی ده نو هغوی په دے حال کښی صحابه بدناموی او مونږ او تاسو ته دا قرآن کریم او احادیث مبارکه دَ صحابه کرامو ﷺ په قربانو سره رارسیدلے دی نو چه کله صحابه

کرامؓ بد نام شو نو بیا د قرآن او سنت نه هم اعتماد ختم شو.

بیا ډیر خلق په دے محرم کښی بد عات کوی خلق د مړو شپے کوی بعض خلق پکښی نیاز حسینؓ نذر حسینؓ پیش کوی دا بالکل شرکی عقیده ده. دویم دا که ته ووئے زه ئی دا یصال ثواب د پاره کوم ایصال ثواب د پاره د میا شت تخصیص څنګه کوی او د سیدنا حسینؓ تخصیص ولے کوی. ته چه یوائے د سیدنا حسینؓ دَ ثواب د پاره شربتونه، دیګونه خیرات کوی نو د سیدنا حمزهؓ د ثواب د پاره ولے نه کوی؟ د نبی علیہ السلام د ثواب د پاره ولے نه کوی؟ تا باندے دَ مور او پلار حق دے، ستا دَ نیا نیکه حق دے، هغوی دَ پاره ولے خیرات نه کوی چه هغوی تاله په رشته کښی ډیر نیزدے دی او په تا باندی ئے حق سیوا دے.

صحابه کرامو ؓ دا سے نه دی کړی او دا په دین کښی نشته. په دے خو هر انسان پوهیږی سا ده شان خبره ده. اسلامی کال کښی شاید چه دا سے ورځ به نه ئی چه په هغے باندے چرته یو صحابی نه ئی شهید شوی چرته یو پیغمبرنه ئی شهیدشوی نو بیا به خود کال دولس میاشتے لګیائی او خیرا تو نه کوه. بیا خو به چرته اوزګاریږی نه. ته ددے ورځوتحصیص ولے کوی.

اوس الحمدلله دے علاقو کښی خو ډیرزیات کار شوی دے. دا خبره یاد سا تل پکاردی چه د خیرات نه مونږ اسلام نه منع کوی چه کله دے هم وس کیږی نو خیرات کوه خو دا پکښی مه وایه چه دا د مړو شپه ده دا د حسنیا نو شپه ده. دا قصے قطارے پکښی نشته.

بیا ډیر خلق دا سے شته چه هغوی سیدنا حسینؓ ته امام

حسین ﷺ وائی نو سیدنا ابوبکر ﷺ سره ولے امام ابوبکر نه وائی؟ سیدنا عمر ﷺ سره ولے امام نه وائی؟ دا په اصل کښی روافض، شیعه ګان چه دی نو هغوی خپل امام معصوم ګنړی، غیب دان ئی ګنړی، نو دا نوم هم ورسره هغوی لګولے دے او اوس مونږ مسلمانان ئی هم ورسره وایو (امام حسین ﷺ)

بیا ډیر خلق شته چه علیه السلام ور سره وائی نو دا هم خه خبره نه ده شیعه ګانو سره مشابهت دے. او بیا ډیر داسے سر کاری ادارے شته چه هغوی په محرم کښی چتهیانے ورکوی نو ووئے د پیغمبر ﷺ د مرګ په ورځ ولے چهتی نه ورکوی د سیدنا حمزه ﷺ دَ مرګ په ورځ ولے چهتی نه ورکوی. د سیدنا عثمان غنی ﷺ د مرګ په ورځ ولے چهتی نه ورکوی، دَ سیدنا علی ﷺ او سیدنا حسن ﷺ دَ مرګ په ورځ ولے چهتی نه ورکوی. نو معلومه دا شوه دا څه بله خبره ده. دا په اصل کښی په مسلمانانو کښی شیعه ګان رادننه شوی دی نو دوی هم دَ هغوی نه متاثره شی. دا رنګے په دے میاشت کښی خلق بلا واقعات بیانوی خو چا پکښی هم دَ سیدنا عمر فاروق ﷺ وا قعه بیان کړه؟ حالانکه دَ دے میاشت په وړومبی تاریخ سیدنا عمرفاروق ﷺ شهید شوی. ابو لولؤ مجوسی راغلو، سیدنا عمر فاروق ﷺ غالباً د سحر دَ مانځه سلام ئی جرباسلو او په نیزه باندے ئی پرے ګزار اوکړو او په یکم محرم الحرام باندے سیدنا عمر فاروق ﷺ شهید شو. او دَ سیدنا عمر فاروق ﷺ ګنړ مناقب دی، امام بخاری شپاړس احادیث ذکر کړی په مناقبو دَ سیدنا عمر ﷺ بن خطاب کښی نو د هغه تذکره څوك نه کوی او په یکم محرم الحرام باندے څوك چهتی هم نه کوی.

په دے میاشت کښی په شریعت کښی څه راغلی دی نو هغه هم در ته بیان کړم. نبی علیہ السلام نه چه دے میاشت کښی کوم عمل ثابت دے دا شر بتونه ویشل او وریژی پخول دا ندی ثابت. ثابت عمل دا دے چه یو دا میاشت د مخکښ نه محترمه ده. فرعون پدے میاشت کښی غرق شوی وو پدے میاشت کښی سیدنا عمر بن خطاب رضی اللہ عنہ شهید شوی وو. سیدنا حسین رضی اللہ عنہ د خپل خاندان سره په ډیرے بے در دے اومظلومیت سره شهید شو د کربلا په میدان کښی د هغه نه سرپرے کړے شو ظلم ورسره او شو. نو پدے میاشت کښی بنادی کول منحوس او سپیره ګنړل دا غلطه نظریه ده بلکه دیکښی ډیرو صحابو دونه او نکاح کړے ده شهادت څه سپیرۀ څیز نه دے او دَ شهادت لوئے مقام دے.

احادیثو مبارکو کښی راځی بنی اسرائیلو به دیوم العاشوره روژه نیوله په لسمه ورځ د محرم باندے او دوی ځکه په دغه ورځ روژه نیوله چه په د غه ورځ دوی ته دَ فرعون نه نجات ملاؤ شوی وو نو نبی علیہ السلام ووئے مونږ ډیر زیات لائق یو چه مونږ هم روژه او نیسو. بیا نبی علیہ السلام صحابو کرامو ته او فرمائیل . نو صحابو ور ته اووئے چه یهودیان خو یوورځ روژه نیسی نو مونږ ته خو ددی مخالفت پکاردے. نبی علیہ السلام او فرمائیل چه دوی یو ورځ روژه نیسی نو مونږ ته دوه ورځے روژے نیول پکار دی. (یو د لسم محرم روژه او دویمه ورسره دنهم محرم، یا د یو لسم محرم) او نبی علیہ السلام اوفرمائیل که آئنده کال زه ژوندے پاتے شوم نو زه به ور سره دویمه روژه هم ملګرے کوم.

ځکه دَ نبی علیہ السلام دا عقیده وه چه زه به وفات کیږم. اوس بعض

خلق پنجاب طرف ته وائی پیغمبر ﷺ نه دے وفات شوے. پیغمبر علیہ السلام په خپله وائی که زه آئنده کال ژوندے پاتے شوم ځکه د پیغمبردا یقین ووجه ما باندے به مرګ راځی. بیا نبی علیہ السلام و فات شوی وو. په نبی علیہ السلام جنازه شوی ده نبی علیہ السلام بیا د فن شوی وو نبی علیہ السلام پسے صحابه کراموڑ ا ګانے کړے وئے.

سیده فاطمہؓ ورپسے مرثیه وئیلے.

صُبّت علیّ مصاتب لو انها
صُبّت علیّ الایام صِرن لیالیا

نو نبی علیہ السلام اووے که آئنده کال زه ژوندے پاتے شوم نو بله روژه به ور سره زه یو ځے کوم. نو دیکښی د پیغمبر ﷺ وفات ته هم اشاره شوه بعض وائی چه پیغمبر ﷺ کښی به د الله صفات ئی څنګه چه الله هغه ذات دے چه په هغه باندے مرګ نه راځی نودوی وائی په پیغمبر ﷺ به هم مرګ نه راځی. دا غلطه نظریه ده دا سے قسمه مسلمانان هم شته چه خلقو ته عقیدے خرابوی.

نو په احادیثو مبارکو کښی د محرم الحرام دوه روژے ثابت دی لسم محرم او دویمه روژه ورسره د مخکښ ورځے یاد ورستو ورځے ددے ثوابونه شته دے ددے نه علا وه چه د مړو شپے دی د حسنیانو شپے دی او بعض پکښی نذر حسینؓ نیاز حسینؓ نو دا نا جائز څیز ونه دی.

نو خبره دا چلیده چه سیدنا عمرفاروق رضی اللہ عنہ د محرم الحرام په ورځ مبی تاریخ باندے شهید شوی دے (خلیفه ثانی) ډیر نراو غیرتی انسان وو کنیت ئی ابو حفص وو. او لقب ئی فاروق وو . ابو حفص ور ته

په څه وجه وائی نو په اصل کښی ابو حفصه دے حفصه ئی مشره لور وه. دا د نبی ﷺ په نکاح کښی را غلے وه سیدنا عمر رضی اللہ عنہ د نبی ﷺ سخر هم دے. نو په دے وجه مسلمانانوته پکار دائی چه د نورو صحابه کرامو رضی اللہ عنہم تذکرے هم پدے میاشت کښی کوی نن پکښی مونږ دَ سیدنا عمر فاروق رضی اللہ عنہ مختصر حالات بیانوو ځکه چه ددے میاشت په ورځ مبی تاریخ باندے هغه شهید شوی وو. او په صحابه کرامو کښی زیات خلافت سیدنا عمرفاروقؓ کړے وو. لس کاله څلور میا شتے شپږ ورځے ئی خلافت کړے وو. او پدے کښی عمرفاروقؓ ډیر کارونه کړے وو. د ابولؤلؤ محبوسی د لاسه سیدنا عمر فاروق رضی اللہ عنہ شهید شو. امام بخاری حدیث ذکرکوی. نبی ﷺ فرمائی ما خوب اولیدو او په هغے خوب کښی می جنت اولیدواو په جنت کښی می سیده ام سلیمؓ اولیده(ددے نوم رومیثه دے) د سیدنا ابو طلحه رضی اللہ عنہ بی بی ده د سیدنا انس رضی اللہ عنہ مور ده) او بیا نبی ﷺ فرمائی چه ما د چا دَ خپو کشار واؤرید و نو ما تپوس او کړو چه دا څوك دی ؟نو ما ته اووئیلے شو دا خو په جنت کښی د بلال حبشی رضی اللہ عنہ د خپو کشار دے او د یخوا یو ډیر زیات لوئے او ښکلے محل وو په هغے کښی یو ډیره ښکلے حوره نا سته وو..... زما اراده وه چه زه ددے محل تما شا اوکړم دا خو ډیر نا شناډیزائن باندے دے. ما تپوس اوکړو چه دا د چا دے؟ نو ما ته اووئیلے شو چه دا خو د عمرفاروقؓ د پاره دے نو فرمائی نبی ﷺ چه د سیدنا عمر فاروق رضی اللہ عنہ هغه غیرت می رامخے ته شو نو بیا زه هغے محل ته دننه ورنغلم. بیا سیدنا عمر رضی اللہ عنہ ته نبی ﷺ خوب بیانوی. سیدنا عمر رضی اللہ عنہ ورته اووے اے د اللہ رسوله دننه به ورغلے

وئے کنه." یا بی و امی اعلیك اعار "
اے د اللہ رسولہ ځما مور اوپلاردے تا نه قربان شی زما غیرت ته ددے نه منع کړے. او سیدنا عمرؓ په ژړا شو.

یو روایت کښی راځی نبی ﷺ فرمائی ما خوب اولیدو او په خوب کښی می پَیۍ څکل او د پیؤ څکلو هغه اثرات، هغه لذت او خوند ځما د ګوتو په دے بندونو کښی محسوس شو نو چه زما نه کوم پیۍ بچ پاتے شو "فَنَاولته عمرؓ" ما هغه عمرؓ ته ورکړل. نو ما ته صحابه کرامؓ وائی "فما اولته یا رسول اللهﷺ؟" اے د اللہ رسولہ بیا تا دَ دے خوب تعبیر څنګه اویستو؟ نو نبی ﷺ اُوفرمائیل دَ دے تعبیر علم او دَ دین فهم دے چه سیدنا عمرؓ ته به اللہ ډیر علم او پوهه ورکوی. دا رنګے یو روایت کښی راځی نبی ﷺ سره یو ورځ خپلے بیبیانے ناستے وے نو دَ صحیح بخاری په روایت کښی راځی چه بیبیانو ئی لږ شان آوازو نه تیز کړه څه مطالبے ئی ترے نه اوکړه چه مونږ ته خرچه ډیره پکارده. نو پدے کښی سیدنا عمرؓ راغے اجازت ئی او غښتو چه نبیؓ ور ته اُووے راځه ځما په مخکښ مو په تیزه تیزه خبرے کولے خو چه عمرؓ مو اولیدو نو تولے پتے شوئ هغوی اُووے اے دَ اللہ رسولہ ته خو ډیر نرم زړی ئی او سیدنا عمرؓ ډیر سخت مزاج والا دے نو سیدنا عمرؓ نبی ﷺ ته وائی دَ اللہ رسولہ زه ډیر زیات سخت یمه؟ نو نبی ﷺ ور ته وائی :

"یا عمر ما لقیك الشیطان سالك فجٍّ قطا الا سلك فجاً غیر فجك ."
اے عمرؓ چه ته په کومه لار روان ئی او شیطان مخے ته را روان ئی نو شیطان هم لاره بدلوی (ستا نه شیطان یریږی نو دا خو زنانه دی)

دا دَ سیدنا عمر رضی اللہ عنہ شان وو لوئے مقام والا صحابی دے. سیدنا عبد اللہ ابن مسعود رضی اللہ عنہ وائی چه کله نه سیدنا عمر رضی اللہ عنہ ایمان قبول کړے نو اسلام ته اللہ پاك ډیر زیات عزت ورکړی او سیدنا عمر رضی اللہ عنہ دَ ایمان قبولو نه مخکښی هم ډیر سخت طبیعت والا وو. روزانه به میټنګ کیدو. چه دا محمد علیہ السلام راغلو دا صحابی را غلے . یو ورځ په میټنګ کښی سیدنا عمر رضی اللہ عنہ خپلو ملګرو ته اُووے چه روزانه مو دَ میټنګ نه تنګ راوستے یُو، خوخه مو نه ده چه لاړشم او په یو ګزار سره ئی ختم کړم نو هغوی ورته اووئے بالکل ته دا کار کولے شی. سیدنا عمر رضی اللہ عنہ توره راواغسته او څه وړوکی شخصیت نه دے دَ مکے دَ غټو بد معا شانو نه دے .څوك ئی دلاری دَ نیولو نشته. په لارکښی ور ته یو صحابی رضی اللہ عنہ مخے ته ورغلو چی نوم ئی سیدنا نعیم بن عبد اللہ النحام رضی اللہ عنہ دے، هغه ورته وائی عمره ډیر غصه کښی روان ئی خیر خو دی؟ چرته اراده لرے؟ نوعمر ورته اووئیل " ارید محمداً هذا الصابی الذی فّرق امر قریش و سفه احلامها و عاب دینها و سب الهتها فَاَ قُتله "

دَ دے صابی دَ وژلو اراده می کړی ده خپل آبائی دین ئی پریخودے دے د قریشو وحدت ئی ټکړے ټکړے کړے دے، مشرانو ته بے عقله وائی او د هغوی په دین باندی عیب لګوی. او خدایا نو ته ورته بد رد وائی. هغه ور ته اُووے چی عمره که ته محمد اووژنے نو آیا بنی عبد مناف به تا ژوندی پریدی. نو هغه ته عمر وائی ځما خیال دا دے چه ته هم بے دینه شوی ئی. نو بس هغه ته ئی توره راخلاصوله. هغه ورته اُووے محمد صلی اللہ علیہ وسلم پریده وړومبی دے د خپلے خور خبر واخله

(دَخور نوم ئی فا طمه بنت خطاب وو) سیرة د ابن هشام لیکلی دی چی سیدنا عمر فاروق رضی اللہ عنہ خور فا طمه بنت خطاب د سعید ابن زید په نکاح کښی وه، ښځه او خاوند دواړه مسلمانان شوی وو خو خپل ایمان او اسلام ئی پټ ساتلو سیدنا حباب بن ارت رضی اللہ عنہ دوی ته په کور کښی د قرآن درس ورکولو. د خور کور ته لاړو نو خور ئی ده اوخے ئی دے درس قرآن شروع وو، دَه ور اوټکولو هغوی پوهه شو دَ قرآن اوداق ئی پټ کړل. سیدنا خباب رضی اللہ عنہ هم یو طرف ته پټ شو. عمر رضی اللہ عنہ په خپل اوخی ورمنډه کړه او جنګ ئی ورسره شوروع کړو. خورئی د خلاصی دَ پاره ورغله نو خور ته ئی هم په مخ باندی یو ګزار ورکړو چه هغے سره دَ مخ نه ئی وِینے روانے شوی. خور ورته اووے: عمره چه ته دَ کوم مور پلار اولاد ئی د هغے مور او پلار اولاد زه هم یم که ته په کفر کلك ئی نو زه په ایمان کلکه یم. او عمره مونږ مسلمانان شوی یو "فاصنع ما بدالك" چی څه کول غواړی نو کوه .

چه کله ئی د خور هغه حال ته او کتل نو هوش ئی را غلو بیائی خور ته اُووے چه هغه اوراق راته او ښایه چه هغه تا سو لوستلو چه دا څه دی؟ نو خور ورته هغه نه ورکول ورته ئی اووے دا خو داسے اوراق دی چه دے ته پلیت خلق لاس نشی لګولے. ستا په عقیده کښی شرك دے. ته ړومبی غسل اوکړه چه پاك شی. هغه غسل اوکړو چه راغلو هغه پانړه ئی راواغستے په هغے باندے سورت طٰهٰ لیکلے شوی وو. ﴿طٰهٰ، مآ اَنْزَلْنَا علیك القرآن لشقیٰ .....﴾

دا قرآن کریم د الله د طرف نه را غلے او دا الله هغه ذات دے چه دا د نګ دنګ آسمانونه ئی پیدا کړی دا زمکے ئی پیدا کړی دا غرونه ئی

پیدا کړی. عمرؓ چه ورته او کتل چه دا خو د بنده کلام ندے ما احسن هذالکلام و اکرمه څه ښائسته او مزیدار کلام دے.نو د ستر ګو نه ئی او ښکے روانے شوی.په دیکښی خباب ﷺ راؤوتو. ورته وائی اے عمره مبارك شه نبی علیه السلام دعا کړے وه.

"اللهم اید الاسلام بابی الحکم او بعمر بن خطاب" چه یا الله په دے دوؤ کښی یو ځمونږ ملګری کړے نو معلومیږی دا چه دَ آقائے نامدار دعا ستا په حق کښی قبوله شوی ده. بیا عمر ﷺ ورته اُووے چه محمد ﷺ به کوم ځائی وی؟

سیدنا عمر ﷺ روان دے توره ورسره ده څادر ئ پـه سر کړے دے، نبی علیہ السلام دار بنی اقم کښی وؤ (صفا ډیرئ سره خوا کښی یو کور وو) په هغے کښی ئی پټ پټ ملګرو ته بیان، وعظ تبلیغ کولو دغه وخته پورے ورسره انتالیس (۳۹) ملګری وو (سیدنا عمر ﷺ څلویښتم مسلمان دے) سیدنا عمر ﷺ چه صحابه کرامو ﷺ اولیدو دَ دروازے په چودونو کښی نو صحابه کرام ﷺ یو خوا بل خوا پټ شو. سیدنا حمزه ﷺ چه دا دَ نبی علیہ السلام څکه تره دے هغه ملګرو ته اُووے مه پټیږئی که عمر په خه ارا ده سره را غلے وی نو خو ډیره خه ده صحیح ده او که څه بده اراده سره را غلے وی نو دا چه کومه توره ورسره ده په دے به ترے نه سر قلم کړم چه کله سیدنا عمر ﷺ راغلو نبی ﷺ دَ څادر دَ پیسکی نه اونیولو او ورته وائی عمره سمیګے نه تر څو به دا شرارتونه کوی ، سیدنا عمر ﷺ ورته اُووے راغلے یم جی ایمان قبلوم او ما ته کلمه اُووایه. په دے کښی یو نعره شوه د هر طرف نه دَ الله اکبر. بیا سیدنا عمر ﷺ دومره لوے مقام ته اورسیدو چی د هغه د خوخے

مطابق په قرآن کریم کښی آیتونه نا زل شوی. دا کوم ځائے کښی چه مقام ابراهیم دے (الله تبارك و تعالیٰ دے مونږ او تا سو ورته بیا بیا بوځی) سیدنا عمر ﷺ را غے نبی ﷺ ته وائی دَ الله رسوله ده مقام ابراهیم سره یو دوه دوه رکعته نفل نه کوؤ. پیغمبر ﷺ ور ته اُووے عمره زه خو د الله پیغمبر یم نو الله چه کومه وحی رالیږی زه خو هغه شان کوم. دے باره کښی څه وحی نه ده راغلے . نو الله دا آیتونه راولیږل ﴿واتخذوا من مقام ابراهیم مصلیٰ﴾ تاسو مقام ابراهیم سره دوه رکعته نفل کوئ. چه کله طواف پوره کړئ نو دوه رکعته نفل کول دا د عمر ﷺ دَ چا هت مطابق په قرآن کښی آیتونه نا زل شو او دے ته مفسرین او محدثین موافقات عمری وائی دَ سیدنا عمر ﷺ دا چاهت وو چه د نبی ﷺ بیبیا نے دے دکور بهر نه راوزی. پیغمبر ته وائی د الله رسوله ﷺ دا بیبیانے دِ بهر نه راوځی . پیغمبر ﷺ ورته وائی عمره صحیح ده خو دَ برے نه څه اَډر نشته نو زه څنګه اَډر اوکړم. نو د پکښی الله آیتونه رو لیږل

اے نبی ﷺ خپلو بیبانو ته اُووایه، دَ اُمّت زنانۂ ته اویه ﴿و قرن فی بیو تکن﴾ په کورونو کښی دننه اوسیږی بهر مه راوځی دا رنګے کله چه عبدالله ابن ابی ابن سلول منا فق مړ شو نو دَ دے منافق ځوے ډیر مخلص صحابی وو هغه را غے نبی ﷺ ته وائی زما د پلار جنازه به کوی. (نو دغه منافق ټول عمر دَ نبی ﷺ د مرګ منصوبے جوړ ولے. دغه منافق نبی ﷺ ته العیاذ بالله ذلیل وئیلی وو. د غه منافق د مسلمانانو د مسجد قباء مقابله کښی مسجد ضرار جوړ کړے وو.د ا دَ ده په سازش سره جوړ شوی وو. (الله اکبر کبیراً)

نو دَ ده جنازے تـه چه کله نبی علیہ السلام مـخـکښی شو نو سیدنا عمر رضی اللہ عنہ نبی علیہ السلام د جامـو مبارکو نه او نیولو چی د الله رسوله ته پدے مـنـافـق جـنـازه کوی پیغمبر وائی زه الله نه یم منع کړے نو ځکه جناز کـوم(دنبی صلی اللہ علیہ وسلم عـجیبـه اخـلاق وو تـول عمرابن سلول د پیغمبر خپے وهـلـے وئـے او چـه کله مړ شو نو پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم ئی جنازے ته مخکښی کیږی) چه کله ئی جنازه اوکړه نو الله آیتونه رولیږل.

اے نبی علیہ السلام دا سـے منافقا نو دپاره د عا هم مه کوه ددی په قبر باندے دعا دپاره هم مه اودریږه او د جنازے مونځ ور باندے هم مکوه

دے تـه وائـی مـواقـعـات عـمـری بـعـض ځـایونو کښی چه په مـلـګـرو کښی څوك لږ شان هم سستی اوکړی احادیثو مبارکو کښی راځی، عمر رضی اللہ عنہ وائـی اے د الله رسـولـه اجازت راکړه چه زه دَ دے سړی سر قلم کړم .

هـغـه عمر فاروق رضی اللہ عنہ چـه کـلـه خـلـیـفه دے. پو شپه روان وو ګشت ئی کـولـو. پـدیکښی د یوکو ر نه د څه دتکلیف آواز ئی تر غوږ شو. نو در وازه ئی او ټـکـولـه نو هغـے نه یو کس راووتو وائی ځما بی بی د ما شو مـانـو بیـمـاره ده هـغـے له تکلیف دے او ځمونږ څه وس هم نه کیږی. امیرالمؤمنین کو ر ته لاړو خپلـے بی بی ته وائی د ثواب یو کار الله ستا مـقـدر کړی دے. راځه څادر پسر کړه. بی بی ورسره را غله او ځان سره ئـی د خـوراك څـه څیـزونـه هـم را وا غسـتـه. بی بی ئی هغـے کور تـه اولیـږلـه. ددنیا د مسلمانانو مشر امیر المؤمنین د هغه بی بی لګیا ده د هـغـے زنـانـه خـد مـت ئـی او کـړو او خوراك ئی ور ته ورکړو او بیائی د زنـانـه خـاونـد تـه اووئـے چه لاړ شه امیر المؤمنین ته اوایه چه الله درته

وراره در کړو (نن به دا سے یو وزیر اعظم خو څه کوی یو وړو کے منبر ګوتے هم دا سے نه کوی)

نو ځما عزتمندو! هغه امیر المؤمنین سیدنا عمر بن خطاب رضی اللہ عنہ د محرم الحرام (ددے میاشت) په وړومبی تاریخ باندے شهید شوی دے. بیا په لسم تاریخ سیدنا حسین رضی اللہ عنہ هم په ډیرے بے دردی او مظلومیت سره شهید شوی دی. په دیکښی مونږ ته یو سبق دے چه یاد ساتی مسلمانانو د اسلامی کال آغاز په شهادتونو سره دے. د کفر خلاف ځان کلك کړئی. جهاد ته ځان تیار کړے. جهاد ته پکښی تر غیب . او په دے میاشت کښی چه مونږ او تاسو ځان د خرافاتو بدعاتو نه تعظیم د مجلسونو نه نه ځان اوساتو چه په تیلی ویژن ، او ریډیوانو کښی کوم قصے بیانیږی ددے محرم په میاشت کښی اکثر بے سر و پا وی د هغے حیث قسم دلیل او څه حوالے نه وی بس صرف یو مجلس ئی ګرم کړے چی څوك ور ته جاړی څوك ځان وخی. د غه څیزونه ټول د شریعت خلاف دی.


الله تبارك و تعالیٰ ده مونږ او تا سو ته په قرآن و سنت د عمل کولو توفیق نصیب کړی.

آمین اقول قولی هذا ا ستغفر الله لی و لکم ولسائر المسلمین

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ''٢٣''

صدیقه بنت صدیقؓ



درویشتمَه خُطبه : **"صدیقه بنت صدیق رضی اللّٰه عنهما"**

الحمد للّٰه وکفیٰ و سلامٌ علی عباده الذین اصطفیٰ .

اما بعد فاعوذ باللّٰه من الشیطن الرجیم ، بسم اللّٰه الرحمن الرحیم.

﴿ان الذین جاء و بالافك عصبة منکم لا تحسبوه شراً لکم بل هو خیرٌ لکم لکل امرىء منهم ما اکتسب من الاثم والذی تولیٰ کبره منهم له عذاب عظیم﴾ صدق اللّٰه مولانا العظیم، و بلغنا رسوله النبی الکریم، و نحن علیٰ ذالك لمن الشٰهدین والشٰکرین، والحمد للّٰه رب العلمین .

عزتمندو مسلمانانو مشرانو ګزشته بیان کښی د سیده ام سلیمؓ تفصیلی حالات بیان شوی وو . سیده ام سلیمؓ دَ دین دعوت دَ جهاد جذبه، دَ دین دَ پاره مشقت او دَ صبر و استقامت مظاهره د هغی تفصیلات بیان شوی وو. نن چی ما کوم آیاتونه مبارکه لوستی دی. دَ سورة النور سره د هغی تعلق دے په سورة النّور کښی په دی موضوع دا څو آیاتونه ذکر دی. په دی کښی ذکر دیو اهم شخصیت دی. په دی کښی دیو لوئی هستئ تذکره ده چی دا امت مور ده صدیقه بنت صدیقؓ چی د هغی نوم دی سیده عائشهؓ یو لقب ئی حمیرا دی او یو لقب ئی دی صدیقه او کنیت ئی دے ام عبد اللّٰه دے دَ ام عبداللّٰه کنیت وجه دا ده چی عبد اللّٰه د زبیرؓ ځوی وو د عائشےؓ خورئی د سیده اسماء بنت ابی بکر ځوے وؤ، او داوړ ومبی ما شوم وؤ چی دَ هجرت نه بعد مدینه منوره کښی پیدا شوی وو او مسلمانانو ورباندے ډیره خوشحالی کړے وه ځکه یهودو وے مونږ په دے مسلمانانو جادو کړے دے دوی بـه شـنډ وی او د انصاور اول ماشوم سیدنا نعمان بن بشیرؓ وو، دا د سیدنا ابو بکرصدیقؓ لور وه. او د مور نوم ئی سیده زینبؓ بنت

عامر دے. او هغی کنیت ام رومان وو عائشه د نبی ﷺ په نکاح کښی هله را غلی وه چی کله دَ نبی ﷺ رومبنے بی بی سیده خدیجه الکبریٰ رضی الله عنها وفات شوه. تر څور پورے چی سیده خدیجهؓ ژوندے وه. نبی ﷺ بله نکاح نه وه کړی. سیده خولهؓ بنت حکیم د نبی کریم ﷺ نه اجازت واغستو (د خوله کنیت ام شریك دے، دا دَ نبی ﷺ ترور کیږی دا دَ عثمان بن معظون رضی الله عنه په نکاح کښی وه، ده غزوه بدر نه روستو سیدنا عثمان بن مظعون رضی الله عنه وفات شو او بیا ئی دویمه نکاح کړیده پنځلس احادیث ترینه هم نقل دی) دَ سیده عائشهؓ مور سره ئی خبره او کړه، عائشهؓ عمر اووه کاله وو، او دا قبل الهجرة خبره ده، سیدنا ابو بکر رضی الله عنه نکاح اولوسته، او د نهو کالو په عمر کښی ئی بیا د نبی اکرم ﷺ سره وادۀ اوشو، د غزوه بدر نه روستو او نهایت په سادګئی سره د هغی رخصتی اوشوه . د نبی محترم ﷺ ترتیب دا وو چه کله به په سفر تلو نو یوه بی بی به ئی دځان سره بوتله، چه دَ چا به خسنړے راؤختلو نو هغه به ئئ بوتله ، نبی ﷺ سره په دے سفر کښی سیده عائشهؓ وه.

دا دَ ٦ وا قعه ده نبی ﷺ غزوه نبی المصطلق چه ور ته غزوه مریسیع هم وائی مریسیع د یوے چینی نوم دے، هلته دا غزوه شوے وه او په دے غزوه کښ جو یریه بنت حارث هم حاصله شوے وه) چه کله د غزوه نه فارغ شو نو مدینی منوری ته دَ واپسئ تلو اعلان اوشو. نور ملګری هم ورسره وو سفر ئی کول شپه پری را غله یو ځائے کښی ئی پراؤ واچولو. په هغی و خت کښی دا اصول وو چی کوم ځائے کښی به قافله حصاره شوه هلته به هغوی یو ملګری پریخودو. نبی کریم ﷺ یو صحابی سیدنا صفوان بن معطل رضی الله عنه (سیدنا صفوان بن

معطل ﷺ دَ مدینے منورے اُوسیدونکی وو رسول اللہ ﷺ دَ دہ متعلق فرمائیلی وو:"ما علمت علیه الا خیراً") هلته حصار کړو په دغه دوران کښی سیده عائشهؓ د حاجت د پاره صحراته وتلی وه. په دی ځائے کښی یو خبره یا د سا تل پکار دی. وګورئی ژوندی پیغمبرﷺ دے او نن خلق څه وائی دا فلانکی ولی دے فلانکی پیر دے هغه ته د هر څه پته لګی، خبره یا د ساتل پکار دی چی اولیاء د صحابه کرامو ﷺ درجی ته نه شی رسیدلی. او صحابه کرام ﷺ د پیغمبر درجی ته نه شی رسیدلی دا اُوګورئ ژوندے پیغمبرﷺ دے دَ سیده عائشهؓ پته ورته نشته. او نن ډیر خلق په نوك کښی غل معلوملوی . دَ ډیرو خلقو حالات می اُولیدل، هغه یو تن ما ته را غلو، وائی حالات موډیر خراب وو. پریشانے وی او څه غلا رانه هم شوے ده نو یو پیر وو تعویذ ئی راته را کړو. او وئیل را ته ځه کار به دی او شی. ما ورته دعوت ورکړو او ورته می وئیل چی یا به دا پیر د غلو ملګری وو ستا حال به ورته معلوم وو یا به شیطان وو. شیطان وی دَ داسی خلقو ملګری. بیا هغه کس وئیل دی تعویذ سره څه اوکړم ما ورته اُووی اوګوره که دَ قرآن مجید څه آیاتونه ئ لیکلی وی نو کور ئ کیدوه. چی کولاؤ مو کړو نو لیکلی ئ وو پکښی یا علی مدد. یا جبرائیل یا میکائیل. یا فرعون، دَ داسی قسمه خلقو نه اجتناب پکار دے. سیده عائشه صدیقهؓ دځه حاجت دپاره صحرا ته وتلی وه نبی کریمﷺ ته پته نه وه هغوی روان شو دغه وخت کښی به دَ زنانؤ دَ پاره کجاوی وی، هغوی کجاوه اوچته کړه دَ نبی کریم ﷺ دا خیال وو چه سیده عائشهؓ په کجاوه کښی ده ځکه هغه د عمر نه هم کمه وه او د وزن په اعتبار سره هم کمه وه

پیغمبر پاك ﷺ دَ انبیاؤ امام دے او الله تعالیٰ ته ډیر زیات ګران دے او لوی ئې شان دے کما قال الشیخ عبد العزیز دهلویؒ :

لا یمکن الثناء کما کان حقه
بعد از خدا بزرګ توئی قصه مختصر

خو خیال ئې دا دے چه عائشه په کجاوه کښې ده حالانکه هغه خو صحرا ته حاجت دپاره تلے وه معلومه شوه چه پیغمبر عالم الغیب نه دے بل چا ته به څنګه د غیبو پته اولګی یو روایت کښې را غلی دی: ''من اتی عرافاً'' څوك چه فالګری ته راغلو او په هغه ئې یقین وی نو دا سړے په قرآن سره کافر دے .

سیده عائشه صدیقهؓ چی وا پس راغله نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ تلی وو.سخته پریشانه شوه خو هوښیار تیائی دا او کړه چی هلته حصاره شوه او وے وئیل که زه راونه شم هسی نه لاره را نه غلطه شی. یا زه په یوه لاره لاړه شم او نبی کریم ﷺ را پسی په بله لار را شی هسی نه چرته یو بل نه ګډوډ نشو. بس په هغه ځائے را غله او څادرئی و اغستو ځان ئی پټ کړو. صفوان بن معطل ؓ چی سحر را پاسیدو چی وی کتل چی دا خو مور جانه پا تی ده ځکه چی هغه وائی د پر دی نه مخکښی ما لیدلی وه ډیر سخت خفه شوم. چی دا څنګه پا تی ده او دَ ډیر غم نه ئے اُووئیل ''انا لله و انا الیه راجعون'' دَ دے کلمات ترجیع آؤریدو سره اما جی را بیداره شوه، سیده صفوان ؓ خپل اوښ رانزدے کړو اما جی کیناسته او قافلی پسی اورسیدل خو چه منافقان خبر شو پروپیګنډے ئې شروع کړی . او منافقان خو وی ده صحابو ؓ دُشمنان عبدالله بن اُبئ بن سلول خبر شو چه دا غټ دشمن وو دَ دین،

سیده عائشهؓ هلته پا تی شوی وه او صفوان هم وو، وُلی پاتی شوی وو؟ دَ هغه سره ئې لار چار وه (العیاذباالله) دا وړه خبره نه وه او اصیل سړے په دی خبرو ډیر سخت خفه کیږی . چی څوك د خور باره کښی داسی خبره واؤری، دَ کور والو باره کښی، لور په باره کښی واؤری پته هغه وخت لګی سړی ته، او بیا دَ امت دَ مور بی بی په باره کښی واؤری دا وَړه خبره نه ده دا چی نن مونږ آؤرو په مونږ وړه لګی. دَ امّاجی خلاف پروپیګنډه خوره وه. بنت جحش دَ نبیﷺ خینی ده، دَ زینب بن جحش خورزه په نکاح د سیدنا مصعب بن عمیرؓ کښی ده چی کله هغه اُحد کښی شهید شو نو نکاح ئې بیا د سیدنا طلحهؓ (چه دَ عشره مبشره نه دے) نبیﷺ ډیر سخت پریشانه وو. ځکه دَ غیبو پته ورته نه وه ، اما جی سیده عائشهؓ کور ته را غله طبیعت ئی خراب وو. ځان نه خبر نه وه چی زماخلاف طوفان برپا شوے دے، بدتمیزی شروع ده، سیده عائشهؓ فرمائی چی ما ته نبی کریمﷺ دَ نور کله غوندی توجه نه راکوله .رابغلو تپوس پوښتنه به ئی اوکړل څنګه ئی عائشی ښه ئی. دَ نور کله غونته مینه به ئی راسره نه کوله، ما وی چی خدایه دا چل څه دے؟ تبه راباندی راتله چی پیغمبرﷺ ما ته توجه ولی نه را کوی؟ دَ نور کله په شان ګپ شپ خبری اتری به ئی نه کولی، اما جی ته دا نه وه معلومه چه ځما خلاف دا دومره خبرے شروع دی، دَ امت لویه ولیّه ده خو د ځان د حال نه نۀ ده خبر، اوس اَفسوس دے په هغه خلقو چه بے نمازه زنانه غیب دا نے ګنړی چه کوډی منترے پرے معلوموی . سیده عائشهؓ فرمائی چی زما نور هم طبیعت خرا بید و چی ولی زما خاوند نبیﷺ ما ته تو جه نه راکوی. ځه دَ اُم

مسطحؓ (اُمّ مسطح دَ اُبو رهم بن عبد المطلب بن عبد مناف لور ده او دَ دے مور دَ صخر بن عامر لور ده او د ابو بکر د مور خور یعنی خاله ئی ده مسطح بن اثاثه بن عباد بن المطلب دام مسطح ځوی دے) سره بهر راؤتم، دَ هغی خپه اوخویده. درز ئ اوخوړو نو وے وئیل "تعس مسطح" مسطحه تباه شے . اما جی عائشهؓ فرمائی چی هغه خو بدری صحابی دے، لوئی شان ئ دے او چت مقام ئی دے، داسے مه وایه دا مور وائی چپ شه عائشی دَ هغه دَ خلی می یوه خبره آؤریدلی ده چی سیده عائشهؓ دَ سیدنا صفوان بن معطل رضی الله عنه سره هلته پاتی شوی وه سیده عائشه صدیقه چی دا خبره واؤریدله الله به خبر وی چه په اما جی به دغه وخت څه تیر شوی وی او دغه و خت ورته معلومه شوه ډیره سخته خفه شوه پروپیګنډه خوره شوی ده او منافقانواور لګولی دی چی دا د مسلمانانو پیغمبر ځانته وائی او بنځه ئی داسی ده منافقان چی لګه خبره واوری بیائی خوروی سیده عائشهؓ سخته پریشانه وه د نبی کریم ﷺ نه ئی اجازت وا غستو چی مور کره لاړه شم پیغمبر ﷺ اجازت ورکړو چه لاړه شه مور پلار ورته وئیل چی عائشی ستا ډیری بَنِی دی چرته هغوی داسی څه نه وی وئیلی؟ سیده عائشهؓ وائی، نه هغوی داسی نه دی زمونږ خپل مینځ کښی ډیر ښه سلوك دے، دلته پیغمبر ﷺ پریشانه دے ژاړی. بعض صحابه کرام رضی الله عنهم ورته وائی ستا دَ پاره ببیبانی ډیری، او بعضی ورته وائی نه عائشه داسی نه شی کیدی، دا د منافقانو کار دے . په مختلفو طریقو سره نبی علیه السلام ته تسلی ورکوی . نبی کریم ﷺ دَ سیده بریرهؓ نه تپوس اوکړو دا په د غه وخت کښی وینځه وه او د خپل مولیٰ سره به اوسیده خو چونکه

مسلمانه وه دَ عائشهؓ مدد د پاره به را تله ځکه ترینه نبی ﷺ د عائشے بی بی متعلق تپوس کولو.دا خلق چی کو می خبری کوی دا ریښتیا دی؟ سیده بریرهؓ وائی ''غیر انها جاریة حدیثة السّن تنام عن عجبین اهلها فتاتی الداجن فتاکله'' اے د الله رسوله په الله می دی قسم وی مونږ په عائشه کښی هیڅ کمی نه دی لیدلی، هیڅ عیب مو پکښی نه دی لیدلی البته کم عمره ده چی اوړۀ وا غګی هغه لاړه شی سملی اوده شی چیلئے راشی غونډ اوړۀ تری اوخوری، اما جی عائشه صدیقهؓ دومره زیات ژړل والدینو ئی وئیل دا دومره ژاړی چرته زړه ئی بهر راؤنه ځی زړه ئی او نه چوی. ځکه اصیل خلق په داسی خبرو ډیر سخت پریشانه کیږی، اما جی فرمائی چه په د غه دوران کښی نبیؐ مونږ کره تشریف راوړلو د مور پلار کره اووم. پیغمبر ﷺ فرمائی عا ئشی ما ته ریښتیا خبره اوکړه که څه غلطی درنه شوی الله تعالی غفور رحیم دے معاف کوونکی ذات دی. الله به دی معاف کړی عائشهؓ فرمائی ما پلارته وئیل جواب ورکړه. پلار می وئیل زه او جواب زما دومره جرأت نشته چی زهٔ حبیب کائنات ته جواب ورکړم پیغمبر ﷺ ته جواب ورکړم. مور ته می وئیل ته جواب ورکړه. هغی وئیل زه هم جواب نشم ورکولی په دی ځائے کښی محدّثین کرام حیران دی چه سیده عائشهؓ نبی کریم ته کوم جواب ورکړئی د فصاحت او بلاغت نه ډك الفاظ ئی راوړئی چی عاقلانه فا ضلانه کلام ئی کړیدے یا وجود کم عمرے نه او مفسرینو او محدثینو هغه الفاظ نقل کړی دی . سیده عائشهؓ نبی کریم ﷺ ته اُووی، په صحیح بخاری کښی راځی چه عائشهؓ اُوفرمائیل ''والله لقد علمتُ لقد سمعتم هذا الحدیث حتیٰ استقر فی

انفسكم و صدّقتم به، فلئن قلت لكم انى بريئة، والله يعلم انى بريئة، لا تصدقونى بذالك، ولئن اعترفت لكم بامر والله يعلم انى منه بريئة لتصدقونى، والله ما اجد لكم مثلًا الاّ قول ابى يوسف' فصبر جميل والله المستعان على ما تصفون"

"والله لقد علمتُ" او قسم مى دِ وى په الله چى ما ته معلومه شوى ده كومه خبره چى تا سو آورريدلى ده هغه ستاسو په زړه كښى راسخه شوى ده، او تا سو د هغى خبرى تصديق هم كړى دے، او كه زه اُوايم چى بيزاره يم او قسم دى چى بيزاره يم. او كه زهٔ اُوايم چى زما د صفوان سره لار چار وه، نو زه به په ځان دروغ اُوايم او تاسو زما د خبرى تصديق نه كوئ او زهٔ نور څه نه وايم، زه هغه خبره كوم' كومه چى دَ سيدنا يوسف عليه السلام پلار سيدنا يعقوب عليه السلام كړى ده هغه ته كوم مصيبتونه راپيښ شوى وو، دَ سيدنا يوسف عليه السلام دَ پلار دَ سترګونه نظر تلى وو، هغه ته چى كوم درد او غم رسيدلى وو او هغه چغه و هلى وه چه ﴿فصبر جميل والله المستعان علىٰ ما تصفون﴾ بس ځه به صبر كوم زما معامله الله ته حواله ده. په دغه دو ران كښى د نبى عليه السلام رنګ بدل شو دَ وحى نزول شروع شو "فأخذه ما كان ياخذه من البُرحاء حتّٰى انه ليتحدر منه مثل الجمان من العرق وهو فى يوم شات من ثقل القول الذى انزل عليه" په نبى صلى الله عليه وسلم د وحى د نزول شدت شروع شو تر دے چه د نبى عليه السلام په رخسار مبارك باندے د ملغلرو غوندے د خولو قطرے راتلل شروع شو حالانكه د يخنئى موسم وو . "بر" چه د بخار د وجى نه يا د موسم د حرارت د وجى نه د خولو سبب اوګرځى او جمان ملغلرو ته وائى.

وحى نا زله شوه سورة النّور رنړ ا والا سورة چه په هغى كښى دسيده

عائشې داسی صفائی نا زله شوه چی د قیامت ده روځی پوری په منبر او محراب کښی بیانیګی دَ اما جی صدیقی صفائی او مقام په منبر او محراب و عظ او تقریر کښی بیانیګی ځکه منافقانو سخت الزامونه لګولی وو. سخت ساړه وو، او دَ پیغمبرﷺ په تندی مبارك باندی خولی راماتی وی چی کله کیفیت برابر شو نونبی کریمﷺ ورته اُوفرمائیل اَبشری یا عائشهؓ زیری دِ واخله، مبارك شه. امّا جی سیده عائشه صدیقهؓ فرمائی ما ته می مور پلار وئیل ورپاسه دَ پیغمبرﷺ خواته لاړه شه ما وی ځه د الله شکریه ادا کوم چه ځما براءت ئ نازل کړو اما جیؓ د ډیر ناز نه اووئیل چه "والله لا اقوم الیه ، و لا احمد الا الله عزّوجل."

په دی وجه باندی الله تعالیٰ د سورة النّور لَس آیاتونه راؤلیږل دَ سیده عائشهؓ په شان کښی، الله تبارك و تعالیٰ په قرآن کښی فرمائی ﴿ان الذین جآءُوأ بالا فك عصبة منكم لا تحسبوه شرالكم﴾ بے شکه هغه کسان چی را تله ئی اوکړل په بد نامه سره دا یو ډله وه ستاسونه نو تا سو ګمان مه کوے په دی واقعه د شر بلکه په دی کښی ستا سو د پاره خیردے، ذهن ته سوال راځی چی مور اباندی بد نامه اولګیدله او الله فرمائی ﴿لا تحسبوه شراً لكم﴾ په دی کښی تاسوته شرنه دے بلکه خیردے دا ولی ؟ امام بخاریؒ حدیث الافك په دریو مقاماتو کښی ډیر تفصیلاً ذکر کړیدے یو په کتاب الشهادات کښی، دویم په مغازی کښی او دریم په کتاب التفسیر کښی. ابن حجر عسقلانی په شرح د بخاری فتح الباری کښی په کتاب التفسیر کښی ډیر و ضاحت کړیدے تقریباً ۲۷ صفحات او هسی دا حدیث په صحیح بخاری کښی په اتلسو ځایونو کښی ذکر دے پنځلس ځایه مختصراً او درے

ځایـه مـفصل دا ځکه په دی کښی دَ مور لوے شان معلوم شو. په دی کښـی د عـائشـه صـدیـقـه بـنت صدیقؓ مقام معلوم شو دسیده عائشهؓ حـالات مـخـے ته را غله مفسرین ذکر کوی دا هغه شخصیت دی. هغه هستـی ده کـلـه چی نبی کـریـمﷺ و فـات کیدو، د یارلس ورځی ئی بیـماری تیـره کړی سـخـت بیـمـار وو. أتـه روځی ئی د عائشهؓ په کمره کښـی تیـری کـړی د عـائشـهؓ پـه غیـرہ کښی نبیؐ ساه ورکړی دا خـصـوصیـت صـدیـقـه بنت صدیق ته حا صل وو. د هغی دومره لوئی مـقـام وو. سیـده عـائشـهؓ فرمائی چی نبی کریمﷺ و فات نه مخکښی مسـواك تـه اشاره اوکړه نو په خپله خله کښی می نرم کړو بیامی ورته ورکړو دا خبره بـه هـغـی فـخرسره کوله. نو زما لاړے د نبیﷺ د لاړو سره یـو ځائـی شوی سیده عائشهؓ دا خصوصیت وو. چی هغه بلی بی بـی تـه نـه وو حـاصـل مـحـدثیـن ذکر کوی چی د هغی د نبیؑ سره نـکـاح نـه و و شـوی نـو جبرائیل امین د یوریښمو په کپړا کښی د هغی تـصویر نبی کریمﷺ ته راوړلی وو او ورته ئی وئیلی وو . چی دا ستا بی بی ده او دا تر مذی کښی روایت دی بعض علماء ذکر کوی چی جبرائیل امیـن پـه لاس بـانـدی جـوړ شـوی تصویر راوړلی وو او ورته ئی وئیل دا ستـا بی بی ده. دا خصوصیت صرف اما جی صدیقه بنت صدیق ته حا صـل وو د پیـغـمبرﷺ چی نـوری ځـومـره بیبانی وی اکثر کنډی وی. ړومبنـے بـی بی ئی د ځلویښتو کالو وه. دی ځائـے کښی یو خبره یادو سـا تـے ډیـر متـشـرقین یورپ والا خلق د نبی کریمﷺ په سیرت باندی کتـابـونه لیکی. زمونږ مسلمانان هغه مطالعه کوی اسلامی تاریخ نه خبـرنـه وی وائـی دا و ګـوره انـګریز هم زمونږد پیغمبرﷺ مد حه کوی

هغوی کتابونه لیکی دا پیغمبرﷺ په سیرت کتابونه لیکی مدحه کوی غزوات ذکرکوی لیکی لیکی مینځ کښی پکښی یو خبره دا هم ذکر کوی. چی نبی علیہ السلام ډیر شهوتی پیغمبرﷺوو. ځکه ئے ډیرے بیبیانی وی. (نعوذبالله) یو پیغمبرﷺ ته الله تعالیٰ دځلور زره پهلوانانو هومره طاقت ورکړی وی. که پیغمبرﷺ نعوذ بالله ثم نعوذ بالله شهوتی پیغمبرﷺ نو بیا ورته په سؤو بیبانی پکار وی. علماء په دی باندی ډیر کتابونه لیکلی دی په هغی کښی یو کتاب تعدد الازواج دی چی د پیغمبرﷺ ګنړی بیبیانی ولی دی؟ په هغی کښی ډیر حکمتونه دی په هغی کښی یو حکمت یوه وجه دا ده چی پیغمبرﷺ زیات امت هغه د زنانۂ په شکل کښی دی زنانۂ ته به د زنانو مسائل څنګه معلومیږی . نو د هغی د پاره یو بی بی نه کا فی کیږی یوه یوه بی بی ده کوردننه یو مستقل مدرسه وه د نبیؑ د ګنړو بیبانو یو حکمت دا وو. چی سخر ګنے ئی زیا تی وی ملګری او خاندانونه ئی زیات وی. په دعوت او په جهاد کښی ئی ملګری زیات وی د تعدد الا زواج یو حکمت دا وو . چی د سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ او سیدنا عمر رضی اللہ عنہ شرافت نور هم په خلقو کښی ښکاره وی. شرافت شیخین ځکه سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ هم د نبی علیہ السلام سخر وو او سیدنا عمر رضی اللہ عنہ ئۓ هم سخروو دَ نبی علیہ السلام دَ نکاحونو یوه وجه دا وه چی دَ کنډو تسلّی اوشی. لکه سیده ام سلمہؓ نوم چی ئی هنده دے دَ دے وړومبنی خاوند عبد الله بن عبد الاسد وو چه په ابو سلمه سره مشهور وو دا د ام سلمہؓ د تره ځوی وو او د نبی علیہ السلام رضاعی رور وو او دا هغه زنانه وه چه حبشے ته ئی هم هجرت کړے وو خاوند ئی په بدر او احد کښی شریك شوے وو

احد کښی ئی ډیر زخمونه په بدن شوی وو چه د هغے نه ئی شهادت او شو. د ابوسلمهؓ د وفات وقت کښی ام مسلمهؓ حامله وه چی د کله چی ابو سلمهؓ شهید شو. نو پیغمبرﷺ ور ته دعاا وکړه چی تا ته دی الله د دی نه بهترین نعم بدل درکړی، سیده ام سلمهؓ وائی زما زړه وئیل چی دَ سیدنا ابو سلمه علیه السلام نه به بل څه خه ملګری وی ځکه هغه ما سره په هر څه کښی ملګری وو. بیا روستو د سیده ام سلمهؓ د نبی کریم ﷺ سره نکاح اوشوه ، سیده جویریهؓ مال غنیمت کښی د سیدنا شماس بن قیس رضی الله عنه په حصه کښی را غلے وه چونکے دا د یو سردار لور وه د صحابه کرامو رضی الله عنهم دا خوخه وه چه دا دِ دَ نبی علیه السلام شی بیا دا آزاده شویده او د نبی علیه السلام په نکاح کښی را غلے وه ، الاصابه فی تمنیر الصحابه اول جلد ۲۸۱ کښی د حارث بن ابی ضرار په ترجمه کښی ذکر کړیدی حارث بن ابی ضرار ډیر زیات اوښان راوستل چه خپل لور آزاده کړی، دوه اوښان پکښی ډیر مزیدار وو اول ئی اراده وه چه ټول اوښان به ورکړم خو په لاره کښی ئی نیت خراب شو او دغه دوه او ښان ئی په لار کښی پټ کړل دَ نبی علیه السلام خوا ته چه راؤرسیدو نو نبی علیه السلام اوفرمائیل هغه دوه اوښان دے په لاره کوم ځائی پټ کړل نو فوراً ئی ووی چه ''اشهد انك رسول الله'' او هغه هم اسلام قبول کړو، بیا ورته نبی علیه السلام اوفرمائیل چه د جویریهؓ نه تپوس اوکړه که درسره ځی نو لاړه دے شی د جویریهؓ نه ئې معلوم کړل نو هغے ورته اووی څه الله او رسول غوره کوم او د حارث هم دا خوخه وه چه دَ دواړو جهانو سردار می زوم وی دَ سیده جویریهؓ دَ خاندان ډیر کسان دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم سره غلامان وو چی کله هغوی ته پته اولګیدله نووے وئیل چه ''انهم اصهار رسول

الله“ او هغه غلامان ئې ټول آزاد کړل. سیده عائشهؓ ته یو دا خصوصیت حاصل وو چې دا کنواری وه. دا پیغمبرﷺ نوری بیبانی اکثریت هغه کنډې وی. اما جی عائشهؓ ته دا خصوصیت هم حاصل وو چې نبی کریمﷺ باندی وحی نا زله شوی وه او عائشهؓ سره په یو لحاف کښې وو چې دا تر تیب دا بلی بی بی سره نه واقع شوی او د نبیﷺ روح چې کله پر واز کوو نبیﷺ د عائشې په غیږ کښې وو نو د اماجی عائشهؓ بل خصوصیت دا وو چې په قرآن کریم کښې د هغی برأت نا زل شو چې کله پری منا فقینو الزام او لګولو بد نامه ئے وربانډی اولګوله نو د آسمانه الله پاك دهغی صفائی نازله کړه چې دَ قیامت دَ روځی پوری به تراویح کښې ذکر کیږی چه ﴿ان الذین جآءُ وُ بالافك عصبة منكم﴾ چا چې په صحابه کرامو رضی الله عنهم باندی الزام ولګولو د مسلمانانو مور ئی بد نامه کړه، چا چه صحابه کرام رضی الله عنهم بد نام کړل نو الله تعالیٰ فرمائی ﴿هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِیْم﴾

تفسیر قرطبی ذکر کوی چې په سیدنا یوسف علیه السلام باندی چه کله الزام اولګیدو . زلیخی خاوند ته وئیل چې اوګوره ستا په کور کښې پاتی کیږی او ستا بی بی سره ئی غلطه اراده کړیده د سیدنا یوسف علیه السلام صفائی هغه وخت کښې د زلیخی دَ خاندان یو سړی اوکړه ﴿شهد شاهدمن اهلها﴾ چې کله په سیده مریم باندی بدنامه اولګیدله. چه بے خاونده ئۍ ماشوم پیدا شوے وو نو ماشوم بچے ورسره دے. نو خلقوورته ووی مریم تاخوناآشنا کار کړی دی. ستا پلار نا کاره نه وو ﴿مَا كَانَتْ اُمُّكِ بَغِيّا﴾ مور دی نا کاره نه وه مریم عیسیٰؑ ته اشاره کوی. هغوی وائی ماشوم به مونږ ته څه ووائی؟ ﴿كيف نكلم من كان فی المهد صبيا﴾

او سیدنا عیسیٰ علیہ السلام د هلته نه خبری کوی ﴿اِنّیُ عَبد الله﴾ او چه کله په جریج یو بد کارے زنانه الزام لګولے وو نو د هغه د صفائی د پاره د غیبِ ماشوم الله ګویا کړو او چی کله په صدیقه بنت صدیق باندی الزام اولګیدلو د عائشیؓ په صفائی کښی الله تعالیٰ په قرآن کښی پوره لس آیا تو نه نازل کړه.

زما عزتمندو دَ مورجانے سیده عائشهؓ دَ وفات حالات سړی اوګوری. دا حالات هم ډیر عجیبه دی د نبی ﷺ د وفات نه روستو سیده عائشهؓ اته څلویښت کاله ژوندے وه د نبی علیہ السلام دَ وفات نه روستو دوه کاله پس سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ وفات شو، یعنی د سیده عائشهؓ دَ سر نه دَ پلار د شفقت هغه سورے لرے شو، سیده عائشهؓ د رمضان المبارك میاشت ۵۵ هـ کښی وفات شویده ، دَ دے د وصیت مطابق جنازه ئی د شپے شویده او جنازه سیدنا ابو هریره رضی اللہ عنہ ادا کړیده او قبر ته عبدالله بن عبدالرحمٰن، عبدالله بن عتیق، عروه بن زبیر او عبد الله بن زبیر رضی اللہ عنہم ورکوزه کړه "انا لله و انا الیه راجعون" دَ نبی علیہ السلام نوری بیبیانی خو څه کنډی وی، څه عمر کښی زیاتی وی. خوسیده عائشهؓ چی کنډی شوه. دَ هغی عمر اتلس کاله وو. دَ اتلسو کالوپه عمر کښی نبی کریم ﷺ نه کُنډه پاتی وه، سیده عائشهؓ د مکثرین فی الحدیث نه ده . د بعضی صحابو نه کم روایت نقل دی، دَ چا نه درمیانه او دَ چا نه زیات روایات نقل دی. د نبی اکرم ﷺ ګنړ روایات دَ سیده عائشیؓ نه نقل دی بعضوئی تعداد ذکر کړی . ۲۲۱۰ دوه زره دوه سو ا او لس حدیثونه دا اما جی عائشهؓ نقل دی. سیده عائشهؓ دا امت لویه محدثه وه لویه فقیه وه چی صحابهؓ کرامو ته به څه مسئله مشکله وه د اما جی عائشهؓ دروازه به ئی او ټکوله او د مسئلی تپوس به ئی کولو. دا بهترین

صحابیه وه. بهترین فقیهه وه. اماجی عائشهؓ ډیر غلامان آزاد کړی وو د صحیح بخاری د یوروایت نه معلومیږی چه اما جیؓ په غزوه احد کښی شریکه وه، دے او ام سلیمؓ به دَ اوبو مشکونه را چلول او زخمیانو ته به ئی اوبه ورکولے.


د سیده ام المومنین عائشهؓ دمنا قبونه یو منقب دا هم دے چه نبی پاکﷺ د هغے په حجره کښی دفن شو، دَ عروه بن زبیر قول دے چه "ما رأت احداً اعلم با لقرآن ولا بفریضه لا بحلال ولا بفقه ولا بشعر ولا بطب ولا بحدیث العرب ولا نسب من عائشه ."

سیدنا عبد الله بن زبیر رضی الله عنه فرمائی چه ما د عائشےؓ نه زیات سخی څوك نه وولیدلے یو پیره امیر معاویه یو لاکه درهم را ولیږل هغه ئی تر مابنامه تول خیرات کړل او په د غه ورځ ئی روژه هم وه ځان ته ئی ترے څه هم نه ووپریخودے. د دی ګنړی قربانی وی. څنګ چی د صحابوؓ ګنړی قربانی وی. دا سی د صحابیانوؓ هم ډیری قربانی وی. په دی کښی مونږ ته یو سبق دے چی مونږ د سیرت کتابونه و ګورو. چی کوم دا امم سابقو حالات بیان شوی قرآن کریم مونږ ته د مخکنو امتو نو تاریخ ښائی. چی فلانکی امت ناکامه شوی وو. فلانی امت کا میابه شوی وو. چی هغوی په هغی حالاتو کښی څه کړی وو. چی د هغی نه مونږ سبق وا خلو. د دی نه عبرت حاصل کړو. چی د اام سلیمؓ کو می قربانی وی. سیده خدیجهؓ کو می قربانی وی. دا عائشیؓ کو می قربانی وی. او مونږ او تاسود دین دپاره څه وکړه، مونږه خوزیرو بټه زیرو یو. په دی کښی مونږ د پاره عبرت دے مونږ دے هم الله تعالیٰ د دے پاکو خلقو په نقش قدم روان کړی آمین ثم آمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ''۲٤''

دَ شرک ردّ



ثلورویشتمَه خُطبه : "دَ شرک ردّ"

[بمقام رستم جامع مسجد محله حاجیان]

الحمد لله نحمده و نستعینه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سیئَات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له و من یضله فلا هادی له و اشهد ان لا اله الا الله وحده وحده، وحده لا شریك له، لا نذیر له و لا وزیر له و لا مشیر له،لا ند له و لا ضد له، و لا جد له و لا ممد له، لا مثل له و لا مثال له و لا مثیل له و لا مماثل له، و اشهد ان سیدنا و سندنا و حبیبنا و محبوبنا و محبوب ربنا و اتقانا و اعلدنا و اجلنا و اطیبنا و اطهرنا و اکملنا محمداً عبده و رسوله امابعد فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم. ﴿قُلْ اَرَئَیْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰه سَمْعکُمْ وَ اَبْصَارکُمْ وَ خَتَمَ عَلیٰ قُلُوْبِکُمْ مَّنْ اِلٰهٌ غَیر الله یا تیکم به انظر کیف نصرف الایت ثم هم یصدفون﴾

وقال النبی ﷺ"من قال لا اله الا الله د خل الجنة" و قال احد من السالکین:

لله حق لا یکون لغیره — و لعبده حق، هما حقان
لا تجعلوا لحقین حقا واحداً — من غیر تمییز و لا فرقان
نبذوا کتابك من ورّآء ظهورهم — و تمسکوا بزخارف الهذیان

معزز سا معین او عزتمندو مشرانو، نن اراده وه چی د شیخ القرآن علامه نو ر الحق رستمی صاحب د خلی نه وعظ، بیان او تقریر واؤرو خود هغوی حکم او امر وو چی نن تاسو خبره اوکړئ. خبرے خوډیرے زیاتے دی عنوانات خوډیر زیات دی مو ضوع ګانی خوډیرے زیاتی دی خو الله تبارك و تعالیٰ په قرآن کریم کښی فرمائی: ﴿و من احسن قولًا ممن دعا الی الله﴾ چونکه الله تبارك و تعالیٰ انسان لره پیدا کړی

په احسن تقویم سره الله تبارك و تعالیٰ مطالبه هم دا کوی ﴿خلق الموت والحیوٰة لیبلوکم ایکم احسن عملاً﴾ چی په تا سو کښی احسن عمل، احسن خبره څوك کوی؟ دا دنیا کښی یو امتحان دے احسن عمل، احسن خبره قرآن کریم پخپله ذکر کوی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿و من احسن قولًا ممن دعا الیٰ الله﴾

د هغه چانه ښائسته خبره د چا کیدی شی احسن ښکلی خبره دَ چا کیدی شی؟ هغه څوك چی رابلل کوی دَ الله یو والی ته، هغه څوك چی رابلل کوی د الله و حدانیت ته . هغه څوك چی رابلل کوی دَ الله طا قتونو، صفتونو، نعمتونو ته' هغه خلق چی رابلل کوی معرفت د باری تعالیٰ ته چی اے خلقو الله او پیژنے نو د الله صفات او پیژنے د الله طاقتونه اوپیژنے نو د الله نعمتونه او پیژنے نو د الله کا رونه او پیژنے دی د پاره الله تبارك و تعالیٰ انبیاء کرام علیهم السلام رالیږل. انبیاء کرامو به خلقو ته د الله تعارف کولو، د الله‌تو حید به ئی ورته بیانؤلو د الله یو والے به ئی بیانولو . د الله د توحید مسئله، دَ الله دَ یو والی مسئله، ډیره خوند ناکه مسئله ده، په دیکښی یو خوند دے. په دیکښی یو لذت دے، نو په دیکښی یو مزه ده، دَ دے دَ خوند هر چا ته پته نه لګی، دَ دے د خوند تپوس اوکړه دَ سیدنا بلال حبشی رضی الله عنه نه چی هغه بلال حبشی رضی الله عنه په سخته ګرمے کښی په تؤدو کانړو او تودو شګو رابښکلے کیدو هغه بلال رضی الله عنه چغه به ئے وهله، نعره به ئی لګوله چه احدٌ احدٌ احدٌ، الله یو دے، الله یو دے، الله یو دے' نو دَ الله صفات پیژندل، انبیاء علیهم السلام چی را تلل نو دَ انبیاء کرامو تاریخ که مونږه اوګورو، د قرآن کریم نه تپوس او کړو، الله تبارك و

تعالیٰ فرمائی نوح علیہ السلام مے لیگلی وو. نوح علیہ السلام خلقو ته کومی قصی بیان کړی وے. کوم واقعات ئی بیان کړی وو. دَ نوح علیہ السلام د عوت دا وو. ﴿یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾

اے خلقه الله او پیژنے نو د الله عبادت اوکړے نو د الله بندگی اختیار کړئ نو د الله تعظیم اوکړئ. الله ته عاجزی اوکړئ نو الله غیب دان اوګنړئ، الله مختار کل او ګنړے. ﴿مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾ دَ الله تعالیٰ نه علاوه تا سو د پاره بل حاجت سر کولو والانشته . ﴿مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾ دَ الله نه علاوه تا سو د پاره بل مشکلات حل کولو والا نشته، دَ الله نه علاوه تا سو ته بل څوك ځامن او لونړه در کولو والا نشته. ﴿مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾ بیماری راوستو والا هم یو الله، صحت ورکولو هم یو الله، ذمه دار د هر څه یو الله، خزانو بخلو والا یو الله، یو الله ﴿مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾ دا مسئله قرآن کریم په مختلف انداز سره بیانوی . کله الله فرمائی ﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗ اِلَّا هُوَ﴾ که معمولی غوندی تکلیف درله الله اورسوی بضر کښی علماء ذکرکوی تنوین د تنکیر د پاره دی معمولی تبه درباندی راولی، تو خی درباندی راولی، سرخکی در باندی راولی، که ننکے در باندی را وخیژوی که ما شو مانو باندی درله شیری را وخیژوی نو نشته دی لر کونکی دی مصیبونه لره بل ذمه دار واکدار ﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗ اِلَّا هُوَ﴾ مګر یو الله دے او دا د انبیاء پروګرام هم وو. په قرآن کریم صفات د الله مختلف انداز سره بیانوی. الله تبارك و تعالیٰ فرمائی اے نبی علیہ السلام اووایه ﴿اَللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ﴾ اے دَ بادشاهانو بادشاه، اے شهنشاه ذاته! ته خو هغه ذات ئی ﴿تُؤْتِي الْمُلْكَ

مَنۡ تَشَآءُ﴾ تـه چـی چا ته اُوغواړی نو باد شاهی ورکوی. او چا نه چه اوغـواړی بـادشـاهـی اخـلـی. اے د بـادشاهانو بادشاه! ته هغه ذات ئی. ﴿وَتُعِزُّ مَنۡ تَشَآءُ وَ تُذِلُّ مَنۡ تَشَآءُ﴾ عزتونه ستا اختیار کښی دی، ذلتونه هم ستا اختیارکښی دی، ته خو هغه ذات ئی ﴿اِنَّه هُوَ اَغۡنٰی وَ اَقۡنٰی﴾

مـالـداری هـم تـه راولـی اے الله، نو غربت هم ته راولی، ته خو هـغـه ذات ئـی ﴿اِنَّه هُوَ اَمَاتَ وَ اَحۡیٰی﴾ اے الله ته ژوندونه هم ورکوی، پیـدا کـول هـم تـه کـوے، نـومړه کوی ئـے هم تـه. ﴿اِنَّـه هُوَاَضۡحَكَ وَ اَبۡكٰی﴾ الله خندے ئی هم ته، نو ژړوی ئی هم ته، خوشحالی وربانـدی الله تـه راولـی نـو غـمونه وربانـدی هم ته راولی، دا د الله صفات اوپیژنه، کـامل قدرتونو والا دَ الله تعالیٰ ذات دے، دَ الله تعالیٰ دَ صفاتو په شان دَ بـل چا صـفـات نشتـه استـاذِ محترم علامه حسین نیلوی صاحب به فـرمـائیـل دَ الله تـعـالـیٰ پـه صـفتونو کښی دَ الله سره نه نوری مخلوق شـریك شتـه، نـو نـه نـاری مـخـلـوق شـریك شته، نو نه خاکی مخلوق شـریك شتـه، نـو نـه آبـی مـخلوق شته. هغه الله تنِ تنها دے. تن تنها نـظام چلوی. الله چا ته محتاج نه دے، نه انبیاؤ ته محتاج، نه ملائکو تـه مـحتاج، نه جبرائیل امین ته محتاج، نو نه میکائیل ته محتاج، نه اسـرافیل ته محتاج، نه نوح علیہ السلام تـه محتاج، نو نه آدم علیہ السلام ته محتاج، هـغـه الله مـحتـاجـه نـه دے، ځـکـه خو الله تبارك و تعالیٰ نبی علیہ السلام ته فـرمـائـی ﴿قُلۡ هُوَ اللّٰه اَحَدٌ ، اَللّٰه الصَّمَدُ﴾ اووایه اے نبی علیہ السلام دا مسئله خـلـقـو ته اورسوه، دَ دے مسئلی دعوت اوچلوه، دَ دے مسئلی تبلیغ اوکـه، اووایـه چـی الله یـو دے، هـغـه تن تنها دے، یو "احد" دے او یو "واحد" دے، په دیکښی علماء فرق ذکر کوی. واحد هغی ته وائی چی

هغی پسی ثانی وی ایك نو دو او احد هغی ته وائی چی هغی پسی ثانی نه وی الله دا سی نه وائی هو الله واحد. الله وائی هو الله احد هغه الله دی یو. غونډ کائنات هغه الله پیدا کړی. هغه یواځی خالق دے نو یواځی مالك دے نو هغه یواځی رازق دی نو هم هغه یواځی حاجت سر کولو والا دے دا مضمون د قرآن هم دی دا مسئله د قرآن هم ده کوم خلق چی د لله د صفاتونه یو صفت د الله په بند گا نو کښی یو بنده ته ورکوی، پیری ته ورکوی، فرشتی ته ورکوی، مړی ته ورکوی، ژوندی ته ورکوی. الله پری سخت ناراضه کیږی. قرآن کښی بیاد هغی نمونی ذکر کوی. دالوئی جرم دی د الله صفات مخلوق ته ورکول د الله کارونه مخلوق ته ورکول د الله کا رونه مخلوقاتو باندی تقسیمول د الله نه علاوه بل څوك حاجت سر کولو والا او بل څوك ذمه دار ګنړل کله قرآن د هغی قباحت ذکر کوی نو کله الله د انبیاؤ حال بیانوی او ګوره ابرٰهیم علیہ السلام خپل پلار ته مسئله کوی ﴿وَاِذْ قَالَ اِبْراهِیْمُ لِاَبِیْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اٰلِهَةً ، اِنِّیْۤ اَرٰاكَ وَ قَوْمَكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ﴾ اے پلاره ته دَ الله صفتونه مخلوق کښی ګنړی. ستا د ا قوم د الله صفتونه مخلوق ته ورکوی که پلار ئی دے خو مسئله ور له بیانوی ﴿اِنِّیْۤ اَرٰاكَ وَ قَوْمَكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ﴾ اے زما پلاره زه تالره او ستا قوم لره ښکاره ګمراهے کښی وینم انبیاء دعوت چلوی، تبلیغ کوی په نر توب سره مسئله بیانوی. په بهادرے او په شجاعت سره مسئله بیانوی، دا مسئله دا د شرکیا تو رد دا د تو حید مسئله دا د انبیاءؑ مسئله ده دقرآن نه ثابته ده زمونږ مشائخ ئې بیانوی، دا مسئله د هر چا کار نه دی، چی د توحید مسئله بیان کړی. ځکه خو یو سالك فرمائی:

خلق الله للحروب رجالا و خلق لقصعة و ثريد

د جنګونو او د توحید د مسئلے د بیانولو د پاره اود هر قسمه شرکیاتو او بدعاتو او رسم و رواج د رد د پاره الله ځانته خلق پیدا کړی،اودتشو خوراکونو اوډوډی ګانو حلوه ګانو د پاره جداخلق دے.

سیدنا ابراهیم علیہ السلام چی کوم قوم ته الله لیږلے وو هغه مشرکان وو. هغوی چی کله خپلو میلو عرسو ته لاړل. ابراهیم علیہ السلام ورته خدایان مات کړل. تس نس ئے کړل، هغه بتان ئی ور ته مات کړل ﴿فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا﴾ هغوی راغلل چی ګوری یو خداے ئی یو ځائے پروت دے بل خدائے ئے بل ځائے پروت دے، سرونه تری لر شوی دی هغوی وائی ﴿مَنْ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا﴾ زمونږ دا خدایان چا وهلی دی؟ خدائ لره څوك وهلی شی؟ خو مشرك کښی عقل نه وی. سیدنا ابراهیم علیہ السلام ایکی یوائے دے، قوم ئ خلاف، پلار ئ خلاف،دَ وخت باد شاه ئی هم خلاف، هیڅ پرواه نه کوی. ځکه ئ نن نوم زنده باد دے.

نہ سمجھوگے تو مٹ جاوگے اے مسلمانو! تمہاری داستان نہ ہوگی داستانوں میں

که دَ توحید مسئله دی بیان نه کړه څوك به دی نوم هم نه اخلی. هغه انبیاء کرام علیہم السلام لاړل، هغی نه پس نو ر خلق را غلل. وګوره بلال رضی اللہ عنہ خلق ئے څومره په عزت سره نوم اخلی نن مسلمانان بچوته څومره شوق سره بلال نوم کیدی خپلوبچوته څوك د نمرود او فرعون نوم کیخودل نه خوخوی.دا هغوی نه روستو نور خلق لکه امام ابو حنیفہؒ او دا هغی ملګری دا هغی نه روستو زمونږ اکا برین لکه رئیس المفسرین مولاناحسین علی الوانیؒ نوم ئی خلق په عزت سره اخلی علامه محمد بن عبد الو هاب نجدیؒ شاه اسماعیلؒ شهید علامه ابن

تیمیه . علامه ابن قیمؒ بیا دا هغی نه رو ستو په دی دور کښی شیخ القرآن غلام الله خانؒ ، شیخ القرآن مولانا محمدطاهرؒ پنج پیری قاضی شمس الدینؒ مولانا محمد امیر بند یا لوی ، علامه نیلوی شاه صاحب هر ځائے د هغوی نوم سره رحمة الله علیه رحمةالله علیه د تو حید مسئله ئے بیان کړی وه رد د شرك ئی کړی وو. او کوم خلق چی شومو حلواګانو،نذرانو او منختو د غیر الله، د یتیمانو مال خوړولو ته کار ویلی دے . دهغوی نوم څوك نه اخلی څوك ئی پیژنی هم نه خپل سند ورته نه وی معلوم خپل اساتذه خپل مشائخ ور ته نه وی معلوم . نو ابراهیمؑ د هغوی هغه خدایان ما ت کړل بتان ئی مات کړل خلق را جمع شول یو خدائی یو ځائے پروت دے بل خدائی بل ځائے پروت دی ځکه خو ځمونږ مشائخ ذکر کوی چه مشرك کښی عقل نه وی دا سی خلق وی چی د سوتو احترام کوی سوتو ته د خدائے درجه ورکوی دا سی خلق شته چی دغوا تعظیم کوی دا سی خلق شته چی نو ر ته په سجده پرا ته وی دا سی خلق شته چه سپورږمئی ته په سجده پرأته وی او بوتو ته په سجدی پراته وی . بتان ئی جوړکړی وی هغی ته سجدی کوی د درګاؤنونه ګیر چا پیره تا ویږی ډیر په عاجزئی سره چرګه ئی ترخ کښی نیولی وی درګاه ته وائی ((ککڑ لے پُتر دے)). سرئی ټیټ کړی وی په شاه شاه ځی د درګاه او دد غی بتانو عبا دت کوی.

بعضو علماؤ یو وا قعه ذکر کړی دوه مشرکان وو د جاهلیت په زمانه کښی ښځه او خاوند وو هغی کینا سته مشوره ئی کوله. چی مونږ د هر څه د پاره جدا جدا خدا ے جدا جدا ذمه داره جوړ کړے چی مونږ په سفر ځو دا خو را نه کور پاتی شی خومشرك کښی عقل نه وی. چی په خپلو

لا سو نو ځانته خدائے جوړ کړی هغه خدائے څنګه کیدی شی؟ خودا مشرك عقل مخلی شوی وی د بد عتی عقل مخلی شوی وی نو هغی ځانته داپنیر نه خدائے جوړ کړو دا د عر بو یو قسم او چه حلواوه. چی کله به په سفر تلل نو ځان سره به ئی خپل ګُډا ګی خدائے په تهیلئ په پرس کښی اوړو. نو یو ځل ور سره په سفر کښی خوراك کهجورے ختم شو. وائی اوس به څه کوو. وائی خدائ خو دیته وائی چی په مصیبت کښی په کار راشی نو په خپل خدائے ئی شروع اوکړه پوزه ئی ترے اوخوړه غوړ ئی ترے او خوړو، هغه غونډ خدائے ئی ختم کړو. نو په مشرك کښی عقل نه وی الله تعالیٰ فرمائی ﴿اتبعو مله ابراهیم حنیفاً﴾

اے دَ ابراهیم علیہ السلام بچو دَ سیدنا ابراهیم علیہ السلام په ملت پسی روان شئی. د ابراهیمؑ ملت څه وو؟ هغه کلك ولاړ وو په تو حید باندی ﴿وماکان من المشرکین﴾ نو سیدنا ابراهیم علیہ السلام بت شکن وو. بت فروش نه وو. نو ته هم بت شکن شه ، بت فروش نه شی. بعضی خلق وائی که چرته ډیر کئ وی دا به اوسپړو که چرته بت مو پکښی اوموندو چه خرڅ ئی کړو ځانته به پری کور جوړ کړو حاجتونه به پوره کړو، خه امامتے سره مونځ هم کوی په تندی کښی ئی محراب هم جوړ کړی وی. تسبیح هم اړوی. او بت اومومی نو خرڅوئی ماتوی ئی نه، سیدنا ابراهیم علیہ السلام بتان مات کړل، خلق خو نور هم ډیر شی وو، بلا خلق وو هغوی وائی ﴿مَنْ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا﴾

زمونږ دا خدایان چا وهلی؟ دا چا ټکوستری کړی؟ هغوی څه وائی دا د هر چا کار نه دے ﴿اِنَّا سَمِعْنَا فَتیً﴾ مونږ د یو ځوان باره کښی آؤریدلی دی ﴿یُقَالُ لَه اِبْرَاهِیْم﴾ مونږ د یو ځوان په باره کښی آؤریدلی

دی هغه ته ابراهیم وئیلی شی هغه زمونږ بتا نو پسی خبری کولی. نو دا د ځوانانو کار دی تا سو ته به شیخ دااصحاب کهف باره کښی وئیلی وی هغی باره کښی الله فرمائی (انهم فتیه امنو بر بهم و ذر نهم هدًی) ځمونږ علا قه کښی یو نوجوان ملګری درس ته را شروع شو. څه بعضی اهل هوا اهل بدعو هغه نو جوان ځان سره دا سی په بعضو علماؤ سپین ګیرو مشرانو باندی او ګرځولو. نو دا هغه نوجوان د خلی نه زما مخکښی دا خبره اووته یره تا سو سره می ډیر نه لګی. تا سو ټول ځوانان ځوانان ئے بزرګان در کښی نشته و ګورے فلانکی ځائے کښی فلانی سپین ګیری مولوی صیب دی په هغوی کښی بزرګان دی ما ور ته و ئیل ته خو دا منی چی اصحاب کهف هغه اولیاء وو.اوهغه ځوانان وو که اقبالیات و ګورے هغه چا ته خطاب کوی

عقابی روح جب بیدار ہوتی ہے جوانو میں
نظر آتی ہے ان کو اپنی منزل آسمانوں میں
اس قوم کو شمشیر کی حاجت نہیں رہتی
ہو جس کے جوانوں کی خودی صورت فولاد
نہیں ہے تیرا نشمین قصر سلطانی کی گنبد پر
تو شاہین ہے بسیرا کر پہاڑوں کے چٹانوں پر

نو اصحاب کهف ځوانان وو، دَ دین کا ر چه چا کړی نو ځوانانو کړے ﴿وَ قَال رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ یَکْتُمُ اِیْمَانَه﴾ ﴿فِیْهِ رِجَال یُّحِبُّوْنَ اَن یتطهرو﴾ ﴿رجال لا تلهیهم تجارة ولا بیع عن ذکر الله﴾ ﴿وجاء من اقصی المدینه رجل﴾ احادیثو کښی هم رائی "سبعة یظلهم الله فی ظله یوم لا ظل" نو هغے کښے هم دی "شاب نشأ فی عبادة الله" فرمائی ﴿اِنَّهُمْ

فِتْيَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِم و زدنٰهُم هُدًى﴾ دَ بادشاه مخے ته اولاړ وو. حق مسئله ئی بیان کړی وه بادشاه ته ئی نیغ نیغ جوابونه ورکړے وو. بیائی کورونه پریخودی وو په غارکښی ئی پناه اغستی وه. قرآن دهغوی بیان کوی د هغوی تذکره کوی هغوی چی کوم مکان کوم زمان کښی وو د هغی ذکر الله په قرآن کښی کوی، د هغی سره یو سپی ملګرتیا کړی وه الله ور سره د هغه سپی تذکره کړی هغی قربانی کړی وه رد د شرك ئی کړے هغی سره سپے ملګرتیا کړی وه د هغه موحدینو اولیاؤ صحبت ئی اختیار کړی وو الله دسپی ذکر په خپل عظیم الشان قرآن کښی کړی چه ﴿و کلبهم با سطٌ ذراعیه بالوصید﴾

دَ هغی او لیاؤ ملګرتیا ئئ کړی وه. الله ته دومره خوښ شو. چی دَ خپل کتاب د قرآن دَ اوراقو زِینت ئئ او ګرځولو د قیامت د روځی پوری به دا واقعه په منبر او په محراب کښی بیانیګی. مقرر ئی په خپل تقریر کښی مبلغ ئی په خپل تبلیغ کښی بیانوی. دا خبره یاد سا تل پکار دی چی د نیکانو صالحینو خلقو په صحبت کښی ناسته ډیره لا زمی ده بیا حق مسئله در ته بیانوی بغیر د څه عرض نه بغیر د څه دنیاوی مفاد و نه ووټ درنه نه غواړی نو ټ در نه نه غواړی. شیخ سعدیؒ اوږده وا قعه ذکر کړی ده چی یوتن وائی زهٔ حمام ته ور ددننه شوم یو کس سره ختمه وه خوشبو ترے تله

گلے خوشبوئے درحمام روزی
رسید از دست محبوبے به دستم
بدو گفتم که مشکی یا عبیری
که ازخوشبوئے دل آویز تو هستم
بگفته من گلے نا چیز بودم

ولیکن مد تے با گل نشستم
جمال همنشین در من اثرکرد
د گر نه من هما خاکم که هستم

ځه خو بیکاره خټه یم خو د ګل په ویخ کښی م و خت تیر کړی د هغی صحبت کښی می نا سته کړی ده اوګوره دسپی مقام ته د اصحاب کهف سره ئی ملګری تیا کړی وه نو داسی علماء مؤحدین دا ډیر ناپید وی دا نه ملا ویږی اوګوره دَ هغه صوابئ نه خلق راغلی چی د شیخ صاحب بیان ریکارډ کړی چی مونږ او تا سو کو شش دا کوؤ چی داسی مجلسونو کښی نا سته کوو مونږ وایو چی څه و خت به بانګ وائی چی مونځ او کړو چی کو ر ته زر ځو یاد سا تے چا چه ددی نعمت نا شکری کړی نا قدری ئی کړی ده الله هغه نعمت اغستی بل خوائی بوتلی. نبی علیه السلام راغے مکے ته، مکه کښی کی د توحید اعلان اوکو مکی والو سترګی پټی کړی هیڅ توجه ئی او نه کړه . د هغوی نه الله نعمت واغستو، نبی علیه السلام مدینی ته لاړو. مدینی والو ئی نصرت اوکړو مرستے ئی اوکړه اوس هم مدینی ته سړی لاړ شی هلته ئی زړه خوشحاله خوشحاله وی چی څوك دمدینی تذکره کوی نو ډیر لذت ورکوی حاجیان صاحبان وائی مکه کښی سړی هسی خفه خفه وی او په مدینه کښی خوشحاله وی ،نو هغه مشرکان وائی ﴿من فعل هذا بالهتنا﴾ مونږ ته دا خدایان چا مات کړی؟ دا د ځوانانو کار دے ﴿انا سمعنا فتیً﴾ کوم مشران سپین ګیری چی د قرآن درسونو ته کینی دَ هغوی زړونه ځوانان وی ځکه قرآن انقلابی کتاب دے په زړه کښی انقلاب راولی، په سینه کښی انقلاب راولی، په عقیده کښی انقلاب

راولی، په عمل کښی انقلاب راولی. قرآن کریم عظیم کتاب دے. اعلیٰ کتاب دے . زبر دست کتاب دے . دَ دے کتاب په شروع کښی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿ذلك الكتب لا ريب فيه﴾

په دی کتاب کښی هیڅ شك نشته دا خوند ناك کتاب دے ګوره تا سو چی د کور نه راځئ په هر قدم نیکی ملا ویګی په هر قدم ګناه لری کیږی درجه ور سره بلندیږی. دا بعضی نا پوهه کسان وی سړی ته ور باندی غصه هم ور شی خو نا پوهه به وی هغوی وائی دَ قرآن دَ درسُونو نه څه جوړیږی؟ عمل پکار دے، نو ورته اُووَایه قرآن ته راتلل عمل، قرآن ته کتل عمل، قرآن آو ریدل عمل، دَ قرآن الفاظ وئیل ځانته عمل،نو دَ قرآن مجید تفسیر آؤریدل ځانته عمل، دَ مدرس شکل ته کتل ځانته عمل، پخپله د قرآن ترجمه وئیل ځانته عمل، خپل مینځ کښی تکرار کول ځانته عمل. چی قرآن عمل نه شو ته بل څه ته عمل وائی؟ رونړو ! یاد سا تے په قرآن باندی بل کتاب ته ترجیح ور کول دا خه کار نه دی قرآن دا عظیم الشان کتاب دے انقلابی کتاب دے د زند ګے ټول مسائل په قرآن کښی ذکر دی .د قرآن نه زار شه ډیر نوجوانان ملګری ډیر بوډاګان هغی ته دقرآن نشه لګیدلی وی چه څوك ترے تپوس او کړی بابا چرته ځے نو وائی ځم درس قرآن ته . ټوله ورځ ئی کارونه کړی وی ستړی وی نو جوانان ټوله روځ سکولونو. کالجونو کښی ستړی شوی وی ما سخو تن درس ته راځی ډیرخوند کوی. ځکه اقبال وائی .

فاش گو یم آنچه در دل مضمر آست
اے کتاب نیست چیز دیگر آست

چوں بجادر رفت جان دیگر شود
جان چوں دیگر شود جہان د یگر شود

نو قرآن په معاشره کښی انقلاب راولی. چی در سو نو کښی ئے نا سته نه وی کړی نو خپلی ښځی د حاله خبر نه وی هغه چر ته دمنجور سره نا سته وی. البته بعضی در سونه دا سی وی چه خلقو ته پکښی خپل علامه توب ښکاره کوی چه دا جار مجرور ظرف مستقر شو. او تقدیر د عبارت به دا رنګی شی. د غه شان قرآن دسر نه تر آخره پوری ختم شی .
نه د سورت د خلاصی پته او لګی نه د قرآن دیو سورت عنوان معلوم شی نه دا او پیژنی چه تو حید څه ته وائی؟ نه دا او پیژنی چی شرك څه ته وائی نه الله او پیژنی. مونږ او تاسو هم پوهه هغه تن ته وایو چی په خبره ئی پو هه نه شو. مونږ وایو یره ډیر پوهه دی ډیر قابل دی. او بعضی وی اوږده قصه ئی شروع کړی وو. جنجا باچا قصه رو نړو یاد سا تے دا سی قسمه قصوته هیڅ توجه ور نکړے. پس کوم وا قعات چی قرآن کښی ذکر دے هغه بیانوے. زمونږ دَ رائیونډ مرکز مشران وائی دَ قرآن واقعات بیانوے یا بس ساده شپږ نمبرے بیانوے په هغی کښی مونځ، صحیح عقیده، یقین، علم، ذکراو دعوت دا هر څه شامل دی .
بعضی خلق د ځانه دروغ قصے بیانوی بعضی، مشران د قرآن نه نا خبره وی سَر ورته ړقوی، کله دَ ستر ګونه او ښکی را بهوی. نوقصے ورته کوی چه یو ښځه خاوندوو هغوی د الله نه سوال کولو چه یا الله مونږ ته بچی راکړه چی په دری روځی کښی او شی او په دری روځو کښی لوئی شی او په دری روځو کښی ئی وا دۀ هم او شی او خیر دے الله که په دری روځو کښی مړشی نو په دری روځو کښی بچی اوشو، لوئی هم شو، په دری

روځو کښی ئی وادۂ هم اوشو، اوس د بچی مرګ رانزدے شو ښځه خاوند ژاړی چه اوس به بچی مړ کیږی وائی چه راغلل موسیٰ علیه السلام ته چی دَ هلك زند ګی ختمه ده او ته دَ لله نه سوال اوکړه چی الله ده ته زند ګی ورکړی. موسیٰ علیه السلام سوال شروع کړو، وائی الله پاك ور ته اوفرمائیل چه ستا سوال نه قبلیږی بیا ښځه خاوند ژاړی په لاره ملنګ باچا روان وو ملنګ باچا ته وائی ته دَ الله تعالیٰ نه سوال اوکه چی ځمونږ هلك ته زندګی ملاؤ شی. ملنګ باچا مصلی خوره کړه او سیګریټ څکی، چرس څکی، مدك ئئ وهلی دی. او بے اودسه مانځه ته اودریدو. او سوال ئی شروع کړو الله ورته وائی ځه سوال دی قبول شو. وائی چه موسی علیه السلام ډیر زیات خفه شو. یا الله ځه به اوس خلقو ته څه وایم؟ ځه دِ خلقو ته ملامته کړم. بیا وائی چه موسی علیه السلام ته الله پاك اووئیل ته دِ ما ته دَ بدن غوښه لګه راکه، موسیٰ علیه السلام اووئیل چه یا الله دَ کوم ځائے نه؟ وائی الله پاك ورته وائی ورشه فلانکی ملنګ ته وایه چه الله ستا دَ بدن غوښه غواړی. وائی ملنګ زر چاړه راواخسته دَ تندی نه غوښه، دَ اننګی نه غوښه، دَ سینی نه غوښه، دَ پتون نه غوښه، دَ خپے نه غوښه. وائی الله پاك ورته وائی چه اے موسیٰ علیه السلام او دے لیدو دَ ټول بدن نه ئی راته غوښه راکړه دا قسمه قصے خلقو دَ ځانه جوړی کړی .موسی علیه السلام نه دَ ملنګ در جه اوچته وه څه؟ دا قصی قتاری کوی، دَ انبیاؤ شان کموی، دَ انبیاؤ عظمت کموی، کوم ځوانان چی د قرآن درسونو کښی ناسته کوی بیا دا قسمه قصو ته هیڅ توجه نه ورکوی، په دی وجه باندی دَ قرآن درسونو ته رواج ور کول ډیر ضروری دی. دَ قرآن مجید په درسونو سره محلی آبادیږی، ملګرو ته دعوت ورکوئ، ګشتونه کوئ، په ماشومانو

کښی به مو برکت وی، دَ قرآن راوخلئ ، زده کولی ئئ شی. که مشران یے او کـه کشـران بـطـور میـلـمـه پـه جـرګه درته وایم چه دے کتاب سره مینه اوکـے دَ شیـخ صـاحب په درس کښی کینئ او خدمت ئئ کوے. مونږ او تاسو به لاړشو، او د قرآن درسونه به جاری وی، عقیدی به صحیح کیږی، د عـقیـدو اصلاح په کیږی، دَ عمل اصلاح به کیږی، څومره ملګری چی را غـلـی ئـئ. د هـر مـلـګری په خدمت کښی در خواست دے چه روزانه په درس کښـی شـرکـت کـوئ او ځان سره نوی ملګری هم درس د پاره تیاروئ چـی د قـرآن درس کیږی. نو پخپله هم قرآن راخلـے که پری نه پوهیږئ نو هـم ئـئ راخـلـے قـرآن دَ الله عـظـیـم کتاب دے اوګورے کاغذ ئـے څومره مبـارَك دے. د کپـړے ئـئ څـومره احترام کیږی، قرآن سړی ځوانان کوی ځـکـه هـغـه مشـرکـان وائـی ﴿مـن فعل هذا بالهتنا﴾ زمونږ دا خدایان چا وهلی نو هغوی وائی﴿انا سمعنا فتًی﴾

زمونږ معا شره کښی نن دا عجیبه کار دے که چرته څوك دَ مزارونو او قبـرونو صفائی اوکړی، جهنډی ترے لری کړی، نو څه وائی؟ وائی دا به هـغـه بـے ادبـه پـنـج پیـریـانـو کړی وی. دا د هر چا کار نه دے نو قوم دَ ابراهیم علیہ السلام اووے چـه زمـونږ پـه خـدایـانـو پسـی به هر وقت لګیا وو ﴿یقال له ابراهیم﴾

هغه ته ابراهیم وئیلی شی . ابراهیم خپل پلار ته وائی زه وینم تا او قوم ستـا پـه ګمراهئ ښکاره کښی . الله دی پریخودے دے. نو که چا اووی چـه مشـر جـی کـاکـاجـی . بـزرګ جـی دا کار بـے ثبوته دے، بـے دلیله دے. نـو وائـی دا اُوس نـوی مُـلـیـان را غـلـی دی، بـے ادبـی کـوی، ابراهیم علیہ السلام وائـی. ﴿انـیّ اَرٰك و قـومك فی ضلٰل مبین﴾ اے پلاره زهٔ

وینم تا لره او ستا قوم لره ښکاره ګمراهئ کښی. تاسو نور ته سجدی کوئ، آیا سپوږمے خدائے کیدی شی؟ آیا ستوری خدائ کیدے شی؟ بوتان الہ نه شی کیدی. قرآن د رب باری تعالیٰ صفات بیانوی. متصرف یواځی الله دے، مدبر یواځی الله دے، خالق یواځی الله دے، نو کله صفات بیانوی چه ﴿الحمد الله رب العلمین﴾ کله وائی ﴿الحمد الله الذی خلق السموت والارض و جعل الظلمت والنور﴾

کله فرمائی ﴿الحمد الله الذین نزل الفرقان﴾

کله فرمائی ﴿الحمدالله خلق السموت بغیر عمد ترونها﴾

کله فرمائی ﴿والهکم اله واحد لا اله الا هو الرحمن الرحیم﴾

کله فرمائی ﴿الٓم الله لا اله الا الحی القیوم﴾

کله فرمائی ﴿سبحان الذی اسریٰ بعبده﴾

نو کله فرمائی ﴿سبح اسم ربك اعلیٰ الذی خلق فسوّٰی﴾

نو کله فرمائی ﴿یسبح لله ما فی السمٰوات والارض﴾

نو کله فرمائی ﴿تبرك الذی بیده الملك وهو علیٰ کل شیء قدیر﴾

نو کله فرمائی ﴿تبری الذی نزل الفرقان علیٰ عبده لیکون للعلمین نذیرا﴾

الله تعالیٰ جدا جدا انداز اختیار کړے دے، دے دَ پاره چی عقیده مضبوطه شی، چی د الله تعالیٰ نه علاوه بل څوك حاجت روا، مشکل کشا نشته، چی دَ الله تعالیٰ نه علاوه بل چا نه ځامن او لوړه نه غواړو ډیر خلق داسی دی چی ماشوم بچی ته ئی څوك ډب ورکړی وائی څه کوی؟ بچی راته مه وهه، ده پسی زۀ پیاده پیر بابا ته تلی ووم، چی دَ چا بچی نه وی په درګاهونو کښی ځانګوګانو ته جوتی ورکوی، کله دَ

دربو ته غوتی ورکوی، په چا تبه راغلی وی. بوډے ورته وائی تاسو کره دَ تورډ هیری بابا خاوره نشته؟ خاوره اوخوره کنه چرته چم ګاونډ کښی به وی نعوذ بالله د پیغمبر درجه ئ هغوی ته ورکړی وی چی دَ چا بچی نه وی نیا ابے ته به راشی . وائی دری کاله می دَ واده او شو. بچی می نشته، هغه ورته وائی فلانکئ درګاه ته نه وی تلی، هلته لاړه شه او پیاده خپے ابلی خپلے درګاه نه ګیر چا پیره اوه چکری ووهه دَ درګاه نه طواف اوکړه. قرآن کښی خو الله فرمائی: ﴿والیطوفوا بالبیت العتیق﴾ چی دَ بیت العتیق نه ګیر چاپیره طوافونه اوکړے. دوه دری کاله تیر شی بیائی بچی او نه شی دا بیا راشی بوډے ته بچی خو می اونه شو. بوډے ورته څه وائی، بچی ته چه فلانکئ درګاه ته تلے وے او طوافونه دے کول تا به پکښی ساه اغستی وی ، بیا لاړه شه او په یو ساه باندی ووه طوافونه اوکړه،

سیدنا زکریا علیہ السلام بچی غواړی، او دَ چا نه ئ غواړی؟ دَ یو الله نه ئ غواړی. وائی ﴿رب لا تذرنی فرد او انت خیر الورثین﴾

او بعضی دا سے هم شته خلق وی چی نوی کور جوړکړی نو چیتره پکښی ځوړنده کړی او د چا عقیده دا ګیډر په لکئی جوړ شوی وی. بعضی خلق سپیاکه ځوړنده وی چی دلته کښی بد نظراو نه لګی څه ګډبانه روان وو. په ګډو بیزو کښی ورسره کو چی روان وو. مونږ تری تپوس وکړو چی دَ ګډو بیزو په مینځ کښی دا کو چی مو ولی روان کړی دی هغوی وئیل چه دا ګډی بیزی د نظره نه شی عقیده ئی کو چی باندی وی کو چی پیژنے دا د خر بچی ته وائی. یاد ساتے دغه عقیدی دی چه الله نه علاوه بل حاجت روا شکل کشا غیب دان حاضر

ناظر هم شته نو هیڅ یو عمل بیا نه قبلیږی . قرآن وائی یاد ساته که تاډیر نفلونه کړی وی که ډیردی تندی تور کړی وی قرآن وائی ﴿فجعلنه هباءً منثوراً﴾ که تا ډیر تبلیغ کړی وی، جهاد دِ کړی وی حجونه دِ کړی وی، تسبیح دِ اړولی وی ټول عمل دِ تباه دے. ابوجهل ډیر حجونه کړی وو، مشر کانو ډیرحجونه کړی وو. جماعتونه ئی آبادول. تهجد ئی کول، اشراق مونځونه ئی کول د ماشومانو سونتونه ئی هم کول خیراتونه ئی هم کول. خپلو ما شامانو ته ئی عبد الله ، عبد الرحمن نومونه هم کیخودل خو د هغی با وجود ټول اعمال ئی تباه و بر باد دی ځکه عقیدو کښی ئی ګړ بړ وو. عقیده ئی صحیح نه وه لقمان حکیم صیب مسئله شروع کوی د کوم ځائی نه شروع کوی د خپل کور نه شروع کوی،په قرآن کښی ذکر دی﴿اذقال لقمان لا بیه هو یعظه﴾ او ګوره لقمان حکیم صاحب و عظ کوی تبلیغ کوی دعوت شروع کوی نو د کورنه ئی شروع کوی بعضی ډیر داسی ملګری ټوله روځ غریبانان دیاړی مزدورے کوی نو کرو ته تلی وی ستړی ستومانه کور ته راشی دَ کور ور ئئ بند وی ورته تالا وی. بیګم صاحبه چرته تلی . بچی ئئ ناجوړه وو چرته منجور خواه ته تلی ده چرته په درګاهونو ګرځی، دا ولی؟ مسئله ئی دَ کور نه نۀ وی شروع کړی. نو اوګورے لقمان حکیم مسئله بیانوی ځوئی ته وائی ﴿یٰبُنَیَّ﴾ دَ لقمان حکیم په واقعه کښی یو بل انداز دی په دی کښی مشرانو ته ترغیب دے چی کشران پوهه کوئ نو په پیار او شفقت سره. خودی غریب په دی سوچ کښی وی چی ځوئی تعلیم اوکړی. ای کام بی کام اوکړی، خیر دے چی صحیح کام نه کوی. خو چی زما بچی غټ

تعلیم اوکړی. خیر دے چی تہائی پتلون واچوی. خیر دے چی دَ یهودیت جامی د یهودیت لباس واچوی چی سبا انجنیئر او ډاکټر جوړشی چی سبا ئئ غټه بنګله وی. نو لقمان حکیم صاحب وائی ﴿یٰبُنَیَّ﴾ په دے کښی اشاره ده چه په مینه محبت او شفقت سره ئی پوهوئ اے زما بچنګیه. دا دَ اسم تصغیر صیغه ده او دا بعضی مشران وی یا دَ دین نه لری وی یا دَ ضد دَ وجی نه چی بچی ته څه خبره کوی . نو اول ځانته شپږ شلی کنځل اوکړی زوی ته آواز کړی چه اے د طلاقی بچیه یا دَ دَلَه بچیه بیا ماشوم هغه خبره نه اخلی. لقمان حکیم صاحب شروع کوی نو دَ کومی خبری دعوت چلوی . هغه وائی ﴿یٰبُنَیَّ لا تشرك بالله﴾ اے بچیه د الله سره شرك او نه کړے الله په شرك ډیر خفه کیږی ګوره که غیرتی او نر سړی وی او ښځه ور ته وائی . ته می هم خاوند ئے خو دا د سړی نه نۀ بر داشت کیږی . چی صحیح نر غیرتی سړے وی . الله خو هم مصیبتونه ختمولی شی خو دا جهنډی پری هسی ولاړی دی الله هم کولی شی خو دادومره خلق ور ته هسی رامات دی الله هم کولی شی خو دوی ته الله ورځی ورکړی دی نو ولی شپی ئی ور ته نه دی ورکړی څه ؟ نو د غی ته شرك وائی او دا فلانکی خوډیر زوراور دے د دولسو کالو ډوبه بیړے ئی راؤباسلے وه او فلانکی نور راکوزکړی وو. الله رب العزت په قرآن کریم دلقمان حکیم په واقعه کښی ذکر کوی ﴿یبنی لا تشرك باالله ان الشرك لظلم عظیم﴾ او کله الله فرمائی ﴿ان الله لا یغفر ان یشرك به و یغفر ما دون ذلك لمن یشاء﴾ الله فرمائی که شرك دِ اوکړو نو الله دے نه بخښی الله شرك نه معاف کوی. نن چه ته رد د شرك او کړی او د توحید مسئله

بیان کړی نو بعضی خلق وائی دا اوس نوی نوی ملیان را وتی دی دا ملیان اختلافی مسئلی چیړی وے تا قرآن او ریدلی ته قرآن ته ناست ئی پاګله د ااختلافی مسئلی دی الله فرمائی ﴿لئن اشرکت﴾ اے نبی علیہ السلام کہ چری تا بالفرض والمحال شرك اوکړو نو تمام قبول شوی اعمال به دِ تباه کم. تمام انبیاء علیهم السلام که بالفرض والمحال شرك اوکړو نو ټول اعمال ئی تباه کیږی. الله تعالیٰ فرمائی چا چی شرك اوکړو جنت ته تلل ئی محال، جنت ته تلل ئی حرام، جهنم ئی ځائے دی . الله تعالیٰ فرمائی چا چی شرك او کړو ﴿فکانما خر من السماء﴾ ګویا چی دَ آسمان نه راپریوتو او ټکړی ټکړی شو. دَ الله تعالیٰ صفت بل چا ته ورکول چی زما د کور د حال نه خبر دی، او زما پیر ته پته لګی. شیخ صاحب به تاسو ته دا واقعه کړی وی. شیخ القرآن محمد طاهر پنجپیریؒ یو ځل په لا ره روان وو یو فالګری ورته آواز اوکړو چی راشه تا ته فال ګورم . اکثر په دی فټ پا تونو دا فالګری ناست وی. دا فالونه کتل په نوکونو کښی کتل یاد ساتے دا ټول غلطی عقیدی دی اکثر دَ قرآن مجید په آخر کښی فال نامے شائع شوی وی دا ټول بکواس دے، هغه ورته وائی فال درته ګورم. شیخ صاحب ورته وائی فال په څو ګوری. هغه ورته د هغی وخت دَ اندازی مطابق پنځه شپږ روپے یادی کړی شیخ صاحب ورته لس روپے ورکړی او ورته ئی وئیل چی دا لس روپے واخله او لګ خپل فال اوګوره چرته په قسمت کښی دے روغه روغ شته او که نه ټول عمر به سر والی بر والی ګرځی په غوږونو کښی دی وسلین جوړ شوی، خیرن خچن ګرځی. مونځ نه کوی اودس دِ نشته، غسل نشته، صفا پاکی جامی نشته، فالګری

اووے چه ته نه منے څه؟ ته نه منی، شور ئی جوړ کړو. شیخ صاحب وائی ګریبان نه می ونیولو. او ګوډی می پری کیښودی، زړه کښی می اووے کـه دَ قیـامـت پـه ورځ رانـه الله تپوس اوکړی چی یو مشرك بدعتی می په لاس درکړے وو او تا ورته هیڅ هم نه ویل نو خه خوشت می کړو. بلا خلق را جمع شول شیخ صاحب وئیل ګوریٔ اے خلقو دی دَ خـلـقـو قسـمـت معلوموی او دَ خپل قسمت پته ورته نشته که ده ته پتـه وی چی زمـا پـه قسـمـت کښی نن وهل دی نو ما ته به ئی آواز نه راکولو. بعضی وائی فلانکی پیر ته دَ شګو دَ ډیرکی هم پته لګی. نـو دا هـم مـا تـه پته لګی چی دغه ځائـے بهر دَ شګو ډیرکی دی او تین کروړ شګی دی او که یقین دی نه راځی نو ورشه اووئـے شمیره.

د تـوحیـد مسـئـلـه دا ډیره خوندوره مسئله ده په بنده ډیره ښه لـګی خـو چی عقیده برابر وی او چی د چا عقیده ګربړوی نو خویندی مینـدی بـه ئـی ټـولـه روځ پـه درګاؤنو، مزارونو باندی ګرځی ، لاس ته کـونـجـکـی لا سـونو ته ئی بندونه غوټه کړی وی. او چی ته دا مسئله کـوی کـلـه بـه پـه تـنـدی لاس وهی کله به ګهړئی ته ګوری. اووائی هر وخت دا یوه مسئله هر وخت دا یوه مسئله او تا ویګی را تا ویګی به.

مـا چـی و خـتـی کـوم دقـرآن آیـات لو ستی وو. الله رب العزت فرمائی اے نبی ﷺ خلقو ته ووایه ﴿ان اخذالله سمعکم و ابصارکم﴾ که الله درنه دَ آؤریدو طا قت واغستو. او که الله درنه دَ لیدو طاقت واغستو. او کـه الله درته په زړه مهر ولګولو. پښتو کښی معنی که الله رب العزت دے کونړ کړی. که الله رب العزت دے ړوند کړی که الله رب العزت دے لیـونـی کړے. نو ﴿من اله غیر الله یاتیکم به﴾ د کنړو ذمه دار څوك دی؟

دَ ړنډو ذمـه دار څوك دی؟ دَ لیـونـو ذمـه دار الله ،څـه عجیبـه انداز سره بیانوی ﴿انظر﴾ اوګوره ﴿کیف نصرف الا یت ثم هم یصدفون﴾


﴿کیف نـصـرف﴾ "صَـرّفَ، یُصَرِّفُ" دَ "صَرفٌ" معنیٰ ده اړول را ړول، علم الصّرف ته هم صرف ځکه وائی. چی دا هم صیغی اړوی را اړوی کـله ما ضی نو کله مضارع نو کله اسم فا عل نو کله اسم مفعول نو کله یو صیغه نو کله بله صیغه ، زرګر ته صرّاف ځکه وائی چی دی زر اړوی دَ سـونـی نـه کـلـه والـے نو کله ګتمه کله څه او کله څه الله هم بیـانـوی ﴿کَیْفَ نُـصَـرِّفُ﴾ دا ذهـن اړوی راړوی کـلـه د لائل عقلیه بیان کـړی نـو نقلیه کله وحیه کله واقعات نو کله زواجر نو کله بشارات کله واقـعـات کـلـه د امـم سـابـقـه حـالات . دا د قرآن انداز دی الله تعالی دی زمونږ عقیدی په توحید باندی جوړی کړی او الله تعالیٰ د زمونږ مرګ هم توحید باندی کړی آمین .

اقول قولی هذا استغفرالله لی و لکم ویسائر المسلمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبہ نمبر: ''۲۵''

اصلاحی او تربیتی بیان



پینځویشتمَه خُطبه : ''اصلاحی او تربیتی بیان''
[دَ طلباء او طالباتو دَ پاره]

الحمد لله و کفی و سلام علیٰ عباده الذین اصطفی اما بعد، فقد قال رسول ﷺ المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده .

عزت مندو طلباء او طالباتو!

ستاسو مشاهده به وی او ستا سو په علم کښی به وی . چی نن سبا عام طور باندی مونږ او تاسو دوه الفاظ یو ځائے آؤرو ''تعلیم او تربیت'' دَ تعلیم او تربیت په مینځ کښی فرق دے، تعلیم خو انسان د مدارسونه او دارالعلوم نه حاصِلولی شی خو تربیت د بعضی خلقو په خدمت سره د اولیاء الله په صحبت کښی ناستی سره، د قبر، حشر، مرګ، دَ جنت او جهنم د تذکروسره دَ دے څیزونو سره دَ انسان تربیت حاصلیږی او په دی څیزونوسره د انسان نه انسان جوړیږی . دا کار دَ انبیاء کرامو علیهم السلام په ذمه وو. چی هغوی به د انسان نه انسان جوړولو انبیاء علیهم السلام دَ دُنیا نه رخصت شو دا کار چی دَ انسان نه انسان جوړ شی دا بیا د هغوی دَ ورثاؤ په ذمه اولګیدلو چی هغه علماء دی، صلحاء دی، دین والا خلق دی . دا خلق په نظرکښی یو فرد په نظر رائی دا تربیت کؤنکی خلق دَ انسان نه انسان جوړؤنکی خلق په حقیقت کښی دَ جماعت نه زیات وزنی وی، اُوګورئ سیدنا ابراهیم علیه السلام یو تن وو خو دَ هغه په باره کښی الله تعالیٰ فرمائی ﴿ان ابراٰهیم کان امة﴾

سیدنا ابراهیم علیه السلام یو امت وو، په دی وجه ډیر کوشش پکار دے چی دَ تعلیم سره سره زمونږ او ستاسو تربیت هم اُوشی، ګوره که

مونږ سوچ اوکړو یو کافر انسان دے اوس هغه شپیته اتیا کاله زندګی په کفر او شرك کښی تیره کړیده. اوس هغه په یو سیکنډ کښی وائی "لا اله الا الله" منډی ئی نه دی وهلی، ورزش ئی نه دے کړے، څه نور څه تکلیف ئی نه دے برداشت کړے، صرف په ژبه سره دا دوه الفاظ ئے اُووئیل، دَ دے کلمی دَ و ئیلونه مخکښی دَ الله تعالیٰ دشمن وؤ، او دے کلمی وئیلو سره دَ الله تعالیٰ په دوستانو کښی شامل شو مخکښی ئی دَ شیطان بندګی کوله، اوس دَ رحمان بنده شو او که سل کاله ئی ګناهونه کړی وو دَ دے کلمی دَ وئیلو سره ټول ګناهونه ورته الله تعالیٰ معاف کړل.

ګوره د ژبی نه دا راوتی الفاظ چی دی "لا اله الا لله" دَ الله تعالیٰ په نزد څومره قیمتی شو مخکښی یو شان زندګی وه مخکښی ئی دَ یو چا بند ګی کوله، دا دَ کلمی د یو څو الفاظوسره مکمل انقلاب راغلو نو چی کوم الفاظ دَ خلی نه راؤباسو چی کله مونږ چا سره ګفتګو کوؤ نو چی غور او فکر کوؤ، چرته دَ خلی نه مو ناروا راؤنه ځی، ګوره که چرته د نارینه او زنانه نکاح کیږی دوه الفاظو سره ئی نکاح کیږی وائی د ماشومه تا قبوله کړی ده وائی او ما قبوله کړی ده. بس نکاح او شوه الفاظ دوه دی مخکښی د دے الفاظو نه دا جینئی د دے سړی د پاره غیر محرمه وه هغی ته کتل ګناه کبیره وو هغی سره خبری حرام وو دی الفاظو وئیلو نه رو ستو یو اځی محرمه نه شوه بلکه د هغه سړی شریك حیات شو غونډه زندګی به ور سره تیروی په غم او خوشحاله کښی یو شو داد الفاظووئیلوسره په دی وجه د ژبی نه د الفاظ راؤتودومره غټ اهمیت دی نو ډیر زیات احتیاط پکار دے. که

یو سړی چرته خپلی ښځی ته د خلی نه د طلاق الفاظ راؤیسته نو دی نه مخکښی د هغه بی بی وه شریك حیات ئی وه د بچو مور ئی وه په غم او خوشحالئی کښی ئی ملګری وه خودی الفاظووئیلو سره هغه پر دے شوه نا محرمه شوه مختصر الفاظووئیلوسره زند ګئی کښی څومره تبدیلی راغله، دَ دے نه اندازه لګول پکار دی چی د انسان د ژبی نه کوم الفاظ راؤځی هغه څومره وزنی دی مونږ کله کله ژبے نه الفاظ را و با سو بالکل احساس هم نه کوؤ. چی ددے الفاظو څه مطلب دے نورو خلقوباندی څنګه ددے آثارمرتب کیږی. آیا څه تکلیف خو به پری چا ته نه رسیږی د چا زړه خونه آزارود چا زړه خو پری نه سوزو

جرا حات السنان لها التیام
ولا یلتام ما جرح اللسان

جراحت نیزه می گردد بدارو ولی جراحی زبان رانایستدارو

د توری زخم زر جوړیږی د پیغور زخم تر قیامته پورے وینه

پرهر د توری ښه دے زر به جوړشی په مر هم
ولی بد پرهر دَ ژبی چه وی تر عمره سره سم
ګولئ ویشتلی به خدائی جوړکړی
دَ ژبی ویشتلی به کړیږی مړه شینه

په صحیح مسلم کی دی، رسول الله ﷺ فرمائی: ''المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده''

ژبه یو د اسے نعمت دے چی تلاوت پرے کیدیشی امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرے هم کیګی او د ګناه کار پرے هم

کیدی شی د مسلمانانو مینځ کښی چغلی افتراق دروغ وئیل غیبت هم پے کیږی

دَ ژبے دوه غټ آفتونه دی:

(۱) آفة السکوت عن الحق. چی د حق بیان نه کړی او د حق نه خاموش چاړا شیطن وی "الساکت عن الحق شیطان اخرس."

(۲) والمتکلم بالباطل شیطان ناطق او دویم آفت د ژبے آفة الکلام بالباطل با طلے خبرے کول.

د ژبے پہ گناهو نو کښی یو غیبت دے چه د مړرور غوخی خوړل دی او غیبت په څلور مذهبه حرام دے.

الله تعالیٰ فرمائی ﴿ولا یغتب بعضکم بعضاً﴾ بل مقام کښی الله تعالیٰ فرمائی :﴿ویل لکل همزه لُّمزة﴾ ﴿مَا یَلْفِظُ من قول اِلَّا لَدَیْهِ رَقِیْبٌ عَتِیْدٌ﴾

بعضی خلق داسی الفاظ دَ خلی نه راؤباسی چی هغی سره انسان کفر ته رسیږی په دی وجه علماء ذکر کوی چه دَ کومی ژبی نه دَ دروغو وتل بند شو نو دَ دغی ژبی نه چی کومی خبری راوځی الله رب العزت هغه نه رد کوی، علماء دَ ژبی متلعق ذکر کوی "جِرُمُه صَغِیْرٌ وَ جُرُمُه کَبِیْر" جسامت او وزن ئے ډیر وړوکی دے خو په دی کیدونکی جرمونه ډیر غټ دی، بیا خاص کر زمونږ دا طلباء او طلبات چی دوی علم حاصلوی مونږ باندے لازم دی چی مونږ خو هره یوه خبره په سوچ سوچ سره کوؤ . نو په دی وجه انسان چی خیال نه کوی غیبت کوی په دی ژبی سره کوی اوس غیبت څومره لوئی گناه ده. په ژبے سره دروغ وئیلی کیږی او دا رنگی کله انسان په ژبه دومره دروغ وائی، دروغ وائی چه الله تعالیٰ ملائکو ته وائی دَ دی انسان نوم دَ دروغژنو په

لسټ کښی اولیکئ. چغلی په دی ژبه سره کیږی، په بل چا بهتان او بد نامی لګول په دی ژبه سره کیږی، دَ بل چا زړه ته ضرر ورکول په دی ژبه سره کیږی. په یو روایت کی را غلی دی "لا تغتابوا المسلمین و لا تتبعوا عوراتهم"

څنګه چی غیبت کول حرام دی دغه رنګی ئئ آؤریدل هم حرام دی دَغیبت ګنړاسباب په آفات اللسان فی ضوء الکتاب والسنة کښی ذکردی. دَ غیبت کؤنکی نه الله تعالیٰ ناراضه کیګی او دَ غیبت کؤنکی دَ عمل نامے نه نیکئ هغه چا ته ورکولے شی چی غیبت ئی کیګی.

یوں تو اتر جائے گا میرے سر سے گناھوں کا بوجھ
میری غیبت سے کسی شخص کو روکا نہ کرو

دَ غیبت نه د توبے طریقه دا ده چی د چا غیبت ئئ کړی وی د هغوی نه به معافی غواړی.

تکلیف ورکول د چا زړه آزارول په دی ژبی سره دا ټول کارونه په ژبی سره کیږی په دی وجه علماء ذکر کوی په بیماروکښی د ټولو نه غټه بیماری د زړه بیماری وی او دا رنګی د چا دل آزاری چی مونږ د یو انسان زړه ته تکلیف رسوؤ نو زمونږ په عمل نامی کښی ګناهونه لیکلی کیږی په حدیث کښی دی نبی محترم ﷺ فرمائی چی چا ما ته د دوو اعضاؤ د صحیح استعمال ضمانت راکړ وچه دا به صحیح ځائے کښی استعمالوم نبیؐ فرمائی زه دۀ د پاره د جنت ضمانت ورکوم یو مابین لحییه یو هغه اندام چی داد واړو جامو په مینځ کښی دی یعنی ژبه و مابین رجلیه دا دؤو پتونانو په مینځ کښی یعنی شرمګاه چا چی د شرمګاه حفاظت او کړو چا چی د ژبی حفاظت او کړو نبی محترم

فرمائی دی انسان تہ زۂ د جنت ضمانت ورکوم بعضی روایاتو کښی راځی د قیامت پہ ورځ بہ جهنم تہ زیات خلق اکثر د ژبی د غلط استعمال په وجه ځی. ګوره که مونږ سوچ اوکړو دے ژبی ته الله پاك ډبل پروډکشن ورکړی حفاظت ئی کړیدے څنګه ګوره ژبی ته الله دوه کو رونه ورکړی یو ئی د غاښونو یوه لویه قلعه جوړه کړی ده ګیر چاپیره تری غاښونه په غاښونوکښی پټه ده دیخوا دا شونډوجدا قلعه ئی جوړا کړی ده دومره لوئی پروډکشن او حفاظت دومره لوئی حفاظت الله ورکړیدے چی سړی ژبه کهلاؤی ړومبی شونډی کهولاو بیا غاښونه کهولاؤی بیا هله ژبه کهولاؤی نو دا الله مونږ ته وښودل چه د ژبی داستعمال انجام مخے ته کیدۂ ګوری دا رنګی دانسان شر مګاه هغه په دوو کپړو کښ پټه ده یو هغه پر توګ وی او دویم هغه قمیص وی دا دواړه قلعه ګانے دی په دی وجه حضرت ابوبکرؓ په کله کله ژبه لاس سره اونیولے او دا به ئی را ښکله اووئیل اکثر خلق به جهنم ته دا خلیږی د ژبی د وجے نه نو خوش قسمته دی هغه کس چی په خاموشی سره وخت تیروی او که ګفتګو کوی خبری کوی نو په ذکر سره "الله اکبر کبیرا" خواجه با قی باللهؒ دا ډیر لوئی پیر تیر شوی دی د هغه نه چا تپوس او کړوتا سو اکثر خاموشه پا تی کیږی دا ولی؟ څه نصیحت خلقوته کوئ نو فائده به تری حاصلیږی هغه ډیره زیاته زبردسته خبره وکړه چی کوم خلق زمونږ دَ خاموشی نه فائده وا نه خلی نو زمونږ دَ خبرو نه به څه نصیحت واخلی، نو خاموشی ډیر بهترین څیز دے، دَ دی ډیرے فائدی دے یحییٰ بن معاذ رازیؒ وائی دَ زړه مثال په شان دَ کتوے دے او د ژبی مثال پشان د چمچی دے، دَ

دی کتهوے نه به په چمچه هغه څه راؤځی چی څه په کتهوے کښی موجود وی نو که دانسان د ژبی نه غلطے خبرے دروغ غیبت راوځی نو ته پوهه شه چی زړه د ګند نه ډك دے، په کتهوے کښی دغه ګند دے غلطے خبری فحش خبری بے هوده خبرے. اوبعض علماء ذکر کوی د زنانو ژبی د داسی توری دی چه دیته زنګ نه لګی. د زنانو ژبی په قابو کښی نه رائی هغه په وړه وړه خبره ډیر څه وائی، په دی وجه علماء ذکر کوی چه ته دَ یو دین دار عالم مخے ته نا ست ئی نو خپله ژبه سنبهال ساته نو ډیر زیات کو شش پکار دی علماء ذکر کوی په خپله باندی ربنتیا وائے ''الله اکبر کبیرا'' فرض کړه مونږ دروغ ووایو ټول خلق را ضی کړو مطمئن ئی کړو . ددی به څه فائده وی هر څومره دروغ چی ووایو آخر د دی تپوس به رانه کیږی.

سیدنا علی ﷺ فرمائی انسان د خپلی ژبی لاندی پټ دی هسی ئی پته نه لګی چی په څومره اوبو کښی دا انسان پټ دی ژبی سره پته لګی. کله ته خبری نه کوی ته به عقلمند ګنړلی شی ستا دَ بیوقوفتیا او حماقت پته به هغه وخت لګی چی ژبه کهولاؤ کړی چی ته خبری شروع کړی څنګه دی څنګه نه دی.

دَ حاتم طائی په باره کښی به تاسو آوریدلی وی ډیر نیك انسان تیر شوی دی. دَهغه ښځه ډیره دینداره وه. دَ مالدار سړی ښځه وه دَهغی کلی سره نزدی یو عام سړك وو. په دی سړك به خلق راتلۀ بیا به ښار ته تلل چی کله به هغوی راغلۀ آخر وخت به ختم شوی وو. انتظار به ئی کوؤ ناوخته به وو مسافر د پاره به د خوراك څکاك څه نه وو ښځی سوچ دا اوکړو خاوندئی تجویزدا وکړو چی مونږ مسافرو د پاره

مسافر خانه جوړه کړو. خاوند ئې مسافر خانه جوړه کړه. بے وخته خلق راځی سورلئی ور ته نه ملاویګی په دی کښی به آرام کوی بیا دے ښځے سوچ دا اوکړو چی د مسافرو د پاره د چائے پانی انتظام او کړی شی. هغے ته به چی کومه جیب خر چه ملاویده. نو دی به مسافرو ته په هغے د چائے پانی انتظام کولو نو دی خلقو باندی نوره هم آسانتیا را غله دی ته به ئی نوری هم د عا ګانی کولی دی نیکی زنانه د خلقو نه تکلیف لر کړو یو پیره دی زنانه خاوند ته ووئیل چی تا ته الله ډیر څه در کړی دی چی دی مسافرو د پاره څه د خوراك انتظام هم اوکړی شی نو دی خاوندئی خبره او منله. نو په دی کښی دی طرف ته اشاره ده چی نیکی زنانه په خپل نارینو د نیکی کا رونه کوی او بے وقوفی زنانه پری ددنیا کارونه کوی د بے دینی کا رونه ور باندے کوی دا لالا خان ئی هم جائز او ناجائز منی.

په دی وجه کو شش دا پکاردی خپل نا رینه د دین په کار آماده کول پکار دی او په وینا کښی سوچ کول پکار دی. د خپل تربیت خیال سا تل پکار دی او په کور کښی د خپلوما شو مانو رونړو خویندو تربیت خیال سا تل پکار دی. دَ سخت کلامئ نه پر هیز پکار دی او دا رنګی علماؤ ذکر کړی چه الله تبارك و تعالیٰ ته شپږ څیزونه زیات مبغوض (نا خوښ) دی. کوم شپږ څیزونه؟

هغه سترګی چی په لا رو کو څو کښی بازار و نو کښی هغه ښکته نه وی، خلقو ته ګورے نا رواؤ ته پری ګوری. دا هغه ته ډیر نا خوښه دی دویم نمبر هغه ژبه چی کله خبره کوی دروغ وائی. په حدیث پاك کښی راځی کله انسان دروغ وائی د هغه د خلے نه دومره بد بوئی ځی. چی کوم ملائك وی هغه تری ډیر لری لاړ شی. اووائی الله دے

تباه کړه . دا خله نه دی څومره بد بوئی را وتله.
دریم نمبر نا کاره منصوبی جوړولو والا زړه غلط سو چونه غلط فلانګونه والا زړه.
څلورم نمبر کښی ګناه طرف ته تللو والا قدم داد الله ډیر نا خوښه دی.
پنځم نمبر کښی یو بے ګناه انسان ته هغه تکلیف ورسونکی لاس د االله ته ډیر نا خوښه دی.
شپږم نمبر کښی چی کوم انسان د دوؤ کسانو په مینځ کښی جدائی را ولی د بنځی خاوند په مینځ کښی د رونړو خویندو په مینځ کښی د خواخی انګور په مینځ کښی د ځوم خواخی په مینځ کښی دا دی خبری نه انتهائی اجتناب پکار دی په دی وجه رښتیا وئیل. زمونږ ددی خبرو موضوع وه د دروغو نه په هر حال کښی ځان بچ کول او په رښتیاؤ کښی نجات دی مخکښی بیاناتو کښی مونږ حدیث د کعب بن مالك بیان کړے وو چه هغه نبیؐ ته رښتیا رښتیا وئیل نو او ګوره دا هغی تذکره الله په قرآن کښی او کړه. او د هغه درښتیاؤ هغه تو به قبوله شوه. نو هر و خت رښتیا وئیل پکار دی د دروغونه اجتناب پکار دی ذکر کول فکر کول په دی طریقه به زمونږ نه الله هم خوشحاله وی او زمونږ زند ګی به هم صحیح وی. او خپل تربیت کول د تعلیم سره سره زمونږ تر بیت دا دی چی زمونږ دالله سره تعلق وی او دین زده کړو او دا دین زمونږ او ستا سو د کتابونو نقوش صرف مونږ ته منتقل نه شی بلکه زمونږ نفسونو ته منتقل شی چی زمونږ نفسونو کښی پاکیز ګی راشی،پاکوالی را شی عفت و حیارا شی پاکدامنی را شی نو انشاء الله زمونږ او تاسو نه به خلقوته حیا منتقل کیږی زمونږ او تا سو نه به خلقو ته تقویٰ منتقل کیږی خلقو کښی به ایثار را ځی.

او په دین باندی مال لګول، په دین باندی خپل بدن لګول دین د پاره بـه څـه نـه څـه مشکلات راځی، تکالیف به راځی خبری به بر دا شت کول وی مشقت به بر دا شت کول وی اللہتبارك و تعالیٰ فرمائی.

﴿وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾

کـوم خـلـق چـی زمـا ددیـن دَ پـاره سـختئ برداشت کوی لوړی بـرداشـت کـوی، مشـقت برداشت کوی، خبری برداشت کوی، شوګیری کوی، څه قسمه قربانی کوی، مجاهده کوی نو اللہ تعالیٰ فرمائی:

﴿لَـنَهْـدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾ زهٔ به ور ته لاری کهولاؤ کړم د مجاهدو قربانو سره اللہ تـعالیٰ لاری کهولاؤی. نو کوشش پکار دے ځان د پاره خپل یو ټائم ټیبـل یـو نظام الاوقات یو رو ټین جوړکړے نا و ختـه او دهٔ کیږے، خپل کتـابـونـه ګـورے مـطالعه کوے تهجد کوے تلاوت کوے ذکر اذکار کـوے او و ختـی پاسـے مـونـځ کـوے اللہ یا دوے د عا ګانی جړ ا ګانی کـوے پـه کـو رونو کښی به انقلاب را شی چه څه قسمه مسئله وی د اللہ نـه غـواړے پـه خپـلو نارینؤ باندی محنت اُوکړئ، پلار، رور، ماما، تـره پـه دوی مـحـنـت اُوکړئ. دَ اللہ تـعـالیٰ پـه لار کښی ئئ اولیګئ دَ مـحـنـت مـونـږ او تـا سـو سـره یو لویه لار شته د دعوت او تبلیغ لار چه حـضـرت جـی مـولانـا الیا س دا کوم تر تیب شروع کړیدے ډیر مزیدار دے. سـه روزو تـه ئی او لیګئی شب جمعی ته چهلو ته ئی او لیګئی چـی د هـغـوی نه څومره خیر خوریږی ستا سو به پکښی با قا عدګئی سـره حـصـه وی او دی سـره بـه پـه کورونو کښی انقلاب راشی. اللہ دی مونږ او تاسوته په دی د عمل کولو تو فیق را کړی آمین.

اقول قولی هذا استغفراللہ لی و لکم ولسائر المسلمین .

★★★★★★★★★★★★



خطبه نمبر : ''٢٦''

سیدہ اُمّ سُلیم رضی اللہ عنہا

شپږویشتمَه خُطبه : ''**سیده اُمّ سلیم رضی اللّٰه عنها**''

الحمد للّٰه نحمده و نستعینه و نستغفره و نعوذ باللّٰه من شرور انفسنا و من سیاٰت اعمالنا من یهده اللّٰه فلا مضل له و من یضلل فلا هادی له و اشهد ان لا اله الا اللّٰه وحده، وحده، وحده لا شریك له و لا نذیر له و لا کفو له و لا سوآء له و لا مساوی له ولا منا وی له لا ندله ولا ندید له ولا جدله ولا ضد له ولا ممدله و اشهد ان سیدنا و سند نا و حبیبنا و محبوبنا و شفیقنا سید سا داتنا و اشفقنا و جمیلنا واجملنا محمد عبده و رسوله اما بعد . فا عوذ با للّٰه من الشیطن الرجیم. بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم ﴿یُوۡصِیۡکُمُ اللّٰهُ فِیۡۤ اَوۡلَادِکُمۡ لِلذَّکَرِ مِثۡلُ حَظِّ الۡاُنۡثَیَیۡنِ فَاِنۡ کُنَّ نِسَآءً فَوۡقَ اثۡنَتَیۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَکَ وَ اِنۡ کَانَتۡ وَ احِدَةً فَلَهَا النِّصۡفُ وَلِاَبَوَیۡهِ لِکُلِّ وَاحِدٍ مِّنۡهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَکَ اِنۡ کَانَ لَهٗ وَلَدٌ فَاِنۡ لَّمۡ یَکُنۡ لَّهٗ وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗۤ اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ فَاِنۡ کَانَ لَهٗۤ اِخۡوَةٌ فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ مِنۡۢ بَعۡدِ وَصِیَّةٍ یُّوۡصِیۡ بِهَاۤ اَوۡ دَیۡنٍ اٰبَآؤُکُمۡ وَ اَبۡنَآؤُکُمۡ لَا تَدۡرُوۡنَ اَیُّهُمۡ اَقۡرَبُ لَکُمۡ نَفۡعًا فَرِیۡضَةً مِّنَ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ کَانَ عَلِیۡمًا حَکِیۡمًا﴾ ﴿ان اللّٰه و ملئکه یصلون علی النبی یآ یها الذین امنو صلوا علیه و سلموا تسلیماً﴾

اللهم صل علیٰ سید نا محمد وعلیٰ اٰل سید نا محمد و بارك و سلم تسلیماً کثیراً کثیراً ابدًا.

معزز سا معین، عزتمندو مشرانو! ما یو آیت مبارکه لوستی دے دَ سورة نوم عجیبه دے او په دی سورة کښی اللّٰه تبارك و تعالیٰ دَ صنف نازك تذکره کړی ده، چی هغی ته مونږ او تاسو زنانه وایو هغه سورة چی په هغی کښی د زنانو تذکره شوی ده نسآء جمع دَ ''امرأة'' ده زنانه ته وائی هغه سورة چی په هغی کښی دَ زنانۂ متعلق مباحث

بیان شوی دی، او دا کـه مـونږ او تـا سـو پـه ژور نظر سره او ګورو نو دا صـرف یو دَ الله کتاب دے او دا دَ نبی علیہ السلام احادیث مبارکه دی چی په هـغـی کښی دَ زنـانۍ یو مقام ښودلے شوے دے، نن په دنیا کښی ډیر تـحـریـکـونـه چلیږی، آوازونه لګی چه اسلام زنانۍ سره ظلم کړیدے، نـعـوذ بـالله او مـلـکونه به هله ترقی کوی خلق به هله ترقی کوی چی دی زنانوته مکمل طور باندی آزادی ورکړی شی دا نن د بعضی تاریك خیالو خلقو نظریه ده چی مونږ ته د ملك په ترقی کښی رکاوټ د زنانۍ حیـا ده پـرده ده چـی دَ دی زنـانـۍ نه حیا ختمه شی. دَ دی زنانو نه تقویٰ خـتـمـه شـی چـی دَ دی زنـانـو نه دینداری ختمه شی، دوی کُهلاؤ مخ دَ نـارینـۍ سره اُوګه په اُوګه دفترونو کښی ملازمتونه او کارونه کوی نو مـلك بـه هـلـه تـرقـی کـوی، یاد سا تـے دا نظریه کفریه ده دے خیال او سـوچ کی ارتداد والا سوچ دے، کوم مسلمان چی دا سوچ کوی د هغه دا نظریه جوړه شوی وی، دے سره دَا اِنسان دَ اسلام نه اوځی دا دَ قرآن دَ ګـنـړو آیـاتـونو نه انکار کول دی، وائی اسلام زنانو ته څه مقام ورکړی؟ وے تـا اسـلام نه دی کتلی، تا قرآن او سنت نه دے کتلے، او بیا دَ قرآن او سـنت په خلاف کښی چی کوم ملکونه دی او کوم خلق دی دهغوی خیـال او دَ هـغـوی نـظریات اوګوره، دَ نبی محترم ﷺ مبعوث کیدونه مـخـکښـی دَ زنـانـۍ څـه مـقام وو؟ هغه زنانه چی په کور کښی به پلار نشـوه بـر داشـت کـولی څومره ظلم به وو چی یو انسان د هغی سوچ او تـصـور هـم نشـی کـولـی خپله لور به ئی په کور نشوه بر داشت کولے ژونـدے لـور بـه وه هـغـی تـه بـه ئی کنده او کنسته هغی کښی به ئی خـخـولـه ډیـر دا سـی مـلـکـونـه وو هـغـی دی ته نه وو تیار چی زنانه دَ

انسانیت په صف کښی اودرؤلی شی هغوی به وئیل دا چرته د ځناورو یو قسم دے، نن چی څومره یورپی ملکونه دی د هغی لږ تاسو سروے(مشاهده) اوکړئ، لږه مطالعه ئی اُوکړی، هغی آوازونه پورته کوی، په عالمی سطح باندی ومن رائټس (Women Rights) حقوق نسواں، آزادئ نسواں په نوم باندی تحفظ خواتین دهغی د پاره هغوی با قاعدگی سره کانفرسونه کوی ومن ډے (Women Day) مناوی، یوم خواتین مناوی، زنانه ستړیجونو ته راولی، زنانه چوکونوته راولی، وائی مونږ آزادی غواړو. مونږ آزادی غواړو. راځی زما عزتمندو چی مونږ قرآن اوګورو قرآن زنانوؤ ته کوم مقام ور کړے دے قسم می دی په رب ذوالجلال چی کوم مقام زنانوؤ ته قرآن و سنت ور کړے دے هیڅ یو دین والا دا سی مقام نه دی ور کړی نن چونکه مونږ ددین نه نا خبره یو د دین پته را ته نشته نو ځکه مونږ او تا سو د هغه غیرو د پروپیګینډ و او د غیر دخبرو نه متا ثره یو.

قرآن کریم د سورت نوم ذکرکوی، سورة النسآء دا هغه سورت دی چی هغی کښی د زنانو تذکره شوی ده نو بیا که دا مور ده د مور ځانته حیثیت او مقام قرآن ذکر کوی نن یورپ ملکونه او ګورے په هغی کښی مور نشته پکښی ځناورو والا زندګی ده که د زنانه بچی پیدا شی هغه د هغی تربیت نه کوی. او بیا د پلار خو پکښی د سره تصور روك شوی یورپی ملکونه کښی به یو تن د پلار په نوم نه پیژنی ځکه د هغی پلار معلوم نه وی ځکه هلته خو نکاحونه نۀ وی، میاں بیوی ښځه خاوند، دا ترتیب خو پکښی نشته. پلار د کومی غاړی راغے. دا زنانۀ ته حق ورکول دی، بعض دَ مغرب نه متأثره خلق وائی څنګ

چی نارینه ته دَ څلورو وَدُونو اجازت دے نو ښځی ته دِ هم د څلورو وَدونو اجازت ورکړی شی، وے دا خبره مه کوه دا به درته ډیره ګرانه پریوځی چی یو خاوند ور ته وائی شابه جامی را ته اوینځه او هغه بل ور ته وائی شابه جامی را ته استری که یو خاوند وائی دا کاربه کوی هغه بل ور ته وائی دا کار به نه کوی هغه دریم وائی دا سی به کوی هغه څلورم وائی دا سی به نه کوی دا به ډیره ګرانه شی بیا که او لاد پیدا شی د هغه او لاد به څه کوی. قرآن او سنت دَ عقل سلیم عین مطابق دے، بیا دا اولاد به د کوم پلارنه میراث اوړی که فرض که د زنانه څلور خاوندان وی نو بیا دَ دی اولاد پلار به کوم یو وی. بیا به ډیره ګرانه وی په شریعت باندی اعتراضونه نه دی پکار زمونږ د ملك پاکستان ډیرو خلقو په یوم خواتین کښی دبلونو منظورولو کو ششونه کول چه د زنانوپاره دی څلور مړونه جائز شی، راځئ چی دین اوګورو، قرآن اوسنت اُوګورو هغی کښی دَ زنانۂ کوم مقام دی که مور ده، دَ مور ځانته لوئی حیثیت او لوئی مقام دے. دَ مور کتو ته دینِ اسلام عبادت وئیلی دی که دا بی بی ده نو ددے ځانته حیثیت دی. د هغی باره کښی الله تبارك و تعالی فرمائی.

﴿و اٰتوا النسآء صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَة﴾ ﴿وَ عَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾

دی خپلو بیبیانو ته مهرونه ورکړئ دا مطالبه خو قرآن کوی دا حق خو قرآن دَ ښځو ذکر کوی دا یورپ والا نه وائی دا خو امریکی والا نه وائی دا خو رب ذوالجلال وائی نا رینۂ ته وائی ستا بی بی ده ستا زوجیت کښی ده دا ستا په عقد نکاح کښی شوه نو یاد ساته ﴿و اٰتوا النسآء صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَة﴾ خپلو بیبیانو ته مهرونه په خوشحالئ سره

ورکړئ، ګوره بی بی ده نو قرآن ئئ حق ذکر کوی، که کله دا لور ده نو بیا قرآن دَ هغی حق ذکر کوی الله تبارك وتعالیٰ فرمائی.

﴿یُوْصِیْکُمُ اللّٰهُ فِیْٓ اَوْلَادِکُمْ لِلذَّکَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَیَیْنِ﴾

د نارینه حصه ئی اول ذکر نه کړه چی ځوئی ته به څومره برخه ورکوے بلکه قرآن معیار ګرځوی دلورحصه الله فرمائی ﴿یُوْصِیْکُمُ اللّٰهُ فِیْٓ اَوْلَادِکُمْ﴾ الله تاسو ته حکم کوی ﴿فِیْٓ اَوْلَادِکُمْ﴾ په باره دَ اولاد ستا سوکښی الله فرمائی ﴿لِلذَّکَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَیَیْنِ﴾ نارینه ته به څومره حصه ورکوئ هغه مقرر نه ده د دؤو لونړو برابر حصه به ځوئی ته ورکوی بلکه د لور هغه حصه ئی تول و ګرځو دا په کوم ملك کښی شته دا په قرآن کښی ذکردی ﴿لِلذَّکَرِمِثْلُ حَظِّ الْاُ نْثَیَیْنِ﴾ دَ نارینه اولاد د پاره د دؤو لونړو برابر حصه ور کړے که چر ته ﴿فَاِنْ کُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَیْنِ﴾ که چرته لونړه دوه وی یا دَ دؤو نه زیاتی وی ﴿فلهن ثلثا ما ترك﴾ بیا به لُور ته 2/3 حصه ورکوئ. ثلثان که لور یواځی پا تی وه ﴿فَلَهَا النصف﴾ دی ته به نیمه حصه ور کوی د لور حصه ذکر کوی نو داولاد حصه ذکرکوی دمور حصه ذکر کوی او د سورت نوم هم سورة نساء دی. فان کن نسآء کله وائی و اتو النسآء کله وائی ﴿و بث منهما رجالاًکثیراً و نسآء﴾ د زنانو تذکره قرآن کوی د زنانه ډیر لوئی مقام دی. خو چی کله زنانه خپل ځان او پیژنی او ځان به هله پیژنی چه دوی د مشرانو زنانود هغه پاکدامنو زنانو پاکو زنا نو تذکری او ری زنانه به ژوند څنګ تیروی چی د هغه صحابو زنانو مشرا نو حیانا کو . پاکدامنو د هغه مجاهداتو زنانوکار نا می اور ی او که د هغی په ځائے باندی نور نور څه وینی نور نور څه او ری نو بیا به هغه ما حول رادننه

کیږی د هغی تفصیل کښی نه ځو . او چی کوم خلق د قرآن او سنت نه نا واقفه وی هغوی ډیر غټ مشکلا تو کښی پرا ته دی آیا دا سی زنانه هم وی. چرته په مخ د زمکه چرته دا سی زنانو و جود هم وو نن خو د اکثر خلقو دا خیال دے چه دا زنانه د به د بازار یو رونق وی د ا زنانه به دَ ایډورټائزمنټ دَ پاره استعمالیږی نن زنانه د بازار یو څیزا و ګرځیدو. تا سو ګو رے د وکان والا څیز خرڅوی. نو په څیزونو د زنانو د لور مور خور تصویراشتهار ورکوی په مو بائلو په کمپیوټر کښی تا ته اطلاع در کوی نو د زنانه په آواز سره نن زنانه د شهرت د پاره د بازار د پاره د اشتهار ا تو د پاره استعمالیږی. دا سی زنانه تیرے شویدے چه عقلونه حیران وی د هغوی زند ګے ته په هغه پاکدامنو کښی یو هغه لویه هستی چه نبی محترم ﷺ په زړه کښی هم د هغے انتهائی احترام وو. او نبی علیہ السلام به د هغی کور ته پخپله هم تشریف او ړو چه نوم ئی سیده ام سلیم رضی الله عنها دے دا یوه صحابیه تیره شوی ده دَ دے سیده ام سلیم رضی الله عنها یو رور سیدنا حرام بن ملحان رضی اللہ عنہ یو غزوه کښی شهید شوے وو. دَ سیده ام سلیم رضی الله عنها بنت ملحان دَ فقاهت حالات چه مونږ او ګورو د میدان جهاد کار نامی او ګورو ددی د صبر واقعات او ګورو ددی دا اکرام انقیاد (د خبره منل) د پیغمبر خبره منل د خپل خاوندتا بعداری کول اوګورو سړی حیران شی چی داسی زنانه هم شته دا رنګی دَ دی دعوت او تبلیغ اوګورو، دا دَ سیدنا انس بن مالك رضی اللہ عنہ مور وه چه کله دے اسلام قبول کړو نو هغه وخت د سیدنا انس رضی اللہ عنہ عمر اَته کاله وو چه کله د لسو کالو شو نو د نبی علیہ السلام په خدمت کښی ئی حاضر کړو چه جی ځما دا ځوے دَ خپل

خدمت د پاره قبول کړئ نو نبی علیہ السلام قبول کړو او بیا ئی لس کاله ډیر په نره دَ نبی علیہ السلام خدمت کړیدے په خادم رسول سره بیا مشهور شویدے، نـن مونږ مسلمانانو ته دا پته نه وی دا د چا مور وه داد چا لور وه مونږ ته دا پتـه نـه وی زمونږ نن ددین سره لګاؤ نشته چی سیده ام سلیم رضی الله عـنهـا څـوك وه؟ سیـده ام شـریك رضـی الله عنها څوك وه؟ ملحان څوك وو؟ سیدنا انس رضی اللہ عنہ څـوك وو؟ د خپلو مشرانو دَ حالاتو نه خبر نه یـو. دا سیـده ام سلیم رضی الله عنها دَ سیدنا انس رضی اللہ عنہ بن مالك مور وه، سیـدنـا انس رضی اللہ عنہ هـغـه صـحـابـی دے چی دَ نبی پاك صلی اللہ علیہ وسلم ئی لس کاله خدمت کړے دے. خادم خاص باندی محمدثینونو کښی مشهور دی. د خـادم خاص د نبی پاك صلی اللہ علیہ وسلم څو مره موده خدمت کړی وو. کله سړی چا سره پا تـی کیـږی کـلـه هـغـه مشـر سخته خبره کړی کله ئی څه خبره بـانـدی رټلـی وی زنـد ګی وی دی قسم کوی ما د نبیؐ لس کاله خدمت کـړی دی .خـولیـکن ما ته نه هغه سخته خبری کړی نه ئی زه ر ټلی یم نـه ئـی کـنـځـلی یم چی کله سیده ام سلیم رضی الله عنها اسلام قبول کـړی ددی خـاونـد راغی ابو انس هغه غائب وو مالك نوم ئی وو او چی کله ور ته پته اولګیدله دا مسلمانه شوی ده مالك ډیر سخت غصه شو او ورتـه وائی "صبوت" ته صابی شوی وی. هغه وخت چی په حق دین چـا اختیارکړو د هغه لقب به صابی ګرځیدو دا نومونه دَ هغی وخت نه مشهـور دی. دا ورته وائی. "ماصبوت" زه نه یم صابی شوی. "اٰمَنْتُ" لیکن ما ایمان را وړلی. دَ دی ځوئی سیدنا انس رضی اللہ عنہ ماشوم وو دی ورته دَ تـوحیـد دعـوت ورکـولو ماشومو الی کښی ورته وائی وایه بچی "لا اله الا الله" . وایه بچی "اشهد الا اله الا الله."

ګوره مورده، تربیت د بچو کوی، نن ورته وائی فلانکئ ګانه اُووایه فلانکی فلمی ستارځوك وو؟ نن ورته مونږ کنځل ښایو چی کوم ماشوم پلار ته کنځل اوکړی هغه پلار ئی خله چینګه کړی اُوخاندی ماشوم پلار ته وائی ډنکی (Donkey) هغه ورته اوخاندی مور ته وائی بفلو (Buffalo) یعنی میښی نو مونږ خوشحاله شو هغه سیده ام سلیم رضی الله عنها ما شوم بچی ته وائی "قل لا اله الا الله . قل اشهد الا اله الا الله" دا خاوند به ور ته غصه کیدوځه کوی بچی را ته خرابوی بیا مالك دَ دے نه ناراضه شو او شام ته لاړو او هلته وفات شو. دے سره ځوئی سیدنا انس ﷺ پا تی شو بیا څه وخت تیر شو سیدنا ابو طلحه ﷺ سیده ام سلیم رضی الله عنها ته د نکاح پیغام اُولیګلو، کله چه هغه د نکاح پیغام اولیږلو دغه وخت هغه کا فر وو، ښه مالدار سړے وو، سیده ام سلیم رضی الله عنها دَ نکاح نه انکار اوکړو تا سره نکاح ځکه نه کوم چی زما لار جدا ده او ستا لار جدا ده ته د هغه چا عبادت کوی چی هغه خلقو پخپله په خپلو لا سونوتو ګلی وی. بتان جوړ شوی وی. ته دَ وُنو عبادت کوی. او زهٔ ایمان والایم د یو الله عبادت کوم، دَ الله تعالیٰ سره شریك نه ګرځوم هغی ور له د عوت ورکړو، حافظ ابن حجر لیکی چه سیدنا ابو طلحه ﷺ ته ئی ډیر په عجیبه انداز سره دعوت و تبلیغ اوکړلو "قالت یا ابا طلحة الست تعلم ان الهك الذی تعبد د نبت من الارض قال بلیٰ قالت افلا نستحی تعبد شجرةً (الاصابة ۲۴۳، ۸)

نورو ته دَ دعوت ورکولو، نورو ته د تبلیغ کولو، نورو ته دَ مسئلی بیانولو ډیر غټ فوائد دی. دَ هغه زړه فوراً اثر واغستو اثر ئئ قبول کړو. دَ دعوت ډیرغټ اثر وی خو چی په اخلاص سره وی یو عالم

فرمائیل جس کی اندر کی دنیا بدلی ہوئی ہو اسکی وجہ سے دوسروں کا دینا بدلے گا

نو هغه ابو طلحه ووئیل صحیح ده زه اسلام قبلوم نو هغه ابو طلحه وئیل ستا مهر به څه وی؟ هغه ورته وائی د غه زما مهر دی چه ته اسلام قبول کړی کالی پتری درنه نه غواړم اشاره شوه پکښی د مسلمان نظر به دیندارے طرف ته وی څنګه چه یو روایت کښی راځی "فَاظفر بِذات الدّینِ تربت یداك" دَ مسلمانی زنانه نظر به هم دیندارے طرف وی، نن په ایمان ووایه مونږ مسلمانان یو الله اکبر کبیراً. زمونږ دا پوزیشن دے که یو ځائے کښی یو دینداره زمونږ لور خور رشتی ته راځی. په ایمان ووایه مونږ دی ته ګوروچی بر طانیه امریکه کښی دی کنه پیسه ور سره څومره ده خپلی لور یانی قادیانانو پرویزیانو ته په نکاح ورکؤو د پیسی د وجی نه. زمونږ دی علاقو کښی مخکښی څه منکرین حدیث پیدا شوی وو. ما بیا دارالعلوم کراچی مفتی تقی عثمانی صاحب ته استفتاء اُولیږله چی د چا ځوئے وی، د پلار د غفلت د وجی نه بے دَ پروائے دَ وجی نه چی د هغه د عقیدو هیڅ خیال نه سا تی په دی سوچ کښی دی چی دا ځوئی می پیسی ګټی که په هری طریقی سره وی که د ده نکاح شوی وی ددی به څه کیږی او آیا که پلار ئی و فات شو او ځوئی پرویزی وو نو دده میراث کښی بر خه رسیږی او کنه دا یو اهمه خبره ده د هغی بیا ما ته ډیر مفصل جواب راوالیږلو. کوم سړی چی عقیده د پرویزیت اختیارکړی. عقیده د قادیانیت اختیارکړی. هغه سړی د خپل پلار په جائیداد کښی وارث نشی جوړیدی هغه ته میراث کښی حصه نشی ملاویدی دویم دا خبره ئی هم اولیکه ددغه سړی دخپلی بی بی سره نکاح ما ته شوه. ځکه د

کا فر او مسلمان نکاح نه کیږی سیده ام سلیم رضی الله عنها وائی زهٔ تانه مهرونو مطالبه نه کوم بس ته اسلام قبلوی دا زما مهر دی هغه وائی سره زر، سپین زر؟ سیده ام سلیم رضی الله عنها وائی نه بالکل نه نبی ﷺ تشریف فرما وو . سیدنا ابو طلحه رضی الله عنه څنګ راروان دے دَ نبی ﷺ مجلس ته نبی ﷺ و فرمائیل "جاء کم ابو طلحه و غرة الاسلام بین عینیه." دَ سیدنا ابو طلحه رضی الله عنه دَ سترګو په مینځ کښی دَ اسلام یو چمك غونده ښکاری ملګرو ځکه دَ اسلام خپله یو رنړا ده هغه راغے اسلام ئې قبول کړو. نکاح ئی اُوشوه د سیده ام سلیم رضی الله عنها سره نبی ﷺ کله کله د سیده ام سلیم رضی الله عنها ملاقات ته را تلو کان النبی لا ید خل علی احد من النساء الا علیٰ ازواجه الا ام سلیم فانه ید خل علیها فقیل فی ذالك فقال انی ارحمها قتل اخو ها معی"

دو مره لوئی مقام والا صحابیه وه دَ سیدنا انس رضی الله عنه بل کشر ورور وؤ، ابو عمیر، دهٔ سره وړه غونده مر غے وه هغی سره به ئی لوبی کولی، یو پیره هغه چر ته مړه شوی وه نبی ﷺ را غی په سر ئی ور ته لاس کیخودو اووئیل ئی "یا ابا عمیر ما فعل النعیر" یار عمیر ولی خفه ئی مر غے دی څه شوه نبی ﷺ به هلته تشریف راوړو . یو پیره نبی محترم ﷺ دے کره دَ مشك نه اوبه او څکلی په مشك ئی خله اولګوله نو سیده ام سلیم رضی الله عنها پا سیده او دَ مشك هغه ځائی ئې کټ کړو او ځان سره ئی سنبهال کیخود چه په دے ځائی پورے دَ نبی علیه السلام خله مبارکه لګیدلے ده.یو پیره نبی ﷺ په منیٰ کښی خپل وینبته خرئیلی وو سیدنا ابو طلحه رضی الله عنه هغه وینبته ځان سره راوړل، سیده ام سلیم رضی الله عنها هغه ډیر محفوظ کیخودل دَ

تبرك دَ پاره سیده ام سلیم رضی الله عنها د نبیﷺد بدن مبارك نه چه کوم خوله و تلی وه. سیده ام سلیم رضی الله عنها هغه خوله دنبیﷺ دځان سره یوه شیشه کښی سنبهال کیخوده نبیﷺور ته وئیل څه کوی؟ سیده ام سلیم رضی الله عنها وائی دا خو څه خپل کورکښی بطورعطر استعمالوم دومره د نبیﷺسره محبت زنانه ته پکار دا دی چی عطر خوشبو استعمالوی په کور کښی چی کور نه بهر و ځی بیا دی نه استعمالوی دا مسئله ده نن په کور کښی زنانه چی وی الله دی معا فی اوکړی خپل خاوندور ته کتی نشی. بد بو تری ځی. صفائی نه وی په کور کښی او چرته غمونوښادوته ځی بیا ئی د ځان نه د چین ښاپیرے جوړه کړی وی چی بل چرته ځی نو پردو نارینۂ ته ځان مزین کوی کومه زنانه چرته د کور نه بهر اوځی په داسی حال کښی چی دی خوشبو لګولی وی نو نبیﷺفرمائی صفا حدیث دی ''فهی کذا و کذا، ای الزانیة'' نبیﷺدومره سخت الفاظ استعمال کړی دی سیده ام سلیم رضی الله عنها ځان سره هغه خو شبوسنبهال کیخوده . او نبیﷺبه وئیل چی دی سره زما همدردی ځکه ده د دی یورور وو، سیدنا حرام بن ملحانؓ نو هغه شهید شوی وو، دا حرام بن ملحانؓ هغه تن وو دَ بیر معونه په روځ باندی په غشی لګیدلی وو او وینه به ئی را غسته او په مخ به ئی لګوله او وئیل ئی'' فزت و رب الکعبة'' قسم دی وی په رب د کعبی زۀ اوس کامیاب شوم دا سیده ام سلیم رضی الله عنها د سیدنا حرام بن ملحانؓ خور وه د سیده ام سلیم رضی الله عنها یو ما شوم ځوی وو. دا واقعه امام بخاریؒ په خپل صحیح بخاری کښی ذکر کړی ده، دَ سیدنا ابو طلحهؓ روژه وه دَ کور

نـه بهـر تـلـی وؤ مـاشـوم ئـی بیـمار وو دَ مابنام نه پس دی کور ته راغـے سیـده ام سـلیم رضی الله عنها ته ماشوم په کور کښی ساه ورکړه. اوس ګـوره نیـکـه صـالـحه بی بی خاوند ته پریشانی نه سیوا کوی خاوند ته جـګړی نـه ګـوری او د هـوښیاری زنانه صفت دی امام بخاری په ابتداء کښـی اوږد حـدیـث ذکـر کـړی چـی کـلـه نبی ﷺ باندی ړومبـے و حی راغـله نبی ﷺ باندی سختی خولی وی حالت ډیر زیات پریشان کن وو. سیـده خـدیـجـه رضی الله عنها ور ته تسلی ور کوی او نبی ﷺ ته وائی چـه "والله مـا یـخـزیك الله ابـداً انك لتـصـل الـر حـم و تـحمل الكل و تـكسـب الـمـعـدوم و تـقـری الـضیف و تـعیـن عـلی نوائب الحق" دا دَ صحیح بخاری روایت دے.

تـه خـو صِله رحمی کوی ته خو خلقوسره همدردی کوی د یتیمانانو تر بیـت کـوی تسـلی ور ته کوی د سیدنا اسماعیـل علیہ السلام پـه واقعاتو کښی مـونـږ او تـاسـو بـار بار آوریدلی دی، سیدنا ابراهیم علیہ السلام ډیـره موده پس راغـی، اسمٰعیـل علیہ السلام د کـور نـه بهـر تـلـی وو بی بی ته ورته وائی څنګه زند ګی مو تیریږی؟

هـغه وائی سختئ دی لوږه تنده ده پریشانئ دی ابراهیم علیہ السلام ور ته ووی چی اسمٰعیـل علیہ السلام راشـی ورتـه وایه یو بوډا راغلی وو. هغه وئیـل چی دَ کـور درشـل دے بـدله کړه. اسمٰعیـل علیہ السلام راغـی څنګ حال دی؟ څوك تلی راغلی وو؟ بی بی ورته وی چه یو مشر راغلی وو او دی تر تیب سره وو مـا تـه ئی دا خبره اوکړه اسماعیـل علیہ السلام ورتـه اُووی چـه ما تا ته طلاق درکړو ته دومره دَ خاوند سره قناعت نه شی کولی. د جنتی زنانه صفت دا دی" قـانـعة بـالیسیـر" دا بـه د خـاونـد سـره پـه لږ څه صبر کوی دا به

شکایتونه شکوی نه کوی نبی ﷺ فرمائی ما جهنم کښی ډیری زنانه اُولیدلی دځه په وجه د هغی دوه صفتونه ئی ذکر کړه. یو دا "یکثرن اللعن" دا به لعن طعن ډیرکوی پیغورونه کوی سپکه (خرابه) خوله خوزوی او دویم "ویکفرن العشیر" دخپل خاوندنا شکری کوی او نبی ﷺ دهغی الفاظ ذکر کوی خاوند ئی ټول عمر ګټه وټه کوی ټول عمر مسافرے کوی د چا ټکی مزدوری کوی د غریب سر ګنجی شوی وی. کله ځان سره څه راؤنه ړی دا به وائی "ما رأیت منك خیراً قط" خدائی دی داسی داسی کړه چرته می درنه خیر اونه لیدلو نبی ﷺ فرمائی دا جهنمی زنانه ده اسماعیل علیہ السلام بیا بل وادۍ کړی وو ابراهیم علیہ السلام بیا ډیر و خت بعد را غی تپوس ئی او کړو چه اسماعیل علیہ السلام څه شو؟ ورته ئی ووی چه هغه بهر و تلی دی. ابرٰهیم علیہ السلام وائی ګذاره څنګه ده؟ ورته ئی ووی چی الحمد لله خه ده. اسماعیل راشی ورته وایه یو بابا را غلی او هغه وئیل دا در شل دی سمه ده. د سیده ام سلیم رضی الله عنها ماشوم بچی و فات شو د کور خلقو ته وائی چه سیدنا ابو طلحه رضی الله عنه ته به تا سو څۀ نه وائے چه را شی څه به ئی په طریقے سره خبر کړم.

دا خبره په صحیح بخاری کښی ده اوس دا سوچ کوئ که خاوند می را غے غریب ستړی ستومانه به وی روژه ئی هم ده که فوراً ورته وایم چی بچے دِ مړ دے، پریشانه به شی، داسی کار ئی وکړو ماشوم ئی سنبهال کړو څادر ئی تری تاؤ کړو، دی کښی هغه راغی تپوس ئی اوکړو چه د ماشوم طبعیت څنګه دے؟ سیده ام سلیم رضی الله عنها ورته اُووی چه لږ آرام کښی دے، نن داسی زنانه شته

صبرناکی؟ نن خو په پر دی غم کښی دځان نه سر راکاړی حالانکه حدیث مبارك دی نبی ﷺ فرمائی "لیس منّا من ضرب الخدود و شق الجیوب و دعا بدعوی الجاهلیة" (متفق علیه) دا حدیث په صحیح بخاری کښی مکمل اووه مقاماتو کښی ذکر دے، صحیح مسلم هم په دری مقاماتو کښی ذکر کړی دے.

هغه کس زمونږ نه نه دی، چی مخونه و خی او ګریوانونه سیری کوی د ځان نه سرونه را کاړی. په غمونو کښی ساندی و خی دا ساندی و هل دا نو حه کول په دین او شریعت کښی نشته سیده ام سلیم رضی الله عنها خاوندته وائی چی اوس ئی لږ آرام را غلی دی. بیا ئی هغه ته ډوډے برابرکړه بیا حدیث پاك کښی راځی. چی دخپل خاوند سره ئی تعلق ازدواج هم قائم کړو چی کله دوی فارغ شو بیا دی خاوند سره لګیا ده دعوت ور ته ورکوی خاوند ته وائی که چرته یو کور والا سره چا امانت کیخودو. بیائی تری امانت غوښتو او نه ئی ورکوی نو دا ښه کوی؟ هغه وائی دا خو به ډیر غټ ظلم کوی دا سی ئ دَ هغه ذهن جوړولو بیا وائی دا مونږ سره زمونږ بچی وو دا دَ الله امانت وو الله خپل امانت اغستی دے. خاوند سخت حیران شوی دی سحر نبی محترم ﷺ ته را غی او نبی علیه السلام ته ئی ټوله وا قعه بیان کړه. چی بیګاه دا سی چل شوی دی ځوئی می و فات شوی او بی بی می د غه شان چل اوکړو. نبی علیه السلام ورته دعا او غوښتله: "بارك ا لله لکما فی لیلتکما" الله تعالیٰ دی تا سو ته په دی شپه کښی بر کت وا چوی نبی پاك هغی ته دعااو فرمائیله بیا د هغی په ګیډه باندی ما شوم شو. سیدنا عبد الله بن ابی طلحه رضی الله عنه عبد الله پیدا شو بیا نبی کریم ﷺ ور ته تخنیك او کړو. د هغه

ګنړ ځامن پیدا شو ټول دیندارہ او حافظان وو .زما عزتمندو په تاریخ کښی دا سی خلق قابل د تابعدارے او قابل د تقلید دی چی مونږ او تا سو په خپل کورونو کښی د صحابه کرامو تذکری د صحابیاتو تذکری د صحابه کرامو ﷺ د وړو وړو ماشومانو تذکری کوؤ نو څه نه څه ماحول به جوړیږی حضرت چی مولانا محمد یوسف کاندهلویؒ درے جلده کتاب حیات الصحابه په دے باب کښی ډیر مفید او دحضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا حکایات صحابه کورونو کښی د هغے درس ورکول او تعلیم ترے کول ډیر ضروری دی.

که دا نه وی نو زما عزتمندو بیا به خلق خپله مور خور نه پیژنی او کشر مشر به نه پیژنی په دی وجه مونږ او تا سو ته پکار دی چی د خپل اولاد تربیت اوکړو د خپلوزنانوتربیت اوکړود حیادرس ور ته ورکړو. چی مونږ په دنیا کښی داکړاؤنه کوو د حیا ژوند تیرؤ دا ځکه چی د اآخرت زندګی مو صحیح وی ځکه داآخرت زندګی هغه نه ختمیدونکی زندګی ده الله تبارك و تعالیٰ مونږ او تا سو ته په دی خبرو دعمل توفیق راکړی:" اقول قولی هذا استغفر الله لی و لکم و لسائر المسلمین ."

★★★★★★★★★★★★



خطبه نمبر : ''٢٧''

اووه خوش نصیبه

اووه ویشتمَه خُطبه : ''**اووهٔ خوش نصیبه**''

الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيأت اعمالنا من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا ها دی له و اشهد ان لا اله الا الله و حده و حده لا شريك له ولا نذير له ولا و زير له ولا مشيرله ، لاندله ولا نديد له ولا جدّ له ولا ضد له ولا ممدَّ له لا مثل له ولا مثال له ولا مثيل له ولا مماثل له لاكفوله ولا سوآء له ولا مساوی له و لا مناوی له لا ولد له و لا والد له و لا اخت له و لا اخ له.

و اشهد ان سيّدنا و سندنا و حبيبنا و محبوبنا و محبوب ربنا و شفيقنا و مخدومنا و اعلانا و اجلانا و اطيبنا و اطهرنا و اكملنا، مكياً مدنيا قريشياً هاشمياً و اولانا و اعلانا و مولانا محمداً عبده و رسوله، اما بعد فقد قال النبیﷺ:''سبعةٌ يظلهم ا لله فی ظلله يوم لا ظل الا ظله ..... ''

﴿ان الله و ملٰئكته يصلون على النبی يٰاَيُّها الذين اٰمنوا صلوا عليه و سلموا تسليما﴾

اللهم صل على محمد و علیٰ ال محمد كما صليت، علیٰ ابراهيم و على ال ابراهيم انك حميد مجيد، اللهم بارك على محمد و علیٰ محمد كما باركت علیٰ ابراٰهيم و علیٰ ال ابراهيم انك حميد مجيد.

عزتمندو مسلمانانو مشرانو كشرانو ما د نبیﷺ د احاديثو مطهرو نه يو حديث طيب اولوستو او نبی محترمﷺ چی څه فرمائيلی دی نو زمونږ او ستاسو د خير خواهئ د پاره او نبی محترمﷺ چی څه فرمائيلی نو د ځانه ئی خبره نه كوله بلكه نبیﷺ ته به جبرئيل امين علیہ السلام راتلو او جبرئيل امين علیہ السلام به هم پخپله خوښه نه راتلو بلكه الله تعالیٰ به ورته حكم كولو د هغی حكم مطابق څه

ارشادات، څه هدایات، څه خبری به وی جبریل امین علیه السلام به نبی محترم ﷺ ته راوړلی. په دی وجه احادیث مبارکه د نبی اکرم ﷺ دَ قرآن کریم تشریح ده په احادیثو کښی د الله دکتاب و ضاحت شوی دی ځکه د قرآن کریم ګنړا حکامات دا سی شته که چرته د هغی مونږ و ضاحت او تشریح د احادیثو نه او نه ګورو نو په قرآن کریم باندی عمل کول ممکن نه وی لکه الله تبارك و تعالیٰ فرمائی "اقیموا الصلوة" تاسو مونځونه ادا کړئ. اوس مونځونه څنګه ادا کړو؟ په کوم ټیم ئی اداکړو؟ سحر څو رکعتونه ادا کړو؟ د ما سپخین څو رکعاته اوکړو؟ دَ مازیګر څو رکعاته اوکړو؟ په دی وجه دَ دی وضاحت مونږ او تاسو ته د جناب نبی کریم ﷺ دَ احادیثو نه ملاویږی. په قرآن کریم کښی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی "و اتوالزکوٰة" زکوٰة ادا کړئ. زکوة به څوك ادا کوی؟ زکوٰة به چاته ورکول غواړی؟ نو په څومره مال کښی به زکوٰة ورکوی؟ نو په څومره پیسو کښی به وربانډی زکوة وی؟ دا زکوٰة به وربانډی کله وی؟ دَ عُشر به څه مسئله وی؟ دَ خیرات به څه مسئله وی؟ نو په څاروؤ کښی به څومره زکوة وی؟ په سرو زرو کښی او په سپینو زرو کښی به څومره زکوٰة وی؟ دَ دے وضاحت به مونږ ته په احادیثو کښی ملاویږی. په قرآن کریم کښی الله تعالیٰ فرمائی.

﴿وِللّٰہ عَلَی النَّاسِ حج البیت من استطاع الیه سبیلا﴾

په مالدارو خلقو باندی حج لازم دی نو حج د پاره به څنګ چل کوی په حج کښی فرائض څومره دی نو په حج کښی وا جبات څومره دی دمنیٰ د مزدلفی او د عرفات او سعی دا ټول تفصیلات ټوله تشریح دا په احادیثو کښی به ملاویږی په قرآن کریم کښی الله تعالیٰ فرمائی.

﴿اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِیُ فَاجْلِدُوْا کُلَّ وا حد منهما مائه جلدة﴾

زنا کاره ښځه او زنا کار سړی لره هر یو لره سل دری سزا ور کړے. دا حکم د چا د پاره دی که شا دی شده وی او که غیر شادی شده وی دی آیات کښی د هغی تذکره نه ده شوی اوس د هغی و ضاحت په احادیثو کښی شوی دے چی شا دی شده د پاره کومه سزاده او د غیر شادی شده د پاره کومه سزاده په قرآن کریم کښی الله تعالیٰ فرمائی.

﴿واذاسر النبی الیٰ بعض از وا جه حدیثا﴾

چی کله نبی کریم ﷺ بعضی بیبیانو ته هغه پټه خبره او کړه هغه بی بی څوك وه؟ په قرآن کریم کښی خو دَ هغی نوم نشته. هغه پټه خبره څه وه؟ په قرآن کښی دَ هغی ذکر نشته، په قرآن کریم کښی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی : ﴿عبس و تولیٰ ان جاء ه الاعمٰی﴾

چی کله د نبی کریم ﷺ مجلس ته هغه نا بینا راغے، نا بینا څوك وو؟ دَ هغه څه نوم وو؟ دا په قرآن کریم کښی نشته . دا رنګی الله تبارك فرمائی ﴿قتل اصحب الاحذود﴾ اوس دا خلق څوك وو دا واقعه څه وه؟ دا واقعه کله راپیښه شوے ده؟ دا واقعه او دَ دے تفصیلات په احادیثو مبارکو کښی بیان شوی دی چه دا خو د حمیری بادشاهانو نه یو ظالم بادشاه وو او دا واقعه د نبی ﷺ دَ ولادت نه اویا کاله مخکښی شوی ده او په کندو کښی د تفسیر مظهری د قول مطابق دو لس هزار کسان سوز ولے شوی وو نو احادیث مبارکه و ضاحت او تفسیرد قرآن دے او د قرآن بغیر د حدیث نه زده کول ممکن نه دی.په دی و جه باندی احادیث د نبی کریم ﷺ شرح د قرآن کریم ده الله تعالیٰ بار بار فرمائی.

﴿اطیعوا الله و اطیعوا الر سول﴾

الله تبارك و تعالیٰ د خپل طا عت ذکر او کړو چی زما خبره به منئ او ورسره فرمائی ﴿و اطیعوا الرسول﴾ زما د نبی خبره به هم منے. کله الله تبارك و تعال فرمائی ﴿مَآ اٰتٰکُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَ مَا نَهٰکُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾

تاسو ته چی سدَ کومی خبری نبی پاك ﷺ حکم فرمائی په هغی عمل کوے او د کومی خبری نه مو نبی پاك ﷺ منع فرمائی د هغی نه منع شی ما چی کوم حدیث مبارك لو ستی وو د هغی دو ضاحت نه مخکښی چه زمونږ ذهن کښی دا خبره وی چی حدیث معمولی خبری نه دی دا د عام انسان خبره نه ده دا دعلا قی دمشر خبره نه ده دا د هغه شخصیت خبره ده کۀ مؤذن صاحب اذان کوی چه کله اقرار و اعتراف د الله د تو حید اوکړی چی اشهد ان لا اله الا الله. که دَ پیغمبر دَ رسالت اقرار ئې نه وی کړی دا بانګ ئی بانګ نه دے. دا دَ هغه شخصیت خبره ده . چی کله مؤذن صاحب "اشهد ان الا اله الا الله" چغه اووهله او "اشهد ان محمدا رّسول الله" ئی پریخودو دا بانګ ئی بانګ نه دے، دا دَ هغه شخصیت خبره ده چی کوم ځائے د الله د یو والی اعتراف هلته د نبی کریم د رسالت اقرار و اعتراف اقامت کیږی نو اقامت والا چی کله "اشهد اَلّا اله الا الله" وائی هلته هم ورسره "اشهدان محمداًرسول الله" وائی مونځ ګذار صاحب مونځ کوی نو کله د الله دعبادت او د الله دَ الو هیت اقرار و اعتراف اوکړی چی وائی "التّحیات لله والصلوٰت والطبیات السلام علیك ایها النبی ورحمه الله و برکاته" چی کله دا جملی پوره کړی نو بیا ور سره درود شریف لولی په نبی پاك ﷺ باندی په اذان کښی د الله د نوم سره د پیغمبرنوم اقامت کښی د الله د نوم سره د پیغمبرنوم دا دومره لوئی شان والا

پیغمبرﷺ دی دا خود لوئی شخصیت خبره ده چی زمونږ ذهن کښی دا وی دا خو دهغه خبره ده بیا به د نبی پاکﷺ خبره په مینه او محبت سره او رو په تو جه سره به ئی اورو الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿النبی اولیٰ بالمؤمنین من انفسهم﴾

دا پیغمبرﷺ ډیر شفیق پیغمبر دے په زړه د هغه کښی انتهائی د خیر خواهئ جذبه وه دا خو د هغه شخصیت خبره ده چی د امت د پاره ئی د عا گانی جړا گانی کولی دا خو د هغه شخصیت خبره ده په احادیثو کښی راځی "لَه اَزِیرٌ کَاَزِیرالمِرُجل" د نبیﷺ سینی مبارکی به خوټکار کولو. دا خود هغه شخصیت خبره ده چی په احادیثو کښی راځی. "کان رسول الله ﷺ حریصاً علی هدایة الناس اجمعین" دا خو دَ هغه شخصیت خبره ده چی دحدیثو مبارکو اوریدونه مخکښی مونږ دا سوچ لرو. چی دا خود پیغمبرحدیث مونږ ته بیانیږی .دا خو مونږ ته د هغی درس را کولی کیږی. دا مونږ ته د نبیﷺ دَ خبر و تعلیم را کیږی . او ذهن کښی مو دا وی چی دا وړی خبری نه دی چی زمونږ سوچ کښی را شی چی په دی عمل کول د دنیا او آخرت کامیابی ده بیا به ئی مونږ په مینه او محبت سره اورو که کله زمونږ په زړه کښی د پیغمبرﷺ سره مینه او معرفت نه وی نو که اعلان را ته او شی چه راځے د نبیﷺ دا احادیثو درس کیږی په پیغمبر پاکﷺ چی کوم کتاب نا زل شوی دی د هغی درس کیږی مونږ او تا سو سره به د پټی او دکور غم وی دلته مونږ هغی ته نه کینو مونږ بیا د هغے اوریدو ته هم تیار نه یو په دی وجه ما چی کوم حدیث لو ستی دی خو ماوی تر جمه به ئی رو ستو کوم چی زمونږ ذهن دی

طرف تـه را شی چی داوړه خبره نه ده دا معمولی خبره نه ده چی زمونږ سـوچ کښـی دا وی چه نبیﷺ دا څه فرمائیلی دی قسم می دی په رب دی کښـی زمـونږ خیر خواهئ ده هو ښیار سړی د خپل خیر خواه خبره منی او کم عقل سړی خپل خیرخواه په کانړو ولی لکه نبیﷺ د طائف والا خیـر خـواه وو هـغـه خـلـق کـم عـقـل وو ځکـه ئی نبیﷺ پـه کانړو ویشتو مکی والا د عقل نه کار نه اغستو د نبیﷺ بـے عز تی ئی کوله مـدیـنی والو احترام اکرام عزت ئی او اکړو هغوی الله تبارك و تعالیٰ کا میـاب کـړه. ما یو حدیث لو ستی وو امام بخاری هم دا حدیث ذکر کړی دی. پـه دی کښـی نبیﷺ د یـو څـو خوش قسمتـه خلقو ذکر کړی دی چـی کـوم خلق به خوش قسمتـه وی دا څومره دخیر خواهئ خبره ده په دنیـا کښـی هـر یـوکـس دا وائی چی زه د بد قسمتئ او بد بختئ نه بچ شـم نـو بیـا څـوك خپـل قسمتونه معلوموی نه ستا د قسمت دحال نه خبـر دار صـرف یو د الله ذات دی کامل علم والا ذات د یو الله دے کا مل عـلـم د االله سـره دے او دا عـقـائـد خـو مونږ ته قرآن او سنت ښائی چی کـامـل عـلـم والا د یو الله ذات دے کا مل قدرت والا د الله ذات دے نبی کـریـمﷺ د یـو څـو خـوش قسـمتـــه خـلـقو تذکره کړی ده ددنیـا خوش قسـمتـی او بـد بختی به څه وی دادا سی خوش قسمتـه خلق دے چی دوی بـه پـه سـخـتـه روځ کښـی هم د الله د عرش دسوری لاندی به وی په هـغـه روځ بـه هیـڅ قسـمـه سوری نه وی دنفسی نفسی عالم به وی هر سړی بـه خپـلـو خـولـو کښـی ډوب وی خودا څو کسان نبیﷺ په دی حـدیـث کښـی ذکر کړی دی دا به په مزو کښی وی نبیﷺ فرمائی او دا روایـت په صحیح بخاری کښی هم په ګنړو مقامات کښی ذکر کړیدے

۲۴۷۲، ۱۳۵۷،۶۱۱۴، ۶۴۲۱، ۶۶۰، ۴۱۳۲، ۶۴۷۹، ۶۸۰۶،
صحیح مسلم ۹۱

سبعـهٔ اؤوه کسـان دی، پـه دے حدیث کښی اؤوه ذکر دی. نـورو احادیثـو کښی یو دوه دوه څه کښی ګنړ بیا بعضی علماؤ دا ټول راجمع کړی دی د ټولو روایتونو نه چی دا خوش قسمته خلق را جمع کړیشی نو څه دوه اتیا کسان جوړیږی لکه چی اتحاف نومی کتاب دا ذکر کړی دی. ''سبعة یـظـلهم الله'' دَ الله تعالیٰ دَ رحمت دَ سوری دَ لاندی به وی، پـه هغـه روغ بـه بل سوری درك نه لګی اول به څوك وی ''اِمَامٌ عَادِلٌ'' چی کوم منصف عدل والا انصاف والا مشر وی امام عا دل نه مراد هغه مشـر چـی انـصـاف والا وی ظالم نه وی امام ئی ذکر کړو دامام معنی ده مشـر د امام معنی ده پیشواکه دُنیوی اعتبار سره وی او که دینی اعتبار سره وی. امـام نـووی ؒ دَ صـحیـح مسـلم په شرح کښی په کتاب الامارة بـاب فـضیـلة الامیـر الـعادل کښی ذکر کوی چه امام عا دل نه مراد ذمه داران دَ حـکـومـت دی. دا رنـګـے ابن حجرؒ په فتح الباری کښی هم ذکر کـوی چه مراد سربراه دَ ریاست دے او هغه تن هم مراد کیدی شی چه د مسلمانانو د څه کار ذمه داری ورته حواله وی.

بـل یـو روایـت امـام تـر مـذیؒ اول جـلد صفحه ۱۹۳ کښی ذکر کـړیـدے د سیـدنـا ابـو سعید خدری ؓ نـه روایـت دے چـه نبی ﷺ فـرمـائیلی دی: ''ان احب الناس الی الله یوم القیٰمه و ادنا هم منه مجلساً امـام عـادل، وابـغـض الـنـاس الی الله و ابعد هم منه مجلساً امام جائرٌ'' د قیـامـت پـه ورځ بـه د الله تبارك و تعالیٰ په دربار کښی بهترین مرتبے والا عا دل حکمران وی او بد ترین به هغه تن وی چه ظالم حکمرا وی .

امام مندریؒ یو روایت ذکر کړیدے په الترغیب والترهیب کښی چه "یوم امام عادل افضل من عبادة ستین سنة" چه د عادل بادشاه یوه ورځ د شپیتو کالو نفلی عبادت نه غوره ده. بل یو روایت کښی راځی نبی ﷺ فرمائی: "ثلاثة لا ترد دعوتهم الصائم حتی یفطر والامام العادل و دعوة المظلوم" دَ درے تنو دعا نه رد کیږی د روزه دار، عادل حکمران او د مظلوم.

دا رنګے ګنړ روایات شته. "انما الا مام جنة یقاتل من ورائه" بل روایت کښی دی چی "السلطان ظلُّ الله فی الارض یاوی الیه کل مظلوم من عباده فان عدل کان له الا جر و کان علی الرعیة الشکر" بل روایت کښی دی چه "السلطان ظل الله فی الارض فمن اکرمه اکرمه الله و من اهانه اهانه الله" بل روایت کښی الفا ظ داسے دی چه "من اکرم سلطان الله فی الدنیا اکرم الله یوم القیامة و من اهان سلطان الله فی الدنیا اهانه الله یوم القیامه" دَ سیدنا انس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چی نبی علیہ السلام فرمائی "اسمعوا و اطیعوا و ان استعمل علیکم عبد حبشی کان راسه ذبیبة" په دے وجه ابو مسلم خولانیؒ چه مشهور تابعی دے فرمائی "مثل الامام کمثل عین عظیمة صافیة طیبة الماء یجری منها الی نهر عظیم فیخوض الناس فیکدرونه ویعود علیه صفوالعین فاذا کان الکدر من قبل العین فسدالنهر ولا یصلح الناس الا با لا مام والا یصلح الا مام الا بالناس" (مصنف عبد الرزاق)

د مشر مثال په شان د یو لوئے صفا او خوږے چینی دے او د دغے چینی او به یو لوئے نهر کښی بهیږی خلق په د غه نهر کښی غوپے و خی او او به خرابوی او د چینے نه بیا هم تا زه اوصفا او به

راوځی خو که چرته د چینے او به ګنده او خرابے شی نو د نهر اوبه به په خپله خرابیږی د غه رنګے خلقو اصلاح بغیر د مشر نه نشی کیدے او د مشر اصلاح بغیر د خلقونه نشی کیدی ځکه خو د احمد بن عمر بن عبد الله شعرابن عبد البرؒ په جامع بیان العلم کښی ذکر کړیدے چه هغه وائی :

نسأل الله صلاحاً للولاة الرؤساء
فصلاح الدین والدنیا صلاح الامراء

په دے موضوع باندے بهترین کتاب د ابو نعیم اصبهانی دے چی نوم ئی دے فضیله العادلین او تحقیق ور باندے مشهور بن حسن ال سلمان کړیدے او په یو جزء کښی دے.

امام چا ته وئیلی کیږی ؟ چی د هغه تا بعداری کولی شی په احادیثو کښی راځی "انما جعل الامام" امام دے دَ پاره مقرر کولی شی چی خلق ئی تابعداری وکړی دا بعضی خلق امام راولی دلته خو دا څیز نشته دے الحمد لله دا خلق دیندار ه دے خو په بعضی علاقو کښی خلق امام راولی امام سره شر طونه طے کوی امام ته چل ښائی مونځ به لنډ کوی مونځ به ډیر اوږد نه کوی بانګ به لیټ نه وے بانګ به په ټائم وے لږ د و خته به جومات ته راځی موټر به رَوانے بیا به دا سی دا پورونه مورونه اُغوَړے. امام ته چل ښائی دا بعض بدبخته وی دا سی چی ته دومره پو هیږی. امام راولی څه دَ پاره بیا پخپله مونځ ته مخکښی کیږه کنه هم وائی مونږ امام راولو دَ امام معنی ده چی اقتداء دَ هغه کولی شی چی د هغه مشری به ته تسلیموی الله اکبر کبیراً کله کله چی مونږ جوماتونو ته امامان را ولو، مونږ باندی د جومات او مسجد حق وی په

دی و جه جومات آباد سا تے په دی و جه د امام انتهائی خیال سا تے چی جومات آباد وی نو محله به آباده وی. جومات به په څه آباد وی په امام باندی بـه آباد وی چی کلـه د جومات امام نـه وی بیا یو تـه وائی تـه مخکښی شـه بـل تـه وائی تـه مخکښی شـه کلـه کلـه بیا دا سی تن مخکښی شی چی بیا سودم ته شین وی هغه یو تن په لاره روان وو د جومات والا امام نه وو ګیره ئی پریخودی وه مونځ ته ئی مخکښی کړو ما بنام ټیم وو او س غریب ولا الضالین پوری خه ټیټ او رسیدو اوس سورت وئیل پکار وو دے خاموش دے یو مقتدی فتحه ورکړه چی" الم تر کیف هغه وائی الم تر کیف" اوس مخکښی ور ته یاد نه وو بل مقتدی آواز و کړو "لا یلٰف قریش" هغه وائی "لایلٰف قریش" بل ورته وائی "اریت الذی" آخر دا چی قل هواللہ احد ته ئی اور سوو یو رکعت خو ئی اوکړو، د غه سړی چی مخکښی شوی وو امامت ته اوس سړی سوچ دا کوی که دویم رکعت ته پا سیدم دا به لا جدا شرم وی نو په سجده کښی ئی غلی غلی خپی ایستی دی او دا خلق ډیر و خت په سجده کښی پرا ته دی چی دا څنګ چل دی هغه یو تن چر ته کتلی دی چی امام خو نشته چی را پا سیدلی غریبانان ټول ملامته وو چی کله دا جومات امام نه وی جو مات روان ویجاړ وی جماعت آبا د ژل پکار دی او جومات به په امام آباد وی او امام هله جومات کښی خوشحاله وی چی مونږ او تا سو د امام خیال سا تو .د اما خیال سا تل په دوه اعتباره سره وی یو په دی اعتبار سره چی مونږ او تا سود هغه نه د مسائلو تپو سونه کوو په ایمان ئی ووایه مونږ د امام خوا ته کینو دا خو اوس د دعوت او تبلیغ په محنت سره څه نـه څه چی کوم ملګری و ختونه او لګوی غم ور سره

پیدا شی نو تپو سونه کوی چی دا مسئله څنګه ده مونږ خو په دریو مو قعوامام ته کله چی کور کښی ما شوم پیدا شی را شه جی بانګ ما شوم ته ووایه ولی ته هند وئی څه؟ بانګ نشی وئیلی په د غه و خت کښی مونږ د امام نه تپوس نه کوؤ چی د ما شوم په پیدا ئش باندی قرآن و سنت څه وائی را شه بانګ اووایه یو د غه شو بیا زمونږ چهتی وی بیا مونږ د امام خوا ته نه ځو.ته به وای چی هغه سره هتکړے دی مونږته ئی اچوی. بیا د غه ما شوم لوئی شو ده باندی الله احسان او کړو لوئی شو لوئی شو بیا د کویژدنی و خت ئی را غے نو امام صاحب خوا ته را شو او ورته وایو چرته به ځی نه د جمعی په ورځ به مونږ ته نکاح ټړی په د غه و خت کښی مونږ د مولانا صاحب نه تپوس نه کوو چی دا مونږ چی څه کوؤ چی دا پکښی دګوټ رسم دی. دا پکښی جنج دی او دا پکښی جینئی ناوی کول دی او دا پکښی ډنګ ډیچ دی دا پکښی خرا فات دی په ولاړه لکه دَ خرو پکښی خوراك دے د نکاح سنت طریقه څنګه ده؟ چی روستو بیا د هغی څه منفی اثرات شته او که نا؟ بعض و خت امام هم تپوس نه کوی په دے وجه دا ئمو ډیوټی دا ده چی په کومه نکاح کښی خرافات کیږی په هغی کښی دے نه شریکیږی چی ورته وائی دا نکاح نه ترم یو په دغه موقع زمونږ امام ته ضرورت را پیښیږی . دریم چی کله ابے بابا و فات شو دا دری مو قعی دی چی مونږ د امام خوا ته راځو . نو ر خوا ته ئی نه را ځو. په دی و جه زما عزتمندویو خود امامانو نه د مسائلو تپوس کول پکار دی نو د هغوی دوکانداری به چلیږی ددو کا ندارے مطلب دا دی چی دوی نه د څه مسئلے تپوس اوکړی که علم ورته نه وی نو د بل عالم نه به تپوس او کړی کتاب کښی

بـه او ګـوری د بـل اسـتـاذ بـل شیـخ نـه بـه تپـوس اوکړئ دا دَ دین والو دوکـانـداری ده چـی مونږ او تاسو کال لا ړ شی کال را شی مونږ یو تپوس او نـه کـړو ایـمان دا رو ګوری دا غټ جرم دی ولـے مونږ ټول په دین دا سی ۱۰۰فیـصد پو هیږو؟ او که مونږ تپوس کؤ و زمونږ تپوس څه وی چرته یـو تـن مونځ کوی دهغی غریب نه مونځ کښی څه غلطی او شی اوس د هـغـه د ملامته کولو د پاره تپوس کوی یره استاد جی که دا مونځ څوك داسـی کـوی دا به څنګه وی غریب چرته غلطئ کښی جومات ته راغـے اوس د هـغه دَ ملامته کولو دَ پاره وائی یره چی دا کار څوك داسی اوکړی دا بـه څـنګ چـل وی؟ نـو زمـونـږ تپـوس داسی وی یو د امام خو شحاله سـاتـل پـه دی اعتبـار وی او دویـم مونږ او تا سو باندی دَ دی خپلو امامانو حـق وی هـغـوی تـه هـغـه حق ادا کول مونږ نن ځکه ذلیل او خوار یو په ایـمـان اُووایه نن مونږ دی مصلی ته سپګ ګورو که نا؟ دا مصلی چی ده دَ دی نـه غـونـډ نظام قابو کیږی. د محلو د کلو. مونږ دَ امام څومره خیال سا تـو چـر تـه پـه کال کښی څلور درے اړه ور کوؤ. پکښی درے د زکوٰة وی او پـه هغی اکتفاء کوؤ ټول کال کښی بس دغه که څوك را ته ویښتـه بـرابـرَوی هـغـه ته هم دغه ورکؤو او امام ته هم دا دَ خپل امام غټ تو هین کـول دی مـونږ او تا سو آورو چه دا ورثاء د انبیاؑ دی ډیرکرته بعضی کسان را شـی وائـی جـی مونږ ته یو امام صاحب پکار دے چه ښکلی قاری هم وی حـافـظ قـران هـم وی او عالم دین هم وی چه مونږ ترینه تپوس او کړو چـه تنخواه به څومره ور کوے نووائی چی یو زر روپئ خو به ورکوو. یو مـولـوی صـاحـب چا امـامتـے ته را و ستو امام صاحب ته وائی چه جی تاسو به په څه خو شحاله ئی امام صاحب ورته اُووی چه بس د ډم نه را ته

کم مګورئی مقتدی وائی چی تاسو څه وائی "استغفر الله" تا سو خو مونږ ته دا پاس آسمان ئی مولوی صیب ور ته ووی چی بس د ډم نه را ته کم مه ګوری بیا یو ور ځ نکاح وه ډمان ئی را و ستی وو هغوی ته ئی په زرګونو روپئ ورکړی امام صاحب ته ئی درے سوه روپئ نو امام صاحب ورته اُووئی چی تاسو سره دا خبره نه وه کړی چی د ډم نه به را ته کم نګوری دا مو څه او کړل هغه کسان ډیر ملامته شو نو حدیث کښی راځی نبی ﷺ فرمائی امام عادلٌ نبی ﷺ فرمائی "سبعة یظلهم الله فی ظله یوم لا ظل الا ظله"

دا اووه کسان به دَ الله تعالیٰ د عرش د سوری لاندی د الله خاص رحمت کښی به وی الله دے پکښی مونږ په خپل فضل وکرم سره را ولی که د کور مشر وی نو انصاف والا که ځوئی ته برخه ورکوی نو لور ته به هم بر خه ورکوی دا لور خو څه او بو نه ده را وړلی که رور ته حق ور کوی نو خور ته حق ور کوی امام عادلٌ مشر عادل زمونږ استاذان پکښی بله خبره ذکر کوی د دی غونډ بدن یو باد شاه دی زړه نو که دا زړه انصاف والا وی نو دابه هم د الله د عرش د سوری لاندی وی د زړه لاندی بیا صوبی دی. دَ سترګو صوبه د غوږنو صوبه د لاسونو خپو صوبی هر یو ته خپل حق ورکوئ. سترګی غلط نه استعمالول، غوږونه غلط نه استعمالول، لاس خپے غلط نه استعمالول، نظر غلط نه استعمالول، نو یوعادل باد شاه دے دویم نبی اکرم ﷺ فرمائی "و شاب نشأ فی عبادة الله"

یو هغه ځوان چی دَ هغه ځوانی دَ الله په عبادت کښی د الله په دین کښی تیره شی نن په ایمان اوو ایه زمونږ تولہ زندګی هغه فضول په لهو لعب کس تیریږی د ذکر واذ کار د پاره و قت نه وی مونږ اکثر هغه

قیمتی وخت مو بائلو یا کمپیوټر ته ورکوو د الله سره زمونږ نن بالکل رابطه نشته د الله سره زمونږ نن بالکل تعلق نشته الله ته زمونږ د عا جړا نشته دالله سره زمونږ نن رازو نیاز نشته دالله نه زمونږ نن غوښتل نشته په الله خپل مسائل حل کول نشته زمونږ په ذهن کښی دا سی خناس او فرعو نیت را دننه شوی وی. یو هغه تن چی د هغه ځوانی د الله په دین کښی تیره شی ځوانی کښی عبادت مزه هم کوی:

درجوانی توبہ کردن شیوہ پیغمبری است
وقت پیری گرگ ظالم میشود پرہیزگار

هغه تن چی دَ هغه زړۀ جومات سره تړلی وی دَ جومات سره مینه ساتی د مساجدو تعظیم کوی تفسیر قرطبی د سیدنا انس ﷺ یو روایت پیش کړیدے چه "من احب الله عزّ و جل فلیحبنی و من احبنی فلیحب اصحابی و من احب اصحابی فلیحب القران ومن احب القران فلیحب المساجد فانها افنیة الله ابنیته اذن الله فی رفعها و بارك فیها میمونة میمون اهلها محفوظه محفوظ اهلها هم فی صلواتهم والله عز و جل فی حوائجهم هم فی مساجدهم والله من "ورائهم" کوم تن چه الله سره محبت کول غواړی هغه ته پکار دی چه نبی ﷺ سره محبت کوی او څوك چه نبی ﷺ سره محبت کوی هغه ته پکاردی چه صحابه کرامو سره محبت کوی او څوك چه صحابو سره محبت کوی هغه ته پکار دی چه د قرآن سره محبت کوی او څوك چه قرآن سره محبت کوی نو دے دمساجدو سره محبت کوی ځکه چه جوماتونه د الله کور ونه دی الله ددے د تعظیم حکم کړیدے او دے کښی ئی بر کات اچولی دی دے کښی او سیدونکی د الله په حفاظت کښی دی دا

خلق په مونځونو کښی مشغول وی او الله ور ته حا جتونه پوره کوی نو دَ مساجدو صفائی کول پکاروی یوزنانه به دمسجد نبوی صفائی کوله جارو کولو به ئی. د هغے مغفرت الله د جومات په جارو کولو او کړو. څوك چه جوماتونو نه ګنده څیزونه لرے کړی الله ور ته جنت کښی کور جوړوی بد بو دار څیزونه جومات ته نه اوړی جوماتونه په اعمالو سره آبادول څوك چی تیر وکښ جو ما تونو ته ځی هغوی ته د قیامت د ورځی د پوره نور بشارت دے جو مات ته په تلو سره په یو قدم یو نیکی ملاویږی یو در جه ئی او چتیږی یو ګناه ئی معاف کیګی او تر څو پورے چی د جماعة د مونځ انتظار کوی په دے انتظار کوی په دے انتظار ورته د مونځ برابر ثواب ملاویږی. مفتی محمد شفیعؒ تفسیر معارف ۴۲۸ کښی یو روایت نقل کړیدے چی آخره زنانه کښی به دا سی خلق وی چی جو ما تو نو کښی به ئی حلقے قائم کړی وی او ددنیا خبرے به پکښی کوی تا سو دا سی خلقو سره مه کینئی، الله ته ددا سے خلقو هیڅ ضرورت نشته مسجد ته تلونه بعد تحیة المسجد ادا کول چی کله به بانګ وائی چی کله به اودس چار اندام کوم کله به خپل رب ته اودریږم زهٔ به کله د خپل رب سره خبری کوم د جومات سره ئی زړه ترلی وی کله د جومات صفائی کوی دَ جومات خدمت د الله در ضا د پاره کول ما هغه ورځ ملګروته وئیل چی کوم یو عمل دَ الله دَ رضا دَ پاره وی هغه دوامی وی کله کله مونږ دَ امام دَ جماعت خدمت کوؤ. که دا دَ الله دَ رضا دَ پاره وی نو هغه الله خو چرته ځی نه هغه خو الحیٌّ او القیوم دے، هغه ته فنا نه راځی. که ته دا کار د هغه د پاره کوی همیشه به ئی کوی او که څه لالچ دَ پاره

وی څه ووټ نوټ د پاره وی د غه څیز به ډیر زر ختم شی تا سو به اورے ډیر خلق به تا سو مو مئی د هغوی ددین کار بالکل هیر وی د دین کار د ټول عمر شی دی کله چی د ووټونو او الیکشن ورځی راشی نو تاسو ته به قرآن او دین مخے ته کوی او د کرسئ او د اقتدار مطالبه کوی یاد سا تے چی کوم نبی ﷺ را غلی وو. وائی دین درته بیانوم ووټونه پری درنه نه غواړم یاد ساتے دی ووټونو موټو باندی دین نه راځی. نو انتهائی کوشش کوے ځان ددی ووټونو موټونو نه ددی سیاسی جاخونه سا تے که وس مو کیږی دوه دری ورځی د الله په لار کښی تیروئی تا سوته به د هغی فائده ملاویږی سیاسیان چی په منبر کینی نو څه وائی زهٔ به دا کوم زهٔ به دا کوم وے ته څه هم نشی کولی ته به څه وکړی دا ټول فضول ټول بکواسیات دی ته خپل اودس ما تی ځائے ته نشی رسولی په دی وجه په دعوت او په سیاست کښی فرق دے په دعوت کښی د الله لوئی بیانول وی او په سیاست کښی دَ خپل ځان لوئی برائی بیانول وی دَ دعوت خبری په جومات کښی کیږی او د سیاست خبری په حجره بیټکونو کښی کیږی په دعوت کښی د الله نه دَ کیدو یقین خلقو ته خودلی کیږی. په سیاست کښی تا ته روټی کپړا مکان درکولی کیږی وائی که مونږ ته موووټ راکړو اسلامی نظام به راولو څومره اسلامی نظام ئی راوستی دی دا بو ډاګان مخے ته دی دی نه تپوس اوکړے نو دے جوماتونو سره زړه ټرل پکار وی دے کښی کامیابی ده بل نبی کریم ﷺ فرمائی دوه هغه ملګری چی په دین باندی ئی یو بل سره تعلق دی په قرآن او دپیغمبر په احادیثورا جمع کیږی او په دی د یو بل نه جدا کیږی دا به د الله عرش دسوری لاندی وی ځکه

دوی دی دا تعلق دا بے عرضه او بے لالچه دی.

او بل هغه تن چی په نبی لاس سره خیرات ور کوی چه ګس لاس ته پته هم او نه لګی هر ځائے بیا لګیا نه وی کله کله مونږ په جومات کښی روپے دوه او لګو بیا په چوك کښی لګیا یو ما خو پرون د بجلئی بل ورکړی وو دا وبو بمبه می سمه کړی وه پټ په پټه باندی پیسی لګول نیکی کردریامیں ڈال او بل نبی کریم ﷺ فرمائی یو هغه انسان چی هغه ته یو زنانه دګناه دعوت ور کړو او څوك هم نشته هیڅ مانع هم نشته ښائسته جینئی ده خه نسب والا جینئی ده دګناه دعوت ئی وکړو. ټیك ده مونږ خو څوك وینی نه خو دی ور ته وائی "انی اخاف اللہ" هغه اللہ راته ګوری دا سی خلق ډیر کم وی .

اللہ دی په مونږ دا سی امتحانات نه راولی بعضی علماؤ ذکرکړی دی . چی یو طالبعلم وو د کور نه مدر سی ته روان وو نو هر څنګ خلق وی په نارینۂ کښی هم او په زنانۂ کښی هم څه دبے دینئ ما حول وی څه د هغی اثرات وی په لاره کښی یو ه زنانه وه دی طالبعلم ته وائی اے روره اے بچی زمونږ دَ پښتو په دے معاشره کښی دا څیز ډیر وی یاد ساتے چی دا می دَ نکاح رور دے، ده ته می بچی وئیلی، دا ټول ګپ شپ دے دا ټول دَ قرآن او سنتو خلاف دی ټول مسلمانان رونړه خویندی دی په شریعت کښی پرده ماتول نشته هغه روځ هغه یو ملګری راغی حج ته روان وو کله کله دا څیز زمونږ حاجیانو ملګرو کښی هم راشی وائی هغه زنانه می نن هلته بوتلی وی هغه څه ملګری دی راسره هسی به هم هلته حرم کښی پرده ماتیږی نو ته حرم کښی پر ده مه ماتوه، یاد ساتے دا ټول ګپ شپ دی د قرآن او سنت خلاف دی پر ده به

نه لر کوی پر ده به نه آؤټ کوی. نو هغه زنانه وائی اے روره ته خو هسی هم زمونږ رور ئی دا خط راته اوګوره هغه هم طالبعلم وو یره وه ورسره څه شرعی حاجات به ئی وی وائی ته راکه خط چی څنګ ئی خط ور کړو زرئی دروازه بنده کړی د ګناه دعوت ئی ورکړو که د دی زنانه چرته سوچ وے چی هغه الله ماته ګوری زما رب ما ته ګوری دی به چری هم دا کار نه وو کړی اوس هغه طالبعلم حیران دے چی زهٔ خو اوس ګیر شوم یا الله ما نه به ستا نا فرمانی کیږی. یا الله زه به ستا غصی ستا غضب ته دعوت ورکوم اوس دی سوچ کښی دی زما رب ماته ګوری زما الله ما ته ګوری د ا زنانه ور ته وائی خبره می نه منی شور شروع کوم چی هلك راوږدلی دی زما بے عزتئ پسی غوند خاندان او خیل خانه دی شر میږی نور رعب داب ئ پرے هم غورځولی دی دا هلك سوچ کوی چی د ګناه نه څنګ بچ شم په سوچ کښی ور ته تر کیب را غی ښځی ته وائی ته لږ صبراو کړه ما ته دَ وړو بولو حاجت دے ځان فارغوم بیت الخلا راته اوخایه بیت الخلا ئ ور او خودله دے بیت الخلاته ننوتو هلته ګندو نه پرا ته وو په ټول بدن باندی ئی ځانته اولګول چی کله بهر را وتو هغه زنانه ته وائی . ووایه چی څه وائی؟ چی هغه زنانه ور ته څنګه او کتل نو زړه ئی خراب شو اولټے پری اولګیدی . او کور نه ئی را اویستو . چه د کوره راو تونو په لاره ئی ځان پاك کړو او لاړو درس ته حلقه کښی کیناستو استاد چه درس او کړو نو په آخر کښی ئ اووی چی نن دا قیمتی عطر چا لګولی؟ داسی خوشبو خو ما چرته په ژوند کښی نه ده محسوس کړی دا خو چرته د جنت عطر محسوسیږی، دَ هلك رنګ زیږ شو دهٔ خو په

بدن باندی بد بو لګولی وه غم شو ورسره چی چرته شیخ خفه شوی دی که چی درس ختم شو نو دا طالبعلم استاد ته راغی او استاذ ته په ژړا شوی ټوله قصه ئی ورته بیان کړی. شیخ صاحب ووی قسم می دی په رب ما وی دا چرته د جنت خوشبو ده نن دا سی دَ دے مجلس ماحول معطر وو. دا پاکستان هندوستان لاجدا شوی نه وو. مسلم هندو فسادات به کیده ډَزی ډُوزی جوړی شوی ما سخوتن وو یوه حسینه جمیله جینئی په لاره روانه وه هغه زرد غه جومات ته ننو تله جومات کښی ئی پناه حا صله کړه یو غریب طالبعلم وو خپل درس ئی کولو هغه ته وائی ما ته ځائے را کړه هغه طالبعلم ډیر انکار او کړو خو آخر مجبوره شو ځائے ئی ور کړو هغه زنانه یو طرف ته هلته کیناسته . دے طالبعلم خپله مطالعه کوله چی لږ وخت به او شو نو خوا کښی ډیوه بلیده هغی ته به ئی خپله ګو ته ور نزدے کوله او بیا به ئی زر را لر کوله لګیا دی مطالعه کوی بیا لس منټه تیرشی بیا خپله ګوته ډیوے ته نزدے کړی آخر دا چی شپه تیره شوه دا سی د بانګونو نه مخکښی د ا زنانه ور ته وائی تا بیګه سبق وی او کنه ډیوی سره دی لوبی کولی هغه وئیل ځه ستا دی سره څه کار دی؟ پناه دی حاصله کړه اوس ځه هغه زنانه وائی ځم نه تر څو چی دی را ته رازنه وی فا ش کړی هغه طالبعلم وائی ما ته دی نفس او شیطان وی څوك هم نشته څوك هم نه خبریږی. د ګناه کار او کړه ما دے نفس او شیطن ته وے چی صبر او کړه که دا ګوته د ډیوے دا لږ او معمولی غوندے تپ برداشت کو لے شی نو بیا به د جهنم هغه ډیر او سخت اور هم برداشت کړیشی. بیا هغه جینئی پلار ته ویلی وو چی زما نکاح به دَ

دغه طالبعلم سره کوی . داسی ګنړ وا قعات شته نو نبی محترم ﷺ فرمائی یو هغه نو جوان چی زنانه ور ته دعوت ور کړو. او هغه وائی "انی اخاف الله" ځه د الله نه یریږم اواوم هغه تن دی نبی کریم ﷺ فرمائی. "ور جلٌ ذکر الله خالیًا ففاضت عیناه" الله ئ یاد کړو، دَ "خَالیًا" دوه مطلبه دی . یو مطلب دا دے چی زړه ئ دَ دُنیا نه ، دَ محبتونو دَ دُنیا، او دَ نورو څیزونو نه پاك وی. اود ستر ګونه ئ اُوخکی راؤبهیږی. او دوئم مطلب "و رجلٌ ذکر الله خالیاً عَنِ الناس" دَ خلقو نه ځانته ناست وی. او الله یادَوِی "سبحان الله" وئیل، "الحمد لله" وئیل. دا هم الله تعالیٰ یادول دی. دَ الله طاقتونه یادوی. دَ الله تعالیٰ قدرتونه یادوی دَ الله تعالیٰ نعمتونه یادوی، دَ الله تعالیٰ په کائناتو کښی سوچ کوی چی الله خو علیم بذات الصدور دے. الله تعالیٰ خو بصیر ذات دے. الله تعالیٰ خو قدیر ذات دے. الله تعالیٰ خو قادر ذات دے، الله تعالیٰ خو مقتدر ذات دے، الله تعالیٰ خو داسی ذات دے چی دَ ستر ګو په خیانت باندی پوهیږی. الله تعالیٰ خو داسی ذات دی چی دهغه نه څه پټیږی نه، الله ئی یادؤ، الله ئی یادؤ. "ففاضت عیناه" د ستر ګو نه ئی او ښکی شروع شوی.

ہمارا کام ہے راتوں کو رونا یاد دلبر میں ہماری نیند ہے محو خیال یار ہو جانا

یو روایت کښی راغلی دی چه څوك د الله د ویرے اوژاړی دے هغه وخته پورے دوزخ ته نه شی تلی تر څو پورے چه پئ په تیونو کښی واپس لاړشی دیته علماء معانی "تعلیق بالمحال" وائی لکه ﴿حتی یلج الجمل فی سم الخیاط﴾ یو روایت کښی دی چه څوك د الله د ویرے ژاړی تردے چه اوښکه ئی په زمکه اوساسی نو هغه ته به د

قیامت په ورځ عذاب نه وی یو روایت کښی دی چه په دوو ستر ګو د دو ز خ اور حرام دے یو هغه ستر ګه چه د الله د یرے نه ئی ژړلی وی او دویمه هغه چه د اسلام او مسلمانانو د حفاظت د پاره د کا فرانو په مقابله کښی ویخه پا تے شوے وی او دے حدیث کښی تر غیب دے چه الله ذکرکول پکار دی او ذکربهترین عبادت دے.

دذکر لفظ په عام معنو سره قرآن کښی 267مقامات کښی ذکر شوی دے او د ذکر الهی په معنی سره 58کر ته ذکر شوے ذکر دو ران کښی تو جه الله ته پکار دی

بر زبان تسبیح و در دل گاؤ خر
این چنین تسبیح کے دارد اثر

د ذکر سره تذکیه نفس کیږی او ور سره اصلاح قلب کیږی بعض علماء د ذکر درے لوئے اقسام ذکر کوی(۱) ذکر بالقلب، ددے دا مطلب دے چه ځمونږ په زړۀ کښی معرفت باریتعالیٰ خشیت الهی، را شی او یره طمع صرف د الله نه کوو (۲) ذکر باللسان په ژبه هم الله یادسا تل الله ته پکار کول د الله نو مونه یا دول ﴿ولله الا سماء الحسنیٰ فادعوه بها﴾ (۳) ذکر بالعمل ددے مطلب دا دے چه د الله په احکاما تو باندے عمل اوکړشی.

او ذکر کښی د حدنه تجاوز نه دے پکار، بعض علاقو کښی بعض خلق په ځان جذبے را ولی او چغی و هی دا صحیح طریقه نه ده ذکر بهترین عبادت دے الله قرآن کښی بار بار تر غیب ور کوی.

﴿فاذکرونی اذکرکم واشکروا لی ولا تکفرون﴾ ﴿واذکر ربك کثیراً و سبح بالعشی والابکار﴾ ﴿الذین یذکرون الله قیما و قعوداً و علیٰ جنو

بهم﴾ ﴿فاذا قضيتم الصلوٰه فاذ كروا لله قيٰماً و قعوداً و علىٰ جنو بكم﴾ ﴿وادعوه مخلصين له الدين﴾ ﴿ادعوا ربكم تضرعاً و خفيةً﴾

الله د مسلمانانو په صفاتو کښې هم ذکر کوی ﴿انما المومنون الذين اذا ذكر الله وجلت قلوبهم، و اذا تليت عليهم اٰيته زادتهم ايمانا و علىٰ ربهم يتوكلون﴾ ﴿الا بذ كر الله تطمين القلوب﴾ ﴿و اقم الصلٰوة لذكرى﴾ ﴿و بشر المخبتين الذين اذا ذكر الله وجلت قلوبهم﴾ (سورة الحج) ﴿رجال لا تلهيهم تجارة ولا بيع عن ذكر الله﴾ (سورة النور) ﴿لقد كان لكم فى رسول الله اسوة حسنة لمن كان يرجو االله واليوم الا خر و ذكر الله كثيرا﴾ (سورة الاحزاب) ﴿والذاكرين الله كثيراً والذكرات اعد لهم مغفرة واجراً عظيما﴾ (سورة الاحزاب) ﴿يٰاَيُّهَاالَّذِيْن اٰمنوا اذكروا الله ذكراً كثيراً و سبحوه بُكرة وَّ اَصِيلا﴾ (سورة الاحزاب) ﴿الم يأن للذين اٰمنوا ان تخشع قلو بهم لذكر الله﴾ (سورة الحديد) ﴿واذكروا الله كثيرا لعلكم تفلحون﴾ (سورة الجمعة) ﴿واذكر اسم ربك و تبتل اليه تبتيلا﴾ (سورة المزمل) ﴿واذكر اسم ربك بكرة واصيلاً﴾ (سورة الدهر) ﴿قد افلح من تزكى و ذكر اسم ربه فصلى﴾ (سورة الاعلىٰ)

نو خبره مو د هغه تن کوله چه د الله د رحمت د سورى لاندے به هغه تن هم وى چه د الله ذکر کوی په توجه سره او ورسره د خپلو اوښکو ډالئی هم پیش کوی. کوم مجلس کښې څوك راجمع شی او پکښې الله تعالىٰ یاد نه کړیشی "الا كان ذالك عليهم حسرة يوم القيٰمة" نو دغه را جمع کیدل به د قیامت په ورځ دَ دوی دپاره دَ حسرت او افسوس سبب وی.

د صحیحینو روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی "مثل

الذی یذکر ربه والذی لا یذکرربه مثل الحی والمیت" چه ذکر کولو والا په مثال د ژوندی دی او د نه ذکر کونکی مثال په شان د مړی دی .

د جنت اتـۀ دروازے دی یـو پـه کښی خاص دَ ذاکرینو دَ پاره ده. یو تن راغـے دَ نبی ﷺ نه ئې تپوس اوکړو چه اے د الله رسوله احکام د شریعت خـو ډیـر زیـات دی مـا ته داسے یو څیز اوښائې چه ځه ئی خپله مشغله جـوړه کـړم نبی ﷺ ورتـه ارشـاد اوفرمائیلو "لا یزال لسانك رطبا من ذکر الله" (رواه التـرمـذی) چـه د الله پـه ذکر سره هر و خت ژبه مشغوله ساته. یـو روایـت کښی راغـلیـدی چه چا ته څلورځیزونه ورکړی شو هغه ته دَ دنیـا او دین ښیګړی ور کړی شوے(۱) کومه ژبه چه ذکر کښی مشغوله وی (۲) شکر والا زړۀ(۳) مشقت والا بدن (۴) صالحه بی بی.

صـحیـح بـخـاری، صـحیـح مسلم، سنن ترمذی، سنن ابن ماجه او سنن نسـائـی یـو اوږد حـدیـث ذکر کړیدے نبی ﷺ فرمائی چه الله فرمائیلی دی "انـا عند ظن عبدی بی" چه ځه خپل بنده سره داسے معامله کوم څـنـګـه چه په ما ګمان ساتی "و انا معه اذا ذکرنی" او ځه دۀ سره یم چه کـلـه ما یادوی "فان ذکرنی فی نفسه، ذکرته فی نفسی" که چرے دے مـا خپـل زړه کښی یـادوی نـو ځـه ئـې هم خپل زړۀ کښی یادؤم "و ان ذکـرنـی فـی مـلاء ذکـرتـه فـی مـلاء خیـر منهم" که دے ځما ذکر ګنړه کښی کـوی نـو ځـه ئـی دَ هـغـے نه غوره مجلس کښی یادؤم (یعنی دَ مـلائك عـلیهـم السـلام) پـه مـجلس کښی ئې یادؤم. "و ان تقرب الی شبرا تقربت الیه ذراعاً" که دے ما ته یو لیشت متو جه کیږی نو ځه ور تـه یو لاس متوجه کیږم) "وان تـقـرب الـی ذراعا تقربت الیه باعا" او که دے یـولاس نـزدے کیږی نو ځه دوه لاسه دۀ ته متوجه کیږم "و ان اتانی

یمشی اتته هرولة" او کۀ دے ما طرف ته را روان شی نو ځه دۀ طرف ته په منډه ور ځم. (الله اکبر کبیراً)

یو روایت کښی را غلی دی چه "لیس یتحسر اهل الجنه الا علیٰ ساعة مرت بهم لم یذکرو الله تعالیٰ فیها" جنت ته تلونه پس به جنتیانو ته دَ دنیا د هیڅ څیز افسوس نه وی سیوا د هغے ساعت نه چه کوم په دنیا کښی د الله تعالیٰ د ذکر نه بغیر شوے وی.

ځکه خو شیخ الحدیث ریحانه الهندؒ لیکلی دی چه سریؒ فرمائی چه ما جُرجانیؒ اولیده چه ستوان یی خوږل ما ترے تپوس اوکړو چی ته دا اوچ خورے؟ وے ویل چه ما په ډوډئی دَ شخوند وهلو او د ستوانو خوږلو حساب اولګولو نو شخوند وهلو کښی دومره زیات وخت لګی چه په هغے وخت کښی یو تن اویا وارے سبحان الله ویلی شی نو ځکه ما د څلویښتو کالو نه ډوډیء خو ږل پریخی دی او ستوان خوږولو باندے ګذاره کوم د منصور بن مقمرؒ متعلق ئے لیکلی دی چه څلویښتو کالو پورے د ما سخوتن مانځه نه پس چا سره خبرے نه دی کړی.

خو دا خبرے نن په مونږ ځکه عجیبه لګی چه په مړه ګیډه ځه بیان کوم او تا سوئی په مړه ګیډه آؤرئ. نن ځمونږ د الله تبارك و تعالیٰ سره مینه نشته او دَ چا چه دَ چا سره مینه وی نو هغه یادوی او دَ هغه ذکر کوی "من احب شیاء اکثر ذکره."

په صحیح مسلم کښی یو حدیث دے د سیدنا ابو هریره رضی الله عنه او دَ سیدنا ابو سعید خدری رضی الله عنه نه چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه څوك د الله په ذکر کښی مشغوله وی نو ملائك هغه خلق د ټولو طرفونو نه ګیر وی و غشیتهم الر حمه او رحمت پرے غوړیږی و نزلت علیهم

السکینه او سکینا پرے نا زلیږی (یعنی د زړۂ اطمینان او خوشحالی او سرور) و ذکر هم الله فیمن عنده او الله تعالیٰ ئی خپل مجلس کښی یا دوی دینه بله لویه خبره شته؟ دے نه بل معزز به څوك دی چه چا لره الله یا دوی (سبحان الله)

یو روایت کښی را غلی چه څوك د الله دَ ذکر دَ پاره را جمع شی او مقصد ئی صرف د الله رضا وی نو یو مَلَك اعلان کوی "ان قوموا مغفوراً لکم، قد بدلت سیاتکم الحسنات" چه تاسو په داسے حال کښی پاسے چه ستاسو مغفرت اوشو او بدئ مو په نیکو سره بدلے شوے. الله تعالیٰ محض خپل فضل و کرم سره مونږ او تاسو په دے اووۂ کسانو کښی شامل کړی، اګر چی زمونږ عملونه ددے قابل نه دی عزت مندو! د خپلو جو ما تونو، اما ما نو خیال سا تے دے کښی به تا سو دپاره ډیر خیروی، مساجد آباد کړے په درس و تدریس سره، په تعلیم و تعلم سره په حلقو د فضائلو او مسائلو سره، چی کومے محلے او کلی په دین آبادوی هلته خوشحالئ وی.


په تبلیغ کښی ځئ ، دَ قرآن درسونو ته رواج ورکړئ ، هفته واری درسونه قائم کړئ . دَ زنانۂ دَ پارهھم دَ قرآن مجید دَ زده کولو ترتیب جوړ کړئ . الله رب العزت دِ زمونږ او ستاسو نه راضی شی .

یا الله ! یا رحمن! یا کریم ! یا رحیم ! اے ذوالجلاله ! مونږ ډیر ګنهګاران یو، مونږ معاف کړی ، ځمونږ نه راضی شی، او داسی رانه راضی شی چه بیا رانه ناراضه نه شی، ربه ځمونږ خاتمه په ایمان اوکړی . آمین یا رب العالمین برحمتك یا ارحم الراحمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر : ''٢٨''

وفات نامه



اته ویشتمَه خُطبه : ''وفات نامه''

ان الحمد لله الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا هادی له و اشهد الا اله الا الله وحده وحده و اشهد ان سيدنا و حبيبنا و محبوبنا محمد عبد ه و رسوله اما بعد فا عوذ بالله من الشيطن الرجيم۔ بسم الله الرحمن الرحيم ۔ ﴿وَ مَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ اَفَاِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ وَ مَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْئًا وَّ سَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴾

وَ قَالَتْ فَاطِمَةُ رضی الله تعالیٰ عنها :

قل للمخيم تحت اطباق الثری
ان کا يسمع ذلتی وبکائيا
ما ذاعلیٰ من شم تربت احمد
ان لا اشم مد الزمان غوالیا
صبت علی الممصائب لو انّها
صبت علی الايام صرن لَيَالِيا

﴿ان الله وملئكته يصلون علیٰ النبی يا يها الذين امنوا صلوا عليه و سلموا تسليما﴾ اللهم صل علیٰ سيد نا محمد و علیٰ ال سيد نا محمد و بارك و سلم تسليما كثيرا كثيرا۔

زما عزتمندو مشرانو او ګرانو آؤريدنکو ما چی کوم آيت کريمه ولوستو دا دَ سورة آل عمران دځلورمی پاری يو سل ځلورځلويښتم نمبر آيت دے. په دی کښی دَ تمام امت يو لوئی غم او يو لوئی درد ذکر شوی دی د نبی محترم ددنيا نه رحلت خو بطور تمهيد يو څو خبرے ذکر کوم مونږه هم نن اقرار کو و او دعوٰی کوو چی د نبی ﷺ امتيان يو

زمونږ د نبی محترم ﷺ سره محبّت دے خو زمونږ دا دعویٰ زمونږ دا آوازونــه چی مــونږ پیــغـمبر ﷺ سره مینــه کوؤ پــه دے کښی مونږ اکثریت په دی خپلو دعوو کښی درو غژن یو. دَ نبی ﷺ سره په صحیح مـعنو کښی محبّت کونکی صحابه کرام رضی اللہ عنہم وو چی د هغوی د نبی ﷺ سره کـومـه مینــه او کوم محبت وو په دنیا کښی د هغی نظیر او مثال نشته هغوی د نبی محترم ﷺ په اشاره باندی خپل سرونه قربانی کول خپل بچی یتیمانان کولو ته تیاروو. خپلو پیغلو بیبیانو کنډو کولو ته تیـار وو د هـغـی مـخـی تـه هـر و خت د نبی ﷺ ر ضا پرته وه د نبی ﷺ د مـنشـاء مطابق ئی ژوند تیرا وو یو روځ نبی علیه السلام په لاره روان وو یـو صـحـابـی یـو مـکان جو ړ کړی وو په هغی څه دا سی ګنبدونه جوړ کړی وو چی د نبی ﷺ خوښ نه شو د هغی د نړولو حکم ئی نه وو کړی په لاری تلو ملګروته ئی وی یره دا پکښی لا چا جوړ کړی هغه صحابی خبـر شـو، زمـا مـحبـوب پـه دی ځائـے د ناراضتیا او خفګان اظهارکړی هغه آبادی ئی ختم کړو.

یو صحابی رضی اللہ عنہ راغـــے. سیدنا عبد اللہ بن عمرو بن العاص رضی اللہ عنہ دَ هغه یو څـادر پـه سر وؤ . هغه څادر زیړ رنګ والا وؤ نو نبی ﷺ هغه ته دا وؤ نه وئیـل چی دا څادر لری کړه. وائی هلکه دا تا څه په سر کړی دی؟ صرف دومـره قـدر خبره وه، سیدنا عبد اللہ بن عمرو بن العاص رضی اللہ عنہ فوراً کور ته راغـــے او هغه څادر ئی د انغری په اور کښی وا چولو بیا راغـــے نبی ﷺ ورتـه وائـی څـادر دِ څـه کـړو؟ هـغـه وائی جی ما وسوزولو. نبی ﷺ ورته وائـی زنـانـو تـه به دی ورکړے وو، هغوی په استعمالولو څه بدیت خو پکښی نه وو. بیا د هغوی نه دا نه برداشت کیده داسی ګنړ واقعات دی.

یو روځ نبی ﷺ په جومات کښی تقریر فرمائیلو نبی ﷺ خلقو ته وئیل کینئ "اجلسو" بهر دوه ملګری را روان وو جومات ته راتله هغوی دا خبره بهر واؤریده هغوی هلته کیناسته نبی ﷺ دلته وئیل کینئ هغوی هلته کیناسته تقریر ختم شو او هلته سخته ګرمی وه . نور باندی ناست وو خولی پرے بهیدی زمکه لمده شوه چی صحابه کرام هغوی ته نظر اوکړو چونکه د نن صبا دا مکانات دا بلډنګونه دا عمارات دا څیزونه خو هغی و خت کښی نه وو سا ده تر تیب وو هغه ملګری خپل مینځ کښی وائی دی دماغو کښی فرق را غلی دی غریبانان په نور ناست دی نبی ﷺ د هغوی نه تپوس او کړو چی کوم څیز تا سو دلته کینولی ئے په دی غرمو څه نذر مومنلی دی که ، نبی ﷺ ته وائی تاسو کینولی یو، تاسو وختی اُووئیل کینئ بس مونږ کیناستو. داسی دَ نبی ﷺ تابعدار داسی محبّت کؤنکی. دَ نبی ﷺ محبّت ئی په رګ رګ کښی ننوتی وو. دَ زنانؤ دَ ماشومانو دَ مشرانو که هغوی ته چرته تکلیف رسیږی څوك ئۍ تپوس کوی ستا څه حال دی، د خپل حال جواب نه ورکوی وائی زما محبوب څه حال کښی دی چی خبریږی چی نبی ﷺ روغ رمټ دی. نو وائی زما ټول مصیبتونه په ما آسان دی دومره محبت د صحابه کرامؓو د نبی ﷺ سره هغه صحابه کرام د نبی ﷺ د اودس او به ښکته نه پریږدی. هغه ځان سره جمع کوی د نبی ﷺ د بدن مبارك ویښته ځان سره محفوظ سا تی. دَ نبی ﷺ دَ معطر او منور مبارك بدن ویښته دی دځان سره ئۍ سا تی. سیده ام سُلیم رضی الله عنها د نبی پاك ﷺ د بدن خوله ځان سره سا تی. نبی ﷺ ور ته وائی په دی خوله څه کوی هغه وائی چی زۀ دا بطور عطر

کور کښی استعمالوم. نبی ﷺ که ښکته توکانړی توکی نو صحابه کرام رضی الله عنهم هغه ښکته نه پریږدی. دومره صحابه کرام رضی الله عنهم په نبی ﷺ مئین وو.سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی کومو خلقو چی دَ سیدنا یوسف علیه السلام حسن لیدلی وو، کومو زنانۂ دَ مصر چه خپلی ګوتی سیری کړی وی. او کومو خلقو چی زما د محبوب عربی دَ اَخلا قو کردار لیدلے دے هغوی خپل سرونه قربان کړی چی د مخی نه دا سی شخصیت پناه کیږی. دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم به څه حال وو.زمونږ نن موضوع ده دَ نبی ﷺ د مرګ لږی خبری کول. دا څه و ړه سا نحه نه وه په احادیشو کښی راځی په مدینی والو دا ټولونه لویه خوشحالی هغه وه چی په کومه روځ نبی ﷺ مدینی ته را غلی وو. معصومانی جینکئی لوئی وا ړه ټول خو شحاله وو او بیا لوئی غم هغه وو چی په کومه روځ نبی ﷺ و فات شوی وو لکه حدیث پاك کښی راځی نو صحابه کرام رضی الله عنهم په نبی ﷺ باندی انتهائی مئین وو او چی د هغوی د مخی نه نبی ﷺ پر ده فرمائی ددنیا نه ځی دا به کوم حال وو بعض علماء کرام ذکر کوی چی د بعضی صحابه کرامو ا ژبان بند شو، خبری تری نه کیدی چی پیغمبر ﷺ و فات شو بعضی ملګری د هغه علاقی نه اخوا لا ړل چی دآواز او اعلان را باندی نه لګی سیدنا عمر رضی الله عنه توره راویسته او اعلان ئی اوکړو که چا دا خبره وکړه چی نبی ﷺ و فات شوی دی سربه تری قلم کړم . ابو بکر رضی الله عنه د مدینی نه بهر و تلی وو. چی کله هغوی راغله او خبر شو چی نبی ﷺ و فات شوی دے. سیدنا ابوبکر رضی الله عنه خویار غار وو کنه. د نبی ﷺ د غار ملګری وو. داسی څه عام ملګری خو نه وو. داسی ملګری وو چه دَ سیرت په بعضی کتابونو

کښی راځی اګر چه سنداً وربانډی کلام دے چی کله نبی ﷺ هجرت کوو. غار ثورته لاړو. سیدنا ابوبکر ؓ مخکښی ننوتو، هغه ځائے ئی پاك راپاك کړو. غار کښی سوراخونه وی هغه ئی بند کړل. که په دی کښی څه زهریله څیزوی چی نبی ﷺ ته تکلیف اونه رسوی نبی ﷺ دَ سیدنا ابو بکر ؓ په پتون باندی ډډه لګولی وه سیدنا ابوبکر ؓ ته مار ټك ورکړو خو هغوی غږ نه کؤلو وئیل ئ زما محبوب آرام فرمائی هسی نه ګډوډ شی. دَ نبی ﷺ په مخ باندی دَ سیدنا ابوبکر ؓ د سترګو نه او ښکه راپریوته دَ دردونو دَ وجی نه نبی ﷺ فرمائی ابو بکر! دا ولی؟ هغه وائی چی د غه چل شوی دی غږ می نه کولو ما وی آرام کښی به مو خلل وا قعه شی . نبی ﷺ پری دم وا چولو. لاړی ئ پری اومړلی.

سیدنا ابوبکر ؓ چی راغے وی کتل د نبی ﷺ روح پرواز کړی دے، د نبی ﷺ مخ مبارك ئی ښکاره کړو. حدیث پاك کښی راځی دَ صحیح بخاری ۴۱۸۸ نمبر حدیث دے چه سیدنا ابوبکرصدیق ؓ نبی ﷺ لره ښکل کړو، او د سترګونه ئی اوښکی روانی شوی نو په ژړا ژړا کښی ئی او فرمائیل "بِاَبِیْ اَنْتَ وَ اُمِّیْ وَاللہ لَا یَجمع اللّٰہ عَلیکم مَّوتَتَیْن" ځما مور پلار درنه قربان شه قسم می دِ وی په الله ، الله تعالیٰ به په تا دوه مرګه نه جمع کوی. مطلب استاذی المحترم شیخ سلیم الله دَ دے حدیث شرح کښی ذکر کوی چه د سیدنا ابوبکر ؓ مطلب رد د سیدنا عمر ؓ د خبرے وو یعنی تا د پاره یو مرګ لیکلی شوی وو او هغه مرګ په تا راغے. سیدنا ابوبکر ؓ ملګری را جمع کړل. سیدنا عمر ؓ هم پکښی وو. سیدنا عمر ؓ اعلان کړے وو چی نبی ﷺ ته به مړ نه وائ. سیدنا ابوبکر ؓ تقریر اوفرمائیلو امام بخاریؒ د هغه دا

تقریر نقل کړی دی. هغه ټیم ئی ځان ډیر کنټرول کړه. اووی فرمائیل.
''من کان منکم یعبد محمداً فان محمداً قدمات'' اے خلقه یاد ساتے په تاسو کښی چی چا د پیغمبرﷺ عبادت کولو یقیناً دی خو وفات شو. اوس به دَ چا عبادت کوئ ''و من کان منکم یعبد رب محمد فهو حی لا یموت'' او په تا سو کښی چی چا د محمدﷺ رب عبادت کوو. په هغه ذات خو مرګ نه راځی هغه به همیشه ژوندی وی او بیا دَ سورة ال عمران دا آیاتونه سیدنا ابوبکرؓ ولوستئ.
﴿و ما محمدالا رسول﴾ نه دے محمدﷺ مګر دَ الله رالیږلی شوے ﴿قد خلت من قبله الرسل﴾ په تحقیق سره تیر شوی دی مخکښی دَ دۀ نه ګنړ پیغمبران ﴿اَفَاِنْ مات﴾ آیا که دے مړ شو ﴿او قتل انقلبتم علیٰ اعقابکم﴾ او یا اووَژلی شو نو آوړے به تاسو په خپلو پوندو باندی ﴿ومن ینقلب علیٰ عقیبیه﴾ څوك چی واؤړیدل په خپلو پوندو باندی ﴿فلن یضر الله شیئًا﴾ نو ضرر نه شی ورکولی الله ته دَ هیڅ څه ﴿وسیجزی اللهالشکرین﴾ او الله مؤ حدینو ته ښے بدلی ورکوی.
سیدنا ابوبکرؓ چی تقریر وفرمائیلو نو سیدنا عمرؓ وائی چی ما وی که دا آیت اوس نازل شو . حالانکه دا آیت دَ غزوه اُحد په موقع نازل شوی وؤ. او بیا هغه اعلان وکړو ملګرو ته چی ما وی چی پیغمبر ته به مړنه وائئ. ما په قرآن او سنت کښی دا خبره نه وه لوستی . دا ما په خپل عقل او خپل رائے باندی وی. ما وی چی پیغمبرﷺ به زمونږ تولو نه چرته آخر کښی وفات کیږی. دَ نبیﷺ وفات دَ هغه وخت کښی یو لویه سانحه وه یو لوئی غم وو. او یو لوئی درد وو. نبیﷺ ابتداءً بیمار شو. د مرض د ابتداء ئی ددرد سر نه شروع شوه. د سردرد

پری را غی. د سر درد پری کله را غلی وو. زمونږ دا زنانه ور ته د چورئی میاشت وائی صفر المظفر ددی میا شتی په آخر کښی د نبیﷺ په سر درد شروع شو اورځ د شورو وه او ور سره ئی تبه هم شروع شوه چی زمونږ خلقو بیا وی چی نبیﷺ په د غه میا شت صفره کښی خه شوی وو. او بیا بیبیانو چوری کړی وه دا هسی فضول خبره ده پیغمبرﷺ بیا د د غی مر ض نه بنډ شوی نه وو د نبیﷺ دبدن نه بیا روح پر واز کړی وو. د پیغمبرﷺ په بیماری باندی او په غم باندی خوشحالی او چوری کول دا لوئی ظلم دی خاص کر په د غی میاشت کښی تا ریخ والا ذکر کوی، دا بیماری چی شروع شوی وه دا روځ دَ شورو وه او زمونږ خلق چوری کوی اکثر دغی شورو ته ئی بوځی او باقاعده سنّت ئی ګنړی دَ دغی نه اجتناب پکار دے نبیﷺ مونځونو ته نه شو را و تلی . د زیارت په ورځ نبی پاکﷺ مسجد نبوی ته راو تو او د مانښام مونځ ته هم را غے د مانښام مونځ کښی ئی سوره المر سلات او لو ستو د ما سخو تن مونځ ته را تلل غو ختل خو بے هوشی به ور باندی را تله نو نبیﷺ خلقو ته ئی وئیل "مروا ابابکر فلیصل بالناس"

سیدنا ابوبکرؓ ته حکم وکړے چه خلقو ته جمع وکړی. سیدنا ابوبکرؓ مونځ کولو نبیﷺ په یو مونځ کښی بهر را و تلو د خالی یا د اتوار ورځ وه چه د نبیﷺ طبیعت لګ ګزاره حال شوی وو چه دَ سیدنا عباسؓ او دَ سیدنا علیؓ په سهارے سره جومات ته ئئ تشریف راوړو د جمع مونځ ولاړ وو، سیدنا ابوبکرؓ امام وو او دَ ماسپخین مونځ وو . سیدنا ابوبکرؓ ته پته ولګیدله نو دَ مونځ نه

واپس شو . نبی علیہ السلام باقی مونځ پرهاؤ کړو، چه کله نبی علیہ السلام فارغ شو نو سیدنا ابو بکر رضی اللہ عنہ تـه ئې ووی چه تا ته ما په لاس سره اشاره وکړه چه مـه رارُوستو کیږه نو ته وُلی روستو شوی؟ نو سیدنا ابو بکر رضی اللہ عنہ ووئیل چـه" ما کان لابن ابی قحافة ان یقدم بین یدی رسول الله ﷺ" چه دَ ابو قـحافه دَ ځوی سره دَا نه خائی چه نبی علیہ السلام مـوجود وی او هغه مُصلی ته مخکښی شی.

سیـدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ اُولّـس مـونـځـونـه دَ نبی ﷺ په بیمارئ کښی قوم ته کـړی وو د ګل په ورځ سحر نبی ﷺ د حجرے پر ده او چته کړه چه وے کتـل نـو صحابه کرامو د سحر مونځ ادا کولو چه ملګری ئی اولیده نو ډیـر خـوشـحاله شو. او بیا صحابه کرامو هم دنبی ﷺ زیارت اوکو او داد نبی علیہ السلام سره آخری مو قع وه د زیارت.

سیـدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ را غـــے چـه اے د الله رسوله ستاسو طبیعت نـن لږ ښه دے که اجازت وی چه ځه د حبیبه بنت خارجه خوا ته لاړ شم ځـکه دا د سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ بـلـه بـی بی وه او په حوالئی مدینه کښی دَ سُـنـح پـه مـقـام کښی اوسیـده . پـه د غـه ورځ تکلیف بیا سیوا کیدل شروع شـو. تـا ریـخ و فـات د ربیـع الا ول میـا شت د ګل ورځ باندی خو اتفاق دے خو تاریخ کوم یو وو بعض وائی ۲ ربیع الاول بعض وائی یکم ربیـع الا ول مشهـور قـول چـه زیـات اصـحاب سیرذکر کړیدے نو ۱۲ ربیـع الاول .څـنـګـه چـی نبی ﷺ پـه تـاریـخ و فات کښی یو زبردست اختـلاف دی. او د غـه اختـلاف ئـی پـه ډیټ آف برتهـ کښی دے، پـه تـاریـخ پیـدائیش کښی دے، اکثر مؤرخین خو ذکر کوی چی 12 ربیع الاول بـانـدی نبی ﷺ پیـدا شـوی دی خو دا خبره هم صحیح نه ده او په

12ربیع الاؤل باندی و فات شوی دی. دَ دی مشرا نو په علم کښی به وی کشرانو ته به غالبًا پته نه وی څه لس اتلس کاله مخکښی به خلقو خیراتونه کول چی د باره فات میاشت ده باره و فات دے حکمت دا دی چی الله تبارك و تعالیٰ د نبی ﷺ تاریخ پیدائش او تا ریخ و فات دا پټ سا تلی دی چی هسی نه سباته بیا خلق دَ نبی ﷺ په پیدا ئش باندی اخترونه مناؤل شروع نه کړی جلوسونه ایستل شروع نه کړی څنګ چی بعضو علا قو کښی پنجاب طرف ته په 12ربیع الا ول باندی اخترونه منا وی اے ظالمانو وے تا سو نه تپوس کوو ځه تا سره دا خبره منو چی په 12ربیع الا ول پیغمبر ﷺ دنیا ته را غلی دی او بیا په دی میا شت کښی نبی ﷺ و فات شوی دی. ستا نه تپوس کوو ستا یو بچی دی تا ته ډیر محبوب دی هغه یوه میاشت کښی پیدا شوی دی. او بیا ځه مو ده پس و فات شوی دی په د غه کال د غه میاشت کښی بیا ته هغه برتې مناؤی او کنه هغه و خت را شی نو په ته د هغه دغم اثرات سوا شی ته خووائی په دی میاشت کښی په دی هفته کښی زما ځوئی و فات شوی هغه غم هغه یا دونه نور هم تازه شی وه ظالما چی په کومه میا شت کښی په کومه هفته کښی نبی ﷺ و فات شوی ته په هغه روځ اختر مناؤی عید میلاد النبی ﷺ مناؤے د پیغمبر ﷺ په و فات باندی خو شحالی مناؤے. د نبی ﷺ په و فات باندی عید او اختر و میلی مناؤے. دا څومره غټ ظلم دی . دا هغه اصلی خبره ده . اکثر ذکرکوی چی په 12ربیع الا ول د نبی ﷺ د جسم اطهر رو ح منور پر واز کړی وو. اسماء بنت عمیس دا را غله او د نبی ﷺ دا ا و ګو په مینځ کښی ئی لاس کیخودو اووئیل ئی چی د نبی ﷺ په بدن کښی خو رو

ح نشته ام سلمهؓ دا د نبیﷺ بی بی وه دا را غله محدثین ذکر کوی ام سلمهؓ د نبیﷺ په سینی مبارکی لاس کیخودو. دا سی چی کور کښی څوك بیمار وی دا سی حالات را شی نو خامخا سړی دا سی په زړه باندی په ملا په رګونو لاس کیدی نو وئیل ئی. چی ساه خو پکښی نشته. نو بله خبره کوی ام سلمه وائی چی بیا څو څو هفتی زما دا لاس نه دَ مشکو عنبرونه زیاته خوشبو تلله حالانکه هغی به وینځلو هم اودس چار اندام نور ضروریات لوښی وینځلو باوجود هغی څو څو روځی دَ مشکو عنبرونو نه زیاته خوشبو راتله. سیدنا علیؓ نه چا تپوس اوکړو یره جی ستا خبری ډیری یاد پاتی کیږی حافظه دِ ډیره مضبوطه ده هغه وائی چی مونږ کله نبیﷺ ته غسل ورکولو دَ نبیﷺ په روزو مبارکو په بنړو مبارکو داوبو څه قطری پاتی شوی وی هغه ما په ژبه سره اوسټلی بس د هغی نه پس زما حافظه ډیره مضبوطه ده او سیده عائشه رضی اللہ عنها فرمائی مجمع الزوائد اتم جلد ۳۳۱ او مسند بزار هم روایت ذکر کړیدے ''مات النبیﷺ فلما خرجت نفسه ما شممت رائحته قدر اطیب منها'' او دا رنګه نبیﷺ ته بیا غسل ور کړی شو او بیا دا نبیﷺ جنازه ادا کړی شوه یاد او سا تے دا خبره پنجاب طرف ته بریلیان وائی چی نبی پاكﷺ هغه و فات نه دی هغه حیات دی په حیات دُنیوی سره حج او عمرو ته هم راځی بیبیانو سره تعلق ازدواج هم قائموی د لرے او نزدے نه هم اوری هم وینی . هغی خپلو جماعتونو ته نو مونه ایخی دی ''حیات الانبیاء'' هغی وائی نبیﷺ ژوندی دی هغه خپلو عا شقانو کره تشریف اوړی . مونږ وایو هغه ژوند شته خو هغه ددنیا ژوند نه دی هغه دَ دُنیا دَ ژوند نه ډیر

اعلیٰ دی. ډیر ارفع دی، ډیر اکمل دی ډیر د خو شحالئ دی هغه زمونږ د عقل نه بالا تردی. حالانکه فتاویٰ دارالعلوم دیوبند ۲۶۵ لیکلی دی " انبیاء کرامؑ کی حیات شهداء کی حیات سے بھی اقویٰ واتم ہے اور مراد اس حیات سے حیات دنیا وی ظاهری نہیں ہے جیسا کہ ارشاد باری تعالیٰ ہے انك میت و انهم میتون لهذا احکام اموات ظاهر یہ سب پر جاری ہوتے ہیں" او دا ځما او ځما دا ستاذانو عقیده ده .

چی کله نبی ﷺ ژوندی دی بیا نبی ﷺ ته غسل ولی ور کولی کیږی ؟بیا په نبی ﷺ باندی جنازه و کړی شوه په هغی جنازه کښی امام نه وو دا بعضی ملګری تپوس کوی په نبی ﷺ باندی نماز جنازه چا ادا کړی وو. نو په نبی ﷺ باندی په جمعی سره نماز جنازه نه وه ادا کړی شوی. بس نارینه را غله په نبی ﷺ باندی ئی جنازه اداکړه زنانه را غلی ما شومان را غله او ځانته ځانته ئی جنازه وکړه په دی طریقی سره په نبی ﷺ باندی جنازه ادا کړی شوه بیا د نبی ﷺ د دفن په باره کښی اختلاف را غلو چی نبی ﷺ په کوم ځائے د فن کولی شی چاوئیل په مدینه منوره کښی په جنت البقیع کښی او چا وئیل په جنت المعلی کښی په مکه مکرمه کښی په دی کښی ابوبکرؓ راغلو، او ابو بکرؓ و فرمائیل چی ما دَ نبی ﷺ نه آؤریدلی وو چی انبیاء علیهم السلام هغه ځائی کښی د فن کولے شی چی کوم ځائی ترے روح پرواز کړی وی او کنزل العمال ۸۷۴۴نمبر روایت کښی د سیده عائشیؓ نه هم نقل دی چی "لما مات النبی ﷺ قالوا این یدفن فقال ابو بکر فی المکان الذی مات فیه" او دا رنګی تفصیلی روایت امام ترمذی هم ذکر کړیدے.

هلته به نبی ﷺ د فن کولی شی چی کوم ځائے چه ترے روح پرواز کړے نو بیا په حجره مبارکه دَ اَمّاجی سیده عائشهؓ په کور

کښی نبی ﷺ د فن کړی شو د عائشہؓ نه روایت دی هغه وائی "ان من نعم الله علی" الله خو په ما ډیر نعمتونه کړی دی خود الله تبارك و تعالیٰ یو نعمت دادی. چی "ان رسول الله توفی فی بیتی و فی یومی و بین سحری و نحری"

دَ الله یو نعمت دا دے چه "توفی فی بیتی" چی دَ نبی ﷺ نه زما په کوټګئی کښی ساه وتلی وه "و فی یومی" او په د غه روځ نمبر هم زما سره وو، ځکه دَ نبی ﷺ دَ بیبیانو د پاره و ختونه مقرر وو وائی دا په ما دَ الله پاك ډیر لوئی نعمت وو "و بین سحری و نحری" او نبی ﷺ په هغه و خت کښی زما په غیږه کښی وو "ان الله تعالیٰ جمع بین ریقی و ریقه عند موته"

سیده عائشه رضی الله عنها وائی د نبی ﷺ د مرګ په و خت کښی زما لاړی او د نبی ﷺ لا ړی د الله یو ځائے کړی وی. هغه څنګه هغه داسی چی عبد الر حمن بن ابی بکر دادعائشیؓ رور وو. هغه راغلو نبی ﷺ دَ سیده عائشه رضی الله عنها په غیږ کښی وو لږ وخت پس به ساه ورکوی عبدالرحمن بن ابی بکرؓ راغے "وبیده سواك" په لاس کښی ورسره مسواك دے نبی ﷺ د بیمارئ په حالت کښی داسی مسواك ته کتل، سیده عائشه رضی الله عنها وائی چه زهٔ پو هه شوم چونکه مینه ئی ورسره ډیره وه، ما وئیل اے د الله رسوله ﷺ "اخذه لك" دا مسواك تری تا ته واخلم، نبی ﷺ خبری نه شوی کولی سر ئی ورکولو، "فا شاره الیه بنعم" اشاره ئی وکړه چی آو، ما دَ خپل رور نه هغه مسواك واغستو په دی کښی د مسواك اهمیت طرف ته اشاره ده مونږ مسواك نه کوؤ بیا سړی ته ډیر تکلیف وی دَ غابنونو، مسواك

کول مستقل سنت طریقه ده او په سنن نسائی کښی حدیث دے نبی ﷺ فرمائی "السواك مطهرةٌ للفم و مرضاة للرب"

او گوره د غه و خت کښی نبی ﷺ مسواك ته گوری نو په دی و جه ملگرو عزم اوکړے چی انشاء الله مسواك به خپل معمول گرځوؤ. مسواك ډیرښه څیز دی عبادت دی بعضی ائمه خووائی د هر مونځ نه مخکښی واجب دی او بعضی وائی سنت دی.

هغه مسواك سخت وو ما وئیل اے د الله رسوله الینه لك دا مسواك تا ته نرم کړم نبی ﷺ خبری نه شوی کولی سرئی وړکولو "فلینته" نبی ﷺ ته می مسواك نرم کړو بیا می نبی ﷺ ته مسواك ورکړو. نبی ﷺ په هغه وخت کښی مسواك رو رو په غاښونو کښی وخلو. او د نبی ﷺ مخی ته یو لوخی وو چه پکښی اوبه وی. بعضی مفسرین دَ دی حدیث په شرح کښی ذکر کوی چی څوك د بیمارئ په حالت وی تبه وی یا وربانده څه نور څه تکلیف وی نو لاس دی په ابو کښی وهی او په تندی دی راکاږی . او که پخپله نشی کولی بل چا ته پکار دی چی کوی "فیمسح وجهه" نبی ﷺ به خپل لاس په تندی راخکلواو هغه تیم ئی وئیل "لا اله الا الله" د تو حید کلمه ئی وئیله و یقول "لا اله الا الله الاان للموت سکراة"

یقینا د مرگ خوډیری سختی دی "لا اله الا الله انّ للموت سکراة" دَ مرگ خو ډیری سختی دی حدیث کښی راځی "ثم نصب یده" بیا نبی ﷺ دا سی لاس آسمان طرف ته پورته کړی وو او هغه تیم وائی "فی الرفیق الاعلیٰ" یا الله ما هغه اعلیٰ علیین هغه نیکانو ملگرو انبیاؤ، صدیقین، شهداؤ او صالحینو ته ورسوی او لاس ئی

پورته کړی. دَ اما جی سیده عائشه رضی الله عنها په غیږ کښی نبی ﷺ دی او هغه ټیم وائی "ان للموت سکراة، اللهم فی الرفیق الاعلیٰ. حتّٰی قبض" تردی چی ساه ئی پرواز و کړو، حدیث کښی دی. چی نبی ﷺ لاس پورته کړی وو او لاس ئی داسی ښکته راپریوتو، دا ډیر سخت وخت وو. سیدنا انس رضی الله عنه یو صحابی دے د نبی ﷺ خادم خاص دے. سیدنا انس رضی الله عنه د مالك ځوئی دے او دَ سیدنا ابو طلحه رضی الله عنه پرکتې دے او دَ سیده اُم سلیم رضی الله تعالیٰ عنها ځوئی دے. د نبی ﷺ خادم خاص دی او دَ نبی ﷺ دَ وفات زیات احادیث دَ اُم المؤمنین سیده عائشه رضی الله عنها نه نقل دی او دَ سیدنا انس رضی الله عنه نه نقل دی. سیدنا انس رضی الله عنه وائی چی کله نبی ﷺ باندی بیماری زیاته شوه "جعل یتعشاه" په نبی ﷺ باندی به بیهوشی راتله ډیر دَ تکلیف نه به بے هوشه وو.

دنبی ﷺ یوه نیاز بینه لور وه فا طمۃ نبی ﷺ په فرمائیل دا زما دَ زړه ټکړه ده دا به د جنتی زنانو سرداره وی. هغی چی په خپل بابا جان باندی تکلیف اولیدو هغی هغه ټیم یوه چغه و هله . اے زما دَ بابا جان تکلیفه نبی ﷺ اوفرمائیل "لیس علیٰ ابیك کرب بعد الیوم" ستا په پلار باندی به دی نه پس بل تکلیف نه وی دا آخری تکلیف دے "فلما مات" چی کله نبی ﷺ وفات شو، سیدنا انس رضی الله عنه فرمائی: "فلما مات" چی نبی ﷺ وفات شو" قالت فاطمة" نو سیده فاطمه رضی الله عنها وائی "یا ابتاه" اے زما باباجانه، دا په بخاری کښی حدیث دے بریلیان وائی نه پیغمبر ﷺ وفات نه دے او دَ مور پلار غم ډیر لوئی وی ما په تمهید کښی ذکراو کړو چی صحابه کرام رضی الله عنهم څومره په نبی ﷺ باندی مئین وو چی دَ هغوی دَ مینځ نه دومره غټ شخصیت پرده

فرمائی نو دا به څومره غټ غم وو. نو سیده فاطمه رضی الله عنها وائی "یا ابتاه اجاب رب دعاه یا ابتاه من جنت الفردوس مأواه، یا ابتاه الیٰ جبرئیل ننعاه"

فاطمه ژاړی. خودا هغه شان ساندی نه وائی دا ځانته لګیا ده اے زما بابا جانه تا دخپل رب دعوت قبول کړو ته خپل رب ځانته وغوختی، ته زمونږ نه لاړی، جنت الفردوس ستا ځائے دے، ته بیا دنیا ته وا پس نه راځی چی ته به په دنیا کښی ګرځی "یا ابتاه الیٰ جبرئیل ننعاه" اے بابا جانه ! مونږ ستا د مرګ خبر جبرئیل ته ورکوؤ چی زمونږ بابا جان وفات دے ځکه جبرئیل به راتلو حدیث کښی راځی "فلما د فن" نبی ﷺ د فن کړی شو په نبی ﷺ باندی خاؤری انبارکړی شوی دَ دواړو جهانو په سردار باندی نو سیده فاطمه رضی الله عنها سیدنا انس رضی الله عنه ته وائی.

سیده فاطمه رضی الله عنها سیدنا انس رضی الله عنه ته یوه عجیبه خبره کوی، انس ستاسو نه دا برداشت کیده چی هغه خوږ پیغمبر ﷺ باندی په هغه بدن مبارك باندی خوری اچولی او فاطمی رضی الله عنها هغه و خت څه اشعار وئیلی وو.

قل للمخيم تحت اطباق الثرى
ان كا يسمع ذلتى وبكائيا
ما ذا علىٰ من شم تربت احمد
ان لا اشم مد الزمان غواليا
صبت علي المصائب لو انّها
صبت علي الايام صرن لَيالِيا

سیده فاطمه رضی الله عنها وائی چی په ما باندے خو ډیر

مصیبتونه را واچولی شو، د خپل بابا جان غم سره پلار می لاړو که دا غمونه په روځو باندی واچولی شو نو روځی به تکی توری شپی شی. دَ نبی ﷺ دَ غم ډیر زیات ګران وخت وو، په صحیح مسلم کښی اوږد حدیث دے.


دَ نبی ﷺ تربیت یوے زنانه کړی وو ام ایمن دا نبی ﷺ ته دَ پلار نه په میراث کښی پاتی شوی وه نبی ﷺ به ئی کله کله زیارت ته تلو او دا وینځه وه بیا نبی ﷺ وفات شو. سیدنا ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ سیدنا عمر رضی اللہ عنہ ته وائی عُمره! راځه کنه چی دَ اُم ایمن خبر ته لاړشو. کله کله به ئی نبی ﷺ خبر ته تلو چی کله دَ اُم ایمن رضی اللہ عنہا خبر ته لاړل. ''فبکت'' نو هغه په ژړا شوه. مونږ ورته وئیل ته ولی ژاړی؟ نبی ﷺ ته اللہ هلته ډیر هر څه تیار کړی دی. نبی ﷺ خو هلته په مزو کښی دے، هغے اُووے په دے نه ژاړم اللہ سره چی څه دی هغه پیغمبر ﷺ دَ پاره غوره دی خو ''ان الوحی قد انقطع'' زهٔ په دی ژاړم چی دآسمان نه به وحی راتله هغه بنده شوه په دی ژاړم. نو سیدنا ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ او سیدنا عمر رضی اللہ عنہ هم په ژړا شو په دی وجه په احادیثو کښی راځی چی کله ''اذاجاء نصراللہ'' سورة نازل شو نبی ﷺ فاطمی رضی اللہ عنہا ته آواز وکړو. فاطمه دلته راشه، هغی ته ئی غوږ کښی پټه خبره وکړه. هغه خبره څه وه؟ وائی بچی دا سورة نازل شوے دے په دے سورة کښی زما دَ مرګ پیغام دے نو سیده فاطمه رضی اللہ عنہا په ژړا شوه بیا نبی ﷺ دوباره بله خبره وکړه دا بیا هغی سره په خندا شوه، بیا سیده عائشه رضی اللہ عنہا او نورو بیبیانو دے ته اُوئیل اُووایه تاته پیغمبر ﷺ څه پټه خبره وکړه دی ورته نه

وے خو کله چه نبیﷺ وفات شو نو فاطمی بی بی ورته اُوئیل اُوس بـه درته هغه پتـه خبره وکړم. په اوله پیره ئی را ته اُوئیل بچی زه تاسو نـه روان یـم نـو مـا اُوژړل په دویمه پیره ئی را ته اُوئیل بچی فاطمی په ټولـو کښـی بـه اول ته ما سره ملاویږی بیا زهٔ خوشحاله شوم او وَئیل ئـی ته به دَ جنت د زنانو سرداره ئی بعضی محدثین وائی چی فاطمه رضی الله عنها شپږ میاشتی پس وفات شوه یعنی هغه زیات تنهائی او زیـات غـم ئی برداشت نه کړی شو په دے وجه د مدینی والو د ټولو نـه غـټ غـم هـغـه د نبیﷺ وفـات وو چی مونږ او تاسودا کله کله دا واقـعـات دا احادیث دا خبری را مخی ته کوو. لګی جړا ګانی ور باندی کـوو د نبیﷺ پـه مـونـږ بـانـدی هـغـه احسانونـه دنبیﷺ زمونږ او ستـاسـو د پـاره هـغه جړا ګانی چی زمونږ او ستاسو مخی ته وی بیاد نبیﷺ و فـات داحادیث داسی نور ګنړا حادیث شته په دی باب کښی امام بخاری باب قائم کړی باب وفات النبیﷺ، صاحب مشکوٰة دری فـصـلـه راوړلـی دی پـه هغی کښی ګنړ احادیث دی. ان شاء الله که مو قعه وه څه احادیث به په بله مو قعه اُوایو.

اقول قولی هذااستغفرالله لی ولکم ولسائر المسلمین.

خطبہ نمبر: ”۲۹“

تعزیّتی بیان



یو کم دیرشمَه خُطبه : ''تعزیّتی بیان''

الحمد لله و کفی و سلام علیٰ عباده الذین اصطفیٰ اما بعد فاعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم . قال رسول الله ﷺ اذامات ابن آدم انقطع عمله الا من ثلاث من صدقةٍ جاریةٍ. او علمٍ ینتفع به او ولد صالحٌ یدعوا له.

عزتمندو مشرانو ما دَ نبی پاك ﷺ یو حدیث مبارکه اولوستو په دی غرض سره چی د نبی پاك ﷺ دا ارشادات مونږ او تاسو واؤرو. او مونږ او تا سو کښی که څه کمی وی چی دَ هغی دَ ختمولو کوشش وکړو. او که په هغه عمل باندی کار بند یو نو چی دَ الله تبارك و تعالیٰ شکر او حمد ادا کړو. او دین آؤریدل او هغی ته غوږ کیخودل دا هم یو عمل دے او دَ هر نیك عمل نه روستو دعا ګانی قبلیږی. او مونږ راغلی یو دَ تعزیت او دَ دُعا دَ پاره، دَ لاس نیوی دَ پاره، دا چی کوم مشر دَ دُنیا نه تشریف اوړلی دے چی د هغوی په حق کښی دَ مغفرت دعاګانی اُوشی او دَ هغوی دَ پسماندګانو دَ پاره صبر جمیل تلقین اوشی.

دَ حدیث پاك دَ ترجمی نه مخکښی زمونږ او ستاسو ذهن کښی دِ وی چی دا عامه خبره نه ده دا معمولی خبره نه ده دا دَ عام انسان خبره نه ده او نبی پاك ﷺ چی کوم ارشادات فرمائیلی نو هغه هم یوه وحی ده ځکه په معاشره کښی څه داسی خلق شته چی هغوی دَ نبی ﷺ احادیشو ته دَ بکواسو نسبت کوی (نعوذبالله) او هغوی وائی دا احادیث ټول ګپ شپ دی حالانکه په قرآن کریم کښی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿و ما ینطق عن الهویٰ ان هو الاوحی یوحیٰ﴾ پیغمبر پاك ﷺ چی یوه خبره کوی دَ ځانه ئے نه کوی الله تبارك و تعالی په قرآن کریم کښی فرمائی ﴿وما اتکم الرّسول فخذوه و ما نهکم

عنه فانتهوا﴾ ، بل ځائے فرمائی: ﴿قل ان کنتم تحبون اللہ فاتبعونی یحببکم اللہ﴾

دَ اللہ تبارك وتعالیٰ حکم څه دے؟ ''اطیعوا اللہ'' نو ورسره فورًا دا حکم هم شته ﴿واطیعوا الرسول﴾

چی کوم خلق وائی مونږ احادیث نه منو نو هغوی قرآن کریم هم نه منی ځکه اللہ تبارك و تعالیٰ په قرآن کریم کښی فرمائی. ﴿واٰتوا الزکوٰۃ﴾ چی زکوٰۃ ادا کړئ، نو دا زکوٰۃ په څه کښی دے؟ نو دا زکوٰه په څومره مال کښی دے؟ نو په څاروؤ کښی به څومره زکوٰۃ وی؟ په نقدیت کښی به څومره زکوٰۃ وی؟ په سونا چاندی کښی څومره زکوٰۃ دے؟ دَ عشر څه مسئله ده؟ د نصف عشر څه مسئله ده؟ زکوٰۃ به چاته ورکوؤ؟ زکوٰۃ به څومره ورکوے؟ دَ هغی تفصیلات ټول په احادیثو کښی دی اللہ رب العزت په قرآن کریم کښی فرمائی ﴿السارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما﴾

دَ غلاګر سړی او غلا ګری ښځی لاس کټ کړے. دَ لاس کټ کول په څومره مال دی؟ که یو سړے بار بار غلا کوی دَ هغه به څه سزا وی؟ اوس دَ دی آیاتونو دَ وضاحت مونږ احادیثو ته محتاج یو اللہ تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿اَقِیْمُوا الصَّلٰوۃ﴾

مونځ ادا کړے نو په کومو ټیمونو ئې ادا کړو دا رنګی په مونځ کښی به رکوع کوم ترتیب سره کول پکار وی سجده به کوم ترتیب سره کول پکار وی د مونځ دَ ادائیګئ تفصیلی طریقه کار دَ نبی ﷺ په احادیثو مبارکو کښی دے. په دی وجه څوك چی د نبی ﷺ دَ احادیثو صحیحو نه انکار کوی نو دوی دَ قرآن مجید دَ آیاتونو نه

انکار کوی .

بعضی خلق وائی دا احادیث چی په کومولارو رارسیدلی دی هغه شکی دی. یاد ساتے زما عزتمندو! چی په کومو لارو په کومو سندونو سره مونږ ته قرآن رارسیدلی دی په هغے سندونو مونږ ته احادیث هم رارسیدلی دی چی زمونږ او ستاسو ذهن کښی دا وی چی نبی کریم ﷺ زمونږ او ستاسو خیر خواه پیغمبر وو. چی هغوی څه فرمائیلی دی زمونږ او ستاسو دَ خیر خواهی دَ پاره ئی فرمائیلی دی او نبی کریم ﷺ ته هر یو اُمّتی ډیر گران وو. ﴿النبی اولیٰ بالمؤمنین من انفسهم﴾

نبی کریم ﷺ په دے حدیث کښی زمونږ د خیر خواهیٔ په غرض سره څو خبری ارشاد فرمائیلی دی. نبی کریم ﷺ فرمائی . او دا روایت سنن نسائی، سنن تر مذی او موطا ئینو هم ذکر کړی دے او سنن کبریٰ دَ بهیقی هم "اذا مات ابن اٰدم" سره ذکر کړے دے. او ابن عساکر په خپل معجم کښی "اذا مات العبد" سره ذکر کړی دے.

"اذامات الانسان" چی کله انسان مړ شی چی کله مونږ او تاسو مړه شو. په دی کښی مونږ ته نبی ﷺ دا خبر راکړو چی په تاسو داسی وخت را روان دے چی مړه کیږے به. ځکه د مرګ پیالے به هر انسان څکی. انبیاء علیہم السلام هم د مرګ دا پیالے څکلی.

هغی هم ددنیا نه تلی دا تمام انبیاؤ سردار د تمام انبیاؤ امام الانبیاء نبی اکرم ﷺ هم دَ دنیا نه تشریف ورلی دے. نبی ﷺ هم وفات شوے دے.

اَلْمَوْتُ قَدَحٌ کُلُّ نَاسٍ شَارِبُوهَا
والقبر بَابٌ کُلُّ نَاسٍ دَاخِلُوهَا

امام بخاری د نبی کریم ﷺ دَ وفات تذکره لیکلی ده . یو مکمل عنوان

ئی قائم کړی دی. ''باب و فات النبی ﷺ'' په هغی کښی د نبی ﷺ عمر مبارك هم ذکر کړی دی . چی نبی کریم ﷺ ته دَ څلویښتو کالو عمر کښی نبوت عطا کړی شو بیا نبی کریم ﷺ په مکه مکرمه کښی دیارلس کاله محنت وکړو. بیا د هغی نه رو ستو نبی ﷺ د مشرکینو نه تنګ شو بیا نبی کریم ﷺ ته د هجرت حکم وشو. بیا ئی لس کاله په مدینه المنوره کښی تیر کړل او د هغی نه روستو وفات شو. نو امام بخاری وائی. دَ نبی کریم ﷺ عمر هم 63 کاله وو. نبی کریم ﷺ دُنیا نه تلی. نبی کریم ﷺ و فات شوی وو د فن شوی وو حضرت فاطمہؓ خپل پلار پسی ژړلی وو. مرثیه ئی وئیلی وه .

قل للمخیم تحت اطباق الثری
ان کا یسمع ذلتی وبکائیا
ما ذاعلیٰ من شم تربت احمد
ان لا اشم مد الزمان غوالیا
صبت علی المصائب لو انّھا
صبت علی الایام صرن لَیالِیا

دغه شان نورو صحابه کرامو رضی اللہ عنہم په نبی ﷺ باندی ژړا ګانی کړی وی او زمونږ او ستاسو دا عقیده ده چی مونږ او تا سو ټول به مړه کیږو. نو د هغی دَ پاره تیاری پکار د نبی کریم ﷺ فرمائی ''اذامات ابن آدم'' چی کله سړی مړشی، ''انقطع عمله'' نو دَ اعمالو سلسله ئی ختمه شی دَ مرګ نه روستو بیا اعمال نه شی کولی. بیا قبرکښی مونځونه نشی کولی. مګر دری کا رونه شته ''الا من ثلاث'' که په خپل ژوندئی کړی وی پس د مرګه به د هغی ثواب ملاویږی. دا څومره نبی کریم ﷺ

زمونږ د خیرخواهی خبره فرمائیلی . په هغی کښی نبی ﷺ یو دا فرمائیلی "من صدقة جارية" د خپل مال دا سی ځائے کښی لګول چی د هغی فائدی دوامی وی او صدقه جاریه کول او صدقه جاریه یو څیز و قف کول هم دی د انسؓ یو روایت کښی دی چی اجر ها للعبد بعد مو ته وهو فی قبره من علم علماً او اجریٰ نهرا او بنٰی مسجداً او ورث مصحفا او ترك ولداً یستغفر له" او بعض روایاتو کښی "او بیتًا لابن السبیل بناه" هم را غلے دے او د هغی نه دویم "و علم ینتفع به" د خپل علم نه بل چا ته فائده رسول چی کومه مسئله مونږ او تاسو زده کړو چی دَ دین کومه خبره مونږ او تاسو واؤرو هغه بل ته بیان کړو. هغه نورو خلقو ته اورسؤ. نو دَ هغی ثواب به پس دَ مرګ نه هم مونږ ته ملاویږی . لکه یو روایت کښی را غلی دی "من دعا الی هدیً کان له من الاجر مثل اجور من تبعه من غیر ان ینقص من اجورهم شیئاً" چا چی څوك د هدایت خبرے ته راوغښتو، دۀ ته به دومره اجرونه او ثوابونه ملاویږی چی څومره چا ئی تابعداری کړی وی او د هغوی د ثوابونو نه به هم کمی نه کیږی. او یو بل روایت کښی را غلی دی "من سنّ سنة حسنة فله اجرها و اجرمن عمل بها الی یوم القیامة و من سن سنة سیئة فعلیه وزرها و وزر من عمل بها الی یوم القیامة" دَ مرګ نه پس هغی مور پلار دَ پاره دعا ګانی غواړی. نو مونږ او تا سو ته پکار دی چی په خپل اولاد باندی محنت اوکړو. دخپلو کورونو نه د بے حیائے څیزونه لر کړو. د بے دینی آلات ختم کړو. او په خپلو کورونو کښی د دین ما حول قائم کړو مونږ او تاسوبه مړه شو او زمونږ هغه نیکان او لاد به نیك اعمال کوی. او زمونږ د مرګ نه پس به هم مونږ د

هغی ثواب رار سیږی.

باقی ستا سو په علم کښی ده چی کله غم او شی څوك و فات شی نو دا د تحتی حلوه او دا رومبی مانښام او دادویم مانښام اودا اؤوه ما ښامونه او دا جمعی او دا څلوښتنے قسم می دی په رب داد هندوانو د ستورونه دی مړی ته ئی بالکل ثواب نه رسیږی ځکه دا کار دهندوانوپه طریقه دی . په دی وجه چی څوك خپل مړی پسی خیرات کول غواړی. نو چی کله ئی وس و شی که روژی پخوی ملګروخپلوخپلوا نو باندی ویشی دا هم صحیح ده خوبهترین خیرات هغه دی نبی کریم ﷺ فرمائی بهترین خیرات هغه دی. چی په نبی لاس سره ور کړی او ګس ته پته هم و نه لګی پټ په پټه په معاشره کښی دا سی کونډی شته. دا سی یتیمانان شته غریبانان شته دا رنګی داسی خلق شته چی دَ ژمی دَ پیزار وس ئئ نه کیږی د ژمی لباس ئی نشته داسی غریبانان طلبه کرام شته چی دَ کتاب دَ اغستو وَس ئئ نه کیږی. چه په هغوی ئئ اولګوؤ، خو مصیبت دا دے چی نن مونږ او تاسو دَ رِیا دَ پاره، دَ دِکهلاوی دَ پاره خیرا تونه کؤو.

زما عزتمندو. دد غه ریا، دکهلاوی او د هندوانو درسمونو په دی طریقه د خیراتونه ځان سا تل پکار دی. بیا دَ څلویښتئ او قبر پخول دا په څلور مذهبه ناروا دی. په سنن ابی داؤد او په صحیح مسلم کښی دی چه سیدنا جابر رضی اللہ عنہ روایت کړی دے دَ نبی ﷺ نه. دَ علم اهمیت او فضیلت ته پکښی هم اشاره اوشوه چی د علم ډیر لوئے فضیلت دے. ځان پوهه کول دَ څلیریشتو ګهنټو متعلق احکامات زده کول. عون بن عبد اللہ وائی چی ما عمر بن عبد العزیز رحمہ اللہ ته اووی

"ان استطعت ان تكون عالمًا فكن عالمًا فان لم تستطع فكن متعلما فان لم تكن متعلما فاحبهم فان لم تحبهم فلا تبغضهم فقال عمرؓ سبحان الله لقد جعل الله عزوجل له مخرجاً"

یو روایت کښی راځی من یرد الله به خیراً یفقه فی الدین" د علم طلب کونکی ته خو ملائك وزری غوړوی. دَ کائنات هر جاندار ورته دعاګانے غواړی. سیدنا جابر بن عبد الله ﷺ دَ یو روایت دَ پاره دَ مدینے نه شام ته تلے وو یو میاشت سفر ئی کړی وو. او دَ علم دَ زده کړے سره نورو ته رَسَوَل او ورباندے خپله هم عمل کول ځکه چی په کوم علم باندے عمل نه وی دا په منزله د جهالت کښی دے. دَ سنن دارمی په یو روایت کښی راځی رسول الله ﷺ فرمائی: "لا تزول قدما عبد یوم القیامة حتٰی یسئل عن اربع، عن عمره فیما افناه و عن جسده فیما ابلاه و عن ماله من این اکتسبه و فیما وضعه و عن علمه ما ذا عمل فیه." او الله تعالیٰ هم فرمائی ﴿ان الذین یکتمون ما انزلنا من البینت والهدیٰ من بعد ما بَیَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فی الکتاب اولئك یلعنهم الله و یلعنهم اللاعنون﴾ نن د علم ډیر لوئے ضرورت دے ځکه چی یو حدیث پاك کښی راځی چی علم به پورته شی او جهالت به سیوا شی او هرج به سیوا شی صحابو ﷺ تپوس اوکړو چی دا هرج څه شی دے؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل چی "القتل" یعنی جنګ جهګړے به شروع شی چا چی علم پټ کړو هغه علم چی خلقو ته ئی ضرورت وی نو "الجم بلجامٍ من النار" دَ سیدنا علی ﷺ قول النسائی په کتاب العلم کښی ذکر کړی دے چی "لا خیر فی عبادة لا علم فیها ولا خیر فی العلم لا فقه فیه ولا خیر فی قراءة لا تدبر معها."

د قبر پخولو او په هغی د آبادی کولو نه منع فرمائیلی ده. او بیا په هغی په زرګونو روپے لګول دا حرام دی او مکمل اسراف دے او الله رب العزت په قرآن کریم کښی فرمائی: ﴿ولا تسرفوا انه لا یحب المسرفین﴾ مسند ابی یعلی موصلی ج ۳ ص ٦ حدیث ١٥١٦ او ابن ماجه ۱۱۵ کښی دَ سیدنا ابو سعید خدری رضی الله عنه روایت ذکر کړیدے چی.

"نهیٰ رسول الله ﷺ ان یبنیٰ علی القبر او یقعد علیها او یصلی علیها" رسول الله مبارك په قبرونو باندے د آبادی جوړولو او په هغے باندے دَ کیناستلو او په هغے مونځ کولو نه منع فرمائیلی ده.

مسند احمد کښی روایت دے چی "نهی رسول الله ﷺ ان یبنیٰ علی القبر او یجصص" په قبر هغه اومره خاؤره اچول پکار دی چی څومره ترے ایستلی شوی دی ملا علی قاریؒ لیکلی دی په مرقاة ج ۴ ص ۴۸ کښی چی دَ یو لیشت نه زیات قبر اوچتول مکروه دی دا رنګی فتاویٰ دا رالعلوم دیوبند هم لیکلی دی چی قبر پخول حرام دی .


الله تبارك و تعالی دے مونږ او تا سو ته د عمل کولو توفیق نصیب کړی. الله رب العزت دِ دَ فوت شوی مشر بخنه نصیب کړی او آئنده منازل دے ورته الله آسان کړی.

الله رب العزت دِ ځمونږ دَ معاشرے نه دا ګنده رواجونه، بدعات، خرافات او دَ هندوانو رسمونه ختم کړی . الله تعالیٰ دِ ځمونږ په معاشره کښی سنّت طریقے رائج کړی. آمین یا رب العالمین برحمتك یا ارحم الراحمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر: ”٣٠“

تعزیّت



دیرشمَه خُطبه : ''تعزیت''

الحمد لله و کفی و سلام علٰی عباده الذین اصطفی اما بعد فاعوذ باللہ من الشیطٰن الرجیم بسم اللہ الرحمٰن الرحیم. خلق الموت والحیوٰۃ لیبلوکم ایکم احسن عملاً. و عن ابن عمر رضی اللہ عنهما قال اخذنی رسول اللہ بمنکبی و قال یا ابن عمر رضی اللہ عنهما کن فی الدنیا کانك غریب او عابر سبیل و کان ابن عمر رضی اللہ عنهما یقول اذا اصبحت فلا تنتظر المساء و اذا مسیت فلا تنتظر الصباح. (رواه الترمذی)

عزتمندو مشرانو مونږ او تاسو په دی وخت کښی دَ تعزیت دَ پاره راجمع شوی یو دَ تعزیت معنیٰ ده تسلی ورکول دا انسانی فطرت دے چی د کور یو فرد دَ دنیا نه رحلت اوکړی، فرد خو ډیره لویه خبره ده. که په کور کښی یو ځناور پاتی کیږی. هغه ځناور خرڅ شی یا مړ شی روك شی نو دَ انسان طبعیت څه موده خفه وی. او ځناور خو څه کے کور یا په حجره کښی یو اونه ولاړه وی او هغه اونه اووهلی شی . یا ئئ طوفان راؤغورځوی نو هغی پسی هم انسانی طبیعت خفګان کوی. او بیا انسان خو انسان دے، مور مور ده. پلار پلار دے او رور رور دے. داسی رشتی والا دَ دنیا نه رحلت اوکړی نو خپل خپلوان، خپل ورثۀ او خپل پسماندګان ورپسی خفه وی، هغوی ته یو دُکهـ اورسی. او یو غم ورته اورسی، او زمونږ او ستاسو په دین کښی دَ هغوی دَ غم بدلولو دَ پاره تعزیت را غلی دی. او دا زمونږ او ستاسو دَ دین خصوصیت دی په نورو دینونو کښ دا نشته نو په تعزیت کښی یو مقصد دا وی. په دی کښی د مسلمانانو دَ یووالی، اتحاد او اتفاق مظاهره وی. مونږ مسلمانان په یو بل خفه کیږو. ځکه راجمع شوی یو، د مسلمان شان به

دا وی چی دَ بل مسلمان په خوشحالئی به خوشحالیږی که چرته د یو مسلمان کوشش دا وی چی دا بل مسلمان دِ نورهم ذلیله شی. دی دِ نور هم ناکامه شی نو دی دِ په خپل ایمان اُویږی. په دی وجه په حدیث مبارکه کښی دی نبی اکرمﷺ فرمائی تمام ایمان والا "کجسد واحد" په شان د یو بدن دی. تمام مسلمانان چی چا اقرار او اعتراف اوکړو. چی "لا اله الا الله محمد رسول لله" نبی اکرمﷺ فرمائی. دا کلمه ګوپشان د یو بدن دی. نبی کریمﷺ ئی وضاحت هم فرمائیلی که په ټول بدن کښی سرته تکلیف وی نو د هغی احساس ټول بدن ته کیږی. که په بدن کښی ستر ګی ته تکلیف وی نو د هغی احساس ټول بدن ته کیږی. نو که د دنیا په بل کوټ کښی یو مسلمان دی. او مونږ او تاسو خبر شو، چی هغه په غم او په تکلیف کښی په مصیبت کښی دی نوزمونږ فرض داجوړیږی چی مونږ په هغی خفګان او کړو. که زمونږ او ستا سو سوچ دا وی چی دا په هغه راغلی خپل کار دے کوی دا نو داد مسلمانی سوچ نه دی بلکه داد انسانیت سو چ هم نه دی دی دعا دی لاس نیوی ته راتله مونږ ته درس راکوی چی مونږ هسی رسمی طریقی سره نه راجمع کیږو. په حقیقت کښی دمسلمانانو په خپل مینځ کښی رور ولی ده.

نبی کریمﷺ فرمائی دا مسلمانان په خپل مینځ کښی رونړه رونړه دی زما عزتمندو مونږ کښی د دی څیز ډیر کمی دی. دا تعزیت مونږ ته د اتفاق ، اتحاد دا خوت د رور ولئی درس را کوی مونږه لا س نیوی ته رو زانه ځو، خو هسی رسمی طریقی سره مونږه خو وایو یا الله دا مُرده اوبخی او دَ ده پسماندګانو ته صبر ورکړی. خو په زړه کښی

مـو حسد وی. په یو روایت کښی دی چه تاسو ځان د حسد نه او سا تـے ځکـه ستـاسـو ټولـی نیـکـئـی حسد سوزوی ځکه بعضی څه داسی کـارونـه شتـه، څـه داسی عملونه شته چی هغی سره تمام قبول شوی اعمال سوزئی.

پـه قـرآن کـریـم کښی الله تبـارك و تعالیٰ فرمائی ﴿من جاء بالحسنه فله عشـر امثـالهـا﴾ یـعـنی چا چی په نیکئی سره راتله او کړل، په دی بعض مـفسـرین یوه ډیره عجیبه خبره ذکر کوی . ډیره قیمتی خبره ده وائی الله تبـارك و تـعـالیٰ داسی نه وائی چا چی نیکی اُوکړه بلکه چا چی نیکئی ځان سره راوړله ځکه نیکی کول خو آسان دی، تا چا سره السلام علیکم و کـړه، دا نیـکی ده، تا ورسره لا س ملاؤ کړو، دا لاس ملاؤل ځانته نیکی ده، نبـی کـریـم ﷺ فرمائی ته یو مسلمان رور بهائی سره په خنده پیشانی سـره مـلاؤ شـوی دا صـدقـه ده، دا نیـکـی ده، که په لاره کښی یو ضرری څیز پروت وو او هغه تا لر کړو دا نیکی ده، که ته کور ته لاړی او مور پلار تـه دی دَ رحـمـت او شفقت په نظر سره اوکتل نو دا هم نیکی ده "سبحان الله الـحـمـد لله" وئیـل نیـکـی ده، کـه حج بیت الله شریف تـه تلی ئی او ستړی شوی کیناستی کعبه الله ته نظر کوی نو دا هم نیکی ده.

زمـا عـزتـمـنـدو الله تبـارك و تـعـالیٰ دا نـه دی فرمائیلی که چا نیـکـی وکـړه. هـغـه د پـاره بـه لـس چـنده ورکوم. الله فرمائی ﴿من جاء بـالـحسـنة﴾ چا چی نیکی ځان سره راوړله دا نیکی ځان سره محفوظ کول ګران دی دا نیکئی او اعمال ختمیږی دَ هغی نه یو قرآن ذکر کوی شـرك چـی دَ چا په عقیده کښی لږ شانته هم شرك وی د هغی هیڅ یو عـمـل نه قبلیږی. مونځونه ئی نه قبلیږی. حج ئی نه قبلیږی. روژه ئی

نه قبلیږی جهاد ئی نه قبلیږی تبلیغ ئی نه قبلیږی تهجد ئی نه قبلیږی طوافونه ئی نه قبلیږی. الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿فجعلنه هباءً منثوراً﴾

د د ه ټول اعمال تباه . ګرد غبار به شی شرك څه ته وائی دالله تبارك و تعالیٰ هغه مخصوص صفات هغه بل چا ته ور کول انبیاء ته ور کول ملائك ته ورکول الله هر ځائے موجود دی حاضر نا ظر دی دا صفت د االله نه علا وه بل چا ته ورکول چی زما د حال بل چا ته پته لګی الله تبارك و تعالیٰ غیب دان دی الله ته دَ ټولو غیبو یعنی دَ ټولو پټو څیزونو پته ده. دا صفت بل چا ته ورکول. یاد سا تے دا خالص شرك دے چی فلانکی پیر صاحب ته پته لګی فلانکی کوډو منتر وو لا ته پته لګی فلانکی فال معلومولی شی په نوك کښی غل معلومولی شی چی د چا دا عقیده وی قسم می دی وی په الله ټول اعمال ئی برباد دی دا دا قرآن خبره ده.

شرك یو ډیر خطرناك څیز دے، یاد ساتے چی دَ چا شرکی عقیده وی چی دَ الله تعالیٰ نه علاوه بل څوك ذمه دار ګنړی دَ تبی ذمه دار، ځامن او لونړو ورکولو والا بل څوك ګنړی. چه دَ چا دا عقیده وی که په عقیده کښی ئی لږ شرك را دننه شو نو ټول اعمال ئی تباه شو. قرآن کریم ذکر کوی ﴿لا تبطلو صدقتکم بالمن والاَذی﴾ تاسو خپل خیراتونه په زبادلو سره مه برباد وَی. دا بعضی خلق چرته لګی پیسی اُولګوی، یا په جومات کښی یا مدرسه کښی لږی پیسی ورکړی. چی بهر وُځی بیا په چوك کښی لګیا وی یره ما خو هغه روځ د جومات په بِل کښی پیسی ورکړی وی. او مونږ خو دَ جومات خدمتونه کوو د

جومات د امام خدمتونه کوؤ. چی مال دی ولګولو. نو نوم ئی مۀ اخله. هغه مشران وائی . نیکی دی وکړه دریاب ته ئی وغورځوه بیا لګیا مه یه. دَ سیاسیانو په شان چی دا می درته کړی وو. دا می کړی وو پُل می درته جو ړ کړی وو. او بجلی می در ته لګولی وه. نو په دَغی اجر او ثواب نه ملاویږی. او که د الله د رضا د پاره دی کړی وی نو هغه الله خو علیم بذات الصدور دے.

نو زما عزتمندو خپلی نیکئی نه بر بادؤل. که چا سره دی احسان و کړو خیرات صدقات دی و رکړل نو د هغی په عوض کښی خدمتونه نه اغستل دا ډیر مسلمانان دا سی وی. دا سی دا مالدار ګوتی غوندے وی غریبانانو ته خیرات صدقات ورکړی. بیا پری خپل بیګارونه کوی دَ دغی ثواب نه ملاویږی یو په زبادلو سره او یو دی سره چا ته دی خیرات صدقات ورکړل. د هغوی په تنګولو سره. بل قرآن کریم ذکر کوی. چی په چا کښی یو عمل کښی ریا را غله د ریا سره الله تبارك و تعالیٰ ته اعمال بره نه خیژی. په یو روایت کښی راځی "ایا کم والحسد" تا سو ځان د حسدنه بچ کړی. او بعضی روایاتو کښی راځی چی الله تبارك و تعالیٰ ته زمونږ او ستا سو دا اعمال بره خیژی او بیا د هغی اعمالو مطابق الله تبارك فیصلی را لیږی چی د کوم انسان په زړه کښی د بل مسلمان د پاره حسد وی، خیری وی نو دهغه نیك اعمال بره نه خیژی هغه به معلق (زوړند)وی. او الله رب العزت فرمائی چی تر څود ے بل مسلمان ته زړه نه وی صفا کړی. نو د ده اعمال دی ما ته بره نه راځی.

دا کار ډیر ګران دی دا خپل زړه صفا کول. الله دی په خپل

فضل او کرم سره زمونږ دا زړونه صفا کړی مونږ وایو اورو خو چی په مونږ راشی کنه دا کار په حقیقت کښی ډیر ګران دی. بیا که په کور کښی رونړه وی .نو یو بل بیا ذلیله کول غواړی. او ترونه تر بو ران خو مونږ د د شمانانوپه لست کښی ذکر کوو. بهائی دا زمونږ ترونه دی په مونږ خوشحالی اوخاده روځ د دی سود نه راځی. چی د چا په زړه کښی حسد راغلی دی. دی حسد سره ګناهونه پیدا کیږی. دا حسد سبب دی د نوروګناهونو دپاره اوګوره د سیدنا آدم علیہ السلام دوه ځامن وو. په قرآن او احادیثو کښی دومره پوری واقعه ذکر ده چی دی دواړو رونړو قربانی پیش کړه. په یو کښی اخلاص وو. او بل کښی اخلاص نه وو دقابیل قربانی قبوله نه شوه نو د قابیل په زړۀ کښی حسد را غلو. او رور ته وائی زۀ به تاوژنم .او حسددی ځائے ته راؤرسولو چی درور په قتل ئی آماده کړو. د حسد د وجی نه قابیل د خپل رور په وینو لاس ککړ کړه. هغه ئی وژلو.

دَ سیدنا یوسف علیہ السلام وا قعه مونږ بار بار اوریدلی ده. دَ سیدنا یوسف علیہ السلام دَ رونړو په زړونو کښی حسد پیدا شو. ګوره دَ خپل پلار په بے اَدبے آماده شو د خپل پلار خلاف ئی میټنګ وکړو. د خپل پلار بے ادبی ئیۀ او کړه. دَ پلار سره ئی دهوکه اوکړه دا یوسف علیہ السلام مونږ سره پریدوه. صحرا ته به لاړشو هلته به لوبی وکړی کرکنړی به ټولی کړی. نو یوسفؑ بوځی. په لاره کښی ئی وخی. بیا یوسفؑ په کوهی کښی غرځوی. په قافلے والوئی خرڅوی. نو دا نور ګناهونه د څه نه پیداشو. دحسد دوجی نه نو په دی وجه دا خپل زړه صفا کول. دی تعزیت کښی یو دا مقصد هم دی چی مونږ مسلمانان ټول رونړه رونړه

یو د یو بل په غم به خفه کیږو. په دی کوم کور چی غم راغلی.الله تبارك و تعالیٰ دی ته صبرورکړی او الله دی دا مشر اُوبخی.

دویم مقصد دا چی مونږ دی خپلو رونړو ته چی کوم مشر دَ دی خاندان او کور نه تلی هغوی ته یو صدمه یو غم ملاؤ شوی دی چی مونږ او تاسو په دی غم کښی هغوی ته تسلی ورکړو. چی خفه کیږے مه ډیر لوئی لوئی خلق ددنیا نه تلی دی اودا مرګ به په هر چاراځی.الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿کل نفس ذائقه الموت﴾

دمرګ د پاره هیڅ څیز مانع نشی جوړیدی نه مال نه دولت نه حسن و جمال نه صدارت نه و زارت نه ولایت نه نبوت بلکه چی څوك هم دنیا ته را غلی نو د تلو دپاره راغلی.

یہ اقامت ہمیں پیغام سفر دیتی ہے
زندگی موت کے آنے کی خبر دیتی ہے

الموت لاوالداً یتقیٰ ولا ولداً　　هذاا لسبیل الی انه لا تریٰ احداً
کان النبیﷺ ولم یخلد لامته　　لو خلدالله خلق قبله قبله خلداً
للموت فینا سهام غیر خاطئةٍ　　من فاته الیوم سهم لم یفته غداً

دی مشرکینو به ډیری پروپیګنډی کولی چی دا پیغمبرﷺ به خدائے لر کړی. الله تبارك وتعالیٰ و حی راؤلیږله. اے نبیﷺ ته مه خفه کیږه ﴿اِنَّكَ مَیِّتٌ وَّ اِنَّهُمْ مَّیِّتُوْنَ﴾

په تا به مرګ راځی نو دوی به هم مړه کیږی. الله تعالیٰ اعلان فرمائیلی چی هر نفس به دَ مرګ ذائقه څکی.

نبی کریمﷺ په تمام کائناتو کښی الله رب العزت ته دَ ټولو نه زیات محبوب ترین شخصیت وو. او امام بخاریؒ یو عنوان قائم کړی.

یو باب ئ قائم کړی ''باب وفات النبی ﷺ'' د نبی ﷺ د وفات خبری محدثین ذکر کوی د نبی کریم ﷺ د وفات حال.

کوم محبت وو قسم می دی په الله په دنیا کښی دا سی څوك نشته چی د هغی پشان ئی مینه وی د هغی مثال نشته د هغی نظیر نشته د زنانو هم د نبی کریم ﷺ سره محبت وو. ام سلیمؓ د نبی کریم ﷺ دبدن مبارك خوله را جمع کوی نبی کریم ﷺ ور ته وائی سیده ام سلیم رضی الله عنها په دی به څه کوی . سیده ام سلیم رضی الله عنها وائی چی دا به ځه کور کښی بطور د عطر استعمالوم. نبی کریم ﷺ په منیٰ کښی وینبته لر کړه صحابه کرامو ؓ هغه وینبته ځان سره محفوظ کړی . که نبی کریم ﷺ تو کانړی مبارك تُوکل، صحابه کرامو ؓ هغه ښکته نه پریخودل دومره نن یو ځوئی د پلار سره کولی شی؟ که نبی کریم ﷺ په اعضاؤ باندی اوبه اچولی د اودس په وخت نو صحابه کرامو ؓ هغه اوبه ښکته نه پریخودلے. دُومره محبت به د چا وی؟ د نبی کریم ﷺ په اشاره باندی خپل سرونه قربانولوته تیار وو. د نبی کریم ﷺ په اشاره باندی خپل بچی یتیمانان کولو ته تیاوو. هغه خپلو بیبیانو کونډولو ته تیار وو. د هغوی د نبی کریم ﷺ سره یو عجیبه محبت وو. زما عزتمندو چی دا سی شخصیت د دُنیا نه ځی. د هغوی به څه کیفیت وو. څه حال به وو؟ چی کله دا اعلان اوشو. چی نبی کریم ﷺ وفات دے نو د بعضی صحابه کرامو ؓ زَبان بند شو. خبری ئی نشوی کولی.

بعضی صحابه کرام ؓ د هغه علاقی نه آخوا لاړل. چی دا آواز مو په غوږو نه لږی. سیدنا عمر ؓ توره راؤیسته اووئیل که چاوئیل چی

نبی کریمﷺ وفات دی. سر به تری قلم کړم عجیبه کیفیات وو. سیدنا ابوبکر صدیق ؓ د مدینی نه لږ بهر وتلی وو چی هغه ته پته ولګیدله هغه راغے حالات ګډوډ دی. د محبوب کائنات دَ بدن نه روح وتلی دی. د دواړو جهانو سردار د هغوی روح مبارك پرواز کړی نبی کریمﷺ پروت دے، سیدنا ابوبکر صدیق ؓ راغے. دَ نبی کریمﷺ یار غار. دَ غار ملګری. سیدنا ابوبکر صدیق ؓ دَ نبی کریمﷺ سخر هم وو. سیدنا ابوبکر صدیق ؓ دَ نبیﷺ مخ مبارك ښکل کړو. د ستر ګونه ئی اُوخکی روانی شوی. سیدنا ابوبکر صدیق ؓ ملګری را غونډ کړل .او تقریر ئی وکړه. خلقه یاد ساتے امام بخاریؒ ذکر کړی دی.

"من کان منکم یعبد محمد فان محمد قدمات" یاد سا تے تا سو کښی چی چا دَ محمدﷺ عبادت کولو هغه دَ دنیا نه لاړو. اوس به دا چا عبادت کوی؟ "من کان منکم یعبد رب محمد فهو حتی لا یموت" او په تا سو کښی چی چا د محمد عربی د رب عبادت کولو. هغه رب به همیشه ژوندی وی هغه ته فنانه راځی. بیا ئی دا آیاتونه ولوستل.

﴿وما محمد الا رسول قد خلت من قبله الرسل افائن مات او قتل انقلبتم علیٰ اعقابکم و من ینقلب علیٰ عقیبه فلن یضر الله شیئًا و سیجزی الله الشکرین﴾

سیدنا عمر ؓ اُوئیل چی دغه وخت کښی زما ذهن کهلاؤ شو. ما وئیل چی واقعی ده نبی کریمﷺ وفات دی.

سیرة د ابن هشام د سیدنا حسان بن ثابت ؓ بعضی د غم اشعار ذکر کړی دی.

بابی و امی من شهدت و فاته — فی یوم الاثنین النبی المهتدی

فظلت بعدوفاته متبلداً — یالهف نفسی لیتنی لم اولد

والله اسمع ما لقيت بهالك　　الا بكيت على النبى محمدٍ
او قيم بعدك بالمدينة بينهم　　يا ليتنى صبحت سم الاسودى
لو كانت الدنياتدوم لواحدٍ　　لكان رسول الله فيها مخلداً

زما عزتمندو په تعزیت کښی یو مقصد دادی چی دی غم زپلو ملګرو ته تسلی ورکړی شی. چی دا څه نوی حادثه نه ده. څه نوی کا رنه دی د دواړو جهانو سردار هغه ددنیا نه تلی لوئی لوئی اولیاء ددنیا نه تلی شاهان دادنیا نه تلی. او دا مرګ به خامخارائی. په هر چا به رائی. نو یو مقصد دا شو.

مقصد دا چی صرف رسمی طریقی سره جنازه او لاس نیوی ته را تله نه دی پکار. دریم سبق به دا حاصلول پکار وی. چی نن څنګ زمونږ دا مشر زمونږ دا ترۀ مونږ او تا سو ورباندی جنازه وکړه. غسل ورته ورکړی شو کفن ورته ورکړی شو. قبر ته مو په خپلو لاسو کوز کړو. نو دا مرګ په مونږ هم راروان دی. علماء ذکرکوی. د کومو خلقو چی مرګ یادوی. دی روزانه سوچ دا کوی. چی زما مابنامه پوری هیڅ پته لګی.

نہ جانے کس گلی میں زندگی کا شام ہوجائے

سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما وائی چه زۀ نبی کریم ﷺ دَ اُوګی نه اونیولم او ځانته ئې متوجه کړم او وی فرمائیل "یا ابن عمر کن فی الدنیا کانك غریب او عابر سبیل"

اے ابن عمرؓ په دنیا کښی داسی و خت تیروه چی بس زۀ په سفر را غلی یم او دَ لاری مسافر یم. دَ دنیا دا څو کاله زندګی ده. اصل کور خو دَ آخرت دے. دَ دی جهان دا زندګی خو دَ مشقتونو ده. دَ امتحانونو ده. بیا به ابن عمرؓ فرمائیل چی کله دربانډی صبا راشی د

مانبنام انتظار مه کوه. او کله در باندی مانبنام را شی دَ صبا انتظار مه کوه، چی کله داسوچ جوړ شو چی مانبنامه پوری زما هیڅ ګارنټی نشته نو دَ ګناهونو نه به مو زړه موړ وی.

نبی کریم ﷺ به فرمائیل چی کله تا سو مونځ کوی نو وائے دا زما آخری مونځ دی چی کله مونږ ځانته دا تصور جوړ کړو چی ما به لا سلام نه وی چار باسلی. ملك الموت راته ولاړ دے. ساه رانه اخلی. دا مونځ به زمونږ څومره خشوع خضوع سره وی څومره په توجه سره به وی چی مانبنامه پوری زما هیڅ ګارنټی نشته په ایمان ووایه. مونږ به بیا دَ خورزی حصه اُوخرو ، د خویندو په حصه به غری وروا چو دَ یتیمانانو مال به هړپ کړو. پردی بُهوس، پردے شوتلی، پر دے سبزے به کور ته راوچلو؟ خپل اولاد تــه بـه حرام ګیډو تـه ور وا چو؟ اوس رانـه دا دی ساه خیژی نو مرګ هر وخت یادول دَ دی ګنړفوائد علماء ذکر کوی.

یو فائده ئی دا ده (تعجیل التوبة) انسان ته د توبی تو فیق ملاویږی خطا تری اوشی نظر غلط استعمال شی غوږ غلط استعمال شی. نویږی، وائی که دی ګناه سره د دنیا نه لاړم. نو زر زر توبه او باسی.

دویمه فائده ئئ دا وی چه دَ دی انسان امیدونه کم وی. هسی هم مړ کیږم، اصل کور خو دَ آخرت دے.

دریمه فائده به ئئ دا وی چه دَ دنیا حرص به پکښی نه وی او چی دَ چا مرګ هیر وی. دَ توبی توفیق ورته نه ملاویږی. دَ ګناه ډك دَ دنیا نه لاړشی . چی مرګ ئی هیر وی نو حرص ئی زیات وی دَ دنیا اُمیدونه ئئ ډیر وی دا مرګ روزانه اعلان کوی.

انا الموت الذی افرق بین کل حبیب

زۀ هغه مرګ یم چه خواږه خواږۀ دوستان جدا کوم. "انا الموت الذی افرق زوج و زوجة" زۀ هغه مرګ یم چه دَ ښځی او خاوند په مینځ کښی جدائی راولم . زۀ هغه مرګ یم چه دَ رونړو او خویندو په مینځ کښی جدائی راولم "انا الموت الذی اخرب القصور" زۀ هغه مرګ یم چه محلات، مانړے او بلډنګونه روانۏم خالی کوم ئۀ "اعمر القبور" زۀ قبرستانونه آبادوم. دا دَ مرګ روزانه اعلان وی، چی زمونږ 24 ګنټهی دا تصور وی چی دا مرګ راتلو والا دے او دا مرګ څه بد څیز نه دے، اګر چه دَ مرګ سختی ډیری وی . په یو روایت کښی راځی چی دا مرګ دا مسلمانانو د پاره دالله دطرف نه یو ګفټ او تحفه ده علماء ذکرکوی، دا ځکه تحفه ده چی الله تبارك و تعالیٰ دخپلو بندګانو دَ پاره په جنت کښی داسی نعمتونه تیار کړی، داسی کورونه ئی تیار کړی، دا سی باغونه ئی تیار کړی چی دَ هغی نظیر په دنیا کښی نشته هلته د نیکانو بندګانو د پاره حُوری دی هلته بوډا والی نشته، بیماری نشته، تکلیف نشته، دشمنی نشته، عداوت نشته الله تبارك و تعالیٰ به فرمائی " یا اهل الجنة خلود" اے جنتیانوتا سو په جنت کښی همیشه اُوسیږے بیا مرګ نشته.

رسول الله ﷺ فرمائی په جنت کښی به مرګ دَ یو ګډوری په شکل کښی راوستی شی او په مَرئ به ورته چاړۀ رابنکلی شی او حلال به کړی شی. هلته پریشانی نشته هلته دَ خپلی خوښی دَ خپل چاهت زندګی ده الله تبارك و تعالیٰ فرمائی.

﴿ولکم فیها ما تشتهی انفسکم ولکم فیها ما تدعون﴾

په جنت کښی هر هغه څه دی څه چی ستا زړه غواړی. که ته وائی ما

ته ګاډی پکار دے، که ته وائی ما ته میوه پکار ده که ته وائی ما ته غوښه پکار ده چی ته څه غواړی هغه به تا ته ملاویږی هلته که ته وائی ماته دا څکاك ضرورت دی که ته وائی زهٔ شهد استمالوم د خالصو شرابو نهرونه جدادی او دا رنګی د حوض کوثر اوبه، هغه چی دے اوڅکلی دَ میدان محشر په هغه سخته روځ به تګی نه شی. نو دَ حوض کوثر اوبه به هلته ملاویږی.

زما عزتمندو دَغی ته به سړی څنګه رسیږی چی دَ مرګ پیالے ئی نه وی څکلی. دَغی ته سړی نه شی رسیدی په دی وجه د مرګ د پاره تیاری کول پکار دی . ما یو آیت کریمه لو ستی دی.

﴿خلق الموت والحیوٰة لیبلوکم ایکم احسن عملاً﴾

الله مرګ پیدا کړی او الله ژوند پیدا کړی. خودی مرګ او ژوند کښی مقصد څه دی "لیبلوکم" الله تبارك و تعالیٰ په مونږ او تا سو ابتلاء کوی د دنیا دالړه غونده زندګی ده په دی کښی الله رب العزت زمونږ امتحان اخلی د غریب په غریبئی کښی امتحان دی چی دی په خپله غریبئی صبر کوی او که نه د الله نه ئی ګنړی او که نه او دمالدار په مالدارئ کښی امتحان دے چی دی شکر ادا کوی او که نه لکه دَ قارون غوندی وائی دا خو ماته په خپل صنعت او حرفت او تجربے سره ملاؤ شوی دی الله تبارك و تعالیٰ فرمائی " ایکم احسن عملاً"

په تاسو کښی به احسن عمل څوك کوی ښکلی عمل به څوك کوی تفسیر ابن کثیر کښی ذکر کوی. چی الله تعالیٰ دا نه دی فرمائیلی چی د چا عمل به زیات وی. احسن عملاً. ښائسته عمل به دا چا وی احسن عمل به څنګه وی؟ علماء وائی چی دوه خبری پکښی راشی یو دا چی

خالص د الله د رضا دپاره وی . هر یو کار هر یو عمل چی په هغی کښی دالله رضا وی کـه تـا کـره غـم وشو. ته وائی زهٔ دیګونه پخوم تاته مولانا صاحب وائی، دا پیسی په جومات او لګوه په مدرسه کښی ئی ولګوه پـه کـونډو یتیـمـانـانـوبـانـدی ئـی اولګوه. هغی تـه اوړه دانی وا خلـه غـریبـانـانـو کـره کـورونـو کښی تقسیم کړه. دا سی خلق شته که هغه دورځی سـوال وکړی دیـوټیـم روټی درك ئـی لـګی. چی هغه کنډه او یتیـمـانـان مانښام کینی. او په مړه ګیډه ډوډی و خوری نو په ایمان ووایه ستامرده ته به دعا کوی او که نا دا هغی ددزړه دکومی نه به ستامرده ته دعـاخیـژی. نـو چـی کـوم یـو عـمـل کوو. چی دالله در ضا دپاره وی. او مـونـږ چـی خیـرات کـوؤ. نـو دَ خلقودَ شو دَ پاره ئی کوؤ زما عزتمندو! مـونـږ ټـول پـکښی مبتلا یو. وایو دا خلق به څه وائی او دا خلق به رانه جـامـی اوبـاسـی دومره غټ مشر مړ وو. اوهیڅ ئی ورپسی او نه کړل. د قیامت په روځ به الله وائی. ځـے چی دچادپاره موعمل کړی وو. د هغی نـه ئـی بـدلـه واخـلـے. نو یوعمل به هله قبولیت ته رسیږی. ''ان یکون خالصاً لوجه الله''

چـی هـغـه عـمـل خالص دالله درضا د پاره وی. زهٔ دی دعا ، دی لاس نیـوؤ تـه دَ دی د پـاره ځـم چـی دا پـه ما دَ مسلمان رور حق دے. یو روایـت کښی راځی چی په ورځ دَ قیامت به یو مالدار تن راوبللی شی الله تـعـالیٰ به ترے تپوس اوکړی چی تاڅه کړی دے به ورته وائی چی یـا الله تا ماته مال راکړے وو او ماستا په لار کښی لګولے دے الله به ور تـه او فـرمائی چی دروغ وے تا خو دے پاره مال لګولے وو چی خلق را تـه سـخـی ووائـی او تـا ته ویلی شوی دی ما سره تا دپاره هیڅ اجر نشته

ملائکوته به حکم او شی چی جهنم ته ئی اولئی. دا رنګی یو قاری او عالم به راشی دے به وائی چی ما د قرآن خدمت کړیدے الله به ور ته او فرمائی "کذبت" دروغ وے تا خود شهرت او ځان خودلے د پاره محنت کولو ملائکو ته به حکم اوشی چی جهنم ته ئی ګزار کړی د غه معامله به دریاکار مجاهد او شهید سره هم وی او دے روایت کښی ددے دریؤ عملونو فضیلت ته هم اشاره ده چی مال لګول د الله په دین باندے لوئے فضیلت لری او ددین خدمت دقرآن خدمت لوئے مقام لری اودارنګے د الله په لار کښی جهاد کول لوئے عمل دے خو اخلاص پکښی شرط دے .نو عمل به د الله په دربار کښی هله قبولیت ته رسیږی .چی هغه عمل دنبی کریم ﷺ په خوږوسنتو سره مزئین وی .که کله یو عمل ډیر ښکلی وی مثلاً د ماذیګر د مانځه نه پس یو سړی نفل کوی. اوجاړی هم پکښی . په یورکعت کښی دوه سیپاری وائی، د غه شان به بل رکعت کښی دوه سیپاری وائی ، په رکوع کښی هم جاړی او په سجده کښی هم جاړی. د علماؤ نه تپوس او کړے. چی دا نفل ئی قبول شو. وائی به نا ولی؟ د نبی ﷺ د سنتو طریقه پکښی نشته. اګر چی نفل عبادت دی.یایوسړی اذان کوی په اذان کښی وائی حی علی الصلاح ، حی علی الفلاح الله اکبر اوس په لوډ سپیکر کښی ئی چغه کړه لااله الا الله محمد رسول الله .نو لوئی واړه نارینه او زنانه به وائی داخولیونی دی ولی هغه څه بدوئیل پوره کلمه ئی ووئیله . دا کلمه وئیل خو څه ګناه نه ده خو په دے ځائے کښی داپوره کلمه وئیل دپیغمبر ﷺ او صحابونه ثابته نه ده اګر چی خه کلمه ده او بعض وائی یره جی مونږ خوخیرات کوو او مونږ خود عاکوو

او مونږ خودرود وایو. وګورئے که د پیغمبرﷺ او صحابونه ثابته وی . نو سر بچشم او که نه ووئی کړی نو که ډیر ښه درته ښکاری حسن درته پکښی په نظرراځی دا شیطانی کار دی شیطان ناکاره کار ښائسته کوی نوزما عزتمندو په هر عمل کښی سنت طریقه .


په اذان کښی سنت طریقه په مونځ کښی سنت طریقه په درود کښی سنت طریقه په غم کښی سنت طریقه . په ښاری کښی سنت طریقه نو هله به زمونږ عمل قبولیت ته رسیږے.

مونږ او تاسو ته پکار دی چه دَ علماء کرامو او مفتیانو نه تپوس کوؤ چه مونږ ته دَ نبی ﷺ طریقی اوښائی . الله رب العزت دِ ځمونږ دَ دی مشر مغفرت نصیب کړی او الله تعالیٰ دِ مونږ او تاسوته دَ عمل کولو توفیق نصیب کړی . وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبہ نمبر: ''۳۱''

اصلاحی بیان



یو دیرشمَه خُطبه : ''اصلاحی بیان''

الحمد لله وحده والصلوة والسلام علیٰ من لا نبی بعده. اما بعد فاعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم ﴿الٰهکم التکاثر حتیٰ زرتم المقابر کلا سوف تعلمون ثم کلاسوف تعلمون﴾

و قال النبیﷺ بادروا بالاعمال فتناً کقطع اللیل المظلم، یصبح الرجل مؤمنًا و یمسی کافراً و یمسی مؤمنا و یصبح کافرا یبیع احدهم دینه بعرض من الدنیا.

(رواه الترمذی).

وقال النبیﷺ صنفان من اهل النار لم ارهما. (الی اٰخر الحدیث)

الله ربّ العزّت ډیر کریم ذات دے او الله تبارك و تعالیٰ ډیر مهربانه باد شاه دے چی کله مونږ او تاسو دَ قرآن او سنت خبری آؤرو نو علماء دَ هغی دَ پاره آداب بیانوی په هغی کښی یو ادب دا دی :

''لاتنظروا الیٰ من قال بل انظروا الیٰ ما قال''

تاسو سوچ او فکر مه کوے هغه وینا کؤنکی طرف ته چی د مال والا دے او که غریب دے. رنګ ئی څنګه دے؟ جامی ئی څنګه دی؟ عمل ئی څنګه دے؟ هغه طرف ته مه ګورے. ''بل انظروا الیٰ ما قال'' بلکه تاسو نظر کوئ، فام کوئ، سوچ کوئ هغه څه طرف ته چی هغه ئئ وائی دا بنیادی خبره شوه بل دا چی کومه خبره د قرآن او سنت وی چی دَ الله او دَ رسول محترمﷺ خبره وی. دَ زړه زړه نه دَ هغی تصدیق کول چی پیغمبرﷺ دا سی وئیلی زړه کښی وایه بے شکه دا تصدیق دے، دا خبره رښتیا ده. الله کریم ذات دے بے شك دَ مؤمنانو دَ پاره جنت دے بے شك .

بل کله چی دَ وعظ په دوران کښی دَ جنت تذکره راشی دی

خپل تصور کښی د جنت یو نظاره راوستل او د الله نه په زړه زړه کښی سوال کول یا الله پاکه د غه نعمت ،د غه جنت ، د غه باغونه، دغه نهرونه دغه خوشحالئ، د غه ځوانی، دغه څیزونه دغه دَ مزی زندګی یا الله دا راته نصیب کړی.

په زړه زړه کښی غوښتل بنده بیا هغه بیان کښی نه تنګیږی هغه وعظ پری بیا خه لګی دننه ددۀ زړه باندی هم اثر کوی او داانسان ور سره جوړیږی ددۀ نه روحانی بیمارے اوځی. د وعظ په دوران کښی د زنکدن د سختو تذکره او شوه. د قبر د تیرو د قبر د یوا ځی والی، د قبر د تنهایو د لړمانانو د مارانو د خامارانو تذکره د جهنم تذکره، د جهنم د اور تذکره د جهنمیانو خوراکونه، هغه وینی ځیوی نوونه غړ امبړی د هغه ځائے زندګی زړه زړه کښی په هغوی باندی سوچ کول یا الله که تا بچ نه کړم تباه برباد به یم بله یوه غټه خبره زمونږ دادین دا پخوانی دین دی. د قرآن څه د پاسه څوارلس سوه کاله و شو. نو په دین کښی نوی خبری نه چلیږی. د ځانه جوړکړی شوی خبری په دین کښی نه چلیږی علما ذکر کوی د قرآن او سنت هر پیره د اوریدو الله جدا جدا نور نصیب کوی. ډیر داسی خلق شته علم والا طالبعلم هغوی وائی، مړه دا خومونږ اوریدلی، دا یو غلطه خبره ده کوم ځائے چی ددین و عظ کیږی. د هر بیان دقرآن او سنت بار بار د اوریدو الله تبارك و تعالیٰ باربار نور ورکوی ځکه هر یو عمل نور ددے په اعمالو سره په تقویٰ سره په تلاوت سره په ذکر اذکار سره په مونځ سره یو نور ملاویږی دا نور ډیر په ګرانه ملاویږی او ډیروخت پس ملاویږی ډیر و قربانو ډیرو مجاهدو سره ملاویږی .ډیرو دعاګانو جړاګانو سره ملاویږی هغه انسان بر کتی

بر کتی بنکاری رعب داب کښی وی. الله تبارك و تعالیٰ یو رعب ورکړی وی. دا هغه نور دے. خو دا نور ختمیږی ډیر زر. که تا یو میاشت دوه میاشتی مجاهده قربانی، دعاګانی، ژړاګانی، دعوت، تعلیم، مطالعه، تکرار، خلقو ته بیان، تعلیم، امر بالمعروف، نهی عن المنکر، دَ دے هر څه انورات ملاویږی، ناګهانه شیطان زړه کښی وسوسه واچوله چی مړه دا ګناه د اکار اُوکه نو که نظر دی غلط استعمال کړو هم دا نور ختمیږی، که غیبت دی اوکړو هم دا نور ختمیږی، که ټیلی ویژن دی وکتلو هم دا نور ختمیږی. که ګانا بجانا دی واؤریده هم دا نور ختمیږی اوس که خپلو ملګرو سره په ښه اخلاقو سره پیش را نغلی هغوی سره جهګړی بد اخلاقئ، بدکرداری بدتمیزی هغوی سره بیا دا نور ختمیږی. الحمد لله تاسو قرآن او سنت زده کولو ته راځئ. دَ دی اعمالو سره الله یو نور ورکوی. نو دا نور ډیرو روڼو کښی ډیرو مجاهدو سره ملاویږی. او ختمیږی ډیر زر چی زمونږ او ستاسو دا نور ختم نه شی. که مونږ او تاسو بار بار وعظ بیان آؤرو. نو بیا بیا دا نور ملاویږی. د خپل زړه دا لوښی ورته خالی ساتل دَ دنیا دَ فکرونو نه دَ دنیا دَ خیالاتو نه دَ خپل زړه قرآن او سنت ته خالی کول د قرآن او سنت دی ملغلروته.

ځکه چی د متکلم د خلی چی کومه خبره راؤځی. د آؤریدونکی په توجه او په انابت سره څومره چی خلقو کښی انابت وی څومره طلب وی، څومره ادب وی، څومره شوق ذوق کښی وی. د متکلم د خلی نه د هغوی د سوچ او فکر په اندا زی سره خبره راؤځی. بل دا چی دَ وعظ آؤریدو مونږ باندی یو ذمه داری هم راځی.

نبی کریم ﷺ فرمائی ''بلغوا عنی و لو آیة'' یوه مسئله که درته یاده وی هغه به رسوی. ځکه نبی ﷺ فرمائی سیدنا ابو هریره رضی الله عنه راوی دے. چی ''بادروا بالاعمال.''

تاسو اعمالو طرف ته تلوار کوئ سبقت کوئ دَ هغه فتنو نه مخکښی څنګ فتنی دی چی په شان د ټکړی د توری شپی فتنی دی یعنی تکی توری تیاری دی نو نبی کریم ﷺ پیشن ګوئی ورکړه. چی فتنی به وی هغه فتنی نن شروع دی توری تیاری نبی کریم ﷺ ئی مثال ذکر کړو. ''یصبح الرجل مؤمناً و یمسی کافراً و یمسی مؤمناً و یصبح کافراً.''

سړی به سحر راپسی مومن به وی مانښام به کافر وی، مانښام به مومن وی، نن زمونږ هغه حال دی. اوس د قبر حشرد آخرت خبری کیږی نو تو جه لږه برابرده. مانښام خوپریږدوه . پنځه منټه بعد به زمونږ ذهن بیا ګډوډوی توجه به بیا خرابه وی.

او نبی کریم ﷺ فرمائی ''یبیع احدهم دینه بعرض من الدنیا.'' سړے به دا خپل دین دَ دنیا په معمولی غونته سامان بدله کښی خرڅوی اوداحادیث امام مسلمؒ هم ذکر کړی دی او یو روایت کښی رائی سیده ام سلمیٰ رضی الله عنها چی دَ نبی کریم ﷺ بی بی ده دَ اُمت مورده دَ هغی خاوند سیدنا ابو سلمیٰ رضی الله عنه شهید شوی وو. دا فرمائی چی یو شپه نبی ﷺ راویښ شو. ''استیقظ لیلة فقال سبحان الله'' بطور تعجب ئی سبحان الله ووئیل. نبی ﷺ فرمائیل دَ شپی څومره فتنے نازلی شوی دی او څومره خزانی نازلی شوی دی نو وائی څوك شته چی دا صواحب الحجرات راویښ کړی د صواحب الحجرات نه مراد ازواج

مطهرات دی امهات المومنین دی نو بیا نبی ﷺ وفرمائیلی چی ډیری زنانه به داسی وی په دنیا کښی چه جامی به ئی اچولی وی " عاریة فی الاخرة ." خو په آخرت کښی به ئی جامی نه وی. دنیا کښی ډیر زنانه به داسی وی چی لباسونه به ئی اغوندولی وی. خو په آخرت کښی به بربنډی وی (الله اکبر کبیراً) بیا محدّثین کرام ذکر کوی چی ډیرے زنانه به داسی وی "کاسیات فی الدنیا بالثیاب ، لوجود الغناء و عاریة فی الاخرة من الثیاب لعدم العمل فی الدنیا ."

دنیا کښی به مالداری وی، غټی غټی جامی به ئی وی ، په دنیا کښی به ئی عمل نه وی کړی. آخرت کښی به دَ دوی جامی نه وی ، دَ دی وجی نه بعضی محدثین ذکر کوی، "کاسیات بالثیاب"

هغه جامی به ئی په دی طریقی سره وی چی ستر به ئی پری نه پټیږی. ځکه زنانه خو ټول عورت دی. دا سی نرے جامی خودی جوړی کړی چی ویښته ئی پکښی ښکاری، د الله نعمتونه خودی اچولی دی. کا سیات من نعم الله ،دالله نعمتونه خو پری ګیر چاپیره دی. و عاریات من الشکر . د شکر نه خالی وی نو په دی وجه نبی کریم ﷺ و فرمائیل چی دا سی فتنی راروانی دی یو بل روایت کښی دی نبی ﷺ فرمائی چی دوه قسمه جهنمیان دی ما لیدلی نه دی. څه خلق دی ځائے پځائے ولاړ دی.

"قوم معهم سیاط کا ذناب البقر یضربون بها الناس"

ځائے په ځائے ولاړ وی ظلمونه کوی لوټ مار کوی خلق وهی کوړی ور سره دی نو که عام ډکوان وی د غه چل کوی هم دی جهنمیانو کښی دی او که ښه په مهذبه جامه کښی وی ښه ښکلی ور دی ئی اچولی. اووائی اودریږه هلکه اوښایه کا غذونه. داسی غلی غونده ورته لاس

کښـی لـوټ کیـدی. چـوکـونو کښـی ولاړ وی. اونبـیﷺ وفـرمـائیـل، "کـاسیـات عـاریـاتٌ" جـامـی به ئی وی، باوجود دَ جامو نه به بـے جامو وی. د غـه جامو ته جامی نه شی وئیلی. ټیټ پتلونونه ئی اچولی وی. نـری لباس، باریك لباس، او بل نبیﷺ و فرمائیـل "ممیلاتٌ مائلاتٌ." خـلـقـو طرف ته به مائله کیږی. او خلق به ځان طرف مائله کوی. دَ تلو انـداز جـدا دَ خبرو انداز جدا. دَ دواړو جهانو سر دار صادق المصدوق الله ته ډیر ګران هغه پیغمبرﷺ فرمائی " لا ید خلن الجنة" دا ښځی به جنت تـه هـر ګـز داخلی نه شی "ولا یجدن ریحها" او د جنت خوشبو وربـاندی حـرام او دَ جـنـت خـوشبـو ډیر لری مسا فت پوری محسوسیږی. په دی وجه الله تبارك و تعالیٰ فرمائی "الهکم التکاثر"

تـاسـو دی تـکـاثـر مـال په غفلت کښی اچولی ئی دآخرت نه د مـالونو د کپړود فرنیچر و د جا مو یو بل سره کمپیټیشن سیالئ دی. د خـور د خـور سـره مقابله دیور د یور سره مقابله د رور د رور سره مقابله د ګـاونـډی د ګـاونـډی سـره مـقـابـلـه . او دا د قـیـامت د نښونه یوه نښه ده جـبـریـل امیـن تـپـوس کړی وو د نبی کریمﷺنه "اخبرنی عن اماراتها" نبیﷺورته اوفرمائیـل "ان تر الحفاة العراة" ته به وینی هغه خپـے ابلی خـلـق هـغـه بـے جامو خلق هغه ګډو بیزو څرولو والا خلق "رعاء الشاء یتطاولون فی البنیان" په آبادو کښی به یو بل سره سیالئ کوی.

نبـی کـریـمﷺ مـونـږ ته په احادیثو کښی د ژوند تیرولو بهترین اصول ښـودلی دی. نبی اکرمﷺ فـرمـائیلی دی. ګوره دُنیوی لیول کښی ځان نـه ښـکـتـه خـلـقـو تـه ګورے او دینی لیول کښی د ځان نه بره خلقو ته ګـورے. کـه دا سـی نه وی نو ناشکرے کښی به مبتلا شئ. الحمد لله

مونږ او تا سو باندی الله فضل و کرم کړی دی چی مونږ او تاسو ته ئی دا دینی مجالس او دَ دین دا صحبت نصیب کړی دی.

زمونږ او ستا سو دا راجمع کیدل هم دَ ربّ لوی احسان دے. که هغه معلمین دی او که معلمات وی که هغه طالبات دی دَ دوی مقصد څه دے؟ دَ دے دومره منډو ترړو، دَ مطالعی، دَ مُعلمیو خبری د باجیاتو وهل چی زمونږ او ستاسو تر بیت اوشی چی دَ الله تبارك و تعالیٰ رضا حاصله کړو. که دَ الله تعالیٰ رضا حاصله نه شی . نو قسم می دی په الله هغه هندوان به رانه خه وی.

ما ته دایوه خبره ډیر افسوس را ولی. دلته داخلق داخپل خپلوان خاندانونه داځومره خلق چی مونږ ته ددین نسبت کوی چی دی دین زده کوی دی طالباتو بورقی اچولی دی فقه زده کوی. احادیث زده کوی اوس که دے سره سره زمونږ په زړونو کښی غلا وی. خلقوته خو مونږ ښه شو ورکوو. خلقو سره خو مو کا غذونه صفا دی. خلق مو عزت کوی. خلق وائی دا دین والا دی. دا تقویٰ والا دی. دا حیا والا دی. دا درسونو والا دی. الله دی نه کړی که درب ذوالجلال سره مو کاغذونه خراب وی ځکه الله زمونږ فیصلی په ظاهره باندی نه کوی زمونږ دننه با طن ته ګوری چی زمونږ دننه د با طن تر بیت اوشی. د قیامت روځ به وی دَ سیدنا آدم علیہ السلام نه راواخلی تر دَ محمد ﷺ آخری امتی پوری ټول خلق به موجود وی او په هغه روځ به اعلان اوشی. ﴿وامتازوا الیوم ایها المجرمون﴾

اے مجرمانو را جُدا شئ، او مونږ په هغی مجرمانو کښی پاسُو. نو دا خلق به څه وائی. وائی به دا هغه دینداره خلق دی هغه مدرسو والا دی

صفا حدیث کښی راځی. دَ قیامت په روځ به څه کسان جهنم ته تماشه اوکړی جهنمیان به یو کس به اُوِینی د هغی نه به دومره بدبو ځی. او دا سی تاؤیږی. لکه څنګ چی په ارتې غوائی یا خر تاویږی. او کولمی به تری بهر راوتی وی. جهنمیان به د هغه د بدبو نه پناه غواړی. هغه کسان به تماشه وکړی. چی داڅوك دی چی دومره سخت عذاب کښی ګیر دی دومره سخت مصیبت کښی ګیر دی. چی دجهنمیان هم تری تنګ دی. وائی به اوه د هغه کس دی چی مونږ ته به ئی مسئلی کولی نو دی به رانزدی شی. وائی به ته هغه فلانکی نه ئی. وائی به آو زه هغه فلانکی یم خو زماپه خپل علم عمل نه وو د علم والا مقام خوډیر لوئی دی . ډیر اعلیٰ دی خو که د علم سره دی و چیړل په دی وجه چی مونږ او تا سو خپل با طنی تر بیت وکړو. روښانی تر بیت دی دپاره خپل وظائف جاری ساتل. په معمولا توکښی قضائی نه را وستل .د سحر مابنام ذکر اذکار تهجد نوا فل تلاوت مطالعه تکرار، د طلباؤ د علم والو دا کارونه وی. دا هم نه چی کوم معلمات دی معلمین دی مدرسات مدر سین دی چی مونږ فارغ یو .نور جنرل کتابونه به نه ګورو، په علم کښی به اضافه نه را ولو دا غلط سوچ دی مطالعه مخکښی بو تلل.

بل کوشش داپکار دی.خپل خاندان کښی رشته دارو کښی څوك بی دینه وی. نو د هغوی د پاره سوچ کول پکار دی چی څنګ به دی دین ته را شی ددین کار کول خو په اخلاقوسره د هغی د پاره طریقه کار دادی.ستاسو خاندان کښی زنانه دی بی دینه دی غیبت کوی سودونه کوی حرام خوری ده پکښی. دا سی نه چی ور ته وائی حرام خوری دلته را شه په دی راه راست ته نه راځی. ډومبی سلام اوکه. دی سلام کښی

ډیر لوئی کمال دے. بیا ته دَ هغی زنانه لږ غوند اکرام اوکړه. څه ټاپی ورته ورکړه څه لږ څه وربانـدی اوخروه. یو پیالئی چائے وربانـدی اوڅکوه. بیا لږی د آخرت خبری ورته اوکړه. چی د آخرت زندگی همیشه زندگی ده . دآخرت ځوانی همیشه ځوانی ده. هلته بوډاوالی نشته. هلته بیماری نشته، هلته تکلیف نشته، هلته همیشه صحت دی، هلته همیشه مزی دی ، هلته میوی دی ، هلته باغونه دی ، هلته نهرونه دی ، هلته چی انسان څه غواړی هغه به ور ته ملاویږی. ددنیا دا لږ ژوند د هغے د پاره تیاری دی . که مونږ د هغی د پاره تیاری اونه کړو. نو جهنم کښی عذابونه دی. لږمانان دی ماران دی قبر کښی توری تیاری دی. ددنیا زندگی خو هسی هم پاتی ده، څومره خلق مونږ روزانه وینو، جنازی دی، اعلانونه دی. مقبری ډکی شوی.

زمـــکـــی کـــلـــنگ دی زورآور دی
ځوانـان راکـاږی رالیـږی تـش پـالـنگونـه

چی زمونږ او ستا سو ددنیا نه زړه مورشی. ددنیا څه حیثیت دی یو حدیث کښی راځی نبی کریمﷺ یو روځ صحابه کرامؓ سره په لاره روان وو. یو ځائے کښی یو مرداره چیلئے پرته وه. او د هغه چیلئے غوږ هم بوندت وو. نبی کریمﷺ د خپلو ملګرو روحانی طبیب هم وو هغوی اوفرمائیل اے ملګرو په تاسو کښی به دا چیلئی څوك واخلی؟ صحابه کرام وائی رضی اللہ عنہم اے دَ الله رسوله. د اپه مونږ کښی څوك هم نه اخلی نبی کریمﷺ وائی هسی به ئی څوك واخلی. صحابی کرام رضی اللہ عنہم وائی اے دَ الله رسوله دا چیلئی څوك هسی هم نه اخلی که دا چیلئی روغه وی د بیا هم چانه خوخوله. ددی غوږونه بوندت بوندت

دی نو نبی کریم ﷺ و فرمائیل چی څنګ ستا سو په ذهن کښی ددی چیلئی څه اهمیت نشته، نو الله تبارك و تعالیٰ ته د اتوله دنیا د غه شان ده مونږه نن په دنیانازیږو. دادنیا ختمیدو والا ده ﴿ ما عند الله ینفذ و ما عند الله باق﴾

نبی اکرم ﷺ فرمائی "لو کانت الدنیا تعدل عند الله جناح بعوضة" که چرته دَ الله تعالیٰ په نزد باندی دَ دی دنیا قیمت دَ ماشی دَ وزر برابر وی نو کافر ته به ئی تری دَ اوبو یو ګوټ قدر هم نه وو ورکړی. دُنیا الله تعالیٰ فرعون ته هم ورکړی وه. قارون ته ئی څومره ور کړی وه، هامان ته ئی څومره لوئے وزارت ور کړی وو، ددنیا هیڅ حیثیت نشته الله دنیا هر چا ته ور کوی خو ددین پو هه علم او قرآن او سنت د الله هر چا ته نه ور کوی چی زمونږ او ستا سو د الله سره تعلق قائم شی. چی مونږ چا ته دعوت ورکوؤ. نو چی د زړه نه ئی ورکوو ځکه یوشاعر وائی.

دل سے جو بات نکلتی ہے اثر رکھتی ہے
پر نہیں مگر طاقت پرواز رکھتی ہے

چی مونږ او تا سو کښی پخپله عمل نه وی، که بل ته خبره کوو په هغوی به اثر نه کوی.

"جس کی اندر کی دنیا بدلی ہو اس کی وجہ سے دوسروں کا دنیا بدلے گا"

دچا چی د زړه دنیا بدله شوی وی د هغوی په وجه د نورو خلقو د زړونو دنیا بدلیږی. دلته کښی خلقو ته وائی، قبر، حشر مرګ، آخرت، دین، اسلام او چی مو قع ملاویږی . مال مفت دل بے رحم

کورونو کښی ځان د حرامونه سا تل یاد سا تے په کومه ګیډه کښی چی حرام پرأ ته وی د هغوی هیڅ عبادت نه قبلیږی. کوم خلق

چی حرام خوری او علم کوی په علم کښی ئی برکات نه وی کورد هغی تر غیب چلوی. چی سود ګانړی، رشوت د یتیم مال کورته راؤنړی، بجلئ بندی نه کړئ، دَ سرکاری شؤو خشاکُونه دَ سرکاری لاچو خشاکونه کورته راؤنړے.

بعض علماؤ یو واقعه لیکلی ده. امام حمد بن حنبل ډیر لوئی امام تیر شوی.اوس هم دهغه مذهب رائج دی. دحرمینو شریفینو سر کاری مذهب هم حنبلی مذهب دی. مسند امام احمد دده مشهور کتاب دی ګنړو جلدو کښی چاپ دی دده شیخ استاد امام شا فعیؒ دی. امام احمد بن حنبلؒ د امام شا فعی صاحبؒ شاګرد وو د خپل استاد ملا قات ته به تلورا تلو ځکه چی استاد شاګرد ته دعا ګانی کوی ډیره زمانه وشوه، ملاقات و نشو د امام شا فعیؒ خپل شاګرد رایاد شو امام شافعیؒ قاصد اولیږلو خط ئی ورکړو. چی بچنګیه ډیر می یاد شوی ئی او زهٔ به پخپله ستا ملاقات ته در غلی وم خو بیماریم. که لږ ټیم وو را تلی شوی نو لږراشه چی دی ووینم (الله الله)

هغه وئیل صحیح ده در رَوانیږم شیخ خوشحاله شو زما شاګرد راروان دے کلی کښی ئی ټولو مریدانو شاګردانو ته اعلان اوکړو. احمد بن حنبل به رائی استقبال ته به وروځو خپل شاګرد ته استقبال ته وئی .(ماشاء الله ، ماشاء الله) دومره لوی مقام وو دَ امام احمد بن حنبل. کور کښی ئی خپلو بچو ته ووئیل. زما ډیر نر بچی راراوان دے. دی امام اووی چی څومره درنه کیدی شی. په اکرام او میلمستیا کښی درنه کمی رانه شی. غټ انتظامات اوشو. استقبال د احمد بن حنبل اوشو. دسترخوان خورشو. د امام شا فعیؒ وړی بچنګئی خدمت

تـه ولاړی وے امـام بـن احـمـد حـنبـلؒ چی خوراك شروع کړو. نو کله د یـو ځائـے نـه نـورے کـوی. کـله د بل ځائے نه نورے . هغه لونړه ئی خپـل مینـځ کښـی لـګیا شوی چی بابا جان خو وئیل چی دا ډیر لوئی امـام دے. دی خـو دَ خـوراك پـه آدابو هم نه پو هیږی. بیا امام احمد بن حـنبـلؒ روټئ دَ معمول نه زیاته و خوړه. هغه لونړه ئی وائی. چی نیکان خـلـق او اولیـاء خلق خولږ خوراك کوی ده خو دومره ډیر خوراك و کړو. بیـا شپـه شـوه. هـغـه لـونړو ئی اوبه کیخودی. لوټه ئی دَ اوبو ډکه کړه چـی د شپـی تجهد مونځ کوی ، چی تکلیف ورته نه وی سحر دَ مونځ ټیـم شـو . احـمـد بـن حـنبـل ئی مونځ ته مخکښی کړو. اوبه دغه شان ډکـی پـاتی شوی دا لونړو ئی چپ پاتی نه شوی. پلار ته وائی. بابا جانه تـا خـو وئیـل چـی دا ډیـر لـوئـی امـام دے. دی خو دَ روټئ پـه آدابو نـه پـو هیـدل. روټـے ئـی زیـاتـه وخـوړه او سحر مونځ ئی بـے اودسه وکړو. شیـخ صـاحـب ورتـه وائـی، احـمـد بـچی ته خلقو کښی هسی مشهور شـوی. تـه خـو ډیر بدل شوی او سحر مونځ دی بی اودسه وکړو. ښکاره ښکـاره خبری ورته وکړی هغه ورته وائی شیخ محترم تا رښتیا ووئیل. چی زه روټی ته کیناستم نو ما ته دا څیز محسوسیدو چی په دی روټی دَ انوراتو نزول کیدو .

مـا چی یو ځائـے ته لاس وړل بل ځائـے ته ما وئیل چی زه دی ځائـے نه د انـوارات را وا خـلـم . او پـه هغه روټـے کښی دومره لذت وو دومره حلال رزق وو. دومـره مـزه وه پـکښـی چـی زه مـړیـدم نـه او بیا د هغی دومره بـرکات وو. چی ما ته د شپی خوب نه راتلو زما چی د ماښام کوم اودس وو مـا پـری مـاسـخـوتـن تهجد وکړه. تلاوت می کولو مخـے ته می یو


آیت راغلو او دَ یو آیت نه ما سل مسائل مستنبط کړل. او زهٔ اُوده شوی نه یم . د حلال رزق ډیر برکت وی. بیا هغه لونړو ته اوئیل هغوی نوری هم حیرانه شوی.

په خپل علم باندی عمل کول که څه ګناه درنه و شوه. یا یو مشر یو کشر یو ملګری یا یو ګاونډی مو په غلطی کښی ولیده . هغی ته هوا نه ورکول د هغی پیغور نه کول بس الله ته توجه کوے. که څوك مو ګناه غلطی کښی ولیده د هغی غیبت نه کول ګورے یاد ساتے . د هغی نه به الله هغه لر کړی . او تاسو به پکښی مبتلا کړی . د خپل اصلاح کو شش کول د خپل اساتذو سره عقیدت احترام کول . خپل مطالعه تکرار کول. (اقول قولی هذا استغفرالله لی و لکم ولسائر المسلمین)

★★★★★★★★★★★★★

خطبہ نمبر: ''۳۲''

فتح مکہ (حصہ اول)



دوه دیرشمَه خُطبه : ''فتح مکه''

الحمد للمقدر والواجب النعيم والشكر للمدبر والمالك القديم الرافع السمآء بلا ركنٍ و عماد الخالق البرايا والرازق الحكيم الواسع الحطايا الحاضر القريب الدافع البلايا من واجل السقيم. من يهده المهيمٍ ليس المضل شی من ضل لايهدی الامن الرحيم قل لا اله الا الله واحد قل انه محمد مبعونه العظيم صل عليه ايضا فی كل ساعة يا رب دائماً مع اله الكريم والصحب ذوی العدل والخيا بعلم عالبين علیٰ الكا فر الئيم .اما بعد فاعوذ بالله من الشيطٰن الرجيم، بسم الله الرحمٰن الرحيم. ﴿انا فتحنالك فتحا مبينا ليغفر لك الله ما تقدم من ذنبك و ما تأخر و يتم نعمته عليك ويهديك صراطا مستقيما و ينصرك الله نصر عزيزًا﴾ ﴿ان الله و ملئكته يصلون على النبی يايها الذين امنوا صلوا عليه و سلموا تسليما﴾ اللهم صل علیٰ محمد و علیٰ آل محمد كما صليت علیٰ ابراهيم و علیٰ آل ابراهيم انك حميد مجيد. اللهم بارك علیٰ محمد وعلی آل محمد كما باركت علیٰ ابراهيم و علیٰ آل ابرٰهيم انك حميد مجيد.

زما عزتمندو مشرانو مخکښی جمعو کښی دَ نبی اکرم ﷺ دَ سيرت په حوالی سره دَ بعضی غزواتو تذکره شوی وه نن زمونږ د بيان عنوان دی. فتح مکه يا غزوة الفتح. چونکه کله چی سيدنا ابراهيم علیه السلام دکعبی تعمير کړی وو نو دَ توحيد باری تعالیٰ په بنياد باندی. بيا د توحيد يو لوئی داعی جناب نبی کريم ﷺ دَ ده په حق کښی سيدنا ابراهيم علیه السلام دعا کړی وه چی ﴿ربنا وابعث فيهم رسولا﴾ اے زمونږ ربه ته دی عربو ته يو پيغمبر وليږی چی دَ دوی دَ جنس نه وی، دَ انسانانو نه وی، دوی هم بشر دی نو پيغمبر ﷺ هم بشر دے. ﴿مِنۡهُمۡ﴾ چی دَ دوی نه وی او د هغه کار پروګرام خلقوته د قرآن او سنت

تعلیم ورکول، خلقو ته د توحید او سنت پیغام رسول، نبی ﷺ الله تبارك و تعالیٰ پیدا کړو او چی په کومه زمانه کښی نبی محترم ﷺ پیدا شو په دغه زمانه کښی بیت الله دَ سؤونو بتانو نه ډك وو. دری سوه شپیتهٔ بتان پکښی وو. الله تبارك و تعالیٰ پیغمبر ﷺ رالیږی چی خلقو ته د الله د توحید چغه اووهی نبی کریم ﷺ څلویښت کاله زندگی تیره کړه د خلقو وربانديٰ ښه اعتماد وو خلقو صادق ګنړو. خلقو امین ګنړو خلقو ورسره امانتونه کیخوده څلویښت کاله بعد الله تبارك و تعالیٰ نبی ﷺ ته وحی راولیږله د نبوت اعلان وکړه چی کله نبی ﷺ تو حیدی نعره برملا چغه ولګوله " لااله الا الله" نو بیت الله خو دَ بتانو ډك وو. نو ټول قریش حائل شو. ټولو قریشو مخالفت شروع کړو. خپلوان او پردو هم عربو دشمنی را وا غسته . د غه و خت کښی د نبی کریم ﷺ ملګری ډیر کم وو. او چی کوم خلق ئی ملګری کیدل نو مشرکینو هغوی ته قسما قسم تکلیفونه ورکول عذابونه ئی ورکول مصیبتونو کښی ئی مبتلا کول. ډیر زیاتی ئی ور سره کول هغه ځانته جدا تفصیلات دی چی څومره زیاتی ئی ور سره کول بیا آخرنبی ﷺ ته دَ هجرت حکم اوشو. نبی ﷺ د مکی مکرمی نه کډه او نغاړله روان شو نبی محترم ﷺ چی کله د کلی نه تلو نو مکی طرف ته ئی په شا او کتل چی اے مکی "انك لَاحبّ البلاد الیّ" ته خو ما ته په تمام کلو کښی ګران ئی .

که دی خلقو زه نه ایستم نو زه به نه وتم. نبی ﷺ په هجرت باندی مجبوره شو بیا غار ثور کښی نبی ﷺ ایسار شو د هغی نه پس نبی ﷺ مدینی منوری ته راروان دی. نبی ﷺ مدینی منوری ته اورسیدو خلقوئی استقبال

وکړو. د مدینی منوری خلق انتهائی خوشحاله شو احادیثو مبارکو کښی راځی مدینی والا وائی زمونږ په تمام زندګئی کښی د ټولو نه خوږه روځ د خوشحالے روځ هغه وه چی په کومه روځ نبی ﷺ مدینی ته تشریف آوری وکړه. او په مونږ باندی د ټولو نه غم او د خفګان روځ هغه ده چی کله نبی ﷺ وفات شوی وو. نبی ﷺ مدینی منوری ته لاړو، دا تفصیلات بیان شوی وو. د بدر جنګ را پیښ شو. د احد جنګ د خند ق،دخیبردا مختلف غزوات مختلف جنګونه. صحابه کرامؓ پکښی شهیدان کیږی. نو ډیر کفار پکښی مر داریږی. ډیر غنیمتونه پکښی په لاس را تله بیا په سن ٦ هجری کښی نبی ﷺ د عمری په نیت روان شو قریش حائل واقعه شو او بیا صلح و شوه. او د لسو کالو د پاره روغه و شوه صلح حدیبیه د نبی ﷺ او د قریشو په مابین کښی .

دد ے نه علاوه چی کومی آس پاس نوری قبیلی وی هغوی ته اختیارورکړی شو. که څوك د محمد ﷺ ملګر تیا کوی هغوی ته هم اختیار دی او که څوك د قریشو ملګر تیا کوی هغوی ته هم اختیاردی. هغوی سره به د چا کار روز ګار نه وی څه قبائل د نبی ﷺ سره ملګری شو. نو څه قبائل د قریشو سره تړچ شو. او د روغی میعاد ئی لس کاله مقرر کړی وو. په دغه دوران کښی یو قبیله وه قبیله بنی خزاعه دَ مسلمانانو حلیف وګرځیده. او بله قبیله وه قبیله بنی بکر دا د قریشو سره ملګری شوه اوس دَ دی دواړو قبائلو په خپل مینځ کښی غټی دُشمنئی تیری شوی وی یو بل سره ئی لویه دشمنی او عداوت وو. چی کله د اسلام ظهور اوشو. نبی ﷺ خلقو ته د توحید پیغام رسول شروع کړو. نو خلقو خپلی دشمنی او عداوتونه پریخوده .او

نبی ﷺ ته متوجی شو. او دپیغمبر ﷺ مقابله ئی شروع کړه. ټول یو شو. او وئیل ئی، دے پیغمبر ﷺ خو راته نوی دین راوړلی دی . چی روغه وشوه. نو روغی سره جنګونه یخ شول. په دغه دوران کښی د قبیله بنی بکراو قبیلی بنی خزاعه ددوی دشمنی یوبل سره بیا را تازه شوی او یو اور بل شو داکومه قبیله د بنی بکر د قریشو سره ملګری وو هغوی بنو حزاعه باندی حمله و کړه د غه دوران کښی ډیر قریش داسی وو چی د خپلی قبیلی سره ئی ملګرتیا وکړه چی روغه کښی لیکلی شوی وو. چی هیڅ اقدام به نه کاؤ .جنګ جهګړا به نه کوو په د غه دوران کښی دوی وعده ماته کړه او په د غه دوران کښی خلق ډیر مسلمانان شوی وو. او یو لوئی طاقت جوړ شوی وو بیا د غه دوران کښی دَ خزاغه قبیلی چی کوم مشر وو هغه را غی او په حرم کښی ئی پناه واغسته نو دی قریشو په حرم کښی ئی هم پری نه خودو. بلکه هغه ئی اُوژلو او د هغه سره چی څومره مال و غیره وو هغه ئی تری واغسته. لوټ مارئی وکړو. اوس قریشو د صلح بنه بنکاره خلاف ورزی اُوکړه . په د غه دوران کښی عمر بن سالم چی د قبیلی بنو حزاغه یو تن وو دۀ څلویښت تنه ځان سره کړه. یووفد ، او دے را غلو، اود نبی ﷺ په خدمت کښی حاضرشو. شکایت ئی وکړو. چی مونږ ستا سو حلیف جوړشوی وو اودا رنګی بنی بکر قریشو خلیف جوړ شوی وو. او معاهده شوی وه او قریشو هغه معاهده ماته کړه. او بعضی د سیرت کتابونو په دی مقام کښی ددغه عمر بن سالم اوږده اشعار ذکر کړی دی. ډیر ژړا والا چی نبی ﷺ د اواوریده. نو ډیر سخت خفه شو. نبی کریم ﷺ قریشو ته پیغام ولیږلو. چی دری خبری دی په دی کښی

یو ته ځان تیار کړے د ټولو نه اول خود اوکړے چی د بنو جزاعه قبیلی څومره ملګری و ژلی شوی دی هغوی ته دیت اداکړے .که دا نشئی کولی نو بنی بکر ستا سو حلیف جوړ شوی دی هغوی سره تاسو بائیکاټ اوکړے .

چی دوی سره زمونږ ملګرتیا نشته. بیا به مونږ دوی سره راکاږو. او دویم اعلان ئی دا اوکړو چی زمونږ دَ لسو کالو کومه معاهده شوی وه هغه ختمه شوه. په اصولو باندی پوهه خلق وو. داسی ئۍ اونه کړه چی مشرکینو زیاتی وکړو. سوال جواب ئی ورته اولیږلو اصول ډیر ښه څیز دی پخوا به دی مشرانو عجیبه خبره کوله وائی دَ کم عقل دوست نه هوښیار دشمن ښه وی نو هوښیار سړی په اصولو باندی پوهیږی. کم عقل دوست به دی شرموی . نو دا دری خبری ئی ورته اولیږلی نو قریشو ته مسلمانان هډو څه ښکاریدل نه نو قریشو وئیل زمونږ ته دریمه خبره منظوره ده بس وعده ما ته شوه. هغوی اوئیل صحیح ده. چی څنګ ملګروته اعلان وشو. چی زمونږ په مینځ کښی کومه خبره کومه وعده شوی وه هغه ما ته . دوی بیا سوچ کوی که دا خلق راباندی را غله هغوی خو دپیغمبرﷺ وینبته آزارول هم نه بر دا شت کوی د اخو داسی خلق دی دوی سره مقابله ډیره ګرانه ده اوس غریبانان په یره کښی دی خدایه دا څه اوشو. په دی خپله خبره کولو ملا مته وو ابو سفیان لاړو مدینی منوری ته نبی کریمﷺ په مسجد نبوی کښی وو. کورته لاړو نبیﷺ کره دا ابوسفیان د کفار ویو غټ لیډر وو. نبیﷺ کره څنګه لاړو بس دالله تعالیٰ څه عجیبه نظام وو په نبی کریمﷺ باندی دده لور وادۀ وه د خپلی لور خواته لاړو.

تـجـديـد معاهده د پاره چی د وعدی دا میعاد نوی کړو. او دَ دی لور نوم ئـئ دے سیـده ام حبیبـه دا ام حبیبهؓ د سیدنا امیر معاویه رضی اللہ عنہ خور ده نو مونږ ته دنبی کریم ﷺ سره د امیر معاویهؓ رشته معلومه شوه. چی امیر مـعـاویـهؓ د امـت مـاما دے او دَ نبی ﷺ اوخی دے دَ سیده ام حبیبهؓ کره یـوه بستـره وه پـلار ئـئ وائـی چـی لـور کـره راغـلی یم پـه هغـه بستره کیـنـاستـم لـور ورتـه وائـی پلاره لږ صبـرا و کـړه. هغـه بستـره ئـی زر راغونډه کړه. دا دَ دغه دور واقعه وه ورته وائی اوس کینه پلار ورته وائی چـی دا بستـره خـرابـه وه څـه. مـا نه دی ولی غونډه کړه؟ لور ورته وائی پـلاره تـه خـو شـرك کـوی . تـه خو مشرك ئی دا دَ دواړو جهانو دَ سردار بستره ده ، نو په دی مشرك پلیت سړی نه شی کیناستی. هغه پلار ئی حیـران شـوی دی وائـی لـوری ستـاخـو جـوړی د مـاغ خراب شوی دی. لورئی وائی نه بابا جانه زما دماغ نه دی خراب شوی . ماتو حید والا دین اختیـار کـړی دی د کـفر او شرك د تیرونه راؤتی یم د ارنړا والا دین دی. او رنـړا والا لار ده د هـغی نه پس ابو سفیان را غلی مسجد نبوی ته ددواړو جهانو سر دار ته وائی د اوعده به نوی کړو تجدید به اوکړو. څه ملګری بـه پـو هه نه وی ټهیك ده اعلان به ئی کړی وی چی وعده ماته ده خونه جی وعده بحال ده. نبی ﷺ وائی ما سره په دی باره کښی خبری مه کوه خـامـوشـی ئـی اختیـار کـړه سړی بـاندی یره را غله الله پاك ئی څومره ذلیـلـه کـوی ددی نه روستو دی بیا را غلو د ابوبکرؓ خوا ته چی ابوبکرؓ ته زما سفارش اوکړه محمد ﷺ ته ووایه چی دا وعده بیا نوی کوو وعده بـه پـه وعـده وی ابـوبـکـر اووئیـل زه دی کښـی څـه نشم کولـی چـی پیـغـمبـر ﷺ څـه فیـصـله اوکړی مونږ په هغی کښی بیا رکاوټ نه شو

واقع کولی بیا سیدنا عمر ﷺ پسی راغلو عُمره ته راسره ورځی نه چی پیغمبرﷺ ته لږ سفارش اوکړی؟ سیدنا عمر ﷺ وائی ابو سفیانه! دا ته څه وائی، یاد ساته که ما سره د جنګ کولو څه هم نه وی په تش لاس به ځان وژنم خو جنګ به کوم . د هلتی نه سړی مایوس شو. د سیدنا علی ﷺ خواته راغلو وائی ته راته سفارش اوکړه. هغه ورته وائی زهٔ دی کښی څه نشم کولی. البته ته دومره را کړیدلی ئی. دی ور ته وائی څه تدبیر را ته وښایه . هغه ور ته وائی. دا سی کار و کړه مسجد نبوی ته لاړ شه هلته اعلان وکړه. چی زمونږ وعده به په وعده وی او نیغ ځان مکی مکر می ته اورسوه ابو سفیان ته بل څه لار نه وه معلومه مسجد نبوی ته لاړو. او اعلان ئی اوکړو، ایمان دارو زمونږ وعده به په وعده وی او مکی ته واپس راغلو خلقو ته ئی خبره اوکړه نوخلقو وئیل چی نهٔ خو مونږ سره خبره کنفرم ده چی وعده به په وعده وی نو مونږ په یو دوه کښی حیرا ن یو د جنګ د پاره تیاری هم نه شو کولی او که تیاری کوو او هغوی هلته وعده په وعده کړی وی نو بیا به وعده ماته شی غریبانان ډیر ګډوډ وو. سیدنا ابوسفیان ﷺ راغے خپل خپلوان ټول ورته لګیا دی چی دا تا څنګه خبره اوکړه تا خو هیڅ نتیجی والا خبره راونړه په د غه دوران کښی نبیﷺ صحابه کرام ﷺ راجمع کړل ورته وائی په مکه به ورځو. مکه به فتح کوو. او ورته ئی اوفرمائیل چی دا خبره به راز کښی ساتے. راز به نه فاش کوئ په د غه دوران کښی یو صحابی ﷺ وو. په صحیح بخاری کښی اوږده واقعه ذکرده، او دَ دغی صحابی نوم دی سیدنا حاطب بن ابی بلتعه ﷺ ده مشرکانو ته خط ولیګولو. چی اے قریشو! پیغمبرﷺ او صحابه کرامو اراده کړی ده او

کـه نـن دی او کـه صبا پـه مـکـه بـه حملـه کوی. مکـه بـه فتح کوی نبی ﷺ ته وحی اُوشوه. چی ستا د ملـګری نه خطا شوی ده نبی ﷺ غیـب دان نـه دی وحی ور ته اُوشوه نبی ﷺ ملګروته اعلان اوکړو. چی کـوم کـوم ملګری به لاړ شی؟ سیدنا علی رضی اللہ عنہ او یـو ملګری بل وو تاسو بـه لاړ شئ او روضة خاخ یو مقام دی هلته به یوه زنانه رالاندی کړے. هـغـه زنـانـه سـره به د حاطب رضی اللہ عنہ یـو خـط وی صحابه رضی اللہ عنہم لاړل هـم هغه ځائـے کښی ئی هـغـه زنـانه رالاندی کړه. زنانه ته وائی شابه خط زر راؤباسه، زنانه وائی ما سره خط نشته، سیدنا علی رضی اللہ عنہ ورته غصه شو او داسی الـفـاظ ئی ور تـه اوئیل چی هغه زمونږ په خله نه راځی او ورته وائـی زر راؤبـاسه هغی زر په کمسو کښی لاس ورکړو. او هغه خط ئی راویستـو او بـعـضـی وائـی چی پـه کـمسـو کښی ئی تـاؤ کړی وو. او کـمسـے ئـی اوږدی وی او کـمسـے ئی په بڼه کښی ښکته ورکړی وی بهـر حال خـط ئـی راؤبـاسـلـو چی خط ئی څنګه راؤړلو پیغمبر ﷺ و کتلو چی دا خو دی ملګری مشرکان خبرول . چی دوی حمله کوی په د غـه و خـت کښی حـضـرت عـمـرؓ زر توره راؤویسـتـه حضرت عمرؓ خو حضرت عمرؓ وو. وائی دالله رسوله دا سر تری نه قلموم. دی منافق شوی دی زمونږ ملګری دے او دوی ته ئی خط لیکلی دی نبی کریم ﷺ ورته وائـی. عمرؓ تاته څه پته ده. دا خو بدری صحابی دی. دَ ده کوم مقام دی بیـا دغـه صـحـابی راغلی وو. او نبی ﷺ ته ئی عذر پیش کړی وو. هغه وائـی، زهٔ مـنـافق شوی نه یم. ما دا دَ منافقت د وجی نه نه دی کړی. زما مـجبـوری ده زمـا هـلتـه بـال بـچ او جائیدادونه دی ما وئیل زهٔ به په دی قـریشـو بـانـدی احسان اوکړم نو زما د مالونو حفاظت به کوی. او باقی

چی الله تعالیٰ تاسو ته کومه فتحه درکوی هغه زما د خط به وجه نه واپس کیږی زما دا ۱۰۰ فیصد یقین دے چی مونږ به فتحه حاصلو ان شاء الله . او دا هغه صحابی دے دومره نر صحابی دے چی دی یو ځل بهر راوتی وو او دا خبره ځکه بیانوم چی بعض خلق وائی صحابو سره ئی فطرتی نفرت وی دا سی ذهنونو والا خلق شته قدرتی کار دے چی د صحابو ﷺ مدحه او د صحابو ﷺ شان بیانوی دَ صحابه کرامو دفاع او دَ صحابو ﷺ قربانی او د صحابو ﷺ د نبی ﷺ سره مینه چی دا بیانوی نو دَ غریبانانو تندی به را پریوځی. صحابو سره غټ عداوت کؤنکی خلق شته په دنیا کښی دا اُوګوره حاطب ﷺ دا چل کړی وو نبی محترم ﷺ امت ته وائی خبردار دا بدری صحابی دے دَ دۀ باره کښی څه اونه وائیۀ دا دومره لوئی صحابی دے.

یو پیره دری کافران را غلی وو دَ نبی کریم ﷺ د وژلو دَ پاره سیدنا حاطب ﷺ ورسره ملاؤ شو. سیدنا حاطب ﷺ ورته وائی چه څه کوئ؟ دریو واړو سره ښی غټی غټی زبردستی توری وی. وائی چی دا محمد ﷺ خلقو ته څه نوی نوی مسئلی کوی نوی دین ئیۀ راؤړلی دے خلق بے دینه کوی د هغه علاج کوو هغه ور ته وائی تاسو خوډیر په ښه جذبی سره را غلی ئی. خو هغه چی دی ځائے ته راځی دی ته دَ راتلو دری لاری دی که تا سو دری واړه ورته په یوه لاره کینے. او هغه په بله لار لاړشی. نو داسی کار دے چی هغه دری واړه لاری ماته معلومی دی. هغه دواؤ ته وائی تاسو دی ځائے کښی اودریږے. دی یو ته لار ښایم هغه ئی لږ لری بوتلی او د هغوی د ستر ګو نه ئی پناه کړو ورته وائی هلکه دا توره دی ډیره مزیداره ده، ته راکه دا توره دَ دی یو ګزار ته محمد ﷺ نه ټنګیږی او چی څنګه ئی تری اغستی ده نو دی څټ ته

ئی ورته راچولی ده او په هغه ځائے یخ کړی دے، دے را غلی دے هغوی ورته وائی سړی څنګه وو وائی هغه سړی می ځائے ته اورسولو او په حقیقت کښی ئی ځائے ته اورسولو هغه بل ته وائی ته راځه ما پسی تا ته لار ښایم او هغه بل سره ئی هم دغه معامله اوکړه او هغه دریم سره ئی هم د غه شان کار اوکړو. دری کا فران ئئ یکی یو اځی اووژل. دومره نر صحابی وو.

نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ته و فرمائیل تیاری اوکړے مکی ته روانګی شروع کوو، دابه څنګه کیفیت وو چی نبی ﷺ سره د یو څو ملګرو سر تور سر لږ کسان د مکی نه وتلی وو. او اوس د یو عظیم فوج د یو عظیم جیش د یولوئی لښکر سره نبی ﷺ راځی. او مکی مکرمی ته روانیږی. صحابه کرامؓ دی تیاری شروع دی او کتابونو کښی راځی چی په د غه و خت کښی نبی کریم ﷺ سره لس زره کسان وو دا خو چند کسان وو. او دومره ور سره الله ملګری کړی دی. لس زره صحابه کرام نبی ﷺ سره روان شو بعضی کتابونو لیکلی دی چی ۶۳۰ء ۸ هجری وو کال وو د جنورئی میاشت وه په دی سفر کښی نبی ﷺ سره دوه بیبیانی وی یوم ام سلمیؓ او دویمه میمونهؓ وه چی کله نبی ﷺ مقام ذوالحلیفه ته ور سیده په لاره کښی عباس صاحب راروان دی بال بچ ور سره وو عباسؓ په بدر کښی مسلمان شوی وو او د نبی ﷺ ترۀ دی. او د نبی ﷺ په مشوری سره دوی په مکه مکرمه کښی حصار شوی وو او د دمکی حالات به ئی هلته رسول چی مشرکان دی پوزیشن کښی دی دی پوزیشن کښی دی.

سیدنا عباس رضی اللہ عنہ خپل سامانونه مدینی ته اولیږل او قافلی سره ملګری شو او واپس مکی مکرمی ته روان شو نبی ﷺ، سیدنا عباس رضی اللہ عنہ او

ټول ملګری روان دی، عباس رضی اللہ عنہ چونکه مخکښی ایمان راوړلی وو. کلك مسلمان وو. اوصحابه کرام په دغه وخت کښی مقام قدید ته ورسیده دَ روژی میاشت وه ډیر سفر ئ شوی وو. او لوړه تنده وه، او نبی صلی اللہ علیہ وسلم روژه ماته کړه. او دا روژه ئی دی دَ پاره ماته کړه. نبی صلی اللہ علیہ وسلم خو برداشت کولی شو. خو وئیل ئے چی دا ملګری به په تکلیف کښی وی صحابه کرامو روژه ماته کړه. او نبی پاك صلی اللہ علیہ وسلم د ماسخوتن په وخت کښی مرّ الظهران مقام ته اورسیدل. او نبی صلی اللہ علیہ وسلم په دغه و خت کښی اعلان اوکړو چی دا کوم قبائل مونږ سره راوتی دی. انصار د مدینی مختلف ډلی جُدا جُدا ځائے کښی اوربل کړے، بله ډله بل ځائی اور بل کړے لوئی میدان وو ټوله رنړا رنړا شوه. اوس دا رنړا خو مکی والا ته ښکاریده ځکه دمکی غټ غټ غرونه وو غټی غټی ډیر کے وی مکی والا چی اور ولیده نو وائی یره دا خو څه چل دی په د غه دوران کښی ابو سفیان رضی اللہ عنہ او بدیل دی سره غم شو چی خدایه مونږ خو وعده ماته کړی وه چی مونږ کومی قبیلی سره زیاتی کړی وو دا هغه قبیله ده یا چرته دَ مدینی خلق نه وی یا پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم وی نو د شپی ابو سفیان او بدیل بن ور قه اویو بل دوی سره د تحقیق حال د معلومولو د پاره روان شو د مکی نه راؤتل مرالظهران مقام ته اورسیدل ابوسفیان رضی اللہ عنہ هم پکښی وو په د غه دو ران کښی ئی اور ولیده سخت حیران شو چی دا خو ډیر غټ او ر دی بدیل ور ته وائی چی کید یشی دا اور قبیله بنو خزاعه بل کړی وی ابو سفیان رضی اللہ عنہ وائی نه دا اور دَ لږو خلقو اور نه دی هغه خو صرف یوه قبیله وه دا خوډیرغټ اور دی او خزاعه خو دومره لښکر نه دے په د غه دوران کښی چونکه د نبی پاك محافظین صحابه کرام موجود وو. خاص دسته وه کماندو هغوی ابو سفیان رضی اللہ عنہ


اود هغه ملګری ګرفتار کړل. چی دوی ئې ګرفتار کړل په د غه دوران کښی دَ سیدنا عباس ﷺ خچر وو. عباس ﷺ دَ ابو سفیان ﷺ خوا ته ورغلو . چونکه ابو سفیان ﷺ غټ لیډر وو. او حکمت عملی عباس ﷺ په خپل ګاډی یعنی په خچر ځان سره کینولو او نبی ﷺ خواته ئی ځان سره راوستو، سیدنا عمر ﷺ چی څنګه ابو سفیان ﷺ اولیدۀ نو زر ئې توره راویسته پیغمبر ﷺ اجازت نه راکوی چی د ابو سفیان ﷺ نه سر قلم کړم هغه خود اسلام اومسلمانانو غټ دشمن دے، سیدنا عباس ﷺ نبی ﷺ ته درخواست پیش کړو چی د الله رسوله دی سړی دَ پاره زه پناه غواړم. امن غواړم. نبی ﷺ دَ هغه دَ پاره امن ورکړو بیا نور کوم حالات را غله. بیا ابو سفیان ﷺ د قافلی والو سره روان وو. عباس ﷺ او نور صحابه کرام ﷺ روان وو. بیا دَ دوی په خپل مینځ کښ ګفتګو شوی ده. ابو سفیان ﷺ چی خپل کور ته راغلی. دَ خپلی بی بی سره ئی ګفتګو شروع کړی ښځه ور ته وائی دا په تا څه چل شوی دی او تا خو ډیر رنګ والی دی. ته خو ډیر خراب شوی ئی. هغه ورته وائی چپ شه ښځی ما هغه څه ولیدۀ چی تا نه دی لیدلی نبی ﷺ بیا حرم ته راغلی او بیا سیدنا بلال ﷺ ته وائی حرم ته بره اُوخیژه. کعبی ته بره اُوخیژه او د الله د توحید چغه وهه.

ان شاء الله که زنده ګی وه چی مکی کلی ته په کوم انداز سره په کومو لارو سره په فاتحانه انداز سره داخلیږی. او بیا نبی ﷺ هلته څومره اعلانونه کوی او څومره خلق ګرفتاریږی. او څومره خلق په دغه و خت کښی مسلمانیږی. او په څومره خلقو کښی په دغه وخت کښی تبدیلی راځی. ان شاء الله په آئنده جمعی کښی به نور تفصیل بیانوؤ.

اقول قولی هذا استغفرالله لی و لکم ولسائر المسلمین.

خطبہ نمبر : ''٣٣''

فتح مکہ (حصہ دوم)



دری دیرشمَه خُطبه : ''فتح مکه'' [حصه دوم]

الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا هادی له و اشهد ان لا اله الا الله وحده وحده لا شريك له و لا نظير له ولا وزير له و لا مشير له ولا نِدّ له ولا جدَّ له ولا ضد له و اشهد ان سيدنا و سندنا و حبيبنا و محبوبنا و محبوب ربنا و شفيقنا واعلٰنا و اولاٰنا و مولانا محمداً عبده ورسوله اما بعد فاعوذ بالله من الشيطٰن الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم ﴿انا فتحنالك فتحاً مبينا. ليغفرلك الله ما تقدم من ذنبك وما تأخر ويتم نعمته عليك و يهديك صراطاً مستقيا، وينصرك الله نصراً عزيزا﴾ ﴿ان الله وملئكته يصلون على النبی. يايها الذين امنوا صلوا عليه و سلموا تسليما﴾

اللهم صل علیٰ محمد و علیٰ آل محمد كما صليت علیٰ ابراهيم و علیٰ آل ابرٰهيم انك حميد مجيد اللهم بارك علیٰ محمد وعلیٰ ال محمد كما باركت علیٰ ابراهيم و علیٰ الی ابراهيم انك حميد مجيد.

عزتمندو مشرانو! په ګزشته جمعه کښی د نبی پاک ﷺ مکی ته تلل دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم یو دسته دَ نبی کریم ﷺ دَ حفاظت دَ پاره مقرر وه . هغوی دا دری کسان ابوسفیان رضی الله عنه ، بدیل بن ورقاء او حکیم بن حزام ګرفتار کړل، ابو سفیان رضی الله عنه د قریشو لوئی سردار اولیډر وو. سیدنا عباس رضی الله عنه په خچر باندی ځان سره سورکړو. دَ نبی ﷺ خدمت ته ئی راوستو چی دی سړی د پاره زهٔ امن طلب کوم، دوی ته امن ورکړے چی کله سیدنا عمر رضی الله عنه ، سیدنا ابو سفیان رضی الله عنه اُولیده نو تُوره ئیٔ دَ تیګی نه راویسته او نبی ﷺ ته وائی اے د الله رسوله دا دَ کفر ډیر غټ لیډر دے نو زه اجازت غواړم چی په خپلو لاسو دَ ده دَ تن نه سر جدا کړم

ماته اجازت راکړه. په د غه و خت کښی دَ سیدنا عمر ﷺ او دَ سیدنا عباس ﷺ په خپل مینځ کښی لږی سختی خبری شوی دی څنګ چی دَ سیرت کتابونو لیکلی دی نو سیدنا عباس ﷺ دَ سیدنا ابوسفیان ﷺ دَ پاره امن طلب کړو ، دَ سیدنا عباس ﷺ په خلی سره نبی پاک ﷺ سیدناابوسفیان ﷺ ته امن ورکړو. نو نبی ﷺ سیدنا عباس ﷺ ته اوئیل اے عباسه زما ترۀ، چی دا سړی د کفر غټ لیډر پاتی شوی دی او اوس هم دی چرته مسلمانانو کښی جذباتی مسلمانان وی دَ شپی ئې اُونه وژنی دی ځان سره بوزه، خپلی خیمی ته. سحر به ئی بیا راولی. زمونږ او ستاسو دا سی دین اسلام دی کافر امن طلب کړی دی. هغه ته څوك غږ نه شی کولی دلته حکیم بن حزام او بدیل بن ورقا هغوی چی دَ مسلمانانو دا شان و شوکت اولیدو. هغه دواړه مسلمانان شو او ابو سفیان ﷺ لا نه دی مسلمان شوی چی کله صبا شو عباس ﷺ ابو سفیان ﷺ راوستو. د نبی پاك ﷺ په خدمت کښی حاضر کړو. او ابو سفیان ﷺ دغه و خت کښی مسلمان شو. او دا خو لا نبی پاك ﷺ او صحابه کرام ﷺ مکی ته دا خل شوی نه دی. دا په لاره لاره کښی دغه کاروائے دی. او ابو سفیان ﷺ لا په د غه و خت کښی تذبذب کښی وو. بیا روستو ئی تذبذب ختم شوی دی. او الله تری بیا د قرآن او سنت لوئی خدمت اغستی دی. نو عباس ﷺ راغی او نبی ﷺ ته وائی اے د الله رسوله دا ابو سفیان ﷺ د مکی او قریشو په لوئی لیډرانو کښی پاتی شوی دی دَ ده دَ پاره لږ څه خصوصی امتیاز پکار دی چی د نورو خلقو نه لږ دَ ده څه فرق وی نبی ﷺ اعلان وکړو. چی یاد ساتے چی څوك دَ ابوسفیان کور ته دننه شو هغه به په امن وی مسلمانان به په

هغه توره نه اُوچتوی. مسلمانان به هغه ته تکلیف نه ورکوی دا غټ امتیازی شان شو نبی ﷺ اعلان اوکړو چی څوك دَ ابو سفیان کور ته داخل شو هغه به مأمون او محفوظ وی هغه ته به هیڅ قسمه تکلیف نه ملاویږی مسلمانان به ئې وژنی نه ابو سفیان ورته وائی اے دَ الله رسوله زما کور خو وړوکی غونده دی. نو دی کښی خوټول خلق نه شی راتلی نو نبی ﷺ اعلان اوکړو چی څوك مسجدالحرام ته دننه شو هغه به مأمون او محفوظ وی هغه ته به هیڅ قسمه څه نه شی وئیلی کیدی ګوره زړی دشمنی ورسره ختم دی ورنه د ابو سفیان رضی اللہ عنہ بی بی څه نه وو کړی؟ ابو سفیان رضی اللہ عنہ څه نه ووکړی؟ خو دین اسلام یو زبردست دین دے ابو سفیان رضی اللہ عنہ وائی د الله رسوله حرم خو وړکی غوندے دی دومره غټ خو نه دے دی کښی خو لږ غونده خلق راځی نبی ﷺ دریم اعلان اوکړو. چی کومو خلقو په مکه مکرمه کښی ځان پسے دروازی بندے کړی بهر نه راوځی کور کښی وی هغوی به هم په امن وی دا دری اعلانه نبی ﷺ دَ ابو سفیان رضی اللہ عنہ د وجی نه اوکړل. دا دَ هغه امتیازی شان وو بیا نبی ﷺ سیدنا عباس رضی اللہ عنہ ته اوئیل عباس ترۀ دا ابوسفیان داسی ځان سره دَ غر ډیرکے ته وخیژوه لښکر د مدینی منوری نه راروان دی چی یو نظاره اُووینی. عباس رضی اللہ عنہ ابوسفیان رضی اللہ عنہ ځان سره کړو ډیرکے ته ئی اُوخیژو. دَ مسلمانانو د لښکر مشاهده ئې کوله او دا رنګی ابو سفیان تپوسونه کوی عباس رضی اللہ عنہ ته وائی دا کومه ډله راروانه ده عباس رضی اللہ عنہ ورته وائی ابوسفیانه! دا قبیله غفار دی روستو تری کومه ډله راروانه ده. عباس رضی اللہ عنہ ورته وائی دَ سعید بن حزیم ډله ده او بیا ئې یو بل لوئی لښکر اُولیده. وائی دا پکښی کوم خلق دی؟ عباس رضی اللہ عنہ

ورته اوفرمائیل اے ابو سفیانؓ دا خو دَ انصارو ډله ده دا دَ مدینی انصاردی. دا ډیر چی پکښی ښکاری او چی وی کتل دَ انصار مدینه هغه جهنډا دَ سیدنا سعد بن عبادهؓ سره ده، سعد بن عبادهؓ خو ابوسفیان پیژندلو چی دا خو د کفر ډیر غټ لیډر وو . اوس هغه ته دا پته نشته چی هغه خو مسلمان شوی دی. په دی کښی د سعد بن عباده ډله د هغوی جماعت دَ ابوسفیان ؓ خوا ته راؤرسیدل چی ابوسفیان ؓ ئې اولیدو سعد بن عبادهؓ ورته وائی بچی ګورو به خه تاسو خو په مسلمانانو باندی ډیری لوبی کړی دی او سعد ؓ ورته هغی وخت کښی یو نعره اُوهله اے ابوسفیانه! ''الیوم یوم الملحمه''

نن د کبډی روځ ده نن به کتی شی. '' الیوم تستهل الکعبة'' نن په کعبه کښی وینی تویول حلال دی. نن به مونږ د کافرانو شولغ اوباسو ابو سفیانؓ چی دَ ده دا خبری واؤریدی، غریب باندی رپرپی راغلو چی دا څنګ چل دی عباسؓ ته وائی، دا سعدؓ څه وائی بیا ابوسفیانؓ راغلو دَ الله دَ رسول ﷺ خوا ته وائی جی دا سعدؓ خو ډیری سختی سختی خبری کوی نبی پاکﷺ ور ته وائی، څه ئې اُوئیل، وائی ده خو د اخبره وکړه. چی '' الیوم یوم الملحمه '' نن دَ جنګ روځ ده پته به لګی وائی هسی وائی سړیه مه یریږه هیڅ هم نشته غم مه کوه. ''الیوم یوم المرحمه '' . دَ اسلام دَ مسلمانانو دَ جرنیلانو یو پاک جماعت قربانو والا خلق را روان دی او ډیر په خوشحالے سره را روان دی ځکه دا خلق د مکی مکرمی نه ایستی شوی وو. نبیﷺ روان وو. ابوسفیانؓ ته ئې تسلی ورکړه چونکه ابوسفیانؓ خاندانی سړی وو. دَ دی ټولو خلقو نه مخکښی لاړو مکی ته اورسیدو او هغه دری

اعلانونه ئی اوکړه خلقو ته وائی گوری مسلمانان شے. په امن به شے، ورنه خیر مو نشته ځکه عظیم لشکر د سپه سالار د صحابه کرامؓ دَ انصارو او دَ مهاجرینو خو ده اولیده د هغوی خبری ئۍ واؤریدی، سیدنا ابوسفیانؓ د نورو مسلمانانو نه مخکښی لاړو. او اعلان اوکړو. چی ایمان راوړے، اسلام قبول کړے بچ به پاتی شے ورنه سرونه به ستاسو قتلولی شی ابو سفیانؓ دا چغی خلقو ته وهی او دا چغی پکښی هم وهی که څوك زما کور ته راغلو هغه به په امن وی که څوك حرم ته ننوتو هغه به په امن وی نو که چا ځان پسی کور کښی دروازی بندی کړی هغه به په امن وی .بنځه ئۍ راغله بنځه ئۍ وائی دا خاوند می لیونی شوی دے. دا دی پکښی څه وائی؟ دَ ده په دماغو کښی ډز شوی دی او د بنځی نوم ئی دی هنده، او دا دَ امیر معاویهؓ مور وه او دا هغه زنانه ده چی کله دَ نبی کریمﷺ تره سیدنا حمزهؓ ډیر په بے دردے سره شهید شوی وو. نو دَ هغه سینه ئۍ سیری کړی وه او دی هِندی تری هغه زړه او کلیجه راویستی وو. او په خله ئی پری چکونه لګولی وو. دا هغه زنانه ده . دا راغله او ابوسفیانؓ ئۍ دَ ګیری نه اُوینولو اوخلقو ته وائی. اے خلقه راشے زما خاوند لیونی شوی او دی به څوك وژنی . دا دی څه ګډی وَډی وائی ابوسفیانؓ وائی لیونی نه یم. دا دی مسلمانان راؤرسیدل، هنده چغی وهی. ابو سفیانؓ ئی د ګیری نه نیولی دی.

"یا ال غالب اقتلو هذا الشیخ احمق" دا کم عقل بوډا به څوك وژنی، دا کم عقل څیز دے لیونی شوی دے ابو سفیانؓ ورته وائی بنځی "ارسلی لحیتی" زما ګیره پریږده، "اقسم" زه قسم کوم، لیونی

نه یم ګپ نه لګوم دادی راؤرسیده (الله اکبر کبیراً)

او کـه تـا ایمان راونړو، نو ستا سر به ستا خپو کښی پروت وی ، سر به دی قلمولی شی، ښځی ته ئی هم دعوت ورکول شروع کړل.

دمـکی یو بالائی طرف یعنی بره طرف دی او یو د مکی ښکته طـرف دی د مـکـی بالائی جانب هغی ته "کدا" وائی او دکلی چی کوم ښـکتـه طرف دی ، هغی ته "قدام" وائی نبی ﷺ پخپله دَ ډیرو صحابه کـرامو رضی الله عنهم سـره پـه دَغـه کـدا لاره بـانـدی داخـلیـږی. او نبی ﷺ خالد بن ولید رضی الله عنه تـه یـو دسـتـه ورکـړه. چـی تـاسـو په دغه لاندی طرف مکی ته رانـنـؤ ځی. خالد بن ولید رضی الله عنه تـه ئـئ څه هدایات هم جاری کړی وو. چی ګـورے څـوك درنه قتل نه شی .څه جنګ او نه کړی. بس په آرام سره لاړ شئ. مکی ته دا خل شی . خالد بن ولید رضی الله عنه ته په لاره څه بدمعاشان رامـخـی تـه شـو هـغـوی سـره ئی څه بحث اوشو خالد بن ولید رضی الله عنه ځان سـاتو خو هغوی نه بچ کیدل . او نبی ﷺ ور ته فرمائیلی وو که تاسو چا نه پریخودے بیا ورسره جنګ کولی شئ. نو دغه وخت کښی دَ هغوی یـو جـړپ هـم راغـی، دغـه دَ تلو تلو په دوران کښی او هغه کسان مردار شو او دا رنګی خالد بن ولید رضی الله عنه هـغـه کسانو سره مقابله راغله نبی ﷺ مـکی ته داخل شو خالد بن ولید رضی الله عنه هم مکی ته داخل شو. او څومره دَ خـوشـحـالـئ روځ وه دَ خـوشحالئ یوه عظیمه روځ وه ځکه چی د کوم سـر زمیـن نه دَ دواړو جهانو سردار ډیر په ظلم جبر سره ایستی شوی وو پـه کوم سر زمین باندی چی دنبی ﷺ هغه نران ملګری راخکلی شوی وو پـه تـودو شـګـو بـانـدی دا رنـګـی په کانړو باندی راخکلی شوی وو، کـانړی ورته په سینه کیخودی شو هغه منظر دَ ملګرو مخـے ته وو کوم

ځائے چی دَ توحید چغه وهل دَ "لا اله الا الله" پیغام ورکول دَ "لا اله الا الله" مسئله بیانوُل مرګ ته دعوت ورکول وو داسی دَ مکی پوزیشن وو اوس هغی ته نبی کریمﷺ دا خلیږی، صحابه کرامؓ په فاتحانه انداز سره داخلیږی خو احادیثو مبارکو کښی راځی. نبیﷺ چی په دَغه و خت کښی کوم دَ تواضع مقام وو سړی حیران شی، په بعضی موقعو کښی یو سړی یو علاقه فتح کړی نو څومره غرور، څومره تکبر، څومره لوئی نو څومره فخر نمود، خو نبی پاکﷺ انتهائی انکسارئ سره عاجزئ سره ، نبیﷺ چی په کومه سورلئی باندی سور وو. سر ئی بالکل د هغی سره ښکته لګیدلو. په ذکر اذکار سره په دعا ګا نو سره نبیﷺ مکی مکرمی ته دا خل شو. دا به کومه عجیبه روځ وه. د پیغمبرﷺ سره هغه ملګری دوی ئی لږ وخت مخکښی طواف ته نه پریخوده. د کفر آواز نشته. د شرك آواز نشته، د مشرکینو آوازونه ختم. ځکه قربانی اوشوه د صحابه کرامو ؓ وینی توی شوی. د صحابه کرامو ؓ بچی یتیمانان شوی وو بیبیانی ئی کُنډی شوی وی دَ دواړو جهانو سردار دَ مکی نه هجرت کړی وو. نبیﷺ اول دَ اُم هانی کره لاړو. هلته نبیﷺ غسل اوکړو، او بیا ئی نفل اوکړل بیا د نبی پاکﷺ د پاره دشعب ابی طالب په هغه ځائے کښی خیمه ولګوله او بیا نبیﷺ مسجد حرام ته لاړو، او نبیﷺ مسجد حرام ته داخل شو. نبیﷺ طوافونه شروع کړل. او نبیﷺ سره یو ه لخته وه او دری سوه شپیتهٔ بتان هغه ځائے کیښ پرا ته وو. یو یو بت راخلی او په لخته ئی وهی او د نبیﷺ د خلی مبارکی نه دا الفاظ اوځی ﴿جاء الحق و زهق البا طل ان البا طل کان زهو قاً﴾

حق راغے با طل ختم شو. ټول بتان ئی مات کړل، خانه کعبه د بتانونه پاکه شوه. او په د غه روځ به عجیبه منظروو، او نبی ﷺ د طواف نه فارغ شو. عثمان بن طلحه دا روستو بیا مسلمان شوی دی او عثمان بن طلحه دا هغه سړی دی چی نبی پاك ﷺ ئی د ننه کعبی ته نه پریخودو. چابیانی ده سره وی نبی ﷺ ده ته وئیلی وو. عثمان داسی و خت به راشی دا چا بیانی به زمونږ په لاس کښی وی او دی عثمان بن طلحه به وئیل چی زما یقین وو چی دَ دی سړی دا خبره به ربښتیا وی. نبی ﷺ عثمان بن طلحه راوغښتو ، چابیانی ئۍ تری راواغستی، او کعبه کهلاؤ شوه، په هغی کښی څه تصویرونه لګیدلی وو. نبی ﷺ حکم وکړو دا تصویرونه لرکړے. سیدنا عمر رضی اللہ عنہ اُولګیدو زر زر ئی تصویران ختم کړل متاؤ ئۍ کړل. بیا نبی ﷺ ځان سره بلال رضی اللہ عنہ او اسامه رضی اللہ عنہ واغسته او الله اکبر چغی ئی وهلی. او دا به کوم خوند او کومه مزه وه، چی نبی ﷺ کله دَ کعبی نه راووتو، نو بهر دَ صحن او نور چی څومره ځائے وو. ټول د خلقو ډك وو. د خپی د لګیدوځائے نه وو. بعضی مشرکینو دا سوچ کوو. چی خدایه څه به راسره کوی. دوی خومونږ د دی ځائے نه شړلی وو. وهلی مو وو. ټکولی مو وو، په سینه مو ورته کانړی کیخودی وو. په تودو شګو مو راخکلی وو په سروټکو مو راخکلی وو. چی دوی به اوس مونږ سره څه کوی، نبی ﷺ د کعبی نه بهر تشریف راوړلو او خلق په انتظارکښی دی . نبی ﷺ یو عظیم الشان خطبه خلقو ته اوفرمائیله نبی ﷺ خلقو ته یو اوږدو تقریر اوکړو. بعضی اهل مغازی د نبی ﷺ خطبه ذکر کړی نبی ﷺ و فرمائیل" لا اله الا الله وحده" دا آواز خو ناآشناوو. هلته چا الله کوم ځائے پیژندلو.

خلقو خولات منات ته چغی وهلی هلته خلقو ځانته خدایان جوړ کړی وو. ځانتـه ئـی ذمـه داران جـوړکـړی وو. نبـیﷺ خـطبـه ددی ځائـے نه اوفرمائیله "لا اله الا الله وحده" بل اله نشته ایکی یو الله دے "لا اله الا الله وحـده لا شـریك لـه صـدق و عـده" الله تـاخپلـه و عده رښتیـا کړه "وحـزم الاحـزاب وحـده" او هـغـه ټول دشمنانو ته شکست الله ورکړو. چـی د جاهلیت څومره رسمونه وو. د هغی د ختمولواعلان ئـئ وکړو، چـی دَ نن نه بعد به دَ جاهلیت رسمونه ختم وی. ګوره رسمونه ختمول دَ پیـغـمبـرانـو کـار دے بـعـضی خلق وائی. یره دا کوم دور دے او تاسو وائـی چـی رسـمونه داسی، رواجونه داسی، نبی پاکﷺ چی مکه فـتح کـړه نـو پـه تـقـریـر کښـی ئـئ ړومبـی دا الـفاظ اُوئیـل . تمام د جاهلیت رسـمونه ختم. دلته به بیا دَ لات او منات عبادتونه نه کیږی. دلتـه به بیا فـوټـوان نـه کیـخـودلـی کیږی. دلته به بیا د یوالله د توحید چغه وی او اورِده خـطبـه ئـئ اوفـرمـائیله . په انسانانو کښی د مساوات، هر چاته د هـغـوی حـقـوق ورکـول، د هـغی تذکره ئی اوکړه. او دا آیت مبارکه ئی اولوستو "یاَیُّها الناس انا خلقکم من ذکر و انثیٰ" اے خلقو الله فرمائی مـونږ تـاسـو پیدا کړی ئـئ "مـن ذکـر او انثـی و جـعـلـنـکم شعو باًو قبائل لتعارفوا" سـتـاسـو مـخـتـلف خـانـدانـونـه دا مختلف قبیلی دا صرف د تـعـارف د پاره دی یـوی قبیـلـی تـه پـه بـلـی قبیـلی څه فضیلت نه دی حـاصـل فـضیـلـت کـه حـاصـل دی نـو صرف په تقویٰ سره. او نبیﷺ وفـرمائیـل"ان اکـر مـکم عند الله اتقکم" دَ الله پـه نـزد باندی معزز څوك دی؟ کـوم کـس کښـی چـی زیـاته تقویٰ وی، عربی ته په عجمی باندی فـوقیـت نشـتـه، دارنګی سپین ته په تور باندی فوقیت نشته، رنګ او

نسل دا څیزونه په اسلام کښی نشته، فضیلت صرف په تقویٰ سره دے . دا دَ نبی ﷺ هغه انقلاب وو، نبی ﷺ اُوفرمائیل چی غریب او مالدار به په یو صف کښی وی، نبی ﷺ و فرمائیل که بلال حبشی رضی اللہ عنہ غلام دے، نو که ابو سفیان ډیر لوئی وډیره او ډیر لوئی چودهری وو. که دی مسلمان وی نو دوی به په یو صف کښی ناست وی، او دا زمونږ دَ دین اسلام خصوصیت هم دی په غیر مسلمو کښی دا څیز نشته، په هندوانو کښی دا څیز نشته، دا ذاتونه د هغوی مینځ کښی ډیر زیات وی چی کوم غټ ذات ، غټ خاندان وی، هغوی ته خلق په غټ نظر سره ګوری. بیا په انګریزانو کښی هم دا شته. په هغوی کښی بلیك پیپل او وائټ پیپل هغوی هم دا امتیاز کوی چی دا تور خلق دی. او دا سپین خلق دی، دا یو زمونږ د مسلمانانو دین دی په دی کس د تور او سپین فرق نشته، الله ته ګران هغه انسان وی چی په هغه کښی تقویٰ وی که مالدار وی او که غریب وی تیرے دربار میں پہنچے تو سبھی ایک ہوئے۔

دَ الله تعالیٰ دربار ته چه راغلی نو ټول یو دی په یو دستران خوان باندی به غریب هم ناست وی. او مالدار به هم ناست وی نو په دی زمکه په دی جومات کښی به غریب هم الله تعالیٰ ته سر ښکته کوی نو مالدار به هم ښکته کوی دا د اسلام تعلیم دی، نبی پاك ﷺ اعلان اوکړو چی زهٔ نن هغه خبره کوم . ''فانی اقول کما قال یوسف لا خوانه''

سیدنا یوسف علیہ السلام سره رونړو څه نه ووکړی یوسف علیہ السلام رونړو د پلار نه په بهانی سره بوتلی وو. په دهوکو دړاکو ئ د کوره ایستی وو، بیا ئ یوسف علیہ السلام په لاره وهلی وو، او بیا ئ یوسف علیہ السلام کو هی ته غورځولی وو، نو بیا ئ یوسف علیہ السلام په قافلی والو خرڅ کړو او بیا چی

مصر ته دوی را غلی وو، د کنعان نه قافله نو بیائی د یوسف علیه السلام خلاف څومره غیبت کړی وو، خو چی آخر کښی کله خبره ښکاره شوه. نو یوسف علیه السلام خپلو رونړو ته اعلان وکړو "لا تثریب علیکم الیوم"

په تاسو هیڅ ملامتیا نشته، دا پیغمبری اخلاق دی، ستاسو یو سخت د شمن دی. چی ستا سو وینی څکوته تګی ناست وو، خو چی کله دی به هغه وس بر شو نو بیا ور سره د خو اخلاقو مظاهره کوه، دا اخلاق پیغمبرا نه دی نبی صلی الله علیه وسلم وائی زه نن هغه خبره کوم کومه چی یوسف علیه السلام خپلو رونړو ته کړی وه، چی "لا تثریب علیکم الیوم" په تاسو هیڅ ملا متیا نشته اے مکی والو که تا سو زمونږ بلال حبشی رضی الله عنه ته په سینه کانړی کیخودی وو. په تا سو هیڅ ملا متیا نشته څومره غټ اخلاق. اے مکی والو که تا سو حضرت خباب رضی الله عنه په سروټکو باندی را خکو د هغوی د بدن هغه واز ګی به ویلی کیدی هغه سروټکی به پری مړی شوی خو "لا تثریب علیکم الیوم" پتا سو هیڅ ملا میتا نشته څومره زبردست اخلاق ئی دی زمونږ خو په کور کښی د رور سره لږ خفګان را شی غم ښادی ختم ور سره کفن کښی به د یو بل مخ نه وینو، دا د جاهلیت خبری دی دا مخکښی کوم حالات تیری شوی دی او نبی صلی الله علیه وسلم کوم اعلان کوی، "لا تثریب علیکم الیوم" نو د هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم امتیان نه یوڅه؟ په وړه وړه خبره خپل غم ښادی ختمول، تعلقات ختمول رشته داری ختمول ځامن د پلاره نه بیزاره او مور پلار د اولاد نه بیزاره رونړه درونړو نه بیزاره او د ترونو ځامن او د ماما ځامن خو مونږ د دشمنانو په لسټ کښی اچولی دی چی دا زمونږ تر بوران دی دا د اسلام تعلیم ندی په دی وجه به د قیامت په روځ به دا رشته داری

چغی وهی دا رور ولی رشته داری دا خاندانونه به چغی وهی.

الامن وصلنی وصله الله . دا رشته داری به وائی یا الله چی چا زهٔ پاللی وم ته پری رحم وکړی او چا چی څه نه وم پاللی. یا ا الله ټکړی ټکړی ئئ کړی، نبی ﷺ اعلان اوفرمائیلو "لا تثریب علیکم الیوم" دَغه روځ تیره شوه، دَ ماسپخین وخت راغے، نبی ﷺ بلال رضی الله عنه ته حکم اوکړو، اے بلال رضی الله عنه ته خو ډیر خلقو په دی تودو شګو کښی راخکلی ئی ډیر بد ئئ درته کتل را شه د کعبی بره چهت ته اوخیژه او خه دَ زړه د خلاصه تکبیر بلند کړه، او خه دَ زړه د خلاصه چغه اُووَهه. "الله اکبر الله اکبر" هلته چا د الله نوم اغستو، دا به په بلال رضی الله عنه کوم و خت وو یو خو هغه و خت وو، چی بلال رضی الله عنه خلقو راخکلو ترلی ئی وو. بلال رضی الله عنه خانه کعبی ته بره اُوختو، په غوږونو کښی ئی ګتی ورکړی. او چغی ئی کړی، "الله اکبر الله اکبر" او دا آواز په خانه کعبه او په دی فضاؤنو کښی دی غرونو تمبولو را تمبولو، آواز ئئ ګونج شروع کړی وو. څه عجیبه حال به وو. بلال رضی الله عنه چی کله آذان وکړو. دَ کعبی په دی صحن کښی یو دوه تنه ناست وو. یو عتاب بن واسد او یو خالد بن سید، نو بلال رضی الله عنه خو دوی ته څه ښکاریدو نه. دا دواړه مشرکان وو، نو چی کله ئی دا آذان واوریدو نو یو بل ته دواړه وائی شکر دی چی زمونږ پلار خدائی مخکښی واغستو. چی دا سپیرهٔ آواز ئی واونریدو د بلال رضی الله عنه آواز او د کعبی د پاسه بره ختی دی. دا خبری ئی کولی چی دَ دواړو جهانو سردار دَ دوی خوا کښی تیر شو او نبی ﷺ ورته اوفرمائیل دا تاسو دواړو څه اوئیل؟ تا سو چی کومی خبری کولی . الله رب العزت ما ته د هغی وحی اوکړه. هغوی وائی ، چی مونږه څه اوئیل، وائی

تاسو اوئیل چی شکر دے زمونږ دَ پلارانو د پاره دا لویه خبره ده چی دی آواز نه مخکښی تلی دی. دا آواز ئ نه دی آوریدلی هغوی حیران شو چی دا خبره خو مونږ خپل مینځ کښی پټه پټه کړی وه نو معلومیږی چی دا حق پیغمبرﷺ دی، الله تعالیٰ ده ته وحی کړی ده نو هغوی مسلمانان شو. هغوی اسلام قبول کړو او عتاب بیا نبیﷺ د مکی والی جوړ کړی وو. د بیعت سلسله شروع شوه، نارینه هم راتله او زنانه هم راتلی .په اسلام باندی ئ نبی کریمﷺ سره بیعت کولو په د غه وخت کښی پکښی هند هم را غله، د ابوسفیان رضی اللہ عنہ کور والا، دے هم بیعت کولو خو دَ نبیﷺ د نارینو سره بیعت څنګه وو ، او د زنانو سره ئی بیعت څنګه وو په احادیثو مبارکو کښی راځی. دَ نبی پاکﷺ چرته د زنانو سره لاس نه وو ټچ شوی نن داسی ډیر نا کاره پیرا ن شته باقاعده زنانه سره لاس مِلاووی او پوره په ملا ئ ټپوی، یاد ساتے دا غټه بی دینی ده. د پیر نه هم پرده ده.

د مُلا نه هم پرده ده زمونږ په دی معاشره کښی داسی یو دور تیرشوی دی چی د پیر صاحب نه د مُلا صاحب نه د میاں صاحب نه به پرده نه وه دے مشرانو ته به پته وی که چرته زنانه به په لختی کښی جامی وینځلی چی استاذ به په لاره روان وو تماشه به ئی اوکړه وئیل به ئی وی خوری دا خو استاذ بابا دی بیا به رابنکاره شوی پرده به ئی نه کوله دی به ور ته سړی نه ښکاری ځکه پر ده دا سړونه وی او اوس هم بعضو علاقو کښی وی چرته د هغی علاقی پیر صاحب وی میا ں صاحب وی، یا د جومات استاذ وی کورونو ته دننه ځی، یاد ساتے دا د غوئی صفتونه دی، دا د ځناورو صفتونه دی شیخ القرآن مولانا غلام الله خان

رحمه الله یو علاقی ته تلی وو د الله تو حید ئی خلقو ته بیان کړو هلته ډیر ناکاره پیران وو. هغه هلته خلقوته د الله تعالیٰ نه ډ یری خبری د قبر حشرخبری ئ اُوکړی هغه ځائ کښی یو پیر ځانته ډیرمریدان پیدا کړی وو کورونو ته به دغه شان دَ غوائی په شان ننوتو، کوم ځائ چی شیخ القرآن بیان اوکړو یو تن واؤریدو دَ پردے مسئله ئ ذهن ته کوزه شوه، دَ هغه سړی یو پیر وؤ، کور ته به ورکره تلو نو دغه پیر ورکره داخلیدو، هغه کور والا راغے' ورته وائی څه کوی؟ دے وائی دننه تلم، هغه ورته وائی دننه به نه ځی، داخله بند، بیټهك کښی کینه که څه سوال جواب وی ما ته ئی اوکړه، هغه پیر ورته وائی ستاکور والا زما مریده ده، او ته زما مُرید ئی هغه وائی ټهیك ده جی خو پرده به وی هغه پیر بیا اعلان اوکړو. وائی داسی معلومیږی چرته دلته مولوی غلام الله خان راغلی دی. او دا خلق ئی راته غونډ بلوه کړی دی.

نو نبی ﷺ د زنانه سره بیعت کړی دی خو د زنانو سره ئی چرته لاس نه دی ټچ کړی. نو بیعت د نبی ﷺ سره په کومو خبرو باندی وو د زنانو نه ئی بیعت اغستی وو ﴿ان لا یشرکن بالله﴾ د الله سره به شرك نه کوے، پیغمبر ﷺ به یوه خبره کوله بیا دویمه... هغه ورته وائی غلا به نه کوے زنا به نه کوے. اولاد به ژوندی نه خخوے. هند به دا سی دَ نبی ﷺ سره لږ بحث وکړو چی اے دَ الله رسوله مونږ خو راغلی یو چی آئنده به ګناه نه کوو زمونږ دا ګناهونه معاف شی د نبی ﷺ سره د بیعت هغه سلسله پوره شوه په د غه دوران کښی د ابو جهل ځوئی دی عکرمه هغه په تختیدو دی. څه نور کسان وو. په هغی باندی دَ مسلمانانو د طرف نه شوټ آډر وو. نو بیا څه کسان اووژلی شو او څه

کسان مسلمانان شوی دی لکه عکرمه ﷺ د ابو جهل ځوئی دی. ده ته الله څنګ هدایت نصیب کړو دی خو تختیدو مخی ته ورته دریاب راغلی، کشتئ کښی ناست دی ځکه دَ مکی نه اوس خپی اوباسی ځکه د مکی مسلمانان راپسے راغله، نو په دی کښی کشتئ په ډوبیدو شوه نو خلقو په کشتئ کښی چغی کړی دی. یا الله مدد یا الله مدد. دی ورته وائی هغه لات منات ولی نه رامدد کوے، هغوی ورته وائی اے پاګله په دی سخته کښی لات منات پکار نه راځی. هغه دَ وُچی خدایان دی دلته یو الله پکار راځی، نو په دی زړه زړه کښی وائی دا څنګه چل دے چی په دی سخته کښی یو الله پکار راځی دلته هغه الله پکار نه شی راتلی هغه نه شی رامدد کیدی، په دی زړه زړه کښی وائی یا الله که اوس دی بچ کړم، دَ دی مصیبت نه دی خلاص کړم نو دا لاس به د پیغمبر ﷺ په لاس کښی کیدم بیا د عکرمه بی بی هم راغلی ده عکرمه ته چغی وهی راشه، ما ستا د پاره د پیغمبر ﷺ نه امان اغستی دی، بیا عکرمه د ابو جهل ځوئی هم ایمان را وړلی دی د هغوی ځانته خپلی قربانی دی . ان شاء الله که زندګی وه هغه به بیا ذکر کوو.


اقول قولی هذا استغفرالله لی و لکم ولسائر المسلمین .

★★★★★★★★★★★★

خطبه نمبر : ''٣٤''

مستوراتو ته بيان

دَ ختم القرآن په موقع



څلور دیرشمَه خُطبه

''مستوراتو ته بیان د ختم القرآن په موقع''

الحمد لله نحمده و نستعینه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسا و من سیئات اعمالنا و من یهده الله فلا مضل له و من یضله فلا هادی له و اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمداً عبده و رسوله اما بعد فاعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم بسم الله الر حمٰن الر حیم .﴿ فبذلك فلیفرحوا هو خیرً مما یجمعون﴾ و قال النبی ﷺ اشراف امتی حملة القرآن، او کما قال النبی ﷺ ﴿ان الله و ملئکته یصلون علی النبی یایها الذین امنو صلوا علیه و سلموا تسلیما﴾

اللهم صل علی محمد و علی آل محمد کما صلیت علیٰ ابراهیم وعلی آل ابراهیم انك حمید مجید۔ اللهم بارك علیٰ محمد و علیٰ آل محمد کما بارکت علیٰ ابراهیم و علیٰ آل ابراهیم انك حمید مجید۔

الحمد لله ثم الحمد لله دے وخت کښی مونږ او تاسو د یو عظیم مقصد دَ پاره راجمع شوی یو. چی هغه دَ الله تبارك و تعالیٰ د کتاب ختم دے. دَ الله تبارك و تعالیٰ د عظیم کتاب د ختم په خوشحالے کښی مونږ او تاسو راجمع شوی یو ان شاء الله دا لږ ساعت ګهړے به دینی خبری کیږی نو څومره دَ زنانو مجلس چی جوړ شوی دی. څومره زنانه خویندی میندی چی راجمع شوی دی. چی مونږ او تاسو دَ دی اجتماع نه دَ دی راجمع کیدو نه فائده واخلو. او په دی ختم کښی زمونږ دا شرکت د نجات ذریعه او ګرځی. په دی ختم کښی زمونږ او ستاسو دے شرکت سره ځمونږ ژوند کښی تبدیلئی راشی . زمونږ دا راجمع کیدل د ختم د پاره دی. او مونږ او تا سو چی د قرآن کریم چی کوم مقصد دی. د قرآن کریم چی کومه مطالبه ده. که مونږ او تا سو د هغی هغه مقصد

حاصل نه کړو. او د هغی په ځائے باندی دَ دنیوی څیزونو آثار یوسو نو دا به ډیره د نقصان خبره وی دَ دی ځائے نه چی مونږ او تاسو د قرآن درس ځان سره یوسو د قرآن نه سبق حاصل کړو. عبرت تری حاصل کړو. او که چرته مونږ او تاسو ددی ځائے نه ددنیا د څیزونو تاثر یورو، د چاد لباس نه متاثره شو. د لباسونو تا ثرمو حا صل کړو. دفیشنو نو تاثرمو حاصل کړو دابه مونږ او تا سو د پاره ډیره نقصان او خساری خبره وی. راغلی یودقرآن کریم د ختم د پاره او ددی غاړی مو اوړل ځان سره بل څه، نو دا ساعت ګهړے چی څومره مذاکره کیږی دا رنګی څه و عظ بیان کیږی چی مونږ او تاسو د بیان د آدابو خیال اوساتو، دا رنګی دَ بیان دوران کښی څه شور شغرب اونه کړو چی کوم مدر سه کښی ختمونه دی هغوی به مخکښی نه انتظامیه برابرکړی وی، هغوی کو شش داوکړے چی انتهائی په آدابو په اخلاقو سره چی کومی زنانه خبری کوی هغوی ته د خاموش کیدو ترغیب ور کوئے ځکه ډیر کرته نا پاکه قطره ډیری اوبه پلیتوی نو کله ډیری زنانه وی د هغوی ددین سره د قرآن او سنت سره محبت وی، نو چرته بی دینه زنانه وی، په هغوی ددین خبری بدی لګی، نو هغوی شور شغرب شروع کړی، نو کوشش او کړے، چی په ادب سره، په خاموشئ سره، په انابت سره په خپل ژوند کښی د تبدیلی په غرض سره دَ دی قرآن کریم نه تأثر د حاصلولو د پاره چی مونږ او تاسو دا ساعت ګهړے راجمع شوی یو دا زمونږ او ستا سو د نجات ذریعه وګرځی،

زما عزتمندو دے ځائے دی معلماتو با جیاتو محنت کړی دی زمونږ دَ محترم شیرعلی صاحب بچنګے دی، دی ځائے کښی یعنی

په نظم ګړهئ ساولډ هیر کښی ئی مدرسه کهولاؤ کړی ده محنت کوی او هغوی ته زمونږ او ستاسو بچنګے راځی سبقونه پکښی حاصلوی . او هغوی زمونږ او ستاسو نه دَ دنیا هیڅ مطالبه نه کوی، د پیسو د څیزونو هیڅ قسمه مطالبه نه کوی دا رنګی د نورو څیزونو دَ غرض او مقصد دَ پاره هغوی زمونږ ماشومانو ته سبق نه ښائی بلکه خالص دَ الله تعالیٰ دَ رضا دَ پاره دَ هغوی دَ پاره هم دَ مبارك باد خبره ده، چی د کوم کور نه د سُنّت او دَ دین چینه جاری شی او دا دَ هغوی خپل محنت دی.

الحمد لله جناب شیر علی صاحب دَ دعوت او تبلیغ سره متعلق زمونږ ملګری دے، د هغوی آثار دا دی ښکاره دی. چی دَ هغوی دَ کور نه دَ دین چینه روانه ده، د هغوی کورونو ته د هغوی مدرسی ته زنانه راځی، او په حیا کښی راځی په بورقو کښی راځی. او دَ زنانو د پاره دا تګ څه ممنوع نه دے، که زنانه په پرده کښی چرته وعظ ته مدرسی ته دعوت اوتبلیغ ته ځی نو دا څه ګناه نه ده. بلکه ډیر ښهٔ کار دے. نو زما عزتمندو! قرآن کریم دالله تبارك و تعالیٰ یو عظیم الشان کتاب دی. دے قرآن سره چی د کوم څیز نسبت راغلی . دَ قرآن سره چی دَ کومی کپړی نسبت راغلی. د کوم کا غذ نسبت راغلی نو هغه کپړه څومره قیمتی اوګرځی. زمونږ او ستاسو په زړونو کښی دَ قرآن دَ کسورو څومره محبت دے چی زمونږ په کورونو کښی جامی زړی شی. داستعمال قابلی نه وی نووے غرځو.اور کښی ئی واچوتنور کښی ئی واچؤو. دارنګی کومه کپړا چی قرآن ته لګیدلی ده هغی ته تری قمیص او کسورہ جوړه شوی ده . نو دا سی به تاسو

څوك نه وی لیدلی چی هغه زړه کپړه ئی سوزولی ده. هغه ئی ډیران ته غورځولی وی. بلکه دَ هغه کپړی دومره احترام کیږی. چی هغه کپړه خلق دفن کوی سنهبال ئی کیدی. دا ولی ئئ دومره احترام کیږی نو دَ قرآن سره دَ الله تعالیٰ دَ کتاب سره ئی نسبت راغلی دی. دا رنګی قرآن کریم چی په کومو اوراقو باندی لیکلی شوی په کوم کاغذ باندی لیکلی شوی دے نو هغه کاغذ څومره محترم دے. دَ هغه کاغذ څومره عزت دی ورنه مونږ او تاسوویښو، څومره کاغذونه په لارو کوڅو کښی پراتۀ وی چرته څوك په لاره تیریږی . دالله د کتاب کاغذ په لاره وویني. نوزرئی راواخلی ښکل ئی کړی. چرته او چت محفوظ ځائے کښی ئی کیدی نو، ددی کاغذ نسبت دالله دکتاب سره را غلی دی، دا رنګی که دَ الله د کتاب سره نسبت د شپی راغلی دی. نو الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿ لیلة القدر خیرٌ من الف شهر﴾ په هغه لیلة القدر کښی عبادت کول د زرو میاشتو د عبادت نه بهتردی دا وُلی دَ دی یوی شپی دومره لوئی مقام دے؟ دا ځکه الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿انا انزلنٰه فی لیلة القدر﴾ په دی شپه کښی دَ الله تعالیٰ کتاب نازل شوی دے دا رنګی الله رب العزت میاشت دَ رمضان ته لوئی مقام ورکړی دی د رمضان د میاشتی دا دومره اوچت مقام په څه وجه دی؟ ځکه الله تبارك و تعالیٰ فرمائی ﴿شهر رمضان الذی انزل فیه القرآن﴾ په دی میاشت کښی قرآن نازل شوی دی، میاشت دَ رمضان ته عزت دَ قرآن د نزول د وجی نه، دَ لیلة القدر عزت دَ قرآن د نزول دَ وجی نه، دا رنګی دَ کاغذ عزّت د قرآن د وجی نه، د کپړی عزت د قرآن د وجی نه، نو چی کوم کور کښی قرآن بیانیګی هغی کښی څومره برکات وی په کوم

زړه کښی چی د الله کتاب دے، د هغه به کوم مقام وی؟ ځکه حدیث مبارکو کښی راځی چی کوم یو زړه کښی دَ الله د کتاب څه حصه نه وی شیخ الحدیث مولانا زکریاؒ هم دا روایت ذکر کړی دے په فضائل اعمال کښی نبی کریم ﷺ فرمائی. چی په کومه سینه کښی، کوم یو زړه کښی دَ الله د کتاب څه حصه محفوظ نه وی "کالبیت الخَرب" دا پشان دَ روان کهنډر دے نو چی روان کهنډر وی په هغی کښی دیوان پیریان شیطانان اُوسیږی نو چی کوم زړه کښی دَ الله د کتاب سره مینه نه وی دالله د کتاب تلاوت نه وی د الله د کتاب زده کول نه وی . شپیته کاله او یا کاله عمرئی تیرشی ، او دی غریب چرته د قرآن تلاوت اُونه کړی، چرته د الله کتاب را وانخلی، شپه اوروځ پیسی گټی که زنانه وی نو کالی پتری فرنیچر لوښی لباسونه فیشنونه د هغی نه تاثر، او د خپل آخرت د پاره هیڅ تیاری نه وی نو زما عزتمندو! دَ الله تبارك و تعالیٰ دَ عظیم کتاب سره چه په دنیا کښی دَ کوم څیز نسبت راغلی، هغی ته ئې عزت ورکړی دے نو که چا زده کړی دے. دَ چا ورسره مینه ده نو هغوی ته هم الله لوئی شان او لوئی عزت ورکړی دے، او دا خو بعضی روایاتو کښی راځی، الله تبارك وتعالیٰ فرمائی، دنیا ته خطاب کوی اے دنیا کوم خلق چی زما دَ دین خدمت کوی دَ قرآن او سنت خدمت کوی نو اے دنیا ته ئې خدمت اوکړه. نن مونږ او تاسو وینو چی چا دین زده کړی دے نو دا غونډه دنیا د هغوی خدمت کښی لګیدلی ده. او الله تبارك و تعالیٰ دنیا ته وائی. اے دنیا کوم خلق چی زما دَ دین خدمت کول نه غواړی او پیسو پسی لګیدلی وی نو خه ئې ستړی کړه. خه ئی اُوکړوه ، او مِلاویږی به هغه څه چی څه ئې په

قسمت کښی وی، یوه نورے به زیاته نه شی خورے. په دی وجه یو بل حدیث قدسی کښی راځی. الله تبارك و تعالیٰ فرمائی " ابن آدم تفرغ لعبادتی املاء صدرك غنیً" اے دآدم ځویه زما ددین د پاره د عبادت د پاره ځان په زور فارغه کړه. ځان اوزګار کړه تا سره خوټیم نشته ته خو اوزګار نه ئی نو ځان په زور اوزګار کړه زما ددین د خدمت د پاره نوزه به ستا سینه د مالدارے نه ډکه کړم ستا غریبی ستا حاجتونه به زه ختم کړم ته به خلقو ته محتاجه نه ئی نو په دی وجه چی مونږ خپل نسبت د الله د کتاب د قرآن سره قائم کړو د الله کتاب زده کوو په کورونو کښی ئی وایو ، تلاوت ئی کوو، چی کومو ملګرو قرآن کریم نه وی زده کړی نو هغوی هم کوشش اوکړے الف با تا شروع کړے. نو ګوره که د قیامت په روځ الله د اعلان او کړی چی چا قرآن زده کوؤ ، چی چا قرآن زده کړی وو. هغه جنت طرف ته ځے نو که چا صرف یو الف زده کوو نو چی ب ئی وئیل، نو بیا تری هیریدیل صبائی بیا الف وئیل او په دی کښی ور ته مرګ را غی. نودقرآن زده کولو والا کښی به ئی نوم راشی، زما عزتمندو زمونږ استاذانو به واقعه ذکر کوله چی کله یوسف علیہ السلام باندی مصر کښی بولی اُولګیدله نو چا سره زر راوړل چا سپین زر را وړل چاملغلری را وړلی. پدی کښی یو بوډئ راغله یو مُوټی مالوچ ئئ راؤړل. قطار کښی ولاړه وه که په دے یوسف علیہ السلام ملاؤ شو. چا ورته وئیل موری ته ډیره کم عقله نه ئی؟ خلقو ځان سره سره زر سپین زر راوړلی دی چا ملغلری راوړلی دی او تا ځان سره ما لوچ راؤړلی دی په دی خو یوسف علیہ السلام نه کیږی دا ته څه کوی؟ دماغ خو دی په ځائے دی کنه هغی ور ته څه عجیبه جواب ور کړو او ننه

پوری هغه جواب مثال ذکر کیږی هغه ور ته وائی ما ته پته ده چی په مالو چو باندی یوسف علیہ السلام نه کیږی او هغه دَ دی برابر نه دی خو زه وایم که د قیامت په روځ الله تعالیٰ اعلان اُوکړو، چی کومو کومو خلقو یوسف علیہ السلام دَ اغستو دَ پاره راتګ کړی وو نو هغه د کامیابو کښی راشی، نو زه صرف دا خپل نوم په خریداران یوسف علیہ السلام کښی راوستل غواړم نو که زمونږ او ستاسو قرآن نه زده کیږی. نو چی ځان خو قرآن والا کښی راوَلو. ځکه زمونږ او ستاسو خو نوری خبری خه یادی وی. غیبتونه راته ښه یاد وی تا ویلی ما ویلی د یوبل سره سیالئی کول د یو بل عزت کول راته ګران وی د رور عزت د ګاونډی عزت راته ګران وی. او ترونه ماما ګان خو پکښی مونږ نه کوؤ. زما عزتمندو دا یاد ساتل پکار دی. قرآن مونږ ته دا سبق راکوی خپل زړونه صفا ساتے دارنګی معاشره کښی اخوت ته رواج ور کړے یو والی ځان کښی را ولے د یو بل په خو شحالئی باندی خو شحاله کیدل نو قرآن کریم سره چی د چا نسبت را غلی دنیا کښی الله عزت ور کړے دی. ګوره احادیثو مبارکو کښی هم راځی نبی کریم ﷺ فرمائی "ان الله یرفع بهٰذا الکتاب اقواماً ویضع به باخرین"

الله تبارك و تعالیٰ ډیر خلق دَ دی قرآن په ذریعی سره اوچت کړی دی چی دَ کومو خلقو دَ الله د کتاب سره نسبت دے دَ الله دَ دین سره نو الله دنیا کښی هم ترقی ورکوی او چی کوم دَ الله د کتاب سره محبت نه سا تی نو الله ئې ذلیله کوی مال ورسره وی اولاد ئې وی جائیدادونه ئې وی تنخواه ګانی ئی وی خو چی دَ الله دین پکښی نه وی نو ذلیله او خوار ګرځی خوب ورته نه ورځی هر وخت حسابونه

کتابونه پریشانے او چی کوم دین والا خلق دی هر وخت خوشحاله وی نن مونږ که معاشره کښی او ګورو ډیر دنیا دار دا سی شته خانان نوابان جائیدادونو والا بنګلو والا ځان ته د خوب دیاره ډیر شی ګولے استعمالوی، خوب ورته نه ورځی، او دین دارخلق هغوی خوخوب ځان سره په جیب کښی ګرځوی. چی موقعه ورته ملاویږی نو بس بیا اودۀ شوی وی بلکه د هغوی خوب پوره کیږی نه په دی وجه زما عزتمندو چی مونږ او تاسو دَ دین سره ځان پیوست کړو، نو مونږ به کامیاب یو. ګوره نن ډیر دا سی دنیا والا خلق شته، چی په هغوی د الله نعمتونه بندوی ، ګوره د الله په نعمتونو کښی لوئی نعمت څه دی؟ خواږۀ او مالګین څیزونه دا دَ الله تبارك و تعالیٰ ډیر غټ نعمتونه دی.

چی کوم څیز کښی مالګه نه وی وائی د اځه بی مالګی څیز دی او دا څه بی خوږو څیز دے ډیر داسی خلق شته ډیره دنیا ورسره وی خو خواږه نه شی خوړی، دا رنګی مالګه نشی استعمالولی، که لږه غوندی استعمالوی نو غریب بیا بیکاره کیږی او ډیر غریبانان وی(الله اکبر کبراً) یو ځائے کښی مونږه ناست وو څه طلباء کرام وو. څه ملګری وو د مدرسی او هغه ځائے کښی څه غټ خانان نوابان خلق وو، دی تبلیغ والا او طالبانودی ملګروته ئی کتل او دوی ډوډے خوړه، او ډیره په سُر سره ئی خوړه هغه یو تن ورته په ژړا شو وائی دا تاسو څنګ خورے، وائی څو کاله اوشو مونږه صرف دَ تیپرو یخنی استعمالو نو دغه خلق بیا دی ته هم نه شی کتی .

زما عزتمندو چی په مونږ کښی دینداری راشی، دَ الله دَ کتاب سره مو مینه راشی، دَ الله دا کتاب په دنیا کښی انسان ته ترقی ورکوی،

اوګوره د الله د کتاب سره چې د چا مینه را غلی ده، د چانسبت را غلی دی، نو هغوی ته الله تبارك و تعالیٰ په قبر کښې هم عزت ور کوی.
احادیثو مبارکو کښې راځی په جنګ احد کښې ډیر صحابه کرام رضی الله عنهم شهیدان شوی وو، سیدنا مصعب بن عمر رضی الله عنه ، سیدنا حمزه رضی الله عنه او نور صحابه کرام رضی الله عنهم ابو سلمه رضی الله عنه نو دا رنګی نبی کریم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چې تاسو په یو یو قبر کښې دوه دوه صحابه کرامؓ دفن کړے ځکه صحابه کرام رضی الله عنهم ډیر زیات شهیدان شوی وو نو نبی پاك صلی الله علیه وسلم اُوفرمائیل چې تاسو پکښې اُوګورے بخاری شریف کښې حدیث دے چې کوم یو تن قرآن زیات حاصل کړی دی نو دی پکښې اول قبلی طرف ته برابروے نو ګوره په قبر کښې هم مخکښې والی په قرآن سره بیا اوږد حدیث کښې راځی، نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چې کله د انسان نه ساه اوخیژی. او دی دفن کړی شی نو دۀ ته په برزخ کښې ملائك راشی نو ده لره به برزخ کښې کینوی او ده نه ملائك تپوسونه کوی یو تپوس تری دا کوی او زمونږ او ستا سو دا ایمان دے او دا زمونږ او ستاسو یقین دے چې مرګ حق دے، دَ قبر عذابونه حق دی د قبر نعمتونه حق دی، دا عقیده به مونږ او تاسو ساتو، نو احادیثو مبارکو کښې راځی، چې کله ده ته ملائك راشی او ده نه تپوسونه کوی "مَنْ رَّبُّكَ" وائی ستارب څوك دے؟ نو چې چا ټول عمر د رب خلاف کړی وی هغه به څنګه وائی، چې زما رب الله دی چې په دنیا کښې ده رب پیژندلی نه وی، بلکه درب خبره ور باندی بده لګی، بس دده کار جائیدادونه پیسے دنیا د غه څیزونه دی چرته ده لس شل منټه د الله ذکر هم نه دی کړی. په خپل ژوند کښې چرته د الله کتاب ته پنځه منټه ندی ناست او چرته د الله د

یو حکم د ژوندی کولو کو شش ئی ندی کړی چرته په جومات کښی ئی یو روپے نده لګولی چرته یو دینی مکتب کښی ئی یو روپے نده لګولی دا رنګی چرته غریبانانو سره ئی تعاون ندی کړی چرته کونډو یتیمانانو ته ئی یولوپټه یو څادر پیزار ندی اغستی بس میم زبر ما ټوله زما قبر حشر آخرت هیر نو سړی به څنګ په قبر کښی وائی، چی زما رب الله دی دی به وائی ''ها ها لا ادری'' هائے افسوس ماته پته نشته بیا دویم تپوس به تری کوی ''مادینك'' ؟ ستا دین څه دی نو که مونږ او تاسو نن په کوم دین روان یو چی په ښادو کښی مونږ او تاسو اکثر وینو، چرته په ګاونډ کښی غم شوی وی او مونږ او تاسو ډګ ور ته په تیزه روان کړو، دا خو دمسلمانئی کار نه دی زما عزتمندو په دی وجه چی په کوم وادۀ کښی داخرافات د اګډاګانی او دا ډګونه دا شر مول وی علماء فرمائی تا سو د غه ځائے کښی مه کینے که تا سو کینا ستے نو ''انکم اذاً مثلهم'' نو تا سو په د غه و خت کښی ددوی پشان ئے نو زمونږ ډیری زنانه وی ډیر دینداره وی ډیر بیانونه ئی اوریدلی وی په در سو نو کښی ئی شرکت کړے وی، دَ قرآن دَ تفسیر په دورو کښی شریکی شوی وی خو چی چم ګاونډ خپلو خپلوانو کره وادۀ ښادی راشی نو بیا په هغه وادۀ کښی خپل دین هیروی بیا په هغی کښی ګډاګانی پالنګونه او بعضی وی د لور به ئی وادۀ وی او مور به ئی وائی چی دا سړی به راولئی او په پالنګ به ئی خیژوے.

زما عزتمندو ډیر نارینه مونږ بهر پوهه کړو خبره اُومنی خو چی کور ته لاړ شی نو سر ئۀ ښکته کړی وی او وائی چه د فلانکی خان مور خفه کیږی نو په تاسو ئۀ رااَروی نو زما عزتمندو چی کله دا

زنانه خپل ځان کلکه دینداره کړی او خپل نارینو ته وائی چی مونږ په خپلو ښادو کښی پالنګونه نه منو او داسی ډیری دینداره زنانه شته. الحمد لله ثم الحمد لله هغوی دا خرافات، دا بے حیائئ دا څیزونه نه کوی. ګوره کوم وادۀ ښادی چی د هغی په ابتدا کښی دا بے حیائے اوشی دا پالنګونه ختل او شی دا اُوربلی دا ګډا ګانی دا ډګونه د ابے حیائے د نارینو او زنانو یو ځائے وربلو ته تګ او دا شمعی بلول دا ټول خرافات پکښی اوشی قسم می دی وی په هغه ذات چی دا ټول کائنات ئے اودرولی دی دغه خلق خوشحالی بیا په دور بین کښی هم نه وینی بیا لس شل ورځی نه وی شوی چی د خواهی اینګور پرځونی وی زه ملګروته وایم اوس ورته مبارکی ورکړے.

پرون خو دی الله نه پیژندو. پرون خو دی قرآن او سنت پسی ډرامی کولی چی تا ورته وئیل چی په ښادئ کښی دا څیزونه مه کوے نو وائی ځه ځه. دا ښادی په ګډا ګانو ښائسته کیږی او دا بعضی بی خونده د خپلو ښځو ټپه وکړی چی ما ته خو ښځه وائی چی مُلا دی خپله مُلائی کوی او ما ته دی تمبل راوړی او زۀ به ئی وهمه.

نو زما عزتمندو د خبره یاد سا تل پکار دی دا بعضی خبری کلکی وی،ستغی وی خو ستا سو دَ خیر خواهئ دَ پاره وی نو زما عزتمندو په دی وجه قبر کښی به تپوس کیږی "مَا دِيْنُكَ؟" ستا دین څه دے؟ نو هسی نه چی زمونږ په کویژدنو ودونو کښی د غه خرافات وی او چی کومو خلقو په دی ودونو ښادو کښی دغه خرافاتو ته کار ویلے وی دا ډګونه دا ګډا ګانی دا هلك راوله جینئی راوله په کرسی کښی خوا کښی کینوه تصویران ورته اوباسه دا ټوله بی حیائی کړی

وی. هغه خلق بیا خوشحالی نه مومی. بیا په سرو سترګو جاړی، نو بیا خبره کله عدالت ته نو کله جرګی ته نو کله طلاق ته نو کله خلعی ته، نو حجره او جومات کښی شرمیږی غوندې خاندان اُوشرموی نو د الله لحاظ اُوکړے، دَ الله نه اُوشرمیږے، دَ الله نه اُویریږے، دا څومره زنانه دا خویندی میندی چی را جمع شوی ئے دَ نن نه کلك عزم اُوکړے، چی دَ نن نه پس به خپلو کورونو کښی به په ودونو کښی دا خرافات نه کوو. او که چرته چم ګاونډ په خپلو خپلوانو کره وی نو په هغی کښی هم شرکت نه کوو زما عزتمندو زمونږ په معاشره کښی غمونو کښی هم مونږ ته دین اسلام معلوم نه وی. الحمدلله د ساولډ هیر خواؤ شازنانه او نارینه په دی خبره باندی پو هه شوی دی مخکښی دی اسړ طرف ته غم شوی وو ما ډیر ے دعا ګانی اوکړی، هلته خپل خپلوان کسان وو هغوی را ته قصه کوله، وائی چی څنګ یؤلس بجی شوی نو د ساولډ هیر زنانه راروانی شوی. د نورو ځایونو هغه کیناستی او هغوی وئیل چی مونږ به د غم په کور باندی میلمنی کیږو. دا خو ډیره بده خبره ده ځکه که مونږ او تاسو سوچ اُوکړو، کومی زنانه چی د مړو د تختی حلواګانو د مړی د کور خوراکونو ته ناستی وی نو ټول خلق په حجره جوماتو کښی ورپسی ډرامی کوی ګوره د فلانکی ښځه د مړی د کور حلوائی ستړه، او دومره بی حیا بے شرمه زنانه وه په غریبانانو باندی غم را غلی وو، او د اهلته کښی پیښ شوی وه نو زما عزتمندو په احادیثو کښی ددی نه هم منع را غلی ده. دا ډوډے ګانی دا وریژے دا حلوا ګانی دا خو د ښادو څیزونه دی نو دی تمام خویندو میندو ته درخواست دی تاسو ختم ته

راغلی ئ، چی دا مسئله زده کړے چی آئینده د پاره خپلو خپلوانو یا ګاونډیانو کره غم شوی وی. پس غم ته لاړے شیء او دعا ور ته اوکړے او واپس ترے نه راځے .

ځنو علاقو کښی څه ښځو دَ ځان نه دا دَستور جوړ کړی وی، د یؤلسو بجو نه پس دعا ته ځی. ته به وائی که دوی ته چرته وحی شوی ده. که دغه تیم ما دُعا و کړه نو خدائے به ئی بخی. دَ یؤلسو بجو نه پس ځکه ځی. دا ډوډی ته ځان رسوی دا ډیره بده ښکاری تاسو ته خو پته لګی نه خویندو میندو زنانو خلق درپسی په حجرو جوماتو کښی خبری کوی خلق مو بیا نارینه کنځی. ګوره د فلانکی ښځه وه د فلانکی مور وه د فلانکی لور وه او کټ ته ورختی وه او پینډه شوی وه، زما عزتمندو که مونږ په دغه طریقو روان یو نو د قبر هغه تنهائی او یواځی والی، هغه توری تیاری را روانی دی نو مونږ او تاسو به په قبر کښی څنګ جواب ورکوو چی زمونږ دین اسلام دے؟ او چی چا په خپل غم ښادو کښی خپل لباس کښی اسلامی طرز زندګی اختیار کړه نو هغه به ورته جواب ورکوی زما دین اسلام دے. نو بیا دریم تپوس به په قبر کښی کوی وایه د نبی ﷺ متعلق څه وائی؟ نو که زمونږ او ستاسو نبی کریم ﷺ سره مینه وی د نبی کریم ﷺ د طریقو سره مو مینه وی دَ نبی ﷺ اخلاق په مونږ کښی وو. دَ نبی ﷺ کردار په مونږ کښی وو، دَ نبی ﷺ ولاړه ناسته مونږ ته معلومه وه، دَ نبی ﷺ روزګار، دَ نبی ﷺ کور کښی زندګی دَ نبی ﷺ عبادات دَ نبی ﷺ معاملات نو که دا مونږ زده کول او ځان کښی مو راوستل نو مونږ به وایو زما پیغمبر ﷺ محمد رسول ﷺ دے. او دَ نبی کریم ﷺ سره دَ مینی ګنړ علامتونه دی د هغی

د بیا نولوداوخت نه دی خو کم از کم زما عزتمندو چی مونږ او تاسو زیات زیات درود وایو په نبی کریم ﷺ باندی ځکه احادیثو مبارکو کښی راځی. نبی ﷺ فرمائی چی ما ته به د قیامت په روځ د ټولو نه نزدی هغه انسان وی "اَکثِرُوْا عَلَیَّ صَلٰوۃ" چی په ما باندی ډیر ډیر درود وایی . نو چی په نبی کریم ﷺ باندی درود شریف زیات وایو. الله تبارك و تعالیٰ به په دی انسان لس درودونه وایی . دومره لوئی مقام ئی شی. الله پری لس رحمتونه راوروی. الله تبارك و تعالیٰ ور ته لس ګناهونه معاف کوی اوالله ور ته لس درجی او چتوی او بیا ځلورم تپوس چی کوم یو انسان په قبر کښی په بر زخ کښی د سوالاتو جوابات ټهیك ور کړه نو ملائګ ور ته وائی دا تا کوم ځائے زده کړی وو ما دالله د کتاب تا بعداری کړی وه کوم کتاب چی دی ما شومانو ختم کړی دی نو چی د چا د قرآن سره مینه وی دا قرآن ئی لو ستی وی . نو قبر کښی ور ته ځلور مه خبره کوی. تا د الله کتاب لوستی وو. او چی کوم خلق سوال او جواب کښی خطا شی . نو ملائك ورته ځلورمه خبره کوی. تا دَ الله کتاب نه دے لو ستی او نه دِ پری ځان پوهه کړی دے .

نو زما عزتمندو په قبر کښی کامیابی په دے ده چی په دنیا کښی ئی په قرآن عمل کړی وی.

او بیا راروان آخرت دی نو د هغے باره کښی په احادیثو کښی راځی. رسول الله ﷺ فرمائی قرآن والو ته به د قیامت په روځ اُوئیلی شی چی تا څومره قرآن وئیلی وو؟ نو دا قرآن لوله او د جنت په درجو په بره خیژه ، چی کوم ځائے اودریدی هغه به ستا مقام وی نو زما عزتمندو دا قرآن مجید عظیم کتاب دے دنیا کښی خوشحالئ راوَلی

قبر کښی آسانتیا، آخرت کښی کامیابی نو چی مونږ او تاسو دَ الله تبارك و تعالیٰ دی کتاب ته کار اُوایو. په ځان کښی دَ الله تعالیٰ دَ کتاب احکامات راوَلو، ځان کښی حیا راوَلو، آخرت راروان دے، دا رنګی په کور کښی دَ مشر کشر تمیز په ځان کښی راوَلو، د مور پلار احترام په ځان کښی راوَلو. د پردی حق نه ځان اوساتو.

دا رنګی دَ سود او دَ رِشوتونو د مال نه ځان اُوساتو. چا سره په کور کښی پردئ حصه وی، د خویندوحصه وی، د خورزو حصه وی د یتیمانانو حصه وی، هغه ورته په وخت باندی جدا کړو، هسی نه چرته حرام مال زمونږ او زمونږ دَ اولادګیډو ته لاړ نه شی، دا به زمونږ او ستاسو دَ پاره ډیره دَ خطری وی، کوم معلماتو چی محنت کړی. هغوی ته زمونږ چی څومره دلته ملګری راغونډ شوی دی. دَ هغوی دَ طرف نه معلماتو ته هم مبارك باد. اوکومو ماشومانو چی ختمونه کړی دی دَ هغوی خاندان ټولو ملګروته مبارك باد. الله دے ځمونږ او ستاسو نه راضی شی.

او ښول نارینه زنانه عزم اوکړئ که مشران ئئ او که کشران چه قرآن مجید سره به دوستی کوؤ، قرآن مجید سره به مینه کوؤ، دا قرآن به زده کوؤ، الله تعالیٰ دِ مونږ او تاسوته دَ عمل کولوتوفیق نصیب کړی، آمین ثم آمین برحمتك یا ارحم الراحمین، و صلی الله تعالیٰ علی خیر خلقه محمد و آله و صحبه اجمعین.

★★★★★★★★★★★★